# مشکوٰۃ المصابیح

عربی - پښتو

تالیف

امام ولی الدین محمد بن عبدالله
الخطیب التبریزی رحمه الله

www

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاؤن لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مشکوٰة المصابیح

(پنځم جلد)

كتاب الفتن
كتاب مناقب
قريش و ذكر
القبائل

۵

تاليف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطيب العمري التبريزي رحمه الله

صدافت کتب خانه
ارگ بازار، کندهار

د چاپ حقوق په خپرندوی اړه لري

**د کتاب پېژندنه :**

- ❖ د کتاب نوم :: مشکوٰة المصابیح
- ❖ مصنف :: امام ولی الدین محمد بن عبدالله الخطیب
- ❖ تصحیح کوونکي :: ملا محمد ابراهیم، محمد اسماعیل او مولوي احمدزي صاحب
- ❖ خپرندوی :: **صداقت کتب خانه، کندهار**
- ❖ کمپوزر :: محمد رسول سعید
- ❖ ډیزاین :: محمد عمر
- ❖ جلد :: پنځم
- ❖ چاپکال :: ۱۳۹۰ ش – ۱۴۳۲ ق
- ❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**
ارگ بازار، کندهار – افغانستان،
اړیکي: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
ایمېل ادرس:

sadaqat.books@yahoo.com
Sadaqat.books@gmail.com

**په کوټټه کي د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانیه**، کاسي روډ، کوټټه - پاکستان، مسؤل:
حاجي سلطان محمد –
تلیفون: ۰۰۳۰۰۳۳۳۷۸۸۳۰
امین الله امین: ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰

# فهرست مضامین

## مشکوة المصابیح جلد (۵)

## کتاب الفتن


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د فتنو بیان | ۱ |
| ۲ | د ژلو بیان | ۱۷ |
| ۳ | د قیامت د نښو بیان | ۲۹ |
| ۴ | د قیامت د نښو او د دجال بیان | ۳۹ |
| ۵ | د ابن صیاد قصه | ۵۸ |
| ۶ | د عیسی ؑ کښته کېدل | ۶۵ |
| ۷ | د قیامت نژدې کېدل او هرڅوک چي مړ سو نو قائم سو قیامت دده | ۶۷ |
| ۸ | قیامت به نه قائمېږي مګر پر شریرو خلکو | ۶۹ |
| ۹ | د شپیلۍ پوه کولو بیان | ۷۲ |
| ۱۰ | د حشر بیان | ۷۶ |
| ۱۱ | د حساب، قصاص او میزان بیان | ۸۴ |
| ۱۲ | د حوض کوثر او شفاعت بیان | ۹۳ |
| ۱۳ | جنت او د جنتیانو د صفت | ۱۲۱ |
| ۱۴ | د دېدار الهي بیان | ۱۳۸ |
| ۱۵ | د دوږخ او دوږخیانو بیان | ۱۴۴ |
| ۱۶ | د جنت او دوږخ د پیداکېدو بیان | ۱۵۴ |
| ۱۷ | د مخلوقاتو پیدائش او انبیاء کرامو بیان | ۱۵۷ |
| ۱۸ | د سید المرسلین فضیلت | ۱۷۶ |
| ۱۹ | د نبي ﷺ مبارک نومونه | ۱۹۰ |
| ۲۰ | د رسول الله ﷺ د اخلاقو او عاداتو بیان | ۲۰۰ |
| ۲۱ | د نبي ﷺ بعثت او د وحي پیل | ۲۱۱ |
| ۲۲ | د نبوت د نښو بیان | ۲۲۰ |
| ۲۳ | د معراج بیان | ۲۳۰ |
| ۲۴ | د معجزو بیان | ۲۴۲ |
| ۲۵ | د کراماتو بیان | ۲۹۳ |
| ۲۶ | د رسول الله ﷺ هجرت او وفات مبارک | ۲۹۹ |
| ۲۷ | د نبي کریم ﷺ د میراث بیان | ۳۱۲ |


## بَابُ مناقب قریش و ذکر القبائل


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۸ | د قریشو مناقبو او فضائل | ۳۱۴ |
| ۲۹ | د صحابه کرامو مناقب | ۳۲۳ |
| ۳۰ | د حضرت ابوبکر ؓ مناقب | ۳۲۸ |

| مخ | مضمون | شمیره | مخ | مضمون | شمیره |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | ۳۳۵ | د عمر ؓ د مناقبو بیان | ۳۱ |
| | | | ۳۴۴ | د حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما مناقب | ۳۲ |
| | | | ۳۴۸ | د عثمان ؓ د مناقبو بیان | ۳۳ |
| | | | ۳۵۵ | د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم مناقب | ۳۴ |
| | | | ۳۵۷ | د حضرت علي ؓ مناقب | ۳۵ |
| | | | ۳۶۴ | د اصحاب عشره مبشره د مناقبو بیان | ۳۶ |
| | | | ۳۷۲ | د نبي کریم ﷺ د اهل بیتو د مناقبو بیان | ۳۷ |
| | | | ۳۹۰ | د نبي ﷺ د مبارکو بیبیانو مناقب | ۳۸ |
| | | | ۳۹۴ | د ځینو مشهور صحابه کرامو مناقب | ۳۹ |
| | | | ۴۲۰ | په جنګ بدر کي د ګډون کونکو نومونه چي په الجامع البخاري کي لیکل سوي دي | ۴۰ |
| | | | ۴۲۲ | د یمن، شام او اویس قرني بیان | ۴۱ |
| | | | ۴۲۷ | د امت محمدیه د ثواب بیان | ۴۲ |
| | | | | | |
| | | | | | |

# کِتَابُ الْفِتَنِ (د فتنو بيان)

## لومړی فصل

**رسول الله ﷺ تر قيامته پورې د ظاهرېدونکو ټولو فتنو پېشگوئي فرمايلې ده**

(۵۱۴۶): عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا مَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذَلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا حَدَّثَ بِهِ حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابِي هٰؤُلَاءِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ قَدْ نَسِيتُهُ فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ . متفق عليه

د حضرت حذيفه ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د خطبې فرمايلو لپاره ودريدی او دغه وخت څخه تر قيامت پورې چې څه کېدل وه د هغو ذکر يې وکړ چا چې ياد کړل هغه ياد کړل، چا چې هېر کړل هغه هېر کړل، زما ملگری په دې خبره باندې پوهېږي په دغه کې چې کوم شی ظاهرېږي کوم چې ما هېر کړی وي نو چې هغه ووينم ما ته را ياد سي لکه څوك چې د مخامخ ياد ساتي هر کله چې هغه غائب سي بيا چې کله هغه ووينې نو وه يې پېژني. بخاري او مسلم.

**پر انساني زړه باندې د فتنو وار**

(۵۱۴۷): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ حَتَّى يَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ عَلَى أَبْيَضَ مِثْلِ الصَّفَا فَلَا تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَالْآخَرُ أَسْوَدُ مُرْبَادًّا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا إِلَّا مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ . رواه مسلم .

د حضرت حذيفه ؓ څخه روايت دی چې ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: فتنې پر زړونو خپرې سي لکه څرنگه چې په بوريا کې هره نښه جلا جلا وي په کوم زړه کې چې دغه فتنه گډه سي په هغه کې يو تور ټکی ولگول سي او کوم زړه چې انکار وکړي د فتنې څخه نو په هغه زړه کې د سنگ مرمر په ډول سپينه نښه وسي تر دې حده چې زړونه دوه قسمه سي تك سپين د سنگ مرمر په مثل تر څو پورې چې ځمکه او آسمان موجود وي ده ته هيڅ فتنه تاوان نه سي رسولای او دويم زړه د ايرو دلوښي په ډول دی هيڅ يو نيك کار نه پېژني او نه يو بد کار بد گڼي مگر خواهش د نفس کوم چې په ده وچښل سي. مسلم.

## کله چي امانت د زړو څخه ووځي

(۵۱۴۸): وَعَنه قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ حَدَّثَنَا أَنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثم عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِه فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ فَيَبْقٰى أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلٰى رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ وَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ وَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ فَيُقَالُ إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ مَا أَعْقَلَهُ وَمَا أَظْرَفَهُ وَمَا أَجْلَدَهُ وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيْمَانٍ . متفق عليه

د حضرت حذیفة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته دوې خبري بیان کړي دي، په هغو کي مي یوه لیدلې ده او د دویمي انتظار کوم، رسول الله ﷺ وفرمایل: امانت (یعني ایمان د خلکو د زړونو په ریښو کي اچول سوی دی بیا هغوئ (د ایمان په نور سره) قرآن کریم و پیژندی بیا هغوئ سنت وپیژندل ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د ایمان د لوړېدو حدیث بیان کړ او وه یې فرمایل: انسان به د معمول سره سم بیده سي او امانت به د هغه د زړه څخه ووځي، او د ایمان د وکت په اندازه اثر به پاته سي بیا چي هغه دویم وار بیده سي نو د هغه د زړه څخه به د امانت پاته اثر هم ووځي او په زړه کي به یې د تناکي نښه پاته سي لکه د یو چا پر بدن چې تودې اوبه توی سي او هغه ځای تناکي سي چې په ظاهره را پړسیدلې او راختلې وي مگر دننه خالي وي بیا (د داسي کیدو څخه وروسته) چې خلک سهار راکښیني نو په خپل منځ کي به حسب معمول رانیول او خرڅول کوي او په هغوئ کي به یو کس داسي نه وي چې امانت ادا کړي (یعني شرعي حقوق ادا کړي، لوړ او خوړ ته برخه ورکړي) تر دې چې دا به وویل سي چې فلانی قبیله کي یو امین او دیانتدار کس دی او په هغه زمانه کي به یو سړي ته (چې په دنیا داري کي کمال لري) ویل کیږي چې څومره عقلمند او هوښیار دی او ښکلی دی او څومره چالاکه دی حال دا چې د هغه په زړه کي به د سپلني د دانې په اندازه ایمان نه وي، بخاري او مسلم.

## کله چي فتني ظاهري سي نو عافیت لټوئ

(۵۱۴۹): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَاءَنَا اللّٰهُ بِهٰذَا الْخَيْرِ فَهَلْ

د حضرت حذیفة ﷺ څخه روایت دی چې خلکو به اکثر د رسول الله ﷺ څخه د نیکی په اړه پوښتني کولې (یعني نیک کارونه او نیکي خبري به یې پوښتلې) او ما به د رسول الله ﷺ

بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ وَهَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ قَالَ نَعَمْ وَفِيهِ دَخَنٌ قُلْتُ وَمَا دَخَنُهُ قَالَ قَوْمٌ يَسْتَنُّونَ بِغَيْرِ سُنَّتِي وَ يَهْدُونَ بِغَيْرِ هَدْيِي تَعْرِفُ مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ قُلْتُ فَهَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ دُعَاةٌ إِلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صِفْهُمْ لَنَا قَالَ هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذٰلِكَ قَالَ تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ قَالَ فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ حَتّٰى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذٰلِكَ، متفق عليه

و في رواية لمسلم قال يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذٰلِكَ قَالَ تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ .

څخه د بديو او فتنو په اړه پوښتنه کول ، په دې خيال چې زه په فتنه کې اخته نه سم ، يوه ورځ حذيفه ﷺ وويل: اې د الله رسوله! موږ په جاهليت کې اخته وو او د بدۍ په زمانه کې وو بيا الله تعالی موږ ته دا خير عطا کړ (يعني اسلام) ايا ددې خير څخه وروسته هم يو بدي پېښېدونکې ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ما وويل: ايا ددې بدۍ او خرابۍ څخه وروسته به هم خير وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، او په هغه خير کې خروالی وي ، ما وويل: هغه خروالی به څه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د خرابۍ څخه مراد هغه قوم دی چې زما د طريقې خلاف طريقه اختيار کړي او خلکو ته زما د لارې خلاف لار ښيي، ته به په هغوئ کې دين هم ويني او ددين خلاف کارونه هم،(يعني په هغوئ کې به د شرع سره سم او د شرعي خلاف دواړې خبرې وويني) ما وويل: ايا ددې خير څخه وروسته به هم بدي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:هو ، داسې خلك به وي چې د دوزخ پر دروازه به ولاړ خلك بلي(يعني څرګنده ګمراهي به خپروي) څوك چې د هغه جهنمي دعوت قبول کړي هغوئ به جهنم ته بوزي ، ما وويل: اې دالله رسوله ! د هغوئ صفت حال کړئ، (يعني هغوئ به کوم خلك وي او څنګه به وي؟) رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوئ به زموږ د قوم يا جنس څخه وي او زموږ په ژبو به خبرې کوي ما وويل: که هغه زمانه پر ما راسي نو تاسو څه حکم راکوئ.(يعني که هغه خلك زما په ژوند کې ظاهر سي نو هغه وخت ما ته څه کول په کار دي؟) رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو ډله لازم ونيسه او د هغوئ د امام اطاعت کوه، ما وويل: که هغه وخت د مسلمانانو جماعت نه وي او امام هم نه وي نو څه وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ته د ټولو ډلو څخه بيل سه که څه هم چې تا ته د درختو په ريښو کې پناه تر لاسه سي، تر دې چې مرګ درته راسي، بخاري او

مسلم، او د مسلم په یوه روایت کي داسي دي چي رسول الله ﷺ داسي وفرمایل: زما څخه وروسته به امامان (خلیفه گان یا پاچاهان) وي، چي زما طریقه به خلکو ته نه ښیي او زما طریقه به نه اختیاروي، او په هغوئ کي به ځیني خلك داسي ظاهر سي چي د هغوئ زړونه به د شیطانانو په ډول وي او صورتونه به یې د انسانانو په ډول وي ، ما وویل: اي دالله رسوله ! که زه دا زمانه تر لاسه کړم نو څه وکړم ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: امیر چي څه وایي هغه اوره او د هغه اطاعت کوه که څه هم چي پڼ ملا وټوهل سي او ستا مال په زور واخیستل سي خو بیا هم اوره (حکم یې)او اطاعت یې کوه .

### د فتنو څخه مخکي خپل دیني زړوند مستحکم کړئ

(۵۱۵۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا. رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (په نیکو) اعمالو کي تلوار کوئ او ددې فتنو د راتلو څخه مخکي چي د تاریکي شپې د ټکړو په ډول به وي چي (هغه وخت به) څوك په سهار کي د ایمان په حالت کي پورته کیږي او مابنام ته به کافر سي او په مابنام کي به مؤمن وي او سهار ته به کافر سي، خپل دین به ددنیا په لږ سامان خرڅ کړي . مسلم.

### د فتنو د ظهور پر وخت عافیت و لټوئ

(۵۱۵۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَكُونُ فِتَنٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَعُذْ بِهِ. متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَ تَكُونُ فِتْنَةٌ النَّائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْيَقْظَانِ وَالْيَقْظَانُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَسْتَعِذْ.

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیر ژر به فتنې ظاهري سي ددې فتنو په زمانه کي به ناست تر ولاړو غوره وي او ولاړ به تر روان غوره وي او تلونکی به د ځغستونکي څخه غوره وي، څوك چي ددغه فتنو په لور گوري فتنه به یې خان ته راکش کړي ، څوك چي په دغه زمانه کي د پناه یو ځای ته تللای سي هغه دي هلته پناه تر لاسه کړي . بخاري او مسلم، او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل فتنه به راسي چي په هغه کي به بیده کس تر ویښ غوره وي او ویښ کس به تر ولاړ او ولاړ به تر ځغلیدونکي غوره وي، نو څوك چي دغه وخت

د پناه يو ځای تر لاسه کړي نو هلته دي پناه تر لاسه کړي.

(۵۱۵۲): وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُوْنُ فِتَنٌ أَلَا ثُمَّ تَكُوْنُ فِتْنَةٌ الْقَاعِدُ خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِيْ فِيهَا وَالْمَاشِيْ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِيْ إِلَيْهَا أَلَا فَإِذَا نَزَلَتْ أَوْ وَقَعَتْ فَمَنْ كَانَ لَهُ إِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ وَمَنْ كَانَتْ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهِ وَمَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا أَرْضٌ قَالَ يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ ثَلَاثًا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أُكْرِهْتُ حَتَّى يُنْطَلَقَ بِيْ إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيْنِ فَضَرَبَنِيْ رَجُلٌ بِسَيْفِهِ أَوْ يَجِيءُ سَهْمٌ فَيَقْتُلُنِيْ قَالَ يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِكَ وَيَكُوْنُ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډیر ژر به فتنې یو په بل پسي څرګندیږي او یاد لرئ چي بیا ددغه فتنو څخه یوه لویه فتنه پېښیږي په دغه فتنه کي به ناست سړی د تلونکي سړي څخه غوره وي او تلونکی به د فتنې په لور د ځغاستونکي څخه غوره وي ، خبردار! کله چي دا فتنه واقع سي نو هغه څوک چي د هغه سره اوښان وي د خپلو اوښانو سره دي سي او څوک چي پسونه او بزې لري د هغو سره دي سي او د چا سره چي مځکه وي هغه دي د خپل مځکي سره پریوځي (یعني ټول کارونه دي پرېږدي او یوازیوالی دی اختیار کړي) او په دغه شیانو کي دي بوخت سي ، یو کس (ددې په اوریدو سره) وویل چي ای دالله رسوله! د چا سره چي اوښان، پسونه او یا مځکه نه وي هغه دي څه وکړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه دي د خپل توري په لور متوجه سي هغه دي په ډبره وهلو وهلو سره وتکوي (یعني د هغې څوکه دي پڅه کړي چي د جنګ خیال پیدا نه سي) او بیا هغه ته پکار ده چي ددغه فتنو څخه د خلاصون لپاره وتښتي که هغه ژر داسي وکړلای سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : ای الله ! ما ستا احکام ستا بندګانو ته ورسول ، درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمایل ، یو سړي عرض وکړ ای دالله رسوله ! که پر ما ظلم وکړل سي تر دې چي په دواړو ډلو کي زه د یوې ډلې صف ته بوتلل سم ، یا یو غشی راسي ما مړ کړي نو زما په اړه ستاسو څه خیال دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل ستا پر قاتل به خپله او ستا د دواړو ګناه وي او هغه سړی به په دوږخیانو کي وشمیرل سي . مسلم.

(۵۱۵۳): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ أَنْ يَكُوْنَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل ، هغه زمانه نژدې ده چي د مسلمان غوره مال به پسونه وي چي هغه د

يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ . رواه البخاري.

غرونو په لمن کي يا د باران اوريدو خای ته بوخي د فتنو څخه به وتښتي او خپل دين به وژغوري. بخاري.

**د فتنو پيشگوئي**

(۵۱۵۴): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى قَالُوا لَا قَالَ فَإِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ تَقَعُ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمَطَرِ . متفق عليه

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مديني پر يو لوړ خای وختی ، صحابه کرام يې مخاطب کړل او ورته وه يې فرمايل: تاسو هغه شی وينئ کوم چي زه وينم؟ صحابه کرامو وويل :يا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه فتني وينم، چي ستاسو پر کورونو داسي وريږيلکه څرنگه چي باران اوريږي . بخاري او مسلم.

**يوه خاصه پيشگوئي**

(۵۱۵۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت هلاکت به د قريشو د ځو ځوانانو دلاسه وي . بخاري.

(۵۱۵٦): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا وَمَا الْهَرْجُ قَالَ الْقَتْلُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زماني به يو په بل پسي نژدي وي (د دنيا زمانه او د آخرت زمانه) او علم به پورته کړل سي او د فتنو به ظهور وي او بخل به واچول سي (يعني د خلکو په زړونو کي) او هرج به زيات وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي هرج څه شی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: قتل . بخاري او مسلم.

**د فتنو د شدت پای**

(۵۱۵۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لَا يَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ فَقِيلَ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ الْهَرْجُ الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واك کي چي زما روح ده دنيا به تر هغه وخته پوري نه فنا کيږي تر څو پوري چي پر خلکو داسي ورځ رانه سي چي په هغې کي

به قاتل ته دا معلومه نه وي چي هغه مقتول ولي قتل کړ او نه به مقتول ته دا معلومه وي چي هغه ولي قتل کړل سو ، صحابه کرامو عرض وکړ : داسي به څنګه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هرج (يعني فتنه)، قاتل او مقتول به دواړه دوږخ ته ځي. مسلم.

**د فتنو په ماحول کي پر دين باندي د قائم پاته کېدونکي فضيلت**

(۵۱۵۸): وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ . رواه مسلم

د حضرت معقل بن يسار ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د فتنو په زمانه کي به د عبادت دومره ثواب وي څومره چي زما په لور د هجرت ثواب دی . مسلم.

**پر مظالمو صبر وکړئ او په دې پوه سئ چي راتلونکي زمانه به تر دې هم بدتره وي**

(۵۱۵۹): وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ قَالَ أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الْحَجَّاجِ فَقَالَ اصْبِرُوا فَإِنَّهُ لَا يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ شَرٌّ مِنْهُ حَتَّى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري.

د حضرت زبير بن عدي ﷺ څخه روايت دی چي موږ انس بن مالك ﷺ ته ورغلو او هغه ته مو د حجاج د ظلمونو شکايت وکړ ، هغه وويل : صبر کوئ څکه چي راتلونکي زمانه به تر تيري سوي زمانې بدتره وي، تر دې چي تاسو د الله ﷻ سره يو ځای سئ دا خبره مي ستاسو د نبي ﷺ څخه اوريدلي ده . بخاري.

## دويم فصل

**رسول الله ﷺ تر قيامته پوري د پيداکېدونکو فتنو په باره کي خبر ورکړی دی**

(۵۱۶۰): عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ وَاللّٰهِ مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي أَمْ تَنَاسَوْا وَاللّٰهِ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ ثَلَاثَ مِائَةٍ فَصَاعِدًا إِلَّا قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ . رواه ابوداؤد.

حضرت حذيفه ﷺ وايي چي په الله ﷻ دي مي قسم وي زه نه سم ويلای چي زما د ملګرو څخه هيره سوي ده او که د هيريدلو اظهار کوي، (په حقيقت کي هيره ځيني نه ده سوې) قسم په خدای رسول الله ﷺ د هيڅ داسي کس ذکر نه دی پرې اينبی چي تر قيامته پوري به د فتنو باعث وي يعني د هغه فتنه پورته کونکي سري چي د هغه د ملګرو تعداد ترديږ سوه يا تر درو سوو زيات وي تر دې چي موږ ته يې د هغه ، د هغه د پلار او د هغه د قبيلي نوم وښودی . ابوداؤد.

## گمراه کونکي قائد

(۵۱۶۱): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا اَخَافُ عَلَى اُمَّتِي الْاَئِمَّةَ الْمُضِلِّيْنَ وَاِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي اُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهُم اِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د خپل امت لپاره چي د کومو خلکو څخه زیات بیریږم هغه گمراه کونکي سرداران دي او هر کله چي زما په امت کي توره وچلیږي نو بیا به تر قیامت پوري نه بندیږي (یعني هر کله چي امت محمدیه کي قتل شروع سي نو تر قیامته پوري به شروع وي). ابوداؤد او ترمذي

## د خلافت راشده د وخت په باره کي پیشگوئي

(۵۱۶۲): وَعَنْ سَفِيْنَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْخِلَافَةُ ثَلَاثُوْنَ سنة ثُمَّ يَكُوْنُ مُلْكًا ثُمَّ يَقُوْلُ سَفِيْنَةُ اَمْسِكْ خِلَافَةَ اَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَنَتَيْنِ وَخِلَافَةَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَشْرَةً وَ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اثْنَيْ عَشْرَةَ وَعَلِيٍّ سِتَّةً. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت سفینه (رض) څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي خلافت به دیرش کاله وي بیا به دا خلافت په پاچاهي تبدیل سي ، ددې حدیث راوي سفینه وایي چي حساب وکړل سي او وکتل سي نو د حضرت ابوبکر ﷺ خلافت دوه کاله ، د حضرت عمر ﷺ خلافت لس کاله ، د حضرت عثمان ﷺ خلافت دوولس کاله او د حضرت علي ﷺ خلافت شپږ کاله وو. احمد ، ترمذي، ابوداؤد.

## د راتلونکي زماني په اړه پیشگوئي

(۵۱۶۳): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَيَكُوْنُ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ كَمَا كَانَ قَبْلَهُ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ فَمَا الْعِصْمَةُ قَالَ السَّيْفُ قُلْتُ وَهَلْ بَعْدَ السَّيْفِ بَقِيَّةٌ قَالَ نَعَمْ تَكُوْنُ اِمَارَةٌ عَلَى اَقْذَاءٍ وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ يَنْشَأُ دُعَاةُ الضَّلَالِ فَاِنْ كَانَ لِلّٰهِ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةٌ جَلَدَ ظَهْرَكَ وَاَخَذَ مَالَكَ فَاَطِعْهُ وَاِلَّا فَمُتْ وَاَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلِ شَجَرَةٍ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ بَعْدَ

د حضرت حذیفة ﷺ څخه روایت دی چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا ددغه خیر د زماني څخه وروسته به شر وي لکه داوس څخه مخکي چي شر وو؟ (یعني څرنگه چي د اسلام څخه مخکي خرابي خپره سوې وه نو ایا د اوسني خیر د زماني څخه وروسته به هم د بدی زمانه راځي) ، رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، ما وویل بیا د هغه څخه د خلاصیدو څه صورت دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: توره، ما وویل ایا

ذَالِكَ مَعَهُ نَهَرٌ وَنَارٌ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهٖ وَجَبَ أَجْرُهُ وَحُطَّ وِزْرُهُ وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهٖ وَجَبَ وِزْرُهُ وَحُطَّ أَجْرُهُ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ يُنْتَجُ المهر فَلَايُرْكَبُ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ، وفي رواية قَالَ هُدْنَةٌ عَلٰى دَخَنٍ وَجَمَاعَةٌ عَلٰى أَقْذَاءٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الْهُدْنَةُ عَلَى الدَّخَنِ مَا هِيَ قَالَ لَا تَرْجِعُ قُلُوبُ أَقْوَامٍ عَلَى الَّذِي كَانَتْ عَلَيْهِ قُلْتُ هَلْ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ صَمَّاءُ عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلٰى أَبْوَابِ النَّارِ فَإِنْ مُتَّ يَا حُذَيْفَةُ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلٰى جِذْلٍ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَتَّبِعَ أَحَدًا مِنْهُمْ. رواه ابوداؤد.

د توري څخه وروسته (يعني د جنگ څخه وروسته) به مسلمان پاته سي، رسول الله ﷺ وفرمايل هو، سلطنت او حکومت به وي، چي د هغه بنياد به پر فساد وي او د صلح بنياد به پر خرابۍ وي ، ما وويل: بيا به څه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څخه وروسته به گمراهي ته بلونکي خلك پيداسي كه هغه وخت يو څوك خليفه وي او هغه ستا ملا په درو ووهي او ستا مال هم واخلي نو هم ته د هغه اطاعت کوه (او كه خليفه يا پاچا نه وي) نو د يوې درختي په بيخ كي كښينه (يعني د پناه ځای ونيسه) او هلته مر سه، ما وويل: بيا به څه حال وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به دجال راوځي په داسي ډول سره چي د هغه سره به د اوبو وياله وي او اور، څوك چي د هغه په اور كي ولويږي د هغه اجر ثابت او قائم سو او د هغه گناهونه ليري سول او څوك چي د هغه په وياله كي ولويدى د هغه گناه ثابته او قائمه سول او د هغه اجر ولاړى ، ما عرض وکړ بيا به څه حال وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به د آسپي بچيان پيداسي او هغه به د سپرلۍ ور لا نه وي چي قيامت به قائم سي ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي هغه وخت به په ظاهر كي صلح وي او په باطن كي به خرابوالى وي او د خلكو اجتماع به په ناخوښي سره وي ، ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! پر خرابوالى باندي د صلح كيدو څه مطلب دى ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د قومونو زړونه به پر هغه حال نه وي كوم چي مخكي وه، (يعني د خلكو زړونه به دومره نرم نه وي څومره چي د اسلام په پيل كي وه) ما عرض وكړ : ايا د نيكۍ څخه وروسته به بدي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، هغه يوه ړنده او كڼه فتنه ده ، دغه فتني ته به بلونكي خلك وي گويا هغوئ د دوږخ پر دروازه ولاړ دي او خلك رابولي، نو اې حذيفه ! دغه وخت ته د درختي لاندي پناه جوړه كړه او هلته مر سه، ته به ددې څخه غوره يې چي ته په هغه خلكو كي د يوې ډلي پيروي وكړې . ابوداؤد.

## د خلافت راشده وروسته د راتلونكو واقعاتو پیشگوئي

(۵۱۶۴): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ كُنْتُ رَدِيْفًا خَلْفَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عَلٰى حِمَارٍ فَلَمَّا

د حضرت ابوذر ﷛ څخه روايت دى چي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره پر خره سپور وم ، كله

حَارَزْنَا بُيُوْتَ الْمَدِيْنَةِ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ جَوْعٌ تَقُوْمُ عَنْ فِرَاشِكَ وَلاَ تَبْلُغُ مَسْجِدَكَ حَتّٰى يُجْهِدَكَ الْجُوْعُ قَالَ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ تَعَفَّفْ يَا أَبَا ذَرٍ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ مَوْتٌ يَبْلُغُ الْبَيْتُ الْعَبْدَ حَتّٰى أَنَّهُ يُبَاعُ الْقَبْرُ بِالْعَبْدِ قَالَ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ تُصَبِّرْ يَا أَبَا ذَرٍ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ قَتْلٌ تَغْمُرُ الدِّمَاءُ أَحْجَارَ الزَّيْتِ قَالَ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ تَأْتِيْ مَنْ أَنْتَ مِنْهُ قَالَ قُلْتُ وَأَلْبِسُ السِّلاَحَ قَالَ شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذًا قُلْتُ فَكَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ إِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ نَاحِيَةَ ثَوْبِكَ عَلَى وَجْهِكَ يَبُوْءُ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ. رواه ابوداؤد.

چي مور د مديني د کورونو څخه مخکي ووتلو (يعني د مديني څخه دباندي ولاړو) نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذرا هغه وخت به ستا څه حال وي هر کله چي پر مدينه قحط (وچ کالي) راسي ته به د بسترې څخه نه سي پورته کيدلای او خپل مسجد ته به (دضعف له کبله) په مشکل سره رسيږې ، ما عرض وکړ : الله تعالى او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل، هغه وخت پرهيزگاري اختيار کړه (يعني پر لوږه صبر کوه او حرام او مشتبه مال څخه ځان وساته) ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذرا هغه وخت به ستا څه حال وي کله چي په مدينه کي د مرگ بازار گرم وي او د سرای قيمت به د غلام د قيمت سره برابر وي، تر دې چي د قبر ځای به د غلام په قيمت خرڅيږي ما عرض وکړ الله تعالى او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذرا هغه وخت صبر کوه (يعني پر هغه مصيبت صبر کوه تېښته مه کوه) ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذرا هغه وخت به ستا څه حال وي چي په مدينه کي د قتل بازار گرم وي چي د هغه وينه به مقام احجاز الزيت پټ کړي ، ما عرض وکړ الله ﷺ او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل نو خپل هغه امام ته ورسه چي د هغه ته تابع يې، ما عرض وکړ هغه وخت زه پر خپل بدن وسله وترم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :(که ته داسي کوې) نو ته به د هغه قوم په گناه کي شريک سې ، بيا ما عرض وکړ اې دالله ﷺ رسوله ا بيا زه څه وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: که ته د توري د برېښېدو څخه بيريږې نو پر خپل مخ د خپل جامې يوه برخه واچوه چي قاتل ستا گناه او خپله گناه د ځان سره يوسي. ابوداؤد.

## د فتنو په ماحول کي د خلاصون لار

(۵۱۶۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَيْفَ بِكَ إِذَا أُبْقِيْتَ فِيْ حُثَالَةٍ مِّنَ النَّاسِ مَرِجَتْ عُهُوْدُهُمْ وَأَمَانَاتُهُمْ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (اې عبدالله! ته به په هغه وخت کي څه کوې هر کله

وَاخْتَلَفُوْا فَكَانُوْا هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعه قَالَ فِبِمَ تَأْمُرُنِيْ قَالَ عَلَيْكَ بِمَا تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ وَإِيَّاكَ وَعَوَامَّهُمْ . وَفِيْ رِوَايَةٍ إِلْزَمْ بَيْتَكَ وَامْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَخُذْ مَا تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَامَّةِ . رواه الترمذي وصححه.

چي ته په بيكاره خلكو كي پرېښودل سي (يعني هر كله چي ته په خرابو خلكو كي ژوند كوې) د هغوئ عهد او امانتونه به مخلوط او غير مخلوط وي او په خپل منځ كي به اختلاف ساتي ، ددې په ويلو سره رسول الله ﷺ د خپلو دواړو مبارکو لاسونو گوتي په يو بل كي داخلي كړي او وه يې فرمايل : چي هغوئ به داسي يو د بل سره مخالف سي ، عبدالله عرض وكړ (كه زه هغه زمانه ووينم) نو تاسو ما ته څه حكم راكوئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه شی اختيار كړه چي ته هغه حق گڼې ، او هغه شی پرېږده چي ته هغه بد گڼې او خپل ځان لازم ونيسه (يعني يوازي خپل ځان سنبال كړه) او د عوامو څخه ليري اوسه (يعني د عوامو معاملاتو كي دخل مه كوه) او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي په خپل كور كي پروت اوسه ، خپل ژبه په واك كي ساته ، هغه شی اختيار كړه كوم چي ته ښه گڼې او د هغه عوامو په معاملاتو كي هيڅ تعلق مه ساته . ترمذي.

## د قيامت څخه مخكي د ظاهرېدونكو فتنو پيشگويي

(٥١٦٦): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَكَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ فَإِنْ دُخِلَ يَعْنِي عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ. رواه ابوداؤد وفي رواية له ذكر الى قوله خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي ثُمَّ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ، وفي رواية الترمذي ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ فِي الْفِتْنَةِ كَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَالْزَمُوا

د حضرت ابوموسی اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت دراتلو څخه مخكي به فتني رامنځته سي چي د توري شپې د ټكرو په ډول به وي (يعني په هر ساعت كي به فتنه پيداكيږي) هغه وخت به سړی په سهار كي ايماندار پورته كيږي او په ماښام كي به كافر سي او په ماښام كي به مؤمن وي او په سهار كي به كافر وي ، (په دغه فتنو كي) ناست سړی به تر ولاړ سړي غوره وي او تلونكی به تر خغليدونكي غوره وي ، هغه وخت ته خپل ليندۍ ماتي كړه او د ليندیو كځونه څيري كړه ، توري په ډبرو ووهه بيا كه څوك ستاسو څخه د چا وهلو ته ورسي نو هغه ته پكار ده چي هغه د

فِيهَا أَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ وَكُونُوا كَابْنِ آدَمَ . وقال هذا حديث صحيح غريب .

آدم عليه السلام د دوو زامنو څخه د غوره زوی په ډول سي (يعني د هابيل په ډول...) . ابوداؤد،

او د ابوداؤد په يو بل روايت كي دي د (كرار تلونكي به تر ځغليدونكو غوره وي) څخه وروسته دا الفاظ دي چي بيا صحابه كرامو پوښتنه وكړه چي تاسو موږ ته څه حكم راكوئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په خپلو كورونو كي پراته اوسئ ، او د ترمذي په يوه روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ د فتني په اړه داسي وفرمايل: چي تاسو په هغه فتنو كي خپل ليندۍ ماتي كړئ او د هغه كځوني ځيري كړئ او په كورونو كي پراته اوسئ او د آدم عليه السلام د زوی (هابيل) په ډول سئ لكه زوی د آدم عليه ﷺ يعني د حضرت هابيل ﷺ په ډول چي خپل ورور ته يې وويل چي كه ته ما وژني زه به دي ونه وژنم.

## د فتنو په وخت کي به تر ټولو غوره کس څوک وي؟

(٥١٦٧): وَعَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ قَالَتْ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا قَالَ رَجُلٌ فِي مَاشِيَتِهِ يُؤَدِّي حَقَّهَا وَيَعْبُدُ رَبَّهُ وَرَجُلٌ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ يُخِيفُ الْعَدُوَّ وَيُخَوِّفُونَهُ . رواه الترمذي .

د بي بي ام مالك بهزيه (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د فتنو د ډير ژر راتلو يادونه وفرمايل، ما عرض وكړ اي دالله رسوله ! هغه وخت به په خلكو كي غوره سړی څوك وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړی چي په خپلو حيوانانو كي اوسي د هغه حق او زكوة وغيره ادا كوي او د خپل پروردگار عبادت كوي هغه سړی چي پر خپل آس باندي سپور سي هغه د اسلام دښمنان بيروي او دښمن هغه بيروي (يعني د فتني پرېښودو سره هغه د اسلام د دښمنانو سره جنګيږي) . ترمذي.

## د فتني ذكر

(٥١٦٨): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنَ السَّيْفِ . رواه الترمذي وابن ماجه

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نژدې ده چي فتنه ټول عرب راګير كړي ددې مقتول به دوزخ ته ځي ، په دغه فتنه كي به د زبان درازی فتنه (يعني خلكو ته بد او رد ويل او عيب ګيري كول) د توري چلولو څخه هم سخت وي . ترمذي او ابن ماجه.

(٥١٦٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ بَكْمَاءُ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نژدې ده چي د ګونګ،

عَمْيَاءُ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ . رواه ابوداؤد.

کنه او ړنده فتنه به ظاهره سي څوك چي دغه فتنې ته نژدې سي یا دا ووینې ، فتنه هغه ووینې او د هغې نژدې راسي نو په دغه فتنه کې به زبان د رازې د توري چلولو برابر وي. ابوداؤد.

### د یو څو فتنو په باره کې پیشګویي

(۵۱۷۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ فَقَالَ قَائِلٌ وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ قَالَ هِيَ هَرَبٌ وَحَرْبٌ ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ دَخَنُهَا مِنْ تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي وَلَيْسَ مِنِّي وَإِنَّمَا أَوْلِيَائِي الْمُتَّقُونَ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلَى ضِلَعٍ ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً فَإِذَا قِيلَ انْقَضَتْ تَمَادَتْ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا حَتَّى يَصِيرَ النَّاسُ إِلَى فُسْطَاطَيْنِ فُسْطَاطِ إِيمَانٍ لَا نِفَاقَ فِيهِ وَفُسْطَاطِ نِفَاقٍ لَا إِيمَانَ فِيهِ فَإِذَا كَانَ ذَاكُمْ فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ مِنْ يَوْمِهِ أَوْ مِنْ غَدِهِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، رسول الله ﷺ د فتنو ذکر وکړ او ډیر زیات ذکر یې وکړ- تر دې چي د احلاس د فتنې بیان یې وکړ ، یو سړی پوښتنه وکړه چي د احلاس فتنه څه شي ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه تښتېدل دي (یعني خلك به د یو بل د بیري څخه تښتي) او جنګ کول د ي ، او بیا به سراء فتنه وي (یعني د خوشحالي ، اسراف او عیش او عشرت فتنه) ددې فتنې تاریکي به د هغه سړی د قدمو څخه راوځي چي زما د اهل بیت څخه به وي (یعني دا سړی به د فتنې باني وي) هغه سړی به دا خیال کوي چي هغه زما د خاندان څخه دی مګر په حقیقت کې به هغه زما څخه نه وي ، دغه وخت به پرهیزګاران خلك زما دوستان وي ، بیا به خلك د هغه سړي پر لاس بیعت کوي چي د تشي سربیره د پښتۍ په ډول به وي (یعني غیر مستقیم) همداسي به هغه (غیر مستقل) وي . ددې څخه وروسته به د دهیماء فتنه وي (یعني توره او تاریکه فتنه) دا فتنه به زما په امت کې هیڅوك نه پرېږدي او هرڅوك به په چپلاخه وهي ، بیا هر کله چي وویل سي چي فتنه ختمه سوه نو د هغې وخت به یو څه نور هم زیات کړل سي او ددې څخه وروسته به دا فتنه اوږده سي ، سړی به په سهار کې مؤمن پورته کیږي او په ماښام کې به کافر وي، تر دې چي خلك به په دوو خیمو کې وویشل سي یوه خیمه به د ایمان وي چي په هغه کې به اتفاق وي او بله خیمه به د نفاق وي چي په هغه کې به ایمان نه وي هر کله چي داسي واقعه راسي نو تاسو ددجال انتظار کوئ په هغه ورځ یا په دویمه ورځ . ابوداؤد.

### د نبوي زماني وروسته په عربو کي د راتلونکو فتنو پیشگویي

(۵۱۷۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ اَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د عربو بد نصیبي ده چي فتنه نژدې راغلل ، په فتنه کي به هغه سړی کامیاب وي چي خپل لاس بند کړي . ابوداؤد.

### د فتنو او فساد څخه ځان ساتونکی کس نیک بخت دی

(۵۱۷۲): وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنِ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ وَلَمَنِ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا . رواه ابوداؤد.

د حضرت مقداد بن اسود ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل چي هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو ، هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو ، او څوك چي په ازموینه کي واچول سو او هغه صبر وکړ نو هغه ډېر ښه کار وکړ . ابوداؤد.

### یو څو پیشگویاني

(۵۱۷۳): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ قَالَ ابْنُ عِيسَى ظَاهِرِينَ ثُمَّ اتَّفَقَا لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللّٰهِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي زما په امت کي توره وچلیږي نو تر قیامته پوري به ددې لړۍ جاري وي او تر هغه وخته پوري به قیامت نه قائمیږي تر څو پوري چي زما د امت ځیني قبائل به د مشرکانو سره یو ځای سي او د بتانو عبادت به پیل کړي ، زما په امت کي به ژر دیرش درواغجن نبیان پیدا سي او په هغوئ کي به هر یو سړی دا خیال لري چي هغه د الله ﷻ نبي دي او حال دادی چي زه خاتم النبیین یم زما - څخه وروسته به هیڅوك نبي نه وي او زما په امت کي به همېشه یو ډله پر حق وي او پر دښمنانو به غالب وي کوم خلك چي ددغه ډلي مخالفت کوي هغوئ ته به هیڅ تاوان نسي رسولای تر دې چي د الله ﷻ حکم راسي (یعني قیامت راسي) یا هغه وخت راسي چي اسلام پر ټولو غالب سي . ابوداؤد او ترمذي.

(٥١٧٤): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِينَ فَإِنْ يَهْلَكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا قَالَ قُلْتُ أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى قَالَ مِمَّا مَضَى . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اسلام ژرنده به پنځه دېرش يا شپږدېرش يا اووه ديرش كاله چليږي بيا كه خلك هلاك سي (يعني اختلاف وكړي) نو هغوئ به د هغوئ پر لار وي كوم چي هلاك سول او كه د هغوئ دين باقي پاته سي نو بيا ددې لړۍ به تر اويا كالو پوري وي ، ما وويل: دا اويا كاله به ددې كلونو څخه وروسته وي چي د هغې ذكر وسو يا ددې سره ، رسول الله ﷺ وفرمايل : كومه زمانه چي تيره سوه د هغې څخه وروسته به وي (يعني د اسلام څخه وروسته) . ابوداؤد.

# دريم فصل

**يو واقعه او يو پيشگوئي**

(٥١٧٥): عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَرَجَ إِلَى غَزْوَةِ حُنَيْنٍ مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ كَانُوا يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ يُقَالُ لَهَا ذَاتُ أَنْوَاطٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللّٰهِ هٰذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ.رواه الترمذي.

د حضرت ابي واقد ليثي ﷺ څخه روايت دى چي كله رسول الله ﷺ د حنين غزا ته تشريف يوورِ نو د مشركانو پر يو درخته تير سو چي په هغې كي به مشركانو خپل وسله زړول او د هغې نوم (ذات انواط) وو ، ځيني خلكو(چي نوى نوى يې اسلام راوړى وو) عرض وكړ اې دالله رسوله ! زموږ لپاره هم يو ذات انواط وټاكئ لكه څرنگه چي د مشركانو ذات نواط دى.، رسول الله ﷺ وفرمايل سبحان الله دا خو تاسو داسي سوال وكړ لكه څرنگه چي د موسى عليه السلام قوم د هغه څخه كړى وو دوئ ويلي وه زموږ لپاره معبود مقرر كړه لكه دوئ لره چي معبودان وي، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس كي زما ساه ده البته تاسو به د هغه خلكو پر لار ځئ كوم چي ستاسو څخه مخكي وه .ترمذي.

**د يو خو فتنو ذكر**

(٥١٧٦): وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الْأُولَى يَعْنِي مَقْتَلَ عُثْمَانَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ بَدْرٍ

د حضرت بن مسيب ﷺ څخه روايت دى چي لومړنى فتنه واقع سوه ، يعني د حضرت عثمان

أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتْ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ يَعْنِي الْحَرَّةَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ الْحُدَيْبِيَةِ أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتْ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَلِلنَّاسِ طَبَاخٌ . رواه البخاري.

ﷺ قتل ، نو په جنګ بدر کي ګډون کونکي صحابه کرامو کي هيڅوک پاته نه سو، بيا دويمه فتنه واقع سوه يعني د حره واقعه، په دې کي د هغه صحابه کرامو څخه هيڅوک پاته نه سو کوم چي په حديبيه کي شريک سوي وه، بيا دريمه فتنه واقع سوه او پورته نه سول تر څو پوري چي په خلکو کي قوت وو (يعني په هغه کي د صحابه کرامو او تابعينو طاقت ختم سو او په هغوئ کي يو سړی هم پاته نه سو). بخاري.

## بَابُ الْمَلَاحِمِ (دوړلو بيان)

### لومړی فصل

**يو څو هغه شيان د کومو چي د قيامت څخه مخکي واقع کېدل ضروري دي**

(۵۱۷۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ تَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ دَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللّٰهِ وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ وَتَظْهَرَ الْفِتَنُ وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولَ الَّذِي يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ لَا أَرَبَ لِي بِهِ وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ يَعْنِي آمَنُوا أَجْمَعُونَ فَذَلِكَ حِينَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي دوې لوی ډلي په خپل منځ جګړه ونه کړي، ددغه ډلو په منځ کي به سخته جګړه وي او د دواړو به يوه دعوا وي (يعني دواړي ډلي به مسلماني وي) او قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي دجالان فسادي او چم بازه خلک پيدا نسي چي پر الله ﷺ او رسول باندي دروغ وايي د دوئ شمير به ددېرشو نژدې وي په هغوئ کي به د هر يوه دا خيال وي چي هغه د الله رسول دی، او قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي علم پورته نه سي ، ډيري زلزلې رانه سي او تر څو پوري چي زمانه نژدې رانه سي (يعني برکت د زمانې به ولاړ سي د خلکو عمرونه به کم سي) او تر څو پوري چي

وَلَا يَطْوِيَانه وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَته فَلَا يَطْعَمُهُ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ فَلَا يَسْقِي فِيهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا. منفق عليه .

فتني ظاهري نه سي او تر څو پوري چي هرج يعني قتل واقع نه سي او تر څو پوري چي مال او دولت دومره زيات نه سي چي مال والا به د خيرات اخيستونکی په لټولو کي پريشانه سي او کوم سړي ته چي صدقه ورکوي هغه به ورته وايي چي ما ته ددې حاجت او ضرورت نسته (د امام مهدي په زمانه کي به د خلکو سره دومره مال وي چي هيڅ محتاج به پاته نه سي چي د بل چا څخه زکوة قبول کړي)، او قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي خلك په اوږده او پراخ عمارتونو فخر ونه کړي ، او تر څو پوري چي يو سړی د يو قبر سره په تيريدو سره دا ووايي چي کاش! زه دده پر ځای وای ، او تر څو پوري چي لمر د مغرب څخه راونه خيژي او خلك يې ووينې نو ټول به ايمان راوړي خو دا به هغه وخت وي چي د چا ايمان راوړل به ګټه نه ورکوي تر څو پوري چي هغه مخکي ايمان نه وي راوړی او نه به يو نيك کار کول ګټور وي تر څو پوري چي د وړاندي څخه يې يو نيك کار نه وي کړی او البته قيامت به په داسي حال کي قائم سي چي دوو کسانو به د رانيولو او خرڅولو لپاره جامه خلاصه کړې وي او هغوئ به نه خرڅه کړې وي او نه به يې رانغښتې وي چي قيامت به راسي ، البته په داسي حال کي به قيامت قائم سي چي يو سړی به د خپلي اوښي شيدې لويشلي وي او هغه به يې څښلي نه وي چي په دغه وخت کي به قيامت راسي او البته په داسي حال کي به قيامت راسي چي يو سړی به د خپل حوض جوړونه کوي چي په هغه کي به خپلو حيوانانو باندي اوبه وڅښي او هغه به لا اوبه ورکړي نه وي چي په دغه وخت کي به قيامت راسي او په داسي حال کي به قيامت قائم سي چي يو سړی به خولې ته ګوله پورته کړې وي او هغه به ونه خوري سي چي قيامت به راسي. بخاري او مسلم.

### د ځينو قومو د جنګ پيشګوئي

(۵۱۷۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمْ الشَّعْرُ وحَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ حُمْرَ الْوُجُوه ذُلْفَ الْأُنُوف كَأَنَّ وُجُوهَهُمْ الْمَجَانُ الْمُطْرَقَةُ. منفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغو پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو د هغه قوم سره جګړه ونه کړئ چي د هغوئ څپلې به د ورېښتانو لرونکو پوست څخه وي او تر څو پوري چي تاسو د هغه ترکو سره ونه جنګيږي چي د هغوئ سترګي به کوچني کوچني ، سره مخونه او پيتي پزې وي، ګويا د هغوئ مخونه به د غبرګو پوستو د ډال په ډول وي. بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۵۱۷۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا خُوزًا وَكَرْمَانَ مِنَ الْأَعَاجِمِ حُمْرَ الْوُجُوهِ فُطْسَ الْأُنُوفِ صِغَارَ الْأَعْيُنِ وُجُوهُهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ. رواه البخاري و في رواية له عن عمروبن تغلب عراض الوجوه. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو د خوز او کرمان سره ونه جنګيږي چي د عجميانو څخه دی، او د هغوئ مخونه به سره وي چيټ پزي کوچنی سترګي مخونه به يې غبرګ ډالونه وي د هغوئ څپلی به |

وربينتان لرونکي وي.. بخاري او د بخاري په يو بل روايت کي د عمروبن تغلب دا الفاظ دي چي د هغوئ مخونه به پلن وي.

## د يهوديانو سره د فيصله کونکي جنګ پيشګوئي

| | |
|---|---|
| (۵۱۸۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي مسلمانان به د يهودو سره جنګ ونه کړي ، مسلمانان يهود ووژني تر دې چي د ډبري لاندي يا د درختي شا ته به (يهودي) پټيږي او ډبره او درخته به دا وايي اې مسلمانه اې د الله بنده ! دې خوا ته |

راسه زما په خوا کي يهودي پټ سوی دی او قتل يې کړه خو غرقد درخته (به داسي نه وايي) ځکه چي دا د يهوديانو درخته ده . مسلم.

## د يو قحطاني کس په باره کي پيشګوئي

| | |
|---|---|
| (۵۱۸۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ. متفق عليه . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي قحطان څخه يو |

سړی پيدا نه سي چي په خپل لکړي سره به خلك پر يو طرف بيايي، بخاري او مسلم .

| | |
|---|---|
| (۵۱۸۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْجَهْجَاهُ، وفي رواية حتى يملك رجل | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شپه او ورځ (يعني زمانه) به نه تيريږي تر څو پوري چي پاچا به سي |

| | |
|---|---|
| من الموالي يقال له الجهجاه . رواه مسلم . | يو سړی چې د هغه نوم به جهجاه وي ، او په |

يوه روايت کې داسې دي تر هغو چې پاچا به سي يو سړی چې د غلامانو څخه به وي او جهجاه به ورته ويل کيږي . مسلم.

**د کسرئ د خزانې په باره کې پیشګوئي**

| | |
|---|---|
| (٥١٨٣): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ . رواه مسلم . | د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې د مسلمانانو يو ډله به د کسرئ (دايران پاچا) خزانه فتح کړي چې سپين محل کې به وي . مسلم. |

**د روم او فارس د فتح پیشګوئي**

| | |
|---|---|
| (٥١٨٤): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَ كِسْرَى لَا يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ وَقَيْصَرٌ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُونُ قَيْصَرٌ بَعْدَهُ وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَسَمَّى الْحَرْبَ خَدْعَةً. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کسرى به هلاك سي او د هغه څخه وروسته به هيڅ کسرى پاته نه سي او البته قيصر (د روم پاچا) به هلاك سي او بيا به هيڅ قيصر نه وي او ددغه دواړو پاچاهانو خزانې به |

دالله ﷺ په لار کې وويشل سي او رسول الله ﷺ د جنګ نوم دوکه او چم ايښی دی . بخاري او مسلم

| | |
|---|---|
| (٥١٨٥): وَعَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللَّهُ. رواه مسلم. | د حضرت نافع بن عتبه ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زما څخه وروسته به تاسو د جزيره عرب سره غزا کوئ او الله تعالى به هغه ستاسو په لاس فتح کړي بيا به تاسو |

د فارس سره غزا کوئ او الله تعالى به پر هغو هم فتح درکړي بيا به تاسو د روم سره جنګيږي پر هغو به هم الله تعالى فتح درکړي بيا به تاسو د دجال سره غزا کوئ او بيا به پر هغه هم تاسو ته الله تعالى فتح درکړي. مسلم.

**هغه شپږ شيان چې د قيامت څخه مخکې واقع کېدل يې ضروري دي**

| | |
|---|---|
| (٥١٨٦): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَوْتِي ثُمَّ | د حضرت عوف بن مالك ﷺ څخه روايت دی چې زه د تبوك په غزا کې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم ، هغه وخت رسول الله ﷺ |

فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ ثُمَّ مُوْتَانٌ يَأْخُذُ فِيكُمْ كَقُعَاصِ الْغَنَمِ ثُمَّ اسْتِفَاضَةُ الْمَالِ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مِائَةَ دِينَارٍ فَيَظَلُّ سَاخِطًا ثُمَّ فِتْنَةٌ لَا يَبْقَى بَيْتٌ مِنَ الْعَرَبِ إِلَّا دَخَلَتْهُ ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَنِي الْأَصْفَرِ فَيَغْدِرُونَ فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا. رواه البخاري.

د پوست په خيمه کې وو، رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت مخکې تاسو شپږ شيان وشميرئ: (۱) لومړی زما مرګ (۲) بيا بيت المقدس فتح کول (۳) بيا عامه وبا چې په تاسو کې به د پسونو د ناروغۍ په ډول خپره سي (۴) بيا دمال دومره زياتوالی که يو سړی ته سل ديناره ورکړل سي نو هغه به يې سپک ګڼي او پر هغه به ناراضه وي (۵) بيا د فتنې ظاهريدل چې د هغه څخه به د عربو هيڅ يو کور پاته نه سي. (۶) بيا صلح چې ستاسو او د بني الاصفر تر مينځ به وي، بيا به روميان خيانت (غدر) وکړي او ستاسو په مقابله کې به د اتيا بيرغو لاندې راسي چې په هغه کې به تر هر بيرغ لاندې دوولس زره کسان وي. بخاري.

## د روميانو سره د جنګ او ددجال د قتل پيشګوئي

﴿۵۱۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنَ الْمَدِينَةِ مِنْ خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ فَإِذَا تَصَافُّوا قَالَتِ الرُّومُ خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ فَيَقُولُ الْمُسْلِمُونَ لَا وَاللهِ لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا فَيُقَاتِلُونَهُمْ فَيَنْهَزِمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللهُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ أَفْضَلُ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللهِ وَيَفْتَتِحُ الثُّلُثُ لَا يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتِحُونَ قُسْطَنْطِينِيَّةَ فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْغَنَائِمَ قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بِالزَّيْتُونِ إِذْ صَاحَ فِيهِمُ الشَّيْطَانُ إِنَّ الْمَسِيحَ قَدْ خَلَفَكُمْ فِي أَهْلِيكُمْ فَيَخْرُجُونَ وَذَلِكَ بَاطِلٌ فَإِذَا جَاءُوا الشَّامَ خَرَجَ فَبَيْنَمَا هُمْ يُعِدُّونَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ إِذْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت تر راتګ مخکې به روميان مقام اعمق يا ابق ته راسي او د هغو مقابلې ته به دمدينې يو لښکر ولاړ سي چې په هغه کې به د هغه وخت ښه خلك وي هر کله چې هغوئ د جنګ لپاره صف بندي وکړي نو روميان به هغوئ ته وايي موږ د هغه خلکو سره جنګ کوو چې زموږ خلك يې بنديان کړي دي ستاسو سره جنګ نه کوو هغه خلك زموږ مقابلې ته راوليږئ، مسلمانان به په جواب کې ورته وايي قسم په خدای موږ داسي نه کوو موږ خپل هغه مسلمانان ورونه ستاسو مقابلې ته نه راليږو بيا به مسلمانان د روميانو سره په جنګ سي او په هغوئ کې به دريمه برخه مسلمانان د روميانو څخه وتښتي، الله ﷻ به د هغه تښتيدونکو مسلمانانو توبه هيڅکله قبوله

وَسَلَّمَ فَأَمَّهُمْ فَإِذَا رَآهُ عَدُوُّ اللّٰهِ ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ فَلَوْ تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتّٰى يَهْلِكَ وَلٰكِنْ يَقْتُلُهُ اللّٰهُ بِيَدِهِ فَيُرِيهِمْ دَمَهُ فِي حَرْبَتِهِ . رواه مسلم .

نه کړي او دریمه برخه مسلمانان به شهیدان سي او د الله ﷻ په نیز به دا غوره شهیدان وي او فتحه به ورکړي دریمي برخي ته د دوئ چي الله تعالی به یې هیڅکله په فتنه کي اخته نه کړي بیا به مسلمانان قسطنطنیه فتح کړي او ددې څخه وروسته چي مال غنیمت ویشي نو خپلي توري د زیتون پر درخته وزړوي نو شیطان به د هغوئ په منځ کي دا اعلان وکړي چي ستاسو په نه شتون کي مسیح دجال ستاسو کورونو ته ورسیدی ، ددې اوریدو سره به مسلمانان د قسطنطنیه څخه ووځي او دا خبره به دروغ وي ، د قسطنطنیه څخه چي ووځي او مسلمانان شام ته ورسیږي نو دجال به خروج وکړي مسلمانان به د هغه سره د جنګ لپاره تیار سي او خپل صفونه به سم کړي ، چي دلمانځه وخت به راسي او حضرت عیسی ؑ به د اسمان څخه راکښته سي او مسلمانانو ته به لمونځ ورکړيَ بیا چي د الله تعالی دښمن دجال حضرت عیسی ؑ ویني نو دجال به داسي ویلي سي لکه څرنګه چي مالګه په اوبو کي ویلي کیږي که حضرت عیسی ؑ هغه د لرِ وخت لپاره نور پرېږدي او قتل یې نه کړي نو هغه به تول ویلي سي او په خپله به مر سي مګر الله تعالی به یې د حضرت عیسی ؑ په لاس قتل کړي ، بیا به حضرت عیسی ؑ د خپلي نیزې وینه تولو مسلمانانو ته وښیي . مسلم.

﴿٥١٨٨﴾:وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَقُومُ حَتّٰى يُقْسَمَ مِيرَاثٌ وَلَا يُفْرَحَ بِغَنِيمَةٍ ثُمَّ قَالَ عَدُوٌّ يَجْمَعُونَ لِأَهْلِ الشَّامِ وَيَجْمَعُ لَهُمْ أَهْلُ الْإِسْلَامِ يعني الروم فَيَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتّٰى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيءُ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتّٰى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيءُ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشْرِطُهُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتّٰى يُمْسُوا فَيَفِيءُ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الرَّابِعِ نَهَدَ إِلَيْهِمْ بَقِيَّةُ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي قیامت تر هغه وخته نه راځي تر هغو چي میراث ویشل کیږي؛ مسلمانان به د غنیمت دمال سره خوشحاله نه وي ، ددې وروسته ابن مسعود ددې حقیقت شرح وکړه او وه یې ویل : د شام والا سره د جنګ لپاره به کافران لښکر جمع کړي (یعني رومیان) بیا به مسلمانان یو ډله وټاکي د رومیانو د مقابلې لپاره نو مسلمانان به راټول کړي داسي ډله چي تر هغو به د جنګ څخه نه راګرزي چي غلبه تر لاسه کړي او د مرګ تر وخته پوري وجنګیږي یا به مړه کیږي یا به غازي کیږي ، بیا به دواړي ډلي پر یو بل حمله وکړي تر دې چي پر دواړو لښکرونو به شپه

أَهْلِ الْإِسْلَامِ فَيَجْعَلُ اللّٰهُ الدَّبْرَةَ عَلَيْهِمْ فَيَقْتُلُونَ مَقْتَلَةً إِمَّا قَالَ لَا يُرَى مِثْلُهَا وَإِمَّا قَالَ لَمْ يُرَ مِثْلُهَا حَتّٰى إِنَّ الطَّائِرَ لَيَمُرُّ بِجَنَبَاتِهِمْ فَمَا يُخَلِّفُهُمْ حَتّٰى يَخِرَّ مَيْتًا فَيَتَعَادُّ بَنُو الْأَبِ كَانُوا مِائَةً فَلَا يَجِدُونَهُ بَقِيَ مِنْهُمْ إِلَّا الرَّجُلُ الْوَاحِدُ فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ يُفْرَحُ أَوْ أَيُّ مِيرَاثٍ يُقَاسَمُ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذٰلِكَ إِذْ سَمِعُوا بِبَأْسٍ هُوَ أَكْبَرُ مِنْ ذٰلِكَ فَجَاءَهُمُ الصَّرِيخُ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ فِي ذَرَارِيِّهِمْ فَيَرْفُضُونَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ وَيُقْبِلُونَ فَيَبْعَثُونَ عَشَرَةَ فَوَارِسَ طَلِيعَةً قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ أَسْمَاءَهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ وَأَلْوَانَ خُيُولِهِمْ هُمْ خَيْرُ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ أَوْ مِنْ خَيْرِ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ. رواه مسلم

راسي او دواړي ډلي به خپل خپل ځايو ته ولاړي سي او هيڅا ته به فتح تر لاسه نه سي مگر د. مسلمانانو هغه ډله چي مخکي ليږل سوی وه هغه به فنا سي بيا (په دويمه ورځ د مسلمانانو يو بله ډله به په دغه شرط سره) مخکي ور وليږل سي او دواړي ډلي به د يو بل سره مقابله وکړي تر دې چي شپه به په منځ کي حائله سي او دواړي ډلي به ولاړي سي په هغو کي به هيڅوک کامياب نه وي خو د مسلمانانو دغه ډله به هم فنا سي (په دريمه ورځ) بيا به د مسلمانانو يو ډله مخکي وليږل سي او دواړي ډلي به په جنگ سي تر دې چي ماښام به سي او دواړي ډلي به ولاړي سي چي په هغو کښي به هيڅا ته فتح تر لاسه نه سي او د مسلمانانو هغه ډله چي مخکي ليږل سوې وه هغه به فنا سي ، په څلورمه ورځ به د مسلمانانو پاته فوځ د جنگ لپاره تيار سي او الله تعالى به هغو ته پر کفارو فتح ورکړي دا جنگ به سخت وي ، مسلمانان به ښه په نره جنگ وکړي او داسي به وجنگيږي چي تر اوسه پوري به يې داسي جنگ نه وي ليدلی تر دې که يو مرغه د لښکر د شاوخوا څخه تيريدل وغواړي نو هغه به لښکر وروسته پرې نه ښودلای سي يعني د لښکر څخه به مخکي تللای نه سي چي پر مځکه به مړ راوغورځي بيا به د يوه پلار زامن حساب سي چي په حساب سل نفره به وي په هغوئ کي به يوازي يو نفر ژوندی پاته وي ، بيا به په کوم غنيمت سره هغوئ خوشحاله سي يا کوم ميراث به په هغوئ کي تقسيم کړل سي (يعني کوم ځای چي د مړو دومره شمير وي هلته به د غنيمت مال سره او د ميراث تقسيم سره چا ته خوشحالي تر لاسه سي) مسلمانان به په داسي حال کي وي چي هغوئ ته به د يو سخت جنگ خبر راسي چي ددغه جنگ څخه به هم زيات سخت وي بيا به مسلمانان دا اواز واوري چي دجال د هغوئ په نه شتون کي د هغوئ اهل او عيال ته را رسيدلی دی ، ددې خبر په اوريدو سره به هغوئ هر څه وغورځوي او ددجال په لور به متوجه سي او لس سپاره به مخکي وليږي چي هغوئ ددښمن حال معلوم کړي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمانان چي کوم سپاره مخکي وليږي د هغوئ او د هغوئ د پلرونو نومونه هم ما ته معلوم دي او د هغوئ د

آسونو رنگ هم، هغوئ به غوره سپاره وي یا هغه وخت به د مخکي پر مخ د غوره سپارو څخه وي. مسلم.

د جنګ څخه پرته د یو ښار د فتح کېدو پېشګوئي

(۵۱۸۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هل سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَقَ فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ قَالُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا قَالَ ثَوْرٌ بن يزيد الراوي لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ الَّذِي فِي الْبَحْرِ ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ثُمَّ يَقُولُوا الثَّالِثَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُوهَا فَيَغْنَمُوا فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ فَقَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا تاسو د یو داسي ښار نوم اوریدلی دی چي د هغه یو طرف په وچه کي او یو طرف په دریاب کي وي صحابه کرامو عرض وکړ:هو،رسول الله ﷺ اوریدلی مو دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت څخه مخکي به د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاد اویا زره کسان ددغه ښار د خلکو سره جنګ وکړي هر کله چي د حضرت اسحاق علیه السلام اولاد دغه ښار ته راسي نو ددې په شاوخوا کي به قیامت قائم سي او هغوئ به په وسلو سره جنګ نه کوي او نه به پر ښاریانو غشي اوروي هغوئ یوازي لااله الاالله والله اکبر وایي او د ښار د یوې خوا دیوال به ونړیږي ، ثور بن یزید راوي وایي زما خیال دی چي ابوهريرة ﷺ دا هم ښودلی وه چي د دریاب خوا ته دیوال به ونړیږي بیا به دویم وار لااله الاالله والله اکبر وایي او د ښار دویم دیوال به ونړیږي بیا به په دریم وار لااله الاالله والله اکبر وایي او د ښار لار به خلاصه سي او هغوئ به په ښار کي داخل سي او په ښار کي چي څه وي هغه به غنیمت کړي بیا چي هغوئ د غنیمت مال ویشي نو یو ناري وهونکی به راسي او وایي به چي دجال راوتلی دی نو هغوئ به هر شی پرېږدي او ددجال په لور به متوجه سي . مسلم. (ددې حدیث څخه معلومه سوه چي د دښمن سره د جنګ کولو لپاره لااله الاالله والله اکبر ویل هم غوره وسله ده).

## دویم فصل

**د قیامت د نژدې کېدو هغه ښېنې چې یو په بل پسې به ظاهرېږي**

(۵۱۹۰): عَنْ مُعَاذ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ وَ فَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ وَ خُرُوجُ الدَّجَّالِ. رواه ابوداؤد

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د بیت المقدس آبادي به د مدینې د خرابۍ او تباهي باعث سي او دمدینې خرابي به د فتنې او جنگ عظیم د پیدا کېدو او په واقع کي د راتلو سبب وي او د فتنې ظهور به د قسطنطیه د فتح سبب وي او د قسطنطیه فتح به ددجال د را وتلو سبب وي . ابوداؤد.

**د جنگ عظیم، فتح قسطنطنیه او د دجال د خروج پیشگوئي**

(۵۱۹۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمَلْحَمَةُ الْعُظْمٰى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د جنگ عظیم واقع کېدل د قسطنطنیه فتح کېدل او ددجال را وتل دا ټول به په اووه میاشتي کي وي .ترمذي او ابوداؤد.

(۵۱۹۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ وَيَخْرُجُ الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ . رواه ابوداؤد وقال هذا اصح.

د حضرت عبدالله بن بسر ﷺ.څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : جنگ عظیم او د مدینې د فتح په منځ کي به د شپږو کالو فاصله وي او په اووم کال به دجال راووځي . ابوداؤد.

(۵۱۹۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ وَسَلَاحِ قَرِيبٌ مِنْ خَيْبَرَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ ډېر ژر په مدینه کي به د مسلمانانو محاصره وکړل سي تر دې چي د هغوئ آخر حد به سلاح وي (سلاح خیبر ته نژدې یو ځای دی) . ابوداؤد.

**د مسلمانانو او عیسایانو په باره کي پیشگوئي**

(۵۱۹۴): وَعَنْ ذِي مِخْبَرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ

د حضرت ذي مخبر ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي اې

صُلْحًا آمِنًا فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ فَتُنْصَرُونَ وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ ثُمَّ تَرْجِعُونَ حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّصْرَانِيَّةِ الصَّلِيبَ فَيَقُولُ غَلَبَ الصَّلِيبُ فَيَغْضَبُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَدُقُّهُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ وَتَجْمَعُ لِلْمَلْحَمَةِ وَزَادَ بعضهم فَيَثُورُ الْمُسْلِمُونَ إِلَى أَسْلِحَتِهِمْ فَيَقْتَتِلُونَ فَيُكْرِمُ اللَّهُ تِلْكَ الْعِصَابَةَ بِالشَّهَادَةِ. رواه ابوداؤد.

مسلمانانو! تاسو به ډیر ژر د روم سره د امن صلح وکړئ بیا تاسي او رومیان به په خپل منځ کي یو ځای سئ او یو بل دښمن سره به مقابله سئ تاسو ته به مرسته درکړل سي تاسو به غنیمت حاصل کړئ او سلامت به اوسئ بیا به تاسو ټول راوګرزئ اویو داسي ځای کي به قیام وکړئ چي شین او اباد به وي او کوم ځای چي غونډی وي هلته به د نصرانیانو څخه یو سړی صلیب واخلي وه به دریږي او وایي به صلیب فتح حاصله کړه پر دې خبره به یو مسلمان غضبناك سي او صلیب به مات کړي دغه وخت به رومیان وعده ماته کړي او د جنګ لپاره به لښکر جمع کړي او ځیني راویانو په دغه حدیث کي دا الفاظ زیات بیان کړی دي چي مسلمانان به خپلو وسلو ته وزغلي او د نصرانیانو سره به وجنګیږي نو الله تعالی به د مسلمانانو دغه ډلي ته د شهادت بزرګي ورکړي . ابوداؤد.

## د حبشیانو په باره کي یو لارښوونه

(۵۱۹۵): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ مَا تَرَكُوكُمْ فَإِنَّهُ لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ إِلَّا ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو حبشیان پریږدئ او د هغوئ سره هیڅ ډول جګړه مه کوئ تر څو پوري چي هغوئ تاسو ته څه نه وایي او په تاسو کار نه لري ځکه چي په راتلونکي زمانه کي به د کعبي خزانه یو حبشي راوکاږي چي د هغه پنډی به کوچنی کوچني وي . ابوداؤد.

(۵۱۹۶): وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَعُوا الْحَبَشَةَ مَا وَدَعُوكُمْ وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ. رواه ابوداؤد

د رسول الله ﷺ د یو صحابي څخه روایت دی چي هغه وایي حبشیان پریږدئ تر څو پوري چي هغوئ تاسو ته څه ونه وایي او ترکان هم پریږدي تر څو پوري چي هغوئ ستاسو سره کار ونه لري. ابوداؤد.

## د ترکیانو په اړه یو پیشګویي

(۵۱۹۷): وَعَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت بریدة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول

وَسَلَّمَ فِي حَدِيثِ يُقَاتِلُكُمْ قَوْمٌ صِغَارُ الْأَعْيُنِ يَعْنِي التُّرْكَ قَالَ تَسُوقُونَهُمْ ثَلَاثَ مِرَارٍ حَتَّى تُلْحِقُوهُمْ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ فَأَمَّا فِي السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ وَأَمَّا فِي الثَّانِيَةِ فَيَنْجُو بَعْضٌ وَيَهْلِكُ بَعْضٌ وَأَمَّا فِي الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ أَوْ كَمَا قَالَ . رواه ابوداؤد.

الله ﷺ ددغه حديث په لړۍ کي چې د هغه پيل دادی چې ستاسو سره به کوچنۍ سترګو والا يو قوم جنګيږي (يعني ترک) وي فرمايل: چې تاسو به هغوئ دري واره وتښتوئ تر دې چې تاسو به هغوئ جزيره عرب ته ورسوئ، په لومړي وار هغوئ ته ماته ورکولو سره به په تيښته کي هغه خلک نجات تر لاسه کوي کوم چې وتښتي او په دويم وار ماته ورکولو کي به د هغوئ ځيني خلک ووژل سي او ځيني به خلاصون تر لاسه کړي او په دريم وار ماته کي به د هغوئ خاتمه وسي . ابوداؤد.

## د بصرې په اړه پيشګويي

﴿۵۱۹۸﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ اناس مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ دِجْلَةُ يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ يَكْثُرُ أَهْلُهَا وَيَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسلمين وَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الْأَعْيُنِ حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ فِي أَذْنَابِ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا وَفِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَهلكوا وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت خلک به يو کښته مځکي ته ورسيږي چې د هغې نوم به بصره کښيږدي هغه بحر د دجلې سره نژدې واقع دی پر دغه درياب به پل وي ، د ښار (بصرې) د اوسېدونکو به لوی شمير وي او دا ښار به د مسلمانانو د ښارونو څخه وي هر کله چې آخري زمانه سي نو د قنطور اولاد به دغه ښاروالاوو سره د جنګ لپاره راسي د هغوئ مخونه به پلن او سترګي به يې کوچنۍ وي دا خلک به ددرياب پر غاړي تم سي د ښار خلک به په درو ډلو کي وويشل سي ، يوه ډله به د غوايانو لکۍ ټينګي ونيسي او ځنګل ته به ولاړ سي دا ډله به هلاک سي او يوه ډله به امن طلب کړي دا ډله به هم هلاک سي او يوه ډله به خپل کورنۍ او اولاد تر شا پريږدي او د کفارو سره به وجنګيږي نو دوئ به شهيدان سي . ابوداؤد.

## د بصرې په اړه يو پيشګوئي

﴿۵۱۹۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَنَسُ إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اي انس ! خلک به ښارونه اباد

وَإِنَّ مصرًا مِنهَا يُقَالُ لَهُ الْبَصْرَةُ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ دَخَلْتَهَا فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا وَكِلَاءَهَا وَنخيلها وَسُوقَهَا وَبَابَ أُمَرَائِهَا وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ . رواه ابوداؤد.

كري په هغو كي به يو ښار وي چي هغه ته به بصره وويل كيږي كه ته ددې ښار سره نژدې تير سې يا په ښار كي داخل سې نو هغه ځايونو ته مه ورځه د كوم ځاى مځكه چي ښوره ده د هغه د خرماوو ځځه ځان وساته او د هغه ځايونو د پاچاهانو او اميرانو دروازو ته مه ورځه ، د ښار پر غاره اوسه يا دباندي تم سه چي بصري ته نژدې يو ځاى دى، (خو دغه ځايونو ته د ورتلو ځځه ته منع كړل سوى يې) په دغه مځكه كي به ژوندى ور ننه ايسټل سې پر دې به دبري واوريږي او سختي زلزلې به پر راسي او يو قوم به وي چي په ماښام كي به ښه معلوميږي او سهار ته به بيزوگان او خنزيران ځيني جوړ سي . ابوداؤد.

## د بصرې د يو كلي د يو مسجد فضيلت

(٥٢٠٠): وَعَنْ صَالِحِ ابْنِ دِرْهَمٍ يَقُولُ انْطَلَقْنَا حَاجِّينَ فَإِذَا رَجُلٌ فَقَالَ لَنَا إِلَى جَنْبِكُمْ قَرْيَةٌ يُقَالُ لَهَا الْأُبُلَّةُ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ مَنْ يَضْمَنُ لِي مِنْكُمْ أَنْ يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعًا وَيَقُولَ هَذِهِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ خَلِيلِي اباالقاسم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ عزوجل يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ. رواه ابوداؤد وقال هذا المسجد مما يلي النهر، وسنذكر حديث ابي الدرداء ان فسطاط المسلمين في باب ذكر اليمن والشام ان شاء الله تعالى

د حضرت صالح بن درهم رضي الله عنه ځځه روايت دى چي موږ (د بصرې ځځه مكې ته) د حج لپاره ولاړو (كله چي مكې ته ورسيدو) نو موږ يو سړى وليدى (يعني ابوهريرة) هغه زموږ ځځه پوښتنه وكړه ايا ستاسو د ښار يوې خوا ته د آبله په نامه يو ځاى سته، موږ ورته وويل هو سته ، هغه وويل په تاسو كي ځوك ددې خبري ذمه اخلي چي زما لپاره په آبله مسجد العشار كي دوه يا ځلور ركعته لمونځ وكړي ، او دا ووايي چي ددې لمونځ ثواب دي ابوهريره ته ورسيږي ما د خپل ملگري حضرت ابوالقاسم ﷺ ځځه اوريدلي ځي چي الله تعالى به د قيامت په ورځ د مسجد العشار ځځه شهيدان پورته كوي ، او د بدر د شهيدانو سره به ددغه شهيدانو ځځه پرته نور هيڅوك نه وي . ابوداؤد، راوي وايي په آبله كي دا مسجد په دريا فرات كي نژدې واقع دى او انشاء الله ډير ژر د يمن او شام د ذكر په بيان كي به په ابوداؤد حديث ان فسطاط المسلمين الخ بيان كړل سي .

## دریم فصل

**حضرت عمر ﷺ د فتنو د دروازې په خلاصېدو کي تر ټولو لوی خند وو**

(۵۲۰۱): عَنْ شَقِيقٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ أَيُّكُمْ يَحْفَظُ حَدِيثَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتْنَةِ انا احفظ كَمَا قَالَ قال هات إِنَّكَ لَجَرِيءٌ وَكَيْفَ قَالَ قَالَ قُلْتُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِه وَمَالِه وَنَفْسِه وَوَلَدِه وَجَارِه يُكَفِّرُهَا الصِّيَامُ وَالصَّلَاةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ فَقَالَ عُمَرُ لَيْسَ هَذَا أُرِيدُ إِنَّمَا أُرِيدُ الَّتِي تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ قَالَ قُلْتُ مَا لَكَ وَلَهَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا قَالَ أَفَيُكْسَرُ الْبَابُ أَوْ يُفْتَحُ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يُكْسَرُ قَالَ ذَلِكَ أَحْرَى أَنْ لَا يُغْلَقَ أَبَدًا قَالَ فَقُلْنَا لِحُذَيْفَةَ هَلْ كَانَ عُمَرُ يَعْلَمُ مَنِ الْبَابُ قَالَ نَعَمْ كَمَا يَعْلَمُ أَنَّ دُونَ غَدٍ اللَّيْلَةَ إِنِّي حَدَّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ قَالَ فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَ حُذَيْفَةَ مَنِ الْبَابُ فَقُلْنَا لِمَسْرُوقٍ سَلْهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ عُمَرُ. متفق عليه

حضرت شقيق ﷺ د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت کوي چي موږ د حضرت عمر ﷺ سره ناست وو ، هغه زموږ څخه پوښتنه وکړه په تاسو کي چا ته د فتنې په اړه د رسول الله ﷺ حديث ياد دی؟ حذيفه وايي ما وويل: ما ته ياد دی بالکل حرف په حرف لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ بيان فرمايلی دي ، حضرت عمر ﷺ وويل : بيان يې کړه ته (د حديث په روايت کي) دلاوره او زړه ور يې او څه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي هغه او د فتنې کيفيت بيان کړه، حذيفه ﷺ وايي ما عرض وکړ ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي د سړي فتنه د هغه اهل او عيال کي ده د هغه په مال کي ده د هغه په ځان کي ده د هغه په اولاد کي ده او د هغه په همسايه کي ده او دا فتنه روژه ، لمونځ، صدقه، امر بالمعروف او نهي عن المنکر ليري کوي ، حضرت عمر ﷺ وفرمايل زه د هغې فتنې په اړه پوښتنه نه کوم زما مقصد د هغه فتنې پوښتل دي چي د درياب د څپو په ډول به څپې وهي، حذيفه وايي ما وويل: اې امير المؤمنين ! د هغه فتنو سره ستاسو څه تعلق دی ستاسو او د هغه فتنو په منځ کي خو يوه دروازه حائله ده ، حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړه هغه دروازه به ماته کړل سي يا فتح کړل سي ، حذيفه وايي ما عرض وکړ (خلاصه به نسي) بلکه ماته به کړل سي ، حضرت عمر ﷺ وفرمايل : دا دروازه مناسب خو دادی چي هيڅکله بنده نه کړل سي ، د شقيق راوي بيان دی موږ د حذيفه څخه پوښتنه وکړه ايا حضرت عمر ﷺ ددې دروا څخه خبر وو ، حذيفه وويل هو په دې خبره پوهيدی لکه څرنګه چي هر سړی دا خبره پيژني چي د سبا ورځي څخه مخکي به شپه راځي ، ما حضرت عمر ﷺ ته هغه حديث بيان کړ چي په هغه کي غلطي نسته ، د شقيق راوي بيان دی چي

ددغه دروازې په اړه زه د حذيفه ځخه د پوښتني كولو څخه بيريدم څكه ما مسروق ته وويل چې ته پوښتنه څيني وكړه هغه پوښتنه وكړه نو حذيفه ﷺ ورته وويل هغه دروازه حضرت عمر ﷺ دی. بخاري او مسلم.

**د قسطنطنيې فتح كيدل د قيامت د نژدې كيدو نبنه ده**

| | |
|---|---|
| (٥٢٠٢): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ فَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ مَعَ قِيَامِ السَّاعَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې قسطنطنيه به د قيامت سره نژدې فتح سي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی . |

## بَابُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ (د قيامت د نښو بيان)

### لومړی فصل

**د قيامت نښې**

| | |
|---|---|
| (٥٢٠٣): عَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَكْثُرَ الْجَهْلُ وَيَكْثُرَ الزِّنَا وَيَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتّٰى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ، وفي رواية يقل العلم ويظهر الجهل .متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې د قيامت نښې دادي : علم به پورته كړل سي ، جهالت به زيات سي ، زنا به ډيره كيږي، شراب به ز يات څښنل كيږي د نارينو شمير به كم سي د ښځو شمير به زيات سي تر دې چې د پنځوسو ښځو |

خير خواهي كونكی به يو سړی وي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چې علم به كم سي او جهالت به زيات سي . بخاري او مسلم.

**د قيامت يو خاص نښه**

| | |
|---|---|
| (٥٢٠٤): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ. رواه مسلم. | د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې د قيامت د راتلو څخه مخكي به ډير |

دروا‌غجن پيدا سي تاسو د هغوئ څخه ځان وساتئ . مسلم.

| | |
|---|---|
| (٥٢٠٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ اذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ إِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ. قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ. رواه البخاري.

رسول الله ﷺ خبري كولې چي يو صحرايي سړی راغلی او د رسول الله ﷺ څخه يې پوښتنه وكړه چي قيامت به كله راځي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر كله چي امانت ضائع سي بيا ته د قيامت انتظار كوه ، هغه ووېل :امانت به څنګه ضائع سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چي حكومت نااهلو ته وسپارل سي نو ته د قيامت انتظار كوه . بخاري.

**د مال زياتوب د قيامت د نژدې كېدو نښه ده**

(۵۲۰۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ حَتَّى يَخْرُجَ الرَّجُلُ زكاة ماله فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهَا مِنْهُ وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا. رواه مسلم وفي رواية له قال تبلغ المساكين اهاب او يهاب

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نه راځي تر څو پوري چي مال او دولت دومره زيات نه سي چي په څلورو خواوو كي به د اوبو په ډول بهيږي تر دې چي خلك د خپل مال زكات وباسي نو هيڅوك به يې قبول نه كړي او تر هغه وخته پوري به قيامت نه راځي تر څو پوري چي د عربو مځكه شنه ، باغونه او ويالو والا جوړه نه سي . مسلم او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي قيامت به نه راځي تر څو پوري چي عمارتونه او آبادۍ آهاب يا يهاب ته نه رسيږي . (آهاب يا يهاب مدينې ته نژدې يو كلی دی).

**د امام مهدي په اړه پيشګوئي**

(۵۲۰۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ. و في رواية قال يكون في آخر امتي خليفة يحثي المال حثيا ولا يعده عدا. رواه مسلم

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په آخري زمانه كي به يو خليفه وي (يعني امام مهدي عليه السلام چي مال به په خلكو كي ښه ووېشی او د ځان سره به يې نه جمع كوي ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي زما د امت په آخر كي به يو خليفه وي چي ډكي لپې مال به وېشي او شميري به يې نه . مسلم.

**د فرات سيند څخه د خزانې راوتلو پيشګوئي**

(۵۲۰۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په نژدې وخت كي به د

كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا . متفق عليه.

فرات رود وچ سي او تر هغه لاندي به د سرو زرو خزانه راووځي څوك چي هغه وخت موجود وي هغه دي ددې څخه هيڅ نه اخلي، بخاري او مسلم.

(۵۲۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو. رواه مسلم

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نه راځي تر څو پوري چي د فرات رود وچ نه سي او تر هغه لاندي د سرو زرو غر راووځي خلك به د هغه خزانې تر لاسه كولو لپاره جنگ كوي او په هغه جنگ كونكو كي به ۹۹فيصده ووژل سي او په هغوئ كي به هر څوك دا وايي چي شايد زه ژوندى پاته سم او پر دغه خزانه قبضه وكړم. مسلم.

**كله چي مځكه خپل خزانې راوغورځوي**

(۵۲۱۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قَتَلْتُ وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي وَيَجِيءُ السَّارِقُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قُطِعَتْ يَدِي ثُمَّ يَدَعُونَهُ فَلَا يَأْخُذُونَ مِنْهُ شَيْئًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مځكه به د خپل خيګر ټوټې د باندي راوغورځوي چي د سرو او سپينو زرو د ميلانو په ډول به وي چا چي ددغه مال لپاره خلك قتل كړي وي هغه به راسي او وايي به ايا ددغه مال تر لاسه كولو لپاره ما خلك قتل كړي دي بيا به هغه كس راسي چي هغه د خپلوانو سره تعلق قطع كړى وي او وايي به ددغه مال لپاره ما د خپلوانو سره تعلق ختم كړى وو بيا به غل راسي او وايي به ايا ددغه مال لپاره زما لاس پرېكړل سوى دى په هغوئ كي به هيڅوك هم ددغه مال څخه هيڅ وانخلي او همداسي به يې پر ځاى پرېږدي .مسلم.

**د اخري زمانې په باره كي يو پېشگوئي**

(۵۲۱۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ.رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په لاس كي چي زما ساه ده دنيا به تر هغه وخته ختمه نه سي

تر هغه چي يو سړی به پر يو قبر تېرېږي پر قبر به راوغورځيږي او وايي به چي كاشكي زه په دې قبر كي وای او هغه به دين دار نه وي بلكه په مصيبت كي به اخته وي . مسلم.

**د يو اور په باره كي پشګوئي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۱۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ تُضِيءُ أَعْنَاقَ الْإِبِلِ بِبُصْرَى. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو چي د حجاز څخه يو اور راووځي چي د بصرې د اوښانو غاړي به روښانه كړي . بخاري او مسلم. |

**د قيامت لومړنۍ نښه**

| | |
|---|---|
| (۵۲۱۳): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ . رواه البخاري. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت د راتلو څخه اوله نښه هغه اور دی چي خلك به د مشرق څخه د مغرب طرف ته شړي. بخاري. |

## دويم فصل

**د زماني تېز رفتار د قيامت د نښو څخه دی**

| | |
|---|---|
| (۵۲۱۴): عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُوْنُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَتَكُوْنُ الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَيَكُوْنُ الْيَوْمُ كَالسَّاعَةِ وَتَكُوْنُ السَّاعَةُ كَالضَّرْمَةِ بِالنَّارِ. رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نه قائميږي تر څو پوري چي زمانه به رانژدې سي يعني د زمانې برخي به ژر ژر تيريږي يعني كال به د مياشتي برابر سي ، مياشت به د هفتې برابر او هفته به |

دورځي برابر او هغه وخت به ورځ يو ساعت وي او ساعت به د اور د يوې شعلې برابر وي . ترمذي.

**د مديني څخه د دارالخلافت نقل كول**

| | |
|---|---|
| (۵۲۱۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوَالَةَ قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَغْنَمَ عَلَى أَقْدَامِنَا فَرَجَعْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ شَيْئًا وَعَرَفَ الْجَهْدَ فِي وُجُوهِنَا فَقَامَ فِينَا فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَا تَكِلْهُمْ إِلَيَّ فَأَضْعُفَ عَنْهُمْ | د حضرت عبدالله بن حواله ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ د جهاد لپاره پر پښو وليږلو چي موږ د غنيمت مال تر لاسه كړو موږ د جهاد څخه راغلو او د غنيمت دمال څخه موږ ته |

وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَيَعْجِزُوا عَنْهَا وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى النَّاسِ فَيَسْتَأْثِرُوا عَلَيْهِمْ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي ثُمَّ قَالَ يَا ابْنَ حَوَالَةَ إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ قَدْ نَزَلَتْ أَرْضَ الْمُقَدَّسَةِ فَقَدْ دَنَتِ الزَّلَازِلُ وَالْبَلَابِلُ وَالْأُمُورُ الْعِظَامُ وَالسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنَ النَّاسِ مِنْ يَدِي هَذِهِ إِلَى رَأْسِكَ. رواه ابوداؤد.

هیڅ په لاس نه راغلل ، رسول الله ﷺ زموږ مخونه لیدلو سره زموږ د محنت او ستړیا حال معلوم کړ نو رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي ودریدی او وه یې فرمایل : اې الله ﷺ ددغه خلکو امور ما ته حواله مه کړې چي زه به د دوئ د مرستي څخه تر شا پاته سم . او اې الله ﷺ ! مه دوئ د دوئ نفس ته حواله کړې چي د خپل نفس امور به سرته رسولو څخه عاجز سي او اې الله ﷺ مه دوئ د خلکو ار کړې چي خلك خپل ضرورتونه او ارتیاوي پر دوئ مقدم کړي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ زما پر سر لاس کېښېښود او وه یې فرمایل اې ابن حواله ! هر کله چي ته ووینې چي خلافت مقدسي مځکي ته ورسیدی نو پوه سه چي زلزلې، لوی لوی ښني او فتني نژدې سوې دغه وخت به قیامت خلکو ته دومره نژدې سي لکه زما لاس چي ستا سر ته نژدې دی . ابوداؤد.

### د قیامت نښې

(۵۲۱۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلًا وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ وَأَدْنَى صَدِيقَهُ وَأَقْصَى أَبَاهُ وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ وَسَادَ الْقَبِيلَةَ فَاسِقُهُمْ وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا فَارْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي د غنیمت مال دولت وګرځول سي (یعني هر کله چي د غنیمت مال امیران او صاحب منصب خلك دولت وګرځوي او خپله یې اخلي) او ضعیفو خلکو ته په هغه کي برخه ورنه کړي، او هر کله چي د امانت مال غنیمت وګڼل سي او هر کله چي زکوة تاوان وګڼل سي ، او هر کله چي د علم د علم د زده کړي څخه دین مقصد نه وي ، او هر کله چي سړی د ښځي اطاعت پیل کړي او هر کله چي زوی د مور نافرماني پیل کړي او هغې ته تکلیف ورکوي ، او هر کله چي سړی دوست خپل ملګری جوړ کړي او پلار د ځان څخه لیري کړي، او هر کله چي په مسجد کي په زوره زوره خبري او شور پیل سي، او هر کله چي د قوم سرداري یو فاسق سړی کوي، او هر کله چي د قوم پر کارونو د قوم مشر د قوم احمق سړی وي، او

هر كله چي د يو سړي تعظيم د هغه د شر څخه د ځان ساتني لپاره وسي، او هر كله چي سندري ويونكي ښځي ښكاره سي ، او هر كله چي سرودونه ښكاره سي ، او هر كله چي شراب څښل كيږي ، او هر كله چي ددې امت وروستني خلك مخكنيو خلكو ته بد وايي او پر هغوئ لعنت كوي نو دغه وخت ته ددغه شيانو انتظار كوه : د سرې سيلۍ، د زلزلو، په مځكه كي د ننه ايستلو، د شكلونو د مسخ كيدو، د ډبرو د اوريدو، او د هغه پرله پسې نښو چي د قيامت څخه به مخكي ظاهريږي ، لكه د ملغلرو اميل چي تناو يې پرې سي او يو په بل پسې راتوی سي . ترمذي.

(٥٢١٧): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِيْ خَمْسَ عَشَرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلاَءُ وَعَدَّ هٰذِهِ الْخِصَالَ وَلَمْ يَذْكُرْ تُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّيْنِ قَالَ وَبَرَّ صَدِيْقَهُ وَجَفَا أَبَاهُ وَقَالَ شُرِبَ الْخَمْرُ وَلُبِسَ الْحَرِيْرُ ، رواه الترمذي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي زما امت هغه پنځلس كارونه وكړي (كوم چي په پوتني حديث كي ذكر سوي دي) نو هغه بلا به پر نازله سي چي په پورته حديث كي د هغې بيان سوی دی ، حضرت علي ﷺ دغه پنځلس خبري وشميرلې مگر په هغو كي يې علم ددين لپاره نه بلكه ددنيا تر لاسه كولو لپاره د زده كولو ذكر ونه كړ او هر كله چي سړی خپل دوست خپل ملگری جوړ كړي او خپل پلار د ځان څخه ليري كړي پر ځای دا الفاظ بيان كړي دي : چي د دوست سره احسان وكړي او پر پلار ظلم وكړي او چي شراب څښل كيږي ، پر ځای : چي ريښم به اغوستل كيږي الفاظ بيان كړل . ترمذي.

## د امام مهدي په باره كي پېشگوئي

(٥٢١٨): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمْلِكَ الْعَرَبَ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ بَيْتِيْ يُوَاطِئُ اسْمُهُ اِسْمِيْ .رواه الترمذي وأبو داود . وفي رواية له قال لو لم يبق من الدنيا إلا يوم لطول الله ذلك اليوم حتى يبعث الله فيه رجلا مني - أو من أهل بيتي - يواطئ اسمه اسمي واسم أبيه إسم أبي يملأ الأرض قسطا وعدلا كما ملئت ظلما وجورا .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دنيا به تر هغه وخته پوري نه فنا كيږي تر څو پوري چي پر عربو باندي به يو سړی پاچا سي دا سړی به زما د خاندان څخه وي او د هغه نوم به زما په نامه وي، ترمذي، ابوداؤد، او د ابوداؤد په يو بل روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه په دنيا فنا كيدو كي يوازي يوه ورځ باقي پاته سي نو الله تعالى به هغه ورځ اوږده كړي تر دې چي الله تعالى به زما د خاندان څخه يو سړی راوليږي چي د هغه نوم به زما په

٥

نامه وي چي د هغه د پلار نوم به زما د پلار په نامه وي هغه به مځکه په عدل او انصاف سره معموره کړي لکه څرنګه چي تر دې مخکي په ظلم او ستم سره معموره وه.

**امام مهدي به د رسول الله ﷺ د اولاد څخه وي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۱۹): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي مِنْ وَلَدِ فَاطِمَةَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي فرمايل يې: مهدي به زما د عترت (اولاد) څخه وي |

يعني د بي بي فاطمې د اولاد څخه به وي. ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۵۲۲۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَهْدِيُّ مِنِّي أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مهدي زما د اولاد څخه دی، روښانه او پراخ تندي والا جګه پزه والا، هغه به داسي د عدل او انصاف څخه مځکه ډکه کړي لکه څرنګه چي مخکي د ظلم او زور څخه ډکه وه هغه به اووه کاله د مځکي مالك وي. ابوداؤد. |

**د حضرت مهدي ﷺ سخاوت**

| | |
|---|---|
| (۵۲۲۱): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قِصَّةِ الْمَهْدِيِّ قَالَ فَيَجِيءُ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَيَقُولُ يَا مَهْدِيُّ أَعْطِنِي أَعْطِنِي قَالَ فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ. رواه الترمذي. | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مهدي د واقعي په لړ کي وفرمايل: مهدي ته به يو سړی راسي اووايي به ما ته راکړه، ما ته راکړه نبي کريم ﷺ وويل نو |

دده په کالو کي به په لپو مال ور واچول سي څومره چي دی ورلای سي. ترمذي.

**د امام مهدي د ظهور پيشګوئي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۲۲): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ فَيَأْتِيهِ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ | د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو خليفه پر مرګ به اختلاف رامنځته سي بيا به يو سړی د مدينې څخه راووځي او د مکې و طرف ته به وتښتي د مکې خلك به هغه ته راسي هغه به د کور څخه د هغه په ناخوښۍ دباندي وباسي او د حجرِ اسود او مقام ابراهيم په منځ کي به د هغه په لاس سره |

أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ وَذٰلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ ثُمَّ يُتَوَفّٰى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ. رواه ابوداؤد.

بیعت وکړي او هغه به خپل خلیفه جوړ کړي حال دا چې هغه سړی به په دې خوشحاله نه وي «دا سړی به امام مهدي وي» بیا به د شام «د پاچا د لوري» ، څخه د هغه د مقابلې لپاره یو لښکر راولیږل سي چې هغه به د مکې او مدینې په منځ کې په بیداء نامي ځای کې ژوندي خسف «ډوب» کړل سي ، هر کله چې خلك خبر سي او دا حال ورته معلوم سي نو د شام ابدال او د عراق ډیر خلك به د هغه په خدمت کې حاضر سي او د هغه په لاس به بیعت وکړي بیا به د قریشو څخه یو بل سړی پیدا سي چې د هغه نیکونه به قبیله کلب وي ، دا سړی به هم د هغه سړي خلاف لښکر ولیږي او پر هغه لښکر به د امام لښکر غالب سي او دا فتنه د کلب د لښکر فتنه ده ، امام به د خلکو په منځ کې د خپل پیغمبر «حضرت محمد ﷺ» د احکامو سره سم عمل کوي او اسلام ته به خپل غاړه پر مځکه کښېږدي امام به تر اووه کالو پوري قائم وي بیا به وفات سي او د هغه پر جنازه به مسلمانان لمونځ وکړي. ابوداؤد.

(۵۲۲۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلَاءً يُصِيبُ هٰذِهِ الْأُمَّةَ حَتّٰى لَا يَجِدَ الرَّجُلُ مَلْجَأً يَلْجَأُ إِلَيْهِ مِنَ الظُّلْمِ فَيَبْعَثُ اللّٰهُ رَجُلًا مِنْ عِتْرَتِي وَأَهْلِ بَيْتِي فَيَمْلَأُ بِهِ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا يَرْضٰى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الْأَرْضِ لَا تَدَعُ السَّمَاءُ مِنْ قَطْرِهَا شَيْئًا إِلَّا صَبَّتْهُ مِدْرَارًا وَلَا تَدَعُ الْأَرْضُ مِنْ نَبَاتِهَا شَيْئًا إِلَّا أَخْرَجَتْهُ حَتّٰى يَتَمَنَّى الْأَحْيَاءُ الْأَمْوَاتَ يَعِيشُ فِي ذٰلِكَ سَبْعَ سِنِينَ أَوْ ثَمَانَ سِنِينَ أَوْ تِسْعَ سِنِينَ. رواه حاكم.

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د یو بلا ذکر وکړ چې پر دې اُمت به نازلیږي تر دې چې هیڅوك به د هغې بلا څخه د پناه تر لاسه کولو ځای تر لاسه نه کړي بیا به الله تعالی یو سړی وټاکي چې زما د اولاد او کورنۍ څخه به وي هغه به مځکه د عدل او انصاف څخه داسې معموره کړي لکه څرنګه چې مځکې د ظلم او ستم څخه معموره وه په دې سره به د مځکې خلك هم خوشحاله سي او آسمان والا هم، «د هغه په زمانه کې به د آسمان د باران د څاڅکو څخه هیڅ باقي پرې نه ږدي یعني باران به ډیر وي او مځکه به د خپل شنګیاوو او وښو څخه هیڅ باقي پرې نه ږدي یعني هر څه به راشنه کوي تر دې چې ژوندي خلك به ددې خبرې ارمان کوي چې مړه خلك په دغه ښه وخت کې

ژوندي واى ، دا سړى به داسې ژوندى وي دا سړى به همداسې ژوندى وي اووه كاله، يا اته كاله او يا نهه كاله به تير كړي . حاكم.

**يو پېشگوئي**

| | |
|---|---|
| (٥٢٢٤): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ وَرَاءِ النَّهْرِ يُقَالُ لَهُ الْحَارِثُ حَرَّاثٌ عَلَى مُقَدِّمَتِهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ مَنْصُورٌ يُوَطِّئُ أَوْ يُمَكِّنُ لِآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا مَكَّنَتْ قُرَيْشٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَ عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ نَصْرُهُ أَوْ قَالَ إِجَابَتُهُ . رواه ابوداؤد. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړى به په دغه ښارونو كي چي د وياڼي (ماوراء النهر) تر شا واقع دي څرګند سي چي په حارث حراثه به بلل كيږي،دده پر لوړمړني لښكر به يو سړى وي د هغه نوم به منصور وي ، دا حارث به د حضرت محمد ﷺ اولاد ته تم ځاى وركړي لكه څرنګه چي د |

قريشو هغه خلكو چي ايمان يې راوړى وو حضرت محمد ﷺ ته ځاى وركړى وو پر هر چا ددغه سړي مرسته واجب ده ، يا وه يې فرمايل چي قبلول يې واجب دي. ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (٥٢٢٥): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ وَحَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ وَشِرَاكُ نَعْلِهِ وَتُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ.رواه الترمذي. | د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واك كي چي زما روح ده قيامت به نه راځي تر څو پوري چي درندګان د خلكو سره خبري ونه كړي او تر څو پوري چي د سړي د |

دړې تسمې او د څپليو تسمې د هغه سره خبري ونه كړي تر دې چي سړي ته به خپل ورون ووايي چي د هغه په نه شتون كي د هغه اهل او عيال څه څه كړي دي . ترمذي.

## دريم فصل

**د قيامت نښې به كله ظاهرېږي**

| | |
|---|---|
| (٥٢٢٦): عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَاتُ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ. رواه ابن ماجه. | د حضرت ابو قتاده ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (د قيامت) نښې به دوه سوه كاله وروسته شروع سي . ابن ماجه. |

## یو لاربنوونه

(۵۲۲۷): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّايَاتِ السُّوْدَ قَدْ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ خُرَاسَانَ فَأْتُوهَا فَإِنَّ فِيهَا خَلِيفَةَ اللّٰهِ الْمَهْدِيَّ . رواه أحمد والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي تاسو د خراسان د لوري تور بیرغونه راتلل ووینئ نو هغه خوا متوجه سئ (یعني په هغه خلکو کي ګډ سئ) څکه چي په هغه بیرغو کي به د الله ﷺ خلیفه مهدي وي . احمد او بیهقي.

## امام مهدي به د حضرت حسن ﷺ د اولاد څخه وي

(۵۲۲۸): وَعَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ وَقَالَ إِنَّ ابْنِي هٰذَا سَيِّدٌ كَمَا سَمَّاهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَيَخْرُجُ مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ يُشْبِهُهُ فِي الْخُلُقِ وَلَا يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةً يَمْلَأُ الْأَرْضَ عَدْلًا. رواه ابوداؤد و لم يذكر القصة.

د حضرت ابو اسحاق ﷺ څخه روایت دی چي حضرت علي ﷺ خپل زوی حسن ﷺ ته وکتل او وه یې ویل : زما دا زوی څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي سردار دی ، ډیر ژر به دده د ملا څخه یو سړی پیدا سي چي د هغه نوم به ستاسو د نبي په نامه وي، په اخلاقو او عاداتو کي به د هغه ﷺ متشابه وي ، په صورت او شکل کي به مشابه نه وي ، ددې څخه وروسته حضرت علي ﷺ د هغه سړي د عدل او انصاف واقعه بیان کړل چي مځکه به دعول څخه ډکه کړي . ابوداؤد.

## د ملخانو ختمېدل د قیامت د نښو څخه دي

(۵۲۲۹): وَعَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ فُقِدَ الْجَرَادُ فِيْ سَنَةٍ مِّنْ سِنِيْ عُمَرَ الَّتِيْ تُوُفِّيَ فِيْهَا فَاهْتَمَّ بِذٰلِكَ هَمًّا شَدِيْدًا فَبَعَثَ إِلَى الْيَمَنِ رَاكِبًا وَرَاكِبًا إِلَى الْعِرَاقِ وَرَاكِبًا إِلَى الشَّامِ يَسْأَلُ عَنِ الْجَرَادِ هَلْ أُرِيَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَتَاهُ الرَّاكِبُ الَّذِيْ مِنْ قِبَلِ الْيَمَنِ بِقَبْضَةٍ فَنَثَرَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَمَّا رَآهَا عُمَرُ كَبَّرَ وَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ أَلْفَ أُمَّةٍ سِتُّمِائَةٍ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ وَأَرْبَعَمِائَةٍ فِي الْبَرِّ فَإِنَّ أَوَّلَ هَلَاكِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ الْجَرَادُ

حضرت جابر بن عبدالله ﷺ وایي په کوم کال چي حضرت عمر ﷺ وفات سوی دی په هغه کال ملخ نه راغلل ، حضرت عمر ﷺ دا په خاصه توګه محسوسه کړه او پر ملخانو نه راتلو باندي غمګین سو ، بیا یې د یمن په لور یو سپور ولیږی او د عراق په لور یې یو سپور ولیږي او د شام په لور یې یو سپور ولیږی چي هلته په رسیدو سره د ملخانو په باره کي پوښتنه وکړي چي یو چا چیري لیدلي دي ، کوم سپور چي یمن ته لیږل سوی وو هغه یو موټ ملخان راوړل او د

فَإِذَا اَهْلَكَ الْجَرَادُ تَتَابَعَتِ الْأُمَمُ كَنِظَامِ السِّلْكِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

حضرت عمر ﷺ مخ ته يې ايله کړل د هغه په ليدو سره حضرت عمر ﷺ الله اکبر ووايه ، بيا

يې دا بيان وکړ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې الله تعالی زر امتونه پيدا کړي دي په دې کې شپږ سوه په درياب کې دي او څلور سوه په وچه کې دي ، په حيوانانو کې به تر ټولو اول ملخان هلاك سي ، بيا به د حيوانانو نور ډولونه يو په بل پسې هلاکيږي لکه څرنګه چې د ملغلرو تار خلاص سي او ملغلري يو په بل پسې ايله کيږي . بيهقي.

# بَابُ الْعَلاَمَاتِ بَيْنَ يَدَيِّ السَّاعَةِ وَذِكْرِ الدَّجَّالِ

## «د قيامت د نښو او د دجال بيان»

## لومړى فصل

### د قيامت د راتللو لس غټې نښې

(۵۲۳۰): عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدِ الغفاري قَالَ اطَّلَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ فَقَالَ مَا تَذَاكَرُونَ قَالُوا نَذْكُرُ السَّاعَةَ قَالَ إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ، وفي رواية نَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قُعْرَةِ عَدَنٍ تَسُوقُ النَّاسَ إِلَى الْمَحْشَرِ، وفي رواية في العاشرة وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ. رواه مسلم.

د حضرت حذيفه بن اسيد غفاري ﷺ څخه روايت دی چې موږ د قيامت ذکر کوی چې رسول الله ﷺ زموږ طرف ته وکتل او وه يې فرمايل: چې تاسو څه بحث کوئ ؟ موږ وويل چې د قيامت خبري کوو، هغوئ وفرمايل چې قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چې تاسو لس نښې وه نه وينئ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه نښو ذکر وکړ او وه يې فرمايل : دود چې په مشرق او مغرب کې به تر ځلوېښتو ورځو پوري خپريږي، دجال، دابه «يعني د دابة الارض ظهور»، د لمر د مغرب څخه راختل، د عيسی بن مريم نازليدل، ياجوج او ماجوج ، پر درو ځايونو باندي د ځمکې خسف يو په مشرق کې دويم په مغرب کې او دريم په جزيره عرب کې ، هغه اور چې د عدن ددې غاړې څخه به وځي او خلك به د حشر په لور بيايي .

«دابة الارض يو حيوان دی چې شپېته ګزه اوږد د هغه سره به د حضرت موسی عليه السلام همسا او

د حضرت سلیمان علیه السلام گوتمۍ وي، په خفاسته کي به هیڅوك د هغه مقابله نه سي کولای هغه به پر مؤمن د موسی علیه السلام همسا ووهئ او د هغه پر مخ به مؤمن ولیکل سي او د کافر پر مخ به مهر لګولو سره کافر ولیکي، او په یوه روایت کي لسمه نښه یوه هواء بیان سوې ده چي خلك به په دریاب کي وغورځوي. مسلم.

**د قیامت هغه شپږ نښي چي د هغه د ظاهرېدو څخه مخکي زيات اعمال صالحه اختيار کړئ**

(۵۲۳۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا الدُّخَانَ وَ الدَّجَّالَ وَدَابَّةَ الْأَرْضِ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا أَمْرَ الْعَامَّةِ وَخُوَيْصَةَ أَحَدِكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (د قیامت) ددغه شپږو نښو د ښکاره کېدو مخکي پر ښه اعمالو تلوار وکړئ (او هغه نښي دادي): دود، دجال، دابة الارض، د مغرب څخه دلمر ختل، عامه فتنه، خاصه فتنه، یعني هغه فتنه چي په تاسو کي د چا سره خاصه وي. مسلم.

**د قیامت تر ټولو لومړنۍ نښه**

(۵۲۳۲): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالْأُخْرَى عَلَى إِثْرِهَا قَرِيبًا. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمایل یې: د قیامت د لومړنیو نښو څخه دا دوې نښي دي یعني د لمر د مغرب څخه راختل او د دابة الارض خلکو ته خروج کیدل او خبري کول، د څاښت په وخت چي په دغه دواړو کي کوم یو مخکي واقع سي د هغه څخه وروسته به دویم واقع کیږي. مسلم.

**د قیامت هغه درې نښي چي د هغو ظاهرېدل یقیني دي**

(۵۲۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَالدَّجَّالُ وَدَابَّةُ الْأَرْضِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې خبرې به څرګندیږي تر څو پورې چي چا ددغه څرګندېدو څخه مخکي ایمان نه وي راوړی او عمل یې نه وي کړی نو د چا ایمان راوړل او عمل کول به ګټور نه وي (او هغه درې نښي دادي): د لمر د مغرب څخه راختل، دجال، او د دابة الارض راوتل. مسلم.

**کله چي د لمر د مغرب څخه د راختلو حکم وسي**

(۵۲۳۴): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ غَرَبَتِ الشَّمْسُ أَتَدْرِيْ أَيْنَ تَذْهَبُ هٰذِهٖ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتّٰى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَسْتَأْذِنُ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَيُوْشِكُ اَنْ تَسْجُدَ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا وَتَسْتَأْذِنُ فَلَا يُؤْذَنُ لَهَا وَيُقَالُ لَهَا ارْجِعِيْ مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَطْلَعُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا قَالَ وَ مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته د لمر لویدو په وخت کي وفرمایل :تاته معلومه ده چي لمر لویږي نو چیري ځي ؟ ما عرض وکړ الله ﷺ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه ځي تر دې چي د عرش لاندي ورسیږي سجده کوي بیا د رب العزت په حضور کي حاضري کولو سره اجازه غواړي هغه ته اجازه ورکول سي او حکم ورکول سي چي د مشرق په لور ولاړ سي او د هغه ځای څخه راوخیژي او هغه وخت قریب دی چي هغه به سجده وکړي او د هغه سجده به قبوله نه سي او د حاضری او راختلو اجازه به غواړي او اجازه به ور نه کړل سي او دا حکم به ورکړل سي د کومي خوا څخه چي راغلی یې هغې خوا ته بیرته ولاړ سه، نو هغه به د مغرب څخه راوخیژي او دا مراد دی د الله تعالی ددغه قول : (والشمس تجري لمستقر لها) یعني لمر په خپل مستقر یعني د قرار ځای ته ځي، رسول الله ﷺ د مستقر په اړه فرمایلي دي چي هغه د عرش الهي لاندي دی . مسلم.

**د دجال د فتني څخه لويه هيڅ فتنه نه سته**

(۵۲۳۵): وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ اَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ. رواه مسلم.

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې : د آدم علیه السلام د زیږیدني څخه تر قیامت قائمیدو پوري د دجال څخه لويه فتنه بله نسته . مسلم.

**دجال يو سترگی دی**

(۵۲۳۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْكُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّ الْمَسِيْحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنَ الْيُمْنٰى كَأَنَّ عَيْنَهٗ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی پر تاسو مخفي نه دی (یعني تاسو د هغه د حقیقت څخه خبر یاست) هغه ړوند نه دی او مسیح دجال ړوند دی یعني د هغه راسته سترگه ړنده ده لکه هغه چي د انگور یوه پړسیدلې دانه ده . بخاري او مسلم.

## هر نبي خپل امت ددجال څخه بیرولی دی

(۵۲۳۷): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ اِلَّا قد اَنْذَرَ اُمَّتَهُ الْاَعْوَرَ الْكَذَّابَ اَلَا اِنَّهُ اَعْوَرُ وَاِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِاَعْوَرَ مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ف ر. متفق علیه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یو نبي داسې نه دی تیر سوی چي هغه خپل امت د درواغجن ړانده څخه بیرولی نه وي ، خبردار! دجال ړوند دی او ستاسو پروردگار ړوند نه دی او ددجال د دواړو سترګو په منځ کي ك ف ر (یعني کفر) لیکلي سوی دی. بخاري او مسلم.

## د دجال جنت او دوږخ

(۵۲۳۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا عَنِ الدَّجَّالِ مَا حَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ اِنَّهُ اَعْوَرُ وَاِنَّهُ يَجِيْءُ مَعَهُ بِمِثَالِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَالَّتِيْ يَقُوْلُ اِنَّهَا الْجَنَّةُ هِيَ النَّارُ وَاِنِّيْ اُنْذِرُكُمْ كَمَا اَنْذَرَ بِهِ نُوْحٌ قَوْمَهُ. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا زه تاسو ته ددجال په باره کي هغه خبره ونه نبیم کومه چي هیڅ یو نبي خپل قوم ته نه ده کړې هغه به ړوند وي او د خان سره به د دوږخ او جنت په ډول دوه شیان راوړي کوم شي ته چي هغه جنت وایي هغه به په حقیقت کي دوږخ وي او کوم شي ته چي دوږخ وایي هغه به جنت وي، زه تاسو د هغه څخه بیروم لکه څرنګه چي نوح علیه السلام خپل قوم د هغه څخه بیرولی وو. بخاري او مسلم.

## دجال چي کوم څوک په مصیبت کي واچوي هغه به په حقیقت کي راحت وي

(۵۲۳۹): وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ وَاِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَاَمَّا الَّذِيْ يَرَاهُ النَّاسُ ماء فنار يحرق واما الذي يراه الناس نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ اَدْرَكَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِيْ يَرَاهُ نَارًا فَاِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ ، متفق علیه و زاد مسلم وَاِنَّ الدَّجَّالَ مَمْسُوْحُ الْعَيْنِ علیها ظفرة غلیظة مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يقرئه كل مؤمن كاتب وغير كاتب .

د حضرت حذیفه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د جال به د اوبو او اور سره راووځي ، هغه شی چي خلك يې اوبه ګڼي هغه به سوځونکي اور وي او کوم شی چي د اور خیال پر کیږي په حقیقت کي به هغه یخې او خوږې اوبه وي ، په تاسو کي چي څوك دجال تر لاسه کړي نو هغه دي په هغه شي کي غورځیدل خوښ کړي کوم چي په خپلو سترګو سره اور ویني ځکه چي هغه اور په حقیقت کي خوږې او یخي اوبه دي. بخاري او مسلم ، د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ زیات لیکلي دي چي د دجال

يوه سترګه به ناسته وي او په دويمه سترګه به غټه سرمن وي د هغه د سترګو په منځ کي به کافر ليکلي وي چي هغه به هر مؤمن که ويونکی وي او نا ويونکي وويلای سي.

**د دجال پېژندنه**

(۵۲۴۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى جُفَالُ الشَّعْرِ مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ. رواه مسلم.

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دجال په چپه سترګه روند دی ورېښتان به يې ډېر وي دده سره به جنت او اور وي، دده اور به جنت او جنت به يې اور وي. مسلم.

**د دجال کارنامې او د ياجوج ماجوج ذکر**

(۵۲۴۱): وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ وَاللّٰهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ عَيْنُهُ طَافِئَةٌ كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ وفي رواية فليقرا عليه بفواتح سورة الكهف فانها جواركم من فتنته انه خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّامِ وَالْعِرَاقِ فَعَاثَ يَمِينًا وَعَاثَ شِمَالًا يَا عِبَادَ اللّٰهِ فَاثْبُتُوا قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ قَالَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَوْمٌ كَسَنَةٍ وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ قَالَ لَا اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الْأَرْضِ قَالَ كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ فَيَدْعُوهُمْ فَيُؤْمِنُونَ بِهِ فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ أَطْوَلَ مَا

د حضرت نواس بن سمعان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دجال د ذکر کولو سره وفرمايل: که دجال خروج وکړي او زه په تاسو کي موجود يم نو زه به د هغه سره ستاسو په مخکي بحث او خبري وکړم (او پر هغه به غالب سم) او که هغه وخت راووځي چي زه په تاسو کي موجود نه يم نو په تاسو کي به هر سړي د خپل لوري څخه د هغه سره بحث او خبري کونکي ياست (يعني د هغه د بدي دفع کونکي او خپل ځان به د هغه څخه ساتونکي ياست) او پر مسلمانانو زما وکيل او خليفه الله تعالى دي، دجال به ځوان وي آلوول وړېښتان به يې وي او د هغه سترګه به بوکه راوتلې وي ګويا زه هغه ته د قطن د زوی عبدالعزى سره تشبيه ورکولای سم، په تاسو کي چي څوك هغه ووينی د هغه په مخکي دي د سورة کهف لومړني آياتونه ووايي ځکه چي دا آياتونه به تاسو ددجال د فتني څخه وساتي، او په يوه روايت کي راغلي دي چي د سورة کهف اول اياتونه پر واياست ځکه چي

كَانَتْ ذُرًا وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ فَيَقُولُ لَهَا أَخْرِجِي كُنُوزَكِ فَتَتْبَعُهُ كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ ثُمَّ يَدْعُوهُ فَيُقْبِلُ وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللَّهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ مِثْلُ جُمَانٍ كَاللُّؤْلُؤِ فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ مِنْ رِيحِ نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الى قوم قد عصمهم الله منه فَيَمْسَحُ عَنْ وُجُوهِهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي الْجَنَّةِ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللَّهُ إِلَى عِيسَى إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ وَيَبْعَثُ اللَّهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُ لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ الْخَمَرِ وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَيَقُولُونَ لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرُدُّ اللَّهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللَّهِ وَأَصْحَابُهُ

بېشكه دا ستاسو د امن سبب دى له فتني دده څخه، دجال به پر هغه لار راځي چي د شام او عراق په منځ كي واقع ده او راسته او چپه خوا به فساد خپروي ، اې د الله ﷻ بندګانو خپل دين محكم كړئ ، موږ عرض وكړ اې دالله رسوله ! هغه به تر څو پورې په مځكه كي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل څلوېښت ورځي ، هغه يوه ورځ به د يوه كال برابر وي او يوه ورځ به يې د يوې مياشتي برابر وي او يوه ورځ به يې د يوې هفتي برابر وي او پاته ورځي به يې زموږ د ورځو برابري وي ، موږ عرض وكړ اې دالله رسوله ! د هغه يوه ورځ چي د يوه كال برابر وي نو ايا په هغه ورځ به زموږ د يوې ورځي لمونځ كافي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :يا ، بلكه په هغه ورځ به د يوې ورځي اندازه كولو سره لمونځ كول وي (يعني يوه يوه ورځ به اندازه كولو سره لمونځ كوئ ) موږ عرض وكړ اې دالله رسوله ! هغه به په مځكه كي څومره په تيزۍ سره ځي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه به د باران په ډول تيز رفتاره وي چي په هغه پسي به هوا لګېدلې وي هغه به يو قوم ته ورسي او هغوئ ته به خپل دعوت وركړي خلك به پر هغه ايمان راوړي بيا به هغه آسمان ته د باران حكم وركړي نو باران به و اوروي او مځكي ته به حكم وركړي نو مځكه به شنه او زرغونه كړي ، بيا به ماښام د هغه قوم حيوانان د څرند څخه راسي د هغوئ قبونه به غټ غټ سي غولانزي به يې غټي سي او د

حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْرًا مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللَّهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ فَيُرْسِلُ اللَّهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللَّهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللَّهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى اللَّهِ فَيُرْسِلُ اللَّهُ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ فَتَحْمِلُهُمْ .... فتطرحهم حيث شاء الله ، وفي رواية تَطْرَحُهُمْ بِالنَّهْبَلِ وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ ثم يُرْسِلُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ وَبَرٍ وَلَا مَدَرٍ فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حتي يَتْرُكَهَا كَالزَّلَفَةِ ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ انبتي ثَمَرَتَكِ وَرُدِّي بَرَكَتَكِ فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقَحْفِهَا وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ حَتَّى إِنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لتكفي الفئام من الناس واللِّقْحَة مِنَ الْبَقَرِ لتكفي القبيلة من الناس واللِّقْحَة مِنَ الْغَنَمِ لتكفي الفخذ من الناس فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللَّهُ رِيحًا طيبة فتاخذهم تحت اباطهم فتقبض رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وكل مسلم وَيَبْقَى شرار النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فيها تهارج الحمر فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ. رواه مسلم الا الرواية الثانية وهو قوله تطرحهم بالنهبل الى قوله سبع سنين رواهما الترمذي.

شپږو څخه به ډکې سي او ارخونه به يې ښه را وايستل سي بيا به دجال يو بل قوم ته ورسيږي او هغوئ ته به خپل دعوت ورکړي هغه قوم به د هغه دعوت رد کړي نو هغوئ به پر ځاى پرېږدي د هغوئ څخه به ولاړ سي او هغوئ به قحط وهلي وي د هغوئ دمال څخه به د هغوئ سره هيڅ پاته نه سي بيا به دجال په يوه کنډواله يا خرابه تير سي او هغې ته به حکم ورکړي چي هغه خپلي خزانې راوباسي نو هغه خرابه به د هغه د حکم سره سم خزانې راوباسي او هغه خزانې به داسي پرله پسې وي لکه د شاتو د مچيو ملکې پسې چي موچى وي بيا به دخال يو سړى چي د ځوانى د جوش څخه به ډك وي هغه ته به خپل (د خدايي) دعوت ورکړي هغه زلمى به د دجال دعوت رد کړي دجال به ورته غضب ناك سي په توره به يې ووهي هغه زلمى به دوې ټوټې سي او هره ټوټه به د بلي څخه دومره ليري وغورځيږي چي د دواړو په منځ کي به د ويشتلي غشي برابر فاصله وي بيا به دجال هغه ټوټې راوبلي نو هغه زلمى به ژوندى راسي دغه وخت به د دجال مخ خوشحاله وي او هغه به د خپل الوهيت په دې کارنامه مسکا کوي ،غرض دجال به دغسي خپلو کارونو کي مشغول وي چي په دغه وخت کي به ناڅاپه الله تعالى مسيح ابن مريم عليه السلام راوليږي چي د دمشق په شرقي کي به پر سپينه مناره نازل سي دغه وخت به حضرت عيسى عليه السلام دوې ژړې جامې اغوستي وي او خپل دواړه لاسونه به يې د ملائکو پر وزرو ايښي وي (يعني عيسى ﷺ

به د ملائکو پر وزرونو باندي لاسونه ایښي د آسمان څخه راکښته سي، هغه چي خپل سر کښته کړي نو خوله به څیني څاڅي او چي سر پورته کړي نو د هغه د سر څخه به د سپینو زرو د دانو په ډول چي د غمیانو په ډول به وي څاڅکي بهیږي ، کوم کافر چي د هغه د ساه هواء ووینې نو مړ به سي او د حضرت عیسی علیه السلام د ساه هوا به د نظر تر حده پوري څي بیا به عیسی علیه السلام دجال ذلټوي او هغه به په باب لد (چي په شام کي یو غر دی) تر لاسه کړي او قتل به یې کړي ، بیا به حضرت عیسی علیه السلام ته یو قوم راسي چي الله تعالی به ددجال د فتنې څخه محفوظ ساتلی وي ، عیسی علیه السلام به د هغوئ د مخ څخه گرد صاف کړي او د هغه درجو خوشخبري به ورکړي چي هغوئ ته په جنت کي حاصلي وي ، حضرت عیسی علیه السلام به په دې حالت کي وي چي الله تعالی به هغه ته وحي راولیږي او ورته وه به ښیي چي ما خپل ډیر بندگان داسي پیداکړي دي چي د هغوئ سره د جنگ کولو طاقت د هیچا نه سته ، ته زما بندگان کوه طور ته بوځه او هلته د هغوئ حفاظت کوه بیا به الله تعالی یاجوج او ماجوج راولیږي چي د هري لوري مخکي څخه به راکښته کیږي او څغلي به د دوئ لومړی ډله به د طبریه (په شام کي) بحیرې ته ورسیږي او د هغه خای ټولي اوبه به وڅښي تر دوئ وروسته چي هلته څوك تیریږي هغه به دا فکر کوي چي دلته هیڅ وخت اوبه نه وې بیا به یاجوج ماجوج پر مخ څي او جبل خمر ته به ورسیږي چي د بیت المقدس یو غر دی «دلته چي تم سي نو وایي به» پر مخکه چي کوم خلك وه هغوئ موږ مړه کړل راځي چي اوس آسمان والا قتل کړو نو هغوئ به د آسمان په لور غشي وولي او الله تعالی به هغه غشي په وینو لړلي راکښته کړي او د الله تعالی نبي او د هغه ملگري به په کوه طور کي تم کړل سي تر دې چي د لوړې او غذا په ارتیا کي به د هغوئ حالت دې درجې ته ورسیږي چي په هغوئ کي به د هر سړي په نزد د غوایي سر د سلو دینارو څخه غوره وي ، د هغه دینارو څخه چي نن ستاسو په نزد ډیر قیمتي دي (هر کله چي دا حالت سي) نو د الله تعالی نبي عیسی علیه السلام او د هغه ملگري به د الله تعالی څخه دعا وغواړي چي هغه یاجوج ماجوج هلاك کړي نو الله تعالی به د هغوئ په څټونو کي چینجي پیداکړي او هغوئ به یو دم ټول مړه سي بیا به عیسی علیه السلام او د هغه ملگري د غره څخه مخکي ته راکښته سي او په مخکه کي به یوه لویشت اندازه ځای تر لاسه نه کړي چي دیاجوج ماجوج د بوی د اثر څخه خوندي وي، عیسی علیه السلام او د هغه ملگري به الله تعالی ته سوال وکړي چي ددغه مصیبت څخه هغوئ خلاص کړي نو الله تعالی به داسي مرغان راولیږي چي د هغوئ څټونه به د خراساني آسانو په ډول وي دا مرغان به د یاجوج ماجوج مړه بدنونه پورته کړي او چیري چي د الله ﷻ مرضي وي هلته به یې وغورځوي ، او په یوه روایت کي د

االفاظ دي چي دغه مرغان به هغه جسدونه په نهبل کي وغورځوي (نهبل هغه ځای دی چي لمر ځيني راخيژي) مسلمانان به د ياجوج ماجوج ليندۍ غشي او تير کشان تر اوو کالو پوري سوځوي ، بيا به الله تعالی يو لوی باران وکړي چي د هغه څخه به هيڅ يو داسي ابادي خالي پاته نه سي (چي هلته باران ونه سي) دا باران به مځکه پريولي صفا به يې کړي او هغه به د هوار کاڼي په ډول سي ، بيا به مځکي ته وويل سي چي خپلي ميوې راوباسي او خپل برکت بيرته راوباسه ، نو په دغه ورځو کي به د لسو څخه تر څلوېښتو کسانو پوري يوه ډله په يوه انار مړيږي او د انار د پوستکي څخه به خلك د سايې کار اخلي ، او په شيدو کي به برکت واچول سي تر دې چي د يوې اوښي شيدې به د يوې ډلي لپاره بس وي او لنگه غوا به د يوې ډلي بس کيږي او لنگه مېږه به د کوچنۍ ډلي بس کيږي ، خلك به په داسي خوشحالی او آرام سره ژوند تيروي چي الله تعالی به يوه خوشبوداره هواء راوليږي چي د هر مؤمن او مسلمان تر بغل لاندي به ورسيږي او د مؤمن مسلمان روح به قبض کړي. او په دنيا کي به يوازي شرير او خراب خلك باقي پاته سي چي په خپل منځ کي به د خرونو په ډول جگړې کوي او پر دغه خلکو به قيامت قائم سي ، دا مسلم روايت کړی دی خو دويم روايت يعني تطرحهم بالنهبل څخه تر سبع سنين پوري ترمذي روايت کړی دی.

### د دجال د کارنامو بيان

(۵۲۴۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَيَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ مَسَالِحُ الدَّجَّالِ فَيَقُولُونَ لَهُ أَيْنَ تَعْمِدُ فَيَقُولُ أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِي خَرَجَ قَالَ فَيَقُولُونَ لَهُ أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا فَيَقُولُ مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ فَيَقُولُونَ اقْتُلُوهُ فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ قَالَ فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ فَيَقُولُ خُذُوهُ وَشُجُّوهُ فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا قَالَ فَيَقُولُ أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِي قَالَ فَيَقُولُ أَنْتَ الْمَسِيحُ

د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دجال به راووځي او يو مسلمان سړی به د هغه طرف ته متوجه سي (يعني حضرت خضر عليه السلام) او يو څو وسله لرونکي خلك به ددجال سره يو ځای سي چي د هغه محافظ به وي دا محافظ خلك به د هغه مسلمان سړي څخه پوښتنه کوي چي د کوم ځای اراده لرې ؟ هغه به ورته وايي زه هغه خوا ته ځم چي هغه خروج کړی دی (يعني د دجال په لور) ، رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې اوريدو سره به د دجال محافظان هغه ته ووايي ته زموږ رب (يعني دجال) باندي ايمان ولي نه راوړې ؟ هغه سړی به وايي زموږ د پروردگار صفات پر هيچا

الْكَذَّابُ قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ قَالَ ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ قُمْ فَيَسْتَوِي قَائِمًا قَالَ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ أَتُؤْمِنُ بِي فَيَقُولُ مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلَّا بَصِيرَةً قَالَ ثُمَّ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ فَيُجْعَلَ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تُرْقُوَتِهِ نُحَاسًا فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ فَيَحْسَبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ . رواه مسلم..

پټ نه وي ، ددې اوريدو سره به د دجال خلك په خپل منځ کي وو وايي چي دی قتل کړئ مگر ځيني به دا خبره څرگنده کړي چي ايا زموږ پروردگار (يعني دجال) موږ ته دا حکم نه دی راکړی چي د هغه د حکم څخه پرته به موږ څوك نه قتلوو ، غرض دا چي هغه به هغه سړی دجال ته بوځي کوم وخت چي دا مسلمان دجال وويني نو خلك به مخاطب کړي ورته به وايي اې خلکو ! دا هغه دجال دی چي رسول الله ﷺ يې ذکر فرمايلی دی ، ددې اوريدو سره به دجال د هغه مسلمان سړی د پرموخی پرې ايستلو حکم ورکړي نو هغه به پرې ايستل سي بيا به دجال حکم ورکړي چي دی ونيسئ سر يې ور ميده کړئ نو په بنه وهلو سره به د هغه شا او نس نرم کړل سي ، ددې څخه وروسته به دجال د هغه مسلمان سړي څخه پوښتنه وکړي ايا ته پر ما ايمان نه راوړې ؟ هغه مسلمان سړی به ورته په جواب کي ووايي چي ته درواغجن مسيح يې بيا به د دجال په حکم سره هغه مسلمان سړی په اره سره څيري کړل سي او دوې ټوټې به کړل سي او هغه دواړې ټوټې به بيل بيل کښېښودل سي بيا به دجال د هغه دواړو ټوټو په منځ کي وگرځي او وه به وايي چي ودريږه نو هغه مسلمان سړی به بالکل سيده ودريږي دجال به بيا هغه ته ووايي ته پر ما ايمان راوړې ؟ هغه مسلمان سړی به ورته ووايي اوس خو زما يقين او زما بصيرت نور هم زيات سوی دی يعني اوس خو زما پر دې خبره پوره يقين سوی دی چي ته دجال او درواغجن مسيح يې ، ددې څخه وروسته به هغه مسلمان سړی خلك مخاطب کړي ورته به ووايي اې خلکو ! دغه دجال چي زما سره څه وکړل اوس هغه د بل چا سره نه سي کولای ، ددې څخه وروسته به دجال هغه مسلمان د ذبح کولو لپاره ونسي مگر د هغه غاړه به د مسو څخه جوړه کړل سي (يعني الله تعالی به د هغه غاړه د مسو څخه جوړه کړي چي دجال يې ذبح کولای نه سي) نو دجال به يې ذبح نه کړلای سي عاجزه به پاته سي نو دهغه لاسونه او پښې به ونيسي هغه به پورته کړي او وه به يې غورځوي ، خلك به دا خيال وکړي چي هغه يې په اور کي وغورځوی مگر په حقيقت کي به هغه په جنت کي غورځول سوی وي ، ددې بيان کولو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سړی به د الله تعالی په نظر کي د شهادت

د اعتبار د ډيرې لوړې درجې سرې وي. مسلم.

**د دجال د ډيرې ښځه به خلک غرونو ته وتښتي**

(۵۲۴۳): وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ حتى يلحقوا بالْجِبَالِ قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ قلت يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ قَالَ هُمْ قَلِيلٌ. رواه مسلم.

د حضرت ام شريك (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك به د دجال (د چم او مكر او فتني) څخه تښتي او په غرونو كي به پټيږي، ام شريك وايي د دې اوريدو سره ما پوښتنه وكړه اې د الله رسوله! عرب به په دغه ورځو كي په كوم ځاى كي وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: عرب به په دغه زمانه كي لږ وي. مسلم.

**د دجال تابعداري به يهوديان كوي**

(۵۲۴۴): وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ.رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د اصفهان اويا (۷۰) زره يهوديان به د دجال پيروي او اطاعت وكړي چي د هغوئ پر سرونو به طيالسي څادرونه پراته وي. مسلم.

**دجال به مدينه كي نه داخليږي**

(۵۲۴۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الدَّجَّالُ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي الْمَدِينَةَ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ يَوْمَئِذٍ رَجُلٌ وَهُوَ خَيْرُ النَّاسِ أَوْ مِنْ خِيَارِ النَّاسِ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِي حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَهُ فَيَقُولُ الدَّجَّالُ أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ هَلْ تَشُكُّونَ فِي الْأَمْرِ فَيَقُولُونَ لَا فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ فَيَقُولُ وَاللّٰهِ مَا كُنْتُ فِيكَ أَشَدَّ بَصِيرَةً مِنِّي الْيَوْمَ فَيُرِيدُ الدَّجَّالُ أَنْ يَقْتُلَهُ فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دجال به د مديني په لور متوجه سي د الله تعالى په حكم سره به هغه د مديني په لارو كي داخل نه سي آخر به هغه د مديني منورې سره نژدې په يو مځكه كي تم سي، ددې څخه وروسته به يو سړى راسي چي د هغه زماني د غوره خلكو څخه به وي او هغه (دجال) ته به ووايي زه شاهدي وايم چي ته دجال يې چي رسول الله ﷺ يې خبر راكړى دى دجال به خپلو خلكو ته وايي كه زه دا سړى قتل كړم دويم وار يې راژوندى كړم ايا بيا به هم زما په باره كي شك كوئ هغوئ به وايي موږ به بيا هيڅ شك نه كوو نو دجال به هغه سړى قتل كړي او بيا به يې را ژوندى كړي بيا به د ژوندي كيدو څخه وروسته هغه ورته ووايي قسم په خداى هغه وخت ستا په

باره کي زما دومره يقين نه وو خومره چي مي اوس يقين دى بيا به دجال دويم وار د هغه د قتل کولو کوښښ کوي مگر پر هغه به واك تر لاسه نه کړي . بخاري او مسلم.

(۵۲۴۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي الْمَسِيحُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ هِمَّتُهُ الْمَدِينَةُ حَتَّى يَنْزِلَ دُبُرَ أُحُدٍ ثُمَّ تَصْرِفُ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ وَهُنَالِكَ يَهْلِكُ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسيح دجال به د مشرق د طرف څخه راسي او د مديني قصد به وکړي تر دې چي هغه به د احد شا ته ورسيږي بيا به ملائكي د هغه مخ د شام په لور وګرځوي او هغه به په شام کي هلاك سي . بخاري او مسلم.

(۵۲۴۷): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوبكره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په مدينه کي به د دجال رعب او خوف نه داخليږي ، په دغه ورځو کي به دمديني اووه دروازې وي او پر هره دروازه به دوې ملائكي ښاكلي وي . بخاري.

## د دجال ذكر

(۵۲۴۸): وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ مُنَادِي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَادِي الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَخَرَجْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَصَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَ لِيَلْزَمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنِّي وَاللّٰهِ مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ لِأَنَّ تَمِيمَ الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا فَجَاءَ وَأَسْلَمَ وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ بِهِ عَنِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ حَدَّثَنِي أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ

د حضرت بي بي فاطمې بنت قيس (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ د اعلان کونکي څخه دا اعلان واوريدی چي : الصلوة جامعة (يعني لمونځ کونکی دی يعني لمونځ تيار دی مسجد ته راسئ) نو زه مسجد ته ولاړم او د رسول الله ﷺ سره مي لمونځ وکړ، کله چي رسول الله ﷺ دلمانځه څخه فارغ سو نو منبر ته يې تشريف راوړ او په خندا يې وفرمايل : چا چي کوم ځای لمونځ کړی دی هلته دي ناست وي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي ما ولي تاسو يوځای کړي ياست ؟ خلکو عرض وکړ الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل:

نَعَمْ قَالَ كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ فَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ قَالَ لهم قد كان ذالك قلنا نعم أَمَا إِنَّ ذَاكَ خَيْرٌ أَنْ يُطِيعُوهُ وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ وَإِنِّي أُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدَعَ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ هُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً او واحد مِنْهُمَا اسْتَقْبَلَنِي مَلَكٌ بِيَدِهِ السَّيْفُ صَلْتًا يَصُدُّنِي عَنْهَا وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي الْمِنْبَرِ هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ يَعْنِي الْمَدِينَةَ أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ فَقَالَ النَّاسُ نَعَمْ فانه اعجبني حديث تميم انه وافق الذي كنت احدثكم عنه وعن المدينة ومكة أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّامِ و بَحْرِ الْيَمَنِ لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ. رواه مسلم.

سفر محمد شیرزاد

لوی او خوفناك سړی ولیدی چې داسې سړی تر نه پورې موږ نه وو لیدلی ، هغه ډیر ټینګ تړل سوی وو د هغه لاس تر غاړې پورې او کنډې تر بجلکو پورې په زنځیر کې وې موږ د هغه څخه پوښتنه وکړه پر تا افسوس دی ته څوك یې؟ هغه راته وویل تاسو زه ولیدم او معلوم مو کړلم (نو اوس زه ستاسو څخه خپل حال نه پټوم) مګر مخکې تاسو دا وښیاست چې تاسو څوك یاست ؟ موږ ورته وویل موږ د عربو خلك یو په یو کښتۍ کې سپاره سوې وو د دریاب څپو یوه میاشت پورې دربدره اخیستی وو آخر موږ یې دلته وغورځولو ، موږ په دغه جزیره کې داخل سوو نو موږ یو حیوانه ولیدل چې لوی لوی وریښتان یې وه هغې موږ ته وویل چې زه جاسوس یم ، تاسو هغه سړي ته ورسئ کوم چې په دیر کې دی بیا موږ ستا په خوا په منډه راغلو ، بیا هغه پوښتنه وکړه ایا هلته په بیبان کې د خرماوو درختې میوه کوي موږ ورته وویل هو ، میوه کوي نو هغه وویل هغه زمانه نژدې راتلونکې ده چې دغه درختې به میوه نه کوي بیا هغه پوښتنه وکړه دا راته وښیاست چې په بحیره طبریه کې اوبه سته که نه ؟ موږ ورته وویل په هغه کې اوبه ډیرې دي نو هغه وویل دیر ژر به هغه کې به اوبه وچې سي بیا هغه پوښتنه وکړه د زغر د چینې څه حال دی ؟ ایا په هغه چینې کې اوبه سته او ایا د هغې چینې نژدې خلك د هغه چینې په اوبو سره کښت کوي ؟ موږ ورته وویل چې هو هلته اوبه ډیرې دي او د هغه ځای خلك فصل کړي په اوبو ددې بیا هغه وویل د امیانو د نبي (یعني د عربو د ناویونکو خلکو دنبي ) په اره راته ووایاست چې هغه څه څه وکړل ؟ موږ ورته وویل : هغه د مکې څخه مدینې ته په هجرت تشریف وړی دی ، هغه پوښتنه وکړه ایا هغه عرب د هغه سره جنګیدلي دي ؟ موږ ورته وویل هو ، هغه پوښتنه وکړه هغه عربو سره څه معامله وکړه ؟ موږ د ټولو پېښو څخه هغه خبر کړ او ورته مو وښودل چې په عربو

کي چي کوم خلك د هغه نږدې وه پر هغوئ هغه غلبه حاصله کړې ده او هغوئ د هغه اطاعت اختيار کړی دی نو هغه ووېل تاسو ته دې معلومه وي چي د هغه اطاعت کول د هغوئ لپاره غوره دی ښه ده اوس درته زه خپل حال بيانوم چي زه مسيح دجال يم، ډير ژر ما ته به د وتلو حکم راکړل سي زه به د باندې ووځم او ګرځم به تر دې چي هيڅ آبادي به داسي پرې نه ږدم چي هغې ته داخل نه سم ، څلوېښت شپې به برابر ګښت کوم مګر مکې او مدينې ته به نه ځم هلته د ورتلو زما منع سوې ده هر کله چي زه دغه ښارونو کي يو ښار ته دداخليدو اراده وکړم نو يوه ملائکه چي د هغې په لاس کي به لڅه توره وي ما به دداخليدو څخه منع کړي او په دغه ښارونو کي به د هر يو ښار پر لار ملائکي ټاکلي وي چي د لارې ساتنه به کوي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل عصا پر منبر وهلو سره وفرمايل : دا ده طيبه ، داده طيبه داده طيبه يعني مدينه بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار ايا ما به تاسو ته دا نه ښودل ؟ خلکو عرض وکړ چي هو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل خبردار سئ ! چي دجال په بحيره شام کي دی يا په درياب يمن کي ، نه بلکه هغه به د مشرق د لورې څخه راوځي دا يې وفرمايل چي رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره د مشرق لور ته اشاره وکړل . مسلم

### د دجال حليه (شکل)

(۵۲۲۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ راىتني اللَّيْلَةَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَرَأَيْتُ رَجُلًا آدَمَ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ قَدْ رَجَّلَهَا فَهِيَ تَقْطُرُ مَاءً مُتَّكِئًا عَلَى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقالوا هذا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ قال ثم إِذَا أَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ أَعْوَرِ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَان عينه عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ كَأَشْبَهِ مَنْ رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ بِابْنِ قَطَنٍ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فسالت من هذا فقالوا هَذَا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ. متفق عليه وفي رواية قال في الدجال رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ جَعْدُ الرَّأْسِ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ . وذكر حديث ابي هريرة

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما خپل ځان (په خوب کي) د کعبې سره وليدی هلته ما ته يو غنم رنګی سړی په نظر راغلی چي دده رنګ د غنم رنګو خلکو څخه ور د هغه د سر تر اوږو پوري ويښتان وه او ددغه ډول ويښتانو ساتونکو کي هغه ډير غوره ويښتان وه ، ويښتان يې ږمنځ کړي وه او تر ويښتانو يې اوبه څڅېدلې ، هغه سړي د دوو خلکو پر اوږو لاس ايښی د خانه کعبې طواف يې کوی ، ما پوښتنه وکړه چي دا څوك دي ؟ خلکو راته ووېل دا مسيح ابن مريم عليه السلام دی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا زه پر يو بل سړي تير سوم چي د هغه ويښتان ګډ وډ وه راسته سترګه

لا تقوم الساعة حتى تطلع الشمس من مغربها في باب الملاحم وسنذكر حديث ابن عمر قام رسول الله صلى الله عليه وسلم في الناس في باب القصة ابن صياد ان شاء الله تعالى.

يې رنده وه لکه ګه د پرسيدلي انګور دانه، کوم خلك چې ما ليدلي دي په هغوئ کي دا سړی ابن قطن سره زيات مشابه وو دغه سړي د دوو خلکو پر اوږو لاس ايښی د بيت الله طواف يې کوی ما پوښتنه وکړه دا څوك دی ؟ خلکو وويل دا مسيح دجال دی . بخاري او مسلم ، په يوه روايت کي ددجال په اړه دا الفاظ دي چې هغه يو غټ بدن والا سور رنګی سړی دی د سر ورېښتان يې ګڼ وو وي راسته سترګه يې رنده ده ، په خلکو کي ابن قطن د هغه زيات مشابه دی ، د ابوهريره حديث : لاتقوم الساعة الخ . په باب الملاحم کي بيان سوی دی او ډېر ژر به د ابن عمر رضي الله عنه حديث : قام رسول الله الخ . به د ابن صياد په قصه کي بيان سي . د کعبې څخه مراد په دغه ځای کي اسلام دی د عيسی عليه السلام د طواف معنی داده چې دی به د اسلام ساتنه کوي او ددجال د طواف معنی داده چې دی به د اسلام په بربادۍ او خرابۍ پسي شاوخوا ټوله دنيا وګرځيږي خو مکې او مدينې منورې ته نه سي داخليدلای.

## دويم فصل

### د دجال ذکر

(۵۲۵۰): عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فِي حديث تميم الداري قالت قال فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا قَالَ مَا أَنْتِ قَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْقَصْرِ فَأَتَيْتُهُ فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعْرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الْأَغْلَالِ يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَقُلْتُ مَنْ أَنْتَ قَالَ أَنَا الدَّجَّالُ. رواه ابوداؤد.

حضرت بي بي فاطمه بنت قيس (رض) د تميم داري د حديث په لړۍ کي بيان کوي چې کله تميم داري دا بيان وکړ چې په جزيره کي داخل سوم نو ما يوه ښځه وليدل چې د خپل سرورېښتان يې پسي ځکيدل ، تميم داري ورته وويل ته څوك يې هغه ښځي وويل زه جاسوسه يم ته ددغه محل په لور ورسه ، د تميم داري بيان دی چې زه په هغه محل کي داخل سوم نو هلته مي يو سړی وليدی چې خپل ورېښتان يې راشکول په زنځيرونو کي تړلی دی او طوقونه ور باندي پراته دي او د آسمان او مځکي په منځ کي توپونه وهي ما پوښتنه وکړه ته څوك يې ؟ نو هغه راته وويل زه دجال يم . ابوداؤد.

### د دجال حيله

(۵۲۵۱): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دئ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتّٰى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا إِنَّ مَسِيحَ الدَّجَّالِ قَصِيرٌ أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ لَيْسَ بِنَاتِئَةٍ وَلَا حَجْرَاءَ فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ. رواه ابوداؤد.

چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما تاسو ته ددجال حال په وار وار ددې اندېښنې له کبله بيان کړی دی چي هغه ستاسو څخه هېر نه سي، د هغه د حقيقت څخه تاسو مه نا خبر کېږئ، مسيح دجال لنډ قدی دی د هغه پښې لاندې خې او پوندې يې لېرې لېرې دي ، وربېښتان يې تاو را تاو دي په يوه سترگه دی (يعني راسته سترگه يې ړنده ده) دويمه سترگه يې اواره ده يعني نه لوړه ده او نه ننوتلې ده بيا هم که تاسو په شبه کي ولوېږئ نو دومره خبره ياد ساتئ چي ستاسو پروردگار ړوند نه دی . ابوداؤد.

**پر ايمان باندې ثابت قدمه به ددجال څخه نه بېرېږي**

(٥٢٥٢): وَعَنْ عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ بَعْدَ نُوحٍ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ الدَّجَّالَ قَوْمَهُ وَإِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ فَوَصَفَهُ لَنَا قَالَ لَعَلَّهُ سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي أَوْ سَمِعَ كَلَامِي قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَكَيْفَ قُلُوبُنَا يَوْمَئِذٍ قَالَ مِثْلُهَا يَعْنِي الْيَوْمَ أَوْ خَيْرٌ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوعبيده بن جراح ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي د نوح عليه السلام څخه وروسته هېڅ يو نبي داسي نه دی تېر سوی چي هغه خپل قوم د دجال څخه نه وي بېرولی ، زه هم تاسو د هغه څخه بېروم او د هغه حقيقت درته بيانوم، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د دجال کيفيت بيان کړ بيا يې وفرمايل: شايد په تاسو کي يو سړی چي هغه زه ليدلی يم يا زما خبري يې اورېدلي دي هغه ووېني ، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! په دغه ورځو کي به زموږ د زړونو څه حالت وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: بلکل داسي لکه څرنگه چي نن دي يا ددې څخه هم غوره . ترمذي او ابوداؤد.

**دجال به د خراسان څخه راووځي**

(٥٢٥٣): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدَّجَّالُ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ بِالْمَشْرِقِ يُقَالُ لَهَا خُرَاسَانُ يَتْبَعُهُ أَقْوَامٌ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ . رواه الترمذي

حضرت عمرو بن حريث ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ موږ ته بيان وکړ چي دجال به د مشرق د يوې مځکي څخه راوځي چي د هغه نوم به خراسان وي ، ډېر قومونه چي د هغوئ مخونه به د سپر په ډول غبرگ پرسېدلي وي د هغه اطاعت اختيار کړي . ترمذي.

## د دجال څخه د ليري اوسيدو ټينګار

(۵۲۵۴): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ عَنْهُ فَوَاللّٰهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَأْتِيْهِ وَهُوَ يَحْسَبُ أَنَّهُ مُؤْمِنٌ فَيَتْبَعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ. رواه ابوداؤد

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د دجال د راوتلو خبر واوري هغه ته پكار ده چي د هغه څخه ليري اوسي ، قسم په خداى څوك چي دجال ته راسي او هغه ځان مؤمن ګني مګر بيا به هم د هغه اطاعت قبول كړي ځكه چي هغه ته هغه شيان وركړل سوي دي چي د هغه سره به په شبهاتو كي ولويږي . ابوداؤد.

## د دجال پر مځكه باندي اوسيدو وخت

(۵۲۵۵): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ بْنِ السَّكَنِ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْكُثُ الدَّجَّالُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً اَلسَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَالْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَالْيَوْمُ كَاضْطِرَامِ السَّعْفَةِ فِي النَّارِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت اسماء بنت يزيد بن السكن (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دجال به څلوېښت كاله په مځكه كي ګرځي ، كال به د مياشتي برابر وي ، مياشت به د اونۍ او اونۍ به د يوې ورځي برابر وي، او يوه ورځ به دومره وخت وي په څومره وخت كي چي د خرما وچه څانګه سوځي . شرح السنه .

## د دجال پيروي كونكي

(۵۲۵۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ السِّيْجَانُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت اويا زره خلك چي د هغوئ پر سرو به شنه څادرونه وي ددجال اطاعت قبول كړي . شرح السنه .

## دجال او وچ كالي

(۵۲۵۷): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي فَذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ سِنِيْنَ سَنَةٌ تُمْسِكُ السَّمَاءُ ثُلُثَ قَطْرِهَا وَالْأَرْضُ ثُلُثَ نَبَاتِهَا وَالثَّانِيَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ ثُلُثَيْ قَطْرِهَا وَالْأَرْضُ ثُلُثَيْ نَبَاتِهَا وَالثَّالِثَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ قَطْرَهَا كُلَّهُ وَالْأَرْضُ نَبَاتَهَا

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زما په كور كي وو، چي د دجال ذكر يې وكړ او وه يې فرمال: د دجال د راتلو څخه مخكي به درې كاله داسي راسي چي په هغه كي به په دغه كال كي آسمان دريمه حصه باران او مځكه دريمه حصه حاصلات بند كړي

كُلَّهُ فَلَا يَبْقَى ذَاتُ ظِلْفٍ وَلَا ذَاتُ ضِرْسٍ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا هَلَكَتْ وَإِنَّ أَشَدَّ فِتْنَتِهِ أَنْ يَأْتِيَ الْأَعْرَابِيَّ فَيَقُولَ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ إِبِلَكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيُمَثِّلُ الشَّيَاطِينُ لَهُ نَحْوَ إِبِلِهِ كَأَحْسَنِ مَا يَكُونُ ضُرُوعًا وَأَعْظَمِهِ أَسْنِمَةً قَالَ وَيَأْتِي الرَّجُلَ قَدْ مَاتَ أَخُوهُ وَمَاتَ أَبُوهُ فَيَقُولُ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ أَبَاكَ وَأَحْيَيْتُ لَكَ أَخَاكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيُمَثِّلُ لَهُ الشَّيَاطِينُ نَحْوَ أَبِيهِ وَنَحْوَ أَخِيهِ قَالَتْ ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَةٍ ثُمَّ رَجَعَ وَالْقَوْمُ فِي اهْتِمَامٍ وَغَمٍّ مِمَّا حَدَّثَهُمْ قَالَتْ فَأَخَذَ بِلَحْمَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ مَهْيَمْ أَسْمَاءُ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ خَلَعْتَ أَفْئِدَتَنَا بِذِكْرِ الدَّجَّالِ قَالَ وَإِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا حَيٌّ فَأَنَا حَجِيجُهُ وَإِلَّا فَإِنَّ رَبِّي خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا وَاللَّهِ لَنَعْجِنُ عَجِينَتَنَا فَمَا نَخْتَبِزُهَا حَتَّى نَجُوعَ فَكَيْفَ بِالْمُؤْمِنِينَ يَوْمَئِذٍ قَالَ يُجْزِيهِمْ مَا يُجْزِي أَهْلَ السَّمَاءِ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّقْدِيسِ. رواه احمد وابوداؤد.

او په دوهم کال به آسمان دوې حصې باران بند کړي او مځکه به دوې حصې حاصلات بند کړي او په دریم کال به نه باران وي نه حاصلات ، بیا به نه یو نوك والا حیوان پاته سي او نه غاښو والا تول به مړه سي ، او ددجال تر ټولو لویه فتنه به دا وي چي هغه به یو ساده صحرایي ته ورسي ورته به وایي که زه ستا هغه اوښ را ژوندی کړم کوم چي مړ سوی دی نو ایا ته به ما خپل پروردګار وبولي ؟ هغه صحرایي به ورته وایي :هو، نو دجال به د اوښ په ډول صورتونه جوړ کړي چي د صحرائي تر اوښانو به یې غلانزي ډکي وي او قوبونه به یې غټ وي، ویلي دي رسول الله ﷺ بیا به دجال یو بل سړي ته ورسي چي د هغه پلار او ورور به مړه سوي وي او هغه ته به وایي که زه ستا پلار او ورور راژوندي کړم نو ته به ما ومنې چي زه ستا رب یم ؟ هغه به ورته ووایي هو، نو دجال به شیطانان د هغه د پلار او ورور په شکل کي جوړ کړي، بي بي اسماء بنت یزید وایي ددې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د یو ضرورت لپاره تشریف یووړ او لږ وخت وروسته راغلی ، د دجال د ذکر اوریدو سره خلك په فکر او ښك کي ناست وه ، رسول الله ﷺ د دروازې دواړي پلې ونیولې او وه یې فرمایل : اې اسماء څه حال دی؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ا د دجال د ذکر کولو سره تاسو زموږ زړونه دباندي را وایستل (یعني په بیره کي سوو) رسول الله ﷺ وفرمایل که هغه زما په ژوند کي راووتی نو زه به په خپلو دلائلو سره هغه دفع کړم او که زما په ژوند کي نه راغلی نو زما پروردګار دهر مؤمن لپاره زما وکیل او خلیفه دی ، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ خپل اوړه اغږلو او ډوډۍ پخولو څخه فارغ سوي نه یو چي د لوږي څخه بې ارامه سو نو په هغه وچ کالي کي به د مؤمنانو څه حال وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغوئ د لوږي دفع کولو لپاره به هغه شی کافي

وي کوم چي د آسمان والاوو لپاره کافي دی يعني تسبيح او تقديس . احمد ، او ابوداؤد.

## دريم فصــل

### اهل ايمان ته د دجال څخه د ېرېدو ضرورت نه سته

(۵۲۵۸): عَنِ الْمُغِيرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَا سَأَلَ أَحَدٌ عَنْ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مَا سَأَلْتُهُ وَإِنَّهُ قَالَ لِي مَا يَضُرُّكَ قُلْتُ انهم يَقُولُونَ إِنَّ مَعَهُ جَبَلَ خُبْزٍ وَنَهَرَ مَاءٍ قَالَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ. متفق عليه.

د حضرت مغيره بن شعبه ﷜ څخه روايت دی چي د دجال په اړه چي څومره ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتني کړي دي دومره بل چا پوښتني نه دي کړي ، رسول الله ﷺ يو وار ما ته وفرمايل: دجال تا ته څه تاوان نه سي رسولای، ما عرض وکړ خلک داسي وايي چي د هغه سره به د ډوډيو غر او د اوبو درياب وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی په نزد دجال ددې څخه هم زيات ذليل دی . بخاري او مسلم.

### د دجال سپرلی به خر وي

(۵۲۵۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ عَلَى حِمَارٍ أَقْمَرَ مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ سَبْعُونَ بَاعًا. رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت ابوهريره ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دجال به پر يو سپين خره باندي سپور راووځي چي د هغه د دواړو غوږونو منځنی برخه به اويا باعه پلنه وي . بيهقي.

## بَابُ قِصَّةُ ابْنِ الصَّيَّادِ (د ابن صياد قصه)

## لومړی فصل

### د ابن صياد سره يو واقعه

(۵۲۶۰): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ انْطَلَقَ مَعَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ من اصحابه قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتّٰى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ

د حضرت عبدالله بن عمر ﷜ څخه روايت دی چي حضرت عمر ﷜ د صحابه کرامو په يو ډله کي د رسول الله ﷺ سره د ابن صياد په لور ورغلی، رسول الله ﷺ هغه د يهودي قبيلې بني

صَيَّاد يَوْمَئِذ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَده ثُمَّ قَالَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللّٰه فَنَظَرَ إِلَيْه فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّاد أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللّٰه فَرَصَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ آمَنْتُ بِاللّٰه وَرُسُله ثُمَّ قَالَ لِابْنِ صَيَّاد مَاذَا تَرَى قَالَ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا وخباله يوم تاتي السماء بدخان مبين فَقَالَ هُوَ الدُّخُّ قَالَ اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللّٰه أَتَأْذَنُ لِي فيه ان أَضْرِبَ عُنُقَهُ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْه وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ فَلَا خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِه قَالَ ابْنُ عُمَرَ انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّاد فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنِ ابْنِ صَيَّاد شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ وَابْنُ صَيَّاد مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِه فِي قَطِيفَة لَهُ فِيهَا زَمْزَمَةٌ فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّاد النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ فَقَالَتْ أَيْ صَافِ وَهُوَ اسْمُهُ هَذَا مُحَمَّدٌ فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّاد قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ قَالَ عَبْدُ اللّٰه بن عمر قَامَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَأَثْنَى عَلَى اللّٰه بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنِّي

مغاله قلعه کې د کوچنیانو سره په لوبو کولو ولیدی، دغه وخت ابن صیاد بلوغ ته نژدې سوی وو، ابن صیاد ته زمونږ راتلل معلوم نه سول، رسول الله ﷺ هغه ته نژدې ورغلی د هغه پر ملا یې لاس را تیر کړ ورته وه یې فرمایل: ایا ته ددې امر شاهدي کوې چې زه د الله رسول یم، ابن صیاد د رسول الله ﷺ په لور وکتل او وه یې ویل زه ددې شاهدي ورکوم چې ته د نا ویونکو (امیانو) خلکو رسول یې، ددې څخه وروسته ابن صیاد وویل ایا ته ددې خبرې شاهدي ورکوې چې زه د الله رسول یم؟ رسول الله ﷺ هغه ونیوی او په ښه زور سره یې دباو کړ بیا یې وفرمایل: ما پر الله او د هغه پر رسولانو ایمان راوړی دی، ددې څخه وروسته یې ابن صیاد ته وویل ته دغیبي شیانو څخه څه وینې؟ هغه وویل: کله ریښتني او کله درواغ (خبرې)، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل پر تا امور مشتبه کړل سوي دي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ما په زړه کې یوه خبره پټه کړې ده ته ووایه چې هغه څه ده؟ او د رسول الله ﷺ په زړه کې دا آیت وو (یوم تاتي السماء بدخان مبین) هغه وویل څه خبره (الدخ) ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چغه سه ته د خپل حیثیت څخه وړاندې نه سې تللای، عمر رضی الله عنه عرض وکړ اې دالله رسوله! ما ته اجازه راکړه چې زه یې غاړه پرې کړم، رسول الله ﷺ وفرمایل: که دا هغه دجال وي (د کوم چې ما خبر درکړی دی) نو

أَنْذَرَكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ. متفق عليه.

ته به پر ده واك نه سي تر لاسه كولاى او كه دى هغه نه وي نو دده په وژلو كي ستاسو لپاره څه خير نه سته، ابن عمر ﷺ وايي ددې څخه وروسته بل وخت رسول الله ﷺ او ابى بن كعب انصاري ﷺ د خرماوو هغه درختو ته ور سول په كوم ځاى كي چي ابن صياد وو، رسول الله ﷺ د درختو په بناخونو كي پټ ددې څخه مخكي چي هغه (يعني ابن صياد) رسول الله ﷺ ووينې د هغه خبري يې اوريدل غوښتل چي هغه ته دا معلومه سي چي دلته څوك نه سته نو په آزادي سره به خبري وكړي، ابن صياد څادر اغوستى پر بستره پروت وو او د هغه د څادر څخه داسي آواز راتلى چي په پوهه كي نه راتلى ، د ابن صياد مور رسول الله ﷺ د خرماوو په بناخونو كي پټ سوى وليدى نو وه يې ويل اې صاف (دا د ابن صياد نوم دى) دا مخته محمد ﷺ ولاړ دى ، ددې اوريدو سره ابن صياد پټه خوله سو، رسول الله ﷺ وفرمايل : كه دده مور دى پر خپل حال پرې ايښى واى نو دده يو حال به معلوم سوى واى، ابن عمر ﷺ وايي رسول الله ﷺ د خلكو په منځ كي ودريدى د الله تعالى حمد او ثناء يې بيان كړه چي د هغې هغه مستحق دى ، بيا يې ددجال ذكر وكړ او وه يې فرمايل : زه تاسو ددجال څخه بيروم او هيڅ يو نبي داسي نه دى تير سوى چي هغه خپل قوم ددجال څخه نه وي بيرولى البته تر تولو مخكي حضرت نوح عليه السلام خپل قوم د هغه څخه بيرولى وو مگر زه ددجال په اړه تاسو ته هغه خبره كوم چي هيڅ يونبي تر ننه پوري خپل قوم ته نه ده كړې (او هغه دا چي) تاسو خبردار اوسئ چي دجال يو سترگى دى او الله تعالى يو سترگى نه دى . بخاري او مسلم

## ابن صياد كاهن وو

(۵۲۶۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري قَالَ لَقِيَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ يعني ابن صياد فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ هُوَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمَنْتُ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ و رسوله مَا ذَا تَرَى قَالَ أَرَى عَرْشًا عَلَى الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ حضرت ابوبكر او حضرت عمر (رض) د مدينې په يوه لاره د ابن صياد سره يو ځاى سول نو رسول الله ﷺ هغه (ابن صياد) ته وفرمايل : ايا ته ددې خبري شاهدي كوې چي زه د الله تعالى رسول يم ؟ هغه ورته وويل ايا تاسو داسي شاهدي كوئ چي زه د الله رسول يم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل ما پر الله تعالى ، د هغه پر ملائكو د هغه پر كتابونو او د هغه پر

عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ وَمَا تَرَى قَالَ أَرَى صَادِقَيْنِ وَكَاذِبًا أَوْ كَاذِبَيْنِ وَصَادِقًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُبِسَ عَلَيْهِ فَدَعُوهُ. رواه مسلم.

رسولانو ايمان راوړی دی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ته څه شی وينې ؟ هغه ووېل زه پر اوبو يو تخت وينم ،

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته د ابليس تخت د اوبو سربيره وينې ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ته نور څه وينې ؟ هغه ووېل دوې ملائکې وينم (چې رښتيا خبرونه راوړي) او يو دروغجن وينم (چې درواغ خبرونه راوړي) يا هغه دا ووېل چې زه دوه درواغجن او يو رښتوني وينم، رسول الله ﷺ وفرمايل : پر ده امر مشتبه کړل سوی دی (يعني کاهن ترويتي دی) او کهانتي په ترويت توب کې دی اشتباه يعني په شك او شبه کې غورځول سوی دی له دې کبلهٔ دی پريږدئ. مسلم.

## د جنت په باره کې د رسول الله ﷺ څخه د ابن صياد سوال

(۵۲۶۲): وَعَنْهُ أَنَّ ابْنَ صَيَّادٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ فَقَالَ دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ خَالِصٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دی چې ابن صياد د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د جنت خاوره څنګه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه د ميدې په ډول سپينه او د خاصو مشکو په ډول خوشبوداره ده . مسلم.

## د دجال په باره کې پيشګوئي

(۵۲۶۳): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ لَقِيَ ابْنُ عُمَرَ ابْنَ صَائِدٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ قَوْلًا أَغْضَبَهُ فَانْتَفَخَ حَتّٰى مَلَأَ السِّكَّةَ فَدَخَلَ ابْنُ عُمَرَ عَلَى حَفْصَةَ وَقَدْ بَلَغَهَا فَقَالَتْ لَهُ رَحِمَكَ اللّٰهُ مَا أَرَدْتَ مِنِ ابْنِ صَائِدٍ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غَضْبَةٍ يَغْضَبُهَا . رواه مسلم.

د حضرت نافع ؓ څخه روايت دی چې ابن عمر ؓ د مدينې په يوه لاره کې د ابن صياد سره ملاقات وکړ ، ابن عمر ؓ هغه ته يو داسې خبره وکړه چې په هغه سره هغه (ابن صياد) په غضب کې سو، او د هغه رګونه و پړسيدل تر داسې حده چې ټوله کوڅه يې ډکه کړل ، د هغه څخه وروسته حضرت ابن عمر ؓ خپل خور بي بي حفصې ته ورغلی هغې ته د پېښې خبر رسيدلی وو هغې ورته وفرمايل : اې ابن عمر ! الله تعالى دې پر تا رحم وکړي ته د ابن صياد څخه څه غواړې ؟ ايا تا ته معلومه نه ده چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې دجال به پر يو خبره غضبناك سوی دباندې راووځي . مسلم.

## د ابن صياد ددجال کېدو څخه انکار

(۵۲۶۴): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ صَحِبْتُ

د حضرت ابو سعيد خدري ؓ څخه روايت دی

ابْنَ صَائِد إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ لِي مَا لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ وَقَدْ وُلِدَ لِي أَلَيْسَ قد قال وهو كافر وانا مسلم او ليس قد قال لا يدخل المدينة ولا مكة وقد اقبلت من المدينة وانا اريد مكة ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ أَمَا وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ وَأَيْنَ هُوَ واعرف اباه وامه قَالَ فَلَبَسَنِي قال قلت له تبالك سائر اليوم قال و قيل له ايسرك انك ذاك الرجل قال فقال لو عرض علي ما كرهت . رواه مسلم .

چي زه او ابن صیاد د مکې په سفر کي يو ځای سوو، ابن صیاد ما ته د هغه تکليف ذکر وکړ چي د خلکو څخه هغه ته رسيدلی وو بيا يې وويل خلك پر ما ددجال خيال کوي ايا تاسو د رسول الله ﷺ دا خبره نه ده اوريدلې چي دجال به بې اولاده وي او زما اولاد سته او رسول الله ﷺ ويلي دي چي دجال به کافر وي او زه مسلمان یم ، رسول الله ﷺ دا نه دي فرمايلي چي دجال به په مکه او مدينه کي نه داخليږي او زه د مدينې څخه را روان یم او د مکې په لور ځم ، بيا يې ما ته په آخره کي وويل چي قسم په الله زه د هغه د زېږېدو او اوسيدو ځای پيژنم او دا هم پيژنم چي پلار او مور يې څوك دي ، ابوسعيد وايي د ابن صیاد آخري الفاظو زه په شبه کي واچولم نو ما هغه ته وويل ته د همېشه لپاره هلاك سې ، ابوسعيد ﷺ وايي يو سړي د ملګرو څخه هغه ته وويل ايا ته په دې خوشحاله کېږې چي ته خپله دجال سې ؟ ابن صیاد وويل که ما ته هغه صفات راکړي سي کوم چي په دجال کي دي نو زه يې بد نه ګنم . مسلم.

## د ابن صیاد ذکر

(۵۲۶۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَقِيتُهُ وَقَدْ نَفَرَتْ عَيْنُهُ فَقُلْتُ مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى قَالَ لَا أَدْرِي قُلْتُ لَا تَدْرِي وَهِيَ فِي رَأْسِكَ قَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ خَلَقَهَا فِي عَصَاكَ قَالَ فَنَخَرَ كَأَشَدِّ نَخِيرِ حِمَارٍ سَمِعْتُ.رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي کله د ابن صیاد سترګه نوجنه وه نو زه د هغه سره يو ځای سوم ما ورته وويل : ستا سترګه دڅه وخت څخه نوجنه ده ، هغه وويل ما ته نه ده معلومه چي د څه وخت څخه ده ، ما ورته وويل تا ته معلومه نه ده حال دا چي سترګه ستا په سر کي ده ، هغه وويل : که الله ﷺ غواړي نو سترګه به ستا په لکړه کي پيدا کړي ، ابن عمر ﷺ وايي ددې څخه وروسته ابن صیاد د پزې څخه د خره په ډول يو سخت اواز وايستی او داسي آواز ما هيڅکله نه وو اوريدلی . مسلم.

## ابن صیاد دجال دی

(۵۲۶۶): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ رَأَيْتُ

د حضرت محمد بن المنکدر ﷺ څخه روايت

جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَحْلِفُ بِاللّٰهِ أَنَّ ابْنَ الصَّائِدِ الدَّجَّالُ قُلْتُ تَحْلِفُ بِاللّٰهِ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذٰلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه.

دی چي ما جابر بن عبدالله ﷺ وليدی هغه په قسم سره دا وويل چي ابن صياد دجال دی ما هغه ته وويل : ايا ته په قسم خورلو سره وايې ؟ هغه وويل : ما د عمر ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي هغه به د رسول الله ﷺ په شتون کي په دې قسم اخيستی او نبي ﷺ ددې څخه انکار نه دی فرمايلی. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### د ابن عمر په نزد ابن صياد دجال وو

(۵۲۶۷): عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ وَاللّٰهِ مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ صَيَّادٍ. رواه ابوداؤد والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي ابن عمر ﷺ به ويل ما ته په دې کي بلکل شك نه سته چي مسيح دجال ابن صياد دی. بيهقي.

### ابن صياد د حره د واقعې په ورځ غائب شوی وو

(۵۲۶۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي موږ د حرة په پېښه کي ابن صياد ورك کړ. ابوداؤد.

### ابن صياد او دجال

(۵۲۶۹): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْكُثُ أَبَوَي الدَّجَّالِ ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَهُمَا وَلَدٌ ثُمَّ يُولَدُ لَهُمَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضَرُّ وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ ثُمَّ نَعَتَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ فَقَالَ أَبُوهُ طِوَالٌ ضَرْبُ اللَّحْمِ كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ وَأُمُّهُ امرأة فِرْضَاخِيَّةٌ طَوِيلَةُ الْيَدَيْنِ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ فَسَمِعْنَا بِمَوْلُودٍ فِي الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ فَذَهَبْتُ أَنَا وَالزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبَوَيْهِ فَإِذَا نَعْتُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمَا فَقُلْنَا هَلْ لَكُمَا وَلَدٌ فَقَالَا

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دجال مور او پلار به تر ديرش کاله پوري بې اولاده وي ، بيا به د هغوئ يو سترگی زوی پيداسي چي د هغه غابنونه به لوی لوی وي او د هغه څخه به ډيره کمه گټه وي ، د هغه سترگي به بيدې وي مگر زړه به يې بيده نه وي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه د مور او پلار حال بيانولو کي وفرمايل : د هغه پلار به اوږد او نری وي د هغه پزه به داسي وي گويا چي يوه مشوکه د مرغی ده او د هغه مور به غټه تازه او اوږدو لاسونو

مَكَثْنَا ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَنَا وَلَدٌ ثُمَّ وُلِدَ لَنَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرَسُ وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ قَالَ فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمَا فَإِذَا هُوَ مُنْجَدِلٌ فِي الشَّمْسِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ وَلَهُ هَمْهَمَةٌ فَتَكَشَّفَ عَنْ رَأْسِهِ فَقَالَ مَا قُلْتُمَا قُلْنَا وَهَلْ سَمِعْتَ مَا قُلْنَا قَالَ نَعَمْ تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي. رواه الترمذي.

والا وي ، ابوبکره ﷺ وايي موږ د مديني په يهودو کي د يو داسي ماشوم د پيداکيدو خبر واوريدى ، او زه او زبير بن عوام د هغه مور او پلار ته ورغلو نو موږ وليدل چي هغوئ دواړه داسي وه لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ د هغوئ په اړه فرمايلي وه موږ د هغوئ څخه پوښتنه وکړه ايا ستاسو زوی سته ، هغوئ بيان وکړ ديرش کاله پوري موږ بې اولاده وو بيا مو يو سترګي زوی پيدا سو چي د هغه څخه موږ ته هيڅ ګټه نه رسيږي د هغه سترګي بيدې دي او زړه يې بيده نه دی ، ابوبکره ﷺ وايي موږ د هغوئ څخه را روان سوو چي ناڅاپه موږ هغه هلك وليدی چي په لمر کي څادر اغوستی پروت وو او د څان سره ګډ وو چي په پوهه کي نه راتلل ، هغه (يعني ابن صياد) د سر څخه څادر ليري کړ او موږ ته يې وويل تاسو څه وويل ؟ موږ ورته ووويل څه چي موږ وويل هغه تا واوريدل ؟ هغه وويل : هو ، زما سترګي بيدې دي او زړه مي بيده نه وي ، ترمذي.

## ايا رسول الله ﷺ هم ابن صياد دجال گنی

(٥٢٧٠): وَعَنْ جَابِرٍ أن امرأة من اليهود بالمدينة ولدت غلاما ممسوحة عينه طالعة نابه فأشفق رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يكون الدجال فوجده تحت قطيفة يهمهم . فآذنته أمه فقالت : يا عبد الله هذا أبو القاسم فخرج من القطيفة فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما لها قاتلها الله ؟ لو تركته لبين " فذكر مثل معنى حديث ابن عمر فقال عمر بن الخطاب ائذن لي يا رسول الله فأقتله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إن يكن هو فليست صاحبه إنما صاحبه عيسى بن مريم وإلا يكن هو فليس لك أن تقتل رجلا من أهل العهد " . فلم يزل رسول الله صلى الله عليه وسلم مشفقا أنه

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي د مديني د يوې يهودۍ ښځي يو ماشوم پيدا سو چي د هغه يوه سترګه پټه وه (يعني نه ننوتلې وه او نه وتلې وه) او غاښونه يې دباندي راوتلي وه ، د رسول الله ﷺ سره بيره پيدا سوه چي دا دجال نه وي (يوه ورځ رسول الله ﷺ د هغه د ليدو لپاره تشريف يووړ) هغه (ابن صياد) يو څادر اغوستی وو او کرار کرار يې يو څه ويل چي په پوهه کي نه راتلل (يعني موږ نه پوهيدو چي هغه څه وايي) د هغه مور هغه ته وويل اې عبدالله ا دا ابو القاسم ﷺ ولاړ دی نو هغه سر د څادر څخه را وايستی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دغه ښځي ته څه سوي دي الله تعالی دي دا هلاکه کړي (چي

هو الدجال . رواه في شرح السنة | هغې ابن صياد خبر کړې که هغه يې پر خپل حال

پرې ايښې واى نو هغه به خپل حال ظاهر کړې واى ، ددې څخه وروسته جابر ﷺ د حضرت عمر ﷺ د حديث په ډول حديث بيان کړ يعني حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! که تاسو اجازه راکړئ نو زه يې قتلوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که دا هغه دجال وي نو ته دده قاتل نه ې بلکه دده قاتل به عيسى بن مريم عليه السلام وي او که دى هغه دجال نه وي نو تا ته دداسي سړي وژل روا نه دي کوم چې زموږ په ذمه کې دى ، رسول الله ﷺ به همېشه په دغه بيره کې وو چې دا ابن صياد خو به دجال نه وي . شرح السنه

## بَابُ نُزُوْلِ عِيْسٰى عليه السلام (د عيسى عليه السلام کښته کېدل)

### لومړى فصل

د عيسى عليه السلام د نازلېدو ذکر

(۵۲۷۱): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ لَيُوشِكَنَّ اَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ اَحَدٌ حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ثُمَّ يَقُولُ اَبُو هُرَيْرَةَ فَاقْرَءُوا اِنْ شِئْتُمْ وَاِنْ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ الاية . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم په هغه ذات چې د هغه په واک کې زما روح ده ډېر ژر په تاسو کې به ابن مريم نازل سي چې يو عادل حاکم به وي ، صليب به مات کړي خنزير به قتل کړي ، جزيه به پورته کړي مال به زيات کړي تر دې چې هيڅوک به يې خواهشمند پاته نه سي او يوه سجده کول به هغه وخت د دنيا او د هغه د ټولو شيانو څخه غوره وي ، ددې څخه وروسته ابوهريره ﷺ وويل (که تاسو ته په دې کې څه شک وي) نو دا آيت ووايا ست (وان من اهل الكتاب الا ليؤمنن به قبل موته ...الخ ، (هيڅ) اهل کتاب به داسي پاته نه سي چې د حضرت عيسى عليه السلام د وفات څخه مخکې ايمان را نه وړي . بخاري او مسلم.

د حضرت عيسى عليه السلام د زماني برکتونه

(۵۲۷۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په الله تعالى دې مې

فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ. رواه مسلم و في رواية لهما قال كيف انتم اذا انزل ابن مريم فيكم وامامكم منكم .

قسم وي يقينا ابن مريم به نازلیږي هغه به یو عادل حاکم وي هغه به صليب مات کړي ، خنزير به قتل کړي جزيه به پورته کړي ځواني اوښې به پرېښودل سي يعني د هغو څخه د سپرلۍ او بار وړلو کار به نه اخيستل کيږي د خلکو د زړونو څخه به کينه ، بغض او حسد ولاړ سي او حضرت عيسی ﷺ به خلك د مال او دولت اخستلو ته را بولي مګر د مال او دولت د کثرت په سبب به يې هيڅوك نه قبلوي . مسلم.

**د حضرت عيسی ﷺ د امامت څخه انکار**

(۵۲۷۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ قَالَ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ أَمِيرُهُمْ تَعَالَ صَلِّ لَنَا فَيَقُولُ لَا إِنَّ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ أُمَرَاءُ تَكْرِمَةَ اللّٰهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي به يو ډله همېشه د حق لپاره جنګ کوي او تر قيامته پوري به د دښمنانو پر ملك غلبه تر لاسه کوي ، بيا به عيسی ﷺ نازل سي او زما د امت امير به هغه ته وايي راځئ مونږ ته لمونځ راکړئ حضرت عيسی ﷺ به ورته وايي زه امامت نه کوم ځکه چي په تاسو کي ځيني خلك به پر ځينو امام او امير وي او الله تعالی دا امت بزرګ او غوره ګڼي . مسلم.

په دې باب کي دويم فصل نسته

## دريم فصل

**حضرت عيسی ﷺ به د رسول الله ﷺ په روضې مبارکي کي دفن کړل سي**

(۵۲۷۴): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ إِلَى الْأَرْضِ فَيَتَزَوَّجُ وَيُولَدُ لَهُ وَيَمْكُثُ خَمْسًا وَأَرْبَعِينَ سَنَةً ثُمَّ يَمُوتُ فَيُدْفَنُ مَعِيَ فِي قَبْرِي فَأَقُومُ أَنَا وَعِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ بَيْنَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ . رواه ابن الجوزي في كتاب الوفاء.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : عيسی بن مريم عليهما السلام به پر ځمکه نازل سي نکاح به وکړي اولاد به يې پيداسي هغه به (۴۵) کاله په دنيا کي وي بيا به وفات سي او زما په مقبره کي به دفن کړل سي د قيامت په ورځ به زه او

عيسى ﷺ د يوې مقبرې څخه د ابوبکر ﷛ او عمر ﷛ په مينځ کي ولاړ (راپورته) سو ، ابن جوزي.

# بَابٌ قرب الساعة وان من مات فقد قامت قيامته

## (د قيامت رانژدې کيدل او هر څوک چي مړ سو نو په تحقيق سره قائم سو قيامت دده)

## لومړى فصل

### د قيامت د قرب ذکر

(۵۲۷۵): وَعَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعثت انا والساعة كهاتين قال شعبة وَسَمِعْتُ قَتَادَةَ يَقُولُ فِي قَصَصِه كَفَضْلِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَلَا أَدْرِي أَذَكَرَهُ عَنْ أَنَسٍ أَوْ قَالَهُ قَتَادَةُ. متفق عليه.

حضرت شعبه ﷛ د حضرت قتاده او انس (رضي الله عنهما) څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه او قيامت دې دوو گوتو په دول (يوځاى) راليږل سوى يو ، شعبه ﷛ بيان وکړ چي ما د قتاده ﷛ څخه د حديث شرح کولو سره دا واوريدل لکه څرنگه چي د منځ گوته د شهادت د گوتي څخه لږ لويه ده داسي قيامت به زما څخه وروسته ددې مناسب سره راځي زه دا نه سم ويلاى چي دا شرح دقتاده ده يا دانس څخه هغه اوريدلې ده . بخاري او مسلم.

### د قيامت وخت هيچا ته معلوم نه دى

(۵۲۷۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ ان يموت بِشَهْرٍ تسئلوني عن الساعة وانما علمها عند الله واقسم باالله ما على الارض مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ يَأْتِي عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَوْمَئِذٍ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه د هغه د وفات څخه يوه مياشت مخکي اوريدلي دي چي فرمايل يې : تاسو زما څخه د قيامت د قائميدو د وخت پوښتني کولې نو ددې علم خو يوازي الله تعالى ته دى مگر زه په الله تعالى قسم خورم چي پر مځکه دا وخت کوم نفس موجود دى يا کوم چي پيدا کړل سوى دى داسي نه دى چي پر هغه سل کاله تير سي او هغه دي موجود وي (يعني په دنيا کي دا وخت چي کوم خلك موجود دي يا کوم چي نن سبا پيدا سوي دي پر دوئ به سل کاله نه وي تير

سوي بلکه په سل کاله کي دننه به مر سي) . مسلم.

**د رسول الله ﷺ يو پشګوئي**

| | |
|---|---|
| (٥٢٧٧): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَأْتِي مِائَةُ سَنَةٍ وَعَلَى الْاَرْضِ نَفْسٌ مَنْفُوسَةٌ الْيَوْمَ. رواه مسلم. | د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سل كاله تيريدو څخه مخکي چي کوم خلك دا وخت پر مځکه موجود دي تول به مره سي.مسلم. |

**د قيامت په باره کي يو سوال او د هغه جواب**

| | |
|---|---|
| (٥٢٧٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْاَعْرَابِ يَأْتُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْأَلُوْنَهُ عَنِ السَّاعَةِ فَكَانَ يَنْظُرُ اِلَى اَصْغَرِهِمْ فَيَقُوْلُ اِنْ يَعِشْ هٰذَا لَا يُدْرِكُهُ الْهَرَمُ حَتّٰى تَقُوْمَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ . متفق عليه. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي دير خلك به د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضريدل او د قيامت پوښتنه به يې کول ، رسول الله ﷺ به په هغوئ کي د کم عمر ماشوم ته وکتل او فرمايل به يې که دا هلك ژوندی پاته |

سو نو دده د سپين ږيرتوب د وخت راتلو څخه مخکي به پر تاسو ستاسو قيامت (يعني ستاسو مرګ) قائم سي . بخاري اومسلم.

## دويم فصل

**د قرب قيامت ذکر**

| | |
|---|---|
| (٥٢٧٩): عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ فِي نَفَسِ السَّاعَةِ فَسَبَقْتُهَا كَمَا سَبَقَتْ هٰذِهِ هٰذِهِ واشار باُصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى . رواه الترمذي. | د حضرت مستورد بن شداد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د قيامت په اول سر کي راليږل سوی يم بيا زه د قيامت څخه دومره را مخکي سوم څومره چي دا ګوته يعني |

منځني ګوته دغه مسواکي ګوتي څخه مخکي ده ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ درميانه او د شهادت ګوتي طرف ته اشاره وکړل . ترمذي.

**په دنيا کي د امت محمدي د اوسيدو وخت**

| | |
|---|---|
| (٥٢٨٠): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنِّي لَاَرْجُو اَنْ لَا تَعْجِزَ اُمَّتِي عِنْدَ | د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه اميد لرم چي زما امت د خپل پروردګار په نظر کي |

رَبِّهَا اَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ يَوْمٍ قِيلَ لِسَعْدٍ وَكَمْ نِصْفُ الْيَوْمِ قَالَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ . رواه ابوداؤد.

دومره عاجزه نه دى چي د دوئ پروردگار ورته د نيمي ورځي مهلت ورکړي د سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه پوښتنه وسول چي نيمه ورځ څومره وي ، هغه ورته وويل پنځه سوه کاله (دې آيت ته اشاره ده : وان يوما عند ربك كالف سنة مما تعدون يعني د الله په نزد يوه ورځ دومره ده څومره چي ستاسو په نظر کي زر کاله وي. ابوداؤد.

## دريم فصل

### د قرب قيامت مثال

(٥٢٨١): عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ هٰذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِيْ آخِرِهِ فَيُوْشِكُ ذٰلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَّنْقَطِعَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې دنيا مثال د هغه جامې په دول دى چي د هغه د پيل څخه تر پاى پوري پرې سوې وي او يوازې په يوه تار کي د جامې دوارې ټوټې موښتې وي او نژدې ده چي هغه تار هم ژر پرې سي . بيهقي.

# بَاب لاَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ الاَّ عَلٰى شِرَارَ النَّاسِ

## (قيامت به نه قائميږي مګر پر شريرو خلکو)

## لومړى فصل

### تر څو چي پر مځکه يو د الله ﷻ نوم اخيستونکى موجود وي نو قيامت به نه راځي

(٥٢٨٢): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حتى لا يقال في الارض الله الله وفي رواية قال لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ عَلَى أَحَدٍ يَقُوْلُ اللّٰهُ اللّٰهُ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به هغه وخت راځي چي پر مځکه هيڅوك الله الله ويونكي پاته نه سي، او په يوه روايت کي داسي دي چي قيامت به پر هغه چا نه قائميږي څوك چي الله الله کوي. مسلم.

### قيامت پر بدو خلکو راځي

(٥٢٨٣): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ

| | |
|---|---|
| رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ. رواه مسلم. | چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به پر شريرو او بدو خلكو قائميږي . مسلم. |

**يو پيشگوئي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۸۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلْيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ حول ذِي الْخَلَصَةِ وَذُو الْخَلَصَةِ طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نه راځي تر هغه وخته پوري چي د قبيله دوس د ښځو كوناتي د ذوالخلصه څخه شاوخوا حركت وكړي او ذوالخلصه ددوس قبيلې بت دی |

چي د جاهليت په زمانه كي به يې د هغه عبادت كوی . (مطلب دادی چي دا قبيله به مرتده سي ، بت پرستي به كوي او د هغوئ ښځي به دبت خاني طواف كوي) . بخاري او مسلم.

**د قيامت څخه مخكي به بيا د لات او عزی عبادت شروع سي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۸۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللّٰهُ { هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا قَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ يَبْعَثُ اللّٰهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيَبْقَى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ . رواه مسلم. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : د شپې او ورځي د فنا كيدو څخه مخكي به د لات او عزی عبادت كيږي (لات او عزی د مكې معظمې د دوو مشهورو بتانو نومونه دي چي د جاهليت په زمانه كي بې عبادت كيدی) ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! هر كله چي دا آيت نازل سو : (هو الذي ارسل رسوله بالهدی ودين الحق ليظهره علی الدين كله ولوكره المشركون : هغه الله ﷺ چي هغه |

خپل رسول د هدايت او دين سره راوليږی چي پر ټولو دينونو باندي يې غالب كړي كه څه هم مشركان يې بد گڼي....) نو ما دا خيال كړی وو چي د بتانو د عبادت خاتمه كيدونكې ده (او دا چي په راتلونكې كي به هيڅكله د بتانو عبادت نه وي) رسول الله ﷺ وفرمايل : همداسي به وي تر څو پوري چي د الله تعالی خوښه وي بيا به الله تعالی يوه خوشبوداره هواء راوليږي چي هر هغه سړی به فنا كړي د چا په زړه كي چي د سپلني دانې برابر هم ايمان وي او يوازي هغه خلك به پاته سي چي په هغوئ كي به څه نيكي نه وي آخر دغه خلك به د خپلو پلرونو او نيكونو دين ته واوړي . مسلم.

**د قيامت څخه مخکي به څه وي ؟**

**(٥٢٨٦)**: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ لَا أَدْرِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ عَامًا فَيَبْعَثُ اللهُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ فَيَطْلُبُهُ فَيُهْلِكُهُ ثُمَّ يَمْكُثُ فِي النَّاسِ سَبْعَ سِنِينَ لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةٌ ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ رِيحًا بَارِدَةً مِنْ قِبَلِ الشَّامِ فَلَا يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ حَتَّى لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبِدِ جَبَلٍ لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ حَتَّى تَقْبِضَهُ قَالَ فَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ لَا يَعْرِفُونَ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُونَ مُنْكَرًا فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ فَيَقُولُ أَلَا تَسْتَجِيبُونَ فَيَقُولُونَ فَمَا تَأْمُرُنَا فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ وَهُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ رِزْقُهُمْ حَسَنٌ عَيْشُهُمْ ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا وَرَفَعَ لِيتًا قَالَ وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ قَالَ فَيَصْعَقُ وَيَصْعَقُ النَّاسُ ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ فَتَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ ثُمَّ يُقَالُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ فَيُقَالُ أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ فَيُقَالُ مِنْ كَمْ كَمْ فَيُقَالُ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ قَالَ فَذَاكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ.

رواه مسلم ، وذكر حديث معوية لا تنقطع الهجرة في باب التوبة.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دجال به راووځي او تر څلوېښتو ورځو پوري به وي ، د عبدالله بن عمرو ﷛ بيان دی چي ما ته دا په ياد نه دي چي رسول الله ﷺ څلوېښت ورځي څلوېښت مياشتي که څلوېښت کاله وفرمايل، بيا به الله تعالی عيسی بن مريم ﷵ راوليږي گويا چي هغه عروه بن مسعود ﷛ دی (يعني د حضرت عيسی ﷵ شکل او صورت به د عروه بن مسعود ﷛ سره زيات ورته وي ) هغه به دجال ولټوي او هغه به مړ کړي بيا به تر اوه کالو پوري حضرت عيسی ﷵ پر مځکه اوسيږي او په دغه کلونو کي به د دوو خلکو په منځ کي هم عداوت نه وي بيا به الله تعالی د شام د خوا څخه يخه هوا راوليږي او پر مځکه به په هغه خلکو کي يو هم پاته نه سي د چا په زړه کي چي د ذرې برابر هم نيکي يا ايمان وي تر دي که په تاسو کي يو څوک په غره کي دننه هم پټ سي نو هواء به هلته ور داخله سي او د هغه روح به قبض کړي بيا به يوازي شرير او بدکاره خلک پاته سي چي په فسق او فجور کي به د مرغانو په ډول سپک او تيز وي او په ظلم اوويني تويولو کي به د حيوانانو په ډول سخت وي هغوئ به نيکي نيکي نه گڼي او بدي به بدي نه گڼي ، نو شيطان به په يو شکل کي هغوئ ته راسي ورته وايي به تاسو ته شرم او حيا نه درځي (چي فسق او فجور کي اخته

یاست ، هغوئ به ورته په جواب کي وايي ته موږ ته څه حکم راکوې ؟ شيطان به هغوئ ته د بت پرستي حکم ورکړي او په دغه حالت کي به د هغوئ په رزق کي غير معمولي زياتي وسي او هغوئ به په عيش او عشرت کي ژوند تيروي بيا به شپيلۍ ووهل سي او څوك چي د هغه اواز واوري هغه به يوې خوا ته خپل غاړه ټيټه کړي او بل جانب ته به يې پورته کړي د ټولو څخه وړاندي به د شپيلۍ اواز هغه سړی واوري چي د خپلو اوښانو د اوبو څښلو ځای به سموي ، هغه سړی به په کار کولو کي مړ سي او نور ټول خلك به هم داسي مړه سي بيا به الله تعالی باران واوروي داسي ګويا چي هغه شبنم دی (يعني ډير نری باران به وي) په هغه باران سره به د هغه خلکو بدنونه راوو ځي (کوم چي په قبرونو کي خاوري سوي دي) بيا به په دويم وار شپيلۍ ووهل سي چي د هغه په اوريدو سره به ټول خلك ودريږي او د قيامت خوفناك منظر به ويني بيا خلکو ته وويل سي اې خلکو ! د خپل پروردګار په لور راسئ بيا به الله تعالی ملائکو ته حکم ورکړي دوئ تم کړئ د دوئ څخه به حساب واخيستل سي ، بيا به ملائکو ته وويل سي هغه خلك راوکاږئ چي د دوږخ د اور لښکر دي ملائکي به د الله تعالی څخه پوښتنه وکړي څومره خلك د دوږخ څخه راوکاږو الله تعالی به حکم ورکړي په هرو زرو کسانو کي يو کم زر (۹۹۹) کسان راوکاږئ ، ددې ويلو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا هغه ورځ ده چي ماشوم به سپين ږيری کړي او دا هغه ورځ ده چي د سختي بيري څخه به پنډۍ ښکاره سي . مسلم او د معاويه حديث لاتنقطع الهجرةؓ توبې په باب کي بيان سوی دی .

## بَابُ النَّفخِ فِي الصُّوْرِ (د شپيلۍ پوه کول)

### لومړی فصل

**د دواړو نفخو په مينځ کي به څومره وقفه وي**

(۵۲۸۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ قَالوا يا اباهريرة أَرْبَعُونَ يَوْمًا قَالَ أَبَيْتُ قَالوا يا اباهريرة أَرْبَعُونَ يوما قَالَ أَبَيْتُ قَالوا أَرْبَعُونَ شهرا قَالَ أَبَيْتُ قَالوا ثُمَّ يُنْزِلُ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ قال لَيْسَ مِنَ الْإِنْسَانِ شَيْءٌ إِلَّا يَبْلَى إِلَّا عَظْمًا

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو نفخو (يعني دواړو شپيليو وهلو) په مينځ کي زمانه به څلوېښت وي ، خلکو پوښتنه وکړه اې ابوهريره ! ايا څلوېښت ورځي؟ ابوهريره ؓ وويل زه نه پوهيږم ، بيا خلکو پوښتنه وکړه ايا څلوېښت مياشتي ؟ ابوهريره وويل ما ته نه ده

وَاحِدًا وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَ كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ مِنْهُ خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ.

معلومه ، بیا یې پوښتنه وکړه ایا څلوېښت کاله ، ابوهریره ﷺ ووېل ما ته نه ده معلومه ددې څخه وروسته ابوهریره ﷺ بیان وکړ چې رسول الله ﷺ وفرمایل بیا به الله تعالی د آسمان څخه اوبه را واوروي او ددغه اوبو سره به خلك داسي راوخي لکه څرنګه چې شنګیا راوخي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په انسان کي هیڅ داسي شی نه سته چې نه زړیږي مګر یو هډوکی چې د هغه نوم (عجیب الذنب) دی د ملا لاندي هډوکی ددغه هډوکي څخه به د قیامت په ورځ ټول اندامونه مرکب کیږي . بخاري او مسلم. او په یو روایت د مسلم کي راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل د بنده ټول صورت خاوري خوري مګر عجب الذنب نه خوري له هغه پیدا کړل سوي دي او له هغه به یې ترکیب وي.

## د قیامت په ورځ د الله ﷻ د کبریائي او جبروت اظهار

(۵۲۸۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبِضُ اللّٰهُ الْأَرْضَ يوم القيامة وَيَطْوِي السَّمٰوَاتِ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به الله تعالی مځکه په خپل موټ کي واخلي او آسمان به په خپل راسته لاس کي راونغاړي بیا به وفرمایي زه پاچا یم چیري دي پاچهان د مځکي . بخاري او مسلم.

(۵۲۸۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطْوِي اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمٰوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ وفي رواية يأخذهن بيده الاخرى ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ . رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به الله تعالی آسمانونه راونغاړي هغه به په خپل راسته لاس کي واخلي وایي به زه پاچا یم چیري دي زوروران او چیري دي متکبران او بیا به په خپل بل لاس کي مځکي را ونغاړي ، او په یوه روایت کي داسي دي چې بیا به مځکه په دویم لاس کي واخلي او وایي به چې زه پاچا یم ظلم کونکي او غرور او تکبر کونکي چیري دي . مسلم.

## د قیامت د ورځي یو څو خبري د یهودي عالم په ژبه

(۵۲۹۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ جَاءَ حَبْرٌ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت

منْ اليهود إِلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَنَّ اللَّهَ يمسك السَّمٰوَات يوم القيامة عَلَى إِصْبَعٍ وَالْأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ والجبال وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعٍ وماء والتراب على اصبع وَسَائِرَ الْخَلْقِ عَلَى إِصْبَعٍ ثم يهزهن فَيَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ انا الله فَضَحِكَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعجبا مما قال الحبر تصديقا له ثُمَّ قَرَأَ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ. متفق عليه.

دى چي يو يهودي عالم د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ اې محمد (ﷺ)! د قيامت په ورځ به الله تعالى آسمانونه په يوه گوته ، مځكي په بله گوته ، غرونه او درختي په بله گوته او د اوبو او مځكي دننه خاوره په يوه گوته او ټول مخلوق په بله گوته كنبيږدي او گوتو ته به ښور وركولو سره به وفرمايي زه پاچا او زه الله يم ، رسول الله ﷺ ددې اوريدو سره په خندا سو او د تعجب اظهار يې وكړ ځكه چي د هغه دا بيان د رسول الله ﷺ د بيان پر تصديق مبني وو ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ : (وما قدرو الله .......) .: مشركانو دالله تعالى قدر ونه پيژندی د قيامت په ورځ به ټوله مځكه د هغه په موټ كي وي او آسمانونه به يې په راسته لاس كي نغښتي وي ، الله تعالى د هغه شی څخه پاك دی چي مشركان خلك يې د هغه سره شريك جوړوي . بخاري او مسلم.

## د قيامت په ورځ د مځكي او اسمان د تبديلۍ په اړه د ايت معنى

(۵۲۹۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ فَأَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ قال عَلَى الصِّرَاطِ . رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت په اړه (يوم تبدل الارض غير الارض والسموات) يعني په هغه ورځ چي مځكه به په بلي مځكي كي بدله كړل سي او آسمانونه به په نورو آسمانونو كي ، دا پوښتنه وكړه چي خلك به په دغه ورځ په كوم ځاى كي وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په دغه ورځ به خلك پر پل صراط وي . مسلم.

## د قيامت په ورځ به سپوږمۍ او لمر بې نوره سي

(۵۲۹۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ مُكَوَّرَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : لمر او سپوږمۍ به د قيامت په ورځ پټ كړل سي . بخاري.

## دویم فصل

**حضرت اسرافیل ﷺ د شپیلۍ پوه کولو لپاره هر وخت تیار دئ**

(٥٢٩٣): عَنْ أَبِي سَعِيد الخدري قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ الصور قَدْ الْتَقَمَه واصغى سمعه وحنى جبهته فينتظر مَتٰى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فقالوا يا رسول الله وما تامرنا قَالَ قُوْلُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ؟ رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه څنګه په آرام او سکون سره کښینم حال دادی چي شپیلۍ پوه کونکی (اسرافیل ﷺ) شپیلۍ په خوله کي نیولي ده (د حکم اوریدو لپاره یې) غوږ نیولی دی، تندی یې کښته ټیټ کړی دی او انتظار کي دی چي کله ورته د شپیلۍ پوه کولو حکم ورکول کیږي، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! (هر کله چي دا حالت دی نو) تاسو موږ ته څه حکم راکوی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (حسبنا الله ونعم الوکیل) بس دی موږ ته خدای ﷻ او ښه وکیل، وایاست. ترمذي.

**شپیلۍ څه شي ده؟**

(٥٢٩٤): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصُّوْرُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيْه. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: صور (شپیلۍ) یو ښکر دی چي هغه به پوه کول کیږي. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

## دریم فصل

**د ناقور، راجفه او رادفه معناوي**

(٥٢٩٥): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِيْ قَوْلِه تَعَالٰى فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ اَلصُّوْرُ قَالَ وَ الرَّاجِفَةُ اَلنَّفْخَةُ الْأُوْلٰى وَ الرَّادِفَةُ الثَّانِيَةُ. رواه البخاري في ترجمة باب.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د الله تعالی ددغه قول: (فاذا نقر في الناقور) کي د ناقور څخه مراد صور (شپیلۍ) ده او (یوم ترجف الراجفة) کي د راجفه څخه مراد لومړنی شپیلۍ پوه کول دي او رادفه څخه مراد دویم وار پوکل دی. بخاري.

**د شپیلۍ پوه کولو پر وخت به ....**

(٥٢٩٦): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبَ الصُّوْرِ وَقَالَ عَنْ يَمِيْنِه جِبْرَئِيْلُ وَعَنْ يَسَارِهِ مِيْكَائِيْلُ .

رسول الله ﷺ د شپیلۍ وهونکي ذکر وفرمایه چي د هغه راسته خوا ته به جبرائیل ؑ وي او چپه خوا ته به يې ميکائيل ؑ وي.

**د بیا ژوندي کولو ذکر**

(٥٢٩٧): وَعَنْ أَبِيْ رَزِيْنٍ الْعُقَيْلِيْ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ يُعِيْدُ اللهُ الْخَلْقَ وَمَا آيَةُ ذٰلِكَ فِيْ خَلْقِه قَالَ أَمَا مَرَرْتَ بِوَادِيْ قَوْمِكَ جَدْبًا ثُمَّ مَرَرْتَ بِه يَهْتَزُّ خَضِرًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَتِلْكَ آيَةُ اللهِ فِيْ خَلْقِه كَذٰلِكَ يُحْيِ اللهُ الْمَوْتٰى . رواهما رزين.

د حضرت ابن رزین عقیلي ؓ څخه روایت دی چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله! هر کله چي مخلوق خاوري سي نو الله تعالی به يې دويم وار څنګه را ژوندي کړي ؟ او د اوسني مخلوق څخه به په کومه نښني سره د هغوئ ثبوت تر لاسه سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ته د وچ کالی په زمانه کي د خپل قوم د ځنګل سره تير سوی يې چي هلته د شنګيا درک نه وي بیا د باران کيدو څخه وروسته هر کله چي ته هلته ورسې نو شنګيا به په هواء سره خپريدونکي ووينې ، ما عرض وکړ هو ، همداسي وي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل بس په مخلوق کي د الله تعالی دغه نښه ده او همداسي الله تعالی مړي را ژوندي کوي. رزين.

# بَابُ الْحَشْرِ (د حشر بیان)

## لومړی فصل

**د حشر میدان**

(٥٢٩٨): عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيْهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ. متفق عليه.

د حضرت سهل بن سعد ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به خلك داسي سرخي مائل سپيني مځکي کي جمع کړل سي لکه څرنګه چي د چڼ سوو اوړو ډوډۍ وي او په هغه مځکه کي به نه د چا سرای وي او نه عمارت . بخاري اومسلم.

**د جنتیانو اول خوراک**

(٥٢٩٩): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُوْنُ الْأَرْضُ يَوْمَ

د حضرت ابوسعید خدري ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به

الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَكْفَأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ نُزُلًا لِأَهْلِ الْجَنَّةِ فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ بَارَكَ الرَّحْمَنُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ أَلَا أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ بَلَى قَالَ تَكُونُ الْأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا ثُمَّ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ثُمَّ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِإِدَامِهِمْ بَالَامُ وَنُونٌ قَالُوا وَمَا هٰذَا قَالَ ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا. متفق علیه.

توله مځکه د یوې ډوډۍ په ډول وي چې الله تعالی جبار به یې په خپل لاس باندې اړوي را اړوي لکه څرنګه چې تاسو خلك په سفر کې ډوډۍ لاندې باندې کوئ او دا ډوډۍ به د جنتیانو میلمستیا وي ، رسول الله ﷺ چې دا وفرمایل نو یو یهودي حاضر سو عرض یې وکړ اې ابوالقاسم (ﷺ) الله تعالی رحمان دې تا ته برکت درکړي ایا زه درته ونښیم چې د قیامت په ورځ به د جنتیانو خوراك څه شي وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو، نو هغه یهودي وویل مځکه به یوه ډوډۍ سي لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي وه، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ موږ ته وکتل او په مسکا سو تر دې چې د رسول الله ﷺ مخکي غاښونه مبارك څرګند سول ، بیا هغه یهودي وویل ایا زه تاسو ته د جنتیانو کتغ ونښیم هغه بالام او نون دي ، ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې دا څه شي دي ؟ هغه یهودي ورته وویل غوایي او ماهی دی چې ددې دواړو د غوښو د هغه ټوټې څخه چې ځيګر باندې ده ، اویا زره کسان به یې خوري. (یهودي په تورات کې دا خبري لیدلي وې). بخاري اومسلم.

## د حشر ذکر

(٥٣٠٠): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ طَرَائِقَ رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ وَثَلَاثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ تَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا وَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : خلك به پر درو ډلو را جمع کړل سي : یو خو هغه چې د جنت خواهشمند وي ، دویم هغه چې د دوږخ څخه بیریږي ، په دوئ کې د هر ډول خلك به د خپلو مرتبو په لحاظ پر اوښانو سپاره وي دوه تنه به پر یوه اوښ سپاره وي او درې تنه پر یوه اوښ او څلور تنه پر یوه اوښ او لس تنه به پر یوه اوښ سپاره وي اور به هغوئ راجمع کړي چې هلته به هغوئ قیلوله (د غرمې آرام) کوي ، اور به هم د هغوئ سره قیلوله کوي په کوم ځای کې چې هغوئ شپه تیروي اور به هم ورسره هلته شپه تیروي

په کوم ځای کي چي هغوئ سهار کوي اور به هم ورسره هلته سهار کوي په کوم ځای کي چي هغوئ ماښام کوي اور به هم ورسره هلته ماښام کوي غرض دا چي په کوم ځای کي چي هغوئ وي هلته به اور هم ورسره وي. بخاري اومسلم.

**د حشر په میدان کي ......**

(۵۳۰۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ مَحْشُوْرُوْنَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ثُمَّ قَرَأَ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ وَإِنَّ أُنَاسًا مِنْ أَصْحَابِي يُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ أَصْحَابِي أَصْحَابِي فَيَقُولُ إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ إِلَى قَوْلِهِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تاسو په داسي حال کي راجمع کړل سئ چي تاسو به لوڅي پښي لوڅ بدن او نا سنته یاست، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا تلاوت کړ : (کما بدانا اول خلق......) یعني لکه څرنګه چي موږ د زیږیدني په وخت کي پیداکړي وه همداسي به یې بیا پیداکړو دا وعده پر موږ لازم ده او موږ همداسي کونکي یو، او رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تر ټولو مخکي حضرت ابراهیم ﷺ ته جامه واغوستل سي او زما په ملګرو کي څه خلك دي چي هغوئ به چپه خوا ته (یعني د دوزخ په لور) بوتلل سي، زه به (ددې په لیدو سره) ووایم دا خو زما ملګري دي دا خو زما ملګري دي، الله تعالی به وفرمایي د کوم وخت چي څخه ته د دوئ څخه بیل سوې دوئ به همېشه ددین څخه لیري ګرځیدل نو زه به هغه (خبره) وکړم کومه چي صالح بنده (یعني حضرت عیسی ﷺ) کړې وه یعني دا چي (وکنت علیهم شهیدا.....) یعني تر څو پوري چي زه په هغوئ کي وم د هغوئ د حال څخه خبر وم خو هر کله چي زه تا د هغوئ څخه پورته کړم نو ته د هغوئ ساتونکی او نګران وې، بخاري او مسلم.

**د حشر په میدان کي به ........**

(۵۳۰۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الرِّجَالُ وَ النِّسَاءُ جَمِيعًا يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ الْأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د قیامت په ورځ به خلك لوڅي پښي، لوڅ بدن او نا سنته راجمع کیږي، ما عرض وکړ اې داالله رسوله ښځي او خلك ټول به په هغوئ کي یو بل ته ګوري، رسول الله ﷺ وفرمایل اې عائشي!

دغه موقع به ددې څخه ډیره زیاته هولناکه وي چي خلك دي یو بل ته وګوري. بخاري اومسلم.

دوږخیان به پرموخي د حشر میدان ته راځي

(۵۳۰۳): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلٰى وَجْهِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ اَلَيْسَ الَّذِي اَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلٰى اَنْ يُمْشِيَهُ عَلٰى وَجْهِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق علیه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! د قیامت په ورځ به کافر ولي پرموخی یوځای کړل سي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : چا چي په پښنو سره په دنیا کي خلك روان کړي دي ایا هغه پر دي قادر نه دی چي د قیامت په ورځ کافر پرموخی روان کړي. بخاري اومسلم.

د ابراهیم علیه السلام د پلار حشر

(۵۳۰۴): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَلْقٰى اِبْرَاهِيمُ اَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلٰى وَجْهِ آزَرَ قَتَرَةٌ وَغَبَرَةٌ فَيَقُولُ لَهٗ اِبْرَاهِيمُ اَلَمْ اَقُلْ لَكَ لَا تَعْصِنِي فَيَقُولُ اَبُوهُ فَالْيَوْمَ لَا اَعْصِيكَ فَيَقُولُ اِبْرَاهِيمُ يَا رَبِّ اِنَّكَ وَعَدْتَنِي اَنْ لَا تُخْزِيَنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ فَاَيُّ خِزْيٍ اَخْزٰى مِنْ اَبِي الْاَبْعَدِ فَيَقُولُ اللّٰهُ تَعَالٰى اِنِّي حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ ثُمَّ يُقَالُ يَا اِبْرَاهِيمُ مَا تَحْتَ رِجْلَيْكَ فَيَنْظُرُ فَاِذَا هُوَ بِذِيخٍ مُلْتَطِخٍ فَيُؤْخَذُ بِقَوَائِمِهٖ فَيُلْقٰى فِي النَّارِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به ابراهیم ﷺ د خپل پلار آذر سره ملاقات وکړي په داسي حال کي چي د آذر مخ به د غم څخه تور وي ، ابراهیم ﷺ به هغه ته وایي ایا ما به تا ته دا نه ویل چي زما نافرماني مه کوه ؟ آذر به ابراهیم ﷺ ته وایي نن به زه ستا نافرماني نه کوم ، ابراهیم ﷺ به وایي اې پروردګاره ! تا زما سره وعده کړې وه چي ته به ما په هغه ورځ ذلیل او خوار کوې نه په کومه ورځ چي خلك پاڅول کیږي اوس ددې څخه زیاته بله کومه رسوایي ده چي زما پلار د الله ﷺ د رحمت څخه لیري دی الله تعالی به ورته فرمایي ما جنت پر کافرانو حرام کړی دی بیا به حضرت ابراهیم ﷺ ته وویل سي هغه شی ووینه چي ستا د پلار تر پښنو لاندي دی، ابراهیم ﷺ به وګوري نو آذر به د یو کوږ په صورت کي وي چي په خاورو کي به لړلی وي آخر هغه به د پښنو څخه نیولی په دوږخ کي وغورځول سي . بخاري.

د حشر په میدان کي بهېدونکي خوله

(۵۳۰۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يَذْهَبَ

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به پر

عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا وَيُلْجِمُهُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ . متفق عليه.

خلكو خوله راسي تر دې چې د هغوئ خوله به په مځكه كې اويا گزه پورې ولاړه مني او دا خولې ته به واگي ور واچول سي تر داسي حده چې د دوئ تر غوږونو پورې به ورسيږي . بخاري او مسلم.

**د حشر په ميدان كې د لمر نژدېوالى**

(٥٣٠٦): وَعَنِ الْمِقْدَادِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتّٰى تَكُوْنَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيْلٍ فَيَكُوْنُ النَّاسُ عَلٰى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى حَقْوَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُمُ الْعَرَقُ اِلْجَامًا وَاَشَارَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ اِلٰى فَمِهِ . رواه مسلم .

د حضرت مقداد ﷺ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه مې اوريدلي دي چې ويل يې : د قيامت په ورځ به لمر را نژدې سي خلكو ته تر داسي حده چې د يوه ميل په اندازه به وي، نو خلك به د خپلو عملونو سره په خولو كې ډوب وي ځيني له دوئ څخه به هغه وي چې خولې يې تر بجلكو پورې وي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چې خولې يې تر زنگنو . پورې وي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چې خولې يې تر هغه ځايه وي پر كوم ځاى چې پرتوگانې ترل كيږي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چې خولې يې د خولې لپاره قيزه سي او اشاره وكړه رسول الله ﷺ په لاس مبارك سره خولې مباركې ته . مسلم

**د جنتيانو تر ټولو زيات شمېر به د امت محمدي وي**

(٥٣٠٧): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى يَا آدَمُ فَيَقُوْلُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ فَيَقُوْلُ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ قَالَ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ فَعِنْدَهُ يَشِيْبُ الصَّغِيْرُ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارٰى وَمَا هُمْ بِسُكَارٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيْدٌ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَأَيُّنَا ذٰلِكَ الْوَاحِدُ قَالَ أَبْشِرُوْا فَإِنَّ مِنْكُمْ رَجُلًا وَمِنْ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ أَلْفًا ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي أَرْجُو أَنْ تَكُوْنُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ

د حضرت ابوسعيدخدري ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به الله تعالى آدم ﷺ ته وفرمايي اې آدمه ! آدم ﷺ به عرض وكړ زه په خدمت كې حاضر يم او ټول خير ستا په لاس كې دى . الله تعالى به ورته وفرمايي د دوزخ لښكري وكاږه (يعني د خپل اولاد څخه دوزخيان وباسه) آدم ﷺ به پوښتنه وكړي د دوزخ د لښكرو شمير څومره دى ؟ الله تعالى به ورته فرمايي په يو زر كې يو كم زر (٩٩٩) دی، د الله تعالى ددغه حكم اوريدو سره به ماشوم د بيري سپين ږيری سي ، د حاملې

فَكَبَّرْنَا فَقَالَ أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا فَقَالَ أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَبْيَضَ أَوْ كَشَعْرَةٍ بَيْضَاءَ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَسْوَدَ. متفق عليه.

بنځي حمل به ساقط سي او ته به خلك ووينې ګويا چي په نشه کي مست دي، حال دا چي هغوئ به مست او بې خوده نه وي مګر د الله عذاب به سخت وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! هغه يو (چي په زرو ) کي به جنت ته ځي په موږ کي څوك دى؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خوشحاله سئ چي يو سرى به په تاسو کي وي او زر د ياجوج ماجوج څخه، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده زما اميد دى چي په جنتيانو کي به ستاسو څلورمه برخه شمير وي ددې اوريدو سره موږ الله اکبر وويل بيا رسول الله ﷺ وويل زه اميد لرم چي په جنتيانو کي به ستاسو دريمه برخه شمېر وي موږ بيا د الله اکبر ناره وکړه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : زه اميد لرم چي په جنتيانو کي به ستاسو نيم شمير وي ، موږ بيا د الله اکبر نعره وکړه ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو شمير به دومره وي لکه څرنګه چي سپين غوايي کي يو تور وريښته يا په تور غوايي کي يو سپين وريښته . بخاري او مسلم.

## د ريا پر کارو باندي وعيد

(۵۳۰۸): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ وَيَبْقَى كُلُّ مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدرئ ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : «د قيامت په ورځ به» زموږ پروردګار خپل ساق څرګند کړي نو هر مؤمن سړى او ښځه به د هغه مخته پر سجده پريوځي مګر چا چي په دنيا کي د ښودني او اورولو.لپاره سجدې کړي وي هغه به سجده ونه کړلاى سي هغه به د سجدې اراده کوي مګر د هغه ملا به د تختې په دول سي او هغه به کښته کيدلاى نه سي. بخاري اومسلم.

## د انسان حيثيت

(۵۳۰۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَقَالَ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به يو دير غټ سرى راسي مګر د الله تعالى په نظر کي

اقْرَءُوا فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا. متفق عليه.

به هغه د غوماشي په اندازه هم نه وي بيا رسول الله ﷺ وفرمايل :دا آيت تلاوت کړئ : (فلا نقيم لهم يوم القيامة وزنا..) بخاري اومسلم.

## دويم فصل

### د قيامت په ورځ د مځکي شاهدي

(۵۳۱۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هذه الاية يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا قَالَ أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا أَنْ تَقُولَ عَمِلَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَهٰذِهِ أَخْبَارُهَا. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دغه آيت تلاوت کړ: (يومئذ تحدث اخبارها)، او رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ته معلومه ده چي د مځکي خبرونه څه دي ؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله ﷺ او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د مځکي خبرونه دادي چي مځکه د هر سړي اوښځي په اړه شاهدي ورکړي چي هغوئ ددې پر شا کوم کوم کارونه کړي دي يعني هغه به داسي وايي چي هغوئ فلانی کار او دا او دا په فلانۍ ورځ وکړ او دا د مځکي خبرونه دي. احمد او ترمذي.

### هر مړ کيدونکي پښيمانه وي

(۵۳۱۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ إِلَّا نَدِمَ قَالُوا وَمَا نَدَامَتُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ إِنْ كَانَ مُحْسِنًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ ازْدَادَ وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ نَزَعَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوک مړ کيږي هغه نادم او پريشانه وي، صحابه کرامو عرض وکړ اي دالله رسوله ! د ندامت سبب څه دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : که نيک دی نو په دې وجه به نادم او پښيمانه وي چي نيکۍ کي يې زياتوالي ونه کړ او که بدکاره وي نو په دې سبب به پښيمانه وي چي هغه خپل ځان ولي دبدۍ څخه منع نه کړ. ترمذي.

### د حشر په ميدان کي به دري دوله خلک راځي

(۵۳۱۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ صِنْفًا مُشَاةً وَصِنْفًا رُكْبَانًا وَصِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به خلک دري دوله راجمع کړل سي : يو پر پښو، دويم

قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يَمْشُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ قَالَ إِنَّ الَّذِي أَمْشَاهُمْ عَلَى أَقْدَامِهِمْ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُمْ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَمَا إِنَّهُمْ يَتَّقُونَ بِوُجُوهِهِمْ كُلَّ حَدَبٍ وَشَوْكٍ. روه الترمذي.

سپاره، او دریم پورموخی تلونکي، پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! پرموخی به خلك څنګه ځي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم ذات چي هغوئ پر پښو روان کړي دي هغه يې پر پرموخی روانولو هم قادر دی، تاسو په ياد لرئ چي خلك به پرموخی تلو کي په خپل مخ سره ځان د لوړوالی او ازغو څخه ساتي. ترمذي.

**که په دنيا کي د قيامت د ورځي احوال ليدل غواړي !**

(۵۳۱۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په دنيا کي په خپلو سترګو سره قيامت ليدل خوښوي نو هغه دي سورة اذ الشمس كورت او اذا السماء انفطرت او سورة اذا السماء انشقت وايي. احمد او ترمذي.

## دريم فصل

**خلك به د حشر ميدان ته څرنګه راوستل سي؟**

(۵۳۱۴): عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ إِنَّ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنِي أَنَّ النَّاسَ يُحْشَرُونَ ثَلَاثَةَ أَفْوَاجٍ فَوْجٌ رَاكِبِينَ طَاعِمِينَ كَاسِينَ وَفَوْجٌ تَسْحَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى وُجُوهِهِمْ وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ وَفَوْجٌ يَمْشُونَ وَيَسْعَوْنَ يُلْقِي اللّٰهُ الْآفَةَ عَلَى الظَّهْرِ فَلَا يَبْقَى حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَتَكُونَ لَهُ الْحَدِيقَةُ يُعْطِيهَا بِذَاتِ الْقَتَبِ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهَا . رواه النسائي.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي صادق او مصدوق نبي کريم ﷺ ما ته وفرمايل : د قيامت په ورځ به خلك په دروو ډلو کي جمع کړل سي يوه ډله به د سپرو، د خوړونکو او ځکونکو وي، او دويمه ډله به هغه وي چي ملائکي به يې پرموخی د دوږخ و طرف ته بوځي، او دريمه ډله به پر پښو تلونکو او ځغستونکو وي ، کومه ډله چي د سپرو وي الله تعالی به د هغوئ د سپرلو پر شا آفت او مصيبت نازل کړي تر دې چي هيڅ سپرلی به پاته نه سي او د چا سره چي يو باغ وي هغه به په باغ ورکولو سره د هغه په بدله کي اوښ اخيستل غواړي مګر حاصل به يې نه کړلای سي. نسائي.

# بَابُ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ وَالْمِيْزَانِ

## (د حساب، قصاص او میزان بیان)

## لومړی فصل

### اسان حساب او سخت حساب

(۵۳۱۵): عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يوم القيامة الا هلك قلت او ليس يقول الله تعالى فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا فَقَالَ إِنَّمَا ذَلِكِ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ فِي يَهْلِكُ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي د چا څخه حساب واخیستل سي هغه هلاك سو، ما عرض وکړ ایا الله تعالی دا نه دي فرمایلي چي (فسوق یحاسب حسابا یسیر) یعني آسان حساب به ورسره وکړل سي، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا آسان حساب یوازي بیان دی چي په دې کي به یو ډول سختي نه وي مګر د چا سره چي په حساب کي سختي وسي هغه هلاك سو. بخاري اومسلم.

### د قیامت په ورځ به الله ﷻ بېله واسطې د هر چا سره کلام کوي

(۵۳۱۶): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ وَلَا حِجَابٌ يَحْجُبُهُ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِه وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ. متفق عليه.

د حضرت عدي بن حاتم ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي به هیڅوك داسي نه وي چي د هغه سره به الله تعالی بې ترجمانه او بې حجابه خبري ونه کړي، بنده چي راسته طرف ته نظر واچوي نو هغه شی به په نظر ورسي چي هغه د خپلو اعمالو مخکي لیږلي وي او چپه خوا ته چي وګوري نو هغه شی به ویني چي هغه مخکي لیږلي وی، مخته چي وګوري نو اور به ویني چي د هغه مخته به مخامخ وي، اې خلکو ا له تاو د اور څخه خپل ځان وساتئ که څه هم چي د خرما د یوې توټې په خیرات کولو سره وي. بخاري او مسلم.

د قيامت په ورځ پر مؤمن باندې رحمت

(۵۳۱۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ فَيَقُولُ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ أَيْ رَبِّ حَتَّى قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ قَالَ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ وَأَمَّا الْكَافِرُ وَالْمُنَافِقُونَ فَيُنَادِي بِهِمْ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظَّالِمِينَ. متفق عليه.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (د قيامت په ورځ به) الله تعالى مؤمن خان ته نژدې کړي او بيا د خپل حفاظت څادر اچولو سره به هغه پټ کړي لپاره ددې چي هغه رسوا نه سي بيا به الله تعالى د مؤمن څخه پوښتنه وکړي ته فلانى ګناه پيژنې ايا ته د فلانى ګناه څخه خبر يې ؟ مؤمن بنده به وايي هو اې پروردګاره هو زه خبر يم، تر دې چي الله تعالى به د ټولو ګناهونو اقرار په وکړي او هغه به په زړه کي وايي چي زه خو اوس دګناهونو په بدله کي هلاك سوم بيا به الله تعالى ورته فرمايي: ما په دنيا کي ستا پر عيبونو او ګناهونو پرده اچولې ده او نن دې هم زه بخښم، غرض دا چي هغه ته به د هغه د نيکو اعمالنامه ورکړل سي ، کافران او منافقان خلك به د خلکو په مخکي راوغواړي او په زوره به وويل سي دا هغه خلك دي چي پر خپل پروردګار باندي يې دروغ ويلي وه ، خبردار سئ پر ظالمانو د الله ﷻ لعنت دى. بخاري اومسلم.

د مسلمانانو دښمن به د هغوئ لپاره د دوزخ څخه د خلاصون عوض وي

(۵۳۱۸): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُولُ هَذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي د قيامت ورځ سي نو الله تعالى به هر مسلمان ته يو يهودي يا نصراني ورکړي او ورته به ووايي دا ستاسو د خلاصي بدله ده (يعني په دې ورکولو سره تاسو د دوزخ څخه خلاصون حاصل کړئ ) او پر خپل ځاى دى وليږئ. مسلم.

د قيامت په ورځ به امت محمدي د حضرت نوح ﷺ شاهدان وي

(۵۳۱۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاءُ بِنُوحٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ لَهُ هَلْ بَلَّغْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ يَا رَبِّ فَتُسْأَلُ أُمَّتُهُ هَلْ

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به حضرت نوح ﷺ راوبلل سي ، الله تعالى به د

بَلَّغَكُمْ فَيَقُولُونَ مَا جَاءَنَا مِنْ نَذِيرٍ فَيقال مَنْ شُهُودُكَ فَيَقُولُ مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فَيُجَاءُ بِكُمْ فَتَشْهَدُونَ انه قد بلغ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا. رواه البخاري.

هغه څخه پوښتنه وکړي ايا تا زما امر او نهي رسولي وه هغه به وايي هو اې پروردګاره ما ستا احکام رسولي وه ، بيا به د نوح عليه السلام د امت څخه پوښتنه وسي ايا نوح عليه السلام تاسو ته زما احکام در رسولي وه هغه خلك به وايي موږ ته خو يو څوك بيرونكي نه وو راغلی الله تعالى به د نوح عليه السلام څخه پوښتنه وکړي ستا شاهدان څوك دي ؟ نوح عليه السلام به وايي زما شاهد محمد ﷺ او د هغوئ امت دی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل : چې تاسو به راوستل سئ او تاسو به دا شاهدي ورکوئ چې نوح عليه السلام خپل امت ته ستا احکام رسولي وه ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (و كذالك جعلنكم امة وسطا......) او همداسې موږ تاسو يو منځني امت جوړ کړلاست چې تاسو پر خلکو شاهدان ياست او رسول به پر تاسو شاهد جوړ سي. بخاري.

## د قيامت په ورځ د بدن اندامونه شاهدي ورکوي

(٥٣٢٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مِمَّ أَضْحَكُ قَالَ قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ مِنْ مُخَاطَبَةِ الْعَبْدِ رَبَّهُ يَقُولُ يَا رَبِّ أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ قَالَ يَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي قَالَ فَيَقُولُ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا قَالَ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ انْطِقِي قَالَ فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ قَالَ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ قَالَ فَيَقُولُ بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخهٔ روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره وو چې رسول الله ﷺ لږ وخندل بيا يې وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چې زه ولې خاندم ؟ موږ عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :ما د الله ﷻ او بنده په منيڅ کې مخ په مخ د خبرو کولو (په خيال) وخندل، د قيامت په ورځ به بنده خپل رب ته وايي اې ربه ! ايا تا ما ته د ظلم څخه پناه نه ده راکړې لکه چې تا فرمايلي دي : (لا يظلم ربك احدا) ستا رب پر چا ظلم نه کوي، (يعني د بل چا شاهدي معتبره نه ګڼم) اې الله ! زه نه روا کوم پر خپل ځان باندې مګر شاهد له ما څخه ، نبي کريم ﷺ ويلي دي چې الله تعالى به ورته و فرمايي نن ورځ خپله ستا ذات پر تا شاهد بس دی او کرام کاتبين ملائکې پر تا باندې شاهدان دي ، ددې څخه وروسته به د الله تعالى په حکم سره د بنده پر خوله مهر ولګول سي او د هغه د بدن اندامو ته

به وویل سي او د هغه د بدن اعضاء به د هغه اعمال بیان کړي او بیا هغه مهر چي د هغه پر خوله لګیدلی وي هغه به مات کړل سي بنده به د مخکي په ډول بیرته خبري کوي نو خپلو اندامونو ته به وایي لیري سئ او هلاك سئ زه خو ستاسو لپاره (د الله سره) په جګړه وم. مسلم.

## د قیامت په ورځ خدای ﷻ دیدار

(٥٣٢١): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَيْسَ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا قَالَ فَيَلْقَى الْعَبْدَ فَيَقُولُ أَيْ فُلْ أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ فَيَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ فَيَقُولُ لَا فَيَقُولُ فَإِنِّي قد أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي ثُمَّ يَلْقَى الثَّانِي فذكر مثله ثُمَّ يَلْقَى الثَّالِثَ فَيَقُولُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ آمَنْتُ بِكَ وَبِكِتَابِكَ وَبِرُسُلِكَ وَصَلَّيْتُ وَصُمْتُ وَتَصَدَّقْتُ وَيُثْنِي بِخَيْرٍ مَا اسْتَطَاعَ فَيَقُولُ هَاهُنَا إِذًا ثُمَّ يُقَالُ الْآنَ نَبْعَثُ شَاهِدَنَا عَلَيْكَ وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ وَلَحْمِهِ وَعِظَامِهِ انْطِقِي فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ وَذَلِكَ الَّذِي سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِ. رواه مسلم. وذکر حدیث ابي هریرة یدخل من امتي الجنة في باب التوکل بروایت ابن عباس .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا د قیامت په ورځ به موږ خپل رب په خپلو سترګو سره وینو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا د غرمي په وخت چي وریځ نه وي تاسو په لمر لیدو کي څه شك کوئ ؟ صحابه کرامو عرض وکړ :یا، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا تاسو (په آسمان) چي وریځ موجوده نه وي د څوارلسمي شپې سپوږمۍ لیدو کي څه شك کوئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ یا. رسول الله ﷺ وفرمایل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده لکه څرنګه چي تاسو د سپوږمۍ او لمر په لیدو کي څه شك نه کوئ همداسي به تاسو د خپل رب په لیدو کي هم څه شك نه کوئ، ددي څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي بندګان خپل رب ویني نو پروردګار به هغوئ مخاطب کړي او د یو بنده څخه به پوښتنه وکړي اې فلانیه! ایا ما تاته پر ټول مخلوق شرافت او بزرګي نه وه درکړې ایا ما ته پر یو لوی قوم سردار نه وي جوړ کړی ایا ما تاته ستا ښځه نه وه درکړې ؟ ایا ما ستا لپاره آسان او اوښان تابع کړي نه وه؟ ایا ما ته ددې لپاره نه وي پرې ایښی چي د خپل قوم سرداري

حاصله کړي ؟ او د هغوئ څخه څلورمه مال د غنیمت واخلې ؟ بنده به عرض وکړ :هو ربه! تا داسې کړي وه ، بیا به ورته الله تعالی فرمایي : ایا ستا دا خیال هم وو چې یوه ورځ به ته زما سره ملاقات کوې ؟ بنده به وایي دا خیال خو هیڅ کله زما په زړه کې پیدا سوی نه وو ، الله تعالی به ورته فرمایي لکه څرنګه چې تا زه هیر کړی وم نن دې زه هم هیروم ، ددې څخه وروسته به الله تعالی دویم بنده سره ملاقات وکړي همداسې سوال او جواب به وي بیا به ذدریم بنده سره ملاقات وکړي د هغه څخه به هم داسې پوښتنې وکړي هغه به په جواب کې دا وایي اې ربه ! ما پر تا ستا پر کتابونو او ستا پر رسولانو ایمان راوړ ، ما لمونځ وکړ، صدقه مې ورکړه، او څومره چې ممکن وي هغه به د خپلو نیکیو تعریف کوي ، الله تعالی به ورته وفرمایي ته دلته تم سه چې زه د شاهدانو څخه شاهدي واخلم، او اوس ستا شاهدان رابلل کیږي ، ددې اوریدو سره به بنده په خپل زړه کې وایي زما پر خلاف به دلته څوك شاهدي ورکړي ، بیا به د الله تعالی په حکم سره د هغه پر خوله مهر ولګول سي او د هغه ورون به ویل وکړي چې ووایه نو د هغه ورون به د هغه غوښه، د هغه هډوکي به د هغه اعمال بیان کړي او دا هر څه (یعني سوال او جواب او مهر لګول د جسم د اعضاوو شاهدي به څکه وي) چې بنده ته یو عذر وړاندي نه سي او دا بنده (د چا چې ذکر کیږي) به منافق وي او دا هغه بنده دی چې پر هغه به الله تعالی په غضب کې وي. مسلم

## دویم فصل

### په امت محمدي کې د بې حسابه جنت ته تلونکو شمېر

(۵۳۲۲): عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَعَدَنِي رَبِّي أَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعِينَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ مَعَ كُلِّ أَلْفٍ سَبْعُونَ أَلْفًا وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِهِ رِبِي . رواه احمد والترمذي وابن ماجه.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې : زما پروردګار زما سره دا وعده کړې ده چې هغه به زما د امت اویا زره کسان په جنت کې داخل کړي چې د هغوئ به نه حساب وي ، نه میزان او نه عذاب ، او په هغوئ کې به په هر زر پسې اویا زره نور او درې لپې د پروردګار هم وي. احمد ، ترمذي او ابن ماجه.

### د قیامت په ورځ به د الله ﷺ په عدالت کې درې واره خلك راځي

(۵۳۲۳): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ

حضرت حسن ﷺ د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د

الْقِيَامَة ثَلَاثُ عَرَضَاتٍ فَأَمَّا عَرَضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذٰلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي فَآخِذٌ بِيَمِينِه وَآخِذٌ بِشِمَالِه . رواه احمد والترمذي و قال لا يصح هذا الحديث من قبل ان الحسن لم يسمع من ابي هريرة و قد رواه بعضهم عن الحسن عن ابي موسى .

قيامت په ورځ به د الله تعالى په حضور كي خلك دري واره وراندي كړل سي دوه واره خو به مناقشه او عذر وي (يعني يو وار خو به خلك جګړه كوي چي موږ ته احكام نه دي را رسول سوي يا دا چي موږ په احكامو نه يو پوه كړل سوي او په دويم وار به اعتراف پر ګناه وكړي او عذر به كوي ، او په دريم وار به عمل نامې په لاسونو كي وركړل سي ، د ځينو په راسته لاس كي به عمل نامه وي او د ځينو په چپه لاس كي ، ترمذي وايي دا روايت صحيح نه دی ځكه چي حضرت حسن بصري د حضرت ابوهريره ﷺ ځخه نه دي اوريدلي ، دځينو ځخه دا د عن حسن عن ابي موسى په سند سره بيان سوى دى.

## د الله ﷻ د نامه بركت

(۵۳۲۲): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَة فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ سِجِلًّا كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَقُولُ أَتُنْكِرُ مِنْ هٰذَا شَيْئًا أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُونَ فَيَقُولُ لَا يَا رَبِّ فَيَقُولُ أَفَلَكَ عُذْرٌ قال لَا يَا رَبِّ فَيَقُولُ بَلَى إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ فَتَخْرُجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولُ احْضُرْ وَزْنَكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ مَا هٰذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هٰذِهِ السِّجِلَّاتِ فيقول إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ قَالَ فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كَفَّةٍ وَالْبِطَاقَةُ فِي كَفَّةٍ فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللهِ شَيْءٌ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به الله تعالى زما د امت ځخه يو كس د خلكو په مخ كي را وغواړي او د هغه په مخكي به يو كم سل دفترونه كښيږدي چي په هغه كي به هر دفتر د نظر تر حده پوري وي بيا به د هغه ځخه پوښتنه وكړي ايا ته په دي كي د يو خبري ځخه انكار كوې، ايا زما ليكونكو پر تا زياتي كړي ده ؟ هغه كس به عرض وكړي : يا زما ربه بيا به ځيني پوښتنه وكړي ايا ستا يو عذر سته؟ هغه به ووايي يا زما پروردګاره زما هيڅ عذر نسته ، الله تعالى به ورته وفرمايي او زموږ سره ستا يو نيكي سته او نن به پر تا هيڅ زياتي نه كيږي بيا به يو پرزه را وايستل سي چي په هغه كي به (اشهد ان لااله الاالله و ان محمداً عبده ورسوله) ليكلى وي او الله تعالى به فرمايي داعمالو د وزن په وخت ته پر ميزان حاضر سه ، هغه

کس به عرض وکړ اې ربه دې پارچې د هغه دفترونو په مقابله کې څه طاقت دی؟ الله پاک به ورته وفرمايي پر تا به ظلم نه کيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه دفترونه به د پلې په يوې خوا کې کښښودل سي او هغه پارچه به د ترازو په بله پله کې کښښودل سي نو ددفترونو هغه پله به پورته (يعني سپکه) سي او د پارچې هغه پله به درنه سي ، مختصر دا چې هيڅ شی د الله تعالی د نامه څخه درووند نه دی . ترمذي او ابن ماجه.

**د قيامت د ورځې درې واقعې**

(۵۳۲۵): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا ذَكَرَتْ النَّارَ فَبَكَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يُبْكِيكِ قَالَتْ ذَكَرْتُ النَّارَ فَبَكَيْتُ فَهَلْ تَذْكُرُونَ أَهْلِيكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا فِي ثَلَاثَةِ مَوَاطِنَ فَلَا يَذْكُرُ أَحَدٌ أَحَدًا عِنْدَ الْمِيزَانِ حَتَّى يَعْلَمَ أَيَخِفُّ مِيزَانُهُ أَوْ يَثْقُلُ وَعِنْدَ الْكِتَابِ حِينَ يُقَالُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ حَتَّى يَعْلَمَ أَيْنَ يَقَعُ كِتَابُهُ أَفِي يَمِينِهِ أَمْ فِي شِمَالِهِ أَمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ وَعِنْدَ الصِّرَاطِ إِذَا وُضِعَ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې ما ته د دوږخ اور را ياد سو نو زه په ژړا سوم ، رسول الله ﷺ را څخه پوښتنه وکړه ولې ژاړې؟ ما عرض وکړ د دوږخ اور را ته ياد سو، نو زه په ژړا سوم، ايا د قيامت په ورځ به تاسو خپل اهل او عيال ياد ساتې، رسول الله ﷺ وفرمايل: درې ځايونه داسې دې چې هلته به يو نفر بل نفر نه يادوې يو خو په وخت کې د ميزان تر څو پورې چې دا معلومه نه سي چې د هغه حساب سپک سو او که درووند سو، دويم: عمل نامه په لاس کې د ورکولو په وخت کې تر څو پورې چې دا معلومه نه سي چې عملنامه په راسته کې ورکړل سوه که په چپه لاس کې يا د شا د لورې ، او تر څو چې په راسته لاس کې علمنامه اخيستونکې دا ونه وايي چې راسئ زما عملنامه وګورئ، دريم د پل صراط نژدې هر کله چې پل صراط د جهنم پر شا کښښودل سي . ابوداؤد.

## دريم فصل

**د حساب او کتاب بيره**

(۵۳۲۶): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يُكَذِّبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې يو سړی د رسول الله ﷺ مخته کښېنستی او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زما سره غلامان دي دوئ ما ته درواغ وايي ، زما په مال کې خيانت کوي او زما د احکامو نافرماني کوي او زه

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم من اذا كان يوم القيامة يُحسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ قَالَ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ وَجَعَلَ يَهْتِفُ وَ يَبْكِي فَقَالَ له رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَقْرَأُ اقول الله وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حبة من خردل اتينا بها وكفى بنا حاسبين فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلَّهُمْ أَحْرَارٌ. رواه الترمذي.

هغوئ ته د ادب لپاره بد او رد وايم او هغوئ وهم، «د قيامت په ورځ به» د هغوئ په سبب زما څه حال وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : کله چي د قيامت ورځ راسي نو د غلامانو خيانت، نافرماني او درواغ او کومه سزا چي تا هغوئ ته ورکړې وي د هغې حساب به ورکول کيږي ، که ستا سزا د هغوئ د گناهونو برابر وي نو معامله به برابر وي او که ستا سزاگاني د هغوئ د گناهونو څخه کمي وي نو د هغوئ د گناهونو زياتي په وجه به تا ته اجر ورسيږي او که ستا سزا د هغوئ د جرمونو څخه زياته وي نو تاته به د هغه غلامانو لپاره بدله اخيستل کيږي ، ددې اوريدو سره هغه سړی بيل کښېنستی او ژړاوي يې پيل کړې ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : ايا

تا د الله تعالى دا ارشاد نه دی ويلی : «و تضع الموازين القسط .......» «موږ به د قيامت په ورځ د انصاف ترازو ودروو بيا به پر هيڅا زياتي نه کيږي که څه هم د هغه عمل د سپلني د دانې برابر وي موږ به هغه حاضر کړو او موږ حساب کونکي کافي يو»، هغه سړی وويل: اې دالله رسوله ! زه ددغه خپلو غلامانو لپاره تر دې غوره خبره نه وينم چي دوئ آزاد کړم نو تا زه شاهد کوم چي دوئ ټول آزاد دي . ترمذي.

## اسان حساب او سخت حساب

(۵۳۲۷): وَ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ اللّٰهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا قَالَ قلت يا نبي الله ما الحساب اليسير قال أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابِهِ فَيَتَجَاوَزَ عَنْهُ إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةُ هَلَكَ. رواه احمد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه په يو لمانځه کي واوريدل : اې الله! زما څخه زما د اعمالو حساب اسان واخلې ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! آسان حساب څه شی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه پر عملنامه به نظر واچول سي بيا به د هغه څخه عفوه وکړل سي ، اې عائشې ! په دغه ورځ چي د چا پوره حساب وسو او پوره پوره حساب ځيني واخيستل سو نو هغه هلاک سو . احمد.

**پر مؤمن باندي د قیامت ورځ اسانه ده**

(۵۳۲۸): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّهُ اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَخْبِرْنِيْ مَنْ يَقْوٰى عَلَى الْقِيَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ فَقَالَ يُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ عَلَيْهِ كَالصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ .

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم پوښتنه مي وکړه چي د قیامت ورځ چي د هغې په شان کي الله تعالی دا فرمایي: (یوم یقوم الناس لرب العالمین) (په کومه ورځ چي خلك د خپل رب په مخکي ودريږي)، نو ما خبر کړه چي څوك به د الله تعالی په مخکي د دریدو طاقت ولري، رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت ورځ به پر مؤمن اسانه کړل سي تر دې چي هغه ورځ به د فرض لمانځه برابر کړل سي. بیهقي.

(۵۳۲۹): وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ مَا طُوْلُ هٰذَا الْيَوْمِ فَقَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ اِنَّهُ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ اَهْوَنَ عَلَيْهِ مِنَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ يُصَلِّيْهَا فِي الدُّنْيَا . رواهما البيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د هغه ورځي په اړه پوښتنه وسول چي د هغې اندازه پنځوس زره کاله وي او د هغې اوږدوالی څه دی (یعني د هغې په اوږدوالي کي به د خلکو څه حال وي؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغه ذات مي دي قسم وي چي د هغه په واك کي زما ساه ده هغه ورځ به پر مؤمن اسانه کړل سي تر دې چي د مؤمن لپاره به د هغې اوږدوالي د هغه فرض لمانځه په اندازه پاته سي چي هغه په دنیا کي ادا کوي. بیهقي.

**بې حسابه جنت ته تلونکي کسان**

(۵۳۳۰): وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُحْشَرُ النَّاسُ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ فَيَقُوْلُ اَيْنَ الَّذِيْنَ كَانَتْ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ فَيَقُوْمُوْنَ وَهُمْ قَلِيْلٌ فَيَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ ثُمَّ يُؤْمَرُ لِسَائِرِ النَّاسِ اِلَى الْحِسَابِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت اسماء بنت یزید (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به خلك په یو میدان کي جمع کړل سي بیا به یو اعلان کونکي اعلان وکړي چي هغه خلك چیري دي چي د هغوئ ارخونه د بسترو او د خوب د ځایونو څخه بیل وه، ددې په اوریدو سره به خلك د میدان څخه راپاځي او بې حسابه به جنت ته ځي، بیابه پاته خلکو ته د حساب اخیستلو حکم وسي. بیهقي.

# بَابُ الْحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ

## (د حوض کوثر او شفاعت بیان)

## لومړی فصل

### د حوض کوثر پر دواړو غاړو به د جواهرو قبې وي

(۵۳۳۱): عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذَا أَنَا بِنَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ قُلْتُ مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ فَإِذَا طِينُهُ أَوْ طِيبُهُ مِسْكٌ أَذْفَرُ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د معراج په شپه زه په جنت کې ګرځيدم چې زه پر يو ويالې تير سوم چې د هغې پر دواړو خواوو د خالي غميانو دوې ګمبدې وې ما پوښتنه وکړه اې جبرائيل! دا څه دي؟ هغه راته وويل دا حوض کوثر دی، هغه کوثر چې ستاسو رب تا ته عطا کړی دی، ما وليدل چې د هغې خاوره تيزه خوشبوداره ده. بخاري.

### د حوض کوثر فضيلت

(۵۳۳۲): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَ زواياه سواء وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما حوض (يعني حوض کوثر) د يوې مياشتې د فاصلې اوږدوالي لري د هغه زاويې (کونجونه) برابر دي د هغه اوبه تر شيدو زياتې سپينې دي، خوشبويي يې د مشکو څخه زياته ده او د هغه کوزې (ګلاسونه) د آسمان د ستورو په ډول دي څوک چې دد غه څخه اوبه وڅښي هغه به بيا هيڅکله نه تږی کيږي، بخاري او مسلم.

### د حوض کوثر اوږدوالی

(۵۳۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَوْضِي أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د حوض پراخوالی دومره دی لکه څومره چې د مقام ايله او عدن په منځ کې فاصله ده بلکه ددې څخه هم زيات،

بِاللَّبَنِ وَلَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ النُّجُومِ وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ قَالَ نَعَمْ لَكُمْ سِيمَا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ. رواه مسلم وفي رواية له عن انس قال تُرَى فِيهِ أَبَارِيقُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ، وفي اخرى له عن ثوبان قال سُئِلَ عَنْ شَرَابِهِ فَقَالَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلٰى مِنَ الْعَسَلِ يَغُتُّ فِيهِ مِيزَابَانِ يَمُدَّانِهِ مِنَ الْجَنَّةِ أَحَدُهُمَا مِنْ ذَهَبٍ وَالْآخَرُ مِنْ وَرِقٍ.

ددې اوبه تر واوري زياتي سپيني او تر شاتو زياتي خوږې دي چې په هغه کي شيدې ګډې سوي دي او ددې د چېنبلو لوښي د آسمان د ستورو څخه زيات دي او زه به د غير امتونو خلك خپل حوض کوثر ته د راتلو څخه داسي منع کوم لکه څرنګه چې يو سړی د خپلو اوښانو حوض ته د نورو اوښانو راتلو څخه منع کوي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! په دغه ورځ به تاسو موږ پيژنئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، ستاسو لپاره به يوه نښه وي چې د بل امت لپاره به نه وي ، تاسو به ما ته په داسي حال کي راځي چې ستاسو مخونه او لاسونه او پښې به د اوداسه په وجه روښانه او ځلانده وي، مسلم او د مسلم په يو بل روايت کي د حضرت انس څخه دا الفاظ دي چې د رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايه چې په حوض کي به د سرو او سپينو زرو لوښي وي دومره لکه څومره چې د آسمان ستوري دي او د مسلم په يو بل روايت کي چې د ثوبان څخه نقل دی دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ څخه د حوض کوثر د اوبو په اړه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اوبه يې د شيدو څخه زياتي سپيني او د شاتو څخه زياتي خوږې دي هغه ته د اوبو دوې ناوې را بهيږي چې حوض کوثر به د اوبو څخه ډك ساتي او دا اوبه د جنت څخه راځي په هغه کي يوه ناوه د سرو زرو ده او دويمه د سپينو زرو ده.

### مرتد به د حوض کوثر څخه ليري وي

(۵۳۳۴): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونِي ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَأَقُولُ إِنَّهُمْ مِنِّي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِي. متفق عليه.

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه به پر حوض کوثر ستاسو بندوبست کونکی يم ، څوك چې زما په خوا کي تيرېږي اوبه به څښي او څوك چې يې وڅښي هغه به هيڅکله تږی نه سي البته ما ته به ډير قومونه راځي زه به هغوئ پيژنم او هغوئ به ما پيژني بيا به ز ما او د

هغوئ په منځ کي يو شی حائل کړل سي زه به وايم دا خلك زما د امت څخه دي يا زما پر طريقه دي ددې په جواب کي به وويل سي تاسو ته معلومه نه ده چي دوئ ستاسو څخه وروسته څه څه نوي خبري پيدا کړي دي (د دې اوريدو سره) به زه وايم دا خلك دې زما څخه ليري سي د الله ﷻ د رحمت څخه دي ليري سي چي زما څخه وروسته يې په دين کي تبديلي کړې ده . بخاري او مسلم.

### د شفاعت څخه د ټولو نبيانو انکار

(۵۳۳۵): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُحْبَسُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُهِمُّوا بِذٰلِكَ فَيَقُولُونَ لَوْ اسْتَشْفَعْنَا اِلٰى رَبِّنَا فَيُرِيحُنَا مِنْ مَكَانِنَا فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ اَنْتَ آدَمُ اَبُو النَّاسِ خَلَقَكَ اللّٰهُ بِيَدِهِ وَاَسْكَنَكَ جَنَّتَهُ وَاَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَعَلَّمَكَ اَسْمَاءَ كُلِّ شَيْءٍ و اشفع لَنَا عِنْدَ رَبِّكَ حَتّٰى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا هٰذَا قَالَ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي اَصَابَ اَكْلَهُ مِنَ الشَّجَرَةِ وَقَدْ نُهِيَ عَنْهَا وَلٰكِنْ ائْتُوا نُوحًا اَوَّلَ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللّٰهُ اِلٰى اَهْلِ الْاَرْضِ فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي اَصَابَ سُؤَالَهُ رَبَّهُ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلٰكِنْ ائْتُوا اِبْرَاهِيمَ خَلِيلَ الرَّحْمٰنِ قَالَ فَيَأْتُونَ اِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ اِنِّي لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ ثَلَاثَ كَلِمَاتٍ كَذَبَهُنَّ وَلٰكِنْ ائْتُوا مُوسٰى عَبْدًا آتَاهُ اللّٰهُ التَّوْرَاةَ وَكَلَّمَهُ وَقَرَّبَهُ نَجِيًّا قَالَ فَيَأْتُونَ مُوسٰى فَيَقُولُ اِنِّي لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي اَصَابَ قَتْلَهُ النَّفْسَ وَلٰكِنْ ائْتُوا عِيسٰى عَبْدَ اللّٰهِ وَرَسُولَهُ وَرُوحَ اللّٰهِ وَكَلِمَتَهُ قَالَ فَيَأْتُونَ عِيسٰى فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَلٰكِنْ ائْتُوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَاَخَّرَ فَيَأْتُونِي فَاَسْتَاْذِنُ

د حضرت انس رضی څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به مسلمانان بند کړل سي تر دې چي هغوئ به فکر او تردد کي ولويږي او په خپل منځ کي به وايي کاش چي موږ يو څوك د سفارش لپاره تيار کړي چي زموږ رب ته زموږ شفاعت وکړي او موږ ددغه تکليف څخه خلاص کړي ، هغوئ به (په دغه خيال) آدم عليه السلام ته ورسي ورته و به وايي ته د ټولو خلکو پلار يې الله تعالى ته په خپل لاس سره جوړ کړي يې په خپل جنت کي يې ساتى يې خپلو ملائکو باندي يې درته سجده کړې ده او د هر شي نومونه يې درته ښودلي دي ته خپل رب ته زموږ سفارش وکړه چي ددغه ځای څخه مو وباسي او راحت او اطمينان راکړي، حضرت آدم عليه السلام به ورته وايي خرنگه چي ستاسو خيال دى زه د هغې درجي څخه نه يم (يعني زه د شفاعت درجه نه لرم) بيا به آدم عليه السلام د خپلي هغه خطا ذکر وکړي چي هغه د الله تعالى د منع کړل سوي درختي څخه خوراك کړی وو ليکن تاسو نوح عليه السلام ته ورسئ کوم چي لومړنی نبي دى چي الله تعالى د ځمکي خلکو ته ليږلى وو نو هغوئ

عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَدَعَنِي فَيَقُولُ ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَ قَالَ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأَخْرُجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ أَعُودُ الثَّانِيَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يَقُولُ ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَ قَالَ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأَخْرُجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ أَعُودُ الثَّالِثَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يَقُولُ ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَهْ قَالَ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأَخْرُجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ حَتَّى مَا يَبْقَى فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ أَيْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ قَالَ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا قَالَ وَهٰذَا الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ الَّذِي وُعِدَهُ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه.

به نوح عليه السلام ته ورسي نوح عليه السلام به ورته وايي زه د شفاعت اهل نه يم او د خپلي هغه خطا ذكر به وكړي چي هغه بې علمه كړې وه (يعني د الله څخه د خپل زوی د غرق كيدو څخه د ساتني خواست) او بيا به وايي تاسو حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام ته ورسئ، ويلي دي نبي كريم ﷺ چي هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي چي زه ددې كار لائق نه يم او په دنيا كي د درې واړه درواغ ويلو ذكر به وكړي چي ده ويلي وه ليكن تاسو موسى عليه السلام ته ورسئ هغه د الله تعالى داسي بنده دی چي الله تعالى تورات باندي نازل كړی دی او الله تعالى ورسره خبري كړي دي او نژدې كړی يې وو لپاره د خبرو كولو د (راز)، ويلي دي نبي كريم ﷺ چي هغوئ به حضرت موسى عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي زه ددې كار لائق نه يم او د خپلي هغه خطا ذكر به وكړي چي د قبطي د وژلو په اړه يې كړې وه، ليكن تاسو حضرت عيسى عليه السلام ته ورسئ چي د الله تعالى بنده او رسول دی د الله تعالى روح دی او د الله تعالى كلمه ده نو حضرت عيسى عليه السلام ته به ورسئ، حضرت عيسى عليه السلام به ورته وايي زه ددې كار اهل نه يم تاسو حضرت محمد ﷺ ته ورسئ هغه د الله تعالى داسي بنده دی چي د هغه مخكني او وروستني ټول ګناهونه معاف سوي دي، رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به خلك ما ته راسي او زه به د الله تعالى په حضور كي د حاضرۍ اجازه وغواړم ، الله تعالى به ما ته اجازه راكړي زه چي الله تعالى ووينم نو پر سجده به ورته پرېوځم

او الله تعالی چي تر څومره وخته پوري مناسب ګڼي ما به پر سجده لري بیا به فرمایي اې محمد ! سر پورته کړه ستا خبره به واورېدل سي او شفاعت کوه شفاعت به دي قبول سي او سوال کوه څه چي ویل غواړې زه به یې درکړم، رسول الله ﷺ وفرمایل ددې اورېدو سره به زه سر پورته کړم او د خپل رب تعریف او ثناء به په هغه الفاظو کي وکړم چي الله تعالی به یې ما ته وښیي بیا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت یو حد وټاکل سي بیا د رب العزت ددرګاه څخه د دباندي راوتلو سره به زه هغه خلك (چي د چا په حق کي سفارش قبول سوی وي) د دوزخ څخه د باندي راوباسم او په جنت کي به یې داخل کړم او بیا به د رب العزت په دربار کي د حاضرۍ اجازه وغواړم ما ته به اجازه راکړل سي او زه به د پروردګار په لیدو سره پر سجده پرېوځم تر څو پوري چي الله تعالی غواړي زه به پر سجده پروت یم بیا به الله تعالی وفرمایي اې محمد ! خپل سر پورته کړه څه چي ویل غواړې زه به یې واورم، شفاعت کوه زه به یې قبلوم ، غواړه زه به یې درکوم نو زه به خپل سر پورته کړم او په هغه الفاظو کي به د الله تعالی حمد او ثناء بیان کړم چي الله تعالی به ما ته ښودلي وي ، بیا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت یو حد وټاکل سي بیا به زه دباندي راووځم هغه خلك به ددوزخ څخه راباسم او په جنت کي به یې داخل کړم ، بیا به زه په دریم وار د رب العزت په دربار کي حاضر سم او الله تعالی به ما ته اجازه راکړي هر کله چي زه الله تعالی ووینم نو پر سجده به ورته پرېوځم او تر څو پوري چي الله تعالی ته منظوره وي زه به ورته پر سجده پروت یم بیا به الله تعالی وفرمایي اې محمد ! سر پورته کړه وایه څه ویل غواړې ، وایه زه به یې واورم ، شفاعت کوه زه به یې قبلوم، غواړه زه به یې درکوم ، نو زه به خپل سر پورته کړم او په هغه الفاظو کي به د الله تعالی حمد او ثناء وکړم چي الله تعالی به ما ته ښودلي وي بیا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت یو حد وټاکل سي بیا به زه دباندي راووځم هغه خلك به ددوزخ څخه راوباسم او په جنت کي به یې داخل کړم تر دې چي په دوزخ کي به یوازي هغه خلك پاته سي چي د قرآن د حکم د مخي به هغوئ همېشه او همېشه په دوزخ کي وي بیا رسول الله ﷺ دغه آیت تلاوت کړ : (عسی ان یبعثك ربك مقاما محمودا) ، (نژدې ده چي ستا رب تا پر مقام محمود ودروي) او رسول الله ﷺ وفرمایل : دا هغه مقام محمود دی چي د هغه وعده الله تعالی ستاسو د نبي سره کړې ده . بخاري او مسلم

**د رسول الله ﷺ شفاعت**

(۵۳۳۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ اشْفَعْ إِلَى رَبِّكَ فَيَقُولُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي د قیامت ورځ سي خلك به پریشان وي او د آدم علیه السلام په

لَسْتُ لَهَا وَلٰكِنْ عَلَيْكُمْ بِإِبْرَاهِيمَ فَإِنَّهُ خَلِيلُ الرَّحْمٰنِ
فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلٰكِنْ عَلَيْكُمْ
بِمُوسَى فَإِنَّهُ كَلِيمُ اللّٰهِ فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ لَسْتُ
لَهَا وَلٰكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى فَإِنَّهُ رُوحُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهُ
فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلٰكِنْ عَلَيْكُمْ
بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونِي فَأَقُولُ أَنَا لَهَا
فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فَيُؤْذَنُ لِي وَيُلْهِمُنِي مَحَامِدَ
أَحْمَدُهُ بِهَا لَا تَحْضُرُنِي الْآنَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ
وَأَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فيقال يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ
تُسْمَعْ وَسَلْ تعطه وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي
أُمَّتِي فيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ
شَعِيرَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ
بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ
ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَه وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ
فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ
كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ أَوْ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ
فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ
سَاجِدًا فيقال يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ
وَسَلْ تُعْطَه وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي
فيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ أَدْنَى أَدْنَى
أَدْنَى مِثْقَالِ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ
فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ الرَّابِعَةَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ
الْمَحَامِدِ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ
رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَهْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ
يَا رَبِّ ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قال ليس

خدمت كي به حاضر سي عرض به وكړي چي
خپل رب ته زموږ سفارش وكړه هغه به ورته
وايي زه د شفاعت اهل نه يم تاسو ابراهيم عليه
السلام ته ورسئ هغه د الله تعالىٰ دوست دى
هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته ورسي هغه به
ورته وايي په ما كي د شفاعت لياقت او قدرت
نه سته تاسو موسى عليه السلام ته ورسئ هغه
كليم الله دى هغوئ به موسى عليه السلام ته
ورسي هغه به ورته وايي زه د شفاعت اهل نه يم
تاسو عيسى عليه السلام ته ورسئ هغه د الله
تعالى روح او كلمه ده ، هغوئ به حضرت
عيسى عليه السلام ته ورسي هغه به ورته وايي
زه د شفاعت اهل نه يم تاسو حضرت محمد ﷺ ته
ورسئ ، رسول الله ﷺ فرمايي بيا به هغوئ ما ته
راسي زه به ورته وايم زه د شفاعت اهل يم او
ستاسو سفارش به كوم بيا به زه د الله تعالى په
حضور كي د حاضرئ اجازه وغواړم ، الله تعالى
به ما ته اجازه راكړي او زما په زړه كي به د خپل
حمد او ثناء الفاظ واچوي چي هغه حمدونه
اوس ما ته حاضر نه دي چي زه به په هغه الفاظو
سره د الله تعالى حمد او ثناء وكړم او الله تعالى
ته به پر سجده پريوځم ، بيا به ما ته وويل سي
اې محمد ! خپل سر پورته كړه ووايه څه چي
ويل غواړې زه به يې واورم، وغواړه څه چي
غواړې در به كول سي ، شفاعت كوه شفاعت به
دي قبول سي ، زه به وايم اې ربه ! زما امت
وبخښې ، پروردګاره ! زما امت وبخښې ، الله

ذالك لك ولكن وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ. متفق عليه.

تعالى به فرمايي ورسه او د دوزخ څخه هغه خلك راوباسه چي د هغوئ په زړه کي د اوربشي په اندازه هم ايمان وي ، زه به ولاړ سم او د رب

د حکم سره سم به عمل وکرم ددې څخه وروسته به د رب العزت په دربار کي دويم وار حاضري وکړم او هغه الفاظو کي به د الله تعالى حمد او ثناء وکړم چي الله تعالى به يې ما ته وښيي بيا به زه الله تعالى ته پر سجده پريوځم او وه به ويل سي اې محمد ! خپل سر پورته کړه وايه څه چي ويل غواړې اوريدل به سي ، غواړه څه چي غوښتل غواړې در به کړل سي ، شفاعت کوه ستا شفاعت به قبول سي ، زه به عرض وکړم اې ربه! زه د خپل امت شفاعت کوم زه د خپل امت شفاعت کوم ، وه به ويل سي ولاړ سه او د چا په زړه کي چي د ذرې په اندازه يا د سپلني د دانې په اندازه هم ايمان وي هغه د دوزخ څخه راوباسه ، نو زه به ولاړ سم او د الله تعالى د حکم سره سم به عمل وکرم بيا به راسم او د خداى ﷺ حمد به په هغسي طريقه ووايم چي خداى ﷺ ما ته ښودلى وي بيا به خداى ﷺ ته پر سجده پريوځم نو وه به ويل سي اې محمد ﷺ ! سر را پورته کړه او ووايه اوريدل کيږي به او سوال کوه درکول کيږي به او شفاعت کوه قبلول کيږي به نو زه محمد ﷺ به ووايم اې زما ربه ! زما امت وبخښه زما امت و بخښه نو راته وه به ويل سي ولاړ سه او هغه څوک راوباسه چي په زړه کي يې د ادنى ادنى ادنى د سپلني د دانې په اندازه ايمان وي نو زه به ولاړ سم دا کار به وکرم ددې څخه وروسته به بيا زه څلورم وار د رب العزت په حضور کي اجازه وغواړم ، دالله تعالى په حضور کي د حاضريدو سره به په هغه الفاظو کي د الله تعالى حمد او ثناء بيان کرم کوم چي راته الله تعالى وښيي ، بيا به ورته پر سجده پريوځم نو وه به ويل سي اې محمد! خپل سر پورته کړه ووايه څه چي ويل غواړې وا به وريدل سي ، غواړه در به کړل سي ، شفاعت کوه قبول به سي ، زه به عرض وکړم اې ربه ! د هغه خلکو ددوزخ څخه په ايستلو اجازه راته راکړه چا چي لااله الاالله ويلي وي (او هيڅ عمل يې نه وي کړى) الله تعالى به فرمايي ددغه خلکو سفارش ستا حق نه دى زما دې په خپل عزت ، جلال ، ذاتي او صفاتي عظمت قسم وي هغه خلك به زه ددوزخ څخه راوباسم چا چي لااله الاالله ويلي وي . بخاري او مسلم.

## خوشبخته سړى

(٥٣٣٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به چي زه د کومو خلکو شفاعت کوم په هغوئ کي به

زیات بختور هغه څوك وي چي هغه په صفا زړه سره لااله الاالله ويلي وي. بخاري.

د رسول الله ﷺ د شفاعت ذکر

(٥٣٣٨): وَعَنْهُ قَالَ أُتِيَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً ثُمَّ قَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يوم يقوم الناس لرب العالمين وَتَدْنُو الشَّمْسُ فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ فَيَقُولُ الناس أَلَا تَنْظُرُونَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ فياتون آدم و ذكر حديث الشفاعة وَقَالَ فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي ثُمَّ يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ لِأَحَدٍ قَبْلِي ثُمَّ قال يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلِ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِم مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ .متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته غوښه راوړل سوه او په هغه کي رسول الله ﷺ ته د ورانه غوښه راوړل سول چي د رسول الله ﷺ ډیره خوښه وه، رسول الله ﷺ د هغه څخه په غاښونو غوښه پریکول او خوړل یې، بیا یې وفرمایل : د قیامت په ورځ به ټول خلك د جهانونو د پروردگار په مخکي ودریږي زه به د خلکو سردار یم په دغه ورځ به لمر ډیر نژدې وي او د خلکو حالت به (د گرمی د زیاتوالي، فکر او غم او د قیامت د هیبت په وجه) د بیان وړ نه وي او د صبر او استقامت څخه به همت وبایلي په خپل منځ کي به وایي تاسو یو داسي سړي د لټوئ چي ستاسو پروردگار ته ستاسو سفارش وکړي نو خلك به آدم علیه السلام ته راسي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ یا ابوهریره ﷺ د شفاعت حدیث بیان کړ (یعني هغه حدیث چي مخکي د هغه ذکر سوی دی) بیا یې وفرمایل

چي زه به د الله تعالی په حضور کي د حاضریدو په اراده ولاړ سم او د عرش الهي لاندي رسیدو سره به پر سجده پریوځم بیا به الله ﷺ زما په په زړه کي د خپل حمد او ثناء الفاظ واچوي چي د هغه وخت څخه مخکي به یې د هیچا په زړه کي نه وي اچولي ، بیا به الله تعالی فرمایي اې محمد ! خپل سر پورته کړه ، وغواړه څه چي غوښتل غواړې در به کړل سي ، شفاعت کوه قبول به کړل سي ، نو زه به خپل سر پورته کړم او وایم به اې پروردگاره ! زما امت وبخښې اې پروردگاره ! زما امت وبخښې ، وه به ویل سي اې محمد! ته د خپل امت څخه هغه خلك چي د هغوئ څخه به حساب نه سي اخیستل کیدلای د جنت په راسته خوا دروازه جنت ته داخل کړه او دا خلك به ددې دروازې څخه پرته په نورو دروازو هم د خلکو سره په جنت کي داخلیږي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ

وفرمایل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د جنت دروازي به دومره پراخه وي چي په هغو کي د دوو تنبو په منځ کي به دومره فاصله وي څومره چي د مکې او هجر په منځ کي ده (هجر په بحرین کي یو ځای دی). بخاري اومسلم.

### د امانت او قرابت کولو اهمیت

(۵۳۳۹): وَعَنْ حُذَيْفَةَ فِيْ حَدِيْثِ الشَّفَاعَةِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَال وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيْ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا. رواه مسلم.

حضرت حذیفه ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د شفاعت حدیث نقل کولو سره وايي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: امانت او رحم (خپلوي) به راولیږل سي او دواړه به د پل صراط پر راسته او چپه طرف ودریږي. مسلم.

### د رسول الله ﷺ د شفاعت قبلولو الهي وعده

(۵۳۴۰): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي إِبْرَاهِيمَ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي الْآيَةَ وَقَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَام إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي وَبَكَى فَقَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيكَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ فَقَالَ اللّٰهُ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د الله تعالی دا ارشاد تلاوت کړ کوم چي د حضرت ابراهیم علیه السلام په باره کي دی: (رب الهن اضلنن کثیرا.....) اې پروردګاره ! دغه بتانو ډیر خلک ګمراه کړي دي نو په دوئ کي چي کومو خلکو زما اطاعت قبول کړی دی هغوئ زماد تابعینو څخه دي او چا چي نافرماني کړې ده نو ته معاف کونکی او رحم کونکی یې، بیا رسول الله ﷺ د حضرت عیسی علیه السلام د خواست په اړه دا آیت تلاوت کړ: (ان تعذبهم فانهم عبادك)، (اې پروردګاره! که ته دوئ ته عذاب ورکوي نو دا ستا بندګان دي)، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارك پورته کړل او وه یې فرمایل: اې الله! زما امت وبخښې، زما امت و بخښې (آمین) ددې ویلو سره رسول الله ﷺ په ژړا سو ، نو الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته وفرمایل: اې جبرائیل! محمد ﷺ ته ورسه او خدای ﷻ ښه پوهیږي او پوښتنه ځیني وکړه چي ولي ژاړي؟ جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه یې ځیني وکړه ، رسول الله ﷺ چي څه ویل غوښتل هغه یې وویل او الله تعالی د رسول الله ﷺ د پیغام اوریدو سره حکم وکړ اې جبرائیل! محمد ﷺ ته ورسه او ورته ووایه چي موږ به تا ستا د امت په معامله کي

راضي كړو او تا به خفه نه كړو. مسلم.

**د قيامت په ورځ د شفاعت او داسي نورو شيانو په اړه يو څو خبري**

(٥٣٤١): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ نَاسًا قَالُوْا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَة قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نعم هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ بالظهيرة صَحْوًا لَيْسَ مَعَهَا سَحَابٌ وَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ صَحْوًا لَيْسَ فِيهَا سَحَابٌ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَة إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَة أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ لِيَتَّبِعْ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ إِلَّا يَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ اتاهم رب العالمين قال فماذا تنظرون يتبع كل أمة ما كانت تعبد . قالوا : ياربنا فارقنا الناس في الدنيا أفقر ما كنا إليهم ولم نصاحبهم، وفي رواية ابي هريرة فيقولون هذا مكاننا حتى ياتينا ربنا فاذا جاء ربنا عرفناه وفي رواية ابي سعيد فيقول هل بينكم و بينه آية تَعْرِفُونَهُ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ فلا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلّٰه تعالى من تلقاء نفسه الا اذن الله له بالسجود ولا يبقى من كان يسجد اتقاء و رياء الا جعل الله ظهره طبقة واحدة كلما اراد ان يسجد خر على قفاه ثم يضرب الجسر على جهنم و تحل الشفاعة و يقولون اللهم سلم سلم فيمر المؤمنون كطرف العين

د حضرت ابوسعيد خدري ﷛ څخه روايت دي‌چي يو څو كسانو عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا د قيامت په ورځ به موږ خپل رب وينو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:هو، ايا تاسو د غرمې په وخت كي چي آسمان صفا وي لمر ته په كتلو كي څه شك لرئ او ايا د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ليدو كي تاسو د شپې چي آسمان صفا وي څه شك وينئ ، صحابه كرامو عرض وكړ يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : لكه څرنګه چي تاسو ته د لمر او سپوږمۍ په ليدو كي څه تكليف نه وي همداسي به د الله تعالى په ليدو كي هم تاسو ته څه تكليف نه وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي قيامت سي نو يو اعلان كونكى به اعلان وكړي چي كوم امت د چا عبادت كوى نو په هغه پسي دي روان سي ،. نو كومو خلكو چي د الله څخه پرته د نورو شيانو يعني بتانو او ډبرو عبادت كوى په هغوئ كي به يو هم پاته نه سي او ټول به په دوزخ كي واچول سي تر دې چي د هغه خلكو څخه پرته به هيڅوك پاته نه سي كومو چي د الله تعالى عبادت كوى كه هغه نيك وي يا بد، نو الله تعالى به هغوئ ته راسي او ورته وه به فرمايي تاسو د چا په انتظار كي ياست ، هره ډله په خپل معبود پسي روان دي (تاسو هم ولاړ سئ) هغوئ به وايي اې زموږ پروردګاره ! موږ

وَكَالْبَرْقِ وَكَالرِّيحِ وكالطير وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ وَ مَخْدُوشٌ مرسل وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ حَتّٰى اِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُوْنَ مِنَ النَّارِ فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَامِنْ اَحَدٍ مِّنْكُمْ بِاَشَدَّ لِي مُنَاشَدَةً فِي الْحَقِّ قَدْ تَبَيَّنَ لَكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِ لِلّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا كَانُوْا يَصُوْمُوْنَ مَعَنَا وَ يُصَلُّوْنَ وَ يَحُجُّوْنَ فَيُقَالُ لَهُمْ اَخْرِجُوْا مَنْ عَرَفْتُمْ فتحرم صورهم على النار فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا ما بقي فيها احد ممن امرتنا به فيقول ارجعوا فمن وجدتم في قلبه مثقال دينار من خير فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقول ارجعوا فمن وجدتم في قلبه مثقال نصف دينار من خير فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقول ارجعوا فمن وجدتم في قلبه مثقال ذرة من خير فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا لم نذر فيها خيرا فيقول الله شفعت الملائكة و شفع النبيون و شفع المؤمنون و لم يبق الا ارحم الراحمين فيقبض قَبْضَةً مِنَ النَّارِ فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لم يعملوا خيرا قط قد عادوا حمما فيلقيهم في نهر في افواه الجنة يقال له نهر الحيوة فيخرجون كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ فَيَخْرُجُوْنَ كَاللُّؤْلُؤِ فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِيمُ فَيَقُوْلُ اَهْلُ الْجَنَّةِ هٰؤُلَاءِ عُتَقَاءُ الرَّحْمٰنِ اَدْخَلَهُمُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوْهُ وَلَا خَيْرٍ قَدَّمُوْهُ فَيُقَالُ لَهُمْ لَكُمْ مَا رَاَيْتُمْ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ. متفق عليه.

په دنيا كي د هغه خلكو څخه بيلوالى اختيار كړى وو حال دا چي موږ د هغوئ محتاج وو او هيڅكله هغوئ سره ناست نه وو، او د ابوهريره په روايت كي دا الفاظ دي چي هغه خلك به ووايي چي زموږ خاى دادى موږ به تر هغه وخته پوري ددغه خاى څخه نه خو تر څو پوري چي زموږ پروردگار موږ ته رانه سي او كله چي زموږ پروردگار راسي موږ به هغه و پيژنو او د ابوسعيد په روايت كي دا الفاظ دي چي الله تعالى به د هغوئ څخه پوښتنه وكړي ايا ستاسو او ستاسو د پروردگار په منځ كي يو داسي نښه سته چي په هغه سره تاسو هغه وپيژنئ؟ هغوئ به وايي هو. نو د الله تعالى پنډئ به ښكاره سي نو چا چي په اخلاص او عقيدت سره سجده كول هغه ته به د سجدي كول حكم وركړل سي او چا چي د الله تعالى د بيري څخه يا خلكو ته د ښوونى (ريا) لپاره سجده كول الله تعالى به د هغه ملا تخته جوړه كړي هر كله چي هغه سجده كولو لپاره كښته كيږي نو پر سر به راغوزار سي بيا به د دوږخ سربيره پل صراط كښېښودل سي او د شفاعت اجازه به وركړل سي او انبياء عليهم السلام به د خپل امت لپاره دا دعاء غواړي اي الله دوئ په سلامتيا سره (پر پل صراط) تير كړې، نو مؤمنان به د سترگو په رپ كي پر پل صراط تير سي، ځيني به د برېښنا په ډول ځيني به د هواء په ډول، ځيني به د مرغانو په ډول ځيني به د

تيزو آسونو په ډول او ځيني د اوښانو په ډول او ځيني به په لړ زخم خوړلو سره تير سي او ځيني به پرې پرې کړل سي او دوږخ ته به وليږل سي ، بيا د عذاب څخه وروسته چي مؤمنان د اور څخه خلاص کړل سي قسم دی په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د خپلو هغه ورونو د خلاصون لپاره به ستاسو څخه زيات د الله تعالی سره جګړه کونکي هيڅوك نه وي، نو مؤمنان به الله تعالی ته عرض وکړي اې زموږ پروردګاره ! دغه خلکو به زموږ سره روژې نيولې، لمونځ به يې کوی، او حج به يې کوی (نو دوی ته ددوږخ څخه خلاصون ورکړې) مؤمنانو ته به وويل سي کوم خلك چي تاسو پيژنئ هغوئ ددوږخه څخه وباسئ او ددوږخ پر اور به حرام کړل سي چي د خلکو صورتونه دي وسوځي (يعني دوږخ ته به حکم ورکړل سي چي د خلکو صورتونه سوځولو سره مسخ نه کړي لپاره ددې چي شناخت کي اساني وي) نو مؤمنان به ډير خلك ددوږخ څخه را وباسي او بيا به عرض وکړي اې زموږ پروردګاره ! د کومو خلکو چي تا د دوږخ څخه د ايستلو حکم کړی وو په هغوئ کي اوس هيڅوك په دوږخ کي پاته نه دی ، الله تعالی به فرمايي ښه ده دوږخ ته بيا ورسئ او د کومو خلکو په زړه کي چي ددنيار په اندازه نيکي وي هغوئ ددوږخ څخه راو باسئ نو هغوئ به ډير خلك را وباسي بيا به الله تعالی وفرمايي د چا په زړه کي چي د نيم دينار برابر نيکي وي هغوئ هم د دوږخ څخه راوباسئ نو هغوئ به ډير خلك را وباسي بيا به الله تعالی حکم وکړي بيرته ولاړ سئ او د چا په زړه کي چي د ذرې په اندازه نيکي وي هغه ددوږخ څخه راوباسئ نو هغوئ به بيا ډير خلك ددوږخ څخه راوباسي او عرض به وکړي اې زموږ پروردګاره ! موږ په دوږخ کي هيڅ نيکي کونکی نه پريښودی ، الله تعالی به وفرمايي ملائکو سفارش وکړ، انبياؤ سفارش وکړ او مؤمنانو سفارش وکړ اوس هيڅ څوك د ارحم الراحمين د رحمن څخه پرته نه دی پاته سوی ددې فرمايلو سره به الله تعالی يو ډك موټ د دوږخ څخه د هغه خلکو راوباسي چي په هغوئ به هيڅکله هم يو نيکي نه وي کړې دا خلك به د سوځيدو سره تور سکاره سوي وي هغوئ به په وياله کي واچول سي چي د جنت په دروازه کي به وي او د هغې نوم (نهر حيوة) د ژوند وياله ده، دا خلك به د وياله څخه داسي تازه راووځي لکه څرنګه چي د دانې تيغ د سيلاب په ختو کي راخيژي ، او د ملغلرو په ډول به ځلانده سي د هغوئ پر څټو به نښې او مهرونه وي د هغوئ په ليدو سره به جنتيان وايي دا خلك د الله تعالی ازاد کړل سوي دي، دوئ پرته د يو نيك عمل څخه يو شی په جنت کي داخل کړي دي يعني دوئ خو نه په دنيا کي يو نيکي کړې ده او نه يو نيك عمل ، بيا به دغه خلکو ته وويل سي چي په جنت کي کوم شيان تاسو ته درکړل سوي دي هغومره نور هم درکړل سول . بخاري اومسلم.

**هغه خلک چي د دوږخ څخه په ايستلو به جنت ته داخل سي**

(۵۳۴۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ يَقُولُ اللّٰهُ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيْمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيَخْرُجُونَ قَدْ امْتُحِشُوا وَعَادُوا حُمَمًا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَاةِ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً. متفق عليه.

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي جنتيان په جنت کي او دوږخيان په دوږخ کي داخل سي نو الله تعالى به وفرمايي د چا په زړه کي چي د سپلني د دانې په اندازه ايمان وي هغه د دوږخ څخه وباسئ نو هغوئ به وايستل سي هغوئ به د سکاره په ډول راووځي او هغوئ به د ژوند ويالې (نهر حيوة) کي وغورځول سي او هغوئ به داسي تازه سي لکه څرنګه چي د سيلاب په خټو کي دانه زرغونه کيږي ايا تاسي فکر نه دی کړی چي څنګه دانه ژړ تاوسوی تيغ راوباسي. بخاري اومسلم.

**د دوږخيانو د خلاصون ذکر**

(۵۳۴۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّاسَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ فذكر معنى حديث ابي سعيد غير كشف الساق وقال يُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ إِلَّا الرُّسُلُ وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ وَفِي جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ لَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللّٰهُ تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو حَتّٰى إِذَا فَرَغَ اللّٰهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ عِبَادِهِ واراد ان يخرج من النار من اراد ان يخرجه ممن كان يشهد ان لا اله الاالله امر الملائكة أَنْ يُخْرِجُوا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَيُخْرِجُونَهُمْ وَيَعْرِفُونَهُمْ بِآثَارِ السُّجُودِ وَحَرَّمَ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ فَكُلُّ ابْنِ آدَمَ تَأْكُلُهُ النَّارُ إِلَّا أَثَرَ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي خلکو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا د قيامت په ورځ به موږ خپل پروردګار ليدلای سو؟ ددې څخه وروسته ابوهريره د ابو سعيد هم معنا حديث بيان کړ بېله د لوخولو د پنډۍ، او رسول الله ﷺ وويل چي پل صراط به د دوږخ سربيره ودرول سي او زه به لومړنی رسول يم چي د خپل امت سره به پر پل صراط تير سم په دغه ورځ به د رسولانو څخه پرته د هيچا د خبرو کولو قدرت نه وي او رسولان به هم دومره اندازه وايي چي اې الله ! موږ سالم لرې، اې الله موږ سالم لرې، او په جهنم کي به د سعدان (يز ازغنه درخته) په مثل د انبورونه وي ددغه ازغو لوروالی د الله څخه پرته بل چا ته معلوم نه دی دا ازغي به په خلکو کي د هغوئ د بدو اعمالو سره سم جګ کيږي يعني ځيني به د هغوئ په بدو اعمالو

السُّجُود فَيَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ قَدْ امْتَحَشُوا فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ الْحَيٰوةِ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ وَيَبْقَى رَجُلٌ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَهُوَ آخِرُ أَهْلِ النَّارِ دُخُولًا الْجَنَّةَ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ قِبَلَ النَّارِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ اصْرِفْ وَجْهِي عَنِ النَّارِ وَقَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا فَيَقُولُ هَلْ عَسَيْتَ ان افعل ذَلِكَ بِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَ ذَلِكَ فَيَقُولُ لَا وَعِزَّتِكَ فَيُعْطِي اللّٰهَ مَاشاء الله مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيَصْرِفُ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ فَإِذَا أَقْبَلَ بِهِ عَلَى الْجَنَّةِ وَ رَأَى بَهْجَتَهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَسْكُتَ ثُمَّ قَالَ يَا رَبِّ قَدِّمْنِي عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ اللّٰهُ تبارك وتعالى أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنْتَ سَأَلْتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لَا أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ فَيَقُولُ فَمَا عَسَيْتَ إِنْ أُعْطِيتَ ذَلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَهُ فَيَقُولُ لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُك غَيْرَ ذَلِكَ فَيُعْطِي رَبَّهُ مَا شَاءَ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيُقَدِّمُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَإِذَا بَلَغَ بَابَهَا فَرَأَى ظَهْرَتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ النَّضْرَةِ وَالسُّرُورِ فسكت مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَسْكُتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ فَيَقُولُ اللّٰهُ تبارك وتعالى وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي أُعْطِيتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لَا تَجْعَلْنِي أَشْقَى خَلْقِكَ فلا يزال يدعو حتى يضحك الله منه فاذا ضحك اذن لَهُ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى حَتَّى إِذَا انْقَطَعَ أُمْنِيَّتُهُ قَالَ اللّٰهُ تعالى تَمَنَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ

هلاك کړي او ځيني به توتې توتې کړي بيا به هغوئ خلاصون.تر لاسه کړي بيا چې الله تعالی د بندګانو د فيصلي څخه فارغ سي او دا اراده وکړي چې کوم خلکو د لااله الاالله اقرار کړی دی په هغوئ کي چې څوك غواړي د دوږخ څخه يې راوباسئ نو ملائکو ته به حکم وکړي چې کوم سړی چې د الله د وحدانيت اقرار کوی هغه د دوږخ څخه را وباسئ نو پر تنديو به د سجدو د نښو څخه د هغوئ شناخت کوي او د دوږخ څخه به يې وباسي ځکه چې الله تعالی پر دوږخ حرام کړي دي چې هغه د سجدو نښې وسوځي اور به د انسان ټول بدن وسوځي مګر د سجدې ځای به نه سوځي دا خلك به د دوږخ څخه په داسي حال کي را وايستل سي چې اور به هغوئ په سوځولو سره تور کړي وي پر هغوئ به آب حيات وپاشل سي او هغوئ به په دې اوبو سره داسي تازه سي لکه څرنګه چې د سيل په ختو کي دانه شنه سي او يو سړي به د جنت او دوږخ په منځ کي پاته سي چې په دوږخيانو کي به په جنت کي داخليدونکی آخري سړی وي ددې سړي مخ به د دوږخ په خوا وي او هغه به عرض وکړي اې پروردګاره ! زما مخ د دوږخ څخه واړوې د دوږخ بوی زه ذير په تکليف کي اچولی يم او د شعلو تيزي او ګرمي زه سوځلی يم الله تعالی به ورته فرمايي که زه داسي وکړم نو هسي نه چې ته به بل څه غواړې هغه سړی به وايي اې پروردګاره ! ستا په عزت مې دي قسم

رَبُّهُ حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ قَالَ اللَّهُ لَكَ ذٰلِكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ، وفي رواية ابي سعيد قال الله تعالى لك ذالك وعشرة امثاله. متفق عليه.

وي بيا به نور څه نه غوارم ددې څخه وروسته به الله تعالى چي کوم عهد د هغه څخه واخلي هغه به څيني واخلي او د هغه مخ به د دوزخ څخه وارووي بيا چي هغه سړی د جنت په لور وګوري او د هغه تازګي ووينې نو تر څو پوري چي د الله تعالى خوښه وي پټه خوله به وي او بيا به (دغه سړی وايي) اې پروردګاره! ته ما جنت ته نژدې کړې ، الله تعالى به ورته فرمايي ايا تا ددې خبري اقرار نه وو کړی چي ته به نور سوال نه کوې ، هغه سړی به وايي اې پروردګاره ! خپل په مخلوق کي ما د ټولو څخه زيات بدبخته مه کړې الله تعالى به ورته وفرمايي اميد دی که ستا دا خواهش پوره کړل سي نو بيا به ته بيو سوال کوې، هغه به وايي ستا په عزت دي مي قسم وي بيا به زه هيڅ سوال نه کوم ددې څخه وروسته چي الله تعالى د هغه څخه کوم عهد اخيستل غواړي هغه به څيني واخلي او هغه به د جنت دروازې ته نژدې کړي ، دروازې ته په نژدې کيدو سره چي هغه د جنت تازګي او ښه ژوند ووينې نو تر څو پوري چي الله تعالى ته منظوره وي هغه سړی به پټه خوله وي بيا به عرض وکړي اې الله ! ما په جنت کي داخل کړې الله تعالى به ورته فرمايي اې د ادم زويه! پر تا افسوس دی ته څومره بې وعدې او بې وفا يې ايا تا ددې وعلوه او قول نه وو کړی چي ته به د بل شي سوال نه کوې او څه چي ستا د خواهش سره سم ما درکړي دي پر هغه قناعت وکړه ، هغه به عرض وکړي اې پروردګاره! خپل په مخلوق کي ما بد ترين سړی مه جوړوې ، غرض دا چي هغه به همېشه د الله ﷻ څخه غوارې تر څو چي الله تعالى به راضي کړي او هر کله چي الله تعالى راضي سي نو جنت ته د هغه دداخليدو اجازه به ورکړي بيا به ورته الله تعالى فرمايي ستا په زړه کي که نور خواهش او ارمان وي نو هغه هم څرګند کړه هغه به خپل ارمانونه او خواهشات څرګند کړي تر دې چي د هغه خواهشات به ختم سي نو الله تعالى به ورته ووفرمايي دا ټول شيان کوم چي ته غواړې او ددې سره دومره نور تا ته درکړل سول ، او د ابوسعيد په روايت کي دا الفاظ دي چي ستا ټول ارمانونه پوره کيږي او ورسره لس چنده نور هم درکول کيږي . بخاري اومسلم

**جنت ته تر ټولو وروسته ننوتلی کس**

﴿٥٣٤٤﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ فَهُوَ يَمْشِي مَرَّةً وَيَكْبُو مَرَّةً وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً فَإِذَا جَاوَزَهَا الْتَفَتَ إِلَيْهَا فَقَالَ تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي تر ټولو به په آخر کي په جنت کي داخل سي هغه به هغه سړی وي چي د دوزخ څخه د باندې وتلو لپاره

لَقَدْ أَعْطَانِي اللّٰهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا فَيَقُولُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا ابْنَ آدَمَ لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَا يَا رَبِّ وَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشجرة لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا فَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَيَيْنِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا قَالَ بَلَى يَا رَبِّ هَذِهِ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهَا فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَإِذَا أَدْنَاهُ مِنْهَا سمع أَصْوَاتَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْخِلْنِيهَا فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ أَيُرْضِيكَ أَنْ أُعْطِيَكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا قَالَ يَا رَبِّ أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ أَلَا تَسْأَلُونِي مِمَّ أَضْحَكُ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ قَالَ هَكَذَا ضَحِكَ

به یو قدم پورته کړي او په دویم قدم به پرموخی ولویږي او پر دریم قدم به د اور شعلې د هغه بدن وسوځي غرض دا کله چي هغه د دوږخ څخه ووځي نو د دوږخ په لور به گوري او وايي به هغه ذات بزرگ او برتر دی چي ستا څخه يې ما ته خلاصون راکړ البته الله تعالی ما ته هغه شی راکړی دی چي په مخکنیو او وروستنیو خلکو کي يې هیچا ته نه دی ورکړی بیا به د هغه مخ ته یوه درخته ودرول سي چي د هغې سره به د اوبو یوه چینه وي هغه سړی به وايي اې پروردگاره ما دغه درختي ته ور نژدې کړې چي ددې په سایه کي ارام وکړم او ددې چیني څخه اوبه وڅښم، الله تعالی به ورته فرمایي اې د ادم زویه! که ما ستا خواهش پوره کړ امکان لري چي بیا به ته نور هم وغواړې، هغه سړی به وايي زه به نور هیڅ نه غواړم ددې څخه وروسته به هغه الله تعالی سره ددې خبري عهد وکړي چي هغه به نور هیڅ نه غواړي او الله تعالی چي هغه پریشانه ویني نو د هغه معذور گڼلو سره به د هغه خواهش پوره کړي ځکه الله ﷻ پوهیږي چي دی هغه نعمتونه ویني چي هغه ته صبر نه کیږي او هغه درختي ته به يې ور نژدې کړي هغه به د هغه درختي په سایه کي ارام کوي او د چیني اوبه به څښي بیا به یوه بله درخته ودرول سي چي د لومړنۍ څخه به غوره وي هغه سړی چي دا درخته ویني نو وايي به اې ربه! ما دغه درختي ته ورسوې چي ددې د چیني څخه اوبه

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مِنْ ضِحْكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ فَيَقُولُ إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ وَلٰكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَدِيرٌ. رواه مسلم، وفي رواية له عن ابي سعيد نحوه الا انه وَلَمْ يَذْكُرْ فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِيني مِنْكَ إِلَى آخر الْحَدِيثِ وَزَادَ فِيهِ وَيُذَكِّرُهُ اللّٰهُ سَلْ كَذَا وَكَذَا حتى اذا انْقَطَعَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ قَالَ اللّٰهُ هُوَ لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ قَالَ ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتَهُ فَتَدْخُلُ عَلَيْهِ زَوْجَتَاهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ فَتَقُولَانِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا وَأَحْيَانَا لَكَ قَالَ فَيَقُولُ مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُعْطِيتُ.

وڅښښم او د سايې لاندې يې ارام وکړم او ددې څخه پرته به زه نور هيڅ سوال نه کومْ الله تعالى به ورته فرمائيلي اې د ادم زويه ! ايا تا زما سره دا وعده نه وه کړې چې ددې درختې څخه پرته به نور هيڅ نه غواړم ؟ ددې څخه وروسته به الله تعالى هغه ته ووايي که زه تا دغه درختې ته نژدې کړم بيايي ته بيا به زما څخه نور سوال وکړې ؟ هغه سړی به ددغه قول وکړي چې بل هيڅ سوال به نه کوي ، او الله تعالى هم چې هغه پريشانه ويني نو معذوره به يې وګڼي څکه چې دی هغه نعمتونه ويني چې هغه ته صبر نه کيږي نو خدای ﷻ به دی هغه درختې ته رانژدې کړي او هغه به د هغه درختې په سايه کې آرام تر لاسه کړي او د چينې څخه به يې اوبه وڅښي بيا به ده ته يوه بله درخته ودرول سي چې د جنت دروازې ته به نژدې وي او د لومړنيو دواړو درختو څخه به غوره وي هغه سړی به بيا ووايي چې اې زما ربه ! ما دغه درختې ته نژدې کړه چې زه يې په سايه کې کښېنم او اوبه يې وڅښم ، الله تعالى به ورته فرمايي اې د ادم زويه ! ايا تا زما سره ددې وعده نه وه کړې چې ته به نور څه نه غواړې؟ هغه به وايي هو ، اې پروردګاره ! بس زما دا يو سوال پاته دی بيا به نور هيڅ نه غواړم ، الله تعالى چې د هغه بې صبري ويني نو معذوره به يې وګڼي او هغه (دريمې) درختې ته به يې ورسوي، هغه درختې ته چې ورسيږي نو د جنتيانو آوازونه به اوري نو وايي به اې پروردګاره ! ما په جنت کې داخل کړې ، الله تعالى به ورته فرمائي اې د ادم زويه ! په کوم شي به در څخه خلاص سم ايا ته به راضي سې چې زه تا ته په جنت کې د دنيا برابر ځای کړم او ورسره دومره نور؟ هغه سړی به وايي اې پروردګاره! ايا ته زما سره مسخرې کوې ؟ حال دا چې ته د دواړو جهانو پروردګار يې ؟ ، ابن مسعود راوي ددغه بيان کولو سره وخندل بيا يې وويل تاسو زما څخه زما د خندا پوښتنه نه کوئ؟ خلکو پوښتنه وکړه ستا د خندا سبب څه دی؟ هغه ورته وويل همداسې رسول الله ﷺ وخندل ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! تاسو ولې خاندئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما د پروردګار پر خندا وخندل ، هر کله چې هغه سړی دا ووايي چې اې پروردګاره! ايا ته زما سره

مسخرې کوې حال دا چې ته د دوارو جهانو پروردګار يې ، ددې اوريدو سره به الله تعالى وخاندي، او وه به فرمايي :يا زه ستا سره مسخرې نه کوم څکه چې زه چې څه غوارم هغه کولای سم يعني زه پر هر شي قادر يم . مسلم، د مسلم په يو بل روايت کې د ابوسعيد څخه نقل دي چې هلته دا الفاظ زيات دي چې بيا به الله تعالى هغه سړي ته ور ياد کړي چې ته فلانی فلانی شی وغواړه تر دې چې د هغه ټول خواهشات به پوره سي نو الله تعالى به ورته وفرمايي دا ټول شيان او ورسره لس چنده نور شيان هم تاته درکول سول ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به هغه سړی په جنت کې خپل کور ته داخل سي او هغه ته به د حور عين څخه دوې بيبياني راسي او ورته وايي به حمد او ثناء خداوند بزرګ لره ده چې هغه ته زموږ لپاره او موږ يې ستا لپاره پيدا کړو ، رسول الله ﷺ ويلي دي او هغه سړی به وايي څومره چې ما ته راکړل سول دومره هيچا ته نه دي ورکړل سوي .

**د دوږخ څخه جنت ته راوستل سوو کسانو ته به جهنمي ويل کيږي**

| | |
|---|---|
| ﴿٥٣٢٥﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيُصِيبَنَّ أَقْوَامًا سَفْعٌ مِنَ النَّارِ بِذُنُوبٍ أَصَابُوهَا عُقُوبَةً ثُمَّ يُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ فَيُقَالُ لَهُمُ الْجَهَنَّمِيُّونَ. رواه البخاري. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د مسلمانانو ډلو ته به د هغوئ د ګناهونو په بدله کې چې هغوئ کړي دي د دوږخ د اور سزا ورکول سي بيا به الله تعالى په |

خپل فضل او کرم سره هغوئ په جنت کې داخل کړي او د هغوئ نوم به جهنميون کښېښودل سي. بخاري.

| | |
|---|---|
| ﴿٥٣٢٦﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ. رواه البخاري وفي رواية يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَتِي يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ. | د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : يو ډله به د حضرت محمد ﷺ په شفاعت د دوږخ څخه وايستل سي ددې څخه وروسته به هغوئ په جنت کې داخل سي چې نوم به يې جهنمي کښېښودل سي ، بخاري او په يوه روايت کې راغلي چې زما د امت څخه به يو ډله |

زما په شفاعت د جهنم څخه وايستل سي چې نوم به يې جهنمين کښېښودل سي.

**هغه کس چې تر ټولو به اخر کې جنت ته ځي**

| | |
|---|---|
| ﴿٥٣٢٧﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د هغه سړي |

أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا فَيَقُولُ اللّٰهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى فَيَقُولُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا فَيَقُولُ تَسْخَرُ مِنِّي أَوْ تَضْحَكُ مِنِّي وَأَنْتَ الْمَلِكُ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَكَانَ يَقُولُ ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً. متفق عليه.

ځخه خبر یم چي تر ټولو آخر به د دوزخ ځخه وایستل سي او تر ټولو آخر به په جنت کي داخل سي دا به یو سړی وي چي پر ګونډو به د دوزخ ځخه وځي ، الله تعالی به ورته فرمایي ولاړ سه په جنت کي داخل سه نو هغه به جنت ته ولاړ سي نو هغه ته به جنت په داسي حال کي وښودل سي چي هغه به د انسانانو ځخه ډک وي هغه به وایي پروردګاره ! ما خو جنت د خلکو ځخه ډک ولیدی (یعني په دې کي زما لپاره ځای نه سته) الله تعالی به ورته فرمایي ولاړ سه او په جنت کي داخل سه موږ تاته په جنت کي د دنیا په اندازه ځای درکړی دی او د هغې ځخه لس چنده زیات او هغه به وایي اې پروردګاره! ته زما سره مسخري کوې ؟ یا دا به وایي اې پروردګاره! ته په ما پوري خندا کوې؟ حال دا چي ته پاچا یې ، ابن مسعود وایي ما ولیدل چي رسول الله ﷺ ددغه بیان سره وخندل او مخکني غاښونه یې ښکاره سول بیا یې وفرمایل : په جنتیانو کي به دا سړی د مرتبې د لحاظ ځخه کمزوی سړی وي. بخاري اومسلم

(۵۳۴۸): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوبِهِ فَيُقَالُ عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ فَيُقَالُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً فَيَقُولُ رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَا هُنَا وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ . رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه هغه سړی پیژنم چي په جنتیانو کي به تر ټولو په آخر کي جنت ته ځي او تر ټولو په آخر کي به د دوزخ ځخه وځي دا به هغه سړی وي چي د قیامت په ورځ به د پروردګار په حضور کي راوستل سي او ملائکو ته به وویل سي دده کوچني کوچني ګناهونه دده مخکي پیش کړئ او لوی لوی ګناهونه یې پټ وساتئ نو د هغه کوچني کوچني ګناهونه به ورته ښکاره کړل سي او هغه ته به وویل سي چي تا په فلانی ورځ دا خراب کار کړی وو او په فلانی ورځ دې داسي داسي کړي وه ، هغه به

وايي هو ما داسي كړي وه هغه به د هغه ګناهونو څخه انكار نه كوي ځكه چي هغه به د لويو لويو ګناهونو څخه په بيره كي وي ، بيا به هغه ته وويل سي ستا د هري بدۍ په بدله كي تا ته يوه نيكي دركړل سوه ، ددې اوريدو سره به هغه وايي اې پروردګاره ! ما خو نور هم ډير بدبد كارونه كړي دي چي هغه زه په دې كي نه وينم ، ابوذر ﷺ وايي ما وليدل چي رسول الله ﷺ ددغه بيان كولو سره وخندل، چي آخرني غاښونه يې ښكاره سول. مسلم.

**د دوږخ څخه د وتونكي يو سړي واقعه**

(۵۳۴۹): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ أَرْبَعَةٌ فَيُعْرَضُونَ عَلَى اللّٰهِ ثم يؤمر بهم الى النار فَيَلْتَفِتُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ لقد كنت ارجوا إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا ان لا تعيدني فيهَا قال فَيُنْجِيه اللّٰهُ مِنْهَا. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوږخ څخه به څلور كسان وايستل سي او د الله تعالى حضور ته به راوستل سي بيا به دوږخ ته د هغوئ د تللو حكم وكړل سي په هغوئ كي به يو مخ را واړوي او الله تعالى ته به عرض وكړي اې پروردګاره! زما خو دا اميد وو چي هر كله ته ما د دوږخ څخه راوباسې نو دويم وار به مي هلته نه ليږې ددې ويلو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به هغه ته د دوږخ څخه نجات وركړي. مسلم.

**د مؤمنانو په عذاب كي اخته كولو وجه**

(۵۳۵۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْلُصُ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَيُقَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِه لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِه فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِه كَانَ له فِي الدُّنْيَا. رواه البخاري.

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمانان به د دوږخ څخه وايستل سي او پر هغه پل به تم كړل سي چي د جنت او دوږخ په منځ كي دی (يعني پل صراط باندي) بيا به د هغوئ د حقوق بدله واخيستل سي كوم چي واقع سوې وه د دوئ په مينځ كي په دنيا كي تر دې چي هغوئ به بلكل پاك سي نو د هغوئ په جنت كي د داخليدو اجازه به وركړل سي ، قسم دی په هغه ذات چي د هغه په قبضه كي زما ساه ده چي په هغوئ كي به هر يو خپل هغه ځاى چي په جنت كي به وي په دنيا كي د خپل ځاى څخه زيات پيژني. بخاري.

**د هر بنده لپاره په جنت او دوږخ كي ځايونه خاص دي**

(۵۳۵۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ أَحَدٌ الْجَنَّةَ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ لَوْ أَسَاءَ لِيَزْدَادَ شُكْرًا وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ أَحْسَنَ لِيَكُونَ عَلَيْهِ حَسْرَةً. رواه البخاري.

الله ﷺ وفرمايل : خوك به تر هغه وخته پوري په جنت کي نه داخليږي تر څو پوري چي هغه ته هغه ځای ونه ښودل سي که هغه بدکارونه کولای نو هغه لپاره به دوږخ کي تاکل سوی وای او دا ددي لپاره چي د هغه په زړه کي شکر گزاري جذبه زياته سي او خوك به تر هغه وخته پوري دوږخ ته نه سي ليږل کيدلای تر څو پوري چي هغه ته په جنت کي د هغه ځای ونه ښودل سي چي هغه لپاره به تاکل سوی وي که هغه ښه کارونه کړي وي دادد‌ي لپاره چي د هغه حسرت زيات سي. بخاري.

**کله چي مرگ هم مرگ ته حواله سي**

(۵۳۵۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ يُذْبَحُ ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي جنتيان په جنت کي او دوږخيان په دوږخ کي داخل سي نو مرگ به راوستل سي او هغه به د دوږخ او جنت په منځ کي ذبح کړل سي بيا به اعلان وکړل سي چي اې جنتيانو او اې دوږخيانو ! اوس به مرگ نه راځي ددې اوريدو سره به د جنتيانو خوشحالي تر پخوا زياته سي او دوږخيان به تر پخوا په رنج او غم کي ډوب سي. بخاري اومسلم.

## دويم فصل

**حوض کوثر ته تر ټولو مخکي راتلونکي فقراء مهاجرين**

(۵۳۵۳): عَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَوْضِي مِنْ عَدَنَ إِلَى عَمَّانَ الْبَلْقَاءِ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ وَأَكَاوِيبُهُ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا أَوَّلُ النَّاسِ وُرُودًا عَلَيْهِ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ الشُّعْثُ رُءُوسًا الدُّنْسُ ثِيَابًا الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ وَلَا تُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ. رواه احمد والترمذي

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د حوض اوږدوالی دومره دی لکه څومره فاصله چي د عدن او عمان بلقاء په منځ کي ده ددې حوض اوبه د شيدو څخه زياتي سپيني او د شاتو څخه زياتي خوږې دي ددې لوښي د چيښلو لوښو تعداد د آسمان د ستورو سره برابر دی، چا چي يو وار ددې څخه

وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب.

اوبه وچېښلي بيا به هغه هيڅکله نه تږی کيږي،

د ټولو څخه مخکي به حوض ته فقراء د مهاجرينو راځي چي د هغوئ د سر وريښتان پريشانه او جامې خيرني وي او هغه فقراء او مهاجرين چي د هغوئ سره به د اسوده حاله ښځو نکاح نه کېدل (په دنياکي) او د هغوئ لپاره (په دنيا) کي د کورونو بندي دروازې نه خلاصيدلې. احمد ، ترمذي او ابن ماجه.

## حوض کوثر ته راتلونکي کسان به بې شميره وي

(۵۳۵۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ جُزْءٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ جُزْءٍ مِمَّنْ يَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ قِيلَ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ سَبْعُ مِائَةٍ أَوْ ثَمَانَ مِائَةٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي موږ پر يو ځای تم سوو ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : تاسو د سلو زرو حصو څخه يوه حصه ياست چي حوض کوثر ته به ما ته راځي ، خلکو د زيد بن ارقم څخه پوښتنه وکړه چي په دغه ورځ ستاسو شمير څومره وو هغه وويل اووه سوه يا اته سوه . ابوداؤد.

## هر نبي ته يو حوض ورکړل سوی دی

(۵۳۵۵): وَعَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوْضًا وَإِنَّهُمْ يَتَبَاهَوْنَ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ وَارِدَةً وَإِنِّي أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً . رواه الترمذي.

د حضرت سمرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به د هر نبي يو حوض وي او انبياء به په دې فخر کوي چي د چا حوض ته زيات خلك راځي او زما اميد دی چي تر ټولو زيات خلك به زما حوض ته راځي. ترمذي.

## د قيامت په ورځ به رسول الله ﷺ په کوم کوم ځای کي وي

(۵۳۵۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَشْفَعَ لِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ أَنَا فَاعِلٌ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ قَالَ اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ قَالَ فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْمِيزَانِ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ قَالَ فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ. رواه الترمذي و قال حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي د قيامت په ورځ زما شفاعت وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل زه کونکی د شفاعت يم ، ما عرض وکړ اې داالله رسوله ! زه به تاسو په کوم ځای کي ولټوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: په لومړي کي ما پر پل صراط ولټوه ، ما عرض وکړ که تاسو پر پل صراط نه واست ؟ نو رسول

الله ﷺ وفرمایل: نو پر میزان باندې، ما وویل: که پر میزان باندې هم تاسو نه واست؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: پر حوض کوثر باندې زه به دا درې ځایونه نه پرېږدم. ترمذي.

**د مقام محمود او د الله ﷻ د کرسۍ ذکر**

(۵۳۵۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قِيْلَ لَه مَا الْمَقَامُ الْمَحْمُوْدُ قَالَ ذٰلِكَ يَوْمَ يَنْزِلُ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى كُرْسِيِّهٖ فَيَئِطُّ كَمَا يَئِطُّ الرَّحْلُ الْجَدِيْدُ مِنْ تَضَايُقِهٖ وَهُوَ كَسَعَةِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَيُجَاءُ بِكُمْ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا فَيَكُوْنُ اَوَّلَ مَنْ يُكْسٰى اِبْرَاهِيْمُ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى اُكْسُوْا خَلِيْلِيْ فَيُؤْتٰى بِرَيْطَتَيْنِ بَيْضَاوَيْنِ مِنْ رِيَاطِ الْجَنَّةِ ثُمَّ اُكْسٰى عَلٰى اِثْرِهٖ ثُمَّ اَقُوْمُ عَنْ يَمِيْنِ اللّٰهِ مَقَامًا يَغْبِطُنِيْ الْاَوَّلُوْنَ وَالْاٰخِرُوْنَ . رواه الدارمي.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وسول چې مقام محمود څه شي دی؟ چې په دغه آیت کې د هغه وعده سوې ده (عسى ان يبعثك ربك مقاما محمودا) رسول الله ﷺ وفرمایل: دا مقام محمود به په هغه ورځ تر لاسه کیږي په کومه ورځ چې الله تعالی پر خپله کرسۍ کښېني او دا کرسی به داسې چغهار کوي لکه څرنګه چې نوې کجاوه د تنګوالي په وجه چغهار کوي، د کرسي پراخ والي دومره دی لکه د آسمان او مځکې په منځ کې فضا، بیا به تاسو لوڅ او نا سنته راوستل سئ او کومو خلکو ته چې په دغه ورځ لباس واغوستل سي په هغوئ کې به تر ټولو لومړی حضرت ابراهیم علیه السلام وي الله ﷻ به ووایي زما خلیل ته جامې ور واغوندی نو دوه سپین رنګي څادرونه به د جنت له څادرونو څخه راوړل سي، د هغه څخه وروسته به ما ته جامه را واغوستل سي بیا به زه د الله تعالی راسته خوا ته ودرېږم او مځکني او وروستني ټول خلك به غبطه را سره وکړي. دارمي.

**پر پل صراط باندې د مؤمنانو پېژندنه**

(۵۳۵۸): وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِعَارُ الْمُؤْمِنِ عَلَى الصِّرَاطِ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ .رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت مغیرة بن شعبة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به پر پل صراط د مؤمنانو نښه دا الفاظ وي (رب سلم سلم) یعني مؤمنان به دا الفاظ وایي چې پروردګاره! موږ سلامت لرې، موږ سلامت لرې. ترمذي.

**د ګناه کبیره شفاعت یوازې ددغه امت لپاره خاص دی**

(۵۳۵۹): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شَفَاعَتِيْ لِاَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِيْ. رواه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما شفاعت به د کبیره ګناهونو

الترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجه عن جابر.

لپاره خاص وي (يعني بل هيڅ يو پيغمبر به د گناه كبيره شفاعت نه سي كولاى). ترمذي. ابوداؤد او ابن ماجه د حضرت جابر ﷺ څخه روايت كوي.

**د رسول الله ﷺ شان رحمت**

(٥٣٦٠): وَعَنْ عَوْف بْنِ مَالك قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ أَتَاني آت منْ عند رَبِّي فَخَيَّرَني بَيْنَ أَنْ يُدْخلَ نصْفَ أُمَّتي الْجَنَّةَ وَبَيْنَ الشَّفَاعَة فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ وَهيَ لمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰه شَيْئًا. رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت عوف بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى د لوري څخه به ما ته يوه ملائكه راغله او ما ته يې ددې اختيار راكړ چي يا څو زه د خپل نيم امت په جنت كي داخليدل ومنم يا شفاعت اختيار كړم. نو ما شفاعت غوره كړی او زما شفاعت به د هر هغه سړي لپاره وي چي هغه تر مرگه پوري د الله تعالى سره هيڅ شي شريك كړی نه وي. ترمذي او ابن ماجه.

**د شفاعت ذكر**

(٥٣٦١): وَعَنْ عَبْدالله بْنِ أَبِي الْجَذْعَاء قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَة رَجُلٍ منْ أُمَّتي أَكْثَرُ منْ بَني تَميمٍ. رواه الترمذي والدارمي وابن ماجه.

د حضرت عبدالله بن ابي جدعاء ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي زما د امت د يو كس سفارش سره به د بني تميم قبيلې د خلكو د تعداد څخه زيات خلك په جنت كي داخل سي. ترمذي، دارمي او ابن ماجه

(٥٣٦٢): وَعَنْ أَبي سَعيد أَنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ منْ أُمَّتي مَنْ يَشْفَعُ للْفئَام وَمنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ للْقَبيلَة وَمنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ للْعُصْبَة وَمنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ للرَّجُلِ حَتَّى يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت كي به ځيني خلك وي چي د څو ډلو سفارش به كوي او ځيني به د يوې قبيلې سفارش كوي او ځيني به د يو عصبه نسبي كورنۍ او ځيني به يوازې د يوه سړي تر دې چي زما ټول امت به په جنت كي داخل سي. ترمذي.

**د حساب او كتاب څخه پرته جنت ته تلونكي**

(٥٣٦٣): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَني أَنْ يُدْخلَ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى زما سره وعده كړې ده چي هغه به زما د امت څلور لكه كسان بې

الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ أَرْبَعَمِائَةِ أَلْفٍ بِلاَ حِسَابٍ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ زِدْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَهٰكَذَا فَحَثَا بِكَفَّيْهِ وَجَمَعَهُمَا فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ زِدْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَهٰكَذَا فَقَالَ عُمَرُ دَعْنَا يَا أَبَابَكْرٍ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ وَمَا عَلَيْكَ أَنْ يُدْخِلَنَا اللّٰهُ كُلَّنَا الْجَنَّةَ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَنْ يُدْخِلَ خَلْقَهُ الْجَنَّةَ بِكَفٍّ وَّاحِدٍ فَعَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ عُمَرُ .رواه في شرح السنة.

حسابه په جنت کي داخل کړي، حضرت ابوبکر ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! زموږ شمیر نور زیات کړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل : او دومره نور، ددې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د خپلو دواړو لاسونو مبارکو څخه لپه جوړه کړه او خلکو ته یې وښودل ، حضرت ابوبکر ﷺ بیا وویل اې دالله رسوله ! زموږ شمیر نور هم زیات کړئ ، رسول الله ﷺ بیا لپه جوړه کړه او وه یې فرمایل او دومره نور ، حضرت عمر ﷺ وویل: اې ابوبکرا موږ پر خپل حال پرېږده (یعني چې موږ عبادت وغیره وکړو) ابوبکر ﷺ ورته وویل که الله تعالی موږ ټول په جنت کي داخل کړي نو په دې ستا څه تاوان دی؟ حضرت عمر ﷺ ورته وویل : که الله تعالی خپل ټول مخلوق په یو موټ ډکولو سره یا په یو وار جنت کي داخلول غواړي نو داخلولای یې سي . نبي کریم ﷺ وفرمایل : عمر ریښتیا وویل. شرح السنه.

**گناه کار خلک به څرنګه خپل شفاعت کوي**

(٥٣٦٤): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُفُّ أَهْلُ النَّارِ فَيَمُرُّ بِهِمِ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَقُوْلُ الرجل يَا فُلاَنُ أَمَا تعرفني انا الذي سقيتك شربة وقال بعضهم انا الذي وهبت لك وضوء فيشفع له فيدخله الجنة. رواه ابن ماجه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دوږخیان به صف ترلي ولاړ وي چي یو جنتي به د هغوئ مخته تېر سي د هغه صف څخه به یو دوږخي هغه مخاطب کړي ورته به وایي ته ما پیژني زه هغه سړی وم چي پر تا باندي مي اوبه څښنلي وې ، یو بل سړي به ورته وایي زه هغه سړی یم چي د اودس لپاره مي تا ته اوبه درکړي وې هغه جنتي به یې سفارش وکړي او جنت ته به یې بوځي . ابن ماجه.

**د الله ﷺ د رحمت دوه مظاهر**

(٥٣٦٥): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ رَجُلَيْنِ مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا فَقَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ أَخْرِجُوْهُمَا فَلَمَّا أُخْرِجَا قَالَ لَهُمَا لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا قَالاَ فَعَلْنَا ذٰلِكَ لِتَرْحَمَنَا قَالَ إِنَّ رَحْمَتِيْ لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم خلك چي په دوږخ کي داخل سي په هغوئ کي به دوه کسان زیات شور کوي ، الله تعالی به حکم ورکړي چي دوئ را وباسئ ، کله چي هغه حاضر سي نو الله تعالی

فَتَلْقِيَا أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ فَيَنْطَلِقَانِ فَيُلْقِي أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ فَيَجْعَلُهَا عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا وَيَقُومُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِي نَفْسَهُ فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِي فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ لَكَ رَجَاؤُكَ فَيُدْخَلَانِ جَمِيعًا الْجَنَّةَ بِرَحْمَةِ اللَّهِ. رواه الترمذي.

به پوښتنه وکړي تاسو ولې چغې وهئ ، هغوئ به وايي مونږ خکه چغې وهو چې پر مونږ رحم وکړل سي ، الله تعالی به ورته وفرمايي زما رحم ستاسو لپاره دادی چې تاسو بیرته ولاړ سئ په کوم ځای کې چې تاسو پراته واست هلته ځان په اور کې واچوئ، يو خو به سمدستي په دغه حکم عمل وکړي يعني خپل ځان به په اور کې وغورځوي چې الله تعالی به يې يخ او د امن ځای جوړ کړي (د هغه لپاره)، او دويم سړی به ددې حکم تعميل نه کوي ، الله تعالی به د هغه څخه پوښتنه وکړي تا خپل ځان په اور کې ولې ونه غورځوی لکه څرنگه چې ستا ملگري غورځولی دی ؟هغه به وايي زه اميد لرم چې د کوم ځای څخه تا را ايستلی يم هلته به مي بيا نه لیږې ، الله تعالی به ورته وفرمايي ښه ده ستا چې کوم اميد وو هغه ستا لپاره پوره کړل سو نو الله تعالی به دواړه په خپل رحمت سره په جنت کې داخل کړي. ترمذي.

**پر پل صراط باندې د تیریدو حکم**

(٥٣٦٦): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ ثُمَّ يَصْدُرُونَ مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ فَأَوَّلُهُمْ كَلَمْحِ الْبَرْقِ ثُمَّ كَالرِّيحِ ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ثُمَّ كَمَشْيِهِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (پر پل صراط تيريدو سره به) خلك اور ته ننوځي بيا به د خپل اعمال صالحه سره سم د هغه څخه خلاصون تر لاسه کړي ، په هغوئ کې کوم خلك چې تر ټولو غوره وي هغوئ به د برېښنا د ځلا په ډول پر پل صراط تير سي ځيني به د هواء په ډول ، ځيني به د تيزو آسونو په ډول. ځيني به د اوښ د سپور په ډول، ځيني به د سړي د ځغاستي په ډول او ځيني به د پياده تلونکي په ډول. ترمذي او دارمي.

## دريم فصل

**د حوض کوثر پراخوالی**

(٥٣٦٧): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضِيْ ما بين جنبيه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (د قيامت په ورځ

كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ قال بعض الرواة هُمَا قَرْيَتَانِ بِالشَّامِ بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ ثَلَاثِ لَيَالٍ وَفِي رواية فيه أَبَارِيقُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ وَرَدَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا. متفق عليه.

ستاسي په وراندې زما حوض دى چې د هغه د دوارو غاړو فاصله دومره ده لکه څومره چې د جرباء او اذرح په منځ کې فاصله ده د ځيني راويانو بيان دى چې جرباء او اذرح په شام کې دوې ابادۍ دي، چې د هغوئ په منځ کې د درو شپو مزل فاصله ده او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې په دغه حوض کې د اوبو د لوښو شمېر د آسمان د ستورو برابر دى، څوک چې دغه حوض ته راسي او د دغه څخه اوبه وڅيښي بيا به هيڅکله نه تږى کيږي، بخاري او مسلم.

**شفاعت او د پل صراط يادونه**

(٥٣٦٨): وَعَنْ حُذَيْفَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ يَا أَبَانَا اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ فَيَقُولُ وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ آدَمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ خَلِيلِ اللّٰهِ قَالَ فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ اعْمِدُوا إِلَى مُوسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِيمًا فَيَأْتُونَ مُوسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللّٰهِ وَرُوحِهِ فَيَقُولُ عِيسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ قَالَ قُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ قَالَ أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ ثُمَّ

د حضرت حذيفه او ابوهريره (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به د قيامت په ورځ خلک يو ځاى کړي، بيا به مؤمنان پر يو ځاى ولاړ وي او جنت به هغوئ ته نږدې راوستل سي بيا به خلک آدم عليه السلام ته راسي ورته به وايي اې زموږ باباجانه! زموږ لپاره د جنت خلاصولو طلب وکړه، آدم عليه السلام به ورته وايي تاسو خو د جنت څخه ستاسو د پلار خطا ايستلي ياست، زه ددې کار لائق نه يم تاسو زما زوى ابراهيم عليه السلام ته ورسئ نو هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي زه ددې کار لائق نه يم زه دنن څخه مخکې د الله تعالى دوست وم تاسو موسى عليه السلام ته ورسئ چې الله تعالى ورسره کلام کړى دى، هغوئ به موسى عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي زه ددې کار لائق نه يم تاسو عيسى عليه السلام ته ورسئ هغه د الله کلمه او روح ده، هغوئ چې ورسي نو هغه به ورته وايي زه ددې کار لائق نه يم، آخر

كَمَرِّ الطَّيْرِ وَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا قَالَ وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ تَأْخذ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ وَمَكْدُوسٌ فِي النَّارِ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعِين خَرِيفًا. رواه مسلم.

خلك به جضرت محمد ﷺ ته راسي نو محمد ﷺ به ولاړ سي نو اجازه به ورته وسي ،بيا به امانت او رحم راوليږل سي او هغوئ دواړه به د پل صراط راسته او چپه خوا ته ودريږي او د پل صراط څخه به تيريدل پيل سي د ټولو څخه مخكي ډله به د بريښنا په ډول تير سي ، د ابوهريره ﷺ بيان دئ چي ما پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! زما مور اوپلار دي پر تاسو قربان وي د بريښنا په ډول به څنګه تير سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا ته نه وينې چي د بريښنا خلا څنګه تيريږي او د سترګو په رپ كي بيرته راسي ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې څخه وروسته به خلك د هواء په ډول تير سي بيا به د مرغانو په ډول تير سي بيا د خلكو دځغاستي په ډول به تير سي او دا رفتار به د هغوئ د اعمالو سره سم وي، او ستاسو نبي ﷺ به پر پل صراط ولاړ دا وايي (رب سلم سلم) يعني اې الله (مونږ) سلامت لرې ، مونږ سلامت لرې، تر دې چي د بندګانو أعمال به عاجزه سي (يعني داسي خلك به پاته سي چي د هغوئ د اعمالو د قوت رفتار به سست سي او هغوئ به پر پل صراط نه سي تيريدلاى ، نو يو سړى به په ځكيدو راسي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل د پل صراط دواړو خواوو ته به انبورونه زړهدلي وي هغو ته به حكم وركړل سوى وي چي هغه څوك ونيسي چي د هغه د نيولو حكم سوى وي نو هغه انبور به ځيني خلك نوكاري كړي خو بيرته به ځيني خلاص سي او ځيني به لاس او پښي تړلي په دوږخ كي وغورځول سي ، په هغه ذات دي مي قسم وئ چي د هغه په قبضه كي د ابوهريره ساده ده د دوږخ ژوروالى د اويا كالو د لاري برابر دى. مسلم.

### د دوږخ څخه په ايستلو سره جنت ته رسيدونكي خلك

(۵۳۶۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ قوم بِالشَّفَاعَةِ كَأَنَّهُمُ الثَّعَارِيرُ قُلْنا مَا الثَّعَارِيرُ قَالَ إِنَّهُ الضَّغَابِيسُ. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو شفاعت په سبب به د دوږخ څخه يو ډله را وايستل سي فكر به كيږي چي هغوئ ثعارير دي ، مونږ عرض وكړ ثعارير څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه خوشايي (سوځيدلي) دي. (يعني لكه څرنګه چي خوشايي سوځيدلي دي همداسي به دا خلك هم سوځيدلي راووځي او په نهر حيوة كي د لويدلو سره به تازه سي) . بخاري او مسلم.

(٥٣٧٠): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ. رواه ابن ماجه.

د حضرت عثمان بن عفان ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به درې ډوله خلك شفاعت کوي: لومړی انبیاء علیهم السلام، بیا عالمان او بیا شهیدان. ابن ماجه.

# بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَاَهْلِهَا (د جنت او جنتیانو د صفت بیان)

## لومړی فصل

### د جنت ذکر

(٥٣٧١): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمایلي دي ما د خپل نیکو بندګانو لپاره هغه شی تیار کړی دی چي تر ننه پوري نه یوې سترګي لیدلی دی او نه یو غوږ اوریدلی دی او نه د یو انسان په زړه کي د هغه خیال تیر سوی دی، که تاسو ددې تصدیق غواړئ نو دا آیت ووایاست: (فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعین) (هیڅوک هغه شی نه پیژني چي هغه د نیکانو لپاره پټ ساتل سوی دی او د سترګو د یخوالي سبب دی). بخاري اومسلم.

### د جنت فضیلت

(٥٣٧٢): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. متفق عليه

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي د یوې دُرې په اندازه ځای د دنیا او د دنیا د ټولو شیانو څخه غوره دی. بخاري اومسلم.

### د جنت د حورو تعریف

(٥٣٧٣): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سهار او مابنام د الله تعالی په لار کي یو وار تلل د دنیا او څه چي په

وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْ مَا بَيْنَهُمَا رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. رواه البخاري.

دنيا کي دي تر ټولو غوره دی، او که د جنتيانو د ښځو ښځه يوه ښځه مځکي ته رانبکاره سي نو د جنت او مځکي په مينځ کي فاصله به روښانه کړي او دا ټوله فضا به د خوشبويي ځخه ډکه کړي او د هغې د سر پوړنی تر دنيا او څه چي په دنيا کي دي تر هغو ټولو غوره دی. بخاري او مسلم.

### د جنت د يوې درختي ذکر

(۵۳۷۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقطعها وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ أَوْ تَغْرُبُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ ځخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي يوه درخته ده که يو سپور د هغې په سايه کي تر سلو کلو پوري مزل کوي نو هم به هغه سايه ختم نه کړل سي او په جنت کي ستاسو د ليندۍ برابر ځای د هغه ټولو شيانو ځخه غوره دی چي پر هغو لمر راخيژي يا لويږي. بخاري او مسلم.

### د جنت خيمه

(۵۳۷۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا، وفي رواية طُولُهَا سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ يَطُوفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُونَ وَجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذهب آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ. متفق عليه.

د حضرت ابوموسى ﷺ ځخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي به د مؤمن لپاره د يوې ملغلري يوه خيمه وي چي د هغې عرض به شپيته ميله وي (او په يوه روايت کي طول به يې شپيته ميله وي ، ددې خيمې په هر کونج کي به د هغه بيبياني وي او د يوه کونج سرې به د بل کونج سرې نه سي ليدلای پر هغوئ باندي به مؤمن بنده ګرځي او د مؤمن لپاره به دوه جنتونه وي چي د هغه لوښي او ټول شيان به د سپينو زرو وي او دوه جنتونه به نور هم وي چي لوښي او شيان به يې د سرو زرو وي او د خلکو او د هغوئ د پروردګار په منځ کي به جنت عدن کي د بزرګی او عظمت يوازي يوه پرده حائله وي. بخاري او مسلم.

## د جنت درجې

(۵۳۷۶): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَ الْأَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ الْعَرْشُ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ. رواه الترمذي و لم اجده في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي.

د حضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي سل درجې دي په هغو کي د هر دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده لکه څومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي فاصله ده او فردوس د جنت تر ټولو اعلی درجه ده او ددغه فردوس څخه د جنت څلور ویالي وځي او د فردوس سربېره عرش الهي دی، هر کله چي تاسو د الله ﷺ څخه جنت غواړئ نو جنت فردوس څیني غواړئ، ترمذي، مګر ما په مسلم او بخاري کي او په کتاب د حمیدي کي دا حدیث نه دی لیدلی.

## د جنت بازار

(۵۳۷۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدْ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ وَاللّٰهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَقُولُونَ وَأَنْتُمْ وَاللّٰهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي یو بازار دی چي په هغه کي به هره جمعه جنتیان یو ځای کیږي او هلته به شمالي هواء چلیږي نو د جنتیانو پر مخونو او جامو باندي به خوشبویي واچوي او ددې په سبب به د هغوئ په حسن او ښکلا کي زیاتوالی وسي بیا هر کله چي هغوئ خپلو بیبیانو ته ولاړ سي نو د هغوئ بیبیاني به ورته وایي قسم په خدای زموږ څخه د تګ وروسته تاسو په حسن او جمال کي زیات سوي یاست ددې په جواب کي به ورته هغوئ وایي قسم په خدای او زموږ څخه وروسته ستاسو حسن او جمال هم زیات سوی دی. مسلم.

## د جنت د نعمتونو ذکر

(۵۳۷۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ كَأَشَدِّ

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم خلك چي تر ټولو مخکي به په جنت کي داخل سي هغوئ به (په ښکلاکي) د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په

كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً قلوبهم على قلب رجل واحد لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ لِكُلِّ امرئ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ يُسَبِّحُونَ اللَّهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا لَا يَسْقَمُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ ولا يَمْتَخِطُونَ آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الْأَلُوَّةُ وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ عَلَى خَلْقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ. متفق عليه.

ډول وي ، د هغوئ څخه وروسته چي کومه ډله داخله سي هغوئ به د ځلانده ستوري په ډول وي چي د لمر او سپوږمۍ څخه کم او د نورو ستورو څخه به زيات ځلانده وي د دوئ زړونه به په مثل د يو سړي د زړه وي نه به په منځ د دوئ کي اختلاف وي او نه بغض او عداوت وي ، په جنت کي به د هر جنتي دوې ښځي د حور عين (د غټو سترګو) څخه وي چي د حسن له جهته به د هغوئ د پنډيو مغز به په غوښه او هډوکو کي معلوميږي، جنتيان به سهار او ماښام تسبيح وايي د خدای ﷻ لپاره، نه به ناروغ کيږي نه به واړه او نه به لوی بولي ورته راځي ، نه به ناړي توکي او نه به پزه سوڼ کوي ، د جنتيانو لوښي به د سرو زرو او سپينو زرو وي ، د هغوئ ږمونځي به د سرو زرو وي، د هغوئ د بلولو شی به خوشبوداره لرګی وي د هغوئ خوله به مشك وي او ټول جنتيان به د يو سړي په سيرت او عادت وي او په شکل او صورت کي به د خپل پلار حضرت آدم عليه السلام په ډول وي د هغوئ قد به شپيته ګزه لوړ وي. بخاري او مسلم.

**جنتيانو ته به د تشو او وړکو بولو کولو حاجت نه وي**

(٥٣٧٩): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ قَالُوا فَمَا بَالُ الطَّعَامِ قَالَ جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جنتيان به په جنت کي خوراك او څښاك کوي ، نه به توکي نه به کوچنۍ او غټي بولي کوي او نه به پزه سوڼ کوي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه د خوراك به پالتو مواد به چيري ځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د اروړمۍ په ډول او خوله به سي چي دمشکو په ډول خوشبويه به سي او څرنګه چي تاسو ته په طبعي توګه سره ساه اخيستل ښودل سوي دي همداسي به جنتيانو ته تسبيح او تحميد په طبعي توګه سره د هغوئ په زړونو کي اچول سوي وي. مسلم.

## د جنتیانو همېشه عیش او ارام

(۵۳۸۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي په جنت کي داخل سي هغه به آرام او خوشحاله وي فکر او غم به ورته نه راځي نه به يې جامې زړېږي او نه به يې ځواني ختمېږي. مسلم

(۵۳۸۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قالا ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ يُنَادِي مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوسعید او ابوهریره رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي به اعلان کونکی اعلان وکړي چي تاسو به روغ اوسئ او هیڅکله به نه ناروغ کیږئ، او همېشه به ژوندي یاست هیڅکله به نه مړه کیږئ او همېشه به ځوانان یاست او هیڅکله به نه سپین ږیري کیږئ او تاسو به په خوشحالي او آرام سره یاست فکر او غم به هیڅکله نه وي. مسلم

## د جنت د بالاخانو اوسېدونکي

(۵۳۸۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ قَالَ بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ رِجَالٌ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ. متفق عليه.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جنتیان به د خان سربیره لوړ خلك داسيویني لکه څرنګه چي تاسو هغه ځلانده ستوري وینئ چي د طلوع او غروب په وخت کي د آسمان پر غاړه وي او دا بالاخاني د بزرګی او د مرتبو د فرق په سبب دي چي د جنتیانو په منځ کي به تر لاسه کیږي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! ایا دا بالاخاني به د انبیاؤ ځایونه وي او د انبیاؤ څخه پرته بل څوك به په دې کي داخلیدلای نه سي، رسول الله ﷺ وفرمایل: هو په هغه ذات دي مې قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده هغې ته به هغه خلك ورتلای سي چي پر الله تعالی یې ایمان راوړی وی او د پیغمبرانو تصدیق یې کړی وي. بخاري او مسلم

## د یو ځو جنتیانو ذکر

| | |
|---|---|
| (٥٣٨٣): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي به ځيني ذلي د داسي خلکو داخل سي چي د هغوئ |

زړونه به د مرغانو د زړونو په شان وي (يعني ډير نرم او د بغض او حسد څخه پاك). مسلم.

## د الله ﷻ رضا

| | |
|---|---|
| (٥٣٨٤): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَقُولُونَ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ والخير في يديك فَيَقُولُ هَلْ رَضِيتُمْ فَيَقُولُونَ وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ فَيَقُولُ أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ فيقولون يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ فَيَقُولُ أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا. متفق عليه. | د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به جنتيانو ته فرمايي: اې جنتيانو! هغوئ به وايي اې زموږ پروردګاره! موږ حاضر يو، ستا په خدمت کي موجود يو، او خير ستا په لاس کي دی، الله تعالى به پوښتنه وکړي ايا تاسو راضي او خوشحاله ياست؟ هغوئ به وايي: اې پروردګاره! موږ به ولي راضي او خوشحاله نه يو تاسو موږ ته هغه څه راکړي دي چي په خپل |

مخلوق کي دي هيچا ته نه دي ورکړي، الله تعالى به ورته فرمايي ايا ددې تولو شيانو څخه غوره شی در کړم؟ هغوئ به وايي اې پروردګاره! ددې څخه غوره بل کوم شی کيدای سي؟ الله تعالى به ورته فرمايي زه تاسو ته خپله رضا درکوم. (يعني زه در څخه راضي يم) اوس به زه ستاسو څخه هيڅکله ناراضه نه سم. بخاري او مسلم.

## د معمولي جنتي مرتبه

| | |
|---|---|
| (٥٣٨٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَدْنَى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُولَ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى وَيَتَمَنَّى فَيَقُولُ لَهُ هَلْ تَمَنَّيْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي د ادنا سړي به په جنت کي دا مرتبه وي چي الله تعالى به هغه ته فرمايي غوښتنه وکړه، هغه به غوښتني وکړي نو هغه ته به وويل سي ستا په زړه کي چي څومره ارمانونه وه هغه پوره سول هغه به عرض وکړي هو |

، الله تعالى به ورته فرمايي هغه تول شيان چي تا غوښتي وه او هغومره نور هم درکړل سول. مسلم.

**هغه څلور دریابونه چي د هغو سرچشمه په جنت کي ده**

| | |
|---|---|
| (۵۳۸۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سيحون، جيحون، فرات او نيل دا ټول د جنت ويالې دي. مسلم. |

**دجنت او دوږخ پراخوالی**

| | |
|---|---|
| (۵۳۸۷): وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ قَالَ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ فَيَهْوِى فِيهَا سَبْعِينَ خريفا لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا وَ وَاللّٰهِ لَتُمْلَأَنَّ وَلَقَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ. رواه مسلم. | د حضرت عتبه بن غزوان ﷺ څخه روايت دی چي موږ ته وويل سول (يعني د رسول الله ﷺ حديث بيان کړل سو) که د دوږخ د غاړي څخه يوه ډبره وويشتل سي نو هغه به په اويا کاله کي د دوږخ بيخ ته ونه رسيږي او په الله ﷺ دي مي قسم وي د دوږخ دا ژوروالی به ډک سي، او زموږ په وړاندي ذکر وسو چي د جنت دروازې د دواړو تنبو په منځ کي به د |

څلوېښتو کالو د مزل فاصله وي او يوه ورځ به داسي وي چي جنت به د خلکو څخه ډک وي. مسلم.

## دويم فصل

**د جنت جوړولو ذکر**

| | |
|---|---|
| (۵۳۸۸): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ قَالَ مِنَ الْمَاءِ قُلْنَا الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا قَالَ لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ مَنْ يَدْخُلُهَا يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ وَيَخْلُدُ لَا يَمُوتُ لَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ. رواه احمد والترمذي والدارمي . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! مخلوق د څه شي څخه پيدا سوی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د اوبو څخه ، ما بيا پوښتنه وکړه جنت د څه شي څخه جوړ سوی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د جنت يوه خښته د سرو او يوه د سپينو زرو ده ، او ددې د تعمير خټه تيزه خوشبوداره مشک |

دي او د جنت ډبري غميان او ياقوت دي او زعفران يې خاوره ده څوک چي پکښې داخل سي نو په آرام او راحت به وي او فکر مند به نه وي همېشه به ژوندی وي مړ کيږي به نه، او نه به زړيږي او ځواني به يې هيڅکله نه ختميږي . احمد ، ترمذي او دارمي.

## دجنت درختي

| | |
|---|---|
| (۵۳۸۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ. رواه الترمذي. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي چي کومي درختي دي د هغو ټولو تنې د سرو زرو دي ، ترمذي. |

## د جنت درجې

| | |
|---|---|
| (۵۳۹۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي سل درجې دي او د هرو دوو درجو په منځ کي د سل کالو د |

مزل فاصله ده . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

| | |
|---|---|
| (۵۳۹۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ لَوْ أَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي إِحْدَاهُنَّ لَوَسِعَتْهُمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي سل درجې دي که د ټول عالم خلك په يوې درجې کي يو ځاى سي نو د هغوئ لپاره به بس وي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی. |

## د جنت فرش

| | |
|---|---|
| (۵۳۹۲): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ قَالَ ارْتِفَاعُهَا لَكَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ مَسِيرَةَ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ددغه آيت (وفرش مرفوعة...) په اره فرمايلي دي چي ددې فرشونو لوړوالى به دومره وي څومره چي د آسمان او ځمکي په منځ کي |

مزل دی يعني د پنځه سوو کالو لار . ترمذي وويل دا حديث غريب دی.

## د جنتيانو خلانده مخونه

| | |
|---|---|
| (۵۳۹۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوهِهِمْ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ عَلَى مِثْلِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يُرَى | د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ چي په جنت کي کومه ډله تر ټولو مخکي داخله سي د هغوئ مخونه به د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په ډول وي او بله ډله چي د هغوئ |

مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا . رواه الترمذي.

څخه وروسته داخله سي د هغوئ مخونه به په آسمان کي تر تولو زيات ځليدونکي ستورو په دول وي او هر جنتي ته به دوې داسي بيبياني ورکړل سي چي د هري بي بي پر بدن به اويا جوړي جامې وي او د هغوئ د پنډيو دننه مغز به معلوميږي. ترمذي.

**د جنتيانو مردانه قوت**

(۵۳۹۴): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَ يُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ . رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي به مؤمن ته د جماع کولو دومره او دومره طاقت ورکړل سي ، پوښتنه وسول اي دالله رسوله! ايا دی به دومره طاقت لرلای سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو د سلو کسو په اندازه قوت به ورکړل سي نو بيا به هغه ولي د دومره ښځو سره جماع نه سي کولای. ترمذي.

**د جنت د شيانو يادونه**

(۵۳۹۵): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قَالَ لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا لَتَزَخْرَفَتْ لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْءَهُ الشَّمْسِ كَمَا تَطْمِسُ الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که د جنت د شيانو څخه د نوك په اندازه يو شی ځرگند کړل سي نو د آسمان او مځکي تول شاوخوا به د هغه څخه ښکلا تر لاسه کړي او که په جنتيانو کي يو څوك د دنيا په لور ښکاره سي او د هغه او د هغه په لاسونو کي کړې ځرگندي سي نو د هغه ځلا به د لمر رڼا پټه کړي لکه څرنگه چي لمر د ستورو رڼا پټوي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د جنت د ځلمانو ذکر**

(۵۳۹۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلٌ لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنتيان به بې وربښتانو بې ږيرو تور سترگي او ځلميان وي او د هغوئ ځواني به هيڅکله نه ختميږي او نه به يې جامې زړيږي. ترمذي او دارمي.

(۵۳۹۷): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً . رواه الترمذي.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جنتيان به په جنت کي داسي داخليږي چي د هغوئ د بدن وربښتان به صفا وي پر سترګو به يې رانجه پوري وي او عمر به يې ديرش يا درو ديرش کاله وي. ترمذي.

## سدرة المنتهی

(۵۳۹۸): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذُكِرَ لَهُ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى قَالَ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةَ سَنَةٍ أَوْ يَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا مِائَةُ رَاكِبٍ شَكَّ الراوي فِيهَا فِرَاشُ الذَّهَبِ كَأَنَّ ثَمَرَهَا الْقِلَالُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت اسماء بنت ابوبکر (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د سدرة المنتهی ذکر وسو ، ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي د سدرة المنتهی د شاخونو په سايه کي به تيز رفتاره سپور تر سلو کلو پوري ځي ، يا دا الفاظ يې وفرمايل : د سدرة المنتهی په سايه کي به سل سپاره پناه تر لاسه کولای سي ، راوي ته شك دی چي رسول الله ﷺ دغه الفاظ او که آخري الفاظ وفرمايل، په دغه درختي کي به د سرو زرو ملخان وي او ميوې به يې د منګيانو په ډول وي. ترمذي.

## حوض کوثر

(۵۳۹۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الْكَوْثَرُ قَالَ ذَالِكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللّٰهُ يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ فِيهِ طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ قَالَ عُمَرُ إِنَّ هٰذِهِ لَنَاعِمَةٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د حوض کوثر په اړه پوښتنه وسول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : کوثر يو وياله ده (په جنت کي) چي الله تعالی ما ته راکړې ده دې اوبه د شيدو څخه زياتي سپيني او د شاتو څخه زياتي خوږې دي ،ددې ويالې پر غاړه مرغان دي چي د هغوئ غاړي به د اوښانو په ډول وي ، حضرت عمر ﷺ وويل دا مرغان خو به ډېر اباد او خوشحاله وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د هغه مرغانو خورونکي به تر هغوئ زيات اباد وي. ترمذي.

## جنتيانو ته هر هغه شی تر لاسه کيږي کوم چي دوئ يې خواهش وکړي

(۵۴۰۰): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ قَالَ إِنِ اللّٰهُ أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ فَلَا

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا په جنت کي به

نَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ الا فعلت وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ إِبِلٍ قَالَ فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِصَاحِبِهِ فَقَالَ إِنْ يُدْخِلْكَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ. رواه الترمذي.

آسونه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كه الله تعالى ته په جنت كي داخل كړي نو دا به ستا خوښه نه وي چي ته پر آس باندي سپور كړل سي چي د سرو ياقوتو وي هر خاى چي ستا خوښه وي هلته به دي الوزوي، بيا يو سړي پوښتنه وكړه اي دالله رسوله ! په جنت كي به اوښان وي؟ رسول الله ﷺ هغه ته د هغه جواب نه وركړ كوم چي يې لومړني سړي ته وركړى وو بلكه دا يې وفرمايل كه الله تعالى ته په جنت كي داخل كړي نو تا ته به هر هغه شى دركول كيږي د كوم چي ستا زړه غواړي او ستا سترګي يې خوښوي، ترمذي.

(٥٤٠١): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ أَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ. رواه الترمذي هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَأَبُو سَوْرَةَ الراوي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ و سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَعِيلَ يَقُولُ أَبُو سَوْرَةَ هَذَا مُنْكَرُ الْحَدِيثِ يَرْوِي مَنَاكِيرا.

د حضرت ابو ايوب ؓ څخه روايت دى چي يو صحرايي سړى حاضر سو او عرض يې وكړ اي دالله رسوله ، زما آسونه ډير خوښ دي ايا په جنت كي به اسونه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه ته په جنت كي داخل كړل سوې نو تاته به د ياقوتو يو آس دركړل سي چي د هغه به دوه وزرونه وي بيا به ته پر هغه سپور كړل سي او چيري چي تلل غواړې دغه آس به په الوتلو سره تا هلته بوځي، ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد قوي نه دي ، ابوسوره راوي ضعيف دى محمد بن اسماعيل څخه مي واوريدل چي ابوسوره منكر الحديث راوي دى او ډير منكر حديث روايت كوي.

### په جنتيانو كي د امت محمدي تناسب

(٥٤٠٢): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ. روه الترمذي و الدارمي والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت بريده ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جنتيانو به شپږ شلي (١٢٠) صفونه وي ، په هغو كي به اتيا صفونه ددغه امت وي او څلوېښت صفونه د نورو امتونو ، ترمذي، دارمي او بيهقي.

## د جنت د دروازې وسعت

(۵۴۰۳): وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ أُمَّتِي الَّذِي يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ ثَلَاثًا ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيُضْغَطُونَ عَلَيْهِ حَتَّى تَكَادُ مَنَاكِبُهُمْ تَزُولُ . رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيثٌ ضعيف وسَأَلْتُ مُحَمَّدًا ابن اسماعيل عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ و قَالَ يَخْلَد بْنِ أَبِي بَكْرٍ يروي المناكير.

حضرت سالم ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د جنت هغه دروازه چې زما امت به ور داخليږي د هغې پلنوالى د سپاره د درو کالو د مزل برابر دى چې آس ښه وځغلول سي او د دروازې د دومره پلنوالي سربيره چې زما امت پر دې تيريږي نو د ګڼوالي په سبب به تيريدل ګران وي تر دې حده چې اوږې به يې وسوليږي. ترمذي ويلي دي دا حديث ضعيف دى ما ددې روايت په اړه د محمد بن اسماعيل څخه پوښتنه وکړه هغه لاعلمي څرګنده کړه او وه يې ويل چې يخلد بن ابوبکر منکر روايات روايت کوي. ترمذي.

## د جنت بازار

(۵۴۰۴): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا مَا فِيهَا شِرَاءٌ وَلَا بَيْعٌ إِلَّا الصُّوَرَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا . رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي يو بازار دى چې په هغه کي رانيول او خرڅول نه سته بلکه د خلکو او ښځو عکسونه به وي نو کله چې يو سړى يو عکس خوښ کړي نو دى به هغه شکل اختيار کړي . ترمذي.

## د الله ﷻ ديدار او د جنت بازار

(۵۴۰۵): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَسْأَلُ اللّٰهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ فَقَالَ سَعِيدٌ أَفِيهَا سُوقٌ قَالَ نَعَمْ أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ ثُمَّ يُؤْذَنُ لهم فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدَّى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ

د حضرت سعيد بن مسيب ﷺ څخه روايت دى چې زه د ابوهريره ﷺ سره يو ځاى سوم هغه وويل زه الله تعالى ته سوال کوم چې هغه ما او تا د جنت په بازار کي يو ځاى کړي ، سعيد وويل ايا په جنت کي بازار هم سته ، ابوهريره وويل هو ما ته رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې هر کله جنتيان په جنت کي داخل سي نو د اعمالو سره سم به هغوئ ته ځايونه او منزلونه تر لاسه کيږي، بيا به هغوئ ته د دنيا د جمعې د ورځي

وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيهِمْ مِنْ دَنِيٍّ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُورِ وَمَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ وَهَلْ نَرَى رَبَّنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قُلْنَا لَا قَالَ كَذَلِكَ لَا تُمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ وَلَا يَبْقَى فِي ذَلِكَ الْمَجْلِسِ رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللهُ مُحَاضَرَةً حَتَّى يَقُولَ لِلرَّجُلِ مِنْهُمْ يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ أَتَذْكُرُ يَوْمَ قُلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيُذَكِّرُ بِبَعْضِ غَدَرَاتِهِ فِي الدُّنْيَا فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَفَلَمْ تَغْفِرْ لِي فَيَقُولُ بَلَى فَبِسَعَةِ مَغْفِرَتِي بَلَغَتْ بِكَ مَنْزِلَتَكَ هَذِهِ فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ مِنْ فَوْقِهِمْ فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ طِيبًا لَمْ يَجِدُوا مِثْلَ رِيحِهِ شَيْئًا قَطُّ وَيَقُولُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى قُومُوا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ فَخُذُوا مَا اشْتَهَيْتُمْ فَنَأْتِي سُوقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ فِيهَا مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُونُ إِلَى مِثْلِهِ وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوبِ فَيُحْمَلُ لَنَا مَا اشْتَهَيْنَا لَيْسَ يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى وَفِي ذَلِكَ السُّوقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا قَالَ فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ فَيَلْقَى مَنْ هُوَ دُونَهُ وَمَا فِيهِمْ دَنِيٌّ فَيَرُوعُهُ مَا يَرَى عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ فَمَا يَنْقَضِي آخِرُ حَدِيثِهِ حَتَّى يَتَخَيَّلَ عليه مَا هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ وَذَلِكَ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ فِيهَا ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلَى مَنَازِلِنَا فَيَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا فَيَقُلْنَ مَرْحَبًا وَأَهْلًا لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ

برابر اجازه ورکړل سي چي د خپل پروردګار زيارت وکړي په دغه ورځ به الله تعالی خپل عرش ځرګند کړي او جنتيانو ته به خپل ديدار ښودلو لپاره د جنت د باغچو څخه په يو باغچه کي خپل ديدار ښکاره کړي، کوم خلك چي د الله ﷺ د ديدار لپاره راسي د هغوئ لپاره به د نور منبر، د ملغلرو منبر، د ياقتو منبر ، د زبرجد منبر د سرو زرو منبرّ او د سپينو زر منبر وغوړول سي او د خپلو مرتبو سره سم به خلك په هغه کي کښيني، د ادنا درجې جنتي به د مشك او کافورو پر غونډئ کښېنول سي او پر غونډيو ناست خلك به پر کرسيو ناست خلك د خپل ځان څخه غوره نه ګڼي ، دابوهريرهؓ بيان دی چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا موږ به خپل پروردګار وينو، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ايا تاسو د لمر او د څوارلسمي شپې د سپوږي په ليدو کي څه شك کوئ؟ موږ عرض وکړ:يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل همداسي به تاسو هم د خپل پروردګار په ليدو کي څه شك نه کوئ، او د ديدار الهي په هغه مجلس کي به هيڅ يو سړی داسي پاته نه سي چي د هغه سره به الله تعالی خبري ونه کړي تر دې چي په حاضرينو کي به يو سړی مخاطب کړي ، الله تعالی به ورته فرمايي اې فلانی د فلاني زويه! ايا تا ته هغه ورځ ياد نه ده چي په هغه ورځ تا داسي داسي ويلي او خدای ﷺ به ددغه نفر يو څو ټګۍ وريادي کړي چي په دنيا کي يې کړي

بكَ مِنَ الْجَمَالِ أَفْضَلَ مِمَّا فَارَقْتَنَا عَلَيْهِ فَيَقُولُ إِنَّا جَالَسْنَا الْيَوْمَ رَبَّنَا الْجَبَّارَ وَيَحِقُّنَا أَنْ نَنْقَلِبَ بِمِثْلِ مَا انْقَلَبْنَا. رواه الترمذي وابن ماجه و قال الترمذي هذا حديث غريب.

وي هغه سرې به وايي اې پروردګاره! ايا تا زما هغه ګناهونه نه دي بخښلي ، الله تعالى به ورته فرمايي هو ما وبخښل او زما د بخښنې سره خو نن ته دې مرتبې ته رارسيدلی يې، ټول خلک به

په دې حالت کې وي چې يوه وريځ به راسي او پر هغوئ به خپره سي بيا دغه وريځ به پر هغوئ داسې خوشبويي و اوروي چې هغسې خوشبويي به يې هيڅکله نه وي ليدلې بيا به الله تعالى هغوئ ته وفرمايي ولاړ سئ او د هغه شي په لور ځئ چې ستاسو د عزت زياتولو لپاره ما تيار کړي دی او کوم شی چې ستاسو خوښ سي هغه واخلئ بيا به موږ يو بازار ته راسو چې پر شاوخوا به يې ملائکې وي ، په هغه بازار کې به هغه شيان وي چې د هغه په ډول به نه سترګو ليدلې وي نه به غوږو اوريدلي وي او نه به د هغه خيال د چا په زړه کې راغلی وي بيا به د هغه بازار څخه هم هغه شيان راکړل سي چې زموږ خوښ وي حال دا چې په هغه بازار کې به د رانيولو او خرڅولو هيڅ معامله نه وي او په دغه بازار کې به جنتيان يو د بل سره ملاقات کوي، سعيد ﷺ راوي وايي ، رسول الله ﷺ وفرمايل چې ( د جنت په بازار کې به) يو لوړ مرتبې والا سړی د يو معمولي درجې سړي سره ملاقات وکړي او د کمزوري درجې سړی به په جنتيانو کې ځان کم نه بولي او د کوم اعلى ډول جامه چې هغه اغوستې وي د هغه به خوښه سي او ښه به ورته معلومه سي بيا د دواړو خبري به لا ختمې نه وي چې ددغه ادنا سړي په خيال کې به راسي چې دده جامې زما څخه غوره نه دي ، دا په دې سبب چې په جنت کې به هيڅا ته د غمګين کيدو موقع نسي ورکول کيدلای بيا به موږ خپلو ځايونو ته را سو او زموږ بيبياني به زموږ سره ملاقات کوي او مرحبا او هر کلی به راته وايي بيا به ووايي چې ته په داسې حالت کې راغلې چې ستا حسن او جمال د هغه څخه زيات دی کوم وخت چې ته زموږ څخه بيل سوی وې موږ به د هغو په جواب کې ورته ووايو نن موږ د خپل پروردګار سره د هم نشينی عزت حاصل کړی دی او موږ په هغه ډول سره د راستنيدو قابل يو کوم ډول سره چې راغلي يو ،ترمذي، ابن ماجه او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**په جنت کې د اولاد خواهش**

(۵۴۰۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ وَاثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً وَتُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ وَيَاقُوتٍ كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د ادنا درجې جنتي به هغه وي چې د هغه سره به اتيا زره خادمان وي او دو اويا بيبياني او د هغه لپاره به د ملغلرو ،

إِلَى صَنْعَاءَ و بهذا الاسناد قَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ يُرَدُّونَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ فِي الْجَنَّةِ لَا يَزِيدُونَ عَلَيْهَا أَبَدًا وَكَذَلِكَ أَهْلُ النَّارِ وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وبهذا الاسناد قال اذا اشتهى الولد في الجنة كان حمله وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي وَقَالَ إِسْحَقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ فِي الْحَدِيثِ إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ الْوَلَدَ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و روى ابن ماجه الرابعة والدارمي الآخرة.

زبرجدو او ياقوتو خيمه وي دومره لويه څومره چي د جابيه او صنعا په منځ کي مزل دی، په همدې روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنتيانو کي چي څوك په دنيا کي مړ سي که هغه د کوچني عمر وي يا د لوی عمر ، په جنت کي به د ديرشو کالو سي ، عمر به يې ددې څخه زيات نه وي او همداسي دوږخي، او په همدې روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جنتيانو پر سرونو به تاجونه وي او د هغه تاجونو معمولي ملغلره به داسي وي چي د مشرق او مغرب منځ به روښانه کړي ، او په همدې روايت کي دا الفاظ هم دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو مؤمن په جنت کي د اولاد خواهش وکړي نو حمل او د ماشوم عمر به په يوه ساعت کي سر ته ورسيږي (يعني دا ټولي خبري به په يوه ساعت کي دننه په عمل کي راسي ، ابواسحاق بن ابراهيم ددې حديث په شرحه کي وايي چي که چيري جنتي په جنت کي ماشوم وغواړي نو په يوه ساعت کي به وسي مگر هغه به داسي خواهش نه کوي) . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د حورو لسندري**

(٥٤٠٧): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَمُجْتَمَعًا لِلْحُورِ الْعِينِ يُرَفِّعْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا يَقُلْنَ نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيدُ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ طُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ . رواه الترمذي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به د حور عين د اجتماع يو ځای وي (يعني يو ځای به داسي وي چي هلته به حوري يو ځای کيږي) په دغه اجتماع کي به حوري په لوړ آواز ترانې وايي او د هغوئ آوازونه به دومره خوندور وي چي داسي آوازونه به چا هيڅکله نه وي اوريدلي دا حوري به داسي ترانې وايي : موږ به همېشه ژوندي يو موږ به هيڅکله نه مره کيږو ، موږ به په ارام او راحت سره يو هيڅکله به فکر مند نه يو موږ به د خپل پروردگار يا خپلو خاوندانو څخه راضي او خوشحاله يو هيڅکله به خفه کيږو نه، د هر هغه

سړي لپاره خوش خبري ده چي زموږ لپاره دی او موږ دهغه لپاره یو. ترمذي.

**د جنت سیندونه او ویالې**

(۵۴۰۸): وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَحْرَ الْمَاءِ وَبَحْرَ الْعَسَلِ وَبَحْرَ اللَّبَنِ وَبَحْرَ الْخَمْرِ ثُمَّ تُشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ. رواه الترمذي و رواه الدارمي عن معاويه.

د حضرت حکیم بن معاویه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي د اوبو دریاب دی، د شاتو دریاب دی، د شیدو دریاب دی، دشرابو دریاب دی، ددغه دریابونو څخه به بیا ویالې را جلا کیږي. ترمذي.

## دریم فصل

**د جنت حورې**

(۵۴۰۹): عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ فِي الجنة لَيَتَّكِئُ فِي الْجَنَّةِ سَبْعِينَ مسندا قَبْلَ أَنْ يَتَحَوَّلَ ثُمَّ تَأْتِيهِ امْرَأَتُهُ فَتَضْرِبُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِي خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ وَإِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا تُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ فَتُسَلِّمُ عَلَيْهِ فَيَرُدُّ السَّلَامَ وَيَسْأَلُهَا مَنْ أَنْتِ. فَتَقُولُ أَنَا مِنَ الْمَزِيدِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ عَلَيْهَا سَبْعُونَ ثَوْبًا فَيَنْفُذُهَا بَصَرُهُ حَتَّى يَرَى مُخَّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ ذَلِكَ وَإِنَّ عَلَيْهَا مِنَ التِّيجَانِ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ منها لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. رواه احمد.

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي به سړی په اویا بالښتو تکیه وهلی ناست وي او دا به یوازي پر یوه اړخ وي بیا به د جنت د ښځو څخه یوه ښځه ورته راسي او د ځان په لور به یې متوجه کولو لپاره د هغه پر اوږو لاس کښیږدي، سړی به د هغې په لور متوجه سي او د هغې په بارخوګانو کي چي تر هنداري به زیات روښانه وي خپل مخ ویني او د هغې ښځي معمولي ملغلره به دومره ښکلې وي چي د مشرق او مغرب منځ به روښانه کړي، دا ښځه به هغه سړي ته سلام وکړي او سړی به د هغې د سلام جواب ورکړي او پوښتنه به څیني وکړي چي ته څوک یې هغه ښځه به ورته وایي زه مزیدي یم (یعني د هغه شیانو څخه یم چي الله تعالی به یې جنتیانو ته د خپل لوري زیات ورکړي)ښښکه چي دو اویا جامې به یې اغوستي وي او د سترګو نظر نه څیني تیریږي حتی د هغې بدن به صفا معلومیږي تر دې چي د هغې د پنډیو مغز هم او د هغې پر سر به داسي تاج وي چي د هغې یوه معمولي ملغلره به د مشرق او مغرب منځ ځلانده کړي. احمد.

## په جنت کي کښت کول

(٥٢١٠): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَدَّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ فَقَالَ لَهُ أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ قَالَ بَلَى وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ فَبَذَرَ فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ فَيَقُولُ اللّٰهُ دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ فَإِنَّهُ لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ وَاللّٰهِ لَا تَجِدُهُ إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ فَضَحِكَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ سره یو صحرایي سړی ناست وو ، رسول الله ﷺ دا بیان وکړ چي په جنتیانو کي به یو سړی د خپل پروردګار څخه د فصل کرلو اجازه وغواړي ، الله تعالی به ورته فرمایي په کوم حال کي چي ته یې ایا دا کافي نه دي، هغه به وایي هو ، مګر زه فصل کرل خوښوم ، نو هغه ته به اجازه ورکړل سي هغه به په مځکه کي تخم وکري چي د سترګو په رپ کي به هغه شنه سي ، لوی به سي او وه به ریبل سبي او د غرونو په اندازه به سي ، الله تعالی به هغه ته وفرمایي اې دادم زویه! بېشکه تا هیڅ شی نه مړوي ، د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد اوریدو سره هغه صحرایي چي د رسول الله ﷺ سره نژدې ناست وو عرض یې وکړ په الله ﷺ دې مي قسم وي هغه سړی به قریشي وي یا انصاري ځکه چي دا خلك زراعت پیشه دي او زموږ پیشه کښت نه دی ، د هغه صحرایي ددغه خبري اوریدو سره رسول الله ﷺ وخندل . بخاري.

## په جنت کي خوب نه راځي

(٥٢١١): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ قَالَ النَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ وَلَا يَمُوتُ أَهْلُ الْجَنَّةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ایا جنتیان به بیده کیږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: خوب د مرګ ورور دی او جنتیان به نه مره کیږي (مطلب دا چي نه به بیدیږي). بیهقي.

## بَاب رؤية الله تعالى (د دیدار الهي بیان)

### لومړی فصل

**په خلاصو سترګو د الله ﷻ دیدار**

(۵۴۱۲): عن جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا وفي رواية قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عند رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ فَقَالَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا ثُمَّ قَرَأَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا. متفق عليه.

د حضرت جریر بن عبدالله ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه وخت نژدې دی چي تاسو به خپل پروردګار په خپلو سترګو سره ووینئ او په یوه روایت کي داسي دي چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي رسول الله ﷺ د څوارلسمي شپې سپوږمۍ ته وکتل او ،وه یې ویل لکه څرنګه چي تاسو دا سپوږمۍ وینئ همداسي به خپل پروردګار وینئ او د الله تعالی په لیدو کي به تاسو هیڅ تکلیف نه محسوسوئ ، که تاسو کولای سئ نو د لمر ختلو څخه مخکي او د لمر د لویدلو څخه مخکي (سهار او مازدیګر) لمنځونه پر وخت ادا کوئ او هیڅکله یې مه پریږدئ ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (و سبح بحمد ربك قبل طلوع الشمس و قبل غروبها) ،(او د لمر ختلو او لویدو څخه مخکي لمونځ کولو سره د خپل پروردګار حمد او پاکي بیانوئ. بخاري او مسلم

**د الله ﷻ دیدار تر ټولو لوی نعمت دی**

(۵۴۱۳): وَعَنْ صُهَيْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يَقُولُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فيرفع الحجاب فينظرون الى وجه الله تعالى فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ تَلَا لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ. رواه مسلم

د حضرت صهیب ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي جنتیان په جنت کي داخل سي نو الله تعالی به هغوئ ته وفرمایي : نور څه غواړئ چي زه یې زیات درکړم؟ جنتیان به وایي : ایا تا زموږ مخونه روښانه کړي نه دي ایا تا موږ په جنت کي داخل کړي نه یو او د دوږخ څخه دي خلاص کړي نه یو ، رسول الله ﷺ وفرمایل ددې اوریدو سره به الله تعالی پرده

پورته کړي او جنتيان به د الله تعالى په ديدار مشرف سي او جنتيانو ته به د الله تعالى د ديدار څخه غوره هيڅ شي نه وي ورکړل سوى ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : «للذي احسنوا الحسنى و زيادة»، «کومو خلکو چي نيکي کړې ده د هغه ثواب نيک دى يعني جنت او پر هغه نور زيات يعني ديدار الهي». مسلم.

## دويم فصل

### د جنتيانو مرتبې

(٥٤١٤): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى اللّٰهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً ثُمَّ قَرَأَ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به د مرتبې د لحاظ څخه ادنا کس هغه وي چي ګوري به خپلو باغونو ته، خپلو بيبيانو ته، خپلو نعمتونو ته، خپلو خدمتارانو ته او د ناستي خپلو ځايونو ته په مزل د درو کلونو ، او د الله تعالى په نزد به عزت ناك کس هغه جنتي وي چي سهار او مانبام به په ديدار الهي مشرف کيږي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : «وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة»، «ډېر مخونه به په دغه ورځ د خپل پروردګار په ديدار تر او تازه او خوشحاله وي». احمد او ترمذي.

### د الله ﷻ په ديدار کي به هيڅ مزاحمت نه وي

(٥٤١٥): وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَكُلُّنَا يَرَى رَبَّهُ مُخْلِيًا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ بَلَى قُلْتُ وَمَا آيَةُ ذَلِكَ فِي خَلْقِهِ قَالَ يَا أَبَا رَزِينٍ أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ ليلة البدر مُخْلِيًا بِهِ قَالَ بَلَى قَالَ فَإِنَّمَا هُوَ خَلْقٌ مِنْ خَلْقِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَجَلُّ وَأَعْظَمُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو رزين عقيلي ﷺ څخه روايت دى چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا د قيامت په ورځ به هر سړى بې زحمته خپل پروردګار ويني ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، ما عرض وکړ د دنيا په مخلوق کي ددې يو مثال سته ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابورزين! ايا د څوارلسمي سپوږمۍ په تاسو کي څوك بې تکليفه نه ويني ، ما عرض وکړ هو، ويني يې ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : سپوږمۍ د الله تعالى د مخلوقاتو څخه يو مخلوق دى او الله تعالى ډېر بزرګ او برتر دى . ابوداؤد.

## دریم فصل

**د معراج په شپه د رسول الله ﷺ دیدار الهي**

(۵۴۱۶): عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوذر ؓ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ایا تاسو (په معراج کې) خپل پروردګار لیدلی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: پروردګار یو نور دی، زه یې څنګه لیدلای سم (یعني د دنیا سترګي یې د لیدلو طاقت نه لري). مسلم.

**رسول الله ﷺ ته د دیدار الهي سره اړوند د یو ایت تفسیر**

(۵۴۱۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى قَالَ رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ. رواه مسلم وفي رواية الترمذي قال رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ قال عكرمة قُلْتُ أَلَيْسَ اللّٰهُ يَقُولُ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وهو يدرك الابصار قَالَ وَيْحَكَ ذَاكَ إِذَا تَجَلَّى بِنُورِهِ الَّذِي هُوَ نُورُهُ وَقَدْ رَأَى رَبَّهُ مَرَّتَيْنِ . رواه مسلم.

حضرت ابن عباس ؓ ددغه آیت په تفسیر کې فرمایي: (ما كذاب الفؤاد ما راى ولقد راه نزلة اخرى)، (د محمد ﷺ زړه محمد ﷺ ته د هغه شي په اړه غلط وه نه ویل چې هغه په خپلو سترګو سره ولیدل، یعني الله تعالی او البته محمد ﷺ الله تعالی یو وار بیا ولیدی)، ابن عباس ؓ فرمایي چې محمد ﷺ الله تعالی د زړه په سترګو سره دوه واره لیدلی وو. مسلم، او د ترمذي په روایت کې راغي چې ابن عباس ؓ د ذکر سوي آیت په باره کې وویل چې محمد ﷺ خپل پروردګار ولیدی، عکرمه ؓ وایي ما ابن عباس ؓ ته دا وویل چې الله تعالی خو فرمایي: (لاتدركه الابصار وهو يدرك الابصار)، (یعني سترګي هغه نه سي لیدلای او هغه سترګي لیدلای سي) بیا د هغه لیدل ډېر مشکل دي، ابن عباس ؓ دده په جواب کې وویل اې عکرمه! پر تا افسوس دی داسي د هغه وخت لپاره دي چې الله تعالی د خپل نور تجلي وکړي او په خپل نور سره ظاهر سي چې هغه نور د هغه د خاص ذات نور دی او محمد ﷺ خپل خدای ﷺ دوه واره لیدلی دی. مسلم.

**ایا رسول الله ﷺ د معراج په شپه الله ﷻ لیدلی وو؟**

(۵۴۱۸): وَعَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ لَقِيَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَعْبًا بِعَرَفَةَ فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ فَكَبَّرَ حَتَّى جَاوَبَتْهُ الْجِبَالُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّا بَنُو هَاشِمٍ فَقَالَ كَعْبٌ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت شعبي ؓ څخه روایت دی چې ابن عباس ؓ په عرفات کې د کعب احبار ؓ سره یو ځای سو او د هغه څخه یې د یوې خبرې پوښتنه

قَسَمَ رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ وَمُوسَى فَكَلَّمَ مُوسَى مَرَّتَيْنِ وَرَآهُ مُحَمَّدٌ مَرَّتَيْنِ قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِي قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى فَقَالَتْ أَيْنَ تُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ. رواه الترمذي و روى الشيخان مع زيادة واختلاف و في روايتهما قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَأَيْنَ قَوْلُهُ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى قَالَتْ ذَاكَ جِبْرِيلُ كَانَ يَأْتِيهِ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ وَإِنَّهُ أَتَاهُ هَذِهِ الْمَرَّةَ فِي صُورَتِهِ الَّتِي هِيَ صُورَتُهُ فَسَدَّ الْأُفُقَ .

وکړه (یعني د دیدار الهي په باره کي)، کعب ؓ د الله اکبر نعره وکړه چي په هغه سره غرونه ولړزیدل ، ابن عباس ؓ وویل : موږ د هاشم اولاد یو (یعني اهل علم او اهل معرفت یو د عقل څخه لیري د یو خبري پوښتنه نه کوو)، بیا کعب ؓ وویل الله تعالی خپل دیدار او کلام د محمد ﷺ او موسی علیه السلام په منځ کي تقسیم کړی دی، الله تعالی دوه واري موسی علیه السلام سره کلام وکړ او دوه واره محمد ﷺ الله تعالی لیدلی دی، مسروق ؓ وایي زه د بي بي عائشي په خدمت کي حاضر سوم د هغې څخه مي پوښتنه وکړه چي محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی ؟ بي بي عائشي راته وویل اې مسروقه! تا داسي پوښتنه وکړه چي په هغه سره زما وریښتان جګ ودریدل ، مسروق وایي ما ووېل اې بي بي عائشي ! د صبر څخه کار واخله تلوار مه کوه بیا ما دا آیت تلاوت کړ (لقد رای من ایات ربه الکبری) ، (یعني محمد ﷺ د خپل پروردګار لوی نښي ولیدلې)، بي بي عائشي وویل تا دا آیاتونه کومي خوا ته بیایې (یعني ددې مطلب دا نه دی کوم چي ته ځیني اخلې) ، ددې څخه مراد جبرائیل علیه السلام دی، اې مسروق ! څوک چي تا ته دا ووایي چي محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی یا دا ووایي چي محمد ﷺ په دغه شیانو کي څه پټ ساتلي دي چي د هغه د ظهار هغه ته حکم نه وو ورکړل سوی یا دا ووایي چي محمد ﷺ د هغه پنځو شیانو علم درلود چي د هغه ذکر الله تعالی په دې الفاظو کي کړی دی : (ان الله عنده علم الساعة......) نو هغه پر محمد ﷺ لوی بهتان ووایه، محمد ﷺ جبرائیل علیه السلام لیدلی دی او جبرائیل یې هم د هغه په اصلي صورت کي یوازي دوه واره لیدلی دی یو وار سدرة المنتهی ته نژدې او یو وار په مقام اجیاد کي (چي مکې ته نژدې یوه ابادي ده) ، رسول الله ﷺ جبرائیل علیه السلام په اصلي شکل کي په هغه حال کي ولیدی چي د هغه شپږ سوه وزره وه او هغه

د آسمان کناري بندي کړي وې، د ترمذي، بخاري او مسلم په روايت کي دا الفاظ هم دي سره له اختلافه او زياتوب چي مسروق ووېل : بيا ما بي بي عائشې ته دا ووېل چي نو بيا د الله تعالى ددغه قول څه معنا ده : (ثم دنی فتدلی فکان قاب قوسين او ادنی) ، بي بي عائشې ووېل ددې څخه مراد جبرائيل عليه السلام دی چي همېشه به د يو انسان په شکل کي راتلی او پر دې موقع هغه په خپل اصلي شکل کي څرګند سوی وو او افق (د آسمان کناره) يې ډک کړی وو.

**د حضرت ابن مسعود ﷺ تفسير او تحقيق**

(۵۲۱۹): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ فِيْ قَوْلِهِ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى وفي قوله مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وفي قوله لقد رای من ايات ربه الكبرى قال فيها كلها رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ. متفق عليه وفي رواية الترمذي وفي رواية الترمذي قال ما كذب الفؤاد ما رأى قال رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم جبريل في حلة من رفرف قد ملأ ما بين السماء والأرض وله وللبخاري في قوله لقد رأى من آيات ربه الكبرى قال رأى رفرفا أخضر سد أفق السماء وسئل مالك بن أنس عن قوله تعالى إلى ربها ناظرة فقيل قوم يقولون إلى ثوابه فقال مالك كذبوا فأين هم عن قوله تعالى كلا إنهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون قال مالك الناس ينظرون إلى الله يوم القيامة بأعينهم وقال لو لم ير المؤمنون ربهم يوم القيامة لم يعير الله الكفار بالحجاب فقال كلا إنهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون. رواه في شرح السنة.

حضرت ابن مسعود ﷺ ددغه آياتونو (فکان قاب قوسين او ادنی (ما کذب الفؤاد ما رای، لقد رای من ايات ربه الکبری) په تفسير کي فرمايي چي ددغه ټولو څخه مراد د جبرائيل عليه السلام قربت او ليدل دي (يعني په اصلي شکل کي ليدل)، هغه په داسي حال کي وليدل سو چي د هغه شپږ زره وزره وه، بخاري او مسلم، د ترمذي په روايت کي دا الفاظ دي چي و ماکذاب الفؤاد ما رای، په اړه ابن مسعود ﷺ دا بيان وکړ چي رسول الله ﷺ په داسي حال کي جبرائيل عليه السلام وليدی چي هغه شنه جامه اغوستي وه او د آسمان او مځکي په منځ کي فضا په هغه سره معموره وه ، د ترمذي او بخاري او يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي ابن مسعود ﷺ (و لقد رای من ايات ربه الکبری) په اړه بيان وکړ چي رسول الله ﷺ شنو جامو والا وليدی يعني جبرائيل عليه السلام چي هغه د آسمان افق معموره کړي وو ، او مالک بن انس ﷺ څخه ددې آيت (الی ربها ناظرة) په اړه پوښتنه وسول ، نو وښودل سول چي يو ډله (يعني معتزله) دا وايي چي په دې آيت کي د پروردګار په لور کتلو څخه مراد د الله تعالى ثواب ته کتل دي، نو مالک ووېل دا خلک درواغجن دي که دا

صحيح وي نو بيا د الله تعالى ددې ارشاد څه معنا سوه : (كلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون) (يعني په دغه ورځ به كفار د ديدار الهي څخه منع كړل سي) ددې څخه وروسته مالك ﷺ وويل مسلمانان خلك به د قيامت په ورځ په خپلو سترګو سره الله تعالى ويني ، بيا يې وويل كه مؤمنانو د قيامت په ورځ خپل پروردګار نه ليدلای نو الله تعالى به كفارو ته د ديدار الهي څخه د محرم كيدو عار نه ويلای ، الله ﷻ فرمايلي دي : (كلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون) شرح السنه

**د الله ﷻ د ديدار كيفيت**

(٥٤٢٠): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فِي نَعِيمِهِمْ إِذْ سَطَعَ لَهُمْ نُورٌ فَرَفَعُوا رُءُوسَهُمْ فَإِذَا الرَّبُّ قَدْ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ مِنْ فَوْقِهِمْ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ قَالَ وَذَلِكَ قَوْلُ اللّٰهِ سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ قَالَ فنظر إِلَيْهِمْ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ فَلَا يَلْتَفِتُونَ إِلَى شَيْءٍ مِنَ النَّعِيمِ مَا دَامُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ حَتَّى يَحْتَجِبَ عَنْهُمْ وَيَبْقَى نُورُهُ وبركته عليهم في ديارهم. رواه ابن ماجه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو وخت به جنتيان په خپلو نعمتونو كي وي نو ناڅاپه به يوه لويه تيزه رڼا معلومه سي ، هغوئ به سرونه پورته كړي هغه رڼا ته به ګوري نو خپل پروردګار به سربيره ښكاره وويني الله تعالى به جنتيانو ته فرمايي : اې جنتيانو! پر تاسو دې سلامتيا وي او دا معنا ده د الله تعالى ددغه قول (سلام قولا من رب الرحيم) ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به الله تعالى د جنتيانو په لور وګوري او جنتيان به الله تعالى ته وګوري او په ديدار الهي كي به دومره غرق سي چي د جنت په نعمتونو كي به د يوه شي په لور متوجه نه سي او الله تعالى ته به ګوري تر دې چي الله تعالى به د هغوئ څخه مخفي سي او يوازې نور به يې پاته سي . ابن ماجه

# بَاب صِفَةِ النَّارِ وَاَهْلِهَا (د دوږخ او دوږخیانو بیان)

## لومړی فصل

### د دوږخ د اور ګرمي

(۵۴۲۱): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً قَالَ فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا. متفق عليه و اللفظ للبخاري وفي رواية مسلم ناركم التي يوقد ابن ادم وفيها عليها وكلها بدل عليهم وكلهن.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو د دنیا اور د دوږخ د اور څخه په اویا برخو کي یو جز دی (یعني د دوږخ اور د دنیا د اور څخه اویا درجې زیات ګرم دی)، وویل سول اې دالله رسوله ! د دنیا اور (د عذاب ورکولو لپاره) هم بس وو، نبي کریم ﷺ وویل د دنیا تر اور د دوږخ اور نه شپېته درجې زیات ګرمول سوی دی او د هغه په (۶۹) برخو کي یوه برخه ستاسو د دنیا د اور برابر ده. بخاري او مسلم او الفاظ د بخاري دي خو په یوه روایت د مسلم شریف کي داسي الفاظ هم راغلي دي: (نارکم التي یوقد ابن ادم)، او هم په دې روایت کي (وعلیهم) او (کلهن) پر ځای د (علیها) او (کلها) الفاظ دي.

### د دوږخ راوستلو ذکر

(۵۴۲۲): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا. رواه مسلم.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دیچي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به دوږخ د هغه ځای څخه کوم ځای چي الله تعالی پیدا کړی دی راوستل سي داسي چي اویا زره واګي به یې وي او هره واګه به د اویا زره ملائکو په لاسونو کي وي او ملائکي به هغه را کشوي. مسلم.

### تر ټولو کم عذاب

(۵۴۲۳): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِ الْمِرْجَلُ مَايَرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا

د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په دوږخیانو کي تر ټولو کم او سپک عذاب چي به کوم سړي ته ورکول کیږي هغه دادی چي دوئ ته به د اور

وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا. متفق عليه.

څپلی، ور په پښو سي چي د هغه به دوی د اور تسمي وي او ددغه شيانو څخه به د هغه ماغزه ايشي لکه څرنګه چي ديګ ايشي هغه سړي به دا عذاب تر ټولو سخت ګڼي حال دا چي هغه به تر ټولو معمولي عذاب وي. بخاري اومسلم.

**د دوږخ تر ټولو کم عذاب به د ابوطالب وي**

(۵۴۲۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْوَنُ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا أَبُو طَالِبٍ وَهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخيانو کي تر ټولو سپك عذاب به ابوطالب ته وي هغه ته به دوي د اور څپلی، ور په پښو سي چي په هغه سره به يې ماغزه ايشي .بخاري.

**يو دوږخي او يو جنتي**

(۵۴۲۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ فَيُقَالُ لَهُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دنيا زيات شتمن او نعمت والا دوږخي به د قيامت په ورځ راوستل سي او هغه ته به د اور په کنده کي يو غوټه ورکړل سي او ورته وه به ويل سي اې دادم زويه! ايا تا خير ليدلی دی (يعني ارام دي تر لاسه کړی دی) ايا په دنيا کي يو وخت پر تا نعمتونه تير سوي وه؟ هغه به ووايي: يا، قسم په خدای اې پروردګاره :نه، بيا به د جنتيانو څخه يو سړی راوستل سي چي هغه به په دنيا کي سخت محنت کړی وي او غم به يې برداشت کړی وی او هغه ته به په جنت کي يوه غوټه ورکړل سي او پوښتنه به څيني وکړل سي اې د ادم زويه! ايا تا يو وخت د محنت او سختۍ مخ ليدلی دی؟ تا غم او تکليف برداشت کړی دی؟ هغه به وايي يا قسم په خدای اې پروردګاره! ما هيڅکله محنت او سختي نه ده ليدلې او نه راباندي هيڅکله غم او تکليف راغلی دی. مسلم.

**د شرک خلاف خبرداری**

(۵۴۲۶): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به الله تعالی هغه

الْقِيَامَةِ لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هٰذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ أَنْ لَا تُشْرِكَ بِي شَيْئًا فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي. متفق عليه.

خلکو ته چي هغوئ ته اسان او سپيك عذاب ورکړی وي وفرمايي: که ستا سره د دنيا په شيانو کي يو شی وي او د هغه په ورکولو سره ته ددې عذاب څخه خلاصيدلای سي نو ايا تا به داسي کړی وای هغه به وايئ هو، الله تعالی به ورته وفرمايي کله چي ته د آدم عليه السلام په ملا کي وې هغه وخت ما ستا څخه تر دې د زيات اسان شي غوښتنه کړې وه هغه دا چي ته به هيڅوك زما سره نه شريکوې مګر تا انکار وکړ او زما سره دي نور خلك شريکان کړل. بخاري اومسلم.

**په عذاب کي تفاوت او درجې**

(۵۴۲۷): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ. رواه مسلم.

د حضرت سمره بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخيانو کي به ځيني خلك هغه وي چي د هغوئ تر بجلکو پوري به اور وي ځيني به هغه وي چي د هغوئ زنګنو ته به اور ورسيږي، ځيني به هغه وي چي د هغوئ تر ملا پوري به اور وي او ځيني به هغه وي چي د هغوئ تر غاړو پوري به اور وي. مسلم

**د دوږخي بدن**

(۵۴۲۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ، وفي رواية ضرس الكافر مثل احد وغلظ جلده مسيرة ثلث، رواه مسلم وذكر حديث ابي هريرة اشتكت النار الى ربها في باب تعجيل الصلوة.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخ کي به د کافر د دواړو اوږو په منځ کي دومره فاصله وي څومره چي د تيز رفتاره آس د درو ورځو مسافت دی، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په دوږخ کي به د کافر غاښ د احد د غره برابر وي او د هغه د بدن پوست به د درو ورځو د تګ برابر غټ وي، د ابوهريره ﷺ حديث (اشتکت النار)، په باب تعجيل الصلوة کي بيان سوی دی. مسلم.

## دويم فصل

**د دوزخ اور**

(۵۲۲۹): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَة حَتَّى احْمَرَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَة حَتَّى ابْيَضَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَة حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوزخ اور تر زر کاله پوري بل کړل سو تر دې چي هغه سور سو ، بيا زر کاله نور بل کړل سو تر دې چي هغه سپين سو ، بيا زر کاله نور بل کړل سو تر دې چي هغه تور سو اوس هغه تور او تاريك دی. ترمذي.

**د کافر دوزخي جسامت**

(۵۲۳۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضِرْسُ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُد وَفَخِذُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ مِثْلُ الرَّبَذَة. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د کافر غاښ د احد د غره برابر وي او ورون به يې د بيضاء د غره په څېر وي او د هغه د ناستي ځاى به درې ميله اوږد وي لکه د مديني څخه چي ربذه (پر درې ميله فاصله) واقع ده. ترمذي.

(۵۲۳۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُد وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَة. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د کافر د بدن د پوست غټوالى به (په دوزخ کي) دو څلوېښت گزه وي ، غاښ به يې د احد د غره برابر وي د ناستي ځاى به يې په دوزخ کي دومره وي لکه مابين د مکې او مديني . ترمذي.

(۵۲۳۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْكَافِرَ لَيُسْحَبُ لِسَانُهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ يَتَوَطَّؤُهُ النَّاسُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کافر به (په دوزخ کي) خپله ژبه يو فرسخ او دوو فرسخو پوري راوباسي او خلك به ورباندي پښې ايږدي. ترمذي.

**د دوزخ غر**

(۵۲۳۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيد عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَار يَتَصَعَّدُ فيه

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : صعود (چي د هغه ذکر

الْكَافِرُ سَبْعِينَ خَرِيفًا وَيَهْوِي بِهِ كَذَٰلِكَ فِيهِ أَبَدًا. رواه الترمذي.

په قرآن کريم کي دی) د اور يو غر دی چي پر هغه به کافر تر اويا کاله پوري خيږول کيږي او بيا به را شوه سي او هغه به تر اويا کاله پوري رالغړيږي او همېشه به همداسي وي. ترمذي.

د دوږخي خوراک

(٥٤٣٤): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي قَوْلِهِ كَالْمُهْلِ اي كَعَكَرِ الزَّيْتِ. فَإِذَا قُرِّبَ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ددغه آيت (ان شجرة الزقوم طعام الاثيم كالمهل، «د زقوم درخته د مهل په ډول د گناه کارو خوراک دی» د مهل لفظ په اره يې وفرمايل: چي دا په شان د خيرو د تيلو اوبه دي کوم وخت چي دا د دوږخي مخته ته نژدې راوړل سي «نو دگرمۍ په وجه» به د هغه د مخ پوست واوړي. ترمذي.

دگرمو اوبو عذاب

(٥٤٣٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ فَيَسْلُتُ مَا فِي جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ وَهُوَ الصَّهْرُ ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوږخيانو پر سر به تودې اوبه واچول سي تر دې چي د هغه گرمي به د سر څخه تر نس پوري ورسيږي او هغه شيان به پرې کړي کوم چي په نس کي دننه دي هغه به ويلي کړي او هغه شيان به د قدمونو پر لار را وبهيږي او دا (صهر) دی چي ذکر يې د قرآن کريم په دغه آيت کي دی: (يصيب من فوق رءوسهم الحميم .......)، «د هغوئ پر سرونو به تودې اوبه واچول سي چي په هغه سره به په نس کي دننه شيان ويلي کړل سي او پوست به يې هم ويلي کړل سي» او بيا به همداسي سي لکه څرنگه چي وو. ترمذي.

د دوږخيانو اوبه

(٥٤٣٦): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ وَيُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ قَالَ يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ يَقُولُ اللَّهُ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ددغه آيت (يسقى من ماء صديد يتجرعه)، «دوږخيانو باندي به د دوږخيانو ژړي اوبه وڅښل سي چي هغه به څاڅکی څاڅکی څيښي» په اره وفرمايل دا اوبه چي د دوږخي

| | |
|---|---|
| فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ وَيَقُولُ وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ. رواه الترمذي | خولې ته نژدې کړل سي نو هغه به يې بد وګڼي بيا چې په خوله کې ور واچول سي نو د هغه |

خوله به وايشول سي او د هغه د سر پوست به وغورزيږي بيا چې په وچينبل سي نو کولمې به يې ور څيرې کړي تر دې چې هغه کولمې به د لويو بولو تر خای راووځي ، الله تعالی فرمايي : او په دوږخيانو به ګرمې اوبه وچينبل سي چې د هغوئ کولمې به پرې، پرې کړي او الله تعالى فرمايي : که دوږخيان د اوبو لپاره فرياد وکړي نو په دغه اوبو سره به يې فرياد رسي وکړل سي چې ايشولې به وي چې خوله به يې ور وشوړوي او دا اوبه د څيښلو ډير خراب شی دی . ترمذي.

**د دوږخ احاطه**

| | |
|---|---|
| (۵۴۳۷): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِسُرَادِقِ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ مَسِيرَةَ أَرْبَعِينَ سَنَةً. رواه الترمذي. | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوږخ د احاطې به څلور ديواله وي د هر ديوال غتوالی به د څلوېښتو کالو د مزل برابر وي . ترمذي. |
| (۵۴۳۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهْرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا. رواه الترمذي. | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : که ددغه ژړو اوبو يو سلواغه چې د دوږخيانو د زخمونو څخه به |

جاري وي په دنيا کې توی سي نو ددنيا ټول خلک به بدبويه سي. ترمذي.

| | |
|---|---|
| (۵۴۳۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الارض مَعَايِشَهُمْ فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامُهُ. رواه الترمذي و قَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : «اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن الا وانتم مسلمون» «د الله تعالی څخه وبيريږئ لکه څرنګه چې ورڅخه بيريدل پکار دي او هر کله چې مړه کيږئ نو مسلمان مړه کيږئ» ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : که د زقوم د درختي يو څاڅکی په دنيا کې وڅاڅي نو د مځکې د اوسيدونکو د ژوند |

اسباب به برباد کړي بيا د هغه سړي به څه حال وي چې د هغه خوراک زقوم وي . ترمذي.

## د دوږخيانو خوله

(۵۲۴۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ قَالَ تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعيد ؓ څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ د قرآن مجيد ددغه الفاظو «وهم فيها كالحون.....» ، «دوږخيانو به په دوږخ كي تنديان تريو كړي وي او غابښونه به يې خلاص كړي وي» ، په اړه وفرمايل : اور به د كافر خوله وشوروي ، سربيره شونډه به يې پورته ولاړه سي تر دې چي نيم سر ته به ورسيږي او لاندي شونډه به يې را وزريږي تر دې چي د نامه سره به يې لګيږي. ترمذي.

## د خداى ﷻ د ويرې ژړاوي

(۵۲۴۱): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ابْكُوا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوا فَتَبَاكَوْا فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ يَبْكُونَ فِي النَّارِ حَتَّى تَسِيلَ دُمُوعُهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ كَأَنَّهَا جَدَاوِلُ حَتَّى تَنْقَطِعَ الدُّمُوعُ فَتَسِيلُ الدِّمَاءُ فَتَقْرَحُ الْعُيُونُ فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ فِيهَا لَجَرَتْ . رواه في شرح السنة.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې خلكو ! «د الله د ويرې څخه و ژاړئ، كه ژړا نه درځي نو په تكليف سره وژاړئ «يعني ځان ته ژړا راولئ» څكه چي دوږخيان به په دوږخ كي ژاړي او د هغوئ اوښكي به پر باړخوګانو داسي بهيږي لكه د اوبو لښتي بيا به اوښكي ختم سي او ويني به جاري سي چي سترګي به يې زخمي سي كه د هغوئ په اوښكو كي كښتي جاري كړل سي نو په هغه كي به رواني سي . شرح السنه .

## د دوږخيانو حالت

(۵۲۴۲): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ مِنْ ضَرِيعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ فَيَسْتَغِيثُونَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ ذِي غُصَّةٍ فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيمُ بِكَلَالِيبِ الْحَدِيدِ فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوهِهِمْ شَوَتْ

د حضرت ابودرداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوږخيان به په سخته لوږه كي اخته كړل سي او د لوږې دا عذاب به د هغه عذاب برابر وي چي په هغه كي به دوږخيان د مخكي څخه اخته وي ، بيا به هغوئ د لوږې د زياتوالي څخه فرياد كوي د هغوئ فرياد به واوريدل سي او د خوراك لپاره به هغوئ ته ضريع وركړل سي ضريع يو ازغي لرونكي او سخت بدبويه واښه دى، دا خوراك به نه د هغوئ

وُجُوهَهُمْ فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ فَيَقُولُونَ ادْعُوا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ قَالَ فَيَقُولُونَ يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ فَيُجِيبُهُمْ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ قَالَ الْأَعْمَشُ نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ قَالَ فَيَقُولُونَ ادْعُوا رَبَّكُمْ فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَيَقُولُونَ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ قَالَ فَيُجِيبُهُمْ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ قَالَ فَعِنْدَ ذَلِكَ يَئِسُوا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالنَّاسُ لَا يَرْفَعُونَ هَذَا الْحَدِيثَ .رواه الترمذي

نس دکوي او نه به د هغوئ لوږه دفع کړي، هغوئ به بیا فریاد وکړي او خوراك به غواړي د هغوئ فریاد اوریدو سره به داسي خوراك ورکړل سي چي په ستوني کي به یې وموښلي یعني نه خو به نس ته ځي او نه به دخولې څخه راوځي ، بیا به هغوئ ته دا خبره ور یاده سي چي په دنیا کي به د چا په ستوني کي یو شی وموښتی نو هغه به یې په اوبو سره کښته کوئ، هغوئ به د اوبو لپاره فریاد وکړي نو د اوسپني په انبورونو نیولو سره چي ورته ګرمي اوبه ور نژدې کړل سي نو مخونه به یې وسوځي بیا اوبه چي نس ته ورسي نو د نس شیان به یې پاره پاره کړي بیا به دوږخیان په خپل منځ کي وايي د دوږخیانو د ساتونکو څخه دعاء وغواړئ (چي زموږ په عذاب کي کمي راسي) د دوږخ ساتونکی به د هغوئ په خواست اوریدو سره وايي ایا تاسو ته د الله رسولان په واضحه نښنو او دلائلو سره نه وه راغلي، دوږخیان به وايي هو راغلي وه ، ددوږخ ساتونکي به ورته وايي تاسو په خپله دعاء وکړي ، او د کافرانو دعاء به بالکل بې ګټي او بیکاره وي ، بیا به دوږخیان په خپل منځ کي وايي د دوږخ خزانچي (پهره دار) را وغواړئ نو هغوئ به د دوږخ خزانچي (پهره دار) ته وايي اې مالکه ! ته خپل پروردګار څخه دعاء وغواړه چي موږ ته مرګ راولي ، هغوئ به ورته وايي تاسو به همېشه دلته په دې حال کي اوسئ ، ددغه حدیث د یو راوي اعمش بیان دی چي ما ته ښودل سوي دي چي د دوږخیانو او ددوږخ د خزانچي په منځ کي چي کومي خبري اتري کیږي په هغه کي به زر کاله تیر سي بیا چي دوږخیان د هغه څخه نا امیده سي نو په خپل منځ کي به وايي د خپل پروردګار څخه دعاء وغواړئ چي ستاسو د پروردګار څخه غوره هیڅوك نه سته ، نو هغوئ به وايي اې زموږ پروردګاره! زموږ بدبختي پر موږ غالبه سوي ده او موږ د ګمراهانو خلکو څخه یو ، اې پروردګاره ! موږ د دوږخ څخه وباسې ، که ددې څخه وروسته هم موږ د کفر په لور ولاړ سو نو پر خپل ځان باندي به په خپله ظلم کونکي یو ، الله تعالی به هغوئ ته په جواب کي وايي زیانکاره

اوسئ په دوږخ کي او زما سره خبري مه کوئ، رسول الله ﷺ فرمايي: د الله تعالی ددې خبري اوريدو سره به هغوئ دهر ډول خير څخه نا اميده سي او ددې څخه وروسته به هغوئ ژړا وي کوي او په حسرت او افسوس سره به عذاب زغمي. ترمذي.

رسول الله ﷺ خپل امت د دوږخ څخه خبر کړی دی

| | |
|---|---|
| (۵۴۴۳): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ اَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ فَمَا زَالَ يَقُوْلُهَا حَتّٰى لَوْ كَانَ فِيْ مَقَامِيْ هٰذَا سَمِعَهُ اَهْلُ السُّوْقِ وَحَتّٰى سَقَطَتْ خَمِيْصَةٌ كَانَتْ عليه عِنْدَ رِجْلَيْهِ . رواه الدارمي. | د حضرت نعمان بن بشير ؓ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: ما تاسو د دوږخ د اور څخه بيرولي ياست ، ما تاسو د دوږخ د اور څخه بيرولي ياست ، رسول الله ﷺ دا الفاظ په څو څو واره |

وفرمايل او په لوړ آواز سره يې وفرمايل په دومره لوړ آواز سره که رسول الله ﷺ هغه ځای تشريف فرما وای کوم ځای چي زه ناست يم نو د رسول الله ﷺ آواز به د بازار خلکو اورېدلی وای، او رسول الله ﷺ دېر دا الفاظ وفرمايل تر داسي حده چي د رسول الله ﷺ شړۍ چي پر اوږو يې پرته وه پر پښو را ايله سول. دارمي.

د دوږخيانو زنځير

| | |
|---|---|
| (۵۴۴۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ اَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هٰذِهِ وَاَشَارَ اِلٰى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ اُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ اِلَى الْاَرْضِ وَ هِيَ مَسِيْرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتِ الْاَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ وَلَوْ اَنَّهَا اُرْسِلَتْ مِنْ رَاْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ اَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ اَنْ تَبْلُغَ اَصْلَهَا اَوْ قَعْرَهَا. رواه الترمذي. | د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که رصاصه توټه چي د کوپړۍ په ډول وي د آسمان څخه د مځکي په لور راوغورځول سي چي د هغه فاصله د پنځو سوو کلونو لار ده نو پر هغه به يوه شپه نه وي تېره سوې چي مځکي ته به راورسيږي مګر که د هغې رصاصې توټه د هغه زنځير د سر څخه راوليږل سي (يعني په |

دوږخ کې) چي په هغه دوږخيان تړل کيږي نو څلوېښت کاله به مزل وکړي هم شپه او هم ورځ لا به د دوږخ بيخ يا ژور والي ته ونه رسيږي. ترمذي.

د دوږخ هبهب

| | |
|---|---|
| (۵۴۴۵): وَعَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ فِيْ جَهَنَّمَ لَوَادِيًا يُقَالُ لَهُ | حضرت ابوبرده ؓ د خپل پلار څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : په دوږخ کي |

هَبْهَبُ يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ. رواه الترمذي.

يوه شيله ده چې د هغې نوم هبهب ده ، په دغه شيله كې به هغه سرى اچول كيږي كوم چې متكبر او سركش وي. ترمذي.

## دريم فصل

### د دوږخيانو جسم

(٥٤٤٦): عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ حَتَّى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ وَإِنَّ غِلَظَ جِلْدِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ. رواه احمد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخ كې به د دوږخيانو بدنونه لوى سي تر دې چې د غوږ د نرمۍ څخه تر اوږو پورې فاصله به يې د اوو سوو كالو د لارې برابر سي او د پوست غټوالى (پنډوالى) به يې اويا گزه سي او غاښ به يې د احد د غره برابر سي. احمد.

### د دوږخ ماران او لړمان

(٥٤٤٧): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا وَإِنَّ فِي النَّارِ عَقَارِبَ كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُوكَفَةِ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا. رواه احمد.

د حضرت عبد الله بن حارث بن جزء ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخ كې د بختي اوښ په اندازه ماران دي ، دا مار چې يو وار خوك وچيچي نو د هغه درد او زهر به تر څلويښتو كالو پورې وي ، او په دوږخ كې لړمان د غاترو په ډول دي د هغوئ د يو وار چيچلو اثر او زهر به تر څلويښت كالو پورې وي . احمد.

### لمر او سپوږمۍ به اور ته حواله كړل سي

(٥٤٤٨): وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُوهُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ثَوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ الْحَسَنُ وَمَا ذَنْبُهُمَا فَقَالَ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَكَتَ الْحَسَنُ. رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت حسن ﷺ څخه روايت دى چې ابوهريره ﷺ بيان وكړ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به سپوږمۍ او لمر د پنير دوو توټو په ډول وي چې هغوئ به په اور كې وغورځول سي ، حسن ﷺ د ابوهريره ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې لمر او سپوږمۍ څه گناه كړې ده ؟ ابوهريره ﷺ ورېل ما چې څه د رسول الله ﷺ

ښځه اوريدلي وه هغه مي بيان كړل ددې اوريدو سره حسن پته خوله سو. بيهقي.

**شقي څوک دی؟**

(۵۴۴۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِلَّا شَقِيٌّ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَنِ الشَّقِيُّ قَالَ مَنْ لَمْ يَعْمَلْ لِلّٰهِ بِطَاعَةٍ وَلَمْ يَتْرُكْ لَهُ مَعْصِيَةً . رواه ابن ماجه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوزخ كي به يوازي بدبخته داخليږي ، پوښتنه وسول اي دالله رسوله ! بدبخته څوك دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بدبخته هغه څوك دي چي د الله ﷺ د رضا او خوښي تر لاسه كولو لپاره يې د الله ﷺ هيڅ اطاعت ونه كړ او د خدای ﷺ څخه د بيري په خاطر يې گناه پرې نه ښودل .. ابن ماجه

## بَاب خَلْق الْجَنَّة وَالنَّارِ (د جنت او دوږخ د پيدا كيدو بيان)

### لومړی فصل

**د جنت او دوږخ شكايت**

(۵۴۵۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَاجَّتْ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتْ النَّارُ أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ وَقَالَتْ الْجَنَّةُ فَمَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ وَغِرَّتُهُمْ قَالَ اللّٰهُ لِلْجَنَّةِ إِنَّمَا أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَقَالَ لِلنَّارِ إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رِجْلَهُ تَقُولُ قَطْ قَطْ قَطْ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَلَا يَظْلِمُ اللّٰهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللّٰهَ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا. متفق عليه

د جضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت او دوږخ په خپل منځ كي په بحث سول، دوږخ وويل : زه د سركښو او متكبرو لپاره غوره كړل سوی يم ، جنت وويل: په ما څه سوي دي چي په ما كي به كمزوري، حقير او ذليل خلك او هغه خلك چي ساده راتلونكي دي داخليږي، ددې اوريدو سره الله تعالى جنت ته وفرمايل: ته زما رحمت يې ، زه د خپلو بندگانو څخه چي چا ته غوارم ستا په ذريعه رحمت پر كوم او دوږخ ته يې وفرمايل ؛ ته زما عذاب يې زه د خپلو بندگانو څخه چي چا ته غوارم ستا په ذريعه عذاب وركوم ، او تاسو دواړو كي به زه هر يو ډك كړم او دوږخ خو به تر هغه وخته پوري نه ډكيږي تر څو پوري چي په هغه كي الله تعالى خپله پښه كښې نه ږدي (او كله چي الله تعالى خپل پښه كښيږدي نو ) دوږخ به وايي:

بس بس بس، دغه وخت به دوزخ ډک سي بيا به هغه راغونډ کړل سي او د هغه ځيني برخي به په ځينو برخو کي يو ځای کړل سي او الله تعالی به خپل مخلوق کي پر هيڅا ظلم نه کوي او (جنت که خالي پاته سي) نو د هغه لپاره به الله تعالی نوی مخلوق پيدا کړي. بخاري او مسلم.

دوزخ او جنت به ډک کړل سي

(۵۲۵۱): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيهَا وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا قَدَمَهُ فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ وَلَا يَزَالُ فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ حَتَّى يُنْشِئَ اللّٰهُ لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنَهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ. متفق عليه و ذكر حديث انس حفت الجنة بالمكاره في كتاب الرقاق.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوزخ کي به خلك اچول کيږي او هغه به وايي نور سته، تر دې چي الله تعالی به په هغه کي خپله پښه کښيږدي دغه وخت به د دوزخ ځيني برخي په ځينو کي داخل کړل سي او بيا به دوزخ وايي بس بس، ستا په عزت او ستا په بخښش مي دي قسم وي زه ډك سوم، او په جنت کي به هميشه زيات ځای وي تر دې چي الله تعالی به نور مخلوق پيدا کړي او د جنت خالي ځايونه به د هغو څخه ډك کړي. بخاري او مسلم، او د حضرت انس ﷺ حديث (حفت الجنة ....) په کتاب الرقاق کي بيان سوی دی.

## دويم فصل

جنت د نفس د مکروهاتو او دوزخ د نفس د خواهشاتو څخه چاپير دی

(۵۲۵۲): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيلَ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا والى ما اعدالله لاهلها فيها ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا ثُمَّ حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ ثُمَّ قَالَ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ قَالَ فَلَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ النَّارَ قَالَ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا قال فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا فَحَفَّهَا بِالشَّهَوَاتِ ثُمَّ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي الله تعالی جنت پيدا کړ نو جبرائيل عليه السلام ته يې وفرمايل ولاړ سه جنت وګوره، نو هغه ولاړی جنت يې وکتی او په هغه کي پر ټول سامان يې نظر واچوی کوم چي الله تعالی دجنتيانو لپاره تيار کړي دي، بيا چي راغلی عرض يې وکړ: اې پروردګاره! ستا په عزت دي مي قسم وي څوك چي ددې جنت حال واوري هغه به په دې کي دداخليدو خواهش کوي، بيا الله تعالی د جنت څخه شاوخوا د شرعي پابنديو احاطه قائمه کړه

قَالَ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي.

او د هغه څخه وروسته يې جبرائيل عليه السلام ته وفرمايل : اې جبرائيله ! ولاړ سه او جنت دويم وار وګوره، جبرائيل عليه السلام ورغلی جنت يې دويم وار وکتی ، کله چې راغلی وه يې ويل : اې پروردګاره ! ستا په عزت دې مې قسم وي زما سره انديښنه ده چې اوس به هيڅوک جنت ته داخل نه سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چې الله تعالی دوزخ پيدا کړ نو وه يې فرمايل : اې جبرائيل ! ولاړ سه دوزخ وګوره نو هغه ولاړی دوزخ يې وکتی کله چې راغلی نو عرض يې وکړ اې پروردګاره! ستا په عزت مې دې قسم وي څوک چې د دوزخ حال واوري نو هغه به هيڅکله په دې کې دداخليدو خواهش ونه کړي ، ددې څخه وروسته الله تعالی د دوزخ څخه شاوخوا د خواهشات نفساني او شهواتو احاطه ولګول بيا يې وفرمايل اې جبرائيله! ولاړسه اوس دوزخ وګوره ، جبرائيل راغلی او دوزخ يې دويم وار وکتی کله چې راغلی نو عرض يې وکړ اې پروردګاره ! ستا په عزت دې مې قسم وي زما سره بيره ده چې په دې کې به هيڅوک نې داخليدو پاته نه سي . ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

## دريم فصل

### د رسول الله ﷺ د جنت او دوزخ ليدنه

(٥٣٥٣): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ قَدْ أُرِيتُ الْآنَ مُنْذُ صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قُبُلِ هَذَا الْجِدَارِ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله ﷺ موږ ته لمونځ راکړ، بيا منبر ته وختی د مسجد د قبلې خوا ته يې اشاره وکړه او وه يې فرمايل : ما اوس اوس تاسو ته د لمانځه درکولو په وخت ددغه ديوال مخته دوزخ او جنت په يو خاص شکل کې وليدل او زه ويلای سم چې تر ننه پورې څومره ښه او بد شيان ما ليدلې دې هغه د جنت او دوزخ د ښه والي او بدوالي مقابله کې هيڅ حيثيت او حقيقت نه لري. بخاري.

# بَاب بَدْءِ الْخَلْقِ وَذِكْرِ الْاَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

## (د مخلوقاتو پیدائش او انبیاء کرامو بیان)

## لومړی فصل

د الله ﷻ څخه مخکې هیڅ هم نه وه

(۵۲۵۲): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ قَوْمٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ قَالُوا بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَدَخَلَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا أَهْلَ الْيَمَنِ إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ قَالُوا قَبِلْنَا جِئْنَاكَ لِنَتَفَقَّهَ فِي الدِّينِ وَلِنَسْأَلَكَ عَنْ أَوَّلِ هَذَا الْأَمْرِ مَا كَانَ قَالَ كَانَ اللّٰهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ ثُمَّ أَتَانِي رَجُلٌ فَقَالَ يَا عِمْرَانُ أَدْرِكْ نَاقَتَكَ فَقَدْ ذَهَبَتْ فَانْطَلَقْتُ أَطْلُبُهَا وَايْمُ اللّٰهِ لَوَدِدْتُ أَنَّهَا قَدْ ذَهَبَتْ وَلَمْ أَقُمْ. رواه البخاري.

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم چې د قبیله بنو تمیم یو ډله حاضر سول، د هغوئ په لیدو سره رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اې بنو تمیم! زما زیری قبول کړئ ، بنو تمیم وویل : تاسو موږ ته (د دین په اړه) زیری راکړ موږ هغه قبول کړ اوس موږ ته یو څه دنیا راکړه، بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کې د یمن د خلکو یو ډله حاضره سوه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : بني تمیم خو زیری قبول نه کړ اې یمن والاوو! تاسو زما زیری قبول کړئ هغوئ وویل : موږ قبول کړ او موږ ددې لپاره ستاسو په خدمت کې حاضر سوی یو چې ستاسو څخه ددین په اړه معلومات حاصل کړو او تر ټولو وړاندې موږ ددې خبرې پوښتنه کول غواړو چې دا دنیا څنګه پیدا سوه او ددې څخه مخکې ایا یو بل شی موجود نه وو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر څه نه مخکې الله تعالی وو ، د الله تعالی څخه مخکې هیڅ شی موجود نه وو او د الله تعالی عرش د اوبو سرپیره وو ، الله تعالی آسمان او مځکه پیدا کړل او لوح محفوظ کې یې هر شی ولیکی، عمران بن حصین ﷺ وایي ، رسول الله ﷺ دا بیان کوی چې یو سړی راغلی او ما ته یې وویل : عمرانه! خپل اوښه و لټوه هغه تښتیدلې ده ، زه د هغې په لټه پسې روان سوم او اوس زه په الله ﷻ قسم سره وایم چې کاش زه نه وای ولاړ سوی که څه هم چې زما اوښه تښتیدلی وای. بخاري.

**رسول الله ﷺ د اول څخه تر قیامت پورې ټول حالات بیان کړي دي**

| | |
|---|---|
| (٥٤٥٥): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَامَ فِينَا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا فَأَخْبَرَنَا عَنْ بَدْءِ الْخَلْقِ حَتّٰى دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ مَنَازِلَهُمْ وَأَهْلُ النَّارِ مَنَازِلَهُمْ حَفِظَ ذٰلِكَ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ. رواه البخاري. | د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوه ورځ زموږ په منځ کې ودریدی د زیږیدني د پیل څخه یې په جنت او دوزخ کې تر داخلیدو پورې ذکر وکړ چا چې د هغه بیان د |

محفوظ ساتلو کوښښ وکړ هغه محفوظ وساتلو او چا چې کوښښ ونه کړ هغه هیر کړ. بخاري.

**د الله ﷻ رحمت د هغه پر غضب مخته والی وړی دی**

| | |
|---|---|
| (٥٤٥٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْخَلْقَ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي فَهُوَ مَكْتُوبٌ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ. متفق عليه. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: د مخلوق د پیدا کیدو څخه مخکې الله تعالی یو کتاب ولیکی په هغه کې یې دا الفاظ ولیکل: |

زما رحمت زما پر غضب مخته سو (یعني غالب سو) نو دا الفاظ دالله تعالی سره پر عرش لیکلي دي. بخاري او مسلم.

**ملائکې، جنات او د انسان تخلیق**

| | |
|---|---|
| (٥٤٥٧): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ . رواه مسلم. | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ملائکې د نور څخه پیدا کړل سوي او پیریان د اور د شغلو څخه پیدا کړل سوي دي، او آدم علیه السلام د هغه |

شي څخه پیدا کړل سوی دی چې تاسو ته یې بیان سوی دی چې د هغه ذکر په قرآن کریم کې ستاسو په وړاندې موجود دی (یعني خلقه من تراب). (آدم علیه السلام یې د خاورو څخه پیدا کړ). مسلم.

**د ادم ﷺ په اړه د شیطان خیال**

| | |
|---|---|
| (٥٤٥٨): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا صَوَّرَ اللّٰهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَتْرُكَهُ فَجَعَلَ إِبْلِيسُ يُطِيفُ بِهِ يَنْظُرُ مَا هُوَ فَلَمَّا رَآهُ أَجْوَفَ عَرَفَ أَنَّهُ خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ. رواه مسلم. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې الله تعالی د آدم علیه السلام شکل تیار کړ نو تر څو پورې چې یې غوښتل هغه یې په جنت کې وساتی، په دغه دوران کې به شیطان د آدم علیه السلام د تابوت |

خځه چاپيره گرځيدی کتل به يې او ويل به يې چې دا څه شي دی ، بيا چې هغه ولیدل چې دا دننه خالي دی نو خيال يې وکړ چې دا يو بې وسه مخلوق دی. مسلم.

**د ابراهيم ﷺ ختنه**

(۵۲۵۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النبي وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : حضرت ابراهيم عليه السلام د اتيا کالو په عمر کي خان سنت کړ ، يا دا چې ابراهيم ﷺ په مقام قدوم کي د اتيا کالو په عمر کي خان سنت کړ. بخاري اومسلم.

**د ابراهيم ﷺ درې درواغ**

(۵۲۶۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثًا إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَوْلُهُ إِنِّي سَقِيمٌ وَقَوْلُهُ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا وَقَالَ بَيْنَا هُوَ ذَاتَ يَوْمٍ وَسَارَةُ إِذْ أَتَى عَلَى جَبَّارٍ مِنَ الْجَبَابِرَةِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ هَا هُنَا رَجُلًا مَعَهُ امْرَأَةٌ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَسَأَلَهُ عَنْهَا فَقَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَ أُخْتِي فَأَتَى سَارَةَ فقال لها ان هذا الجبار ان يعلم انك امراتي يغلبني عليك فان سالك فاخبريه انك اختي فانك اختي في الاسلام لَيْسَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرَكِ فارسل اليها فاتي بها قام ابراهيم يصلى فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ ذَهَبَ يَتَنَاوَلُهَا بِيَدِهِ فَأُخِذَ ويروي فغط حتى ركض برجله فَقَالَ ادْعِي اللّٰهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ فَدَعَتِ اللّٰهَ فَأُطْلِقَ ثُمَّ تَنَاوَلَهَا الثَّانِيَةَ فَأُخِذَ مِثْلَهَا أَوْ أَشَدَّ فَقَالَ ادْعِي اللّٰهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ فَدَعَتِ اللّٰهَ فَأُطْلِقَ فَدَعَا بَعْضَ حَجَبَتِهِ فَقَالَ إِنَّكَ لَمْ تَأْتِنِي بِإِنْسَانٍ إِنَّمَا أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ فَأَخْدَمَهَا هَاجَرَ فَأَتَتْهُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ابراهيم عليه السلام بوازې .درې واره درواغ ويلي دي دوه واره درواغ يې د الله ﷺ لپاره ويلي دي (يعني د الله تعالى د رضا تر لاسه کولو او د هغه د حکم پر ځای راوړلو لپاره) او يو وار يې دا وويل چې زه ناروغه يم (او دا هغه وخت کله چې د هغه قوم خپل په اختر کي د هغه شريکولو لپاره بيول غوښتل چې هلته د بتانو عبادت کيدی او هغه تلل نه غوښتل، په دې سبب هغه وويل چې زه ناروغه يم)، او بل دا قول دده چې دا کار غټ بت کړی دی (او دا هغه وخت چې د کفارو په نه شتون کي هغه د هغوئ بتان مات کړي وه کله چې کافرانو پوښتنه څيني وکړه اې ابراهيمه ! دا کار تا کړی دی ؟ نو هغه وويل ما نه دی کړی دغه غټ بت دا کار کړی دی او رسول الله ﷺ د دريم قول په اړه دا وفرمايل چې يوه ورځ ابراهيم عليه السلام خپل کوروالا (بي بي ساره) سره د شام په لور تلی چې د يو ظالم پاچا پر ښار

فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ مَهْيَمْ قَالَتْ رَدَّ اللّٰهُ كَيْدَ الْكَافِرِ فِي نَحْرِهِ وَأَخْدَمَ هَاجَرَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ تِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ. متفق علیه.

تیریدل هغه ظالم پاچا ته خبر ورغلی چي دغه یو سړی راغلی دی او د هغه ډیره ښکلي ښځه ده هغه یو سړی ولیږی د ابراهیم ﷺ څخه یې

پوښتنه یې وکړه چي ستا سره دا ښځه څوك ده ؟ ابراهیم علیه السلام ورته وویل : دا زما خور ده ، نو ددې څخه وروسته ابراهیم علیه السلام راغلی بي بي سارې ته یې وویل : که ددغه ښار ظالم حاکم پوه سو چي ته زما ښځه یې نو تا به زما څخه په زور واخلي که هغه درڅخه پوښتنه وکړي نو داسي ورته ووایه چي ته زما خور یې، بېشکه چي ته په حقیقت کي زما دیني خور یې په دغه وخت کي بغیر له ما او تا څخه د دنیا پر مخ بل څوك مؤمن نه سته ، بیا هغه ظالم حاکم بي بي ساره وغوښتل او هغه ته ورښېدل دلته ابراهیم علیه السلام پر لمانځه ودریدی ، کله چي بي بي ساره هغه ظالم حاکم ته مخامخ سوه نو هغه لاس ور اچول غوښتل چي هغه ظالم ونیول سو (یعني الله تعالی هغه منع کړ) یا هغه یې بې ساه او بې حرکته کړ یا غاړه یې ور خفه کړه چي ساه یې بنده سوه او پر مځکه یې لغتي وهلې ، بیا هغه ظالم پاچا بي بي سارې ته وویل : د الله ﷺ څخه زما لپاره دعاء وغواړه (چي ما ددغه تکلیف څخه خلاص کړي ) زه به تا ته تاوان نه رسوم ، نو بي بي سارې دعاء وکړه او د هغه ظالم حاکم څخه تکلیف لیري کړل سو ، هغه بیا دغه حرکت وکړ او په خراب نیت سره یې بي بي سارې ته لاس ور وړاندي کړ نو بیا هغسي ونیول سو بلکه د مځکي څخه زیات سخت ونیول سو هغه بیا هغسي وویل چي د الله څخه زما د خلاصون لپاره دعاء وکړه زه به تاته ضرر در ونه رسوم، نو بي بي ساره بیا دعاء وکړه او هغه ښه سو بیا هغه ظالم په خپلو درباریانو کي یو څوك راوغوښتل ورته وه یې ویل تا ما ته انسان نه دی راوستلی بلکه یو شیطان دي راوستلی دی بیا هغه ظالم حاکم د بي بي ساره د خدمت لپاره یوه مینځه (هاجره) راولیږل او هغه (یعني بي بي ساره) یې واستول ، ساره بي بي چي راغلل نو ابراهیم علیه السلام یې پر لمانځه کولو ولیدی ، ابراهیم علیه السلام په لمانځه کي په لاس سره اشاره وکړه چي څه حال دی ستا؟ ، بي بي ساره ورته وویل الله تعالی د هغه کافر مکر او فریب هم د هغه په غاړه کي واچوی او هغه د خدمت لپاره هاجره هم راکړه ، ابوهریره ﷺ وایي اې د آسمان د اوبو زامنو! دا ستاسو مور ده . (د آسمان د اوبو څخه مراد پاك نسب دی) . بخاري اومسلم.

**د حضرت ابراهیم ﷺ، حضرت لوط ﷺ او حضرت یوسف ﷺ واقعې**

(۵۴۶۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :: موږ د ابراهیم علیه

رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى وَيَرْحَمُ اللَّهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ. متفق عليه

السلام څخه زيات دشك ور يو ، هر كله چي هغه دا ويلي وه چي «رب ارني كيف تحي الموتى» «اې پروردګاره! ما ته وښيه چي ته مړي څنګه ژوندي کوې»، الله تعالی دې پر لوط رحم وکړي هغه خو هسې هم د يو مضبوط ذات په پناه کې وو (يعني هر كله چي خلكو د لوط ميلمانه تنګول پيل کړل نو هغه دا آرزو وکړل چي کاش زما سره داسي يو مضبوط ډله واى چي د هغه په مرسته ما دغه خلکو دفع کولای سوای، او رسول الله ﷺ وفرمايل: كه زه په بندي خانه كي تر دومره اوږده وخت پوري واى څومره چي يوسف عليه السلام پاته سوی وو نو ما به د بلونكي دعوت قبول كړى واى. بخاري او مسلم.

**حضرت موسى ﷺ او د بني اسرائيلو ايذا**

(۵۴۶۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيرًا لَا يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ اسْتِحْيَاءً فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَقَالُوا مَا يَسْتَتِرُ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلَّا مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ إِمَّا بَرَصٌ وَإِمَّا أُدْرَةٌ وَإِنَّ اللَّهَ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ فَخَلَا يَوْمًا وَحْدَهُ لِيَغْتَسِلَ فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى الْحَجَرِ ففر الحجر بثوبه فجمع موسى في اثره يقول ثوبي ياحجر ثوبي يا حجر حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ وقالوا والله ما بموسى من باس واخذ ثوبه فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا فَوَاللَّهِ إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : موسى عليه السلام يو ډير شرم ناك او پرده دار سړی وو، دومره حيادار چي د هغه د بدن او پوست هيڅ برخه به نه ښکاره کيدل نو د بني اسرائيلو ځينو خلکو هغه ته د تکليف رسولو اراده وکړل او دا خبري يې پيل کړې چي موسى عليه السلام خپل بدن په دومره احتياط سره پوازي په دې وجه پټ ساتي چي د هغه په بدن کي يو عيب دی، يا خو برص دی يا خصيې دی، الله تعالی اراده وکړه چي کوم عيب د موسى عليه السلام لګول سوی دی د هغه څخه دی پاك او صفا ښکاره کړي نو يوه ورځ موسى عليه السلام په يوازي ځای کي د لمبيدو لپاره جامې وكښې او پر يوه ډبره يې كښېښودلې ، ډبره د هغه جامو سره وتښتېدل ، موسى په هغه ډبري پسې په دې ويلو سره ور وځغاستى اې ډبري ! زما جامې راکړه ، اې ډبري زما جامې راکړه تر دې چي موسى عليه السلام په منډه منډه کي د بني اسرائيلو يو ډلې ته ورسيدى هغه ډلې د موسى عليه السلام لوڅ بدن وليدى او د الله تعالى په مخلوق کي يې موسى عليه السلام د يو غوره وجود انسان وليدی، او ټولو په اتفاق سره دا وويل قسم په خدای موسى عليه

السلام کي هیڅ عیب نسته، آخر موسی جامې واخیستې او هغه ډبره یې په لکړه وهل پیل کړل، قسم په خدای پر هغه ډبرې د موسی علیه السلام د وهلو علامې موجودې دي درې، یا څلور یا پنځه. بخاري اومسلم.

د حضرت ایوب علیه السلام یو واقعه

(۵۲۶۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ فَنَادَاهُ رَبُّهُ يَا أَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى قَالَ بَلَى وَعِزَّتِكَ وَلَكِنْ لَا غِنَى بِي عَنْ بَرَكَتِكَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: حضرت ایوب علیه السلام یو وار لوڅ لمبیدی، چې د سرو زرو ملخان پر اوریدل، او ایوب علیه السلام هغه را ټولول او په کالو کې یې اچول، الله تعالی ورته وفرمایل: اې ایوبه ایا ته مونږ ددې څخه بې نیازه کړی نه یې، ایوب علیه السلام عرض وکړ هو، ستا په عزت دې مې قسم وي تا زه د سرو زرو څخه بې نیازه کړی یم مګر زه ستا د رحمت او برکت څخه بې نیازه نه یم. بخاري.

نبي ﷺ ته پر هیڅ یو نبي فضیلت مه ورکوئ

(۵۲۶۴): وَعَنْهُ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ الْمُسْلِمُ وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا عَلَى الْعَالَمِينَ فَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْعَالَمِينَ فَرَفَعَ الْمُسْلِمُ يَدَهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمَ فَسَأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَصْعَقُ مَعَهُمْ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ جَانِبَ الْعَرْشِ فَلَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي أَوْ كَانَ فِيمَنِ اسْتَثْنَى اللَّهُ، وفي رواية فلا ادري احوسب بصعقه يوم الطور او بعث

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو مسلمان او یو یهودي یو تر بله ښکنځل سره وکړل، مسلمان وویل قسم دی په هغه ذات چې محمد ﷺ یې د ټولې نړۍ خلکو باندې غوره کړی دی، یهودي وویل قسم دی په هغه ذات چې موسی علیه السلام یې پر ټول دنیا غوره کړی دی، مسلمان په دې خبره په غصه سو هغه یهودي یې پر مخ په چپلاخه ووهی، یهودي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او واقعه یې بیان کړه، نبي کریم ﷺ هغه مسلمان راوغوښتی او د هغه څخه یې د واقعې پوښتنه وکړه هغه د حال د حقیقت څخه رسول الله ﷺ خبر کړ، د دواړو د بیانونو اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته پر موسی علیه السلام فضیلت

قبلي ولا اقول ان احدا افضل من یونس بن متی وفي روایة ابي سعید قال لا تخیروا بین الانبیاء ، متفق علیه وفي روایة ابي هریرة لاتفضلوا بین انبیاء الله.

مه راکوئ څکه چي د قیامت په ورځ به (د شپیلی پوه کولو سره) خلك بې هوشه سي زه به هم بې هوشه سم بیا د ټولو څخه لومړی سری به زه یم چي په هوش کي به راسم زه بهووینم چي موسیٰ علیه السلام به د عرش پایه نیولي ولاړ وي ، زه نه سم ویلای چي دی په بې هوشه سوي کسانو کي وو او زما څخه مخکي په هوښ کي راغلی وو او که الله تعالی هغه د بې هوښي څخه خلاص کړی وو، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه نه سم ویلای چي پر کوه طور باندي د موسی علیه السلام بې هوښه کیدل په نن ورځ کي شمیر کړل سول یا بې هوښه سوی وو مگر زما څخه مخکي په هوښ کي راغلی وو ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل زه دا هم نه سم ویلای چي څوك تر یونس بن متی غوره دی ، او د ابوسعید روایت کي دا الفاظ دي چي د انبیاؤو په منځ کي یوه ته پر بل بهتروالی مه ورکوئ . بخاري او مسلم او د ابوهریره په روایت کي دي چي د الله تعالی د انبیاؤو په منځ کي چا ته فضیلت مه ورکوئ.

### د حضرت یونس ﷺ په اړه یو هدایت

(۵۲۶۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ إِنِّي خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتّٰى. متفق علیه وفي روایة للبخاري وقال من قال انا خیر من یونس بن متی فقد کذب .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅ سړي ته دا حق نسته چي هغه دا ووایي چي زه (یعني محمد ﷺ) د یونس بن متی څخه غوره یم . بخاري او مسلم او د بخاري په یو روایت کي دا الفاظ دي کوم څوك چي دا ووایي چي زه (یعني محمد ﷺ) د یونس بن متی څخه غوره یم نو هغه درواغجن دی.

### د حضرت خضر ﷺ ذکر

(۵۲۶۶): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ طُغْيَانًا وَكُفْرًا. متفق علیه.

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حضرت خضر علیه السلام چي کوم هلك قتل کړی وو هغه د کفر پر فطرت پیدا کړل سوی وو که هغه ژوندی پاته سوی وای نو خپل مور او پلار به یې په کفر او سرکښۍ کي اخته کړي وای . بخاري او مسلم.

## د خضر وجه تسميه

(۵۴۶۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرَ أَنَّهُ جَلَسَ عَلَى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ فَإِذَا هِيَ تَهْتَزُّ مِنْ خَلْفِهِ خَضْرَاءَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حضرت خضر عليه السلام نوم په دې سبب خضر اېښودل سوی دی چي هغه پر يو وچه سپينه مځکه باندې ناست وو چي هلته شينګيا پيدا سوه او تر ده وروسته غتېدل . بخاري.

## حضرت موسی ﷺ او د مرګ ملائکه

(۵۴۶۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى ابن عمران فَقَالَ لَهُ أَجِبْ رَبَّكَ قَالَ فَلَطَمَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا قَالَ فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى فَقَالَ إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لَكَ لَا يُرِيدُ الْمَوْتَ وَقَدْ فَقَأَ عَيْنِي قَالَ فَرَدَّ اللّٰهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ ارْجِعْ إِلَى عَبْدِي فَقُلْ الْحَيَاةَ تُرِيدُ فَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْحَيَاةَ فَضَعْ يَدَكَ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرَةٍ فَإِنَّكَ تَعِيشُ بِهَا سَنَةً قَالَ ثُمَّ مَهْ قَالَ ثُمَّ تَمُوتُ قَالَ فَالْآنَ مِنْ قَرِيبٍ رَبِّ أَدْنِنِي مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَوْ أَنِّي عِنْدَهُ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مرګ ملائکه حضرت موسی عليه السلام ته راغلل ورته وه يې ويل : د خپل پروردګار حکم قبول کړه (يعني د الله ﷻ په حکم سره زه ستا روح قبض کولو لپاره راغلې يم) موسی عليه السلام پر سترګه په چپلاخه وواهه چي د هغه څخه د مرګ دملائکي سترګه ووتل ، د مرګ ملائکه د الله تعالی په دربار کي حاضره سوه او عرض يې وکړ اې پروردګاره! تا زه يو داسې بنده ته ليږلی وم چي هغه مرګ نه خوښوي، او هغه زما سترګه ړنده کړه، رسول الله ﷺ فرمايي : الله تعالی د ملك الموت سترګه روغه کړه ورته وه يې فرمايل : دويم وار زما بنده ته ورسه او ورته ووايه چي ايا ته د بر ژوند خوښوي ، که ددې خواهش لرې نو خپل لاس د يو غوايي پر شا کښېږده څومره وريښتان چي ستا تر لاس لاندې راسي د هر وريښته په حساب به ستا يو کال عمر زيات سي ، ددې پيغام اوريدو سره موسی عليه السلام وويل بيا به څه وي، ملك الموت ورته وويل: بيا به مرګ وي، موسی عليه السلام وويل نو زه مرګ هم اوس قبلوم، (عرض يې وکړ) اې پروردګاره! ما ارض مقدسه (يعني بيت المقدس) ته نژدې کړې که څه هم د يو دبرې ويشتلو په فاصله وي ، ددې بيان کولو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم په خدای که زه بيت المقدس ته نژدې وای نو ما به تاسو ته د موسی عليه السلام

قبر ښودلی وای چي د لاري پورته د يوې سرې غونډۍ نژدې واقع دی. بخاري او مسلم.

## د انبياوو حليې

(۵۴۶۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دَحْيَةُ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په معراج کي) انبياء عليهم السلام زما په وړاندي راوستل سول ، ما وليدل چي حضرت موسى عليه السلام د شنوءة د قبيلې د خلکو سره مشابه دی ، ما عيسى بن مريم عليه السلام وليدی زيات مشابه د عروه بن مسعود سره، ما ابراهيم عليه السلام وليدی چي ستاسو د دوست (يعني د رسول الله ﷺ) سره زيات مشابه دی او ماجبرائيل ﷺ وليدی چي د حبه بن خليفه سره مشابه دی، مسلم.

(۵۴۷۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي مُوسَى رَجُلًا آدَمَ طُوَالًا جَعْدًا كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى رَجُلًا مَرْبُوعًا الْخَلْقِ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ سَبِطَ الرَّأْسِ وَرَأَيْتُ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ وَالدَّجَّالَ فِي آيَاتٍ أَرَاهُنَّ اللَّهُ إِيَّاهُ فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه ما موسى عليه السلام وليدی چي لوړ قدی او غنم رنگی وو او د هغه وريښتان گردي وه گويا چي هغه د قبيله شنوءة يو کس دی ما عيسى عليه السلام وليدی چي د زيږيدني د اعتبار څخه متوسط قد او قامت لري د هغه رنگ سور او سپين وو او د سر وريښتان يې هوار وه ، ما د دوږخ خازندار وليدی او دجال مي وليدی او هغه دواړه مي په هغه علاماتو کي وليدل چي الله تعالى راته وښودل. ، په دې وجه اې مخاطبه ! د هغوئ په ليدو او د هغوئ سره په يو خاى کيدو کي شك مه کوه .(آخري جمله د راوي ده). بخاري او مسلم.

## د معراج په شپه د نبيانو سره ملاقات او د شرابو د جام څخه انكار

(۵۴۷۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي لَقِيتُ مُوسَى فَنَعَتَهُ فَإِذَا رَجُلٌ مُضْطَرِبٌ رَجِلُ الشَّعْرِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَلَقِيتُ عِيسَى رَبْعَةٌ أَحْمَرُ كَأَنَّمَا

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه ما د موسى عليه السلام سره ملاقات وکړ ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ د موسى عليه السلام

خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ يَعْنِي الْحَمَّامَ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ وَأَنَا أَشْبَهُ وَلَدِهِ بِهِ قَالَ فَأُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ وَأَحَدُهُمَا لَبَنٌ وَالْآخَرُ فِيهِ خَمْرٌ فَقِيلَ لِي خُذْ أَيُّهُمَا شِئْتَ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ فَقِيلَ لِي هُدِيتَ الْفِطْرَةَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ. متفق عليه.

صفت بیان کړ او وه يې فرمايل : هغه يو مضطرب د الله ﷺ د بيري څخه رپيدونكى سړى دى د سر وريښتان يې لوى وه گويا هغه د قبيله شنوة يو کس دى ، او ما د حضرت عيسى عليه السلام سره ملاقات وكړ هغه د متوسط قامت او سور رنگى دى گويا چي اوس د حمام څخه راوتلى وي او ما ابراهيم عليه السلام وليدى او د هغه په اولاد كي زه د هغه زيات مشابه يم ، بيا ما ته دوه لوښي راکړل سول په يوه كي شيدې وې او په دويم كي شراب ، ما ته وويل سول چي په دې كي دې كوم يو خوښ وي هغه واخله ما شيدې واخيستې او وه مي څښلې بيا ما ته وويل سوه تا ته د فطرت لار وښودل سوه (يعني الله تعالى تا ته د اسلام ددين هدايت وكړ) كه تا شراب اخيستى واى نو ستا امت به گمراه سوى واى. بخاري اومسلم.

**نبيان د دنيا څخه د تلو وروسته هم نيک اعمال كوي**

(۵۴۷۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَمَرَرْنَا بِوَادٍ فَقَالَ أَيُّ وَادٍ هَذَا فَقَالُوا وَادِي الْأَزْرَقِ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِنْ لَوْنِهِ وَشَعْرِهِ شَيْئًا وَاضِعًا إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ لَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللَّهِ بِالتَّلْبِيَةِ مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي قَالَ ثُمَّ سِرْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى ثَنِيَّةٍ فَقَالَ أَيُّ ثَنِيَّةٍ هَذِهِ قَالُوا هَرْشَى أَوْ لِفْتٌ فَقَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ عَلَيْهِ جُبَّةُ صُوفٍ خِطَامُ نَاقَتِهِ خُلْبَةٌ مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي مُلَبِّيًا. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي موږ د مكي او مديني په منځ كي د رسول الله ﷺ سره سفر وكړ موږ چي يو ځنگل ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه دا كوم ځنگل دى؟ خلكو عرض وكړ دا وادي ازرق ده، رسول الله ﷺ وفرمايل لكه زه چي دا وخت حضرت موسى عليه السلام طرف ته گورم ، نو رسول الله ﷺ د موسى عليه السلام د رنگ او وريښتانو څه كيفيت بيان كړ چي موسى عليه السلام د ځنگل څخه په غوږونو كي گوتي وركړي په لوړ آواز په تلبيه ويلو سره تيريږي، راوي وايي بيا موږ مخته ولاړو او ثنيه ته ورسيدو (ثنيه هغه لار ده چي د دوو غرونو په منځ كي واقع ده) نو رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه دا كومه ثنيه ده ؟ خلكو عرض وكړ هرشا يا لفت ده، رسول الله ﷺ وفرمايل: گويا زه يونس عليه السلام ته گورم چي پر سره اوښه باندې سپور دى او د وړۍ چپنه يې اغوستې ده د هغه د اوښې مهار د خرما د درختې د پوستكي دى او ددغه شيلې سره په تلبيه ويلو سره تيريږي . مسلم

## د حضرت داؤد ؑ ذکر

(۵۲۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُفِّفَ عَلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام الْقُرْآنُ فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَوَابِّهِ فَتُسْرَجُ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَبْلَ أَنْ تُسْرَجَ دَوَابُّهُ وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدِهِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر داؤد علیه السلام باندي د زبور ویل آسان کړل سوي وه هغه به پر خپل سپرلي باندي د زین اچولو حکم ورکړ او د زین د تړلو څخه مخکي به یې زبور ووایه او داؤد علیه السلام به د خپلو لاسونو په کسب سره خوراك خوری. بخاري.

## د حضرت داؤد ؑ او سلیمان ؑ بېلي بېلي فیصلې

(۵۲۷۴): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ وَقَالَتْ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَام فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا فَقَالَتْ الصُّغْرَى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دوې ښځي وې او د دواړو سره یو یو زوی وو، شرمښ راغلی او د یوې زوی یې وتښتوی ، دواړي ښځي په دې جګړه سوې ، یوې ویل ستا زوی شرمښ وتښتوی او دویمي ویل ستا زوی شرمښ وتښتوی، دواړو ښځو خپله معامله داؤد علیه السلام ته راوړل، داؤد علیه السلام هلك هغه مشري ښځي ته ورکړ بیا دا دواړي ښځي سلیمان علیه السلام ته راغلې او خپله معامله یې ورته بیان کړه، سلیمان علیه السلام وویل یوه چاړه راوړئ چي زه دا هلك په منځ کي دوې توټې کړم او پر تاسو یې وویشم، کم عمره ښځي ورته وویل الله دي پر تا رحم وکړي داسي مه کوه دا ددې زوی دی ، نو سلیمان علیه السلام هغه هلك کم عمره ښځي ته ورکړ. بخاري اومسلم.

## د حضرت سلیمان ؑ واقعه

(۵۲۷۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سُلَيْمَانُ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً وفي رواية بمائة امراة كُلُّهُنَّ تَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَقَالَ لَهُ الملك قُلْ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ فَطَافَ عَلَيْهِنَّ فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (یوه ورځ) سلیمان علیه السلام وویل : نن شپه به زه د (۹۰) ښځو سره او په یوه روایت کي د سلو ښځو سره جماع کوم په هغو کي به هره ښځه یو سپور زیږوي چي د الله تعالی په لاره کي به غزا کوي، ملائکي سلیمان

امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ وَايْمُ الَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ. متفق عليه.

عليه السلام ته وويل انشاء الله ووايه ، مگر هغه انشاء الله ونه ويل او هېر يې سول، او د ښځو سره يې کوروالي وکړه مگر په هغوئ کي يوازي يوه ښځه حامله سوه او د هغې هم نيمگړی ماشوم پيدا سو ، او قسم په هغه ذات چي د هغه په لاس کي د محمد ﷺ ساه ده که سليمان عليه السلام انشاء الله ويلي وای نو ټولو ښځو به هلکان زيږولي وای، او هغوئ به سپاره د الله په لاره کي جهاد کړی وای. بخاري او مسلم

## کسب د نبيانو سنت دی

(٥٤٧٦): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ زَكَرِيَّاءُ نَجَّارًا. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت زکريا ﷺ ترکاڼ وو (يعني د لرگيو کار يې کوی). بخاري.

## د حضرت عيسى ﷺ او رسول الله ﷺ تعلق

(٥٤٧٧): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ فِي الاولى وَالْآخِرَةِ وَالْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ و أُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ وَلَيْسَ بَيْنَنَا نَبِيٌّ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دنيا او آخرت کي زه حضرت عيسى بن مريم عليهما السلام ته ډېر نژدې او متصل يم (د دواړو په منځ کي د بل نبي فاصله نسته او په آخر کي به عيسى عليه السلام د رسول الله ﷺ نائب وي)، انبياء ميرني ورونه دي يعني د ټولو پلار يو دی او ميندي مختلفي دي او د ټولو انبياؤو دين يو دي او زموږ په منځ کي څوک نبي نسته (يعني د حضرت عيسى عليه السلام او حضرت محمد ﷺ په منځ کي بل نبي نسته). بخاري او مسلم.

## د حضرت عيسى ﷺ فضيلت

(٥٤٧٨): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَنِي آدَمَ يَطْعُنُ الشَّيْطَانُ فِي جَنْبَيْهِ بِإِصْبَعِهِ حِينَ يُولَدُ غَيْرَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَهَبَ يَطْعُنُ فَطَعَنَ فِي الْحِجَابِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر انسان چي پيدا کيږي نو شيطان يې پر دواړو بغلو په دواړو گوتو وهي بېله عيسى بن مريم عليه السلام شيطان اراده وکړل چي وه يې وهي نو په پرده کي نغښتلی يې ووهی. بخاري او مسلم.

د ښځو غوره ذکر

(۵۴۷۹): وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَ آسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ. متفق عليه و ذكر حديث انس يا خير البرية وحديث ابي هريرة اي الناس اكرم وحديث ابن عمر الكريم ابن الكريم في باب المفاخرة والعصبية.

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په نارینو کي ډیر کامل سړی تیر سوی مگر په ښځو کي د بي بي مریم بنت عمران او اسیه زوجه فرعون څخه پرته څوك كامله سوې نه ده ، او په نورو ښځو کي بي بي عائشي ته هغه فضیلت حاصل دی لکه څرنگه چي ماتي ډوډۍ ته پر نورو خوراکونو ، بخاري او مسلم او دانس ﷺ حدیث (یاخیر البریة الخ) او ابن عمر حدیث : الکریم ابن الکریم، په باب المفاخره والعصبیه کي بیأن سوي دي .

## دویم فصل

د الله ﷻ په اړه یو سوال

(۵۴۸۰): عَنْ أَبِي رَزِينٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيْنَ كَانَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ خَلْقَهُ قَالَ كَانَ فِي عَمَاءٍ مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ . رواه الترمذي وقال قال يزيد ابن هارون العماء اي ليس معه شئ .

د حضرت ابو رزین ﷺ څخه روایت دی چي ما عرض وکړي اې دالله رسوله ! د خپل مخلوق پیداکولو څخه مخکي زموږ پروردگار په کوم ځای کي وو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل په عماء (یعني باریکي وریځي) کي وو، نه تر هغه لاندي هواء وه او نه د هغه سربیره، الله تعالی خپل عرش پر اوبو پیدا کړی وو ، ترمذي، یزید بن هارون وایي عماء څخه دا مراد دی چي د هغه سره هیڅ شی نه وو.

د اسمانو ذکر

(۵۴۸۱): وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ زعم انه كان جالسا فِي الْبَطْحَاءِ فِي عِصَابَةٍ وَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِيهِمْ فَمَرَّتْ سَحَابَةٌ فَنَظَرُوا إِلَيْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عباس ﷺ بن عبدالمطلب څخه روایت دی چي هغه په بطحا (د مکي مکرمې نوم) کي په یو ډله کي ناست وو او رسول الله ﷺ هم په دغه ډله کي وو، چي د وریځي یوه ټوټه تیره سوه خلکو هغه وریځې ته وکتل ، رسول الله ﷺ

مَا تُسَمُّونَ هٰذِهٖ قَالُوا السَّحَابَ قَالَ وَالْمُزْنَ قَالُوا وَالْمُزْنَ قَالَ وَالْعَنَانَ قَالُوا وَالْعَنَانَ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ قَالُوا لَا نَدْرِي قَالَ إِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ أَوْ اثْنَتَانِ أَوْ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ سَنَةً والسَّمَاءُ الَّتِي فَوْقَهَا كَذٰلِكَ حَتّٰى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ثُمَّ فَوْقَ السماء السَّابِعَةِ بَحْرٌ بَيْنَ أَعْلَاهُ وأَسْفَلِه كَمَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلٰى سَمَاءٍ ثُمَّ فَوْقَ ذٰلِكَ ثَمَانِيَةُ أَوْعَالٍ بَيْنَ أَظْلَافِهِمْ وَرُكَبِهِمْ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلٰى سَمَاءٍ ثُمَّ عَلٰى ظُهُورِهِنَّ الْعَرْشُ بَيْنَ أَسْفَلِه وَأَعْلَاهُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلٰى سَمَاءٍ ثُمَّ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فَوْقَ ذٰلِكَ. رواه الترمذي وابوداؤد.

وفرمايل: تاسو دې ته څه واياست؟ خلکو عرض وکړ دا وريځ ده، رسول الله ﷺ وفرمايل او مزن هم دې ته وايي ، هغوئ وويل هو مزن هم دې ته وايي، رسول الله ﷺ وفرمايل عنان هم ورته وايي،اصحابو وويل عنان هم درته وايو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده د آسمان او مځکي په منځ کې څومره فاصله ده، صحابه کرامو وويل موږ ته نه ده معلومه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د آسمان او مځکي په منځ کې د يو اويا ، دو اويا يا درو اويا کالو مزل دی.(راوي ته شك دی) او ددې آسمان سربيره چې دويم آسمان دی هغه هم ددې آسمان څخه دومره ليري دی ، همداسې رسول الله ﷺ اووه آسمانونه شمار کړل بيا يې وفرمايل: د اووم آسمان سربيره يو لوی درياب دی ددې درياب بيخ او د اوبو د سطحې په منځ کې هم دومره فاصله ده څومره چې د يوه آسمان څخه د بل آسمان په منځ کې فاصله ده بيا د هغه درياب سربيره اته ملائکې دي چې د هغوئ د نوکونو او يا تشو په منځ کې هم دومره فاصله ده لکه د يوه اسمان څخه تر بل اسمان پورې ، بيا ددغه ملائکو پر شا عرش دی او د لاندينۍ برخې او سربيره برخې په منځ کې هم دومره فاصله ده لکه د يوه اسمان څخه تر بل اسمان پورې او ددغه عرش سربيره الله تعالی دی. ترمذي او ابوداؤد.

## د عرش الهي ذکر

(٥٤٨٢): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ جُهِدَتِ الْأَنْفُسُ وَجَاعَ الْعِيَالُ وَنُهِكَتِ الْأَمْوَالُ وَهَلَكَتِ الْأَنْعَامُ فَاسْتَسْقِ اللّٰهَ لَنَا فَإِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَى اللّٰهِ وَنَسْتَشْفِعُ بِاللّٰهِ عَلَيْكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ أَتَدْرِي مَا تَقُولُ وَسَبَّحَ رَسُولُ

د حضرت جبير بن مطعم ﷺ څخه روايت دی چې يو صحرايي د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړ چې نفسونه په تکليف کې سول ، اهل او عيال د لوږې څخه مري مالونه بربادېږي او حيوانان مره کيږي اې دالله رسوله! د الله ﷺ څخه دباران سوال وکړئ، موږ تاسو د الله ﷺ په نزد وسيله کوو، باران غواړو او الله تعالی تا ته

اللّٰهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا زَالَ يُسَبِّحُ حَتّٰى عُرِفَ ذٰلِكَ فِي وُجُوهِ أَصْحَابِهٖ ثُمَّ قَالَ وَيْحَكَ إِنَّهٗ لَا يُسْتَشْفَعُ بِاللّٰهِ عَلٰى أَحَدٍ مِنْ خَلْقِهٖ شَانُ اللّٰهِ أَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ وَيْحَكَ أَتَدْرِي مَا اللّٰهُ إِنَّ عَرْشَهٗ عَلٰى سَمَاوَاتِهٖ لَهٰكَذَا وَقَالَ بِأَصَابِعِهٖ مِثْلَ الْقُبَّةِ عَلَيْهِ وَإِنَّهٗ لَيَئِطُّ بِهٖ أَطِيطَ الرَّحْلِ بِالرَّاكِبِ. رواه ابوداؤد.

شفيع كوو ، ددې اوريدو سره نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى پاك دى الله تعالى پاك دى ، په څو واره رسول الله ﷺ دغه الفاظ وفرمايل، (تر دې چې د رسول الله ﷺ د مخ مبارك په تغير محسوس كولو سره) د صحابه كرامو مخونه هم متغير سول ، بيا رسول الله ﷺ هغه صحرايي ته وفرمايل: پر تا افسوس دى د الله تعالى چا ته شفاعت نه كيږي (او نه الله تعالى وسيله جوړيدلاى سي) د الله تعالى شان تر دې بزرگ او لوړ دى، پر تا افسوس دى ته پوهيږې چې د الله تعالى عظمت څه شي دى؟ د هغه عرش دده پر آسمانونو داسي دى وروسته رسول الله ﷺ لاس مبارك د گمبدي په شكل جوړ كړ او وه يې ښودل لكه څرنگه چې دا لاس يو شى راگير كړي همداسي د هغه عرش آسمانونه راگير كړي دي ، بيا يې وفرمايل: چې عرش سربيره د دومره لوى كيدو داسي چغيږي لكه څرنگه چې د اوښ كجاوه چغيږي كله چې پر هغه يو څوك سپور وي. ابوداؤد.

(٥٢٨٣): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللّٰهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهٖ إِلٰى عَاتِقِهٖ مَسِيرَةُ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته اجازه راكړل سوې ده چې زه د الله تعالى په هغه ملائكو كي د يوې ملائكي حال بيان كړم چې عرش الهي يې پورته كړى دى د هغه ملائكي د غوږ د پوستكى څخه د هغې تر اوږو پوري فاصله د اوو سوو كالو مزل دى. ابوداؤد.

### د الله ﷻ ديدار او حضرت جبرائيل عليه السلام

(٥٢٨٤): وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَبِي أَوْفٰى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجِبْرِيلَ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ فَانْتَفَضَ جِبْرِيلُ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهٗ سَبْعِينَ حِجَابًا مِنْ نُورٍ لَوْ دَنَوْتُ مِنْ بَعْضِهَا لَاحْتَرَقْتُ. هكذا في المصابيح ورواه أبو نعيم في الحلية عن أنس إلا أنه لم يذكر فانتفض جبريل. رواه المصابيح.

د حضرت زراره ابن ابو اوفى رضی الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ جبرائيل عليه السلام ته وفرمايل: ايا تا خپل پروردگار ليدلى دى ؟ ددې اوريدو سره جبرائيل عليه السلام په رپيدو سو ، هغه وويل : اې محمد ﷺ ! زما او د الله ﷻ په منځ كي د نور اويا زره پردې دي كه په هغه پردو كي يوې ته هم ور نژدې سوم نو وه به سوځم. مصابيح.

**حضرت اسرافيل ﷺ**

| | |
|---|---|
| (۵۴۸۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ إِسْرَافِيلَ مُنْذُ يَوْمِ خَلَقَهُ صَافًا قَدَمَيْهِ لَا يَرْفَعُ بَصَرَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَبْعُونَ نُورًا مَا مِنْهَا مِنْ نُورٍ يَدْنُو مِنْهُ إِلَّا احْتَرَقَ . رواه الترمذي وصححه | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د کومي ورځي څخه چي الله تعالى حضرت اسرافيل عليه السلام پيدا کړى دى د هغه دواړه قدمونه پر خپل ځاى اينبى ولاړ دى (يعني شپيلى په خوله کي نيولې |

تيار ولاړ دى ) نظر نه پورته کوي د هغه او د الله ﷺ په منځ کي د نور اويا پردې دي په هغه کي د يوې پردې نژدې هم اسرافيل عليه السلام نه سي ورتلاى که نژدې ورسي نو وه به سوځي. ترمذي.

**د انسان فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۴۸۶): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ وَذُرِّيَّتَهُ قَالَتْ الْمَلَائِكَةُ يَارَبِّ خَلَقْتَهُمْ يَأْكُلُونَ وَيَشْرَبُونَ وَيَنْكِحُونَ وَيَرْكَبُونَ فَاجْعَلْ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى لَا أَجْعَلُ مَنْ خَلَقْتُهُ بِيَدَيَّ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي كَمَنْ قُلْتُ لَهُ كُنْ فَكَانَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي الله ﷺ آدم عليه السلام او د هغه اولاده پيدا کړل نو ملائکو وويل اې پروردګاره ! تا هغه مخلوق پيدا کړي چي خوري، څيښي ، نکاح او سپرلي به کوي ته هغوي ته دنيا ورکړې او موږ ته آخرت راکړې ، الله تعالى ورته وفرمايل: کوم مخلوق چي ما په خپل لاسونو سره جوړ کړى دى او ما پکښي |

خپل روح پوه کړى دى هغه د هغه مخلوق په ډول نه سي کيدلاى چي هغه ما په (کن) ويلو سره پيدا کړي دي او هغه پيدا سو ، بيهقي.

## دريم فصل

**پر ملائکو د انسان فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۴۸۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِه. رواه ابن ماجة. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مؤمن د الله تعالى په نظر کي د ځيني ملائکو څخه زيات عزتمند دى. ابن ماجه. |

**د مخلوقاتو د پيدائش ورځ**

| | |
|---|---|
| (۵۴۸۸): وَعَنْهُ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَقَالَ خَلَقَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الْأَحَدِ وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ فِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ من النهار فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ زما لاس ونيوی او وه يې فرمايل: الله تعالی خاوره د شنبې په ورځ پيدا کړې ده (يعني مځکه)، او بيا په مځکه کې يې غرونه د يکشنبې په ورځ پيدا کړل او درختې او بوټي يې د دوشنبې په ورځ پيداکړل او خراب شيان يې د سه شنبې په ورځ پيداکړل او رڼا يې د چارشنبې په ورځ پيداکړل او حيوانان يې په مځکه کې د پنجشنبې په ورځ خپاره کړل او آدم عليه السلام يې د جمعې په ورځ د مازديګر څخه وروسته پيدا کړ او د آخري زيږيدني د ورځې آخري ساعت کې وسو يعني د مازديګر څخه تر شپې پورې. مسلم

## د مځکې او اسمان ذکر

(٥٤٨٩): وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَأَصْحَابُهُ إِذْ أَتَى عَلَيْهِمْ سَحَابٌ فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَدْرُونَ مَا هَذَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ هَذَا الْعَنَانُ هَذِهِ رَوَايَا الْأَرْضِ يَسُوقُهُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْكُرُونَهُ وَلَا يَدْعُونَهُ ثم قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَكُمْ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا الرَّقِيعُ سَقْفٌ مَحْفُوظٌ وَمَوْجٌ مَكْفُوفٌ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا خَمْسُ مِائَةِ عَامٍ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ سَمَاءَيْنِ مَا بَيْنَهُمَا خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ ثم قال كذالك حَتَّى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ مَا بَيْنَ كُلِّ سَمَاءَيْنِ ما بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ فَوْقَ ذَلِكَ الْعَرْشَ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ او صحابه کرام ناست وه چې د وريځې يوه ټوټه تيره سوه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه پوهيږئ چې دا څه شي ده ؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل دا عنان ده، دا وريځ مځکه اوبه کونکې اوښان دي ، الله تعالی دا وريځ د هغه قوم په لور شړي چې د الله تعالی شکر نه ادا کوي او نه هغه يادوي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: او تاسو ته معلومه ده چې ستاسو سربيره څه شي دي؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو سربيره رقيع دي يعني د دنيا د آسمان خوندي بام، او يو موج يې د غورځيدو څخه منع کړی دی ، بيا يې وفرمايل تاسو ته معلومه ده آسمان او ستاسو په منځ کې څومره

النَّمَاءِ بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءَيْنِ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا الَّذِي تَحْتَكُمْ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا الْأَرْضُ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا تَحْتَ ذٰلِكَ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنَّ تَحْتَهَا أَرْضًا أُخْرَى بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ حَتّٰى عَدَّ سَبْعَ أَرَضِينَ بَيْنَ كُلِّ أَرْضَيْنِ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ رَجُلًا بِحَبْلٍ إِلَى الْأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللّٰهِ ثُمَّ قَرَأَ هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ. رواه احمد والترمذي وقال الترمذي قراءة رسول الله صلى الله عليه وسلم الاية تدل على انه اراد الهبط على علم الله وقدرته وسلطانه وعلم الله وقدرته و سلطانه في كل مكان وهو على العرش كما وصف نفسه في كتابه.

فاصله ده ؟ عرض وسو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو او د آسمان په منځ کې د پنځو سوو کالو لار ده ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ته معلومه ده چې د آسمان سربيره څه شي دي ؟ عرض وسو چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه آسمانونه دي او ددې دواړو په منځ کې د پنځو سوو کالو د لارې فاصله ده همداسې رسول الله ﷺ اووه آسمانونه وشميرل، او هر دوو آسمانو په منځ کې د پنځو سوو کالو د لارې فاصله يې وښودل، بيا يې وفرمايل : تاسو پوهيږئ ددې آسمانونو سربيره څه شي دي؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددغه آسمانونو سربيره عرش الهي دی او د دغه آسمانو او عرش الهي په منځ کې هم دومره فاصله ده لکه څومره چې د دوو آسمانو په منځ کې ده ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ته معلومه ده چې ستاسو لاندې څه شي دي ؟ عرض وسو چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل مځکه ده ، بيا يې وفرمايل : تاسو ته معلوه ده چې ددغه مځکې لاندې څه شي دي ؟ عرض وسو چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تر دغه مځکې لاندې بله مځکه ده او د دواړو مځکو په منځ کې د پنځو سوو کالو فاصله ده همداسې اووه مځکې يې وشميرلې او د هرې مځکې څخه تر بلې مځکې پورې يې د پنځو سوو کالو فاصله وښودل او بيا يې وفرمايل : په هغه ذات مې دې قسم وي چې د هغه په لاس کې د محمد ﷺ ساه ده که تاسو په مځکه کې رسۍ وغورځوئ او تر ټولو لاندې ورسيږي نو هغه به الله تعالى ته ورسيږي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: «هوالاول والاخر والظاهر والباطن وهو بكل شئ عليم» ، «الله تعالى اول دی او هغه آخر دی هغه ظاهر دی او هغه باطن دی او هغه ته د هر خير علم دی»، احمد او ترمذي، امام ترمذي په خپل جامع کې ددغه حديث لاندې وفرمايل : د رسول الله ﷺ ددې آيت تلاوت کول پر دې دلالت کوي چې هغه رسۍ به د

الله سبحانه وتعالى په علم او د هغه په قدرت او د هغه پر حكومت پريوځي ځكه چي د الله سبحانه وتعالى علم او د هغه قدرت او د هغه حكومت په هر ځاى كى دى او بذات خود په عرش عظيم كي دى ځنگه چي هغه په خپل كتاب كي خپل دا وصف بيان كرى دى.

### د حضرت ادم عليه السلام قد

(۵۲۹۰): وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ طُولُ آدَمَ سِتِّيْنَ ذِرَاعًا فِي سَبْعَةِ اَذْرُعٍ عَرْضًا. رواه احمد.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د آدم د قد لوړوالى شپيته گزه او دبدن پلنوالى يې اووه گزه وو. احمد.

### د انبياوو شمير

(۵۲۹۱): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رسول الله اَيُّ الْاَنْبِيَاءِ كَانَ اَوَّلَ قَالَ آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَام قُلْتُ يَا رسول الله اَوَنَبِيٌّ كَانَ آدَمُ قَالَ نَعَمْ نَبِيٌّ مُكَلَّمٌ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَمِ الْمُرْسَلُوْنَ قَالَ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا وفي رواية عن ابي امامة قال ابوذر قلت يا رسول الله كَمْ وفاء عِدَّةُ الْاَنْبِيَاءِ قَالَ مِائَةُ اَلْفٍ وَاَرْبَعَةٌ وَعِشْرُوْنَ اَلْفًا الرُّسُلُ مِنْ ذٰلِكَ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا.

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما عرض وكړ اې دالله رسوله! تر ټولو لومړنى نبي څوك وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: آدم عليه السلام، بيا ما پوښتنه وكړه ايا آدم عليه السلام نبي وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، آدم عليه السلام نبي وو او الله ﷺ خبري ورسره كړي وي (يعني پر هغه صحيفې نازلي سوي وې)، ما بيا پوښتنه وكړه چي رسولان څومره دي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: تر دري سوه لس (۳۱۰) يو څه زيات، د ابو امامه په روايت كي دا الفاظ دي چي ابوذر رضي الله عنه پوښتنه وكړه چي اې دالله رسوله! ټول انبياء څومره دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: يولك خليرويشت زره او په هغوئ كي يو لوى ډله يعني رسولان دري سوه پنځلس دي.

### په زباني خبرو او ليدنه كي فرق

(۵۲۹۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ اَخْبَرَ مُوسَى بِمَا صَنَعَ قَوْمُهُ فِي الْعِجْلِ فَلَمْ يُلْقِ الْاَلْوَاحَ فَلَمَّا عَايَنَ مَا صَنَعُوا اَلْقَى الْاَلْوَاحَ فَانْكَسَرَتْ. روي الاحاديث الثلاثة احمد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو شي په اړه زباني خبر د سترگو سره د ليدو برابر كيداى نه سي، الله تعالى موسى عليه السلام ته د گيلگي په اړه د هغه قوم چي څه كړي وه د هغه خبر وركړ او د هغه څخه په متاثر كيدو سره موسى عليه السلام په غضب كي د تورات نسخي ونه غورځولي

مګر کله چې موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته راغلی او په خپلو سترګو یې د قوم بد عملي ولیدل نو په غضب کې سو او د تورات نسخې یې وغورځولې چې ماتې سوې. احمد.

## بَاب فَضَائل سَيِّد الْمُرْسَلِيْن ﷺ (د سيد المرسلين ﷺ فضيلتونه)

## لومړی فصل

### د رسول الله ﷺ خانداني او نسبي شرف

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۳): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ قَرْنًا فَقَرْنًا حَتَّى كُنْتُ مِنَ الْقَرْنِ الَّذِي كُنْتُ منه. رواه البخاري. | د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د بني آدم په غوره طبقو پیدا کړل سوی یم قرن پر قرن تر دې چې زه په دې قرن کې یم په کوم قرن کې چې یم. بخاري. |

### د رسول الله ﷺ غوره والی

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۴): وَعَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَعِيلَ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ. رواه مسلم و في رواية للترمذي ان الله اصطفى من ولد ابراهيم اسماعيل اصطفى من ولد اسماعيل بني كنانة. | د حضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې: الله تعالی د اسماعیل علیه السلام د اولاد څخه کنانه کورنۍ وټاکل او دبنو کنانه څخه یې قریش انتخاب کړل او د قریش څخه یې بنوهاشم انتخاب کړل او په بنو هاشم کې یې زه انتخاب کړم. مسلم او د ترمذي په یوه روایت کې داسې دي چې الله تعالی دابراهیم علیه السلام په |

اولاد کې اسماعیل علیه السلام انتخاب کړ او د اسماعیل علیه السلام د اولاد څخه یې بني کنانه انتخاب کړل.

### د قیامت په ورځ د رسول الله ﷺ سرداري

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به زه د آدم علیه السلام د اولاد سردار یم او تر ټولو مخکې به زه د قبر څخه پاڅم او تر ټولو وړاندې |

شفاعت به زه کوم او تر ټولو وراندي به زما شفاعت قبليږي، مسلم.

**د امت محمدي شمير به تر ټولو زيات وي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقرع بَابَ الْجَنَّةِ. رواه مسلم . | د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به تر ټولو زيات شمير زما د تابعينو وي او زه به تر ټولو |

لومړنی سړی يم چي د جنت دروازه به وټکوم . مسلم

**د جنت دروازه به تر ټولو مخکي رسول الله ﷺ ته خلاصه سي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آتِي بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَسْتَفْتِحُ فَيَقُوْلُ الْخَازِنُ مَنْ أَنْتَ فَأَقُوْلُ مُحَمَّدٌ فَيَقُوْلُ بِكَ أُمِرْتُ لَا أَفْتَحُ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ. رواه مسلم. | د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به زه د جنت دروازي ته راسم او د هغه د خلاصولو غوښتنه به وكړم ، د جنت خزانچي به ووايي چي څوک |

يې؟ زه به ووايم چي محمد ﷺ يم نو هغه به ووايي چي ما ته حکم سوی دی چي ستا ترمخه به بل هيچا ته دروازه نه خلاصوم. مسلم.

**تر ټولو مخکي به رسول الله ﷺ شفاعت کوي**

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ شَفِيعٍ فِي الْجَنَّةِ لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا مَا يُصَدِّقُهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ . رواه مسلم. | د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه به تر ټولو لومړنی سړی يم چي په جنت کي به شفاعت کوم ، او په انبياؤو کي د هيڅ يو نبي دومره تصديق نه دی سوی |

لکه څومره چي زما سوی دی، او په انبياؤو کي يو نبي داسي هم وو چي د هغه تصديق يوازي يوه سړي کړی وو . مسلم.

**رسول الله ﷺ خاتم النبيين دی**

| | |
|---|---|
| (۵۲۹۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ احسن بنيانه ترك منه موضع لبنة فطاف به النظار يتعجبون من حسن بنيانه الا موضع تلك اللبنة فكنت انا سددت موضع اللبنة ختم بي البنيان | د حضرت ابوهريره ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما او د نورو انبياؤو عليهم السلام مثال د هغه ماڼۍ په ډول دی چي د هغه عمارت يا ديوالونه ډير ښه.وي مگر په ديوال کي د يوې خښتي ځای خالي پرې ښودل |

وختم بي الرسل وفي رواية فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ. متفق عليه.

سوی وي، او کتونکي د هغه مانۍ تعجب کوي چي څرنګه ښه مانۍ ده مګر دا یوه خښته یې کمه ده زه د هغه خښتي ځای ډکونکی یم او زه هغه مانۍ پوره کونکی یم او پر ما باندي رسولان ختم سوي دي، او په یوه روایت کي دي چي زه هغه خښته یم او زه د نبوت د لړۍ ختمونکی یم. بخاري او مسلم.

**تر ټولو لویه معجزه قران کریم دی**

(۵۵۰۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ من نَبِيٍّ إِلَّا قد أُعْطِيَ من الايات مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَإِنَّمَا كَانَ الَّذي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللّٰهُ إِلَيَّ فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په انبیاؤ کي هر نبي ته د معجزاتو څخه یوازي دومره ورکړل سوې ده چي انسان ایمان پر راوړلای سي او ما ته چي د وحي معجزه راکړل سوې ده یعني الله تعالی چي کوم کلام د وحي په ذریعه پر ما نازل کړی دی(یعني قرآن کریم) هغه دائمي معجزه ده په دې وجه زما یقین دی چي د قیامت په ورځ به زما د پیروي کونکو شمیر د ټولو پیغمبرانو څخه زیات وي. بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ خصائص**

(۵۵۰۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ وَجُعِلَتْ لِي الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ وَأُحِلَّتْ لِي الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته پنځه شیان راکړل سوي دي چي زما څخه مخکي هیچا ته نه دي ورکړل سوي: یو خو ما ته د یوې میاشتي د لاري په لیري والي د رعب فتح راکړل سوې ده، دویم توله مځکه زما لپاره مسجد او پاکه ګرځول سوې ده، یعني زما په امت کي چي پر چا د لمانځه وخت راسي هلته دي لمونځ وکړي، دریم زما لپاره د غنیمت مال حلال ګرځول سوی دی چي زما څخه مخکي د هیچا لپاره حلال نه وو، څلورم ما ته د شفاعت مرتبه راکړل سوه، پنځم زما څخه مخکي هر نبي په خاصه توګه یوازي د خپل قوم لپاره را لیږل سوی وو او زه د ټولي د نیا او ټولو قومونو لپاره رالیږل سوی یم. بخاري او مسلم.

(٥٥٠٢): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَ طَهُورًا وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر نورو انبياؤو په شپږو خصلتونو سره ما ته فضيلت راکړل سوی دی ، لومړی دا چي ما ته جوامع الكلم راکړل سوی دی (يعني کوم الفاظ چي وايم هغه مختصر او جامع وي)، په رعب سره زما مرسته سوې ده، زما لپاره د غنيمت مال حلال کړل سوي دی، زما لپاره ټوله مځکه پاکه او مسجد جوړه سوې ده،زه د ټول مخلوق لپاره نبي راليږل سوی يم، پر ما د انبياؤو خاتمه وسوه .مسلم

**د رسول الله ﷺ لپاره د خزانو کيلياني**

(٥٥٠٣): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَتْ فِي يَدِي . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د جامع کلمو سره راليږل سوی يم ، په رعب سره ما ته فتح راکړل سوې ده او زه بيده وم ما په خوب کي دا وليدل چي ما ته د مځکي د خزانو کيلياني راکړل سوې او زما په لاس کي کښېښودل سوې. بخاري او مسلم.

**د امت محمدي لپاره خاص شرف**

(٥٥٠٤): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ وَإِنَّ رَبِّي قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی زما لپاره مځکه راغونډه کړه ما د مځکي مشرق او مغرب وليدی او ډير ژر زما د امت پاچاهي به هغه حد ته ورسيږي څومره چي مځکه راغونډه کړې ما ته وښودل سوه، او ما ته يې دوې خزانې راکړې سره او سپين او ما خپل پروردگار ته د خپل امت لپاره سوال وکړ چي په عام قحط کي يې مړه نه کړي، او دا عرض مي وکړ چي هغه زما پر امت د مسلمانانو څخه پرته بل څوک مسلط نه کړي چي هغه د هغوئ د اوسيدو ځای جائز

مَنْ بِأَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا. رواه مسلم.

وګني او د هغوئ ځخه يې په زوره واخلي او زما پروردګار ما ته وفرمايل چې اي محمد ﷺ! هر کله چې زه د يوې خبرې حکم وکړم نو بيا زما حکم نه ماتيږي او ما تا ته ستا د امت لپاره دا عهد درکړی دی چې زه به يې په عام قحط کې هلاک نه کړم او نه به غير مسلمان پر مسلط کړم چې هغوئ هلاک کړي د هغوئ ځايونه واخلي که څه هم چې د مسلمانانو په مقابله کې د دنيا ټول کافران راجمع سي بيا به هم هلاک نه کړل سي تر هغو پورې چې ستا امت به ځيني د دوئ هلاک کړي او بنديان کوي به ځيني د دوئ ځيني نور. مسلم.

### د خپل امت په حق کې د رسول الله ﷺ هغه دعاء چې قبوله نه سوه

(۵۵۰۵): وَعَنْ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ دَخَلَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَدَعَا رَبَّهُ طَوِيلًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي ثِنْتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً سَأَلْتُ رَبِّي أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالسَّنَةِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يَجْعَلَ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا. رواه مسلم.

د حضرت سعد ؓ ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د بنو معاويه د يو مسجد سره تيريدی نو په هغه کې داخل سو او دوه رکعته لمونځ يې وکړ موږ هم ورسره لمونځ وکړ د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ د خپل پروردګار ځخه اوږده دعاء وغوښتل د هغه ځخه وروسته زموږ په لور متوجه سو وه يې فرمايل: ما د خپل پروردګار ځخه درې شيان وغوښتل په هغو کې يې دوه شيان راکړل او د يوه ځخه يې منع وفرمايل: يو خو ما د خپل پروردګار ځخه دا وغوښتل چې هغه زما امت په عام قحط کې هلاک نه کړي دا شي خو الله پاك ما ته راکړ ، دويم ما د خپل پروردګار ځخه دا وغوښتل چې هغه زما امت په اوبو کې غرق کولو سره هلاک نه کړي دا درخواست هم قبول کړل سو ، دريمه خبره چې ما د هغه خواهش کړی وو هغه دا چې زما د امت په خپل منځ کې جنګ او فساد نه وي الله تعالى ددې ځخه منعه وفرمايل. مسلم.

### په تورات کې د نبي ﷺ د صفتو ذکر

(۵۵۰۶): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ لَقِيتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنْ صِفَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي التَّوْرَاةِ قَالَ أَجَلْ وَاللَّهِ إِنَّهُ لَمَوْصُوفٌ فِي التَّوْرَاةِ بِبَعْضِ صِفَتِهِ فِي الْقُرْآنِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ

د حضرت عطاء بن يسار ؓ ځخه روايت دی چې زه د عبدالله بن عمروبن عاص ؓ سره يو ځای سوم او پوښتنه مې ځيني وکړه چې په تورات کې د رسول الله ﷺ کوم صفات ذکر دي د هغو ځخه ما خبر کړه، عبدالله بن عمرو ؓ وويل

شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا وَحِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ أَنْتَ عَبْدِي وَرَسُولِي سَمَّيْتُكَ الْمُتَوَكِّلَ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا سَخَّابٍ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يَدْفَعُ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَغْفِرُ وَلَنْ يَقْبِضَهُ اللّٰهُ حَتّٰى يُقِيمَ بِهِ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ بِأَنْ يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَيَفْتَحُ بِهَا أَعْيُنًا عُمْيًا وَآذَانًا صُمًّا وَقُلُوبًا غُلْفًا. رواه البخاري وكذا الدارمي عن عطاء عن ابن سلام نحوه وذكر حديث ابي هريرة نحن الاخرون في باب الجمعة.

به دی قسم په خدای په تورات کي د رسول الله ﷺ ځيني هغه صفات درج دي کوم چي په قرآن کريم کي دي يعني هغه آياتونو کي «ياايهاالنبي انا ارسلناك......» ،اې نبي مونږ ته د امت پر حال شاهد ليږلی يې او زيری ورکونکی او بيرونکی او د اميانو پناه، «وانت عبدي ورسولي سميتك المتوکل ليس ......»يعني ته زما بنده او زما رسول يې ما ستا نوم متوکل ايښی دی نه خو ته بدخويه يې نه سخت گير او نه په بازارونو کي شور کونکی. «ولا يدفع بالسيئة ......» ،او هغه بدي په بدی سره نه ليري کوي بلکه معافي کوي او د مغفرت دعاء کوي او الله تعالی د هغه روح هغه وخته پوري نه قبض کوي تر څو پوري چي گمراه قوم الله ﷻ د هغه په ذريعه پر سيده لاره رانه ولي دا ډول چي هغه خلك ددې اعتراف ونه کړي چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته او تر هغه وخته پوري به الله تعالی د هغه روح نه قبض کوي تر څو پوري چي ړندې سترگي کانه غوږونه او بې حسه زړونه ددې کلمې په ذريعه درست نه کړي، بخاري او دارمي د عطاء بن سلام څخه داسي روايت کړی دی او د حضرت ابوهريره حديث نحن الاخرون، په باب جمعه کي راغلی دی.

## دويم فصل

**د مسلمانانو لپاره د رسول الله ﷺ دري دعاوي**

(٥٥٠٧): عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً فَأَطَالَهَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّيْتَ صَلَاةً لَمْ تَكُنْ تُصَلِّيهَا قَالَ أَجَلْ إِنَّهَا صَلَاةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ إِنِّي سَأَلْتُ اللّٰهَ فِيهَا ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي اثْنَتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً سَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِسَنَةٍ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُذِيقَ بَعْضَهُمْ بَأْسَ بَعْضٍ فَمَنَعَنِيهَا. رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت خباب بن ارت ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مونږ ته يو اوږد لمونځ راکړ ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو خو نن مونږ ته دومره اوږد لمونځ راکړ چي دومره اوږد لمونځ مو هيڅکله نه وو راکړی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو ددې لپاره چي دا لمونځ د رغبت (اميد) او خوف (بيرې) لمونځ وو ما په دغه لمانځه کي د الله تعالی څخه درې خبري وغوښتلې چي په هغو کي

دوي ما ته راكړل سوي او د يوې خبري څخه منعه وسول (هغه خبري دادي): ما الله ﷻ ته عرض وكړ چي زما امت په عام قحط كي اخته نه كړي دا درخواست پوره كړل سو ما بيا درخواست وكړ چي پر مسلمانانو باندي داسي دښمن مسلط نه كړي چي غير مسلم وي دا سوال هم پوره كړل سو ، دريم عرض ما دا كړی وو چي مسلمانان په خپل منځ كي يو بل ته تكليف او ضرر ونه رسوي يعني په خپل منځ كي جنګ نه كوي ددې څخه منع وسول . ترمذي او نسائي .

**مسلمان د درو شيانو څخه خوندي سوي دي**

| | |
|---|---|
| (۵۵۰۸): وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ فَتَهْلَكُوا جَمِيعًا وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ وَأَنْ لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابومالك اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (اي مسلمانانو) الله ﷻ تاسو د درو شيانو څخه ساتلي ياست چي ستاسو نبي تاسو ته ښيرا ونه كړي چي تاسو هلاك سئ، دا چي باطل او گمراه خلك پر اهل |

حق غالب نه سي او دا چي زما ټول امت په گمراهی كي جمع نه سي. ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۵۵۰۹): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَجْمَعَ اللَّهُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ سَيْفًا مِنْهَا وَسَيْفًا مِنْ عَدُوِّهَا . رواه ابوداؤد. | د حضرت عوف بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر دې امت به الله تعالی دوې توري نه جمع كوي يوه توره ددې امت او دويمه توره د دوئ د دښمنانو (يعني الله |

تعالی به پر مسلمانانو داسي وخت نه راولي چي په خپل منځ كي هم په جګړه اخته وي او دښمن به هم ورسره په جنګ وي). ابوداؤد.

**د رسول الله ﷺ نسلي او نسبي فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۵۱۰): وَعَنِ الْعَبَّاسِ أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّهُ سَمِعَ شَيْئًا فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ مَنْ أَنَا فَقَالُوا أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ عَلَيْكَ السَّلَامُ قَالَ أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً ثُمَّ | د حضرت عباس ﷺ څخه روايت دی چي هغه د كافرانو څخه پر رسول الله ﷺ طعن كول واوريدل او هغه د غصې څخه ډك د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو ، نبي كريم ﷺ پر منبر ودريدی او وه يې فرمايل: زه څوك يم؟ صحابه كرامو عرض وكړ تاسو د الله تعالی رسول ياست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه محمد يم |

جَعَلَهُمْ بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا فَأَنَا خَيْرُهُمْ نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا. رواه الترمذي.

د عبدالله بن عبدالمطلب زوی، الله تعالی مخلوق پیدا کړ او په دغه مخلوق کي يې غوره مخلوق زه پيدا کړم بيا ددغه غوره مخلوق الله تعالى دوې برخي کړې (يعني عرب او عجم) او په دغه دواړو برخو کي غوره برخه کي يې زه پيدا کړم بيا الله تعالى ددغه غوره برخي کي قبائل جوړ کړل او په دغه قبائلو کي غوره قبيله (قريش) کي يې زه پيدا کړم بيا ددغه غوره قبيلې يې غوره کورنۍ جوړي کړې او په دغه کورنيو کي غوره کورنۍ (هاشم) کي يې زه پيدا کړم نو زه په ذات او نسب کي هم تر ټولو غوره يم او د کورنۍ د لحاظه هم غوره يم. ترمذي.

**د رسول الله ﷺ نبوت د ادم ﷺ د وجود څخه مخکي تجويز سوی وو**

(۵۵۱۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ قَالَ وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! د نبوت لپاره تاسو کله و ټاکل سواست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه وخت چي آدم عليه السلام د روح او بدن په منځ کي وو. ترمذي.

**رسول الله ﷺ او ختم نبوت**

(۵۵۱۲): وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنِّي عِنْدَ اللَّهِ مَكْتُوبٌ خَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ وَسَأُخْبِرُكُمْ بِأَوَّلِ أَمْرِي دَعْوَةِ إِبْرَاهِيمَ وَبِشَارَةِ عِيسَى وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْنِي وَقَدْ خَرَجَ لَهَا نُورٌ أَضَاءَ لَهَا مِنْهُ قُصُورُ الشَّامِ. رواه في شرح السنة ورواه أحمد عن أبي أمامة من قوله: " سأخبركم " إلى آخره.

د حضرت عرباض بن ساريه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷺ سره زه دهغه وخت څخه خاتم النبيين ليکل سوی يم چي آدم عليه السلام په خپله اغزل سوي خاوره کي پروت وو، او زه تاسو ته ونبيم چي زما (د نبوت لومړنی) اظهار د حضرت ابراهيم عليه السلام دعاء وه چي په قرآن مجيد کي په دې الفاظو سره مذکوره وه (وابعث فيهم رسولا منهم)، او بيا د حضرت عيسى ﷺ زيری چي په قرآن کريم کي په دې الفاظو سره راغلی دی: (و مبشرا برسول ياتي من بعدي اسمه احمد) او بيا زما د مور خوب چي زما د زيږيدو پر وخت يې ليدلی وو او زما د مور مخته يو نور ظاهر سو چي د هغه سره د شام ماڼۍ هغې ته معلومي سوې. شرح السنه.

**د رسول الله ﷺ فضائل**

(۵۵۱۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمَ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَلَا فَخْرَ. رواه الترمذي.

رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به زه د آدم علیه السلام د اولاد سردار یم او دا خبره زه د فخر په توګه نه کوم او د قیامت په ورځ به زما په لاس کې د حمد بیرغ وي او دا خبره زه د فخر په توګه نه کوم او د قیامت په ورځ به آدم علیه السلام او نور ټول پیغمبران زما تر بیرغ لاندې وي او د قیامت په ورځ به تر ټولو وړاندې زما قبر خلاص کړل سي او تر ټولو وړاندې به زه د قبر څخه پورته سم او په دې زه فخر نه کوم. ترمذي.

## رسول الله ﷺ د الله ﷻ حبیب دی

(۵۵۱۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَلَسَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ حَتَّى إِذَا دَنَا مِنْهُمْ سَمِعَهُمْ يَتَذَاكَرُونَ قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ اللّٰهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا وَقَالَ آخَرُ مُوسَى كَلَّمَهُ تَكْلِيمًا وَقَالَ آخَرُ فَعِيسَى كَلِمَةُ اللّٰهِ وَرُوحُهُ وَقَالَ آخَرُ آدَمُ اصْطَفَاهُ اللّٰهُ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رسول الله صلى الله عليه وسلم وَقَالَ قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ وَعَجَبَكُمْ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلُ اللّٰهِ وَهُوَ كَذٰلِكَ وَمُوسَى نَجِيُّ اللّٰهِ وَهُوَ كَذٰلِكَ وَعِيسَى رُوحُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ وَآدَمُ اصْطَفَاهُ اللّٰهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ أَلَا وَأَنَا حَبِيبُ اللّٰهِ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تحته ادم فمن دونه وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حلق الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُ اللّٰهُ لِي فَيُدْخِلُنِيهَا وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ وَلَا فَخْرَ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ صحابه کرام ناست وه خبرې یې کولې چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ او د هغوئ خبرې یې واوریدلې، یو سړي وویل الله تعالی ابراهیم علیه السلام خپل دوست جوړ کړ، دویم سړي وویل موسی علیه السلام سره الله تعالی خبرې کړې دي، دریم کس وویل حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی روح وو، څلورم وویل آدم علیه السلام الله پاک غوره جوړ کړ، د ټولو خبرو اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ستاسو خبرې واوریدې او تعجب مې محسوس کړ چې ابراهیم خلیل الله د الله تعالی دوست دی او موسی علیه السلام د الله تعالی همراز او هم کلام دی او په حقیقت کې هغوئ همداسې وي او عیسی علیه السلام د الله تعالی روح او کلمه ده او په حقیقت هغه همداسې دی او حضرت آدم علیه السلام الله تعالی منتخب کړی دی او په حقیقت کې هغه د الله تعالی غوره دی مګر تاسو خبردار سئ چې زه د الله تعالی حبیب یم او دا خبره زه د فخر په توګه نه کوم او د قیامت په

ورځ به د حمد بیرغ پورته کونکی یم چي حضرت آدم علیه السلام او نور ټول پیغمبران به تر هغه لاندي وي او په دې سره زه فخر نه کوم او د قیامت په ورځ به د ټولو څخه مخکي شفاعت کونکی زه یم او په دې زه فخر نه کوم او زه به تر ټولو لومړنی سړی یم چي د جنت دروازې ته به حرکت ورکړم او الله تعالی به زما لپاره دجنت دروازې خلاصي کړي او ما به په هغه کي داخل کړي او زما سره به فقیران مؤمنان وي او په دې زه فخر نه کوم او د الله تعالی په نزد به زه تر ټولو مخکنیو او آخرنیو خلکو غوره او برتر یم او په دې زه فخر نه کوم . ترمذي او دارمي.

**د امت محمدي ځانګړتیاوي**

(۵۵۱۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحْنُ الْآخِرُوْنَ وَنَحْنُ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنِّيْ قَائِلٌ قَوْلاً غَيْرَ فَخْرٍ إِبْرَاهِيْمُ خَلِيْلُ اللهِ وَمُوْسٰى صَفِيُّ اللهِ وَأَنَا حَبِيْبُ اللهِ وَمَعِيْ لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنَّ اللهَ وَعَدَنِيْ فِيْ أُمَّتِيْ وَأَجَارَهُمْ مِنْ ثَلَاثٍ لَا يَعُمُّهُمْ بِسَنَةٍ وَلَا يَسْتَأْصِلُهُمْ عَدُوٌّ وَلَا يَجْمَعُهُمْ عَلٰى ضَلَالَةٍ . رواه الدارمي.

د حضرت عمرو بن قیس ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ظهور په اعتبار موږ په آخر کي یو مګر په قیامت کي به اول یو او زه تاسو ته یوه خبره کوم او په دې زه فخر نه کوم او هغه داده چي ابراهیم علیه السلام د الله تعالی دوست دی ، موسی علیه السلام غوره دی او زه د الله تعالی حبیب یم او د قیامت په ورځ به زما سره د حمد بیرغ وي او الله تعالی زما سره د امت لپاره د خیر کثیر وعده فرمایلې ده او زما امت الله تعالی د درو شیانو څخه ساتلی دی یو خو دا چي هغوئ به په عام قحط کي هلاك نه کړي دویم دا چي دښمن به یې هلاك نه کړي یعني د اسلام دښمنان به ټول مسلمانان هلاك نه کړلای سي او دریم دا چي ټوله اسلامي نړۍ به ګمراه نه کړل سي. دارمي.

**خاتم الانبیاء**

(۵۵۱۶): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَلَا فَخْرَ وانا خاتم النبيين ولا فخر وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَمُشَفَّعٍ وَلَا فَخْرَ . رواه الدارمي.

د حضرت جابر ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د رسولانو سردار یم او په دې خبره زه فخر نه کوم او زه د نبوت ختمونکی یم او په دې زه فخر نه کوم او زه به تر ټولو لومړی سړی یم چي شفاعت به کوم او تر ټولو مخکي به زما شفاعت قبول سي او ما ته په دې فخر نسته. دارمي.

## د قيامت په ورځ د رسول الله ﷺ عظمت

(٥٥١٧): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ خُرُوجًا إِذَا بُعِثُوا وَأَنَا قائدهم إِذَا وَفَدُوا وَأَنَا خطيبهم اذا انصتوا وانا مستشفعهم اذا حبسوا وانا مُبَشِّرُهُمْ إِذَا يئسوا الكرامة والمفاتيح يَوْمَئِذٍ بِيَدِي ولواء الحمد يومئذ بيدي وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّي يطوف على الف خادم كانهم بيض مكنون او لؤلؤ منثور. رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ چي خلك د قبرونو څخه پورته سي نو تر ټولو مخکي به زه د قبر څخه پورته سم او هر کله چي خلك د الله په دربار کي د حاضريدو لپاره راوليږل نو د هغوئ مشر به زه يم او هر کله چي خلك پته خوله وي نو زه به خبري کوم او هر کله چي خلك نااميده او مايوسه سي نو زه به هغوئ ته زيری ورکوم هغه وخت به بزرگي او کيلياني زما په لاس کي وي او د حمد بيرغ به په دغه ورځ زما په قبضه کي وي او د آدم عليه السلام په زامنو کي به د الله تعالى په نزد لوی بزرگ زه يم ، په هغه ورځ به زر خادمان زما شاوخوا وي ګويا چي هغه خادمان پټي هګۍ دي يا خپري ملغلري دي . ترمذي او دارمي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

## رسول الله ﷺ به د عرش راسته خوا ته ولاړ وي

(٥٥١٨): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُكْسَى حُلَّةً مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ الْعَرْشِ لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الْخَلَائِقِ يَقُومُ ذَلِكَ الْمَقَامَ غَيْرِي. رواه الترمذي وفي رواية جامع الاصول عنه انا اول من تنشق عنه الارض فاكسي .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته به د جنت د جامو څخه جامه واغوستل سي بيا به زه د عرش الهي راسته خوا ته ودريږم او پر هغه ځای به په مخلوق کي زما څخه پرته هيڅوك نه ودريږي، ترمذي او په جامع الاصول کي داسي روايت راغلی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل تر ټولو مخکي به زما قبر خلاص کړل سي بيا به ما ته جوړه واغوستل سي.

## د رسول الله ﷺ لپاره وسيله وغواړئ

(٥٥١٩): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَلُوا اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْوَسِيلَةُ قَالَ أَعْلَى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنَالُهَا إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما لپاره د الله تعالى څخه وسيله (په جنت کي اعلى درجه) غواړئ، صحابه کرامو عرض وکړ اي دالله رسوله ! وسيله څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

وسيله په جنت كي يوه لويه درجه ده چي يوازي يوه سړي ته به ورکول کيږي او زه اميد لرم چي هغه سړی به زه يم. ترمذي.

**رسول الله ﷺ به د ټولو نبيانو امام وي**

| | |
|---|---|
| (٥٥٢٠): وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْب عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ كُنْتُ إِمَامَ النَّبِيِّينَ وَخَطِيبَهُمْ وَصَاحِبَ شَفَاعَتِهِمْ غَيْرُ فَخْرٍ . رواه الترمذي. | د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به زه د نبيانو امام او خطيب يم او د هغوئ شفاعت به کوم او ما ته پر دې فخر نسته. ترمذي. |

**حضرت ابراهيم ﷺ او رسول الله ﷺ**

| | |
|---|---|
| (٥٥٢١): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بن مسعود قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ وُلَاةً مِنَ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ وَلِيِّي أَبِي وَخَلِيلُ رَبِّي ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ. رواه الترمذي. | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر نبي په نبيانو کي دوستان وي او په انبياوو کي زما دوست زما پلار زما د پروردگار دوست ابراهيم عليه السلام دی، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (ان أولى الناس |

بابراهيم.....) (ابراهيم عليه السلام ته زيات نژدې هغه خلك دي چي د هغه پيروي يې وکړه او دا نبي (يعني محمد ﷺ) او هغه خلك دي چي ايمان يې راوړ او الله تعالى د مسلمانانو دوست او مرستيال دی). ترمذي.

**د رسول الله ﷺ د بعثت مقصد**

| | |
|---|---|
| (٥٥٢٢): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِيْ لِتَمَامِ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَكَمَالِ مَحَاسِنِ الْأَفْعَالِ. رواه في شرح السنه. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى زه د ښو اخلاقو او ښو کارو پوره کولو لپاره رالیږلی یم. شرح السنه |

**په تورات کي د رسول الله ﷺ او امت محمدي د صفتو ذکر**

| | |
|---|---|
| (٥٥٢٣): وَعَنْ كَعْبٍ يَحْكِيْ عَنِ التَّوْرَاةِ قَالَ نَجِدُ مَكْتُوْبًا مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ عَبْدِيَ الْمُخْتَارَ لَا فَظٌّ وَلَا غَلِيْظٌ وَلَا سَخَّابٌ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يَجْزِيْ بِالسَّيِّئَةِ السيئة وَلٰكِنْ يَعْفُوْ وَيَغْفِرُ مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ | حضرت کعب ﷺ د تورات څخه نقل کوي چي ما په تورات کي دا ليدلي دي چي محمد ﷺ د الله تعالى رسول او د هغه ټاکلی بنده دی هغه نه سخت خويه دی نه سخت گويه او نه په بازارونو کي شور کونکی دی هغه د بدې بدله په بدې |

وَهِجْرَتُهُ بِطَيْبَةَ وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ وَأُمَّتُهُ الْحَمَّادُوْنَ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِيْ كُلِّ مَنْزِلَةٍ وَيُكَبِّرُوْنَهُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ رُعَاةٌ لِلشَّمْسِ يُصَلُّوْنَ الصَّلَاةَ إِذَا جَاءَ وَقْتُهَا يَتَأَزَّرُوْنَ عَلَى أَنْصَافِهِمْ وَيَتَوَضَّؤُوْنَ عَلَى أَطْرَافِهِمْ مُنَادِيْهِمْ يُنَادِيْ فِيْ جَوِّ السَّمَاءِ صَفُّهُمْ فِي الْقِتَالِ وَصَفُّهُمْ فِي الصَّلَاةِ سَوَاءٌ لَهُمْ بِاللَّيْلِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ . هذا لفظ المصابيح وروي الدارمي مع تغيير يسير.

سره نه اخلي بلکه معافي کوي او بخښنه کوي د هغه د زېږېدني ځاى مکه ده او د هجرت ځاى يې طيبه ده او د هغه حکومت شام کي دي او د هغه امت ډېر حمد کونکی دی چي په خوشحالي او غم دواړو حالاتو کي د الله تعالى شکر او تعريف کوي ، هغه چي کوم ځاى وي د الله تعالى شکر او لويي بيانوي يعني الله اکبر به وايي ، خيال ساتونکي د لمر ساتونکي (يعني هغه د طلوع، غروب او زوال به هم خيال ساتي) چي د لمنځو وختونه مقرر کړل سي هر کله چي دلمانځه وخت سي نو لمونځ به کوي لونګ به پورته تړي او د خپل بدن په اطرافو به اودس کوي د هغوئ منادي کونکی يعني اذان کونکی د آسمان او مځکي په منځ کي به ندا کوي (يعني پر لوړ ځاى به ودرېږي او اذان به کوي) په جنګ کي او لمانځه کي به د هغوئ صف برابروي د شپې د هغوئ آواز کښنه وي لکه د شاتو د موچې اواز، مصابيح او دارمي

(۵۵۲۴): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ مَكْتُوْبٌ فِي التَّوْرَاةِ صِفَةُ مُحَمَّدٍ وَصِفَةُ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ قَالَ أَبُو مَوْدُوْدٍ وَقَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ مَوْضِعُ قَبْرٍ . رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روايت دی چي په تورات کي د حضرت محمد ﷺ صفات ليکلي دي او دا هم ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د قبر سره به عيسى بن مريم عليهما السلام هم دفن کيږي . ترمذي.

## دريم فصل

### د رسول الله ﷺ د فضيلت دليل

(۵۵۲۵): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى فَضَّلَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَعَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ فَقَالُوْا يَا أَبَا عَبَّاسٍ بِمَ فَضَّلَهُ اللهُ عَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِأَهْلِ السَّمَاءِ وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّيْ إِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهِ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِيْنَ وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي الله تعالى محمد ﷺ ته پر ټولو انبياؤ او آسمان والاوو فضيلت ورکړی دی ، خلکو پوښتنه وکړه اې ابن عباس ! پر آسمان والاوو په کومه خبره کي فضيلت ورکړل سوی دی ؟ ابن عباس ﷺ وويل : الله تعالى آسمان والاوو ته فرمايلي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالُوْا وَمَا فَضْلُهُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ قَالَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَاءُالْآيَة وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ فَأَرْسَلَهُ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ. رواه الدارمي.

دي : «و من يقل منهم اني اله من دونه .........» ، «چي څوك دا ووايي چي زه د الله تعالی څخه پرته بل معبود یم نو موږ به ددې په بدله کي ورته جهنم ورکړو او موږ ظالمانو ته همداسي بدله ورکوو» او محمد ﷺ ته الله تعالی فرمايلي دي : «انا فتحنا لك فتحا مبينا.....»، «موږ ستا لپاره د برکتو دروازې خلاصي کړي دي او الله تعالی ستاسو مخکني او وروستني گناهونه و بخښل» بیا خلکو پوښتنه وکړه او پر انبیاوو رسول الله ﷺ ته څنگه فضیلت ورکړل سوی دی؟ ابن عباس ؓ وویل : الله تعالی د نورو انبیاوو په اړه فرمايلي دي : «و ما ارسلنا من رسول الا بلسان ........» «موږ چي کوم پیغمبر ولیږو د هغه د قوم د ژبي سره مو ولیږی چي د هغوئ په وړاندي د الله احکام بیان کړي بیا چا ته چي الله غواړي گمراه کوي»، او الله ﷻ د محمد ﷺ په اړه فرمايلي دي: «و ما ارسلناك الا كافة للناس» «موږ ته تولو خلکو ته رسول لیږلی یې» یعني الله ﷻ رسول الله ﷺ د جن او انس تولو لپاره پیغمبر رالیږلی دی . دارمي.

## رسول الله ﷺ څېل نبوت څنگه و پېژندی

(۵۵۲۶): وَعَنْ أَبِيْ ذَرِ الْغِفَارِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ عَلِمْتَ أَنَّكَ نَبِيٌّ حَتّٰى اسْتَيْقَنْتَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍ أَتَانِيْ مَلَكَانِ وَأَنَا بِبَعْضِ بَطْحَاءِ مَكَّةَ فَوَقَعَ أَحَدُهُمَا عَلَى الْأَرْضِ وَكَانَ الْآخَرُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ أَهُوَ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَزِنْهُ بِرَجُلٍ فَوُزِنْتُ بِهِ فَوَزَنْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ بِعَشَرَةٍ فَوُزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ بِمِائَةٍ فَوُزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ ثم قال زنه بالف فوزنت هم فرجحتهم كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَنْتَثِرُوْنَ عَلَيَّ مِنْ خِفَّةِ الْمِيْزَانِ قَالَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ لَوْ وَزَنْتَهُ بِأُمَّتِهِ لَرَجَحَهَا. رواهما الدارمي.

د حضرت ابوذر غفاري ؓ څخه روایت دی چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو ته څنگه معلومه سوه چي تاسو نبي یاست ؟ او بیا تاسو ته د څېل نبوت یقین څنگه وسو ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل اې ابوذر! زه په بطحا مکه کي وم چي ما ته دوې ملائکي راغلې په هغو کي یوه ملائکه خو مځکي ته راغلل او دویمه ملائکه د آسمان او مځکي په منځ کي وه بیا په هغوئ کي یوې د بلې څخه پوښتنه وکړه ایا دا هغه دی ؟ دویمي ورته وویل هو، لومړنۍ وویل د یو سړي سره دی وزن کړه نو زما وزن وکړل سو او زه د هغه سړي څخه دروند سوم بیا هغه ملائکي

وویل ښه دی د لسو خلکو سره دی وزن کړه نو وزن کړل سوم او زه د لسو خلکو په مقابله کي هم دروند سوم بیا هغه ملائکي وویل د سلو خلکو سره یې وزن کړه نو وزن کړل سوم او زه پر سلو خلکو هم دروند سوم بیا هغه ملائکي وویل ښه دی اوس یې د زرو خلکو سره وزن کړه زه پر هغوئ هم دروند سوم گویا هغه زر خلك زه اوس هم وینم چي په کومه پله کي هغوئ وه ، هغه دومره پورته سوی وه چي هغوئ پر ما را لویدونکي دي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : بیا هغه دواړو ملائکو یوې بلې ته وویل که دی د ټول امت سره هم وتلې نو تر ټول امت به هم دروند سي . دارمي.

**پر رسول الله ﷺ باندي په هر حالت کي قرباني فرض ده**

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُتِبَ عَلَيَّ النَّحْرُ وَلَمْ يُكْتَبْ عَلَيْكُمْ وَأُمِرْتُ بِصَلَاةِ الضُّحٰى وَلَمْ تُؤْمَرُوْا بِهَا. رواه الدارقطني. | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر ما باندي په هر حال کي قرباني فرض سوې ده او پر تاسو نه ده فرض یوې او ما ته د څاښت د لمانځه حکم وسو او تاسو ته ونه سو. دار قطني. |

# باب اسْمَاءِ النَّبِيِّ ﷺ

## (د نبي کریم ﷺ مبارک نومونه او صفتونه)

## لومړی فصل

**اسماء النبي ﷺ (د نبي کریم ﷺ مبارک نومونه)**

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۸): عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ لِيْ اَسْمَاءً اَنَا مُحَمَّدٌ وَاَنَا اَحْمَدُ وَاَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللّٰهُ بِيَ الْكُفْرَ وَاَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمِي وَاَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ. متفق علیه | د حضرت جبیر بن مطعم ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي فرمایل یې : زما ډیر نومونه دي، زه محمد یم زه احمد یم زه ماحي یم یعني زما په ذریعه الله تعالی کفر محوه کوي او زه حاشر یم چي د قیامت په ورځ به خلك زما پر قدم پورته کیږي (یعني د قبر |

څخه زما د تلو څخه وروسته به نور خلك د قبرونو څخه د باندي راوځي) او زه عاقب یم او عاقب هغه نبي دی چي د هغه څخه وروسته بل نبي نه وي . بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۹): وَعَنْ اَبِي مُوسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ كَانَ | د حضرت ابوموسی اشعري ؓ څخه روایت دی |

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَمِّي لَنَا نَفْسَهُ أَسْمَاءً فَقَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ وَالْمُقَفِّي وَالْحَاشِرُ وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ. رواه مسلم.

چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خپل دومره نومونه ښودلي وه يعني دا چي زه محمد يم او زه احمد يم، زه مقفي يم (يعني تر ټولو پيغمبرانو وروسته يا په آخر کي راتلونکی) زه حاشر يم (يعني د قيامت په ورځ خلک جمع کونکی) زه نبي توبه يم ، او زه نبي رحمت يم لکه چي په قرآن کريم کي دي : (وما ارسلناك الا رحمة للعالمين) مسلم.

**رسول الله ﷺ او د کافرانو ښکنځل**

(٥٥٣٠): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَعْجَبُونَ كَيْفَ يَصْرِفُ اللّٰهُ عَنِّي شَتْمَ قُرَيْشٍ وَلَعْنَهُمْ يَشْتِمُونَ مُذَمَّمًا وَيَلْعَنُونَ مُذَمَّمًا وَأَنَا مُحَمَّدٌ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو پر دې تعجب نه کوئ چي الله تعالى ما څرنګه د قريشو د ښکنځلو او لعنتونو څخه ساتي هغوئ مذمم ته ښکنځل کوي او پر مذمم لعنت وايي او زه محمد يم (قريشو مشرکينو د رسول الله ﷺ د نامه په مقابله کي مذمم نوم اېښی وو او هغوئ به مذمم ته ښکنځل کول په دې وجه هغه ښکنځل پر محمد ﷺ نه بلکه پر مذمم پريوتل). بخاري.

**د رسول الله ﷺ د مخ مبارک، وېښته مبارک او د نبوت د مهر ذکر**

(٥٥٣١): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ شَمِطَ مُقَدَّمُ رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ وَكَانَ إِذَا ادَّهَنَ لَمْ يَتَبَيَّنْ وَإِذَا شَعِثَ رَأْسُهُ تَبَيَّنَ وَكَانَ كَثِيرَ شَعْرِ اللِّحْيَةِ فَقَالَ رَجُلٌ وَجْهُهُ مِثْلُ السَّيْفِ قَالَ لَا بَلْ كَانَ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَكَانَ مُسْتَدِيرًا وَرَأَيْتُ الْخَاتَمَ عِنْدَ كَتِفِهِ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ يُشْبِهُ جَسَدَهُ. رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سر او ږيري مبارکي د مخکي برخي څه وربښتان سپين سوي وه ، رسول الله ﷺ چي به پر هغه وربښتانو باندي تيل ولګول نو هغه سپين والی به نه معلوميدی او کله چي به د رسول الله ﷺ وربښتان تار په تار وه نو سپين وربښتان به پکښي معلوميدل او د رسول الله ﷺ د ږيري وربښتان ډېر وه ، جابر ﷺ چي دا بيان وکړ نو يو سړي وويل د رسول الله ﷺ مخ مبارک د توري په ډول وو (يعني په ځلا کي) مګر ددې تشبيه څخه دا هم معلوميده چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک اوږد وو په دې وجه جابر ﷺ وويل بلکه د رسول الله ﷺ مخ مبارک دلمر او سپوږمۍ په ډول وو، او د رسول الله ﷺ مبارک مخ غونډ وو او ما د رسول الله ﷺ د نبوت مهر اوږې ته نژدې وليدی چي د کوتري د هګۍ په ډول غونډ وو او د هغه رنګ د رسول الله ﷺ د بدن مبارک په ډول وو. مسلم.

(۵۵۳۲): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْتُ مَعَهُ خُبْزًا وَلَحْمًا أَوْ قَالَ ثَرِيدًا ثُمَّ دُرْتُ خَلْفَهُ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرَى جُمْعًا عَلَيْهِ خِيلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن سرجس ﷺ څخه روايت دی چي ما نبي کريم ﷺ وليدی او دودی او غوښه مي ورسره وخوړل ، يا ما ثريد (ښوروا) ورسره وخوړل، بيا زه د رسول الله ﷺ د شا خوا ته راغلم او مهر نبوت مي وليدی چي د دواړو اوږو په منځ کي د چپه وږي نرم هډوکي سره د موټ په ډول وو پر هغه د زخو په ډول خالونه وه.مسلم.

**پر کوچنيانو شفقت**

(۵۵۳۳): وَعَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثِيَابٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ صَغِيرَةٌ فَقَالَ ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ فَأُتِيَ بِهَا تُحْمَلُ فَأَخَذَ الْخَمِيصَةَ بِيَدِهِ فَأَلْبَسَهَا قَالَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِقِي وَكَانَ فِيهَا عَلَمٌ أَخْضَرُ أَوْ أَصْفَرُ فَقَالَ يَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سَنَاهْ وَهِيَ بِالْحَبَشِيَّةِ حَسَنَةٌ قَالَتْ فَذَهَبْتُ أَلْعَبُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ فَزَبَرَنِي أَبِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهَا. رواه البخاري.

د حضرت ام خالد بنت خالد بن سعيد (رض) څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ته جامي راوړل سوي چي په هغه کي يو کوچنی تور کمبل هم وو، رسول الله ﷺ وفرمايل : ام خالد ما ته راولئ ، نو ام خالد چي ماشومه وه په غيږ کي راوستل سوه ، رسول الله ﷺ هغه کمبل را پورته کړه او په خپل لاس مبارك يې ام خالد ته واغوستل ، بيا يې وفرمايل : ته دا زوړ کړې او بيا يې زوړ کړې (يعني هر کله چي به رسول الله ﷺ نوې جامه اغوستل يا بل چا ته به يې ور اغوستل نو دا دعاء به يې ورته کول ددې دعاء مطلب دادی چي ډير ژوندی اوسې)، او په دغه کمبل کي شين يا ژړ پلو وو، رسول الله ﷺ وفرمايل : ام خالد دا ډيره ښه جامه ده ، ام خالد وايي بيا زه د رسول الله ﷺ د شا خوا ته ورغلم او مهر نبوت سره مي لوبي کولې ، زما پلار منعه کړم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا پريږده . بخاري.

**د رسول الله ﷺ حليه مبارکه**

(۵۵۳۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ وَلَيس بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ وَلَا بِالْآدَمِ وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبْطِ بَعَثَهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ نه خو د اعتدال د حد څخه اوږد وو او نه لنډ قدی او نه بيخي سپين رنګی وو او نه بيخي غنم رنګی . او د رسول الله ﷺ د سر

فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ، وفي رواية يَصِفُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ أَزْهَرَ اللَّوْنِ وقال كان شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم الى انصاف اذنيه وفي رواية بين اذنيه وعاتقه . متفق عليه وفي رواية للبخاري قال كان ضخم الراس والقدمين لم اربعده ولا قبله مثله و كان بسط الكفين وفي اخرى قال كان شثن القدمين والكفين.

مبارك ورېښتان نه ډېر تاو تاو وه او نه بالکل سيده وه ، الله تعالى رسول الله ﷺ د څلوېښتم کال په سر کي مبعوث کړ ، رسول الله ﷺ لس کاله په مکه کي وو او لس کاله په مدينه کي ، او الله ﷺ رسول الله ﷺ د شپېتو کالو په عمر کي وفات کړ ، د رسول الله ﷺ په سر اوږيره مبارکه کي يوازي شل سپين ورېښتان وه ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ خپل په قوم کي ميانه قد وَو نه ډېر اوږد نه لنډ ، رنګ يې صفا او ځلانده وو او د رسول الله ﷺ د سر مبارك ورېښتان د غوږونو تر نيمايي پوري وه ، او په يوه روايت کي راځي چي د غوږونو او اوږو تر منځ پوري وه ، بخاري او مسلم ، د بخاري په يو بل روايت کي دي چي انس ﷺ وايي د رسول الله ﷺ سر مبارك غټ وو او دواړه قدمونه يې هم غټ وه او ما د رسول الله ﷺ څخه نه مخکي او نه وروسته هيڅوك د هغه په ډول ليدلى دى او د رسول الله ﷺ ورغوي پراخه وي ، او د بخاري په يوه روايت کي راځي چي انس ﷺ وويل د رسول الله ﷺ دواړه قدمونه او ورغوي مبارك غوښين وه.

(۵۵۳۵): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوعًا بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَهُ شَعَرٌ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذنه رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ. متفق عليه وفي رواية لمسلم قال مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَعْرُهُ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ.

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ميانه قده وو، د دواړو اوږو په منځ کي يې پراختيا وه ، د سر مبارك ورېښتان يې د غوږونو د نرمۍ پوري وه ،ما رسول الله ﷺ په سره جامه کي ليدلى وو (يعني په جامو کي يې سرې ليکي وې) ما د رسول الله ﷺ څخه زيات ښکلى هيڅوك نه دى ليدلى . بخاري او مسلم.او د مسلم په يوه روايت کي دي چي براء ﷺ وويل ما هيڅ ورېښتانو والا سړى په سره جامه کي د رسول الله ﷺ څخه ښکلى نه دى ليدلى او ورېښتان يې تر اوږو مبارکو پوري وه دواړه ووږې يې پراخي وي ، رسول الله ﷺ نه ډير اوږد او نه ډير لنډ وو.

| | |
|---|---|
| (۵۵۳۶): وَعَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنِ مَنْهُوسَ الْعَقِبَيْنِ قِيْلَ لِسِمَاكٍ مَا ضَلِيعُ الْفَمِ قَالَ عَظِيمُ الْفَمِ قيل مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ قَالَ طَوِيلُ شَقِّ الْعَيْنِ قيل مَا مَنْهُوسُ الْعَقِبِ قَالَ قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ. رواه مسلم. | حضرت سماك بن حرب ﷺ د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ غټ خولی وو (په عربو کي د نارینه لپاره غټه خوله د تعریف وړ ده) او د سترګو مبارکو په سپینو کي یې سرخي وه ، پوندي یې کوچنی او کم غوښني وې، د سماك څخه پوښتنه وسول چي ضلیع الفم څه ته وایي ده وویل غټه خوله لرونکي ، |

ورته وویل سول چي اشکل العین څه ته وایي ده وویل چي د سترګو خاني یې اوږدي وې ، ورته وویل سول چي منهوش العقبین څه ته وایي، ده وویل چي د پوندۍ غوښني یې لږ وې . مسلم

| | |
|---|---|
| (۵۵۳۷): وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا. رواه مسلم. | د حضرت ابو طفیل ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ولیدی چي سپین مالګین رنګی وو او په ټولو اعضاوو او اوصافو کي تناسب وو. مسلم |

**رسول الله ﷺ خضاب (نکریزي) نه دي استعمال کړي**

| | |
|---|---|
| (۵۵۳۸): وَعَنْ ثَابِتٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتِهِ فِي لِحْيَتِهِ . وفي رواية لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ، متفق عليه وفي رواية لمسلم إِنَّمَا كَانَ الْبَيَاضُ فِي عَنْفَقَتِهِ وَفِي الصُّدْغَيْنِ وَفِي الرَّأْسِ نَبْذٌ. | د حضرت ثابت ﷺ څخه روایت دی چي د حضرت انس ﷺ څخه د رسول الله ﷺ د خضابو په اره پوښتنه وسول نو هغه وویل : رسول الله ﷺ دومره عمر ته نه وو رسیدلی چي خضاب یې لګولی وای که ما غوښتلي وای چي د رسول الله ﷺ د ږیري مبارکي سپین وریښتان وشمیرم نو شمیر کړي به مي وای ، او په یوه روایت کي |

داسي دي که ما هغه سپین وریښتان شمیرلای کوم چي د رسول الله په سر مبارك کي وه نو ما به شمیرلي وای . بخاري او مسلم .. او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي سپین وریښتان د رسول الله ﷺ د ږیري مبارکي په لاندیني برخه کي او څه په سر مبارك کي وه.

**د رسول الله ﷺ بدن مبارك**

| | |
|---|---|
| (۵۵۳۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْهَرَ اللَّوْنِ كَانَ عَرَقَهُ اللُّؤْلُؤُ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ وَلَا مَسِسْتُ دِيبَاجَةً وَلَا حَرِيرًا أَلْيَنَ مِنْ | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ رنګ ځلانده وو او د رسول الله ﷺ خوله (عرق) د ملغلرو په شان وه ؛ رسول الله ﷺ چي به |

كَفَّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا شَمِمْتُ مِسْكًا وَلَا عَنْبَرَةً أَطْيَبَ مِنْ رَائِحَةِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه.

پر لاره تلي نو د مخ په لور به کښته وو او ما ديباج او د ريښم هيڅ جامه د رسول الله ﷺ د ورغوي څخه زيات نرمه نه ده ليدلې او ما هيڅ مشك او عنبر داسي نه دي بوی کړي چي په هغه کي د نبي کريم ﷺ د بدن مبارك څخه زياته خوشبويي وي. بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ خوله مبارکه**

(٥٥٤٠): وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يأتيها فيقيل عندها فتبسط نطعا فيقيل عليه وكان كثير العرق فكان تجمع عرقه فتجعله في الطيب فقال النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ ما هذا قالت عرقك نجعله في طيبنا وهو من اطيب الطيب وفي رواية قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا قَالَ أَصَبْتِ. متفق عليه.

د حضرت ام سليم (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زموږ کره تشريف راوړی او غرمه به يې آرام کوی ، هغې به د پوست بستره ورته اواره کړه او رسول الله ﷺ به پر هغې قيلوله کول او پر رسول الله ﷺ به خوله زياته راتلل هغې به يې خوله يو ځای کول او په خپلو عطرو کي به يې يو ځای کول ، يوه ورځ رسول الله ﷺ هغه په جمع کولو وليدل نو پوښتنه يې ځيني وکړه اې ام سليم دا څه دي ؟ هغې ورته وويل ستاسو دا خوله موږ په خپله خوشبويي ګډوو او دا خوله غوره خوشبويي ده ، او په يوه روايت کي داسي دي چي ام سليم وويل اې دالله رسوله ! موږ دا خوله ماشومانو لپاره دبرکت باعث ګڼو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تا رښتيا وويل او ښه دي وويل. بخاري او مسلم.

**د ماشومانو سره مينه**

(٥٥٤١): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْأُولَى ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَهْلِهِ وَخَرَجْتُ مَعَهُ فَاسْتَقْبَلَهُ وِلْدَانٌ فَجَعَلَ يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَاحِدًا قَالَ وَأَمَّا أَنَا فَمَسَحَ خَدِّي قَالَ فَوَجَدْتُ لِيَدِهِ بَرْدًا أَوْ رِيحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ عَطَّارٍ. رواه مسلم وذكر حديث جابر سموا باسمي في باب الاسامي

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره د ماپښين لمونځ وکړ، بيا رسول الله ﷺ خپل کور ته د تلو لپاره د مسجد څخه ووتی او زه هم د مسجد څخه راووتم ، د رسول الله ﷺ مخته يو څو هلکان راغلل ، رسول الله ﷺ د هر يوه پر مخ لاس مبارك را تير کړ زما پر مخ يې هم لاس راتير کړ ما د رسول الله ﷺ مبارك لاس يخ او خوشبودار محسوس کړي ما فکر وکړی چي رسول

وحديث السائب بن يزيد نظرت الى خاتم النبوة في باب احكام المياه . رواه مسلم.

الله ﷺ اوس د عطرو د دبلي څخه لاس را ايستلى دى. مسلم.

## دريم فصل

**د رسول الله ﷺ قد مبارك**

(٥٥٤٢): عَنْ عَلِيٍّ بن ابي طالب قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليس بالطَّوِيلِ وَلَا بالقَصِيرِ ضَخْمَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ شَثْنَ الكَفَّيْنِ وَالقَدَمَيْنِ مشربا حمرة ضَخْمَ الكَرَادِيسِ طَوِيلَ المَسْرُبَةِ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا انحطَّ مِنْ صَبَبٍ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت علي ابن ابي طالب ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ نه جګ وو او نه لنډى ، سر مبارك يې غټ وو او ږيره مباركه يې ګڼه وه ، ورغوي او پښې مباركي يې غوښني وې ، رنګ مبارك يې سور او سپين وو ، د هډوكو بندونه يې غټ وه د سينې څخه تر نامه پورې د وريښتانو يوه اوږده ليكه وه ، كله چي به رسولُ الله ﷺ تلى نو د مخ طرف ته به يې ميلان (د زړه غوښتنه) وو لكه د لوړې څخه چي ځوك مخ پر كښته ځي ، ما د رسول الله ﷺ په شان بل څوك نه مخكې او نه وروسته ليدلى دى ، پر رسول الله ﷺ دې د الله رحمتونه او سلامونه وي. ترمذي.

(٥٥٤٣): وَعَنْهُ كَانَ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَكُنْ بالطَّوِيلِ المُمَّغِط وَلَا بالقَصِيرِ المُتَرَدِّدِ وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ القَوْمِ وَلَمْ يَكُنْ بالجَعْدِ القَطَطِ وَلَا بالسَّبِطِ كَانَ جَعْدًا رَجِلًا وَلَمْ يَكُنْ بالمُطَهَّمِ وَلَا بالمُكَلْثَمِ وَكَانَ فِي الوَجْهِ تَدْوِيرٌ أَبْيَضُ مُشْرَبٌ أَدْعَجُ العَيْنَيْنِ أَهْدَبُ الأَشْفَارِ جَلِيلُ المُشَاشِ وَالكَتَدِ أَجْرَدُ ذُو مَسْرُبَةٍ شَثْنُ الكَفَّيْنِ وَالقَدَمَيْنِ إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَمْشِي فِي صَبَبٍ وَإِذَا التَفَتَ التَفَتَ مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ أَجْوَدُ النَّاسِ صَدْرًا وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً وَأَكْرَمُهُمْ عِشْرَةً مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً

د حضرت علي بن ابي طالب ؓ څخه روايت دى چي كله به ده د رسول الله ﷺ وصف بيانوى نو فرمايل به يې : رسول الله ﷺ نه جګ او نه لنډ بلكه د متوسط قد خاوند وو په قوم كې ، وريښتان مبارك يې نه ګڼ وه او نه بالكل سيده بلكه څه ګڼ وه ، نه زيات غټ اندامو والا وو نه بالكل نرى او كمزورى ، مخ مبارك يې غونډ او سور سپين وو ، سترګې مباركې يې تورې وې او بانوګان يې اوږده وه د هډوكو سرونه يعني بندونه يې غټ وه او اوږې يې غټې وې ، پر بدن مبارك يې وريښتان نه وه يوازې د وريښتانو يو خط وو چي د سينې مباركې څخه تر نامه پورې

هَابَهُ وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ يَقُولُ نَاعِتُهُ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صلى الله عليه وسلم . رواه الترمذي.

تللی وو، لاس او پښې يې غوښنين وه د تلو لپاره به يې قدم په قوت سره پورته کوی لکه د لوړې ځخه چې کښته ته راتلی او کله چې به يې يو کار ته کتل نو پوره به متوجه کيدی د دواړو اوږو په منځ کې يې د نبوت مهر وو او دی خاتم النبيين وو، په خلکو کې زيات پراخ زړه والا، سخي د ژبې رښتونی او په ډيرو صفا الفاظو کې به يې خبرې کولې ، د طبيعت د لحاظ ځخه ډير نرم او د قوم د لحاظ ځخه ډير شريف او بزرگ وو، چا چې به ناځاپه وليدی نو پر هغه به هيبت راتلی او کوم چا چې به ورسره شناخت او محبت ساتی نو رسول الله ﷺ به ورسره محبت کوی ، د رسول الله ﷺ صفتونه بيانونکی حضرت علي ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ په شان بل څوك نه مخکې او نه وروسته ليدلی دی، پر رسول الله ﷺ دې د الله ﷺ رحمتونه وي . ترمذي.

### د رسول الله ﷺ خوشبويي

(٥٥٤٤): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْلُكْ طَرِيقًا فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا عَرَفَ أَنَّهُ قَدْ سَلَكَهُ مِنْ طِيبِ عَرْفِهِ أَوْ قَالَ مِنْ رِيحِ عَرَقِهِ. رواه الدارمي.

د حضرت جابر ﷺ ځخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ پر يو لاره تير سو نو دده مبارك ځخه وروسته چې به يو څوك پر هغه لاره تير سو نو هغه ته به معلومه سوه چې رسول الله ﷺ پر دغه لاره تير سوی دی ، يعني د رسول الله ﷺ د بدن د خولې د خوشبويي ځخه يا د رسول الله ﷺ د خولې د خوشبودار هواء ځخه به هغه معلومه کړه . مسلم.

### د رسول الله ﷺ بدن د لمر په ډول وو

(٥٥٤٥): وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بن عمار بْنِ يَاسِر قَالَ قُلْتُ لِلرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ صِفِي لَنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَهُ رَأَيْتَ الشَّمْسَ طَالِعَةً . رواه الدارمي.

د حضرت ابوعبيده بن محمد بن عمار بن ياسر ﷺ ځخه روايت دی چې ما بي بي ربيع بنت مسعود بن عفراء ته وويل : ته موږ ته د رسول الله ﷺ صفت بيان کړه ، هغې وويل : زويه! که تا رسول الله ﷺ ليدلی وای نو ويلې به دې وای چې لمر راختلی دی ، دارمي.

### د سپوږمۍ ځخه ښوره

(٥٥٤٦): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت جابر بن سمره ﷺ ځخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ د سپوږمۍ په شپه وليدی کله به مې سپوږمۍ ته کتل او کله به مې رسول الله ﷺ ته کتل

| | |
|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَى الْقَمَرِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ فَإِذَا هُوَ عِنْدِي أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ. رواه الترمذي. | ، دغه وخت رسول الله ﷺ سره جامه اغوستي وه او ما ته د رسول الله ﷺ حسن او ښکلا تر سپوږمۍ ښکلې معلوميده . ترمذي او دارمي . |

**د رسول الله ﷺ تگ**

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مِشْيَتِهِ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا الْأَرْضُ تُطْوَى لَهُ إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ. رواه الترمذي. | د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما تر رسول الله ﷺ ښکلی هيڅ شی نه دی ليدلی لکه لمر چي د رسول الله ﷺ په مبارك مخ کي جاري وو او نه ما د رسول الله ﷺ څخه تيز تگ کونکی څوك ليدلی دی گويا مخکه د رسول الله ﷺ لپاره را تو له سوي وه، موږ به د رسول الله ﷺ سره د تلو کوښښ کوی مگر رسول الله ﷺ به په بې پرواهۍ (يعني عادي تگ) سره تلی . ترمذي. |

**د رسول الله ﷺ پنډۍ، سترگې او مسکا**

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۸): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمُوشَةٌ وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا وَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ. رواه الترمذي. | د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ پونډۍ مبارکي نرمي او نازکي وې ، هيڅکله به يې په قهقهه نه خندل بلکه په مسکا سره به يې خندل، کله چي به ما رسول الله ﷺ ته وکتل نو په خپل زړه کي به مي ويل چي |

رسول الله ﷺ رانجه په سترگو کي اچولي دي حال دا چي رسول الله ﷺ به رانجه په سترگو کي نه وه اچولي . ترمذي.

## دريم فصل

**د رسول الله ﷺ غاښونه مبارك**

| | |
|---|---|
| (۵۵۲۹): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ. رواه الدارمي. | د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ مخکني دوه غاښونه مبارك پراخ وه چي خبري به يې کولې نو داسي به محسوس |

کيدل چي د دواړو مبارکو غاښو څخه يې نور وځي . دارمي.

**د خوښي د اظهار طريقه**

(٥٥٥٠): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّ وجهه قِطْعَةُ قَمَرٍ وَكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ. متفق عليه.

د حضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي کله به پر رسول الله ﷺ د يو خوشحالۍ حالت راغلی نو مخ مبارك به يې داسي معلوميدی لکه د سپوږمۍ ټوټه او موږ ددې څخه خبر وو . بخاري او مسلم.

**په تورات کي د نبي ﷺ صفت**

(٥٥٥١): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ غُلَامًا يَهُوْدِيًا كَانَ يَخْدِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُوْدُهُ فَوَجَدَ أَبَاهُ عِنْدَ رَأْسِهِ يَقْرَأُ التَّوْرَاةَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا يَهُوْدِيُّ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ الَّذِيْ أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوْسٰى هَلْ تَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتِيْ وَصِفَتِيْ وَمَخْرَجِيْ قَالَ لَا قَالَ الْفَتٰى بَلٰى وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نَجِدُ لَكَ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتَكَ وَصِفَتَكَ وَمَخْرَجَكَ وَإِنِّيْ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ أَقِيْمُوْا هٰذَا مِنْ عِنْدِ رَأْسِهِ وَلُوْا أَخَاكُمْ . رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي يو يهودي هلك به د رسول الله ﷺ خدمت کوی ، يو وار هغه هلك ناروغ سو نو رسول الله ﷺ د هغه پوښتني ته ورغلی ، رسول الله ﷺ وليدل چي د هغه هلك پلار د هغه سر ته ناست دی تورات وايي ، رسول الله ﷺ د هغه پلار ته وفرمايل : اې يهوديه ! زه په خدای ﷻ سره قسم درکوم چي هغه پر موسی عليه السلام تورات نازل کړی دی ايا ته په تورات کي زما د صفتونو او زما د پيداکيدو حال هم وينې ، هغه وويل :يا، هغه هلك وويل : هو قسم په خدای اې دالله رسوله ! موږ ستاسو صفات ستاسو اوصاف او ستاسو د پيداکيدو حال په تورات کي وينو او زه ددې شاهدي او اعتراف کوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته او تاسو د الله تعالی رښتونی رسول ياست ، د دې اوريدو سره رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل دده پلار دده د سر څخه ولاړ کړئ او تاسو د خپل ورور والي او ساتونکي جوړ سئ . بيهقي.

**د رسول الله ﷺ بعثت د الله ﷻ د رحمت ظهور دی**

(٥٥٥٢): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ. رواه الدارمي والبيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د الله ﷻ راليږل سوی رحمت يم . دارمي او بيهقي.

# بَابُ فِيْ اَخْلَاقِه وَ شَمَائِله ﷺ

## (د رسول الله ﷺ د اخلاقو او عاداتو بيان)

## لومړی فصل

### بې مثله اخلاق

(۵۵۵۳): عَنْ اَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي ما لس کاله د رسول الله ﷺ خدمت وکړ ، رسول الله ﷺ هيڅکله ما ته أف هم نه دي کړي او نه يې هيڅکله دا وفرمايل چي تا دا کار ولي وکړ او يا دا کار دي ولي ونه کړ. بخاري اومسلم

### شفقت او مروت

(۵۵۵۴): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ خُلُقًا فَأَرْسَلَنِي يَوْمًا لِحَاجَةٍ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَذْهَبُ وَفِي نَفْسِي أَنْ أَذْهَبَ لِمَا أَمَرَنِي بِهِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجْتُ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى صِبْيَانٍ وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي السُّوقِ فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَبَضَ بِقَفَايَ مِنْ وَرَائِي قَالَ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ يَا أُنَيْسُ أَذَهَبْتَ حَيْثُ أَمَرْتُكَ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ أَنَا أَذْهَبُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د اخلاقو په اعتبار تر ټولو غوره وو ، يوه ورځ يې زه په يو کار پسي ولېږلم ما وويل قسم په خدای زه نه ځم، مګر زما اراده وه چي د هغه کار کولو لپاره چي د هغه حکم نبي ﷺ کړی وو ولاړ سم ، بيا زه د کور څخه د باندي راووتم او پر هغه هلکانو تير سوم چي په بازار کي يې لوبې کولې، ناڅاپه د شا د خوا رسول الله ﷺ راغلی او زما څټ يې ونيوی ما چي شا ته وکتل نو رسول الله ﷺ مسکا کول، رسول الله ﷺ وفرمايل :اې انيسه ! ايا ته په هغه کار پسي ولاړې چي ما درته ويلي وه ما وويل هو زه اوس ځم ..مسلم.

### تحمل او خوش اخلاقي

(۵۵۵۵):-وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً

د حضرت انس ﷺ څخه زوايت دی چي زه په رسول الله ﷺ پسي تر شا روان وم او رسول الله ﷺ د نجران څادر اچولی وو چي د هغه غاړه سخته

ورجع نبي الله ﷺ في نحر الاعرابي حَتّٰى نَظَرْتُ إِلٰى صَفْحَةِ عَاتِقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِه ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللّٰهِ الَّذِي عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ. متفق علیه

وه ، په لاره کي ورسره يو صحرايي يو خاى سو چي رسول الله ﷺ يې تر څادر ونيوى او دومره په سختي سره يې را کش کړ چي نبي کريم ﷺ بې اختياره ور وګرځېدى ، ما چي وليدل نو د رسول الله ﷺ د څادر څوکو په غاړه کي تغمې کړي وې د ډېر زور څخه د څادر ، بيا هغه صحرايي وويل اې محمد (ﷺ) ستا سره چي د الله تعالى مال دى د هغه څخه څه ما ته راکړه ، رسول الله ﷺ هغه ته وکتل ورته وه يې خندل او بيا رسول الله ﷺ د يو څه ورکولو حکم وکړ. بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ اکمليت او جامعيت

(۵۵۵۶): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ قَالَ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ سَبَقَ النَّاسَ إِلَى الصَّوْتِ وَهُوَ يَقُولُ لَنْ تُرَاعُوا لَنْ تُرَاعُوا وَهُوَ عَلٰى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ فِي عُنُقِهِ سَيْفٌ فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْرًا. متفق عليه.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د حسن او ښکلا، فضل او کمال او د صفات حميده په اعتبار په خلکو کي ډير سخي، دلاور او شجاع وو، يوه شپه د مديني خلك (د دښمنانو څخه) وبيريدل او پريشاني پکښي پيدا سوه، خلك د آواز په لوري روان سول نو نبي کريم ﷺ مخته ورته راغلی چي مخکي تر خلکو هلته تللی وو په اواز پسي او ويل يې مه بېرېږئ مه بېرېږئ ،دغه وخت رسول الله ﷺ د ابو طلحه پر آس سپور وو او پر آس زين نه و او د رسول الله ﷺ په مبارکه غاړه کي يې توره وه، رسول الله ﷺ وفرمايل : ما خو دا آس درياب وليدى. (يعني ډير تيز مي وليدى). بخاري او مسلم

## هيڅ کله يې سائل نه دى جواب کړى

(۵۵۵۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ لَا. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه به يو شى وغوښتل سو نو انکار يې نه دى کړى (که به شى ورسره وو ور به يې کړى او که به نه وو ورسره سکوت به يې کوى). بخاري او مسلم

## د ورکړې او بخښنې کمال

(۵۵۵۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ فَأَتٰى

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دى چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه دومره پسونه وغوښتل چي

قَوْمَهُ فَقَالَ أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا فَوَاللهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ. رواه مسلم.

د دوو غرونو په منځ کي شیله ډکه کړي ، رسول الله ﷺ ورته هغومره پسونه ورکړل بیا هغه سړی خپل قوم ته راغلی او ورته وه یې ویل :مسلمانان سئ قسم په خدای محمد ﷺ دومره ورکړه کوي چي د فقیرئ څخه هم نه بیریږي. مسلم.

## نبوي اخلاق

(۵۵۵۹): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ بَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ فَعَلِقَهُ الاعراب يَسْأَلُونَهُ حَتَّى اضْطَرُّوهُ إِلَى سَمُرَةٍ فَخَطِفَتْ رِدَاءَهُ فَوَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْطُونِي رِدَائِي لَوْ كَانَ لِي عَدَدُ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا. رواه البخاري.

د حضرت جبیر بن مطعم ﷺ څخه روایت دی چي د حنین د غزا څخه په راګرځېدو کي هغه د رسول الله ﷺ سره راتلی چي صحرایان په رسول الله ﷺ پسي وموښتل او د غنیمت مال یې غوښتی، رسول الله ﷺ یې تر دې پوري تنګ کړ چي رسول الله ﷺ یې د یو کیکر د درختي لاندي بوتلی، د کیکر د درختي سره د رسول الله ﷺ څادر وموښتی، نبي کریم ﷺ ودرېدی او وه یې فرمایل ما ته زما څادر راکړی که زما سره ددغه ازغو لرونکو درختو په اندازه حیوانان وای نو هغه به ما ستاسو د ټولو په منځ کي ویشلی وای هغه وخت به زه تاسو بخیل، دروغجن او بېرېدونکي (د فقر څخه) نه وای بللی. بخاري.

## د الله ﷺ پر مخلوق باندي شفقت او همدردي

(۵۵۶۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ جَاءَ خَدَمُ الْمَدِينَةِ بِآنِيَتِهِمْ فِيهَا الْمَاءُ فَمَا يأتون بِإِنَاءٍ إِلَّا غَمَسَ يَدَهُ فِيهَا فَرُبَّمَا جَاءُوهُ فِي الْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهُ فِيهَا. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سهار دلمانځه څخه فارغ سو نو د مدینې خادمان به د اوبو د لوښو سره حاضریدل ، رسول الله ﷺ به د هر یوه په لوښي کي لاس دننه کوی او په ډېر یخ کي به هم سهار چي دوئ به لوښي راوړل نو رسول الله ﷺ به خپل لاس په دغه اوبو کي دننه کوی (لپاره د برکت). مسلم.

## د ځریبو او ستونزمنو سره معامله

(۵۵۶۱): وَعَنْهُ قَالَ كَانَتْ أَمَةٌ مِنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ تَأْخُذُ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءَتْ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي د مدینې والاوو یوه مینځه وه چي د رسول الله ﷺ لاس به یې نیوی او چیري چي به یې زړه غوښتل رسول الله ﷺ به یې بیوی. مسلم.

(۵۵۶۲): وَعَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً كَانَ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ يَا أُمَّ فُلَانٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتَّى أَقْضِيَ لَكِ حَاجَتَكِ فَخَلَا مَعَهَا فِي بَعْضِ الطُّرُقِ حَتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي یوه ښځه وه چي د هغې په عقل کي خلل وو (یعني دماغ یې سم نه وو) یوه ورځ هغې وویل اې دالله رسوله! ستاسو سره زما یو کار دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د فلانی مورا کومي کوڅي ته چي ته وایي درسره به ځم او ستا کار به کوم (یعني کومه پټه خبره چي ته کول غواړې زه به درسره سم) نو رسول الله ﷺ د هغې سره یو کوڅي ته تشریف یووړ او دهغې کار یې وکړ. مسلم

## د رسول الله ﷺ اوصاف حمیده

(۵۵۶۳): وَعَنْهُ قَالَ لَمْ يَكُنْ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَّاشًا ولاسبَّابًا وَلَا لَعَّانًا كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْمَعْتِبَةِ مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ نه فحش ویونکی، نه لعنت کونکی او نه ښکنځل کونکی وو، کله چي به رسول الله ﷺ یو چا ته په غصه سو نو یوازې دومره به یې فرمایل: په ده څه سوي دي تندی دي یې په خاورو ولړل سي. بخاري.

## دښمنانو ته به یې هم ښېرا نه کول

(۵۵۶۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ قَالَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي وویل سول اې دالله رسوله! د کافرانو لپاره ښېرا وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه د لعنت کولو لپاره نه یم رالیږل سوی بلکه زه رحمت رالیږل سوی یم. مسلم.

## د رسول الله ﷺ شرم او حیاء

(۵۵۶۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا فَإِذَا رای شَيْئًا يكرهه عرفناه فِي وَجْهِهِ. متفق عليه.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ډیر حیاداره وو، د هغه پیغلي انجلی څخه هم زیات حیاداره کومه چي په پرده کي وي، او کله چي به یو خبره د رسول الله ﷺ د مزاج خلاف وه نو موږ به د رسول الله ﷺ د مخ څخه د هغوئ ناخوښي پېژندل. بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ خندا

(۵۵۶۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِه إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رواه البخاري.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما هيڅكله رسول الله ﷺ پر داسي خندا كولو نه دی ليدلی چي تالو مبارك يې ووينم ، رسول الله ﷺ چي به خندل نو يوازي تبسم به يې كوی . بخاري.

## د خبرو كولو انداز

(۵۵۶۷): وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به بې ترتيبه (پرله پسې) خبري نه كولې لكه څرنگه چي تاسو په خپل منځ كي خبري كوئ، رسول الله ﷺ به يوه يوه خبره بيله بيله كول ، كه يو ·چا به د رسول الله ﷺ جملې شميرل غوښتل نو شميرلای به يې سوه. بخاري او مسلم

(۵۵۶۸): وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي بَيْتِه قَالَتْ كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِه يَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِه فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ. رواه البخاري.

د حضرت اسود ﷺ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشي (رض) څخه پوښتنه وكړه چي رسول الله ﷺ به په كور كي څه كول؟ هغې وويل د كور په كارو كي به يې مرسته راسره كول، يعني د خپل كور والاوو خدمت به يې كوی او كله چي به د لمانځه وخت سو نو لمانځه ته به تلی. بخاري.

## ذاتي بدله نه اخيستل

(۵۵۶۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ قط إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِه فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللّٰهِ فَيَنْتَقِمَ لِلّٰهِ بِهَا. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ ته په دوو كارونو كي د يو كار د اختيارولو موقع وركړل سوه نو رسول الله ﷺ به په هغو كي آسانه كار اختياروی، كه هغه به گناه نه وه او كه هغه كار به د گناه سبب وو نو رسول الله ﷺ به د هغه كار څخه ډير ليري اوسيدی ، او رسول الله ﷺ د خپل ذات لپاره هيڅكله په يوه خبره كي د چا څخه بدل نه دی اخيستی، البته كه د الله ﷺ حرام كړی كار به چا وكړ نو رسول الله ﷺ به د الله ﷺ لپاره د هغه بدله اخيستل . بخاري او مسلم

## د رسول الله ﷺ خندا

(٥٥٦٦): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رواه البخاري.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما هيڅکله رسول الله ﷺ پر داسي خندا کولو نه دی ليدلی چي تالو مبارك يې ووينم ، رسول الله ﷺ چي به خندل نو يوازي تبسم به يې کوی . بخاري.

## د خبرو کولو انداز

(٥٥٦٧): وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به بې ترتيبه (پرله پسې) خبري نه کولې لکه څرنګه چي تاسو په خپل منځ کي خبري کوئ، رسول الله ﷺ به يوه يوه خبره بيله بيله کول ، که يو چا به د رسول الله ﷺ جملې شميرل غوښتل نو شميرلای به يې سوه. بخاري او مسلم.

(٥٥٦٨): وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ يَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ. رواه البخاري.

د حضرت اسود ؓ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشي (رض) څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به په کور کي څه کول؟ هغې وويل د کور په کارو کي به يې مرسته راسره کول، يعني د خپل کور والاوو خدمت به يې کوی او کله چي به د لمانځه وخت سو نو لمانځه ته به تلی. بخاري.

## ذاتي بدله نه اخيستل

(٥٥٦٩): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ قط إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللَّهِ فَيَنْتَقِمَ لِلَّهِ بِهَا. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ ته په دوو کارونو کي د يو کار د اختيارولو موقع ورکړل سوه نو رسول الله ﷺ به په هغو کي آسانه کار اختياروی، که هغه به ګناه نه وه او که هغه کار به د ګناه سبب وو نو رسول الله ﷺ به د هغه کار څخه ډير ليري اوسيدی ، او رسول الله ﷺ د خپل ذات لپاره هيڅکله په يوه خبره کي د چا څخه بدل نه دی اخيستی، البته که د الله ﷻ حرام کړی کار به چا وکړ نو رسول الله ﷺ به د الله ﷻ لپاره د هغه بدله اخيستل . بخاري او مسلم.

رسول الله ﷺ هيڅکله څوک نه دی وهلی

(۵۵۷۰): وَعَنْهَا قَالَتْ مَا ضَرَبَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ بِيَده وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادمًا إِلَّا أَنْ يُجَاهدَ فِي سَبِيلِ اللّٰه وَمَا نِيلَ منْهُ شَيْءٌ قَطُّ فَيَنْتَقِمَ مِنْ صَاحِبِه إِلَّا أَنْ يُنْتَهَكَ شَيْءٌ مِنْ مَحَارِمِ اللّٰه فَيَنْتَقِمَ لِلّٰه عَزَّ وَجَلَّ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ په لار کې د جهاد کولو د حالت څخه پرته هيڅکله په خپل لاس سره څوک نه دی وهلی يعني نه ښځه او نه خادم، او هر کله چې به رسول الله ﷺ ته د يو چا څخه يو تکليف ورسيدی نو د هغه بدل به يې نه اخيستی مګر که يو چا به د الله ﷻ حرام کړي شی استعمال کړ يا منع کړل سوی کار به يې وکړ نو رسول الله ﷺ به خامخا هغه ته د الله ﷻ لپاره سزا ورکول. مسلم.

## دويم فصل

د خادمانو سره چلن

(۵۵۷۱): عَنْ أَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ ثَمَانَ سِنِيْنَ خَدَمْتُهُ عَشْرَ سِنِيْنَ فَمَا لَامَنِيْ عَلَى شَيْءٍ قَطُّ أُتِيَ فِيْه عَلَى يَدَيَّ فَإِنْ لَامَنِيْ لَائِمٌ مِنْ أَهْلِه قَالَ دَعُوْهُ فَإِنَّهُ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ . هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ وَرَوَى البيهقي في شعب الإيمان مع تغيير يسير.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې ما د اتو کالو د عمر څخه د رسول الله ﷺ خدمت پيل کړی دی او لس کاله مي د رسول الله ﷺ خدمت کړی دی مګر رسول الله ﷺ هيڅکله زما د لاسه د يو شي په ضائع کيدو پر ما ملامتيا نه ده کړې او که د رسول الله ﷺ د کوروالاوو څخه به يو چا پر ما ملامتيا وکړه نو رسول الله ﷺ به فرمايل: پريږدئ هر کله چې يو خبره کيدونکي وي هغه به ضرور کيږي. بيهقي.

اوصاف حميده

(۵۵۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَلَا صَخَّابًا فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ نه فحش ويونکی او نه يې په تکلف سره فحش ويل، او نه په بازارونو کې شور کونکی وو او نه به يې د بدی بدله په بدی سره اخيستل بلکه معافي او بخښنه به يې کول. ترمذي.

په رسول الله ﷺ کې تواضع او انکساري

(۵۵۷۳): وَعَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى

حضرت انس ﷺ به د رسول الله ﷺ صفات داسي

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ وَيَتْبَعُ الْجَنَازَةَ وَيُجِيْبُ دَعْوَةَ الْمَمْلُوْكِ وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَوْمَ خَيْبَرَ عَلَى حِمَارٍ خِطَامُهُ لِيْفٌ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان.

بيانول چي رسول الله ﷺ به د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې سره به تلی، د مريي دعوت به يې قبلوی، پر خره به يې سپرلي کول ، د خيبر په ورځ ما رسول الله ﷺ پر يو خره سپور ليدلی دی چي د هغه مهار د خرماوو د پوست څخه وو . ابن ماجه او بيهقي.

**خپل څپلی به يې خپله گنډلې**

(٥٥٧٤): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْصِفُ نَعْلَهُ وَيَخِيْطُ ثَوْبَهُ وَيَعْمَلُ فِيْ بَيْتِهِ كَمَا يَعْمَلُ أَحَدُكُمْ فِيْ بَيْتِهِ وَقَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِيْ ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ وَيَخْدِمُ نَفْسَهُ . رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به خپل څپلی په خپله جوړولې ، خپله جامه به يې په خپله گنډل، او په خپل کور کي به يې داسي کار کوی لکه څرنگه چي تاسو په خپلو کورونو کي کار کوئ، او بي بي عائشې وويل : رسول الله ﷺ د خلکو څخه يو سړی وو په خپلو جامو کي به يې خپله کتل او د خپل ميږي شيدې به يې په خپله لويشلې او خپل کارونه به يې په خپله کول . ترمذي.

**عوامي تعلق**

(٥٥٧٥): وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلَ نَفَرٌ عَلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فَقَالُوْا لَهُ حَدِّثْنَا أَحَادِيْثَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ جَارَهُ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عليه الْوَحْيُ بَعَثَ إِلَيَّ فَكَتَبْتُهُ لَهُ فَكَانَ إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الْآخِرَةَ ذَكَرَهَا مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الطَّعَامَ ذَكَرَهُ مَعَنَا فَكُلُّ هٰذَا أُحَدِّثُكُمْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي.

د حضرت خارجه بن زيد بن ثابت ؓ څخه روايت دی چي د خلکو يو ډله زيدبن ثابت ؓ ته راغلل او هغه ته يې وويل موږ ته د رسول الله ﷺ حديثونه بيان کړه ، زيدبن ثابت ؓ وويل زه د رسول الله ﷺ همسايه وم کله چي به پر رسول الله ﷺ باندي وحي راتلې نو زه به يې را غوښتلم ، زه به يې په خدمت کي حاضر سوم او وحي به مي ليکلې او د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي کله به موږ ددنيا ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره ددنيا ذکر کوی او کله چي به موږ د آخرت ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره د آخرت ذکر کوی او کله چي به موږ د خوراک او څښناک ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره د خوراک او څښناک ذکر کوی او دا ټولي خبري زه د رسول الله ﷺ څخه درته بيان کوم . ترمذي.

**مصافحه او مواجهه**

| | |
|---|---|
| (۵۵۷۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَافَحَ الرَّجُلَ لَمْ يَنْزِعْ يده من يده حتى يكون هو الذي ينزع يده وَلَا يَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنْ وَجْهه حتى يكون هو الذي يصرف وجهه عن وجهه وَلَمْ يُرَ مُقَدِّمًا رُكْبَتَيْهِ بَيْنَ يَدَيْ جَلِيسٍ لَهُ. رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ د يو چا سره مصافحه (دلاس روغبړ) کوی نو خپل لاس به يې تر هغه وخته پوري نه بيل کوی تر څو پوري چې هغه سړي به خپل لاس نه وو بيل کړی، رسول الله ﷺ به |

تر هغه وخته پوري د هغه څخه مخ نه اړوی تر څو پوري چې هغه به مخ نه وو گرځولی، او رسول الله ﷺ مي هيڅکله په داسي حال کي نه دی ليدلی چې د خپل ملگري مخته دي يې پښې غزولي وي. ترمذي.

**د سبا لپاره شيان نه جمع کول**

| | |
|---|---|
| (۵۵۷۷): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ . رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د سبا لپاره هيڅ شی نه ذخيره کوی . ترمذي. |

**پټه خوله اوسيدل**

| | |
|---|---|
| (۵۵۷۸): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَوِيْلَ الصَّمْتِ . رواه في شرح السنة. | د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به زيات پټه خوله اوسيدی . شرح السنه . |

**د رسول الله ﷺ د خبرو انداز**

| | |
|---|---|
| (۵۵۷۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ فِي كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْتِيلٌ أَوْ تَرْسِيلٌ. رواه ابوداؤد. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ خبري کولې نو يوه يوه جمله به يې بيله بيله ادا کول او په کراره کراره به يې خبري کولې . ابوداؤد. |
| (۵۵۸۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيْنَهُ فَصْلٌ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ. رواه الترمذي. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به داسي خبري نه کولې لکه څرنگه چې تاسو پرله پسې خبري کوئ بلکه داسي خبرې به يې کولې چې يوه يوه جمله به يې بيله بيله وه او هغه څوک چې ورسره ناست به وو يادولې به يې . ترمذي. |

**پر شونډو به يې اکثره مسکا وه**

(۵۵۸۱): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن حارث بن جزء ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه زيات تبسم کونکی هيڅوک نه دی ليدلی. ترمذي.

**د وحي انتظار**

(۵۵۸۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ يَتَحَدَّثُ يُكْثِرُ أَنْ يَرْفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د خبرو کولو لپاره کښېناستی نو اکثر به يې نظر د آسمان په لور وو. (يعني د وحي انتظار به يې کوی) ابوداؤد.

## دريم فصل

**د اهل او عيال په اړه شفقت او محبت**

(۵۵۸۳): عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ إِبْرَاهِيْمُ مُسْتَرْضَعًا لَهُ فِي عَوَالِي الْمَدِيْنَةِ فَكَانَ يَنْطَلِقُ وَنَحْنُ مَعَهُ فَيَدْخُلُ الْبَيْتَ وَإِنَّهُ لَيُدَّخَنُ وَكَانَ ظِئْرُهُ قَيْنًا فَيَأْخُذُهُ فَيُقَبِّلُهُ ثُمَّ يَرْجِعُ قَالَ عَمْرٌو فَلَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيْمُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْرَاهِيْمَ ابْنِي وَإِنَّهُ مَاتَ فِي الثَّدْيِ وَإِنَّ لَهُ لَظِئْرَيْنِ تُكَمِّلَانِ رَضَاعَهُ فِي الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

حضرت عمرو بن سعيد ﷺ د حضرت انس ﷺ څخه روايت کوي چي ما پر اهل او عيال تر رسول الله ﷺ مهربان هيڅوک نه دی ليدلی، د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم ﷺ د مديني لوړي خوا ته په يو کلي کي وو د رضعي مور شيدي يې رودلې او رسول الله ﷺ به هغه کلي ته د هغه د ليدو لپاره تشريف وړی، موږ به هم د رسول الله ﷺ سره وو. رسول الله ﷺ به کور ته دننه تشريف يُووړ چي هغه کور به د دود څخه ډک وو څکه چي ددايي (شيدو ورکونکي) ميړه پښ وو، رسول الله ﷺ به خپل زوی په غيږ کي واخيستی مچوی به يې بيا به راغلی، د عمر بن سعيد ﷺ بيان دی کله چي د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم ﷺ وفات سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا ابراهيم زما زوی دی چي د شيدو خوړلو په حالت کي مړ سوی دی په جنت کي دده لپاره دوې داياني دي چي د شيدو ورکولو تر وخته پوري به شيدې ورکوي. مسلم.

## د رسول الله ﷺ غوره اخلاق او يو يهودي

(٥٥٨٤): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ يَهُوْدِيًّا كَانَ يُقَالُ لَهُ فُلَانٌ حِبْرٌ كَانَ لَهُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَنَانِيْرُ فَتَقَاضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ يَا يَهُوْدِيُّ مَا عِنْدِيْ مَا أُعْطِيْكَ قَالَ فَإِنِّيْ لاَ أُفَارِقُكَ يَا مُحَمَّدُ حَتّٰى تُعْطِيَنِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذًا أَجْلِسَ مَعَكَ فَجَلَسَ مَعَهُ فَصَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ الْآخِرَةَ وَالْغَدَاةَ وَكَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَهَدَّدُوْنَهُ وَيَتَوَعَّدُوْنَهُ فَفَطِنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الَّذِيْ يَصْنَعُوْنَ بِهِ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ يَهُوْدِيٌّ يَحْبِسُكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنَعَنِيْ رَبِّيْ أَنْ أَظْلِمَ مُعَاهِدًا وَغَيْرَهُ فَلَمَّا تَرَجَّلَ النَّهَارُ قَالَ الْيَهُوْدِيُّ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ وَشَطْرُ مَالِيْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمَا وَاللهِ مَا فَعَلْتُ بِكَ الَّذِيْ فَعَلْتُ بِكَ إِلاَّ لِأَنْظُرَ إِلٰى نَعْتِكَ فِي التَّوْرَاةِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ وَمُهَاجَرُهُ بِطِيْبَةَ وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلاَ غَلِيْظٍ وَلاَ سَخَّابٍ فِي الْأَسْوَاقِ وَلاَ مُتَزَيٍّ بِالْفُحْشِ وَلاَ قَوْلِ الْخَنَا أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ وَهٰذَا مَالِيْ فَاحْكُمْ فِيْهِ بِمَا أَرَاكَ اللهُ وَكَانَ الْيَهُوْدِيُّ كَثِيْرَ الْمَالِ . رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دى چي يو يهودي وو چي هغه ته به فلاني عالم ويل كيدل، د هغه پر رسول الله ﷺ يو څو ديناره پور وو ، هغه د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې يهودي زما سره اوس هيڅ نسته چي زه يې دركړم ، هغه ورته وويل اې محمد (ﷺ) زه تر هغه وخته پوري ستا څخه نه جلا كيږم تر څو پوري چي زما پور ادا نه كړې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ښه دى زه ستا سره كښينم ، نو رسول الله ﷺ د هغه سره كښېنستى او رسول الله ﷺ د ماپښين، مازديگر، ماښام ، ماخستن او بيا د سهار لمونځ هلته وكړ ، د رسول الله ﷺ صحابه كرامو هغه يهودي ته خبرداري وركړ او وه يې بيروى، رسول الله ﷺ چي محسوس كړل چي صحابه كرام ﷛ هغه ته خبرداري وركوي نو هغوئ يې منع كړل، صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا يو يهودي تاسو بندي كولاى سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالى زه ددې څخه منع كړى يم چي زه پر دغه سړي ظلم وكړم چي زموږ په پناه كي دى يا پر هغه چا باندي چي زموږ په پناه كي نه دى ، بيا چي سهار سو نو هغه يهودي وويل زه شاهدي وركوم چي د الله څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته او دا شاهدي وركوم چي تاسو د الله ﷺ رسول ياست، او زما د مال نيمه برخه د الله ﷺ په لاره كي صدقه ده، قسم په خداى ما چي كومه معامله ستاسو سره كړې ده

هغه يوازي ددې لپاره وه چې زه ووينم چې كوم صفات په تورات كې مذكور دي هغه په تاسو كې سته كه نه، په تورات كې ليكلي دي چې محمد بن عبدالله ﷺ به په مكه كې پيدا كيږي د طيبې په لور به هجرت كوي او د هغه حكومت به په شام كې وي ، هغه بد ژبانه او سخت زړه به نه وي او نه به په بازارونو كې شور كونكى او نه به فحش ويونكي او نه پالتو خبرې كونكى وي، زه شاهدي وركوم چې د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته او تاسو د الله رسول ياست، دا زما مال موجود دى څه حكم چې تاسو مناسب ګڼئ وه يې كړئ ، يعني د الله تعالى د حكم سره كوم ځاى چې يې غواړئ خرڅ يې كړئ، د راوي بيان دى چې دا يهودي ډير شتمن وو : بيهقي.

**د غريبانو سره ښه سلوک**

(٥٥٨٥): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ الذِّكْرَ وَيُقِلُّ اللَّغْوَ وَيُطِيلُ الصَّلَاةَ وَيُقَصِّرُ الْخُطْبَةَ وَلَا يَأْنَفُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَ الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ فَيَقْضِيَ لَهُ الْحَاجَةَ. رواه النسائي والدارمي.

د حضرت عبدالله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د الله ﷻ ذكر كوى ډېر ، دنياوي خبرې به يې كمې كولې، لمونځ به يې اوږد كوى خطبه يې به لنډه وه، او د كونډو او مسكينانو سره تلل به يې پيغور نه ګڼئ، او د هغوئ هر يو كار به يې كوى . .نسائي او دارمي.

**د مكې قريشو د رسول الله ﷺ تكذيب ولې وكړ؟**

(٥٥٨٦): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ أَبَا جَهْلٍ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَلَكِنْ نُكَذِّبُ بِمَا جِئْتَ بِهِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللّٰهِ يَجْحَدُونَ. رواه الترمذي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چې ابوجهل نبي كريم ﷺ ته وويل موږ تا درواغجن نه بلكه هغه شى درواغ ګڼو كوم چې تا راوړى دى ، نو الله تعالى د ابوجهل وغيره په اړه دا آيت نازل كړ : (فانهم لا يكذبونك ولكن الظالمين .....): (هغوئ تا نه درواغجن كوي بلكه دا ظالمان د الله ﷻ آياتونه درواغ ګڼي). ترمذي.

**رسول الله ﷺ د ځان لپاره شتمنتوب خوښ نه كړ**

(٥٥٨٧): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ لَوْ شِئْتُ لَسَارَتْ مَعِيَ جِبَالُ الذَّهَبِ جَاءَنِي مَلَكٌ وَإِنَّ حُجْزَتَهُ لَتُسَاوِي الْكَعْبَةَ فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَقُولُ إِنْ شِئْتَ نَبِيًّا عَبْدًا وَإِنْ شِئْتَ نَبِيًّا مَلِكًا فَنَظَرْتُ إِلَى

د حضرت عائشې (رض ) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې ! كه زه د الله تعالى ﷻ څخه مال او دولت غوارم نو زما سره به د سرو زرو غرونه روان سي ، ما ته يوه ملائكه راغلل چې د هغې ملا د كعبې برابر وه ،

جبرئيل عليه السلام فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ ضَعْ نَفْسَكَ وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلى جبريْلَ كَالْمُسْتَشِيْرِ لَهُ فَأَشَارَ جبرِيْلُ بِيَدِه أَنْ تَوَاضَعْ فَقُلْتُ نَبِيًّا عَبْدًا قَالَتْ فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَا يَأْكُلُ مُتَّكِأً يَقُوْلُ آكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ وَأَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ .رواه في شرح السنة.

هغې وويل : ستا رب پر تاسو سلام وايي او وايي : كه تاسو غواړئ نو بنده پيغمبر جوړ سئ (يعني هغه پيغمبر چي د بندگۍ او فقر صفت سره موصوف وي) او كه غواړئ نو پاچا پيغمبر جوړ سئ ، ما جبرائيل عليه السلام ته وكتل (يعني د هغه څخه مي مشوره وغوښتل) هغه راته وويل : تاسو ځان كښته كړئ (يعني بندگي او فقر خوښ كړئ) ، او د ابن عباس ﷺ په روايت كي دا الفاظ دي چي د ملائكي الفاظ اوريدو سره رسول الله ﷺ جبرائيل عليه السلام ته وكتل ، مطلب دا چي د هغه څخه يې مشوره غوښتل، جبرائيل عليه السلام ورته په اشاره سره وښودل چي تواضع اختيار كړه، ما ورته وويل زه بنده پيغمبر جوړيدل غواړم، د بي بي عائشې بيان دی ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ هيڅكله په تكيه لگولو سره خوراك نه دی كړی ، رسول الله ﷺ به دا فرمايل : زه داسې خورم لكه څرنگه چي غلام خوراك كوي او داسې كښينم لكه څرنگه چي غلام كښيني . شرح السنه

## بَابُ الْمَبْعَثِ وَبَدْءِ الْوَحْيِ (د نبي ﷺ بعثت او د وحي پيل)

## لومړی فصل

### رسول الله ﷺ د څلويښتو كالو په عمر په نبوت مشرف سو

(٥٥٨٨): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بُعِثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعِيْنَ سَنَةً فَمَكَثَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً يُوْحَى إِلَيْهِ ثُمَّ أُمِرَ بِالْهِجْرَةِ فَهَاجَرَ عَشْرَ سِنِيْنَ وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّيْنَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د څلويښتو كالو په عمر كي پيغمبر سو ، ددې وروسته ديارلس كاله په مكه كي وو په دغه دوران كي به وحي راتله، بيا ورته د هجرت حكم وسو او د هجرت څخه وروسته لس كاله په مدينه كي وو او د درو شپيته كالو په عمر كي وفات سو . بخاري او مسلم

### د وحي ابتداء

(٥٥٨٩): وَعَنْهُ قَالَ أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً يَسْمَعُ الصَّوْتَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (د نبوت تر لاسه كيدو وروسته)

وَيَرَى الضَّوْءَ سَبْعَ سِنِينَ وَلَا يَرَى شَيْئًا وَثَمَانَ سِنِينَ يُوحَى إِلَيْهِ وَأَقَامَ بِالْمَدِينَةِ عَشْرًا وتوفي وهوابن خمس وستين سنة. متفق عليه.

پنځلس کاله په مکه کې قيام وکړ ، په دغه وخت کې به يې راسته او چپه خوا ته د (دجبرائيل عليه السلام) اواز اوريدى او په تاريکى کې به يې رڼا ليدل ، او ددې څخه پرته به يې نه ليدل ، تر اوو کلو پورې دغه معامله وه بيا تر اته کاله پورې وحي راتلل او په مدينه کې يې لس کاله قيام وکړ او د پنځه شپيتو کالو په عمر کې وفات سو . بخاري او مسلم.

**وفات**

(٥٥٩٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تَوَفَّاهُ اللّٰهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې الله ﷻ رسول الله ﷺ د شپيتو کالو په عمر کې وفات کړ . بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ او خليفه راشدينو عمر**

(٥٥٩١): وَعَنْهُ قَالَ قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَأَبُو بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَعُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ . رواه مسلم قال محمد ابن اسماعيل البخاري ثلث وستين اكثر.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د درو شپيتو کالو په عمر کې وفات سو او حضرت ابوبکر صديق ﷺ هم د درو شپيتو کالو په عمر کې وفات سو او حضرت عمر ﷺ هم د درو شپيتو کالو په عمر کې وفات سو . مسلم.

**د وحي د شروع تفصيل**

(٥٥٩٢): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةَ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ يَتَحَنَّثُ فيه وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذوات الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يترع إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ فَقَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چې د وحي په لړۍ کې تر ټولو لومړني شي چې د رسول الله ﷺ سره شروع سو هغه په خوب کې د ريښتوني خوبو ليدل وه ، رسول الله ﷺ چې به کوم خوب وليدى د هغه تعبير به د خلانده ورځي په ډول معلوميدى بيا د رسول الله ﷺ کناره کېدل خوښ سول ، او رسول الله ﷺ به په غار حراء کې کناره کېدى (يعني خلوت به يې کوى)، په غار حراء کې به يې عبادت کوى او په شمار يو څو شپې به په عبادت کې بوخت وو تر

فَقَالَ اقْرَأْ فقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ برجف فواده فدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ فَقَالَ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ فقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي فَقَالَتْ خَدِيجَةُ كَلَّا وَاللَّهِ لَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ فَانْطَلَقَتْ به خَدِيجَةُ الى وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ عَمِّ خَدِيجَةَ فَقَالَتْ لَهُ يا ابن عَمِّ اسْمَعْ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ قَالَ له وَرَقَةُ بْنُ نَوْفَلٍ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَآهُ فَقَالَ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي أَنْزَلَ الله عَلَى مُوسَى يَا لَيْتَنِي كنت فِيهَا جَذَعًا يَا لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا اذ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مخرجيهم قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمثل مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَفَتَرَ الْوَحْيُ. متفق عليه و زاد البخاري حَتَّى حَزِنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا بَلَغَنَا حُزْنًا غَدَا مِنْهُ مِرَارًا كَيْ يَتَرَدَّى مِنْ رُءُوسِ شَوَاهِقِ الْجِبَالِ فَكُلَّمَا أَوْفَى

هغو پوري چي کور ته به يې خواهش کيدی، رسول الله ﷺ به د ځان سره خوراك وړی او هر كله چي به هغه ختم سوه نو بيا بي بي خديجې ته به راتلی او خومره ورځي چي به يې په غار حراء کي د پاته کيدو اراده وه د هغومره ورځو توښه به يې د ځان سره وړل تر دې چي رسول الله ﷺ ته حق راغلی (يعني د حق پيغام) ، رسول الله ﷺ هغه وخت په غار حراء کي وو ، ملائكه ورته راغلل ورته وه يې ويل ووايه! رسول الله ﷺ وفرمايل : زه لوستونکی نه یم، بیا رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائكي زه ونيولم ښه زور يې راكړ تر دې چي زه ستړی سوم ، بيا ملائكي زه پرېښودلم او راته وه يې ويل : ووايه! ما ورته وويل : زه لوست نه سم کولای، هغه ملائکي زه بيا ونيولم او ښه يې کښېښلم تر دې چي زه ستړی سوم بيا ملائكي زه پرېښودلم او وه يې ويل : ووايه! ما ورته وويل زه ويونکی نه يم ، هغه ملائکي زه بيا ونيولم او په دريم وار يې بيا زه ښه کښېښلم تر دې چي زه ستړی سوم ، بيا هغه ملائکي زه پرې ښودلم او راته وه يې ويل : (اقرا باسم ربك الذي خلق خلق الانسان من علق اقراء وربك الاكرم الذي علم بالقلم علم الانسان مالم يعلم) ، (د خپل هغه پروردگار په نامه سره ووایه چي هر شی يې پيدا كړ چي انسان يې د يخی سوي ويني ځخه پيدا كړ او ستا پروردگار تر ټولو بزرگ دی هغه پروردگار چي د قلم په ذريعه يې علم وښودی او انسان ته يې هغه شی

| | |
|---|---|
| بِذِرْوَةِ جَبَلٍ لِكَيْ يُلْقِيَ مِنْهُ نَفْسَهُ تَبَدَّى لَهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ حَقًّا فَيَسْكُنُ لِذٰلِكَ جَأْشُهُ وَتَقِرُّ نَفْسُهُ. | وبنبودی چي په هغه نه پوهيدی)، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ددغه وحي سره (مکي ته) را وگرزيدی، او حالت دا وو چي د رسول الله ﷺ |

مبارك زړه رپيدی ، بي بي خديجې ته په رسيدو سره يې ورته وفرمايل پر ما جامه واچوه پر ما جامه واچوه (چې تود سم) ، نو جامه پر واچول سوه، تر دې چي بيره يې ولاړه بيا يې بي بي خديجې ته ټوله پېښه بيان کړه، او ورته وه يې فرمايل : زما سره د ځان بيره ده ، بي بي خديجې ورته وويل تاسو بالکل مه بيريږئ، داسي به نه وي په الله ﷺ دي مي قسم وي هغه به مو هيڅکله ذليل او رسوا نه کړي تاسو د خپلوانو سره ښه چلن کوئ ، رښتيا واياست ، د غريبانو او مسکينانو مرسته کوئ د مسکينانو لپاره ګټه کوئ ، د ميلمنو ميلمستيا کوئ او په قدرتي پېښو کي د خلکو مرسته کوئ، بيا بي بي خديجې د خپل اکا زوی ورقه بن نوفل ته بوتلې او هغه ته يې وويل د اکا زويه! د خپل وراره (يعني رسول الله ﷺ) خبره واوره، ورقه بن نوفل رسول الله ﷺ ته وويل ولي اې زما وراره! څه خبره ده ، رسول الله ﷺ ټوله پېښه ورته بيان کړه چي رسول الله ﷺ ليدلي وه ، ددې اوريدو سره ورقه وويل دا هغه ناموس (ملائکه) ده چي د الله تعالى له لوري پر موسى عليه السلام نازل سوی وه ، کاش چي زه هغه وخت زلمی وای چي ته به خپل قوم ته تبليغ کوې ، يا کاش چي زه تر هغه وخت پوري ژوندی وای چي ستا قوم به تا وباسي، (د مکې څخه ) رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه زما قوم به ما د مکې څخه باسي؟ ورقه ورته وويل هو کوم شی چي تا راوړی دی (يعني نبوت او رسالت) نو کوم يو چا چي دا راوړی دی د هغه سره دښمني سوې ده که زه په هغه ورځو کي وای نو زه به ستا ښه مرسته وکړم، ددې پېښې څخه وروسته ورقه وفات سو او د څه وخت لپاره وحي بنده سوه، بخاري او مسلم، او بخاري دا الفاظ زيات کړي دي چي رسول الله ﷺ لکه څرنګه چي موږ ته د حديثو څخه معلومه سوې ده د وحي لړۍ په بنديدو سره ډير غمګين سو دومره غمګين چي څو واره رسول الله ﷺ په سهار کي ددې ارادې سره غرونو ته ولاړی چي ځان د غره د څوکي څخه را وغورځوي نو هر وخت چي به غره ته وختی چي خپل ځان لاندې را وغورځوي نو جبرائيل عليه السلام به ورته ښکاره سو او فرمايل به يې اې محمد ! بې شکه ته د الله رسول يې ، ددې الفاظو اوريدو سره به يې پريشاني او خفګان دفع سو او زړه به يې مطمئن سو.

### د انقطاع څخه وروسته بيا وحي

| | |
|---|---|
| (۵۵۹۳): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ قال فَبَيْنَا أَنَا | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي هغه د رسول الله ﷺ د وحي د بنديدو حال داسي |

أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعبا حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ فَجِئْتُ أَهْلِي فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُونِي فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، ثُمَّ حَمِيَ الْوَحْيُ فَتَتَابَعَ. متفق عليه.

اوريدلى دى چي رسول الله ﷺ فرمايي زه روان وم چي د آسمان څخه ما ته يو آواز وسو چي لوړ مي وکتل نو وينم چي ما ته هغه ملائکه معلومه سوه چي په غار حراء کي ما ته راغلي وه ، دا ملائکي د مځکي او آسمان په منځ کي پر يو تخت باندي ناسته وه زما په زړه کي د هغه څخه رعب او بيره پيدا سوه تر دې چي زه پر مځکه را ولويدم ، بيا زه خپل کور ته راغلم (کوروالا ته مي وويل چي پر ما جامه واچوئ نو جامه (شړی يا توس) راباندي واچول سو ، نو الله تعالى دا آيت نازل کړل : (يا ايها المدثر قم فانذر وربك فكبر وثيابك فطهر والرجز فاهجر)، (اې جامه اغوستونکي! ولاړ سه او مخلوق د الله ﷺ د عذاب څخه وبيروه د خپل پروردگار لويي بيان کړه او خپل جامه د نجاست څخه پاکه کړه او ناپاکي پريږده)، ددې څخه وروسته وحي پر له پسې راتلل پيل سول. بخاري او مسلم.

## وحي څنګه راتلل

(۵۵۹۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ فَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِي الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيُفْصَمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي حارث بن هشام ﷺ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! تاسو ته وحي څنګه راځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : کله خو د هغه اواز د شپيلکي په ډول وي دا پر ما سخت ترين وحي وي ، بيا وحي موقوف سي او څه چي ما د ملائکي څخه اوريدلي دي هغه زه ياد کړم او کله داسي وي چي د وحي ملائکه د يو سړي په شکل ما ته راسي او زما سره خبري کوي او څه چي زه واورم هغه ياد کړم ، بي بي عائشه وايي ما پر رسول الله ﷺ وحي نازليدل ليدلي دي د يخ په ورځو کي به چي پر رسول الله ﷺ د وحي راتللو څخه وروسته ملائکه ولاړل نو ما به وليدل چي د رسول الله ﷺ د تندي مبارک څخه به خوله جاري وه. بخاري او مسلم.

## د وحي کیفیت

(۵۵۹۵): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ كرب لذالك وتربد وجهه وفي رواية نَكَسَ رَأْسَهُ وَنَكَسَ أَصْحَابُهُ رُءُوسَهُمْ فَلَمَّا أُتْلِيَ عَنْهُ رَفَعَ رَأْسَهُ . رواه مسلم.

د حضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روایت دی چي کله به پر رسول الله ﷺ وحي نازلیدل نو هغه وخت به رسول الله ﷺ پریشانه سو او د مخ مبارك رنګ به یې بدل سو، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي کله به پر رسول الله ﷺ وحي راتلل نو خپل سر مبارك به یې کښته کړ او صحابه کرامو به هم سرونه کښته کړل او کله چي به وحي ختم سوه نو سر مبارك به یې پورته کړ. مسلم.

## د الله تعالی ددین اول دعوت

(۵۵۹۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى صَعِدَ الصَّفَا جَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتّٰى اجْتَمَعُوا فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تخرج من صفح هذا الجبل وفي رواية ان خيلا تخرج بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ أَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي کله دا آیت نازل سو: «وانذر عشیرتك الاقربین»، «خپل نږدې خپلوان وبیره»، نو نبي کریم ﷺ د صفا غونډۍ ته وختی او نعرې یې کړلې اې د فهر اولاده! اې د عدي اولاده! همداسې د قریشو تولو قبیلو ته یې نوم په نامه اواز وکړ، تر دې چي ټول یو ځای سول، داسي هم وه چي د قبیلې یو لوی سړی به په یو سبب نه سو تللای نو د خپل طرف څخه به یې یو بل څوك ولیږی، غرض دا چي ابولهب او د قریشو ټول خلك راجمع سول، رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمایل: که زه تاسو ته دا خبر درکړم چي ددغه غره شا ته سل سپاره دي، او په یوه روایت کي دي چي په دغه ځنګل کي، چي پر تاسو حمله کول غواړي نو ایا تاسو به دا خبره رښتیا وګڼئ او ما به رښتوني وګڼئ، خلکو وویل موږ په تجربه کي ته همیشه رښتونی ثابت کړی یې په دې وجه موږ ستا خبره صحیح ګڼو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه تاسو د هغه عذاب څخه بیروم کوم چي ستاسو په مخکي دی، ددې اوریدو سره ابولهب وویل، ته هلاك او تباه سې ددې خبري لپاره تا موږ راجمع کړي یو، پر دې خبره باندي سورة تبت یدا ابي لهب وتب، نازل سو، «یعني د ابولهب دواړه لاسونه دي هلاك

سي او هغه دي هم هلاك سي. بخاري او مسلم.

## د دعوت په بدله كي د قريشو بد چلن

(٥٥٩٧): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عِنْدَ الْكَعْبَةِ وَجَمْعُ قُرَيْشٍ فِي مَجَالِسِهِمْ إِذْ قَالَ قَائِلٌ أَيُّكُمْ يَقُوْمُ إِلَى جَزُوْرِ آلِ فُلَانٍ فَيَعْمِدُ إِلَى فَرْثِهَا وَدَمِهَا وَسَلَاهَا ثُمَّ يُمْهِلُهُ حَتَّى إِذَا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَثَبَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا فَضَحِكُوْا حَتَّى مَالَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ مِنَ الضَّحِكِ فَانْطَلَقَ مُنْطَلِقٌ إِلَى فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ وَهِيَ جُوَيْرِيَةٌ فَأَقْبَلَتْ تَسْعَى وَثَبَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا حَتَّى أَلْقَتْهُ عَنْهُ وَأَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَسُبُّهُمْ فَلَمَّا قَضَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ قَالَ اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ ثلثا وكان اذا ادعا دعا ثلثا واذا سال سال ثلاثا اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِعَمْرِو بْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ وَعُمَارَةَ بْنِ الْوَلِيْدِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَوَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى يَوْمَ بَدْرٍ ثُمَّ سُحِبُوْا إِلَى الْقَلِيْبِ قَلِيبِ بَدْرٍ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُتْبِعَ أَصْحَابُ الْقَلِيْبِ لَعْنَةً. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (يو وار) د كعبي شريفي نژدې لمونځ كوی او د قريشو يو ډله د كعبي څخه شاوخوا د خپل مجلس حلقه جوړه كړي ناست وه ، چي ناڅاپه يو سړی وويل په تاسو كي څوك داسي سته چي د فلاني سړي اولاد ته ولاړ سي چي اوښ يې ذبح كړی دی او د هغه نجاست لرى، كولمې وغيره راوړي ، بيا انتظار وكړي او هر كله چي دی (يعني محمدﷺ) سجدې ته ولاړ سي نو هغه ټول شيان دده پر اوږو كښيږدي، په هغوئ كي يو بدبخته (چي د هغه نوم عقبه ابي معيط وو) ولاړ سو او هغه شيان يې راوړل ، كله چي رسول الله ﷺ سجدي ته ولاړي نو د رسول الله ﷺ د دوارو اوږو مباركو په منځ كي يې كښېښودل، رسول الله ﷺ پر سجده پروت وو ، هغوئ بدبختان ددې په ليدو سره په خندا سول دومره يې وخندل چي د ډيري خندا څخه يو پر بل پريوتل، بيا يو سړی بي بي فاطمې ته ورغلی ، بي بي فاطمه په منډه راغلل ، رسول الله ﷺ هم هغسي پر سجده پروت وو، بي بي فاطمې هغه نجاست د رسول الله ﷺ د شا څخه ليري كړ او وه يې غورځول، او كافرانو ته يې بد رد وويل ، كله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو رسول الله ﷺ دا دعاء وكړل اي الله ! ته قريش په سختي سره ونيسې (درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل)، د رسول الله ﷺ دا عادت مبارك وو چي كله به يې دعاء كول يا د الله ﷺ څخه به يې يو څه غوښتل نو درې واره به يې هغه الفاظ ويل، اي الله ! ته عمرو بن هشام

سخت ونيسي ، اي الله ! ته عتبه بن ربيعه په سختئ سره ونيسي ، اي الله ! ته شيبه بن ربيعه سخت ونيسي، اي الله ! ته وليد بن عتبه ، اميه بن خلف، عقبه بي ابي معيط او عماره بن وليد سخت ونيسي ، د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ بيان دى قسم په خداى ما دا ټول خلك چي رسول الله ﷺ ورته ښيرا كړي وه د بدر په ورځ پر مځكه مړه پراته وليدل، بيا هغوئ د جنګ د ميدان څخه را وايستل سول او د بدر په څاه كي وغورځول سول، او په څاه كي د اچولو څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل پر دغه ډلي چي په څاه كي اچول سوي دي د الله ﷺ لعنت سوى دى . بخاري او مسلم

**دعقبه سخت مصائب او د رسول الله ﷺ تحمل**

(٥٥٩٨): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ يَارَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ أَتَى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ فَقَالَ لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ وَكَانَ أَشَدَّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ عَبْدِ كُلَالٍ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ عَلَى وَجْهِي فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا جِبْرِيلُ فَنَادَانِي فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ قَالَ فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَأَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِي رَبُّكَ إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِي بِأَمْرِكَ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي ما عرض وكړ اي دالله رسوله ! ايا د احد د ورځي څخه هم زياته سخته ورځ پر تاسو تيره سوې ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ستا د قوم څخه هغه څه ليدلي دي چي تر احد هم زيات سخت دي، او تر ټولو سخته ورځ چي پر ما تيره سوې ده چي په هغه كي ما ستا د قوم څخه داسي تكليف پورته كړى دى چي په ټول عمر كي مي هم نه دې زغملى ، هغه د عقبه ورځ او د عقبه مصائب دي (عقبه يو ځاى دى چي هلته د حج په ورځو كي ډبري ويشتل كيږي دي ته جمره عقبه هم وايي) ما خپل ځان (يعني خپل دعوت ) د ابن عبد يا ليل بن عبد كلال په مخكي وړاندي كړ او كوم شى چي ما هغه ته وړاندي كړ د هغه يې هيڅ جواب نه راكړ زه د هغه ځاى څخه غمگين ولاړم ، مقام قرن ثعالب ته چي ورسيدم نو ما ته هوښ راغلى (يعني د پريشانئ حالت راڅخه ليري سو) ما چي سر پورته كړ نو د وريځي يوه ټوټه راته معلومه سوه چي پر ما باندي يې سايه كړي وه او بيا ما په هغه كي جبرائيل عليه السلام وليدى ، جبرائيل عليه السلام ما ته وويل : الله تعالى ستا د قوم خبره واوريده او ستا د خبري چي هغوئ

څه جواب وکړ هغه يې هم واوريدل (يعني تا ته ستا د قوم بد او رد ويل او دروواغ ګڼل هر څه خدای ﷻ ته معلوم دي) اوس الله تعالی تاسو ته د غرونو ملائکه راليږلی ده چې ددغه خلکو په اړه تاسو څه حکم کوئ؟ هغه يې پر ځای راوړي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څخه وروسته د غرونو ملائکي پر ما سلام ووايه ، بيا يې راته وويل اې محمد! الله تعالی ستا د قوم خبره واوريده او زه د غرونو ملائکه يې ستا په خدمت کې راليږلی يم چې زه ستا حکم پر ځای راوړم، که تاسو واياست نو زه به داخشبين دواړه غرونه پر دې کفارو را نسکور کړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (زه نه غواړم چې دوئ هلاك سي) بلکه زه اميد لرم چې الله تعالی به د دوئ په اولاد کې داسي خلك پيدا کړي چې د يوازي د يوه الله ﷻ عبادت به کوي او شرك به نه کوي. بخاري او مسلم.

**د احد په غزا کي زخمي کېدل**

| | |
|---|---|
| (۵۵۹۹): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ فِي رَأْسِهِ فَجَعَلَ يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ يَقُولُ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا رَأْسَ نَبِيِّهِمْ وَكَسَرُوا رَبَاعِيَتَهُ. رواه مسلم. | د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې د احد د غزا په ورځ د رسول الله ﷺ د مخکي څلورو غاښو څخه يو غاښ مبارك مات سو ، او سر مبارك يې ژوبل سو ، رسول الله ﷺ به خپله وينه وچول او فرمايل به يې: هغه قوم کله خلاصون |

تر لاسه کولای سي چې د خپل نبي سر (مبارك) زخمي کړي او د هغه غاښ مات کړي. مسلم.

**د رسول الله ﷺ په لاس وژل سوي به په سخت عذاب کي وي**

| | |
|---|---|
| (۵۶۰۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلَى قَوْمٍ فَعَلُوا بِنَبِيِّهِ يُشِيرُ إِلَى رَبَاعِيَتِهِ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلَى رَجُلٍ يَقْتُلُهُ رَسُولُ اللّٰهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. متفق عليه. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني . | د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : پر هغه قوم د الله ﷻ سخت غضب وسو چې هغوئ د خپل نبي سره داسي وکړل ، دې فرمايلو سره رسول الله ﷺ خپل مخکني غاښو ته اشاره وکړه (چې په هغو کي |

يو غاښ کي د احد په غزا کي شهيد کړل سوی وو ، او الله ﷻ پر هغه سړي ډير غضبناك سو چې د خدای رسول يې د خدای ﷻ په لاره کي ووژي. بخاري اومسلم.

**په دې باب کي دويم فصل نشته**

## دريم فصل

| | |
|---|---|
| (۵۶۰۱): عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا | د حضرت يحيى بن ابي کثير رضی الله عنه څخه روايت |

سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُلْتُ يَقُولُونَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ الَّذِي قُلْتَ لِي فَقَالَ لِي جَابِرٌ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي هَبَطْتُ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ خَلْفِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَرَأَيْتُ شَيْئًا فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ قُلْتُ دَثِّرُونِي فَدَثَّرُونِي وَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ و ثيابك فطهر وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وذالك قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ. متفق عليه.

دی چي ما د ابو سلمه بن عبدالرحمن ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په قرآن کریم کي کوم شی تر ټولو وړاندي نازل سوی دی ؟ هغه وویل : یا ایهاالمدثر، ما ورته وویل خلك وایي چي تر ټولو وړاندي : اقرا باسم ربك، نازل سوی دی ، ابوسلمه وویل : ما ددې په اړه د حضرت جابر ﷺ څخه پوښتنه وکړه او ما هم هغه ته دا الفاظ وویلي وه کوم چي تا ما ته اوس وویل، حضرت جابر ﷺ جواب راکړ چي رسول الله ﷺ موږ ته بیان کړی وو، یعني رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي زه په غار حراء کي تر یوه میاشت پوري په خلوت کي وم کله چي زما داعتکاف شپه پوره سوه او زه د غره څخه راکښته سوم نو ما ته آواز راغلی ، ما راسته او چپه خوا ته وکتل نو ما هیڅ شی ونه لیدی ، بیا ما شا ته وکتل نو ما هیڅ شی و نه لیدی بیا چي سر مي پورته کړ نو یو شی مي ولیدی (یعني ملائکه) ، ددې څخه وروسته بي بي خدیجې ته راغلم ورته مي وویل پر ما جامه واچوه پر ما جامه واچوه، پر ما یې جامه واچوه، بیا یې پر ما یخي اوبه واچولې . بیا دا سورة یعني : یاایهاالمدثر قیم فانذر ....، نازل سو او دا پېښه د لمانځه د فرض کیدو څخه مخکي ده . بخاري او مسلم

## باب علامات النبوة (د نبوت د نښو بیان)

## لومړی فصل

### د زړه خیرلو واقعه

(۵۶۰۲): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ ثُمَّ غَسَلَهُ فِي

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ (په وړکتوب کي) د کوچنیانو سره لوبي کولې چي جبرائیل علیه السلام ورته راغلی ، رسول الله ﷺ یې ونیوی او پرې یې ایستی ، بیا

طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لَأَمَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ يَعْنِي ظِئْرَهُ فَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ قَالَ أَنَسٌ فَكُنْتُ أَرٰى أَثَرَ الْخَيْطِ فِي صَدْرِهِ. رواه مسلم.

د رسول الله ﷺ سينه مباركه يې د زړه په لور څيرې كړل او د رسول الله ﷺ د زړه څخه يې د يخى سوې وينې يوه ټوټه راوكښل او وه يې ويل دا ستا په بدن كې دننه د شيطان برخه وه، ددې ويلو سره جبرائيل عليه السلام هغه د سرو زرو په تالۍ كې واچوى او د زمزم په اوبو سره يې پريولى، بيا يې وگنډى او پر خپل ځاى كښېښودى او سينه يې يو ځاى كړه، ماشومانو چې د رسول الله ﷺ سره لوبې كولې رامنډې كړې د رسول الله ﷺ مور يعني دايې ته راغلل او ورته وه يې ويل چې محمد ﷺ ووژل سو، خلك د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل او رسول الله ﷺ يې په داسې حال كې وليدى چې د مخ مبارك رنگ يې بدل وو، انس ﷺ وايي ما به د رسول الله ﷺ پر سينه مباركه د گنډلو نښه ليدل. مسلم.

(۵۶۰۳): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د مكې هغه كاڼى پېژنم چې زما د نبي كيدو څخه مخكې به يې ماته سلام كوى هغه اوس هم پېژنم. مسلم.

**د شق قمر معجزه**

(۵۶۰۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ انَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ حَتّٰى رَأَوْا حِرَاءَ بَيْنَهُمَا. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې د مكې خلكو رسول الله ﷺ ته وويل: چې دوئ ته يو معجزه وښيي رسول الله ﷺ ورته سپوږمۍ دوې ټوټې كړې وښودل او هغوئ حراء غر د هغه دوو ټوټو په منځ كې وليدى. بخاري او مسلم.

(۵۶۰۵): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُونَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْهَدُوا. متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې سپوږمۍ شق سوه (يعني پر منځ دوې ټوټې سوه يوه ټوټه د غره سربېره خوا ته وه او دويمه لاندې خوا ته) رسول الله ﷺ كافرانو ته وويل زما د نبوت شاهدان اوسئ. بخاري او مسلم.

## ابوجهل ته تنبيه

(۵۶۰۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو جَهْلٍ هَلْ يُعَفِّرُ مُحَمَّدٌ وَجْهَهُ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ فَقِيلَ نَعَمْ فَقَالَ وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى لَئِنْ رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ ذَلِكَ لَأَطَأَنَّ عَلَى رَقَبَتِهِ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي زَعَمَ لِيَطَأَ عَلَى رَقَبَتِهِ فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ إِلَّا وَهُوَ يَنْكُصُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَيَتَّقِي بِيَدَيْهِ فَقِيلَ لَهُ مَا لَكَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَأَجْنِحَةً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ دَنَا مِنِّي لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ابوجهل (د مکي کفارو يا قريشو ته) وويل : ايا محمد (ﷺ) ستا سو په مخ کي مخ په خاورو لري (يعني لمونځ او سجده کوي) ، ورته وويل سول هو ، هغه ورته وويل په لات او عزی (د بتانو نومونه) دي مي قسم وي که زه هغه پر داسي کولو ووينم نو غاړه به يې پرې کړم، نو هغه (په دې اراده سره) رسول الله ﷺ ته راغلی دغه وخت رسول الله ﷺ لمونځ کوی هغه د رسول الله ﷺ پر غاړه مبارکه قدم اېښودلو لپاره قصد وکړ نو ناګاه ابوجهل مخ پر شا حرکت شروع کړی چي پوندي يې لګولې او د خان ساتنه يې په خپل دواړو لاسونو کول ، د هغه څخه پوښتنه وسوه څه وسول؟ هغه وويل ما وليدل چي زما اود محمد (ﷺ) په منځ کي د اور يو خندق بيره ونکی منظر او وزرونه دي (ملائکي دي چي د رسول الله ﷺ ساتنه کوي)، نبي کريم ﷺ وفرمايل : که ابوجهل ما ته رانژدې سوی وای نو ملائکو به توټې توټې کړی وای. مسلم

## يو پيشګوئي

(۵۶۰۷): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ ثُمَّ أَتَاهُ آخَرُ فَشَكَا إِلَيْهِ قَطْعَ السَّبِيلِ فَقَالَ يَا عَدِيُّ هَلْ رَأَيْتَ الْحِيرَةَ فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ كِسْرَى وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ يَطْلُبُ مَنْ يَقْبَلُهُ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهُ مِنْهُ وَلَيَلْقَيَنَّ اللَّهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ

د حضرت عدي بن حاتم ﷺ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم چي يو سړی راغلی د فقر او مفلسۍ شکايت يې وکړ، بيا يو بل سړی راغلی هغه د لوټ کيدو شکايت وکړ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عدي ! تا حيره ښار ليدلی دی ؟ (حيره کوفې ته نژدې يو ښار دی)، که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وينې چي يوه ښځه به يوازي د حيره څخه سفر کوي او د کعبې شريفې طواف به کوي او د الله تعالی څخه پرته به د هيچا څخه نه بيرېږي، که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وينې چي د کسری

بِلقَاهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ فَلَيَقُولَنَّ أَلَمْ أَبْعَثْ إِلَيْكَ رَسُولًا فَيُبَلِّغَكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيَقُولُ أَلَمْ أُعْطِكَ مَالًا وَأُفْضِلْ عَلَيْكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِينِهِ فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ وَيَنْظُرُ عَنْ يَسَارِهِ فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقَّةِ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ قَالَ عَدِيٌّ فَرَأَيْتُ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ إِلَّا اللَّهَ وَكُنْتُ فِيمَنْ افْتَتَحَ كُنُوزَ كِسْرَى بْنِ هُرْمُزَ وَلَئِنْ طَالَتْ بِكُمْ حَيَاةٌ لَتَرَوُنَّ مَا قَالَ النَّبِيُّ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ. رواه البخاري

خزانې به خلاصي کړل سي او که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وینې چي سړی به یو موټ ډک سره زر یا سپین زر راوباسي او هغه سړی به لټوي چي دده دا خیرات قبول کړي او هغه ته به یو سړي هم داسي په لاس ور نه سي ، او البته د قیامت په ورځ به په تاسو کي یو سړی په داسي حال کي د الله ﷺ سره یو ځای سي چيَ د هغه او د الله ﷻ په منځ کي به هیڅ ترجمان نه وي چي الله ﷻ ته د هغه حال بیان کړي، بیا به الله ﷻ د هغه څخه پوښتنه وکړي ایا ما تاسو ته رسول نه وو درلیږلی چي ددین احکام درته ورسوي؟ هغه به ورته وایي هو رالیږلی دی وو ، بیا به ورته فرمایي ایا ما تا ته مال نه وو درکړی او فضل مي درباندي نه وو کړی مال مي هم درکړی وو او احسان مي هم درباندي کړی وو هغه به وایي هو، بیا به هغه سړی خپل راسته خوا ته وګوري نو دوږخ به ورته معلوم سي او چپه خوا ته چي وګوري نو هم به دوږخ ورته معلوم سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو! د دوږخ د اور څخه خان وساتئ که څه هم د خرما په یوې ټوټې خیرات کولو سره وي او د چا سره چي دا هم نه وي نو د سوال کونکي سره دي په نرمۍ او ښو اخلاقو سره خبره کوي، عدي بن حاتم راوي وایي ما د رسول الله ﷺ د ارشاد سره سم د حیره څخه کعبې شریفي پوري ښځه په سفر ولیدل په داسي حال کي چي طواف یې کوی او هغه د الله ﷻ څخه پرته د بل چا څخه نه بیریده، او بیا زه په هغه خلکو کي شامل وم چي هغوئ د کسری خزانې خلاصي کړې او که تاسو ژوندي پاته سواست نو د رسول الله ﷺ دریم ارشاد به هم په خپلو سترګو ووینئ یعني خلك به ډك موټ سره زر ګرځوي او هیڅوك اخیستونکی به نه وي. بخاري.

## د دین په لار کي سخت تکلیفونه زغمل

(٥٦٠٨): وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ وقد لقينا من المشركين شدة فقلنا الا تدعو الله فقعد وهو محمر وجهه قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ

د حضرت خباب بن ارت ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د کعبې شریفي په سایه کي تر سر لاندي کمبل ایښی پروت وو، موږ د کفارو څخه سختۍ (تکلیفونه) لیدلي وه بیا موږ وویل:

قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهِ فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ فَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ أَوْ عَصَبٍ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أَوْ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ. رواه البخاري.

تاسو د كافرانو لپاره د الله ﷺ څخه ښيرا ولې نه غواړئ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ كښېښستى او مخ مبارك يې سور سو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو څخه مخكي داسي خلك تير سوي دي چي د هغوئ لپاره به په مځكه كي كنده وكېنل سوه بيا به په هغه كنده كي سرى كښينول سو او بيا به اره كړل سو او پر منځ به دوې ټوټې كړل سو، مگر ددغه عذاب څخه به هم هغوئ ددين څخه نه اوښتل، او د خلكو بدنونه به د اوسپني په ږمونځ ږمونځېدل چي په هغه سره به د هغوئ غوښه د هډوكو څخه ايسته سوه او هغوئ به ددين څخه نه اوښتل. په الله ﷺ دي مي قسم وي دا دين به پوره وي او تر دي حده به پرمختګ كوي چي يو يوازي سپور به د صنعاء څخه تر حضر موت پوري يوازي سفر كوي، او د الله ﷺ څخه پرته به د هيڅا څخه نه بيريږي او رمې والا به پرته دشرمونښ څخه د بل څا څخه په بيره كي نه وي، مگر تاسو تلوار كوئ (يعني د صبر او استقامت څخه كار مه اخلئ). بخاري.

**يو خوب او دعاء**

(۵۶۰۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ أَوْ مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ام حرام بنت ملحان كره تلى راتلى، ام حرام د عباده بن صامت ښځه وه ، يوه ورځ رسول الله ﷺ د ام حرام كور ته تشريف راوړ ، ام حرام په رسول الله ﷺ باندي خوراك وخوړى بيا كښېښستل ، د رسول الله ﷺ په سر مبارك كي يې سپږي كتلې رسول الله ﷺ بيده سو ، بيا رسول الله ﷺ په خندا را پورته سو ، ام حرام پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! تاسو ولي وخندل؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت كي يوه ډله (په خوب كي) داسي زما په مخكي وراندي كړل سول چي هغوئ د الله ﷺ په لار كي جهاد كوي او په درياب كي سپاره دي لكه څرنګه چي پاچا

يُضْحِكُكَ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَا قَالَ فِي الْأُولَى فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. قَالَ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ فَرَكِبَتْ أُمُّ حَرَامٍ الْبَحْرَ فِي زَمَنِ مُعَاوِيَةَ فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ. متفق عليه.

پر تخت ناست وي يا دپاچاهانو په ډول چي پر خپل تخت وي، ام حرام وايي ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! د الله ﷺ څخه دعاء وغواړه چي په دغه مجاهدينو کي ما هم شامله کړي، رسول الله ﷺ دعاء وکړه ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ (پرتکيه) سر مبارك ولګوی او بيده سو ، بيا په خندا را پورته سو ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو ولي خاندئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل زما په امت کي ځيني خلك د الله ﷺ په لاره کي جنګ کونکي راته وښودل سول (لکه څرنګه چي لومړی وار رسول الله ﷺ وفرمايل همداسي يې دا وار هم وفرمايل)، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! دعاء وکړئ چي الله ﷺ ما په دوئ کي شامله کړي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته په لومړني ډله کي شامله يې ،(او همداسي وسول چي) د معاويه ﷺ په زمانه کي ام حرام د درياب په کښتي کي سپره سوه او د درياب څخه چي کښته کيدل او پر خپلي سپرلۍ سپريده نو را ولويده او وفات سوه. بخاري او مسلم. (ام حرام (رض) د رسول الله ﷺ محرمه وه يعني يا يې رضعي خاله وه يا يې د پلار يا نيکه خاله وه ، د حضرت انس ﷺ خاله وه د ام سليم خور وه او په اسلام مشرفه وه).

## د رسول الله ﷺ اعجاز

(۵۶۱۰): وَعَنْ عَبَّاسٍ قَالَ انَّ ضِمَادًا قَدِمَ مَكَّةَ وَكَانَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ وَكَانَ يَرْقِي مِنْ هَذِهِ الرِّيحِ فَسَمِعَ سُفَهَاءَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يَقُولُونَ إِنَّ مُحَمَّدًا مَجْنُونٌ فَقَالَ لَوْ أَنِّي رَأَيْتُ هَذَا الرَّجُلَ لَعَلَّ اللهَ يَشْفِيهِ عَلَى يَدَيَّ قَالَ فَلَقِيَهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي أَرْقِي مِنْ هَذِهِ الرِّيحِ فَهَلْ لَكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَمَّا بَعْدُ فَقَالَ أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ فَأَعَادَهُنَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عباس ﷺ څخه روايت دی چي قبيله شنوء د ازد ښاخ يو سړی چي د هغه نوم ضماد وو مکې ته راغلی ، ضماد به منتر وايه او د پيريانو وغيره لپاره به يې دم کوی، هغه د مکې د جاهلانو څخه واوريدل چي محمد ﷺ ليونی سوی دی، ددې اوريدو سره هغه وويل که زه دا سړی ووينم نو کيدای سي چي زما په علاج سره الله تعالى هغه ته صحت ورکړي، د ابن عباس ﷺ بيان دی چي ضماد د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وه يې ويل : اې محمد (ﷺ)! زه د پيريانو منتر وايم که ستاسو خوښه وي نو علاج به مو وکړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ فَمَا سَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ وَلَقَدْ بَلَغْنَ قَاعُوسَ الْبَحْرِ هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ عَلَى الْإِسْلَامِ قَالَ فَبَايَعَهُ. رواه مسلم وفي بعض نسخ المصابيح بلغنا ناعوس البحر وذكر حديثا ابي هريرة وجابر بن سمرة يهلك كسرى والاخر لتفتحن عصابة في باب الملاحم. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

تول تعريفونه الله ﷺ لره دي مونږ د هغه حمد كوو او د هغه څخه مرسته غواړو، هغه چي چا ته سيده لار وښيي نو هغه څوك گمراه كولای نه سي او څوك چي گمراه كړي نو هغه ته څوك هدايت نه سي كولای او زه ددې اقرار او شهادت كوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته هغه يوازي يو دی هيڅوك د هغه شريك نه سته او زه ددې شاهدي كوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی، امابعد! ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خطبه وركول غوښتل مگر پته خوله سو او څه چي يې فرمايلي وه هغه يې بس وګڼل، ضماد چي د رسول الله ﷺ الفاظ واوريدل نو عرض يې وكړ څه چي تاسو وفرمايل هغه دويم وار وفرماياست، نو رسول الله ﷺ هغه الفاظ درې واره وفرمايل، ضماد وويل: ما د كاهنانو اقوال اوريدلي دي او د ساحرانو كلمات مي اوريدلي دي او د شاعرانو اشعار مي اوريدلي دي مگر ستاسو د كلماتو په ډول هيڅ كلام مي نه دی اوريدلی ، ستاسو دا كلمې (په فصاحت او بلاغت كې) د درياب بيخ ته رسيدلي دي تاسو خپل لاس را وړاندي كړئ چي زه ستاسو په لاس بيعت وكړم ، ابن عباس ﷺ وايي ، ضماد د رسول الله ﷺ پر لاس مبارك بيعت وكړ او مسلمان سو ، مسلم، او په بعضو نسخو د مصابيح كي داسي لفظ دی بلغنا ناعوس البحر، او ذكر سوي دي دوه حديثونه د ابوهريره ﷺ او جابربن سمره ﷺ حديثونه (يهلك كسرى ...او بل لتفتحن عصابة) په باب الملاحم كي بيان سوي دي.

په دې باب كي دويم فصل نسته

## دريم فصل

### د قيصر روم په دربار كي د ابوسفيان شاهدي

(٥٦١١): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي سُفْيَانَ ابن حرب مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا بِالشَّامِ إِذْ جِيءَ بِكِتَابٍ مِنَ النَّبِيِّ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي ابوسفيان بن حرب ﷺ ما ته دا حديث بيان كړ چي په هغه زمانه كي چي زما او د رسول الله ﷺ په منځ كي صلح وه (يعني صلح حديبيه) ما سفر وكړ ، زه په شام كي مقيم وم چي د نبي كريم ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى هِرَقْلَ قَالَ وَكَانَ دَحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَاءَ بِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى فَدَفَعَهُ عَظِيمُ بُصْرَى إِلَى هِرَقْلَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هَا هُنَا أَحَدٌ مِنْ قَوْمِ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ قَالُوا نَعَمْ فَدُعِيتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا عَلَى هِرَقْلَ فَأَجْلَسَنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا فَأَجْلَسُونِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَجْلَسُوا أَصْحَابِي خَلْفِي ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ وَايْمُ اللّٰهِ لَوْلَا مَخَافَةُ أَنْ يُؤْثِرُوا عَلَيَّ الْكَذِبَ لَكَذَبْتُ ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو حَسَبٍ قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ أَيَتَّبِعُهُ أَشْرَافُ النَّاسِ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ يَزِيدُونَ أَوْ يَنْقُصُونَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يَزِيدُونَ قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالًا يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ لَا نَدْرِي مَا هُوَ صَانِعٌ فِيهَا قَالَ وَاللّٰهِ مَا أَمْكَنَنِي مِنْ كَلِمَةٍ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرَ هَذِهِ قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُ إِنِّي

ليك مبارك د هرقل په نامه راغلى او هغه ليك دحيه كلبي راوړى وو، دحيه كلبي هغه ليك د بصرى امير ته ورسوى، او د بصرى امير هغه ليك د هرقل په خدمت كي وړاندې كړ، هرقل وويل : ايا ددغه سړي د قوم يو څوك دلته سته چا چي د نبوت دعوه كړې ده ؟ خلكو ويل هو سته، نو د قريشو د يو ډلي سره زه راوستل سوم ، موږ هرقل ته ورسيدو او د هغه مخته كښېنستو، هغه پوښتنه وكړه په تاسو كي څوك هغه ته زيات په نسب كي نژدې دى كوم چي ځان ته نبي وايي، د ابوسفيان بيان دى ما وويل زه ورته نژدې يم، هر قل زه د ځان سره نژدې كښېنولم او د قريشو نور خلك زما شاته كښېنستل ، بيا هر قل ترجمان وغوښتى او هغه ته يې وويل ته دغه خلكو ته ووايه چي زه د ابوسفيان څخه د هغه سړي حال معلوموم ، كه ابوسفيان يو درواغ خبره وكړي نو تاسو ورته درواغجن ووايأست، او د ريښتوني خبر څخه ما خبر كړئ، د ابوسفيان بيان دى كه زما سره دا بيره نه واى چي خلك به ما ته درواغجن ووايي نو ما به خامخا درواغ خبري كړي واى ، ددې څخه وروسته هر قل خپل ترجمان ته وويل چي د ابوسفيان څخه پوښتنه وكړه چي ستاسو په منځ كي ددغه سړي حسب څه شي دى ؟ ابوسفيان په جواب كي وويل : هغه سړى په موږ كي صاحب حسب دى (يعني په حسب كي ښه دى خانداني سړى دى)، بيا هرقل پوښتنه وكړه د هغه په

سَأَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهِ فِيكُمْ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو حَسَبٍ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي أَحْسَابِ قَوْمِهَا وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ فِي آبَائِهِ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ وَسَأَلْتُكَ عَنْ أَتْبَاعِهِ أَضُعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبَ عَلَى اللهِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَةَ الْقُلُوبِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ فَزَعَمْتَ أَنَّكُمْ قَاتَلْتُمُوهُ فَتَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سِجَالًا يَنَالُ مِنْكُمْ وَتَنَالُونَ مِنْهُ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ لَا يَغْدِرُ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ بِمَ يَأْمُرُكُمْ قَالَ قُلْتُ يَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَالصِّلَةِ وَالْعَفَافِ قَالَ إِنْ يَكُ مَا تَقُولُ حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ وَلَمْ أَكُ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ وَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَأَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ

پلرونو او نیکونو کي یو څوك پاچا تیر سوی دی ؟ ما وویل :یا، بیا هغه پوښتنه وکړه ایا د نبوت ددعوې څخه مخکي تاسو هغه درواغجن لیدلی دی ؟ ابوسفیان وویل :یا، بیا هرقل پوښتنه وکړه : کوم خلك چي پر هغه ایمان راوړي هغه شریف خلك دي که کمزوري او ضعیف؟ ما وویل ضعیف او کمزوري خلك پر هغه ایمان راوړي، هرقل پوښتنه وکړه د هغه د پیروانو حلقه زیاتیږي که کمیږي؟ ما وویل زیاتیږي، هرقل پوښتنه وکړه د هغه په دین کي د داخلیدو څخه وروسته څوك په پټه سره مرتد کیږي هم ؟ ما وویل یا داسي نه کیږي، هرقل پوښتنه وکړه ایا د هغه سره ستاسو جنګ هم سوی دی ؟ ما وویل هو، هرقل پوښتنه وکړه د هغه سره ستاسو د جنګ پای څه وو؟ ما ورته وویل زموږ او د هغه په منځ کي د جنګ نتیجه دا وي لکه سلواغې چي کله هغه پر موږ غالب سي او کله موږ پر غالب سو، کله زموږ څخه هغه ته مصیبت رسیږي او کله د هغه څخه موږ ته مصیبت رسیږي، هرقل پوښتنه وکړه ایا هغه خپل قول ماتوي؟ ما وویل: قول ماتول نه کوي، نن سبا زموږ او د هغه په منځ کي صلح ده، موږ نه سو ویلای چي ددې صلح په معامله کي به د هغه کردار څه وي، د ابوسفیان بیان دی چي په دغه ټولو خبرو کي پرته د آخري خبرې څخه ما د خپل لوري هیڅ ونه ویل ، (یعني د رسول الله ﷺ خلاف ددې خبري څخه پرته چي د اوسني صلح

قَدَمَيْ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُ. متفق عليه وقد سبق تمام الحديث في باب الكتاب الى الكفار.

په اړه هيڅ نه سم ويلای چي ددې به پای څه وي نور مي هيڅ نه سوای ويلای، هرقل پوښتنه وکړه دا ډول خبره ددغه څخه مخکي يو چا کړې

ده ؟ ما وويل :يا، ددې څخه وروسته هرقل د خپلو سوالونو وضاحت پيل کړ او ترجمان ته يې وويل ابوسفيان ته ووايه چي زما څخه د هغه سړي د حسب پوښتنه کړې وه نو تا وويل چي هغه ستاسو په قوم کي صاحب حسب دی، پېښه داده چي نبي د قوم د اشرافو خلکو څخه وي بيا ما ستا څخه پوښتنه وکړه چي د هغه په پلرونو او نيکونو کي يو څوك پاچا تير سوی وو نو دا خيال کيدای سو چي هغه د خپل خانداني حکومت غوښتونکی وي، بيا ما ستا څخه پوښتنه کړې وه چي د هغه تابعداران کوم خلك دي ؟ اشرف يا ضعيف او کمزوري خلك؟ تا وويل ضعيف او کمزوري خلك د هغه پيروان دي، او په حقيقت کي هم داسي خلك د رسول تابعدار وي، بيا ما پوښتنه وکړه ايا تاسو هغه دروغجن ګڼئ او پر هغه د دروغو تور لګوی؟ تا وويل :يا، نو زه پوه سوم چي څوك په انسانانو کي دروغ نه وايي هغه پر خدای ﷻ څرنګه دروغ ترلای سي، بيا ما پوښتنه وکړه ايا د هغه ددين څخه څوك اوښتی دی يعني د هغه د مذهب قبلولو څخه وروسته د هغه څخه يا د هغه د مذهب څخه يو څوك ناراضه کيدو سره مرتد سوي دي ؟ تا وويل :يا، هر کله چي ايمان په زړه کي ځای ونيسي او زړه د هغه د خوند څخه خبر سي نو دا حال د ايمان دی ، او ما ستا څخه پوښتنه کړې وه چي د هغه د پيروانو شمير زياتيږي که کميږي ؟ نو تا څرګنده کړه چي هغه زياتيږي ، او د ايمان هم دا کيفيت وي چي هغه زياتيږي تر دې چي پوره سي ،، ما بيا پوښتنه کړې وه چي تاسو د هغه سره جنګ کوئ ؟ تا وويل هو ، جنګ ورسره کوو او د جنګ مثال لکه د سلواغو چي کله هغه را بالاندي غالب سي او کله موږ هغه ته ستاسو څخه مصيبت رسيږي او تاسو ته د هغه څخه ، او پېښه داده چي د رسولانو څخه هم داسي امتحان اخيستل کيږي او بيا د هغه فتح نصيب کيږي، بيا ما پوښتنه کړې وه چي ايا هغه قول ماتوي ؟ تا وويل هغه وعده ماتونکی نه دی او رسولان همداسي وي ، ما بيا پوښتنه وکړه ددې څخه مخکي ستاسو قوم کي يو چا داسي دعوا کړې ده ؟ تا وويل چي يا، نو زه په زړه کي پوه سوم که يو چا ددې څخه مخکي ددغه ډول دعوا کړې وي نو ويل کيدای سوه چي هغه د هغوئ پيروي کړې ده ، د ابوسفيان بيان دی ددې څخه وروسته هرقل زما څخه پوښتنه وکړه چي هغه سړی تاسو ته د کومي خبري حکم درکوي ؟ ما ورته وويل هغه موږ ته وايي چي لمونځ کوئ ، زکوة ورکوئ ، صله رحمي کوئ او د خپلوانو سره مينه او ښه چلن کوئ او حرامو څخه ځان وساتئ ، هرقل وويل که ستا بيان صحيح وي نو يقينا هغه سړی نبي دی او زه

په دې پوهيدم چي يو نبي پيدا کيدونکی دی مگر زه په دې نه پوهيدم چي هغه به ستاسو په قوم کي پيدا کيږي که زه هغه ته رسيدلای سوای نو هغه مي به ليدلی وای او د هغه سره به مي ملاقات ډير خوښ سوی وای او زه به د هغه په خدمت کي حاضر سوای وای او د هغه پښې مبارکي به مي په خپلو لاسونو سره پريولي وای او زه تاسو ته ښيم چي دهغه حکومت به دغه مځکي ته رارسيږي کومه چي نن زما تر قدم لاندې ده ، بيا هرقل د رسول الله ﷺ مبارك ليکل وغوښتی او هغه يې روايه . بخاري او مسلم ، او دا پوره حديث مځکي هم په باب الکتاب الی الکفار کي تير سوی دی.

# بَابُ فِي الْمِعْرَاجِ (دمعراج بيان)

## لومړی فصل

### د رسول الله ﷺ د معراج سفر

(۵۶۱۲): عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ بَيْنَمَا أَنَا فِي الْحَطِيمِ وَرُبَّمَا قَالَ فِي الْحِجْرِ مُضْطَجِعًا إِذْ أَتَانِي آتٍ فَشَقَّ مَا بَيْنَ هَذِهِ إِلَى هَذِهِ يَعْنِي مِنْ ثُغْرَةِ نَحْرِهِ إِلَى شِعْرَتِهِ فَاسْتَخْرَجَ قَلْبِي ثُمَّ أُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مَمْلُوءَةٍ إِيمَانًا فَغُسِلَ قَلْبِي ثُمَّ حُشِيَ ثُمَّ أُعِيدَ وفي رواية ثم غسل البطن بماء زمزم ثم ملئ ايمانا و حكمة ثُمَّ أُتِيتُ بِدَابَّةٍ دُونَ الْبَغْلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ أَبْيَضَ فَقَالَ لَهُ الْبُرَاقُ يَضَعُ خَطْوَهُ عِنْدَ أَقْصَى طَرْفِهِ فَحُمِلْتُ عَلَيْهِ فَانْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفَتَحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا فِيهَا آدَمُ فَقَالَ هَذَا أَبُوكَ آدَمُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ

د حضرت قتاده ؓ څخه روايت دی چي ما ته انس بن مالك ؓ بيان وکړ او انس ؓ وايي هغه ته مالك بن صعصعه ؓ بيان وکړ چي نبي کريم ﷺ د معراج د شپې حال صحابه کرامو ته بيان کړ چي په هغه کي رسول الله ﷺ (آسمان ته ) بيول سوی وو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه په حطيم يا حجر (کعبه) کي پر بغل پروت وم چي يوه ملائکه ما ته راغلل او ددې ځای څخه تر دې ځايه پوري يې زما سينه څيري کړل. مالك ؓ وايي رسول الله ﷺ د سيني د اوږې څخه تر نامه پوري اشاره کولو سره وفرمايل چي ددې ځايه څخه تر دې ځايه پوري يې زما سينه څيري کړل او بيا يې زما زړه راوکښی ، هغه يې د سرو زرو په يو تالۍ کي کښېښود چي د ايمان څخه ډك وو او په هغه کي يې زما زړه پريولی ، بيا زما زړه د الله ﷻ د محبت څخه ډك کړل سو او بيا زړه په سينه کي کښېښودل سو، او په يوه روايت

عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفَتَحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يَحْيَى وَعِيسَى وَهُمَا ابْنَا الْخَالَةِ قَالَ هَذَا يَحْيَى و هذا عِيسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِمَا فَسَلَّمْتُ فَرَدَّا ثُمَّ قَالَا مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يُوسُفُ قَالَ هَذَا يُوسُفُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ أَوَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فاذا إِدْرِيسُ فَقَالَ هَذَا إِدْرِيسُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الْخَامِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا هَارُونُ قَالَ هَذَا هَارُونُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّادِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ

كي دا الفاظ دي چي زما نس د زمزم په اوبو سره پريولل سو بيا د ايمان او حكمت څخه ډك كړل سو ، بيا د سپرلۍ يو حيوان راوستل سو چي د غاتري څخه كوچنى او تر خره لوړ وو، دا حيوان سپين وو ددې نوم بُراق وو، (يعني د بريښنا په ډول ځغستونكى)، د هغه يو قدم د نظر تر حده پوري رسيدى بيا زه پر هغه سپور كړل سوم ، جبرائيل عليه السلام زه بوتلم، تر دې چي زه د دنيا آسمان ته ورسيدم ، جبرائيل عليه السلام د دروازې خلاصولو طلب وكړ، پوښتنه وسول څوك يې ؟ جبرائيل عليه السلام وويل : زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوك دى؟ ورته يې وويل : محمد ﷺ دى، بيا پوښتنه وسول ايا دى راغوښتل سوى دى.؟ هغه ورته وويل :هو، ملائكو ورته وويل : محمد ﷺ ته دې ښه راغلاست وي، دده راتلل دې مبارك وي ، ددې څخه وروسته د آسمان دروازه خلاصه سوه، (رسول الله ﷺ فرمايي) كله چي زه په آسمان كي داخل سوم نو ما حضرت آدم عليه السلام وليدى ، جبرائيل عليه السلام راته وويل دا ستا پلار حضرت آدم عليه السلام دى، ده ته سلام وكړه، ما ورته سلام وكړ ، آدم عليه السلام د سلام جواب راكړ او وه يې فرمايل : اې نيك بخته زويه او صالحه نبيه هر كله راسې ، ددې څخه وروسته زه حضرت جبرائيل عليه السلام پورته بوتلم ، دويم آسمان ته راغلو او د هغه د خلاصولو غوښتنه يې

مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَرْحَبًا بِهٖ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا مُوسَى قَالَ هَذَا مُوسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ فَلَمَّا جَاوَزْتُ بَكَى قِيلَ لَهُ مَا يُبْكِيكَ قَالَ أَبْكِي لِأَنَّ غُلَامًا بُعِثَ بَعْدِي يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهٖ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِي ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَرْحَبًا بِهٖ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ هَذَا أَبُوكَ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ قَالَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْاِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ رُفِعَتْ إِلَيَّ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى فَإِذَا نَبْقُهَا مِثْلُ قِلَالِ هَجَرَ وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الْفِيَلَةِ قَالَ هَذِهٖ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى وَإِذَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ نَهْرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ فَقُلْتُ مَا هَذَانِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ أَمَّا الْبَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالْفُرَاتُ ثُمَّ رُفِعَ لِي الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ قَالَ هِيَ الْفِطْرَةُ أَنْتَ عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَوَاتُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ بِمَا أُمِرْتَ قَالَ أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّي وَاللّٰهِ قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ

وكړه، پوښتنه وسول شوك دى؟ جبرائيل عليه السلام وويل زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسوه ستا سره څوك دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل : محمد ﷺ دى، پوښتنه وسول ايا دى راغوښتل سوى دى؟ جبرائيل عليه السلام وويل :هو، ملائكي وويل محمد ﷺ دي په خير راسي ، د راتلونكي راتلل دي مبارك وي، ددې څخه وروسته «د دويم آسمان» دروازه خلاصه سوه او زه دويم آسمان ته ورسيدم نو وينم چي يحيى عليه السلام او عيسى عليه السلام ولاړ دي چي يو بل د خاله زامن وه ، جبرائيل عليه السلام وويل : دا يحيى عليه السلام او دا عيسى عليه السلام دى دوئ ته سلام وكړه، ما سلام ادا كړ او دواړو د سلام جواب راكړ، او وه يې ويل : زموږ نيك بخته ورور او صالح نبي[1] ستا راتلل دي مبارك وي، ددې څخه وروسته زه جبرائيل عليه السلام پورته بوتلم يعني د دريم آسمان په لور، او د هغه دروازې رسيدو سره يې د هغه د خلاصولو طلب وكړ، پوښتنه وسول څوك يې ؟ جبرائيل عليه السلام وويل زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوك دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل : محمد ﷺ دى ، «د دريم آسمان ملائكو وويل: ايا دى را غوښتل سوى دى ، وويل سوه هو، وه يې ويل : محمد ﷺ دي په خير راسي او د ده راتلل دي مبارك وي، ددې ويلو سره دروازه خلاصه سوه زه دريم آسمان ته ورسيدم وه مي ليدل چي

الْمُعَالَجَةَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ فَرَجَعْتُ فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ بِمَ أُمِرْتَ قُلْتُ أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ قَالَ سَأَلْتُ رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ قَالَ فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادَى مُنَادٍ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي. متفق عليه.

حضرت يوسف عليه السلام ولاړ دی ، جبرائيل عليه السلام وويل : دا يوسف عليه السلام دی ده ته سلام وكړه، ما ورته سلام ادا كړ او حضرت يوسف عليه السلام د سلام جواب راكړ، او وه يې فرمايل اې نيك بخته وروره او صالحه نبي ! په خير راغلې، بيا جبرائيل عليه السلام زه پورته بوتلم د څلورم آسمان دروازې ته په رسيدو سره يې د هغه د خلاصولو طلب وكړ، پوښتنه وسوه څوك دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوك دی؟جبرائيل عليه السلام وويل : محمد ﷺ دی، پوښتنه وسول ايا دی راغوښتل سوی دی؟ جبرائيل عليه السلام وويل :هو، «د څلورم آسمان ملائكو وويل د محمد ﷺ راتلل دې مبارك وي غوره راتلونكی دی، بيا دروازه خلاصه سوه ، او زه څلورم آسمان ته داخل سوم وينم چې ادريس عليه السلام هلته ولاړ دی ، جبرائيل عليه السلام وويل دا ادريس عليه السلام دی ده ته سلام ادا كړه، ما سلام ورته ادا كړه او هغه د سلام جواب راكړ، او وه يې فرمايل : اې خوش نصيبه وروره! او صالحه نبي! په خير راغلې ، بيا جبرائيل عليه السلام زه د پنځم آسمان په لور بوتلم، دروازې ته چې ورسيدو د دروازې د خلاصولو لپاره طلب وكړ، پوښتنه وسول : څوك دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل : زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوك دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل : محمد ﷺ دی، پوښتنه وسول ايا دی راغوښتل سوی دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل:هو، ملائكو وويل محمد ﷺ دې هر كله راسي غوره راتلونكی دی ددې څخه وروسته دروازه خلاصه كړل سوه او موږ پنځم آسمان ته ورسيدو هلته هارون عليه السلام ولاړ وو ، جبرائيل عليه السلام وويل دا هارون عليه السلام دی ده ته سلام وكړه ، ما سلام ادا كړ او هغه د سلام جواب راكړ او وه يې فرمايل اې خوش نصيبه وروره او صالح نبي ! ستا راتلل دې مبارك وي، بيا جبرائيل عليه السلام زه د شپږم آسمان په لور بوتلم، هلته په

رسيدو سره د دروازې خلاصولو غوښتنه يې وكړه ، پوښتنه وسول څوك دى ؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل زه جبرائيل يم ، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوك دى ؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل محمد ﷺ دى ، پوښتنه وسول ايا دى راغوښتل سوى دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل :هو، ملائكو وويل دده راتلل دي مبارك وي څه ښه راتلونكىدى، ددې څخه وروسته دروازه خلاصه سوه او شپږم آسمان ته ورسيدو هلته وينم چې موسى عليه السلام ولاړ دى ، جبرائيل عليه السلام وويل دا موسى عليه السلام دى ده ته سلام وكړه ، ما ورته سلام وكړ او هغه د سلام جواب راكولو سره وفرمايل خوش نصيبه ورور او صالح نبي دي په خير راسې ، زه د هغه څخه مخ ته تير سوم نو موسى عليه السلام په ژړا سو ، پوښتنه خيني وسول : ولې ژاړې؟ موسى عليه السلام وويل : يو زلمى هلك زما څخه وروسته راوليږل سو او د هغه د امت خلك به زما د امت د خلكو څخه زيات په جنت كي داخل سي، بيا جبرائيل عليه السلام زه د اووم آسمان په لور بوتلم، هلته د دروازې خلاصولوطلب وكړ، پوښتنه وسول : څوك دى؟ جبرائيل عليه السلام وويل : زه جبرائيل يم، پوښتنه وسول ستا سره څوك دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل محمد ﷺ دى، بيا پوښتنه وسول ايا دى رابلل سوى دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل هو، «د اووم آسمان ملائكو» وويل : محمد ﷺ ته دې هركلى وي، ښه راتلونكى راغلى، ددې څخه وروسته دروازه خلاصه سوه، نو ما وليدل چې حضرت ابراهيم عليه السلام ولاړ دى، جبرائيل عليه السلام راته وويل دا ستا پلار حضرت ابراهيم عليه السلام ولاړ دى ، سلام ورته وكړه ما هغه ته سلام وكړ او هغه د سلام جواب راكړ او وه يې فرمايل: اې نيك بخته زويه او صالح نبي ستا راتلل دې مبارك وي ، بيا زه سدرة المنتهى ته بوتلل سوم، ما وليدل چې د سدرة المنتهى ميوې د مقام هجر د منگيانو په اندازه دي، او ددې بلگونه د فيلانو د غوږونو برابر دي، جبرائيل عليه السلام راته وويل دا سدرة المنتهى ده، ماوليدل چې هلته يو څو ويالې دي، دوې ويالې پټې او دوې ويالې ښكاره دي، ما د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وكړه دا دوه ډوله ويالې څنگه دي؟ جبرائيل عليه السلام وويل : دا دوې ويالې چې پټې دي د جنت ويالې دي «يعني كوثر او سلسبيل» او دا ښكاره چې دي نيل او فرات دي، ددې څخه وروسته ما ته بيت المعمور وښودل سو «بيت المعمور د كعبې شريفې سربېره په اووم آسمان كې د يو مسجد نوم دى»، بيا ما ته يو لوښى د شرابو او يو لوښى د شيدو او يو د شاتو راوړل سول ، په هغو كې ما دشيدو لوښى واخيست، جبرائيل عليه السلام وويل شيدې فطرت دي يعني هغه فطرت چې پر هغه به ته او ستا امت قائم دى، «ددې څخه مراد اسلام دى» ددې څخه وروسته پر ما لمونځ فرض سو، يعني په شپه او ورځ كي پنځوس لمنځونه راباندې فرض

سول، بیا زه را روان سوم ، د موسی علیه السلام سره تېر سوم ، موسی علیه السلام راڅخه پوښتنه وکړه تا ته څه حکم درکړل سو ، ما وویل په شپه او ورځ کي د پنځوسو لمنځونو حکم راکړل سو ، موسی علیه السلام راته وویل ستا امت په شپه او ورځ کي د پنځوسو لمنځونو ادا کولو قوت نه لري ، قسم په خدای ما ستا څخه مخکي خلك (بني اسرائیل) ازمویلي دي هغوئ اصلاح قبوله نه کړلای سول، ته خپل پروردگار ته بیرته ولاړ سه او د خپل امت لپاره په لمنځو کي کمي وغواړه، زه د الله ﷻ په دربار کي حاضر سوم نو لس لمنځونه کم کړل سول، زه بیا موسی علیه السلام ته راغلم هغه راته بیا هم هغسي وویل ، زه بیا د الله ﷻ په دربار کي حاضر سوم نو لس لمنځونه نور کم کړل سول، بیا موسی علیه السلام ته راغلم هغه بیا راته هم هغسي وویل زه بیا (په دریم ځل) په دربار الهي کي حاضر سوم او لس لمنځونه نور کم کړل سول ، زه بیا موسی علیه السلام ته ورغلم نو هغه را ته بیا هم هغسي وویل ، زه بیا (په څلورم وار) د رب العزت په دربار کي حاضر سوم نو لس منځونه نور کم کړل سول ، بیا موسی علیه السلام ته راغلم هغه بیا هم هغه راته وویل ، زه بیا د الله ﷻ په دربار کي (پنځم وار) حاضر سوم نو لس لمنځونه په شپه او ورځ کي پاته سول، زه بیا موسی علیه السلام ته ورغلم نو هغه بیا هم هغسي راته وویل، زه بیا ولاړم او د رب العزت په دربار کي حاضر سوم نو په شپه او ورځ کي د پنځو لمنځو حکم وسو، زه موسی علیه السلام ته راغلم هغه راته بیا هم هغسي وویل، ما ورته وویل اوس ما ته په شپه او ورځ کي د پنځو لمنځونو حکم سوی دی ، موسی علیه السلام راته وویل ستا امت به په شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه هم ادا نه کړلای سي، ما ته پر مخکنیو خلکو تجربه تر لاسه ده، او بني اسرائیل مي پوره ازمویلي دي، ته خپل پروردگار ته ورسه او نوره کمي وغواړه، ما ورته وویل ما په څو څو واره خپل پروردگار ته د کمۍ سوال کړی دی اوس ما ته حیا راځي ، زه په دغه (پنځو لمنځو) راضي یم، هر کله چي راتیر سوم نو یو آواز کونکي اواز وکړ چي ما خپل فرض جاري کړل او پر خپلو بندگانو باندي مي اسانتیا وکړه، (یعني په پنځوسو لمنځو کي‌ېمي کمي وکړه مگر هغوئ ته به ثواب د پنځوسو لمنځو رسیږي). بخاري او مسلم

### اسراء او د معراج ذکر

(۵۶۱۳): وَعَنْ ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ يَقَعُ حَافِرُهُ عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهِ فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ

د حضرت ثابت بناني ﷺ څخه روایت دی چي انس ﷺ روایت وکړ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته براق راوستل سو دا دسپین رنگ یو حیوان وو، چي تر خره لوړ او تر غاتري کښته

الْمَقْدِسِ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهَا الْأَنْبِيَاءُ قَالَ ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ وساق مثل معناه قال فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ وقال فِي السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ولم يذكر بكاء موسى صلى الله عليه وسلم وقال في السماء السابعة فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَإِذَا هُوَ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ قَالَ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللّٰهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا فَأَوْحَى إِلَيَّ مَا أَوْحَى فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي فَقُلْتُ يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقُلْتُ حَطَّ عَنِّي خَمْسًا قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ قَالَ

وو، د هغه قدم د نظر تر حده پوري پورته كيدى زه پر هغه سپور سوم او بيت المقدس ته راغلم او ما براق پر هغه حلقه وترى چي د هغه سره به انبياؤو براقونه ترل، بيا زه په مسجد اقصىٰ كي داخل سوم دوه ركعته لمونځ مي وكړ بيا زه د مسجد څخه دباندي راووتم او جبرائيل عليه السلام ما ته يوه پياله د شرابو او يوه پياله د شيدو راوړل، ما د شيدو پياله واخيستل، جبرائيل عليه السلام وويل تا فطرت (يعني دين اسلام) اختيار كړ او بيا جبرائيل عليه السلام زه د آسمان په لور بوتلم ددې څخه وروسته انس ﷺ د تير سنوي حديث هم معنا حديث بيان كړ او بيا يې وفرمايل: رسول الله ﷺ وفرمايل: ما آدم عليه السلام وليدى هغه ما ته وويل هر كله راسې او وه يې ويل زما لپاره دعاء وكړه ، او د دريم آسمان حال بيانولو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: چي هلته ما ته يوسف عليه السلام په نظر راغلى چي هغه ته الله تعالى د دنيا نيم حسن وركړى دى، هغه راته هم مرحبا وويل او زما لپاره يې د خير دعاء وكړل، انس ﷺ په دې لړى كي د حضرت موسى عليه السلام د ژړا ذكر ونه كړ ، د اووم آسمان په اره رسول الله ﷺ وفرمايل: ناڅاپه هلته د حضرت ابراهيم عليه السلام سره يو ځاى سوم چي خپله ملا يې د بيت المعمور سره لګولې وه، په بيت المعمور كي هره ورځ اويا زره ملائكي داخليږي او كومي ملائكي چي يو وار داخلې سي هغوئ ته دويم وار

فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَبَيْنَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام حَتَّى قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ له شَيْئًا فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً قَالَ فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ. رواه مسلم.

دداخليدو موقع نه سي وركول كيدلاى ، بيا زه سدرة المنتهى ته بوتلل سوم ددغه درختي پاني د فيل د غوږونو برابر دي او ددې ميوې د منگيانو برابري دي، سدرة المنتهى د الله ﷻ په حكم هغه شى پټ كړى دى څه سره چي الله تعالى د هغه پټول مناسب وگڼل چي د هغه علم الله تعالى ته دى. ددې څخه وروسته د سدرة المنتهى حالت بدل سو او اوس هيڅوك د الله تعالى د مخلوقاتو څخه د هغه ښكلا نه سي بيانولاى ، بيا الله تعالى ما ته وحي راوليږل ، بيا پر ما پنځوس لمنځونه فرض سول ، (يعني په شپه او ورځ كي) زه را كښته سوم او موسى عليه السلام ته راغلم ، هغه را څخه پوښتنه وكړه ستا پروردگار ستا پر امت څه فرض كړل، ما ورته وويل په شپه او ورځ كي پنځوس لمنځونه، موسى عليه السلام وويل خپل پروردگار ته ولاړ سه او د تخفيف خواست وكړه ځكه چي ستا امت دومره طاقت نه لري ، ما بني اسرائيل ازمويلي دي او د هغوئ امتحان مي اخيستى دى ، زه بيرته ولاړم او عرض مي وكړ اې پروردگاره ! زما پر امت اساني وكړې او په لمنځونو كي كمي راكړې ، نو الله تعالى پنځه لمنځونه كم كړل ، موسى عليه السلام راته وويل ستا امت دومره طاقت نه لري ته بيا خپل پروردگار ته ورسه او كمي وغواړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي زه د خپل پروردگار او موسى عليه السلام په منځ كي تلم راتلم او دكمي لړۍ جاري وه تر دې چي الله تعالى وفرمايل : اې محمد ! دا پنځه لمنځونه په شپه او ورځ كي فرض سوي دي او په دې كي د هره لمانځه ثواب د لسو لمنځو برابر دى، داسي دا پنځه لمنځونه په ثواب كي د پنځوسو لمنځونو برابر دي، چا چي دنيكي اراده وكړه او د يو عذر په سبب يې هغه ونه كړلاى سوه نو د هغه په حساب كي يوازي په ارادې سره يوه نيكي ليكل كيږي او هر كله چي هغه نيكي وكړي نو د هغه په حساب كي لس نيكۍ ليكل كيږي ، او څوك چي د خراب كار اراده وكړي او هغه ونه كړلاى سي يا وه يې نه كړي نو هيڅ يې نه ليكل كيږي ، او كه هغه خراب كار وكړي نو يوازي يوه بدي د هغه په حساب كي ليكل كيږي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د ربّ العزت د دربار څخه راكښته سوم او حضرت موسى عليه السلام ته راورسيدم

او هغه مي حقیقت څخه خبر کړ هغه بیا هم هغه مشوره راکړه چي خپل پروردګار ته ورسه او دکمي خواست ورته وکړه، رسول الله ﷺ وفرمایل : ما حضرت موسی علیه السلام ته وویل : زه په څو څو واره د الله ﷻ په دربار کي حاضر سوم اوس خو هلته د ورتلو څخه ما ته حیا راځي . مسلم.

**د معراج ذکر**

(۵۶۱۳): وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ

حضرت ابن شهاب ؓ د حضرت انس ؓ څخه روایت کوي چي ابوذر ؓ بیان وکړ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه په مکه کي وم چي زما د سرای بام خلاص کړل سو او د هغه څخه جبرائیل علیه السلام راکښته سو هغه زما سینه څیري کړل او د زمزم په اوبو سره یې پریولل. بیا د سرو زرو یو تالی راوړل سول چي د حکمت او ایمان څخه ډکه وه هغه زما په سینه کي دننه توی کړل سو ، بیا زما سینه خپل ځای ته وروسته سوه، بیا جبرائیل علیه السلام زما لاس ونیوی زه یې د آسمان په لور بوتلم ددنیا آسمان ته چي راورسیدو ، جبرائیل علیه السلام د آسمان ساتونکی ته وویل دروازه خلاصه کړه ساتونکی پوښتنه وکړه څوک یې ؟ جبرائیل علیه السلام وویل زه جبرائیل یم ، ساتونکی بیا پوښتنه وکړه بل څوک هم درسره سته؟ جبرائیل علیه السلام وویل هو زما سره محمد ﷺ دی، ساتونکي بیا پوښتنه وکړه ایا دی رابلل سوی دی ، جبرائیل علیه السلام وویل هو، کله چي دروازه خلاصه سوه نو موږ د دنیا آسمان ته ورسیدو ، ناځاپه پر یو سړي مي نظر ولویدی چي هلته ناست وو او د هغه راسته خوا ته تور شیان دي او چپه خوا ته یې هم تور شیان دي

عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمٰوَاتِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذٰلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللّٰهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ فَرَاجَعْتُهُ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. متفق علیه.

هغه چي پر راسته خوا وکتل نو وه به یې خندل او چي چپه خوا ته به یې وکتل نو وه به یې ژړل ، هغه راته وویل اې صالحه نبي او نیك بخته زویه : هر کله راسې ، ما د جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه دا څوك دی ؟ هغه راته وویل دا آدم علیه السلام دی او دا راسته او چپه خوا ته چي دا تور تور شیان دي دده د اولاد روحونه دي ، په دوئ کي چي کوم خلك راسته خواته دي هغه جنتیان دي او دا تور کوم چي چپه خوا ته ناست دي هغه دوزخیان دي ، آدم علیه السلام چي راسته خوا ته وګوري نو خوشحاله سي او وخاندي او کله چي چپه خوا ته وګوري نو خفه سي او په ژړا سي ، بیا جبرائیل علیه السلام زه دویم آسمان ته بوتلم او د هغه ساتونکي ته یې وویل دروازه خلاصه کړه، ساتونکي هم هغه پوښتني څیني وکړې، د انس ﷺ بیان دی چي رسول الله ﷺ په آسمانونو کي آدم، ادریس، موسی، عیسی او ابراهیم علیهم السلام سره د ملاقات کولو ذکر وکړ، مګر د هغوئ د مقاماتو او منازلو کیفیت یې بیان نه کړ ، یوازي د آدم سره په لومړني آسمان کي د یو ځای کیدو ذکر یې وکړ، او په آسمان کي یې د حضرت ابراهیم علیه السلام لیدل ظاهر کړل ، ابن شهاب ﷺ وایي ما ته ابن حزم ﷺ ښودلي دي چي ابن عباس ﷺ او ابو حبه انصاري ﷺ ویل چي نبي کریم ﷺ وفرمایل : زه وخېژول سوم تر دې چي زه یو هوار او لوړ ځای ته ورسیدم هلته د قلمونو د لیکلو اوازونه راتلل ، ابن حزم او انس وایي نبي کریم ﷺ وفرمایل : بیا الله تعالی زما پر امت پنځوس لمنځونه فرض کړل او زه د هغه لمنځونو د حکم سره د الله ﷺ د دربار څخه راوګرزېدم او پر موسی علیه السلام تیر سوم ، هغه پوښتنه وکړه ستا په ذریعه

الله تعالی ستا پر امت څه فرض کړل، ما ورته وویل پنځوس لمنځونه یې فرض کړل، موسی علیه السلام راته وویل خپل پروردګار ته بیرته ولاړ سه ستا امت دومره طاقت نه لري چې پنځوس لمنځونه ادا کړي ، زه د الله ﷺ په دربار کې حاضر سوم او په هغه کې د څو لمنځو کمي وکړل سول . بیا زه موسی علیه السلام ته راغلم ورته وه مې ویل د هغه یو څه برخه معاف کړل سوه ، موسی علیه السلام راته وویل بیا خپل پروردګار ته ولاړ سه ستا د امت دومره توان نسته چې دا هم ادا کړلای سي ، بیا ولاړم او یو څو نور لمنځونه راته معاف کړل سول ، ددې څخه وروسته بیا موسی علیه السلام ته راغلم هغه راته وویل بیا خپل رب ته ورسه ستا امت ددومره طاقت هم نه لري . زه بیا ولاړم نو الله تعالی وفرمایل پنځه لمنځونه فرض سوي دي چې په ثواب کې د پنځوسو لمنځونو برابر دي او زما قول نه بدلیږي یعني زه به د پنځوسو لمنځونو ثواب درکوم، که څه هم چې د هغه په شمیر کې کمي سوې ده. ددې څخه وروسته زه موسی علیه السلام ته راغلم هغه بیا زما لیږل غوښتل خو ما ورته وویل اوس ما ته د خپل پروردګار څخه حیا راځي. ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : زه سدرة المنتهی ته ورسول سوم پر هغه چې څه رنګونه وه زه یې نه سم ویلای چې هغه څه شي وه، بیا زه په جنت کې داخل کړل سوم په هغه کې ما د ملغلرو ګنبدي ولیدلې او د جنت خاوره د مشک وه. بخاري او مسلم.

**سدرة المنتهی**

(٥٦١٥): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتُهِيَ بِهِ إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَهِيَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ إِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُعْرَجُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ فَيُقْبَضُ مِنْهَا وَإِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُهْبَطُ بِهِ مِنْ فَوْقِهَا فَيُقْبَضُ مِنْهَا قَالَ إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى قَالَ فَرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ فَأُعْطِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا أُعْطِيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَأُعْطِيَ خَوَاتِيمَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَغُفِرَ لِمَنْ لَمْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ مِنْ أُمَّتِهِ شَيْئًا الْمُقْحِمَاتُ .رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې کله رسول الله ﷺ د شپې بوتلل سو نو سدرة المنتهی ته ورسول سو او سدرة المنتهی په شپږم آسمان کې ده او د مځکې څخه چې کوم شی پورته ویوړل سي هغه تر دې سدرة المنتهی پورې رسیږي او ددې ځای څخه هغه بلاواسطه پورته ورل کیږي او که یو شی د لوړه څخه راکښته کیږي نو هم دغه درختي ته راورسیږي، ددې څخه وروسته ابن مسعود دا آیت تلاوت کړ : (اذ یغش السدرة ........) هغه وخت چې پټه کړه سدره لره کوم شی چې پټه کړه، او ویلي دي رسول الله ﷺ هغه شی چې سدرة المنتهی یې پټه کړې ده د سروزرو پتنګان دي ، ددې څخه

وروسته ابن مسعود بیان وکړ چي د معراج په شپه رسول الله ﷺ ته درې شیان ورکړل سول : پنځه لمنځونه، د سورة بقرې آخري ایاتونه ورکړل سول، او د امت محمدي لوی گناهونه معاف کړل سول . مسلم.

**د قریشو پر سوال باندې بیت المقدس د رسول الله ﷺ مخته راوستل سو**

(۵۶۱۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ فَسَأَلَتْنِي عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا فَكُرِبْتُ كُرْبَةً مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ فَرَفَعَهُ اللَّهُ لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ مَا يَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَإِذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ فَحَانَتْ الصَّلَاةُ فَأَمَمْتُهُمْ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلَاةِ قَالَ قَائِلٌ يَا مُحَمَّدُ هَذَا مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَامِ .رواه مسلم.و هذا الباب خال عن الفصل الثاني.

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما خپل ځان په حجر (حطیم) کي ولیدی په داسي حال کي چي زه ولاړ یم او قریشو زما څخه شب معراج ته زما دتلو حال وغوښتی هغوئ زما څخه د بیت المقدس شیان او نښو پوښتني کولې چي ما ته یاد نه وه ، ددې سره زه ډیر غمگین او پریشانه سوم چي دومره غمگین او پریشانه هیڅکله نه وم سوی نو الله تعالی بیت المقدس پورته کړ او هغه زما مخته راغلی ما هغه ته کتل او هغوئ چي زما څخه کومي پوښتني کولې د هغو جواب به مي ورکوی او ما خپل ځان په شب معراج کي د انبیاؤو په ډله کي ولیدی ما ناڅاپه ولیدل چي موسی علیه السلام ولاړ دی لمونځ کوي ما ولیدل چي موسی علیه السلام د یو متوسط قد سړی دی غونډ بدن ولول وریښتان لکه د قبیله شنوء یو سړی دی ، ناڅاپه زما نظر پر عیسی علیه السلام پریوتی چي ولاړ وو لمونځ یې کوی په شکل او صورت کي د هغه سره زیات مشابه عروه بن مسعود ثقفي دی ، بیا ما ناڅاپه ابراهیم علیه السلام پر لمانځه ولیدی چي د هغه سره ستاسو دوست (یعني خپله رسول الله ﷺ) زیات مشابه دی بیا دلمانځه وخت سو او زه د هغوئ ټولو امام جوړ سوم کوم وخت چي ما لمونځ ورکړ نو یو سړي ما ته وویل اې محمد ﷺ! دا د دوږخ ساتونکی موجود دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته وکتل نو هغه را باندې په سلام کي مخکي سو. مسلم.

په دې باب کې دويم فصل نشته

## دريم فصل

بيت المقدس د رسول الله مخته راوستل سو

| | |
|---|---|
| (٥٦١٧): عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَمَّا كَذَّبَتْنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَّا اللّٰهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ. متفق عليه. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي هر كله چې قريشو د معراج په اړه زه دروا‌غجن وبللم نو زه په مقام حجر کې ودريدم او الله تعالى بيت |

المقدس زما نظر ته مخامخ کړ ما بيت المقدس ته کتل او هغوئ ته به مې جواب ورکوی بخاري او مسلم

## بَابُ فِي الْمُعْجِزَاتِ (د معجزو بيان)

## لومړی فصل

د ثور د غار واقعه

| | |
|---|---|
| (٥٦١٨): عَنْ أَنَسِ ابنِ مَالِكٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصديق قَالَ نظرت الى اقدام المشركين على رؤسنا ونحن في الغار فقلت يا رسول الله لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ الى قَدَمَهِ أَبْصَرَنَا فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا. متفق عليه. | د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چې ابوبكر صديق ﷺ د هجرت پېښه بيانولو سره په غار کې د پټيدو حال بيان کړ او وه يې ويل : ما زموږ د سرونو لوړي خوا ته وکتل نو ما ته د مشركانو قدمونه معلوميدل ، ما عرض وکړ اې |

د الله رسوله ! که په دوئ کې د يوه قدم هم پر خپلو قدمونو پريوتی نو موږ به وويني ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوبكر! ستا خيال د هغه دوو خلكو په نسبت څه دی چې د هغوئ دريم ملګری الله تعالى وي. بخاري او مسلم.

د هجرات په دوران کې د معجزې ظهور

| | |
|---|---|
| (٥٦١٩): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ لابي بكر يَا أَبَا بَكْرٍ حَدِّثْنِي كَيْفَ صَنَعْتُمَا حِينَ سَرَيْتَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ | حضرت براء بن عازب ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چې هغه ابوبكر صديق ﷺ ته وويل اې ابوبكر ! ته چې د شپې د رسول الله ﷺ سره د مكې څخه مدينې ته په هجرت تللی وې نو تا |

أَسْرَيْنَا لَيْلَتَنَا وَمِنَ الْغَدِ حَتَّى قَامَ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ وَخَلَا الطَّرِيقُ لَا يَمُرُّ فِيهِ أَحَدٌ فَرُفِعَتْ لَنَا صَخْرَةٌ طَوِيلَةٌ لَهَا ظِلٌّ لَمْ تَأْتِ عَلَيْهِ الشَّمْسُ فَنَزَلْنَا عِنْدَهُ وَسَوَّيْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَانًا بِيَدِي يَنَامُ عَلَيْهِ وَبَسَطْتُ فِيهِ فَرْوَةً وَقُلْتُ نَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَأَنَا أَنْفُضُ لَكَ مَا حَوْلَكَ فَنَامَ وَخَرَجْتُ أَنْفُضُ مَا حَوْلَهُ فَإِذَا أَنَا بِرَاعٍ مُقْبِلٍ قُلْتُ أَفِي غَنَمِكَ لَبَنٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ أَفَتَحْلُبُ قَالَ نَعَمْ فَأَخَذَ شَاةً فَحَلَبَ فِي قَعْبٍ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ وَمَعِي إِدَاوَةٌ حَمَلْتُهَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْتَوِي مِنْهَا يَشْرَبُ وَيَتَوَضَّأُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُ فَوَافَقْتُهُ حتى اسْتَيْقَظَ فَصَبَبْتُ مِنَ الْمَاءِ عَلَى اللَّبَنِ حَتَّى بَرَدَ أَسْفَلُهُ فَقُلْتُ اشْرَبْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ ثُمَّ قَالَ أَلَمْ يَأْنِ لِلرَّحِيلِ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا مَالَتِ الشَّمْسُ وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ فَقُلْتُ أُتِينَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا فِي جَلَدٍ مِنَ الْأَرْضِ فَقَالَ إِنِّي أَرَاكُمَا دَعَوْتُمَا عَلَيَّ فَادْعُوَا لِي فَاللّٰهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَجَا فَجَعَلَ لَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ كَفَيْتُمْ مَا هُنَا فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ . متفق عليه.

څه وکړل؟ ابوبکر ؓ وویل: «د غار څخه په وتلو سره» موږ توله شپه روان وو، په دویمه ورځ هم تر نیمې ورځې پورې مو سفر وکړ چې غرمه سوه او لمر ودریدی او لار خالي سوه هیڅوك نه تېریدی نو موږ ته یوه ډېره معلومه سوه چې ډېره اوږده وه او تر هغې لاندې سایه وه او لمر پر هغې نه وو راغلی، موږ د هغې په سایه کې کښېنستلو او ما د رسول الله ﷺ لپاره په خپلو لاسونو سره یو ځای پاك او هوار کړ چې رسول الله ﷺ پر بیده سي، بیا ما پوستین اوار کړ او عرض مې وکړ اې دالله رسوله! تاسو بیده سئ او زه به آخوا دیخوا گورم، او ستاسو ساتنه به کوم، نو دی بیده سو او زه راووتم چې دده چوکیداري مې کول ناڅاپه ما یو شپون ولیدی چې را روان وو، ما د هغه څخه پوښتنه وکړه ایا ستا په میږو کې شیدې سته؟ هغه وویل هو سته، ما ورته وویل ایا ته شیدې لوېشې، هغه وویل هو، ددې ویلو سره هغه یوه میږه راونیول او دلرگي په پیاله کې یې لږ شیدې ولوېشلې، زما سره یو پتك وو چې ما د رسول الله ﷺ لپاره د اوبو څخه ډك کړی وو چې رسول الله ﷺ به څښنلې هم او اودس به یې هم په کوی، زه چې بیرته راغلم نو رسول الله ﷺ بیده سوی وو، ما راویښول مناسب ونه گڼل او خپل هم بیده سوم تر دې چې رسول الله ﷺ خپله راویښ سو ما په شیدو کې لږ اوبه گډې کړې او هغه شیدې یخې سوې، بیا مې عرض وکړ اې دالله رسوله! شیدې وڅښئ، رسول الله ﷺ شیدې وڅښنلې او زه ډېر خوشحاله سوم، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: د سفر وخت نه دی راغلی؟ ما عرض وکړ هو وخت

سو، ابوبکر ﷺ وايي موږ روان سوو او زموږ په پيدا کولو پسي سراقه بن مالك راغلی چي دمکي کافر انو د رسول الله ﷺ په پيدا کولو پسي راليږلی وو او سل اوښان يې ورته په انعام کي ټاکلي وه، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! دښمن راورسيدی، رسول الله ﷺ وفرمايل: غم مه کوه الله ﷺ زموږ سره دی ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د سراقه لپاره ښیرا وکړه او سراقه او اوښ يې تر نس پوري په مځکه کي کښېنسته ولاړل، سراقه وويل زه پوهيږم تاسو دواړو ما ته ښيرا کړې ده تاسو زما د خلاصون دعاء وکړئ زه په الله ﷺ شاهد کولو سره وايم چي زه به کفار په تاسو پسي دراتلو څخه منع کړم، رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء وکړه او هغه خلاص سو، بيا چي کوم سړی به د سراقه سره په لاره کي يو خای سو نو هغه ته به يې ويل ستاسو لپاره زما لټون کافي دی، دېخوا هغه سړي (يعني رسول الله ﷺ) نه سته د هغه سره به چي څوك يو ځای کيدی نو دغه به يې ورته ويل. بخاري او مسلم

## د عبدالله بن سلام اسلام راوړل

(۵۶۲۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ بمقدمِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي أَرْضٍ يَخْتَرِفُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدَ إِلَى أَبِيهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي بِهِنَّ جِبْرِيلُ آنِفًا أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ وَإِنَّهُمْ إِنْ يَعْلَمُوا بِإِسْلَامِي قَبْلَ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُونِي فَجَاءَتِ الْيَهُودُ فَقَالَ أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللّٰهِ فِيكُمْ قَالُوا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا فَقَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي عبدالله بن سلام ﷺ په يو ځای کی د درختو ميوې جمع کولې چي هغه د رسول الله ﷺ د مکې څخه مدينې ته د راتلو حال واوريدی هغه دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو عرض يې وکړ: زه ستاسو څخه د درو خبرو پوښتنه کوم چي پرته د نبي څخه بل څوك يې نه پيژني، يو خو دا چي د قيامت لومړنی نښه به څه وي؟ دويم دا چي د جنتيانو لومړنی خوراك به څه وي، دريم دا چي هغه کوم شی دی چي اولاد مور يا پلار ته د مشابهت په لور بيايي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: جبرائيل عليه السلام همدا اوس زه ددغه خبرو څخه خبر کړی يم، د قيامت لومړنی نښه هغه اور دی چي خلك به د مشرق څخه مغرب ته په راکښولو سره بوځي، او د جنتيانو لومړنی خوراك به د ماهي د ځيګر هغه ټوټه وي

اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ قَالُوا أَعَاذَهُ اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ فَخَرَجَ عَبْدُ اللّٰهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالُوا شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا وَانْتَقَصُوهُ قَالَ فَهٰذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. رواه البخاري.

چي د اينې ښځه بيله زړيږي، په اولاد کي د مور او پلار د مشابهت سبب دادی که دنارينه د مني اوبه د ښځي د مني تر اوبو مخ ته سي نو ماشوم د پلار سره مشابه کيږي، او که د ښځي اوبه مخ ته سي نو ماشوم د مور مشابه کيږي، ددې اوريدو سره عبدالله بن سلام وويل زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته او ته د الله ﷻ رښتونی رسول يې، ددې څخه وروسته عبدالله بن سلام وويل : اې دالله رسوله! يهوديان ډير تهمت لگونکي قوم دی ، هغوئ ته چي زما مسلمان کيدل معلوم سي نو پر ما باندي به د درواغو تهمتونه ولگوي، په دې سبب غوره داده چي د اسلام حال معلومولو څخه مخکي تاسو زما په اړه د هغوئ څخه پوښتنه وکړئ، نو يهود را وغوښتل سول او رسول الله ﷺ د هغه يهوديانو څخه پوښتنه وکړه چي په تاسو کي عبدالله بن سلام څنگه سړی دی ؟ هغوئ وويل په موږ کي غوره او د غوره سړي زوی دی، زموږ سردار دی او زموږ د سردار زوی دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: که عبدالله بن سلام اسلام راوړي ، يهوديانو ويل : الله ﷻدي هغه د اسلام څخه وساتي او په خپل پناه کي دي هغه وساتي، ددې اوريدو سره عبدالله بن سلام د هغوئ مخته راغلی او وه يې ويل : زه شاهدي ورکوم چي د الله څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، ددې اوريدو سره يهوديانو وويل په موږ کي دا ډير خراب سړی دی د بدترين سړي زوی ذی او ډول ډول عيبونه يې پر هغه ولگول ، عبدالله بن سلام وويل اې دالله رسوله ! دا هغه خبره وه چي ما څيني ډيره کول. بخاري.

**د بدر د غزا په اړه يو پيشگويي**

(۵۶۲۱): وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاوَرَ حِينَ بَلَغَنَا إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ وَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَلَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا إِلَى بَرْكِ الْغِمَادِ لَفَعَلْنَا قَالَ فَنَدَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَانْطَلَقُوا حَتّٰى نَزَلُوا بَدْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ قَالَ وَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ د ابوسفيان (د شام څخه) د راتگ خبر واوريدی نو د مدينې والاوو سره يې مشوره وکړه ، سعد بن عباده ؓ ولاړ سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! په هغه ذات دې مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده که تاسو موږ ته دا حکم راکړئ چي موږ خپل آسونه درياب ته وړ ننه باسو نو موږ به همداسي کوو او که تاسو دا فرمايا ست چي موږ د خپلو

هَاهُنَا هَاهُنَا قَالَ فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم.

سپرلو (یعني آسانو او اوښانو) ځیګر تر (برک غماد) پورې وهو نو موږ به داسې وکړو ، (برک غماد په یمن کي یو ښار دی مطلب دادی که تاسو حکم کوئ چي موږ تر برک غماد پورې خپل اوښان او آسونه وځغلوو نو موږ به انکار نه کوو)، د انس ﷺ بیان دی چي رسول الله ﷺ د جنګ لپاره خلك راوبلل او خلك د رسول الله ﷺ سره روان سول د بدر مقام ته چي ورسیدل ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا ځای د فلاني سړي د مړي دي (یعني هغه به دلته مړ کیږي) او همداسي رسول الله ﷺ به پر مځکه لاس ایښودی په دې ځای کي او په دې ځای کي ، ویلي دي انس ﷺ بیا کوم کوم ځایونه چي رسول الله ﷺ ټاکلي وه په هغو کي د هر یوه سره هم هغسي وسول په کوم ځای کي چي رسول الله ﷺ مبارك لاس ایښی وو هغه کافر هم هلته هلاك سو . مسلم.

**د بدر د غزا په ورځ دعاء**

(۵۶۲۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ يَوْمَ بَدْرٍ اللَّهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللَّهُمَّ إِنْ تَشَأْ لَا تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ فخرج وَهُوَ يَثِبُ فِي الدِّرْعِ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ.رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ په خیمه کي وو چي دا دعاء یې وکړل اې الله ﷺ زه ستا څخه ستا امان او ستا وعدې پوره کول غوارم، اې الله ! که ته غواړې (چي مؤمنان هلاك سي) نو دنن څخه وروسته به ستا عبادت نه کیږي، رسول الله ﷺ دومره فرمایلي وه چي ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ مبارك لاس ونیوی او عرض یې وکړې اې د الله رسوله ! بس دومره کافي ده تاسو په خپله دعاء کي خپل پروردګار ته ډیري زاری وکړې ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ په تیزۍ سره د خیمې څخه دباندې راووتی حال دا چي رسول الله ﷺ زغره اغوستې وه (او په لوړ آواز سره یې) دا آیت تلاوت کړ : (سیهزم الجمع .....)، (کفار به ډیر ژر ماته وخوري او پر شا به وتښتي). بخاري.

**د بدر په غزا کي د جبرائیل ﷺ شرکت**

(۵۶۲۳): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ.رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا جبرائیل علیه السلام دی چي د خپل آس واګې یې نیولي دي، او پر هغه یې د جنګ سامان اچولی دی. بخاري.

## د اسماني مرستي مشاهده

(٥٦٢٤): وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَئِذٍ يَشْتَدُّ فِي أَثَرِ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَمَامَهُ إِذْ سَمِعَ ضَرْبَةً بِالسَّوْطِ فَوْقَهُ وَصَوْتَ الْفَارِسِ يَقُولُ أَقْدِمْ حَيْزُومُ اذا نَظَرَ إِلَى الْمُشْرِكِ أَمَامَهُ فَخَرَّ مُسْتَلْقِيًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ قَدْ خُطِمَ أَنْفُهُ وَشُقَّ وَجْهُهُ كَضَرْبَةِ السَّوْطِ فَاخْضَرَّ ذَلِكَ أَجْمَعُ فَجَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَحَدَّثَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَدَقْتَ ذَلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَقَتَلُوا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ وَأَسَرُوا سَبْعِينَ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي په دغه ورځ (يعني د بدر د غزا په ورځ) چي يو مسلمان په يوه مشرك پسي ځغاستى ناڅاپه هغه د چابك (غمچيني) اواز واوريدى چي وار يې پر هغه كافر ولګيدى بيا هغه د يو سپاره اواز واوريدى چي ويل يې : حيزوم مخكي سه ، (حيزوم دجبرائيل عليه السلام د آس نوم دى)، بيا هغه مسلمان چي په هغه مشرك پسې وو وليدل چي هغه د هغه په مخكي پريوتى پر پزه يې نښه وه او د هغه مخ چاودلى وو، او پر كوم ځاى چي غمچينه لګيدلې وه هغه ټول پوست شين سوى وو، هغه مسلمان د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او پېښه يې بيان كړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته رښتيا وايې ، بيا يې وفرمايل دغه ملائكه د دريم آسمان د مرستيال فوځ ملائكه وه، په دغه ورځ اويا كافران د مسلمانانو په لاس قتل سول او اويا كافران بنديان سول. مسلم.

## د أحد په غزا كي د ملائكو د مرستي معجزه

(٥٦٢٥): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ عن يمين رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن شماله يَوْمَ أُحُدٍ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيضٌ يُقَاتِلَانِ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ يعني جبرئيل وميكائيل. متفق عليه.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دى چي ما د احد په غزا كي د رسول الله ﷺ راسته او چپه خوا ته دوه كسان وليدل چي سپيني جامې يې اغوستي وې او د دښمنانو سره يې په ډيره سختي سره جنګ كوئ هغه كسان ما هيڅكله نه و ليدلي او نه مي وروسته وليدل ، او دا دواړه جبرائيل او ميكائيل ملائكي وې . بخاري او مسلم.

## د ماتي پښي علاج

(٥٦٢٦): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ بَعَثَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رهطا إِلَى أَبِي رَافِعٍ فدخل عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيكٍ بيته ليلا وهو نائم فقتله فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بن

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ يوه ډله ابورافع ته وليږل ، د هغه ډلي څخه عبدالله بن عتيك د شپې د ابورافع په كور كي

عتيك فَوَضَعْتُ السَّيْفَ فِي بَطْنِه حَتّٰى أَخَذَ فِي ظَهْرِه فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ حَتّٰى انْتَهَيْتُ إِلٰى دَرَجَةٍ فَوَضَعْتُ رِجْلِي فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ فَانْطَلَقْتُ إِلٰى أَصْحَابِي فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ ابْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ. رواه البخاري.

داخل سو چي هغه بيده وو نو مړ يې کړی، د عبدالله بن عتيك بيان دی چي ما د ابورافع پر نس توره کښېښودل تر دې چي د هغه د شا څخه ووتل ، زه پوه سوم چي مړ مي کړ بيا مي د دروازې خلاصول شروع کړل تر دې چي د زينې پای ته ورسيدم ، د سپوږمۍ شپه وه ځرنګه چي ما پښه کښېښودل نو را ولويدم او زما پنډۍ ماته سوه ، ما په خپل لنګوټې سره خپل پنډۍ وتړل او خپلو ملګرو ته را ورسيدم ، بيا د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او پېښه مي ورته بيان کړه ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : خپله پښه را وغزوه ، ما خپله پښه ور وغزول ، رسول الله ﷺ پر هغه لاس مبارك را تير کړ او هغه داسي روغه سوه لکه هيڅکله چي ماته سوې نه وي . بخاري.

## د احزاب په غزا کي د خوراك معجزه

(٥٦٢٧): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ فَجَاءُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا هٰذِه كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ فَقَالَ أَنَا نَازِلٌ ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا فَأَخْرَجَتْ جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتْ الشَّعِيرَ حَتّٰى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنَتْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا صَنَعَ سُورًا

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د خندق په غزا کي موږ خندق کيندی چي يو سخته مځکه ښکاره سوه ، صحابه کرام د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ چي يو سخته مځکه په خندق کي راغلل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه خندق ته ور کښته کيږم ګورم يې ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو او حالت يې دا وو چي د زياتې لوږې له کبله رسول الله ﷺ پر خپل مبارك نس ډبري تړلي وې او د درو ورځو څخه زموږ دا حالت وو چي موږ د څښلو يو شی نه وو څښلی، رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارك تبر پورته کړ او په هغه يې پر مځکي وار وکړ نو هغه سخته ډبره د شګو په ډول ذرې ذرې سول ، د حضرت جابر ﷺ بيان دی ددې څخه وروسته زه د هغه ځای څخه خپل

فَحَيَّ هَلًا بكم فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَكُمْ حَتّٰى أَجِيءَ وَجَاءَ فَأَخْرَجَتْ لَهُ عَجِينًا فَبَصَقَ فِيهِ وَبَارَكَ ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ ادْعِي خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَك وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوهَا وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللّٰهِ لا أَكَلُوا حَتّٰى تَرَكُوهُ وَانْحَرَفُوا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَإِنَّ عَجِينَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ. متفق عليه.

کور ته روان سوم خپلې ښځې ته مې وويل ستاسره د خوراك يو شی سته ، ما ته معلومه سوې ده چې رسول الله ﷺ سخت وږی دی، زما ښځې يوه کڅوړه راوکښل چې په هغې کې يو صاع اوربشې وې او زموږ په کور کې يو لوی وری وو ما هغه حلال کړ او زما ښځې اوړه وکړل بيا ما په کټو کې غوښه واچول او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم ، کرار مې ورته وويل اې د الله رسوله ! موږ يو وری ذبح کړی دی او يو صاع اوربشې مو اوړه کړي دي تاسو د خپلو يو څو ملګرو سره تشريف راوړئ ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره وفرمايل : اې خندق والاوو ! راځئ جابر مېلمستيا تياره کړې ده ژر راځئ چې ورسو ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: تاسو خپل کټو د نغري څخه مه کښته کوئ او اوړه مه پخوئ تر څو پوري چې زه در نه سم، نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ او اغېبلی اوړه د رسول الله ﷺ مخته راوړل سول ، رسول الله ﷺ په هغه اوړو کې د خپل خولې مبارك لعاب (ناړې) واچول او د برکت دعاء يې وکړل، بيا زموږ کټو ته راغلی نو په هغه کې يې هم لعاب مبارك واچول او د برکت دعاء يې وکړه ، بيا يې زما بي بي ته وفرمايل : دودۍ پخونکې راوغواړه چې ستا سره دودۍ پخه کړې او غوښې د کټو څخه راوکاږه او کټو پر نغري پريږده چې پرته وي، د جابر ﷺ بيان دی چې خندق والا زر کسان وه ، په الله ﷻ قسم کولو سره وايم چې ټولو (په ماړه نس) دودۍ وخوړل او پاته هم سول او بيرته ولاړل، او زموږ کټو هم هغسې ډکه وه لکه څرنګه چې د خوراك څخه مخکې وه ، او اوړه پخيدل چې نه خلاصيدل لکه څرنګه چې په اول کې وه. بخاري او مسلم

## د عمار بن ياسر په باره کې پيشګويي

(٥٦٢٨): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَمَّارٍ حين يحفر الخندق فجعل يمسح راسه ويقول بوس ابن سمية تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روايت دی چې عمار بن ياسر ﷺ خندق کيندی چې رسول الله ﷺ د هغه پر سر خپل مبارك لاس را تير کړ او وه يې فرمايل : اې د سميه زويه ! دومره کوښښ او مشقت، تا به يو سرکښه ډله قتل کړي (نو هغه په جنګ صفين کې قتل کړل سو) . مسلم.

## یو پیشګویي چي پوره سول

(۵۶۲۹): وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنَ صُرَدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ عَنْهُ الْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَا نَحْنُ نَسِيرُ إِلَيْهِمْ. رواه البخاري.

د حضرت سلیمان بن صرد ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ هغه وخت چي په جنګ احزاب کي کفار په متفرق کیدو سره خپاره سول وه فرمایل: اوس به موږ د هغوئ سره جنګ کوو او هغوئ به زموږ سره جنګ نه کوي موږ به پر هغوئ ورځو . بخاري.

## حضرت جبرائیل ؑ او د ملائکو د مرستي معجزه

(۵۶۳۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَت لَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَ وَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنَ الْغُبَارِ فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللَّهِ مَا وَضَعْتُهُ اخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ فَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ فخرج النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ. متفق عليه وفي رواية للبخاري قال انس كاني انظر الى الغبار ساطعا في زقاق بني غنم موكب جبرئيل عليه السلام حين سار رسول الله صلى الله عليه وسلم الى بني قريظة.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جنګ احزاب څخه د راګرځېدو وروسته وسله کښېښودل او د غسل اراده یې وکړه چي جبرائیل علیه السلام تشریف راوړ په داسي حال کي چي رسول الله ﷺ د سر مبارک څخه ګرد او غبار څنډی او ورته یې وویل: تاسو خو وسله ایسته کړه او په الله ﷺ دي مي قسم وي ما لا تر اوسه وسله نه ده ایسته کړې راځه چي پر کفارو ورځو ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چیري ؟ جبرائیل علیه السلام د بنو قریظه په لور اشاره وکړه ، نو رسول الله ﷺ د بنو قریظه په لور ور ووتی (او فتح یې تر لاسه کړه)، بخاري او مسلم او د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي د انس بیان دی چي زه ګویا هغه ګرد او غبار اوس هم وینم کوم چي د قبیله بنو غنم په کوڅو کي الوتی د هغه سپرو د ډلي څخه د کوم سره چي جبرائیل علیه السلام ملګری وو کله چي رسول الله ﷺ د بنو قریظه په لور روان وو.

## د ګوتو مبارکو څخه د اوبو وتلو معجزه

(۵۶۳۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ قَالُوا لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَ نَشْرَبُ إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي د حدیبیې په ورځ خلك تږي وه او د رسول الله ﷺ مخکي یو پتك پروت وو چي په هغه سره رسول الله ﷺ اودس وکړي بیا یو ډله د رسول

فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ اَصَابعه كَاَمْثَالِ الْعُيُون قَالَ فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا قيل لجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ قَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً. متفق عليه.

الله ﷺ په خدمت کې حاضره سول او عرض یې وکړ چې زموږ سره د اودس او څښلو لپاره اوبه نسته او یوازې دا اوبه دي چې ستاسو سره په پتک کې دي ، ددې اوریدو سره نبي کریم ﷺ خپل لاس مبارک پر پتک کښېښود او د ګوتو څخه په داسي جوش اوبه راوتلې لکه د چینو څخه ، د جابر بیان دی چې موږ تولو خلکو اوبه و څښلې او اودس مو هم وکړ ، د جابر ﷺ څخه پوښتنه وسول چې تاسو تول څو کسان واست؟ هغه وویل که موږ یو لك هم وای نو بیا به هم هغه اوبه بس وای او هغه وخت زموږ شمیر پنځلس سوه وو. بخاري او مسلم.

**وچ څاه د اوبو څخه ډک سو**

(٥٦٣٢): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اربع عشرة مائة يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ والحديبية بِئْر فَنَزَحنَاهَا فلم نترك فيها قطرة فبلغ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهَا فجلس عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ دعا باناء مِنْ مَاءٍ فتوضا ثم مضمض وَدَعَا ثُمَّ صبه فيها ثم قَالَ دَعُوهَا سَاعَةً فَأَرْوَوْا أَنْفُسَهُمْ وَرِكَابَهُمْ حَتَّى ارْتَحَلُوا. رواه البخاري.

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چې د حدیبیې په ورځ کي زموږ شمیر څوارلس سوه وو، حدیبیه یو څاه دی موږ د هغه څخه اوبه راوکښلې تر دې چې په هغه کې یو څاڅکی اوبه پاته نه سوې ، نبي کریم ﷺ ته چې ددې خبر ورسیدې نو څاه ته یې تشریف راوړ د څاه پر غاړه کښېنستی ، د اوبو لوښی یې وغوښتی او اودس یې وکړ د اوداسه څخه وروسته یې په خوله مبارکه کې اوبه واخیستلې او دعاء یې وکړل ، بیا یې دخولې مبارکي اوبه پکښې واچولې بیا یې وفرمایل : د لږ وخت لپاره څاه پریږدئ د هغه څخه وروسته خلکو او د هغوئ سپرلیو ښه اوبه وڅښلې او بیا د هغه څایه روان سول بخاري.

**په اوبو کي د برکت معجزه**

(٥٦٣٣): وَعَنْ عَوْفٍ عَنْ اَبِيْ رجَاء عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كُنَّا فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم فَاشْتَكَى اِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَلَ فَدَعَا فُلَانًا كَانَ يُسَمِّيْهِ ابو رجاء ونسيه عوف ودعا عليا فقال اذهبا فابتغيا الماء فانطلقا فتلقيا امْرَأَةً بَيْنَ

حضرت عوف ﷺ د ابو رجاء څخه او هغه د عمران بن حصین ﷺ څخه روایت کوي چې موږ په یوه سفر کي د رسول الله ﷺ سره وو نو ده مبارك ته خلکو د تندي څخه شکایت وکړ، ددې شکایت اوریدو سره رسول الله ﷺ راکښته سو،

مَزَادَتَيْنِ او سطيحتين من ماء فجاءا بها الى النبي صلى الله عليه وسلم فاستنزلوها عن بعيرها ودعا النبي صلى الله عليه وسلم باناء ففرغ فيه من افواه المزادتين ونودي في الناس اسقوا فاستقوا قَالَ فَشَرِبْنَا عِطَاشًا أَرْبَعِينَ رَجُلًا حَتَّى رَوِينَا فَمَلَأْنَا كُلَّ قِرْبَةٍ مَعَنَا وَإِدَاوَةٍ وَأَيْمُ اللهِ لَقَدْ أُقْلِعَ عَنْهَا وَإِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْنَا أَنَّهَا أَشَدُّ مِلْئَةً مِنْهَا حِينَ ابْتَدَئَ. متفق عليه.

يو نفر يې را وغوښتی ابورجا د هغه نفر نوم ياد كړى وو خو د عوف څخه هير وو او حضرت علي ﷺ يې هم راوغوښتی ، بيا يې دواړو ته وفرمايل : تاسو ولاړ سئ اوبه ولټوئ ، دواړه د اوبو په لټه پسې روان سول ، په يو ځای كې يوه ښځه وليدل چې د اوبو دوه لوی ژې يې پر اوښ اچولې ناسته وه، دواړو هغه ښځه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضره كړه ، خلكو هغه ښځه او د اوبو ژی د اوښ څخه راكښته كړل او نبي كريم ﷺ د اوبو لوښی وغوښتی او حكم يې وكړ چې د ژې د خولې څخه دې په لوښي كې اوبه واچول سي، بيا خلكو ته اواز وكړل سو چې واسئ اوبه وڅښئ، نو ټولو خلكو اوبه وڅښلې ، د عمران بن حصين ﷺ بيان دی چې موږ څلوېښت كسان وو موږ ټولو په ښه ماړه نس اوبه وڅښلې او خپل ژيان او پټكان مو هم د اوبو څخه ډك كړل ، په خدای دې مې قسم وي موږ ته چې اوبه راكړل سوې نو موږ محسوسه كړه چې هغه ژيان تر مخكې هم زيات ډك دی. بخاري اومسلم.

## د درختو د اطاعت معجزه

(۵۶۳۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَزَلْنَا وَادِيًا أَفْيَحَ فَذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا يَسْتَتِرُ بِهِ وَإِذَا شَجَرَتَيْنِ بِشَاطِئِ الْوَادِي فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى إِحْدَاهُمَا فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَالْبَعِيرِ الْمَخْشُوشِ الَّذِي يُصَانِعُ قَائِدَهُ حَتَّى أَتَى الشَّجَرَةَ الْأُخْرَى فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَذَلِكَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالْمَنْصَفِ مِمَّا بَيْنَهُمَا قَالَ الْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَالْتَأَمَتَا فَجَلَسْتُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره روان وو چې موږ په يو لوی ميدان كې معطله سوو، رسول الله ﷺ د قضاء حاجت لپاره تشريف يووړ، مګر د پردې هيڅ ځای رسول الله ﷺ پيدا نه كړ، ناڅاپه د رسول الله ﷺ نظر د ميدان پر غاړه پر دوو درختو ولويدی ، رسول الله ﷺ په هغو كې د يوې درختې خوا ته ورغلی د هغې يو ښاخ يې ونيوی او وه يې فرمايل : د خدای ﷺ په حكم سره ځما فرمانبرداري وكړه، هغه درختي سمدستي اطاعت وكړ را روانه سول او د ترلي اوښ په ډول چې د خپل شرونكي اطاعت كوي خپل

أُحَدِّثُ نَفْسِي فَحَانَتْ مِنِّي لَفْتَةٌ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا وَإِذَا الشَّجَرَتَيْنِ قَدْ افْتَرَقَتَا فَقَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَلَى سَاقٍ. رواه مسلم.

ښاخونه يې راکښته کړل ، بيا رسول الله ﷺ بلې درختي ته ورغلی د هغې يو ښاخ يې ونيوی او وه يې فرمايل : د خدای ﷺ په حکم سره زما اطاعت وکړه هغې هم هغسې اطاعت وکړ را روانه سول او خپل ښاخونه يې پر مخکه راکښته کړل، بيا رسول الله ﷺ د دواړو درختو منځته تشريف يووړ، او وه يې فرمايل : د خدای په حکم سره تاسو دواړي زما لپاره يو ځای سئ نو دواړي درختي يو ځای سوې ، د جابر ﷺ بيان دی، ددې پېښې په ليدو سره زه حيران وم او په خپل زړه کي مي پر دې عجيبه پېښه خبري کولې ، ناڅاپه زما نظر پر يو خوا سو وينم چي رسول الله ﷺ را روان دی او هغه درختي مي وليدې چي دواړې بيرته بيلي سوې او هره درخته بيله بيله پر خپل ځای ودرېدل . مسلم.

### پر زخم دم کول

(۵۶۳۵): وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ بْنِ الاكوع فَقُلْتُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ مَا هَذِهِ الضَّرْبَةُ قَالَ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ. رواه البخاري.

د حضرت يزيد بن ابي عبيده ﷺ څخه روايت دی چي ما د سلمه بن اکوع ﷺ پر پونډۍ د زخم نښه وليده او وه مي ويل اې سلمه ! دا زخم د څه شي دی؟ سلمه راته وويل د خيبر په ورځ دا زخم راغلی وو، خلکو وويل سلمه سخت زخمي سو، بيا زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ د زخم ځای درې واره دم کړ بيا تر ننه د هغه تکليف ما نه دی محسوس کړی . بخاري.

### د نادېده واقعي خبر ورکولو معجزه

(۵۶۳۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ يعني خالد بن وليد حَتَّى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د زيد ، جعفر او ابن رواحه د شهيد کېدو خبر د مخه خلکو ته ورکړی وو، (يعني تر دې مخکي چي د جنګ دميدان څخه د هغوئ دشهادت خبر راسي)، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : چي زيد ﷺ په لاس کي بيرغ واخيستی او شهيد کړل سو ، بيا بيرغ جعفر ﷺ واخيستی او هغه هم شهيد کړل سو بيا ابن رواحه ﷺ بيرغ واخيست او هغه هم شهيد کړل سو ، رسول الله ﷺ دا پېښه بيانول او د سترګو مبارکو څخه يې اوښکي بهېدلې، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څخه وروسته

بيرغ هغه سړي واخيست چې سيف من سيوف الله دی، (يعني د خدای ﷺ د تورو څخه يوه توره ده)، يعني خالد بن وليد ﷺ تر دې چې الله تعالی مسلمانانو ته پر دښمنانو فتح ورکړه. بخاري.

د حنين د غزا معجزه

(٥٦٣٧): وَعَنْ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُونَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُونَ مُدْبِرِينَ فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ قَالَ عَبَّاسٌ وَأَنَا آخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُفُّهَا إِرَادَةَ أَنْ لَا تُسْرِعَ وَأَبُو سُفْيَانَ ابن الحارث آخِذٌ بِرِكَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ عَبَّاسُ نَادِ أَصْحَابَ السَّمُرَةِ فَقَالَ عَبَّاسٌ وَكَانَ رَجُلًا صَيِّتًا فَقُلْتُ بِأَعْلَى صَوْتِي أَيْنَ أَصْحَابُ السَّمُرَةِ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَكَأَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِينَ سَمِعُوا صَوْتِي عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلَى أَوْلَادِهَا فَقَالُوا يَا لَبَّيْكَ يَا لَبَّيْكَ قَالَ فَاقْتَتَلُوا وَالْكُفَّارَ وَالدَّعْوَةُ فِي الْأَنْصَارِ يَقُولُونَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالَ ثُمَّ قُصِرَتِ الدَّعْوَةُ عَلَى بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ كَالْمُتَطَاوِلِ عَلَيْهَا إِلَى قِتَالِهِمْ فَقَالَ هٰذَا حِينَ حَمِيَ الْوَطِيسُ ثُمَّ أَخَذَ حَصَيَاتٍ فَرَمَى بِهِنَّ وُجُوهَ الْكُفَّارِ ثُمَّ قَالَ انْهَزَمُوا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ فَوَاللّٰهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَمَاهُمْ بِحَصَيَاتِهِ فَمَا زِلْتُ أَرَى حَدَّهُمْ كَلِيلًا وَأَمْرَهُمْ مُدْبِرًا. رواه مسلم.

د حضرت عباس ﷺ څخه روايت دی چې په غزوه حنين کې زه د رسول الله ﷺ سره ملګری وم چې مسلمانانو او کافرانو پر يو بل حملې شروع کړې، نو مسلمانان پر شا کولو سره په تېښته سول، (ددې ليدو سره) رسول الله ﷺ خپل غاترې ته پونده ورکړه او د کفارو پر لور ور مخکې سو، دغه وخت ما د رسول الله ﷺ د غاترې واګې نيولې وې او په دې خيال سره چې هغه يې راټينګوله چې په کافرانو کې په تيزۍ سره ور دننه نه سي، او ابوسفيان بن حارث د رسول الله ﷺ رکاب نيولی وو، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل اې عباس! اصحاب سمره ته اواز وکړه (سمره د کيکر درختې ته وايي د حديبيې پر موقع ډېرو صحابه کرامو د يو کيکر تر درختې لاندې په جنګېدو د مړ کېدو بيعت کړی وو دغه بيعت ته بيعت رضوان هم وايي)، د عباس ﷺ لوړ آواز وو هغه په لوړ آواز سره وويل اصحاب سمره چېرې دي؟ د عباس ﷺ بيان دی قسم په خدای زما د آواز اورېدو سره اصحاب سمره داسې رامنډې کړې لکه څرنګه چې غواوې د خپلو بچو په ليدو سره د هغوئ طرف ته ورځي، او وه يې ويل موږ حاضر سو، عباس ﷺ وايي ددې څخه وروسته مسلمانان د کفارو سره ومونښتل، او انصارو خپل ډلې داسې رابللې اې د انصارو ډلې! اې د انصارو ډلې مرسته وکړئ د دښمنانو سره

وجنګیږئ بیا دا بلل یوازي پر قبیله بنو حارث بن خزرج باندي موقوف سول یعني یوازي د حارث اولاد یې را بلې ځکه چي په انصارو کي دا لویه قبیله وه، رسول الله ﷺ پر خپله غاتره سپور وو او غاړه یې پورته کړې وه (جنګ یې کتی) بیا رسول الله ﷺ خلک مخاطب کړل چي دا وخت د جنګ د ګرمیدو دی، بیا رسول الله ﷺ یو څو ډبري په خپل مبارك لاس کي واخیستې او هغه یې د کافرانو مخته وغورځولې ، ددې څخه وروسته یې وفرمایل : د محمد ﷺ په پروردګار دي مي قسم وي کافرانو ماته وخوړل ، عباس ﷺ وایي قسم په خدای دا ماته یوازي د رسول الله ﷺ د ډبرو غورځولو په سبب کافرانو ته وسول، د رسول الله ﷺ د ډبرو غورځولو څخه وروسته تر پایه پوري ما لیدل چي د کافرانو توري او نیزي همداسي پڅي پرتې وي او هغوئ ذلیل او خوار سوي وه. مسلم.

**د حنین په غزا کي د رسول الله ﷺ شجاعت**

(۵۶۳۸): وَعَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ يَا أَبَا عُمَارَةَ فَرَرْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللّٰهِ مَا وَلّٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ خَرَجَ شُبَّانُ أَصْحَابِهِ لَيْسَ عَلَيْهِمْ كَثِيرُ سِلَاحٍ فَلَقُوا قَوْمًا رُمَاةً لَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ فَأَقْبَلُوا هُنَاكَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسول الله صلى الله عليه وسلم عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُهُ فَنَزَلَ وَاسْتَنْصَرَ وَقَالَ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ ثُمَّ صَفَّهُمْ. رواه مسلم وللبخاري معناه وفي رواية لهما قال البراء كنا والله اذا احمر البأس نتقي به وان الشجاع منا للذي يحاذي به يعني النبي صلى الله عليه وسلم.

د حضرت ابو اسحاق ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د براء بن عازب ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې ابوعماره ! ایا تاسو د حنین په ورځ د کافرانو د مقابلې څخه تښتیدلي واست؟ براء بن عازب ﷺ وویل : یا، قسم په خدای رسول الله ﷺ شا کړې نه وه ، پېښه یوازي دومره وه چي صحابه کرامو یو څو زلمیان چي د هغوئ سره زیاته وسله نه وه د غشي ویشتونکو کافرانو سره ومونښتل ، دغه کافران داسي غشي ویشتونکي وه چي د هغوئ یو غشي هم پر مځکه نه لویدی، دغه غشي ویشتونکو کافرانو پر هغو داسي غشي اورول چي یو غشي یې نه خطا کیدی ، دا زلمیان ددغه ځای څخه رسول الله ﷺ ته ورغلل ، رسول الله ﷺ هغه وخت پر سپینې غاترې سپور وو او ابوسفیان بن حارث د غاترې واګې نیولې وې ، ددغه زلمیانو په لیدو سره رسول الله ﷺ د غاترې څخه راکښته سو او د الله ﷺ مرسته او فتح یې وغوښتل او وه یې فرمایل : زه نبي یم دا خبره دروا غ نه ده او زه د عبدالمطلب زوی یم ، ددې څخه وروسته مسلمانان یې یو ځای کړل صف بندي یې وکړل ، مسلم ، او معنا یې د بخاري ده، او د بخاري او مسلم په یوه

روایت کي دا الفاظ دي چي براء بن عازب ﷺ وویل قسم په خدای کله چي جنګ سخت سو نو موږ به رسول الله ﷺ ته پناه ور وړل او په موږ کي تر ټولو زیات شجاع او زړه ور هغه سړی شمیرل کیدی کوم چي به د رسول الله ﷺ برابر ولاړ وو.

**د ډېرو معجزه**

(۵۶۳۹): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَوَلّٰى صَحَابَةُ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا غَشُوا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ مِنَ الْأَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوهَهُمْ فَقَالَ شَاهَتِ الْوُجُوهُ فَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ. رواه مسلم.

د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کي په غزوه حنین کي ګډون وکړ، د رسول الله ﷺ ملګرو تېښته وکړه بیا کافرانو رسول الله ﷺ را ګیر کړ نو رسول الله ﷺ د سپرلۍ څخه را کښته سو او د مځکي څخه یې یو موټ خاوره پورته کړه او د هغه څخه وروسته یې د کافرانو پر مخ خاوره غورځولو سره وفرمایل د هغوئ مخونه خراب سول یا د هغوئ مخونه دي خراب سي، بیا چي الله تعالی د هغوئ څخه کوم انسانان پیدا کړي وه (یعني کوم کافر چي هلته د خدای په مخلوق کي موجود وو) د هر یوه سترګي د خاورو څخه ډکي سوې، او هغوي وتښتېدل او خدای ﷻ هغوئ ته ماته ورکړه او د هغوئ د غنیمت مال رسول الله ﷺ د مسلمانانو په منځ کي وویشی. مسلم

**یو پیشګوئي**

(۵۶۴۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ معه يَدَّعِي الْإِسْلَامَ هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فجاء رجل فَقَالَ يا رسول الله ارايتَ الَّذِي تحدث انه مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَدْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَكَادَ بعض الناس يَرْتَابُ فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى ذٰلِكَ

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي موږ په غزوه حنین کي د رسول الله ﷺ سره ګډون وکړ، رسول الله ﷺ د یو سړي په اړه چي خپل ځان ته یې مسلمان ویل، دا وفرمایل: چي دا سړی دوږخي دی بیا چي د جنګ وخت راغلی نو هغه سړی ښه وجنګیده او پر بدن یې ډیر زخمونه راغلل، یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ اي دالله رسوله! تاسو چي د کوم سړي په اړه دا فرمایلي وه چي هغه دوږخي دي هغه د خدای په لار کي ښه

إِذْ وَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحِ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ فَانْتَزَعَ سَهْمًا فَانْتَحَرَ بِهَا فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ صَدَّقَ اللَّهُ حَدِيثَكَ قَدِ انْتَحَرَ فُلَانٌ وَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ يَا بِلَالُ قم فاذن لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مؤمنٌ وَإِنَّ اللَّهَ لَيُؤَيِّدُ هَذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ. رواه البخاري.

وجنګيدى او ډير زخمونه يې وخوړل، رسول الله ﷺ وفرمايل : ياد ساتئ هغه دوږخي دى ، نژدې وه چې د ځيني خلکو په زړونو کې ددې پېښې څخه شکونه او شبهې پيدا سوې واى ، (چي ناڅاپه ) هغه سړي چي د هغه په اړه رسول الله ﷺ د دوږخي کيدو حکم کړى وو د زخمونو د تکليف څخه يې ارامه سو او خپل لاس يې په خپله د غشو د ګڅوڼي په لور وړاندي کړ يو غشى يې راوکښى او په هغه يې خپل ځان حلال کړ (يعني ځان يې خپله مړ کړ) ددې ليدو سره ډيرو مسلمانانو د رسول الله ﷺ په طرف را منډې کړې او عرض يې وکړ اې داالله رسوله ! خداى ﷻ ستاسو خبره ريښتوني کړه فلاني سړي خپل ځان خپله وواژه، او خپل ځان يې قتل کړ، رسول الله ﷺ وفرمايل : الله اکبر، زه شاهدي ورکوم چي زه د الله بنده او د هغه رسول يم، اې بلاله ! ولاړ سه او د خلکو په منځ کې اعلان وکړه چي په جنت کې به يوازې مؤمن داخليږي او دا چي الله تعالى دا دين د فاجر سړي په ذريعه هم قوي کوي . بخاري.

## پر رسول الله ﷺ د جادو واقعه

(۵۶۴۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حتي انه لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ فَعَلَ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ عِنْدِي دَعَاالله وَدَعَاه ثُمَّ قَالَ أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قد أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ جاءني رَجُلَانِ جلس أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ ثم قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ اليهودي قَالَ فيماذا قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ فذهب النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ الى البئر فَقَالَ هذه البئر التي اريتها

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي په رسول الله ﷺ باندي جادو سوى وو (د رسول الله ﷺ دا حالت سو) چي دا خيال به يې کوى چي يو کار يې کړى دى حال دا چي هغه به يې نه وو کړى (يعني هيره يې زياته سوه) په دغه ورځو کي يو وار رسول الله ﷺ زما سره وو ، د خداى ﷻ څخه يې دعاء و غوښتل او بيا يې دعاء وکړل (يعني دوه واره يې دعاء وکړل) ، بيا رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل اې عائشې ! تا ته معلومه ده چي ما د خداى ﷻ څخه کومه خبره پوښتلې وه هغه خداى ﷻ ما ته و ښودل ، او هغه داسي چي دوې ملائکي ما ته راغلې په هغوئ کي يوه زما

وكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَ كَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ فَاسْتَخْرَجَهُ. رواه البخاري.

سر ته کښېنستل او دويمه پښو ته ، بيا په هغوئ کي يوې د بلي څخه پوښتنه وکړه چي د دغه سړي څه ناروغي ده ؟ دويم ورته وويل په ده جادو سوی دی ، بيا اولي پوښتنه وکړه چا جادو په کړی دی ؟ دويمي ورته وويل لبيد بن عاصم يهودي، لومړنی پوښتنه څيني وکړه په څه شي کي يې جادو کړی دی ؟ دويمي ورته وويل په ږمونځ کي او په هغه وريښتانو کي کوم چي د ږمونځ څخه غورځول کيږي او د خرما د درختي په تازه غونچك كي، لومړنی پوښتنه وکړه هغه جادو کړل سوی شی په کوم ځای کي اېښودل سوی دی ؟ دويمي ورته وويل د ذروان په څاه کي ، ددې معلومولو سره رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره د هغه څاه په طرف تشريف يوړ، او وه يې فرمايل : دا هغه څاه دی چي ما ته ښودل سوی دی . ددغه څاه اوبه د نکريزو په ډول ېخي دي او د خرما د درختي غونچك (چي په څاه کي دی) داسي دي گويا چي هغه د شيطانانو سرونه دي ، رسول الله ﷺ دا ټول شيان د څاه څخه را وايستل (او د جادو اثر ختم سو). بخاري.

## د خوارجو په اړه پيشگوئي

(۵۶۴۲): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْسِمُ قَسْمًا أَتَاهُ ذُو الْخُوَيْصِرَةِ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اعْدِلْ فَقَالَ وَيْلَكَ فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ قَدْ خِبْتَ وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ فَقَالَ عُمَرُ ائْذَنْ لِي أَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ دَعْهُ فَإِنَّ لَهُ أَصْحَابًا يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ صَلَاتَهُ مَعَ صَلَاتِهِمْ وَصِيَامَهُ مَعَ صِيَامِهِمْ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ يُنْظَرُ إِلَى نَصْلِهِ إِلَى رِصَافِهِ إِلَى نَضِيِّهِ وَهُوَ قِدْحُهُ إِلَى قُذَذِهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ قَدْ سَبَقَ الْفَرْثَ وَالدَّمَ آيَتُهُمْ رَجُلٌ أَسْوَدُ إِحْدَى عَضُدَيْهِ مِثْلُ ثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ مِثْلُ الْبَضْعَةِ تَدَرْدَرُ وَيَخْرُجُونَ عَلَى خَيْرِ فُرْقَةٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ هَذَا

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي موږ (په حجرانه نامي ځای کي) د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو ، او رسول الله ﷺ (د حنين د غزا) د غنيمت مال ويشئ، چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي د قبيله بنو تميم يو سړی حاضر سو چي د هغه نوم ذوالخويصره وو او عرض يې وکړ اي دالله رسوله ؛ د عدل او انصاف څخه کار واخلئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پر تا دي افسوس وي چي زه عدل او انصاف ونه کړم نو څوك به يې کوي ، ببشکه که زه انصاف ونه کړم نو د نااميده او تاوانيانو څخه به سم، حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اي دالله رسوله ؛ ما ته اجازه راکړئ چي زه يې غاړه ووهم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دی پر خپل حال پرېږدئ چي ددغه سړي څيني خلك ملگري

الْحَدِيثَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَشْهَدُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِب قَاتَلَهُمْ وَأَنَا مَعَهُ فَأَمَرَ بِذَلِكَ الرَّجُلِ فَالْتُمِسَ فَأُتِيَ بِهِ حَتَّى نَظَرْتُ إِلَيْهِ عَلَى نَعْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي نَعَتَهُ وفي رواية أَقْبَلَ رَجُلٌ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ نَاتِئُ الْجبهة كَثُّ اللِّحْيَةِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اتَّقِ اللّٰهَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ يُطِيعُ اللّٰهَ إِذَا عَصَيْتُهُ فَيَأْمَنُنِي الله عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ وَلَا تَأْمَنُونِي فَسَأَلَ رَجُلٌ قَتْلَهُ فَمَنَعَهُ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ إِنَّ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ فيقولون أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ. متفق عليه.

دي چي تاسو به خپل لمنځونه د هغوئ د لمنځونو څخه او خپل روژې د هغوئ د روژو څخه حقيري وګڼئ، دا خلك به قرآن وايي مګر قرآن به د هغوئ د حلق څخه نه کښته کيږي، (يعني پر زړه به يې اثر نه وي). او دا خلك به ددين څخه داسي وځي لکه څرنګه چي غشی د ښکار څخه ووځي او ورته ته وکتل سي توبري ته نضيي ته چي لرګي دي وزرونو ته ددې غشي نو پر هغه شي به بل پيدا نه کړي ببله دې چي غشي به تير سوی وي تر خوشايو او تر وينو. او ددغه سړي د ځيني تابعدارانو نښه داده چي هغه به د تور رنګ سړی وي چي د هغه په يوه موټ کي به د ښځي د تي په ډول غوښه يا د غوښي يوه ټوټه وي چي ښوري به، (يعني د ذوالخويصره هم خيال خلکو کي به يو سړی داسي وي چي د هغه نښه به دغه وي)، او دا خلك (يعني د ذوالخويصره هم خيال او تابعداري به د خلکو د يو غوره ډلي خلاف سرکښي کوي ، د ابوسعيدخدري ﷺ بيان دی چي زه شاهدي ورکوم چي دا حديث ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دی او بيا زه دا شاهدي ورکوم چي حضرت علي ﷺ ددغه خلکو (يعني خوارجو) سره وجنګيدی او زه په هغه جنګ کي د حضرت علي ﷺ سره وم، کله چي حضرت علي ﷺ فتح تر لاسه کړه نو د هغه سړي د لټولو حکم يې وکړ چي د هغه په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي وه نو هغه سړی پيدا کړل سو او راوستل سو ما هغه وليدی د هغه کوم صفت چي رسول الله ﷺ بيان کړی وو په هغه کي موجود وه، او په يوه روايت کي د ذوالخويصره د حاضرېدو پر ځای دا الفاظ دي چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو چي د هغه سترګي ننوتي وي تندی يې راوتلی وو ږيره يې لرلې وه او بارخوګان يې پرسيدلي وه او سر يې خريلی وو ، او رسول الله ﷺ ته يې دا وويل اې محمد ! د الله څخه وبيريږه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که زه د خدای نافرماني وکړم نو څوك به د هغه اطاعت کوي او خدای ﷺ ما د مځکي په خلکو کي امين ګڼي، ته ما امين نه ګڼې او پر ما اعتماد نه لرې، يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا دی

قتل کړو؟ رسول الله ﷺ منع وکړه بیا چي هغه سری ولاړی نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ددغه سړي د اصل څخه به یو قوم پیدا کیږي چي قرآن به وایي او قرآن به د هغوئ د حلق څخه لاندي نه څي (یعني عمل به نه په کوي) دا خلك به ددین اسلام څخه داسي ووځي لکه څرنګه چي غشی د ښکارلپاره وځي بیا دا خلك به مسلمانان قتل کړي او بت پرسته به پر خپل حال پریږدي، که زه هغه خلك تر لاسه کړم نو زه به یې داسي هلاك کړم لکه څرنګه چي عاد قوم هلاك کړل سو. بخاري او مسلم

**د ابوهریره ﷺ د مور اسلام راوړلو واقعه**

(۵۶۴۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَهُ فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا صِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ فَسَمِعَتْ أُمِّي خَشْفَ قَدَمَيَّ فَقَالَتْ مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ فَاغْتَسَلَتْ فَلَبِسَتْ دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا فَفَتَحَتِ الْبَابَ ثُمَّ قَالَتْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ فرجعت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم وَأَنَا أَبْكِي مِنَ الْفَرَحِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَقَالَ خَيْرًا. رواه مسلم

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي ما به خپل مور ته چي مشرکه وه همېشه د اسلام راوړلو دعوت ورکوی. یوه ورځ ما هغې ته د اسلام راوړلو دعوت ورکړي نو هغې د رسول الله ﷺ په شان کي داسي خبره وکړه چي پر ما بده ولګیدل، زه په ژړا ژړا رسول الله ﷺ ته راغلم او عرض مي وکړ اي دالله رسوله! د الله ﷺ څخه دعاء وغواړه چي زما مور ته هدایت وکړي چي اسلام راوړي، رسول الله ﷺ وفرمایل: اي الله! د ابوهریره مور ته د اسلام راوړلو هدایت وکړې، زه د رسول الله ﷺ په دعاء سره خوشحاله سوم بیرته راغلم او د خپلي مور د کور دروازې ته ورسیدم، نو وینم چي دروازه بنده وه، زما مور زما د قدمونو اواز واوریدی نو هغې وویل: لږ تم سه، بیا ما د اوبو توئیدلو اواز واوریدی (یعني دغسل کولو) زما مور غسل وکړ او جامه یې واغوستل او پوړنی یې پر سر کړی لا نه وو چي دروازه یې خلاصه کړه او وه یې ویل: اي ابوهریره! زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷺ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته او زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی. (ابوهریره ﷺ وایي) زه بیرته ولاړم رسول الله ﷺ ته ما د خوشحالی څخه ژړل، رسول الله ﷺ د خدای تعریف وکړ او زما د مور پر اسلام راوړلو یې ښه وویل. مسلم.

**د ابوهريره ﷺ ډير روايتونه**

(۵۶۲۴): وَعَنْهُ قَالَ اِنَّكُمْ تَقُوْلُوْنَ اَكْثَرَ اَبُوْهُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهُ الْمَوْعِدُ وَاِنَّ اِخْوَتِي مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْاَسْوَاقِ وَاِنَّ اِخْوَتِي مِنَ الْاَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمْ عَمَلُ اَمْوَالِهِمْ وَكُنْتُ امْرَأً مِسْكِيْنًا اَلْزَمُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى مِلْئِي بَطْنِي وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا لَنْ يَبْسُطَ اَحَدٌ مِنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتّٰى اَقْضِيَ مَقَالَتِي هٰذِهِ ثُمَّ يَجْمَعُهُ اِلٰى صَدْرِهِ فَيَنْسٰى مِنْ مَقَالَتِي شَيْئًا اَبَدًا فَبَسَطْتُ نَمِرَةً لَيْسَ عَلَيَّ ثَوْبٌ غَيْرُهَا حَتّٰى قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَتَهُ ثُمَّ جَمَعْتُهَا اِلٰى صَدْرِي فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا نَسِيْتُ مِنْ مَقَالَتِهِ ذَالِكَ اِلٰى يَوْمِي هٰذَا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي هغه تابعينو ته په مخاطب کولو سره وويل چي تاسو واياست چي ابوهريره د نبي کريم ﷺ څخه زيات حديثونه نقل کوي او الله ﷺ وعده گاه دی (يعني د قيامت په ورځ زموږ د الله ﷺ په مخکي حاضريدل دي) که ما په حديث بيانولو کي يو خيانت کړی زي نو ما ته به خدای ﷺ سزا راکړي، پښبنه داده چي زما مهاجرو ورونو به په بازار کي کاروبار کوی او د هغوئ دغه بوختيا به هغوئ د رسول الله ﷺ په خدمت کي د زياتي حاضری څخه منع کول، او انصار ورونه به په مالي کارونو کي بوخت وه، هغوئ ته به هم د حاضری زياته موقع په لاس نه ورتلل، او زه يو مسکين سړی وم چي نس به مي موړ سو نو پر هغه به مي قناعت وکړ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي به پروت وم، يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا هيڅکله نه سي کيدلای چي په تاسو کي دي يو څوک خپله جامه وغوړوي (يعني زما د حديث اوريدو لپاره دي لمن هواره کړي) او تر هغه وخته پوري دي غوړولي لري چي زه خپله خبره پای ته ورسوم، او بيا به هغه خپله جامه د خپل سينې سره لگوي، او بيا دي زما حديث څيني هير سي. (يعني کوم سړی چي په پوره توجه سره زما سره خبره واوري او تر پايه پوري يې واوري او بيا هغه په سينه کي محفوظ کړي هغه هيڅکله زما خبره نه سي هيرولای) دا رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو په اره دعاء کړې وه، نو ما خپله شړی خلاصه کړل څکه چي بله يو جامه زما سره نه وه تر دي چي رسول الله ﷺ حديث پوره کړ بيا ما هغه د خپل سينې سره ولگول، په هغه ذات دي مي قسم وي چي محمد ﷺ يې په حق سره رالیږلی دی ما د رسول الله ﷺ د حديثونو څخه تر اوسه پوري هيڅ نه دي هير کړي. بخاري او مسلم.

د حضر جریر ﷺ لپاره دعاء

(۵۶۴۵): وَعَنْ جَرِيْرِبْنِ عَبْدِاللهِ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا تُرِيْحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَقُلْتُ وكنت الا اَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ ذَالِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلَى صَدْرِيْ حَتّٰى رَاَيْتُ اَثَرَ يَدِه فِيْ صَدْرِيْ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا قَالَ فما وقعت عن فرسي بعد فانطلق في مائه وخَمْسِيْنَ فَارِسًا مِنْ اَحْمَسَ فحرقها بالنار وكسرها. متفق عليه.

د حضرت جرير بن عبدالله ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : چي ايا ته په ذي الخلصه ماتولو سره ما ته آرام نه راکوې؟ (ذي الخلصله يوه بت خانه وه چي رسول الله ﷺ ته د هغه څخه ډير روحاني تکليف رسيدی)، ما عرض وکړ : هو، زه به هغه ماته کړم تاسو به خوشحاله کړم زما حالت دا وو چي ما پر آس په ښه ډول سپرلی نه سوای کولای او کله کله به د آس څخه را ايله سوم ، ددې ذکر ما رسول الله ﷺ ته وکړ ، رسول الله ﷺ زما پر سينه خپل مبارك لاس راتير کړ چي اثر يې زما زړه ته ورسيدی ، بيا يې وفرمايل : اې الله ! دی ثابت کړې، دی سيده لار ښوونکی او سيده لار تر لاسه کونکی جوړ کړې، د جرير بيان دی چي ددې څخه وروسته زه هيڅکله د آس څخه نه يم را ايله سوی ، بيا زه د يونيم سل سپرو سره د ذوالخلصه ماتولو لپاره روان سوم دا سپاره د قبيله احمس (قريش) وه ، جرير ﷺ ذوالخلصه وسوځول او ما ته يې کړل . بخاري او مسلم.

د ژبې مبارکي څخه وتلی لفظ حقيقت سو

(۵۶۴۶): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ اِنَّ رَجُلاً كَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَدَّ عَنِ الْاِسْلَامِ وَلَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْاَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ فَاَخْبَرَنِيْ اَبُوْ طَلْحَةَ اَنَّهُ اَتَى الْاَرْضَ الَّتِيْ مَاتَ فِيْهَا فَوَجَدَهُ مَنْبُوْذًا فَقَالَ مَا شَاْنُ هٰذَا فَقَالُوْا دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْاَرْضُ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي به د رسول الله ﷺ وحي ليکل (چي لومړی نصراني وو او بيا مسلمان سوی وو) بيا هغه مرتد سو (يعني ددين څخه واوښتی) او د مشرکانو سره يو ځاى سو، رسول الله ﷺ د هغه په اړه وفرمايل : مځکه به دی قبول نه کړي ، د انس ﷺ بيان دی چي ما ته طلحه ﷺ وويل زه هغه ځاى ته ورسيدم په کوم کي ځاى چي هغه سړی مړ سوی وو ، ما وليدل چي هغه د قبر څخه د باندي پروت دی ابوطلحه وايي ما پوښتنه وکړه دا څه حال دی؟ خلکو راته وويل چي موږ څو واره دی په مځکه کي ښخ کړی دی مگر مځکه دی قبول نه کړي . بخاري.

## د يهوديانو د قبرو انکشاف

(۵۶۴۷): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَجَبَتْ الشَّمْسُ فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُوْدُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا. متفق عليه.

د حضرت ابوایوب ﷜ څخه روایت دی چې لمر لویدلی وو او رسول الله ﷺ د باندې تشریف راوړ او یو آواز یې واوریدی ، وه یې فرمایل : دا آواز د یهودیانو دی چې هغو ته په قبرو کې عذاب ورکول کیږي . بخاري او مسلم.

## د طوفان په لیدو سره د یو منافق د مرګ خبر ورکول

(۵۶۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ فَلَمَّا كَانَ قُرْبَ الْمَدِينَةِ هَاجَتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ فَزَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا مُنَافِقٌ عَظِيمٌ مِنَ الْمُنَافِقِينَ قَدْ مَاتَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷜ څخه روایت دی چې یو وار رسول الله ﷺ د یو سفر څخه تشریف راوړ ، کله چې مدینې منورې ته نژدې سو نو تیز باد راغلی دومره تیز نژدې وو چې سپور سړی پر مځکه را ایله کړي او په مځکه کې یې ښخ کړي، رسول الله ﷺ وفرمایل : دا هواء د یو منافق د مرګ لپاره رالیږل سوې ده ، بیا چې مدینې ته داخل سوه نو معلومه سوه چې یو لوی منافق مړ سوی دی . مسلم.

## د مدینې د ساتنې لپاره معجزانه خبر

(۵۶۴۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى قَدِمْنَا عُسْفَانَ فَأَقَامَ بِهَا لَيَالِيَ فَقَالَ النَّاسُ مَا نَحْنُ هَا هُنَا فِي شَيْءٍ وَإِنَّ عِيَالَنَا لَخُلُوفٌ مَا نَأْمَنُ عَلَيْهِمْ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا فِي الْمَدِينَةِ شِعْبٌ وَلَا نَقْبٌ إِلَّا عَلَيْهِ مَلَكَانِ يَحْرُسَانِهَا حَتَّى تَقْدَمُوا إِلَيْهَا ثُمَّ قَالَ ارْتَحِلُوا فَارْتَحَلْنَا وَأَقْبَلْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ فَوَالَّذِي يُحْلَفُ بِهِ مَا وَضَعْنَا رِحَالَنَا حِينَ دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ حَتَّى أَغَارَ عَلَيْنَا بَنُو عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ غَطَفَانَ وَمَا يَهِيجُهُمْ قَبْلَ ذٰلِكَ شَيْءٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابوسعید خدري ﷜ څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره (د مکې څخه د مدینې په لور) روان سوو ، کله چې موږ عسفان ته ورسیدو نو رسول الله ﷺ یو څو ورځې تم سو خینې خلکو وویل موږ دلته څه کوو ، (یعني ولې بیکاره ناست یو)، حال دا چې زموږ اهل او عیال تر شا پاته دی، او موږ د هغوئ څخه مطمئن نه یو ، هر کله چې رسول الله ﷺ دا واوریدل نو وه یې فرمایل : په هغه ذات دې مې قسم وي چې د هغه په لاس کې زما ساه ده د مدینې هیڅ

لاره او هیڅ کوڅه داسي نه ده چي پر هغه ملائکي تاکلي نه وي، يعني په هره لاره او په هره کوڅه کي دوې ملائکي د ساتني لپاره موجود دي، او تر هغه وخته پوري به وي تر څو پوري چي تاسو مديني ته ورسيږئ، رسول الله ﷺ د سفر حکم وکړ او موږ روان سوو، او مديني ته ورسيدو ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي په هغه قسم اخيستل کيږي چي موږ لا د اوښانو کجاوې کښته کړي نه وې او مديني ته داخل سوي وو چي بنو عبدالله بن عطفان پر موږ راغلل (زموږ د لوټلو لپاره) او زموږ د راتلو څخه مخکي هغوئ هيڅ شی نه وو پورته کړی . مسلم .

## د باران اروند د قبولیت دعاء

(۵۶۵۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَصَابَتْ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ فَادْعُ اللَّهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا وَضَعَهَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذَلِكَ وَمِنَ الْغَدِ وَمِن بَعْدَ الْغَدِ حَتَّى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى وَقَامَ ذَلِكَ الْأَعْرَابِيُّ وغَيْرُهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ فَادْعُ اللَّهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا فَمَا يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ السَّحَابِ إِلَّا انْفَرَجَتْ وَصَارَتْ الْمَدِينَةُ مِثْلَ الْجَوْبَةِ وَسَالَ الْوَادِي قَنَاةُ شَهْرًا وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَّا حَدَّثَ بِالْجَوْدِ وفي رواية قال اللَّهُمَّ حوالينا ولا علينا عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ قَالَ فَأَقْلَعَتْ وَخَرَجْنَا نَمْشِي فِي الشَّمْسِ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي وچ کالي سول ، په دغو ورځو کي رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ خطبه فرمايل چي يو صحرايي ودريدی او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! حيوانان هلاك سول او ماشومان د لوږي څخه مړه کيږي زموږ لپاره د الله ﷺ څخه ددعاء لاس پورته کړه ، رسول الله ﷺ دعاء وکړل هم هغه وخت پر آسمان د وريځي يو ټوټه هم نه وه ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د چا په واك کي زما ساه ده ، رسول الله ﷺ د دعاء څخه لاس کښته کړی لا نه وو چي د غرونو په شان وريځ را پورته سول او رسول الله ﷺ د منبر څخه کښته سوی لا نه وو چي د باران اوبه د رسول الله ﷺ پر ږيره مبارکه څڅيدلې ، په هغه ورځ، په دويمه ورځ او په دريمه ورځ حتی تر بلي جمعې پوري باران و اوريدی ، تر دې چي هغه صحرايي يا بل څوك راغلی او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ا سرايونه ونړيدل ، حيوانات ډوب سول ، د الله ﷺ څخه دعاء وغواړه ، رسول الله ﷺ د دعاء لپاره لاس پورته کړ او وه يې فرمايل : اې الله ا زموږ شاوخوا کي يې و اوروې (يعني

په کبنتو وغیره کې) او پر موږ یې (یعني پر ابادۍ) یې مه اوروې، رسول الله ﷺ چې به کومې خوا ته اشاره کول وریځ به هغه خوا ته تلل، د مدینې سربیره وریځ صفا سوه او آسمان صفا په نظر راتلی او د اوبو لښتیان تر یوې میاشتې پورې جارې وه او د شاوخوا څخه به چې یو څوك راغلی هغو به په کثرت سره د باران اوریدو خبره کول، او په یوه روایت کې داسې دي چې نبي کریم ﷺ داسې دعاء وکړه اې الله ﷻ زموږ پر شاوخوا یې و اوروې او پر موږ یې مه اوروې، اې الله ﷻ پر غونډیو، غرونو او نالیو کې او ددرختو او کبنتونو د شنه کیدو پر ځایونو یې و اوروې، د انس ﷺ بیان دی ددې دعاء څخه وروسته وریځ صفا سوه او موږ د باندې راووتلو په داسې حال کې چې په لمر کې روان وو. بخاري او مسلم.

## د استوانه معجزه

(۵۶۵۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا خَطَبَ اسْتَنَدَ اِلٰى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِيْ الْمَسْجِد فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِيْ كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتّٰى كَادَتْ اَنْ تَنْشَقَّ فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اَخَذَهَا فَضَمَّهَا اِلَيْهِ فَجَعَلَتْ تَئِنُّ اَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِيْ يُسَكَّتُ حَتّٰى اسْتَقَرَّتْ قَالَ بَكَتْ عَلٰى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ . رواه البخاري.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله په مسجد کې د جمعې په ورځ خطبه ویل نو د خرما پر هغه تنه چې د میل په توګه په مسجد کې ولاړه وه تکیه کول، بیا چې د نبي کریم ﷺ لپاره منبر تیار سو، نو رسول الله ﷺ پر هغه کښېنستی او خطبه یې ویل، نو هغه خرما چې پر هغه به یې تکیه کول، او خطبه به یې ویل هغه خرما چغې کړې (یعني د نبي ﷺ پر بیلتون په ژړا سوه) او نژدې وه چې د بیلتون د شدت څخه وچوې، نو رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو هغه میل د خرما یې په خپلو لاسونو مبارکو سره ونیوی او د خان سره یې جوخته کړل، بیا هغه درختې د هغه ماشوم په ډول سلګۍ پیل کړې کوم چې کرار کړل سي، تر دې چې هغه درختې ته سکون حاصل سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه درختې ځکه ژړل چې کوم بیان به هغې مخکې اوریدی هغه یې نه واوریدی. بخاري.

## د ناحقه عذر بیانونکې معذور سو

(۵۶۵۲): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ اَنَّ رَجُلًا اَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهٖ فَقَالَ كُلْ بِيَمِيْنِكَ قَالَ لَا اَسْتَطِيْعُ قَالَ لَا اسْتَطَعْتَ مَا مَنَعَهٗ اِلَّا الْكِبْرُ قَالَ فَمَا رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ. رواه مسلم

د حضرت سلمه ابن اکوع ﷺ څخه روایت دی چې یو سړي د رسول الله ﷺ په مخکې په چپه لاس سره خوراك کوی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په ښي لاس سره یې خوره، هغه

وويل : زه يې په راسته لاس سره نه سم خوړلی، رسول الله ﷺ وفرمايل : ته دې په راسته لاس سره د خوړلو قدرت تر لاسه نه کړې. هغه د دروغ عذر کړی. وو او په خپل چپه لاس سره يې يوازې د تکبر او غرور په وجه خوراك کوی، د راوي بيان دی د رسول الله ﷺ د ښيرا سره هغه خپل راسته لاس تر خولې پورې نه سو رسولای . مسلم.

**د رسول الله ﷺ د سپرلۍ په برکت اس تيز سو**

(٥٦٥٣): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَزِعُوا مَرَّةً فَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ كَانَ يَقْطِفُ أَوْ كَانَ فِيهِ قِطَافٌ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هٰذَا بَحْرًا فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَا يُجَارَى، وفي رواية فما سبق بعدذالك اليوم. رواه البخاري.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چې يو وار د غلو يا دښمنانو د بيرې له کبله د مدينې خلك وبيريدل ، نبي کريم ﷺ د ابوطلحه پر اس پرته د زين څخه سپور سو چې دير کرار وو، رسول الله ﷺ چې را وګرځيدی نو وه يې فرمايل : ما خو دا آس د درياب په ډول وليدی (يعني دير تيز) بيا هغه آس تيز سو چې هيڅ يو آس نه سو پسې رسيدلای ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې د هغه ورځې څخه وروسته هيڅ يو آس د هغه څخه مخکې کيدلای نه سو. بخاري.

**په خرماوو کې د برکت معجزه**

(٥٦٥٤): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ تُوُفِّيَ أَبِي وَعَلَيْهِ دَيْنٌ فَعَرَضْتُ عَلَى غُرَمَائِهِ أَنْ يَأْخُذُوا التَّمْرَ بِمَا عَلَيْهِ فَأَبَوْا فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِي قَدِ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ دَيْنًا كَثِيرًا وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ فَقَالَ اذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَةٍ فَفَعَلْتُ ثُمَّ دَعَوْتُهُ فَلَمَّا نَظَرُوا إِلَيْهِ كَأَنَّهُمْ أُغْرُوا بِي تِلْكَ السَّاعَةَ فَلَمَّا رَأَى مَا يَصْنَعُونَ طَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي أَصْحَابَكَ فَمَا زَالَ يَكِيلُ لَهُمْ حَتَّى أَدَّى اللّٰهُ عَنْ وَالِدِي أَمَانَتَهُ وَأَنَا أَرْضَى أَنْ يُؤَدِّيَ اللّٰهُ أَمَانَةَ وَالِدِي وَلَا أَرْجِعَ إِلَى أَخَوَاتِي بِتَمْرَةٍ فَسَلَّمَ اللّٰهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا وَحَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چې زما پلار وفات سو او پر هغه يو څه پور باندې وو، ما پور غوښتونکی ته وويل چې د پور په بدله کې زموږ ټولې خرماوې واخله، خو هغه د داسې کولو څخه انکار وکړ ، ما د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړ تا ته معلومه ده چې زما پلار د احد په غزا کې شهيد سوی دی پر هغه دير پور پاته سوی دی زما دا خوښه ده چې ته هغه پوروړي ووينې، رسول الله ﷺ وفرمايل : ولاړ سه د هر ډول خرماوو بيل بيل کوټې جوړې کړه، نو ما همداسې وکړه او رسول الله ﷺ ته مې د تشريف راوړلو لپاره وويل، پور غوښتونکې چې کله رسول الله ﷺ وليدی نو په سختۍ سره يې د پور غوښتنه وکړه هغه پر ما زره ور سوی

| | |
|---|---|
| الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ تَمْرَةً وَاحِدَةً. رواه البخاري. | وو، نو رسول الله ﷺ چي د پور غوښتونکي طرف عمل وکتی، نو رسول الله ﷺ ولاړ سو او د |

خرماوو د لوی کوټي څخه شاوخوا درې واره وگرځيدی، بيا پر کوټي کښېنستی او وه يې فرمايل: خپل پوروړي را وغواړه (نو هغوئ راغلل) او د رسول الله ﷺ په حکم سره خرماوي تلل پيل سول تر دې چي الله ﷻ زما د پلار ټول پور ادا کړ او زه په دې راضي وم چي الله ﷻ په دغه خرماوو سره زما د پلار ټول پور ادا کړي، که څه هم چي زما خویندو ته يوه خرما هم پاته نه سي، (الله ﷻ د رسول الله ﷺ د دعاء د برکته ټول پور اداکړ او) او د خرماوو کوټه چي څرنگه وه هم هغسي پاته سوه پر کومه کوټه چي رسول الله ﷺ ناست وو، ما هغې ته کتل داسي معلومېدل چي د هغه څخه يوه خرما هم نه ده کمه سوې. بخاري.

### د غوړو په معجزه

| | |
|---|---|
| (۵۶۵۵): وَعَنْهُ قَالَ أَنَّ أُمَّ مَالِكٍ كَانَتْ تُهْدِي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُكَّةٍ لَهَا سَمْنًا فَيَأْتِيهَا بَنُوهَا فَيَسْأَلُونَ الْأُدْمَ وَلَيْسَ عِنْدَهُمْ شَيْءٌ فَتَعْمِدُ إِلَى الَّذِي كَانَتْ تُهْدِي فِيهِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَجِدُ فِيهِ سَمْنًا فَمَا زَالَ يُقِيمُ لَهَا أُدْمَ بَيْتِهَا حَتَّى عَصَرَتْهُ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَصَرْتِيهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَوْ تَرَكْتِيهَا مَا زَالَ قَائِمًا. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي بي بي ام مالك به رسول الله ﷺ ته د تحفې په توگه په کپۍ کي غوړي رالېږل نو ددې زامن به راغلل ددې څخه به يې کتغ غوښتی حال دا چي د هغې سره به د کتغ د پاره هيڅ شی نه وو، نو ام مالك به د هغه کپۍ په لور متوجه سوه کومه کي به يې چي رسول الله ﷺ ته غوړي لېږل او په هغې کي به يې غوړي تر لاسه کول او همېشه به د ام مالك د کور کتغ دغه غوړي وه بيا چي ام |

مالك هغه غوړي وتوړل (ټول راوکښل) نو برکت خيني ولاړی، ام مالك د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او ددې خبري يادونه يې وکړه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تا هغه غوړي ټوله راوکښل، هغې وويل هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که تا هغه پر حال پرې ايښی وای نو په هغو کي به همېشه لپاره غوړي پاته وای. مسلم.

### په خوراک کي د برکت معجزه

| | |
|---|---|
| (۵۶۵۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَبُو طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعِيفًا أَعْرِفُ فِيهِ الْجُوعَ فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي ابوطلحه ﷺ بي بي ام سليم ته وويل: نن مې د رسول الله ﷺ آواز کمزوري واوريدی، زما په خيال رسول الله |

فَقَالَتْ نَعَمْ فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا فَلَفَّتْ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ يَدِي وَلَاثَتْنِي بِبَعْضِهِ ثُمَّ أَرْسَلَتْنِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَهَبْتُ بِهِ فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ النَّاسُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آرْسَلَكَ أَبُو طَلْحَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِطَعَامٍ قُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ مَعَهُ قُومُوا فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ فَقَالَتْ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَانْطَلَقَ أَبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمِّي يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا عِنْدَكِ فَأَتَتْ بِذَلِكَ الْخُبْزِ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً فَأَدَمَتْهُ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَقُولَ ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ثم لعشرة فَأَكَلُوا القوم كلهم حَتَّى شَبِعُوا وَالْقَوْمُ سَبْعُونَ أَوْ ثَمَانُونَ رَجُلًا، متفق عليه وفي رواية لمسلم انه قال ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَدَخَلُوا فَقَالَ كُلُوا وَسَمُّوا اللّٰهَ فَأَكَلُوا حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ ثَمَانِينَ رَجُلًا ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُ الْبَيْتِ وَتَرَكَ

ﷺ وږی دی، ایا ستا سره د خوراك يو شی سته؟ بي بي ام سليم ووېل هو سته، ددې ويلو سره ام سليم د اوربشو يو څو ډوډۍ راوكښلې بيا يې خپل پوړني راواخيست په هغه كي يې ډوډۍ ونغښتل د پوړني بل طرف يې زما پر لاس شاوخوا را وپيچی او زه يې رسول الله ﷺ ته ولېږلم نو يومي ورلې هغه وخت رسول الله ﷺ په مسجد كي تشريف فرماوو او يو څو كسان هم ورسره ناست وه، ما سلام وكړ ، رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وكړه ايا ابوطلحه رالېږلی يې ، ما عرض وكړ هو، بيا يې پوښتنه وكړه ډوډۍ يې دركړې ده ، ما عرض وكړ هو، رسول الله ﷺ هغه خلكو ته چي هلته موجود وه وفرمايل : را ولاړ سئ (يعني راځئ چي ورسو) ددې فرمايلو سره ټول خلك د رسول الله ﷺ سره د ابوطلحه كور ته روان سول ، زه څيني مخكي مخكي روان وم، ابوطلحه ته چي ورسيدم نو د رسول الله ﷺ د راتلو څخه مي خبر كړ، ابوطلحه ام سليم ته وويل : رسول الله ﷺ تشريف راوړي، او صحابه كرام هم ورسره دي او زموږ سره دومره د خوراك سامان نسته چي په ټولو يې وخورو، بي بي ام سليم وويل : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، ابوطلحه د ښه راغلاست ويلو لپاره د كور څخه دباندي ووتی او د رسول الله ﷺ سره يې ملاقات وكړ ، بيا رسول الله ﷺ د ابوطلحه سره تشريف راوړ او وه يې فرمايل : اې ام سليم ! څه خوراك چي دي درسره وي هغه راوړه.

سُؤْرًا، وفي رواية للبخاري قال أَدْخِلْ عَلَيَّ عَشَرَةً حَتَّى عَدَّ أَرْبَعِينَ ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ هَلْ نَقَصَ مِنْهَا شَيْءٌ، وفي رواية لمسلم ثُمَّ أَخَذَ مَا بَقِيَ فَجَمَعَهُ ثُمَّ دَعَا فِيهِ بِالْبَرَكَةِ قَالَ فَعَادَ كَمَا كَانَ فَقَالَ دُونَكُمْ هذا .

ام سليم هغه ډوډۍ راوړه او رسول الله ﷺ ابوطلحه ته حکم وکړ چي هغه ډوډۍ ټوټې ټوټې کړي نو هغه ټوټې ټوټې کړل سول او ام سليم د کپې ځخه غوړي راوکښل چي کټغ سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : (يعني دعاء يې وکړل) ددې ځخه وروسته رسول الله ﷺ حکم وکړ چي لس لس کسان را غواړئ ، نو لسو کسانو ته د خوراك اجازه ورکړل سوه ، هغوئ په ماړه نس ډوډۍ وخوړل بيا هغوئ ولاړل بيا يې وفرمايل اجازه يې ورکړه نورو لسو کسانو ته، نور لس کسان راغلل ددې ځخه وروسته بيا لس کسان وغوښتل سول تر دې چي همداسي ټولو خلکو ښه په ماړه نس ډوډۍ وخوړل ، دا ټول اويا يا اتيا کسان وه، بخاري او مسلم ، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ ابوطلحه ﷺ ته وفرمايل : لس کسان راوغواړه ، هغوئ راغلل نو رسول الله ﷺ وفرمايل : خورئ او د الله ﷺ نوم اخيستو سره خورئ ، هغوئ وخوړل، همداسي اتيا کسانو سره وسول بيا نبي کريم ﷺ او د کور خلکو ډوډۍ وخوړل او خورك لا پاته هم سو، او د بخاري په يوه روايت کي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : لس کسان ما ته راولئ همداسي خلوېښت کسان يې وشميرل ، ذ هغه ځخه وروسته نبي کريم ﷺ وخوړل او ما کتل چي په خوراك کي هيڅ کمي نه ده سوې ، او د مسلم په يوه روايت کي دي چي بيا رسول الله ﷺ پاته خوراك يو ځای کړ او دعاء يې وکړه نو هغه خوراك هم هغسي سو لکه څرنګه چي مخکي وو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ددې ځخه يې خورئ .

**د ګوتو ځخه د اوبو وتلو معجزه**

(٥٦٥٧): وَعَنْهُ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِنَاءٍ وَهُوَ بِالزَّوْرَاءِ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِه فَتَوَضَّأَ الْقَوْمُ قَالَ قَتَادَةُ قُلْتُ لِأَنَسٍ كَمْ كُنْتُمْ قَالَ ثَلَاثَ مِائَةٍ أَوْ زُهَاءَ ثَلَاثِ مِائَةٍ. متفق عليه

د حضرت انس ﷺ ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په زوراء نامي ځای د مديني د بازار سره نژدې تشريف فرما وو، رسول الله ﷺ ته د اوبو يو لوښی راوړل سو ، رسول الله ﷺ په هغه لوښي کي خپل مبارك لاس کېښېښود او اوبه د رسول الله ﷺ د مبارکو ګوتو ځخه رواني سوې او خلکو په هغه سره اودس وکړ و قتاده د انس ځخه پوښتنه وکړه چي هغه وخت تاسو څومره کسان واست، هغه ورته وويل درې سوه يا دې ته نژدې، بخاري او مسلم.

## د خوراک څخه د تسبیح د اواز راتلو معجزه

(۵۶۵۸): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا نَعُدُّ الْآيَاتِ بَرَكَةً وَأَنْتُمْ تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَلَّ الْمَاءُ فَقَالَ اطْلُبُوا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَلِيلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الطَّهُورِ الْمُبَارَكِ وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللَّهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي موږ خلکو به د قرآن کریم آیاتونه یا نبوي معجزې د برکت سبب ګڼل، او تاسو يې د کافرانو د بيرولو سبب ګڼئ . يو وار موږ په يو سفر کي د رسول الله ﷺ سره وو چي اوبه کمي سوې ، رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړ چي يو لږ پاته سوي اوبه راوړئ ، صحابه کرامو په لوښي کي لږ پاته سوي اوبه راوړې، رسول الله ﷺ په هغه لوښي کي خپل مبارک لاس کښېښود، اووه يې فرمايل راځئ پاکونکو د برکت ناکو اوبو په لور متوجه سئ، او برکت د خدای د طرف څخه دی، ما وليدل چي اوبه د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو څخه رواني وې او موږ د هغه خوراک تسبیح هم اوريدل کوم چي خوړل کيدل . بخاري.

## د اوبو معجزه

(۵۶۵۹): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّكُمْ تَسِيرُونَ عَشِيَّتَكُمْ وَلَيْلَتَكُمْ وَتَأْتُونَ الْمَاءَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ غَدًا فَانْطَلَقَ النَّاسُ لَا يَلْوِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ فَبَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ حَتَّى ابْهَارَّ اللَّيْلُ فَمَالَ عَنِ الطَّرِيقِ فَوَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ احْفَظُوا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشَّمْسُ فِي ظَهْرِهِ ثُمَّ قَالَ ارْكَبُوا فَرَكِبْنَا فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ دَعَا بِمِيضَأَةٍ كَانَتْ مَعِي فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوءًا دُونَ وُضُوءٍ قَالَ وَبَقِيَ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ ثُمَّ قَالَ احْفَظْ عَلَيْنَا مِيضَأَتَكَ فَسَيَكُونُ لَهَا نَبَأٌ ثُمَّ أَذَّنَ

د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خطبه وفرمايل، په هغه کي يې بيان وکړ چي تاسو به ددغه شپې په اوله برخه کي او آخره برخه کي سفر کوئ او سبا ته به انشاء الله يو اوبو ته ورسيږئ ، نو خلک بې اختياره روان سول داسي چي د يو بل يې څه پروا نه وه ، د ابوقتاده ﷺ بيان دی چي د هغه شپې په اوله برخه کي رسول الله ﷺ روان وو چي نيمه شپه تيره سوه او رسول الله ﷺ د لاري څخه آخوا سو يو ځای يې سر مبارک کښېښودی ، بيا يې وفرمايل : زموږ د لمانځه حفاظت کوئ (يعني دسهار د لمانځه پر وخت مي راويښ کړئ) تر تولو وړاندي د رسول الله ﷺ سترګي ولګړيدلې چي لمر د رسول الله ﷺ شا مبارکي ته

بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ وَرَكِبَ وَرَكِبْنَا مَعَهُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى النَّاسِ حِينَ امْتَدَّ النَّهَارُ وَحَمِيَ كُلُّ شَيْءٍ وَهُمْ يَقُولُونَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْنَا عَطِشْنَا فَقَالَ لَا هُلْكَ عَلَيْكُمْ ثُمَّ دَعَا بِالْمِيضَأَةِ فَجَعَلَ يَصُبُّ وَأَبُو قَتَادَةَ يَسْقِيهِمْ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ رَأَى النَّاسُ مَاءً فِي الْمِيضَأَةِ تَكَابُّوا عَلَيْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسِنُوا الْمَلَأَ كُلُّكُمْ سَيَرْوَى قَالَ فَفَعَلُوا فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُبُّ وَأَسْقِيهِمْ حَتَّى مَا بَقِيَ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَبَّ فَقَالَ لِي اشْرَبْ فَقُلْتُ لَا أَشْرَبُ حَتَّى تَشْرَبَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ شُرْبًا قَالَ فَشَرِبْتُ وَشَرِبَ قَالَ فَأَتَى النَّاسُ الْمَاءَ جَامِّينَ رِوَاءً. رواه مسلم هكذا في صحيحه وكذا في كتاب الحميدي وجامع الاصول و زاد في المصابيح بعد قوله اخرهم لفظة شربا.

را رسيدلی وو، رسول الله ﷺ وفرمايل : سپاره سئ نو موږ تول سپاره سو او سفر مو تر هغه وخته پوري جاري وساتئ تر څو پوري چي لمر پورته سو، بيا رسول الله ﷺ د سپرلی څخه راکښته سو او د اوداسه کولو لوښی يې وغوښتی چي زما سره وو او په هغه کي لږ اوبه وي ، رسول الله ﷺ په هغه سره اودس وکړ ، مختصر اودس ، د ابو قتاده ﷺ بيان دی د اوداسه څخه وروسته لږ اوبه په هغه لوښي کي پاته سوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل اوداسه لوښي زموږ لپاره خوندي وساتئ يا دي اوبه خوندي وساتل سي ، ځکه چي دير ژر به ددې څخه يو نور ظهور وکړي ، ددې څخه وروسته بلال ﷺ د لمانځه لپاره اذان وکړ او رسول الله ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړ بيا يې د سهار فرض لمونځ دوه رکعته ادا کړ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ هم سپور سو او موږ هم ، او کله چي لمر ښه تود سو او په هر شي کي گرمي پيدا سوه نو هغه وخت موږ هغه خلکو ته ورسيدو (کوم چي زموږ څخه مخکي روان سوی وه) د رسول الله ﷺ په ليدو سره هغه خلکو عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ خو گرمی او تندي څخه هلاك سوو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر تاسو هلاکت نسته، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د اوداسه لوښی را وغوښتی ، رسول الله ﷺ به د لوښي څخه اوبه اچولې او ابوقتاده به په خلکو اوبه څښلې ، خلکو چي په لوښي کي اوبه وليدلې نو يو دم را ولويدل گڼه گونه پر جوړه سوه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د مخلوق سره نيکي او ښېگڼه کوئ (يعني يو بل ته تکليف مه ورکوئ) تاسو تول به په دغه اوبو اوبه سئ ، د ابو قتاده ﷺ بيان دی خلکو همداسي وکړل ، بيا رسول الله ﷺ اوبه را اچولې او ما به په خلکو څښلې تر دې چي زما او رسول الله ﷺ څخه پرته هيڅوك پاته نه سو ، رسول الله ﷺ بيا اوبه را واچولې او ما ته يې وويل وه يې څښه، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! تر

څو پوري چي تاسو اوبه ونه څښئ زه يي نه څښم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل د ډلي اوبه کونکي د ډلي څخه وروسته څښي، ابوقتاده ﷺ وايي ما هم اوبه وڅښلې او رسول الله ﷺ هم، د ابوقتاده بيان دی ددې څخه وروسته خلك اوبو ته ورسيدل په داسي حال کي چي هغوئ په اوبو ماړه او په آرام سره وه، مسلم او دا ډول د حميدي په کتاب او په جامع الاصول کي هم دي خو په مصابيح کي (آخرهم) لفظ او د شربا لفظ زيات راوړل سوی دی.

**په تبوک کي د خوراك د برکت معجزه**

(۵۶۶۰): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَمَا كَانَ يَوْمَ غزوة تبوك أَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ فقال عمر يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ ثُمَّ ادْعُ اللّٰهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ فَقَالَ نَعَمْ فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبَسَطَهُ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِكَفٍّ ذُرَةٍ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَفٍّ تَمْرٍ قَالَ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَسْرَةٍ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ شَيْءٌ يَسِيرٌ فَدَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ قَالَ خُذُوا فِي أَوْعِيَتِكُمْ فَأَخَذُوا فِي أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلَّا مَلَئُوهُ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللّٰهِ لَا يَلْقَى اللّٰهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي د تبوك د غزا په ورځ خلك د لوږي څخه ډير تنگ سول ، حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اي داالله رسوله ! د خلکو څخه پاته سوي توښه راوغواړم، چي خدای پاك ته پر هغه توښه باندي د برکت دعاء وکړې .، رسول الله ﷺ وفرمايل هو ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د پوست دسترخوان راوغوښتی وه بيا يي غوړوی او بيا پاته سوی خوراك يي را وغوښتی، نو خلکو شيان راوړل ، چا يو موټ لوبيا راوړل، چا يو موټ خرما راوړل چا د ډوډۍ ټوټه راوړل تر دي چي پر دسترخوان لږ شيان جمع سول، رسول الله ﷺ د برکت دعاء وکړل بيا يي وفرمايل : خومره چي مو زره غواړي ددې څخه خپل لوښي ډك کړئ ، خلکو لوښي ډك کړل تر دي چي په لښکر کي کوم يو لوښي موجود وو هغه ډك کړل سو ، ابوهريره وايي خلکو په ماړه نس خوراك وکړ او پاته هم سول ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷺ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته او دا چي زه د الله ﷺ رسول يم، څوك چي ددغه دوو خبرو سره يو ځای سي او په دې کي شك نه کوي هغه به جنت نه سي منع کولای . مسلم.

**د ام المؤمنين بي بي زينب په وليمه کي د برکت معجزه**

(۵۶۶۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوْسًا بِزَيْنَبَ فَعَمَدَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى تَمْرٍ وَ سَمْنٍ وَ اَقِطٍ فَصَنَعَتْ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِي تَوْرٍ فَقَالَتْ يَا أَنَسُ اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ بِهَذَا إِلَيْكَ أُمِّي وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُولُ إِنَّ هَذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَذَهَبْتُ فَقُلْتُ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَالَ اذْهَبْ فَادْعُ لِي فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا سَمَّاهُمْ وَادْعُ لِي مَنْ لَقِيتَ فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيتُ فرجعت فَاِذَا الْبَيْتُ غَاصٌّ بِاَهْلِهِ قِيْلَ لِأَنَسٍ عَدَدُكُمْ كَمْ كَانُوا قَالَ زُهَاءَ ثَلَاثِ مِائَةٍ فرايت النبي صلى الله عليه وسلم وضع يده على تلك الحيسة وتكلم بما شاء الله ثم جعل يدعو عَشَرَةً عَشَرَةً يأكلون منه ويقول لهم اذكروا اسم الله وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رجل مِمَّا يَلِيهِ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتَّى أَكَلُوا كُلُّهُمْ قَالَ لِي يَا أَنَسُ ارْفَعْ فَرَفَعْتُ فَمَا أَدْرِي حِينَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِينَ رَفَعْتُ .متفق عليه.

الله ﷺ د بي بي زينب (رض) سره نكاح وسول ، زما مور ام سليم د خرما ، غوړو او پينر حيس ( ) جوړ كړ ، ډكه پياله يې ما ته راكړه او وه يې ويل اې انس ! دا رسول الله ﷺ ته يوسه، او عرض ورته وكړه چې زما مور دا معمولي تحفه ستاسو په خدمت كې راليږلې ده ، او تاسو ته يې سلام عرض كړئ دى او ويلي يې دي اې دالله رسوله ! دا لږ تحفه زموږ د لوري قبوله كړئ، زه ورغلم او څه چې مور راته ويلي وه هغه مې عرض كړل ، رسول الله ﷺ وفرمايل دلته يې كېښېږده او فلانى فلانى سړى را وغواړه چې د هغوئ نومونه يې راته وښودل ، او په لاره كې چې كوم سړى درسره يو ځاى سي هغه هم راوله، نو د چا نومونه چې رسول الله ﷺ ښودلي وه او څوك چې په لاره كې راسره يو ځاى سوى وه هغه مې راوستل، چې د هغوئ تول كور ډك سو، د انس (رض) څخه پوښتنه وسوله چې تاسو څوك كسان واست ؟ هغه وويل درې سوو ته نږدې ، بيا ما وليدل چې رسول الله ﷺ پر هغه خوراك مبارك لاس كېښېښود او دعاء يې وكړه كومه چې خداى ته منظوره وه، بيا يې لس لس كسان د خوراك لپاره را بلل او خوراك كونكو ته به يې ويل د خداى ﷻ په نوم اخيستو سره يې خورئ، او د خپل خپل مخ څخه يې خورئ، كله چې خلكو خوراك وكړ او په نس ښه ماړه سول نو هغوئ ولاړ سول او بله ډله راغلل دغه ډول تولو خلكو خوراك وكړ ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې انس ! پياله را پورته كړه ، ما را پورته كړه ، زه نه سم ويلاى چې كله ما پياله اېښې وه هغه وخت پكښې خوراك زيات وو يا هغه وخت چې ما را پورته كړه . بخاري او مسلم.

## د اوښ معجزه

﴿۵۶۶۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عَلَى نَاضِحٍ قَدْ أَعْيَا فَلَا

د حضرت جابر (رض) څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ په ملگرتيا كې مې غزاگانې وكړې ، زه پر

يَكَادُ يَسِيرُ تلاحق بي النبي صلى الله عليه وسلم فَقَال مَا لِبَعِيرِكَ فقُلْتُ قد عَيِيَ فَتَخَلَّفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَجَرَهُ وَدَعَا لَهُ فَمَا زَالَ بَيْنَ يَدَيِ الْإِبِلِ قُدَّامَهَا يَسِيرُ فَقَالَ لِي كَيْفَ تَرَى بَعِيرَكَ قَالَ قُلْتُ بِخَيْرٍ قَدْ أَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ قَالَ أَفَتَبِيعُنِيه بوقية فَبِعْتُهُ عَلَى أَنَّ لِي فَقَارَ ظَهْرِهِ الى الْمَدِينَةِ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ غَدَوْتُ عَلَيْهِ بِالْبَعِيرِ فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ. متفق عليه.

يو اوبو راکښونکي اوښ سپور وم چي ستړى سوى وو، پر يو ځاى رسول الله ﷺ زما سره يو ځاى سو او پوښتنه يې وکړه ستا په اوښ څه وسول ؟ ما عرض وکړ ستړى سوى دى ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ زما د اوښ تر شا ودريدى او هغه يې هله هله (يعني ژر روان سه) کړى او د هغه لپاره يې دعاء وکړل ، ددې څخه وروسته هغه اوښ تر ټولو اوښانو مخکي وو ، بيا رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي اوس ستا اوښ څنګه دى؟ما عرض وکړ ستاسو د دعاء برکت ور ورسيدى ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په څلو ېښت درهمه يې خرڅوې ؟ ما په دې شرط اوښ خرڅ کړ چي تر مدينې پورې به زه پر سپور ځم ، بيا چي رسول الله ﷺ مدينې ته راورسيدى نو سهار مي اوښ رسول الله ﷺ ته بوتلى، رسول الله ﷺ د اوښ بيه راکړل او اوښ يې هم ما ته راکړ . بخاري او مسلم.

**د تبوک د غزا په وخت کي دري معجزې**

(۵۶۶۳): وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ فَأَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرَى عَلَى حَدِيقَةٍ لِامْرَأَةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْرُصُوهَا فَخَرَصْنَاهَا وَخَرَصَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ وَقَالَ أَحْصِيهَا حَتَّى نَرْجِعَ إِلَيْكِ إِنْ شَاءَ اللهُ وَانْطَلَقْنَا حَتَّى قَدِمْنَا تَبُوكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَهُبُّ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَلَا يَقُمْ فِيهَا أَحَدٌ مِنْكُمْ فَمَنْ كَانَ لَهُ بَعِيرٌ فَلْيَشُدَّ عِقَالَهُ فَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَحَمَلَتْهُ الرِّيحُ حَتَّى أَلْقَتْهُ بِجَبَلَيْ طَيِّئٍ ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتَّى قَدِمْنَا وَادِيَ الْقُرَى فَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْأَةَ عَنْ حَدِيقَتِهَا كَمْ بَلَغَ

د حضرت ابو حميد ساعدي ﷺ څخه روايت دى چي زه د تبوک په غزا کي د رسول الله ﷺ سره روان سوم ، او په وادي قرى کي د يوې ښځي باغ ته ورسيدو ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : ددغه باغ ميوه اندازه کړئ ، موږ اندازه کړل ، او رسول الله ﷺ هم اندازه کړل، رسول الله ﷺ وفرمايل : لس وسقه ميوه به وي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ هغه ښځي ته وفرمايل : هر کله چي ميوه شکوې نو د وزن ياد ساته تر څو پورې چي موږ بيرته راګرځو، ددې څخه وروسته چي موږ روان سوو نو تبوک ته ورسيدو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : نن شپه به پر تاسو نيزه هواء چليږي هيڅوک دي نه

نَمْرُهَا فَقَالَتْ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ. متفق عليه.

دريږي او د چا سره چي اوبه وي د هغه پښې

دي تينګي وتړي ، نو سخت طوفاني باد راغلی يو سړی ودريدی هوا هغه پورته کړ او د طی د غرونو په منځ کي يې وغورځوی ، بيا موږ د مديني په لور متوجه سو او وادي قری ته راورسيدو ، رسول الله ﷺ د باغ والا ښځي څخه پوښتنه وکړه ستا په باغ کي څومره ميوه وسوه، هغې وويل لس وسقه (لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ ورته فرمايلي وه). بخاري او مسلم

## د مصر د فتح پيشګوئي

(٥٦٦٤): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ مِصْرَ وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمَّى فِيهَا الْقِيرَاطُ فَإِذَا فَتَحْتُمُوهَا فَأَحْسِنُوا إِلَى أَهْلِهَا فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا أَوْ قَالَ ذِمَّةً وَصِهْرًا فَإِذَا رَأَيْتَ رَجُلَيْنِ يَخْتَصِمَانِ فِيهَا فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا قَالَ فَرَأَيْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ شُرَحْبِيلَ بْنِ حَسَنَةَ وَأَخَاهُ رَبِيعَةَ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَخَرَجْتُ مِنْهَا. رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډير ژر تاسو به د مصر هيواد فتح کړئ چي په هغه کي به د يو ښکلي نوم قيراط وي، هر کله چي تاسو هغه فتح کړئ نو د هغه اوسيدونکو سره ښه چلن کوئ ځکه چي د مصر والاوو لپاره امان او قرابت دی، يا ئې وفرمايل: چي مصر والاوو لپاره امان دی، او د هغوئ سره يې د خسرګنی قرابت وو، (د رسول الله ﷺ د زوی ابراهيم ﷺ مور ماريه قبطيه د مصر څخه وه، او قرابت د بي بي هاجرې په سبب دی چي د اسماعيل عليه السلام مور وه) بيا هر کله چي تاسو ووينئ چي دوه کسان د يوې خښتي پر ځای جګړه کوي نو ته د هغه ځای څخه وځه، ابوذر وايي ما عبدالرحمن بن شرحبيل بن حسنه او د هغه ورور ربيعه د يوې خښتي پر ځای په جګړه وليدل، نو زه د مصر څخه راغلم. مسلم

## د منافقانو د سخت انجام پيشګوئي

(٥٦٦٥): وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي أَصْحَابِي وفي رواية قال وَ فِي أُمَّتِي اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدُونَ رِيحَهَا حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيكَهُمُ الدُّبَيْلَةُ سِرَاجٌ مِنَ النَّارِ يَظْهَرُ فِي أَكْتَافِهِمْ حَتَّى تَنْجُمَ مِنْ صُدُورِهِمْ. رواه مسلم و سنذكر حديث سهل بن سعد لاعطين هذه الراية غدا في

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په صحابه کرامو کي، او په يوه روايت کي دي چي زما په امت کي دوولس منافقان دي، چي په جنت کي به نه داخليږي، داخليدل خو څه چي د جنت بوی به هم پيدا نه کړي، تر څو پوري چي د ستن په سوري کي اوښ تير نه سي، په دې کي به د اتو

مناقب علي وحديث جابر من يصعد الثنية في جامع المناقب انشاء الله تعالى.

منافقانو شر او فتنه دبیله دفع کړي (دبیله د نس ناسي یا طاعون ناروغي ده) ، دا به د اور یوه شعله وي چي د هغوئ په اوږو کي به پیدا سي او اثر به يې تر سینو پوري رسیږي ، مسلم او ډیر ژر به د سهل بن سعد حدیث لا عطین الخ ، به په مناقب علي کي او د جابر حدیث من یصد .الخ، به انشاء الله په جامع المناقب کي بیان کړل سي.

## دویم فصل

### د بحیرا د راهب واقعه

(۵۶۶۶): عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ خَرَجَ أَبُو طَالِب إِلَى الشَّامِ وَخَرَجَ مَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَشْيَاخٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَلَمَّا أَشْرَفُوا عَلَى الرَّاهِبِ هَبَطُوا فَحَلُّوا رِحَالَهُمْ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ الرَّاهِبُ وَكَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ يَمُرُّونَ بِهِ فَلَا يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ قَالَ فَهُمْ يَحُلُّونَ رِحَالَهُمْ فَجَعَلَ يَتَخَلَّلُهُمْ الرَّاهِبُ حَتَّى جَاءَ فَأَخَذَ بِيَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَذَا سَيِّدُ الْعَالَمِينَ هَذَا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ يَبْعَثُهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ فَقَالَ لَهُ أَشْيَاخٌ مِنْ قُرَيْشٍ مَا عِلْمُكَ فَقَالَ إِنَّكُمْ حِينَ أَشْرَفْتُمْ مِنَ الْعَقَبَةِ لَمْ يَبْقَ شَجَرٌ وَلَا حَجَرٌ إِلَّا خَرَّ سَاجِدًا وَلَا يَسْجُدَانِ إِلَّا لِنَبِيٍّ وَإِنِّي أَعْرِفُهُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ أَسْفَلَ مِنْ غُضْرُوفِ كَتِفِهِ مِثْلَ التُّفَّاحَةِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا فَلَمَّا أَتَاهُمْ بِهِ وَكَانَ هُوَ فِي رِعْيَةِ الْإِبِلِ قَالَ أَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأَقْبَلَ وَعَلَيْهِ غَمَامَةٌ تُظِلُّهُ فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْقَوْمِ وَجَدَهُمْ قَدْ سَبَقُوهُ إِلَى فَيْءِ الشَّجَرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ مَالَ فَيْءُ الشَّجَرَةِ عَلَيْهِ فقال انظروا الى فئ الشجرة مال عليه

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چي (د رسول الله ﷺ اکا) ابوطالب د شام په لور ولاړی، نبئ کریم ﷺ هم ورسره وو او د قریشو یو څو سرداران هم، کله چي راهب ته ورسیدل نو هلته کښته سول او بارونه يې خلاص کړل راهب دوئ ته راووتی او دا لومړنی موقع وه ، ددې څخه مخکي هغه هیڅ یو قافلې والا ته چي دلته به تیریدل د ملاقات لپاره نه راتلی، د راوي بیان دی چي خلکو خپل کجاوې کښته کړي او راهب په هغو کي یو څوك لټوئ تر دې چي هغه رسول الله ﷺ ته راغلی ، د رسول الله ﷺ مبارك لاس يې ونیوی او وه يې فرمایل : دا ددې ټولو قومونوسردار ، ددې ټولو قومونو د پروردګار رسول چي الله تعالی د نړیوالو لپاره رحمت رالیږلی دی، د قریشو ځیني سردارانو پوښتنه ځیني وکړه تا ته دده حال د کوم ځای څخه معلوم دی ، راهب ورته وویل : کله چي تاسو د دوو غرونو د منځ څخه وتلې واست ما ولیدل چي هیڅ یو ډبره او درخته داسي نه وه چي هغو ورته

فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ اللّٰهَ أَيُّكُمْ وَلِيُّهُ قَالُوا أَبُو طَالِب فَلَمْ يَزَلْ يُنَاشِدُهُ حَتّٰى رَدَّهُ أَبُو طَالِب وَبَعَثَ مَعَهُ أَبُو بَكْرٍ بِلَالًا وَزَوَّدَهُ الرَّاهِبُ مِنَ الْكَعْكِ وَالزَّيْتِ. رواه الترمذي.

سجده نه وې کړې، او دا شیان نبي ته سجده کوي، او بیا ما د مهر نبوت څخه و پیژندی چي د رسول الله ﷺ د اوږو د هډوکي لاندې د سیب په ډول واقع دی، ددې څخه وروسته راهب ولاړی، او د قافلې والاوو لپاره یې خوراك تیار کړ ، کله چي یې خوراك راوړ هغه وخت رسول الله ﷺ اوښان پیول ، راهب وویل په هغه پسې څوك ولیږی ، نو رسول الله ﷺ تشریف راوړ په داسې حال کي چي د وریځې یوه ټوټې پر رسول الله ﷺ سایه کړې وه، کله چي رسول الله ﷺ خلکو ته راورسیدی نو وه یې لیدل چي خلك د درختو سایې ته ناست دي، کله چي رسول الله ﷺ کښېنستی نو د درختو ښاخونو پر رسول الله ﷺ راکښته سول ، ددې لیدو سره راهب وویل ددې درختي سایې ته وګورئ چي پر نبي ﷺ را کوږ سو زه تاسو ته په خدای ﷻ قسم درکولو سره پوښتنه کوم دا راته ووایاست چي په تاسو کي دده سرپرست څوك دی ؟ خلکو ورته وویل : ابوطالب، راهب هغه پوه کړ باعث یې کړ او ورته وه یې ویل دی مکې ته بیرته بوځه، نو ابوطالب مکې ته بیرته ولیږی او حضرت ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ سره بلال ولیږی، او راهب رسول الله ﷺ ته ډوډۍ او زیتون د ناشتې لپاره ورسره ورکړل . ترمذي..

## د درختو او ډبرو سلام

(۵۶۶۷): وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِب قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ نَوَاحِيهَا فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت علي بن ابي طالب ﷺ څخه روایت دی چي زه د نبي کریم ﷺ سره په مکه کي وم ، موږ چي به د رسول الله ﷺ سره شاوخوا تلو نو غرونه، ډبرې او درختې چي به مخته راغلې نو هغوئ به دا ویل السلام علیك یارسول الله. ترمذي او دارمي.

## د براق معجزه

(۵۶۶۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِالْبُرَاقِ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ مُلْجَمًا مُسْرَجًا فَاسْتَصْعَبَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ أَبِمُحَمَّدٍ تَفْعَلُ هٰذَا فَمَا رَكِبَكَ أَحَدٌ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ مِنْهُ قَالَ فَارْفَضَّ عَرَقًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي د معراج په شپه براق راوستل چي هغه زین سوی او واګې پر اچول سوې وې، کله چي رسول الله ﷺ د سپرتیا اراده وکړه نو هغه شوخي پیل کړل او رسول الله ﷺ ته سپرتیا مشکل سول ، جبرائیل علیه السلام براق ته وویل ایا ته د محمد ﷺ سره

شوخي کوي او تر ننه پوري پر تا تر ده غوره سرې نه دی سپور سوی چي عزت ناك وي خدای ﷺ ته ، د راوي بيان دی ددې اوريدو سره براق خوله خوله سو . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د معراج يو معجزه**

(٥٦٦٩): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ قَالَ جِبْرِيلُ بِإِصْبَعِهِ فَخَرَقَ بِهِ الْحَجَرَ وَشَدَّ بِهِ الْبُرَاقَ. رواه الترمذي.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:. د معراج په شپه چي کله موږ بيت المقدس ته ورسيدو نو جبرائيل عليه السلام د گوتي په اشاره سره په ډبره کي سورې وکړ او په هغه سوري پوري يې براق وتړی .ترمذي.

**د اوښ شکايت، د درختي سلام او د يو هلك د بد اثر څخه د خلاصون معجزې**

(٥٦٧٠): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ الثَّقَفِيِّ قَالَ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ رَأَيْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَهُ إِذْ مَرَرْنَا بِبَعِيرٍ يُسْنٰى عَلَيْهِ فَلَمَّا رَآهُ الْبَعِيرُ جَرْجَرَ فَوَضَعَ جِرَانَهُ فَوَقَفَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْنَ صَاحِبُ هٰذَا الْبَعِيرِ فَجَاءَهُ فَقَالَ بِعْنِيهِ فَقَالَ بَلْ نَهَبُهُ لَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَإِنَّهُ لِأَهْلِ بَيْتٍ مَا لَهُمْ مَعِيشَةٌ غَيْرُهُ قَالَ أَمَّا إِذَا ذَكَرْتَ هٰذَا مِنْ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ شَكَا كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ فَأَحْسِنُوا إِلَيْهِ ثُمَّ سِرْنَا حتى نزلنا مَنْزِلاً فَنَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتّٰى غَشِيَتْهُ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى مَكَانِهَا فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ هِيَ شَجَرَةٌ اسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا عَزَّ وَجَلَّ فِي أَنْ تُسَلِّمَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنَ لَهَا قَالَ ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَاءٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَهَا بِهِ جِنَّةٌ فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْخَرِهِ ثم قَالَ اخْرُجْ فَإِنِّي مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت يعلي بن مره ثقفي ﷺ څخه روايت دی چي درې شيان ما د رسول الله ﷺ د معجزو څخه وليدل: يو خو دا چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر روان وو چي موږ يو څکيدونکی اوښ وليدی چي د رسول الله ﷺ په ليدو سره يې فرياد وکړی بيا يې خپل غاړه پر مځکه کښېښودل ، رسول الله ﷺ د هغه اوښ سره ودرېدی او پوښتنه يې وکړه ددې اوښ مالك چيري دی ؟ هغه مالك حاضر سو ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته دا اوښ پر ما خرڅ کړه ، هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! تا سو ته يې په بخښه درکوم، که څه هم دا اوښ د داسي کورنۍ دی چي د هغوئ سره ددې پرته بل هيڅ نسته ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر کله چي دا حالت دی کوم چي تا بيان کړ نو اوښ دکار د زياتوالي او د خوراك د کمۍ څخه فرياد وکړ ، نو تاسو دده سره ښه چلن کوئ، دوهمه معجزه بيا موږ مخته ولاړو تر دي چي موږ پر يوځای تم سوو او -

| | |
|---|---|
| ثُمَّ سِرْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مَرَرْنَا بِذٰلِكَ الْمَاءِ فَسَأَلَهَا عَنِ الصَّبِيِّ فَقَالَتْ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا بَعْدَكَ . رواه في شرح السنة. | نبي كريم ﷺ بيده سو يوه درخته په مخكه څيرلو سره راغلل او رسول الله ﷺ يې پټ كړ ، او ددې ښځه وروسته بيرته خپل خاى ته ولاړل، كله |

چي رسول الله ﷺ راويښ سو نو ما ورته دا يادونه وكړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا يوه درخته ده چي د خپل پروردگار څخه يې اجازه غوښتې وه چي هغه د خداى پيغمبر ﷺ ته سلام وكړي، الله تعالى اجازه وركړه هغه د سلام لپاره راغلې وه، د يعلي بيان چي دريمه معجزه ، بيا موږ پر مخ ولاړو او د اوبو سره نژدې تيريدو ، يوې ښځي رسول الله ﷺ ته خپل زوى را وستى چي پر هغه پيريان وه نبي كريم ﷺ د هغه هلك پزه ونيول او وه يې ويل : ووځه زه محمد د خداى رسول (ﷺ) يم، ددې څخه وروسته موږ پر مخ روان سوو او كله چي را ستانه سو او پر هغه اوبو تيريدو نو د هغه هلك د مور څخه رسول الله ﷺ د هلك دحال پوښتنه وكړه ، هغې ورته وويل په هغه ذات دې مې قسم وي چي تاسو يې په حقه راليږلى ياست بيا موږ پر دغه هلك هيڅ د پريشانى خبره ونه ليدل. شرح السنة

## د يو هلك د شيطاني اثر څخه د خلاصون معجزه

| | |
|---|---|
| (۵۶۷۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ بِابْنٍ لَهَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ ابْنِيْ بِهِ جُنُوْنٌ وَإِنَّهُ لَيَأْخُذُهُ عِنْدَ غَدَائِنَا وَعَشَائِنَا فَمَسَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَدَعَا فَثَعَّ ثَعَّةً وَخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ مِثْلُ الْجِرْوِ الْأَسْوَدِ يَسْعٰى . رواه الدارمي. | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي يوه ښځه د خپل زوى سره د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او عرض يې وكړ اې داالله رسوله ! زما زوى ته ليونتوب دى چي سهار او ماښام دوره پر راځي، رسول الله ﷺ د هغه هلك پر سينه خپل لاس مبارك را تير كړ او دعاء يې |

وكړه ، هغه هلك قى وكړ او يو تور شى د كوترې په مثل راووتى چي ځغاستى. ترمذي.

## د درختي معجزه

| | |
|---|---|
| (۵۶۷۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ جِبْرِيْلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ حَزِيْنٌ وَقَدْ تَخَضَّبَ بِالدَّمِ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ مَكَّةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ تُحِبُّ أَنْ نُرِيَكَ آيَةً قَالَ نَعَمْ فَنَظَرَ إِلَى شَجَرَةٍ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ ادْعُ بِهَا فَدَعَا بِهَا فَجَاءَتْ فَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ مُرْهَا فَلْتَرْجِعْ فَأَمَرَهَا فَرَجَعَتْ فَقَالَ | د حضرت انس ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ غمگين ناست وو په وينو لړلى ، ځكه چي مكې والاوو ورته زخمونه رسولي وه، په دغه حال كي جبرائيل عليه السلام راغلى او وه يې فرمايل : اې داالله رسوله ! ايا تاسو خوښوئ چي زه درته يوه معجزه وښيم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو، نوجبرائيل عليه السلام د هغه |

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْبِيْ حَسْبِيْ . رواه الدارمي.

درختي په لور وکتل چي د هغه شا ته وه، بيا يې رسول الله ﷺ ته وويل: دا درخته را وغواړه، رسول الله ﷺ هغې ته اشاره وکړه هغه درخته راغلل او د رسول الله ﷺ مخته ودریدل، بیا جبرائیل علیه السلام ورته وویل اوس دې ته حکم وکړه چي بیرته ولاړه سي، رسول الله ﷺ هغې ته حکم وکړ نو هغه بیرته ولاړل، ددې په لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: زما لپاره دا بس دي ، زما لپاره دا بس دي . دارمي.

**د رسول الله ﷺ د رسالت شاهدي د درختي په ژبه**

(۵۶۷۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَأَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ فَلَمَّا دَنَا قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ وَمَنْ يَّشْهَدُ عَلَى مَا تَقُوْلُ قَالَ هٰذِهِ السَّلَمَةُ فَدَعَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِشَاطِئِ الْوَادِيْ فَأَقْبَلَتْ تَخُدُّ الْأَرْضَ حَتّٰى قَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَاسْتَشْهَدَهَا ثَلاَثًا أَنَّهُ كَمَا قَالَ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَنْبِتِهَا . رواه الدارمي.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي یو صحرایي راغلی ، کله چي هغه رسول الله ﷺ ته نږدې سو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا ته ددې خبرې شاهدي ورکوې چي د یوه خدای ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته او محمد ﷺ د خدای بنده او د هغه رسول دی؟ صحرایي وویل : بل څوك ددې شاهدي ورکوي کوم چي تا وویل ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل دا د سلمه درخته به شاهدي وکړي، ددې فرمایلو سره رسول الله ﷺ هغه درختي ته نعرې کړې ، رسول الله ﷺ د شیلې پر غاړه وو هغه درخته په مځکه پرې کولو سره رسول الله ﷺ ته راغلل او مخته یې ودریدل، رسول الله ﷺ د هغې څخه درې واره شاهدي وغوښتل او هغه درختي درې واره شاهدي ورکړه ، ددې څخه وروسته هغه درخته خپل ځای ته ولاړل . دارمي.

**د خرما د وانبکي شاهدي**

(۵۶۷۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ قَالَ إِنْ دَعَوْتُ هٰذَا الْعِذْقَ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُوْلُ اللهِ فَدَعَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَنْزِلُ مِنَ النَّخْلَةِ حَتّٰى سَقَطَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي یو صحرایي د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو وه یې ویل په کومه علامه به زه پوه سم چي تاسو نبي یاست؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه د خرما دغه وانبکی را غواړم هغه به شاهدي ووایي چي زه د خدای رسول یم، رسول الله ﷺ هغه وانبکی را وبلی

قَالَ ارْجِعْ فَعَادَ فَأَسْلَمَ الْأَعْرَابِيُّ. رواه الترمذي.

او هغه د درختي څخه په راکښنته کيدو سو ، د رسول الله ﷺ نژدې پر مخکه را ايله سو ، بيا رسول الله ﷺ ورنه وفرمايل : بيرته ولاړ سه ، هغه وابنکی بيرته ولاړی ، ددې معجزې ليدو سره هغه صحرايي مسلمان سو . ترمذي.

**د شرموښ خبري کول**

(۵۶۷۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ ذِئْبٌ إِلَى رَاعِيْ غَنَمٍ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً فَطَلَبَهُ الرَّاعِيْ حَتّٰى انْتَزَعَهَا مِنْهُ قَالَ فَصَعِدَ الذِّئْبُ عَلٰى تَلٍّ فَأَقْعٰى وَاستنفرو وَقَالَ قَدْ عَمَدْتُ إِلٰى رِزْقٍ رَزَقَنِيْهِ اللّٰهُ أَخَذْتُهُ ثُمَّ انْتَزَعْتَهُ مِنِّيْ فَقَالَ الرَّجُلُ تَاللّٰهِ إِنْ رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ الذِّئْبُ أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا رَجُلٌ فِي النَّخَلَاتِ بَيْنَ الْحَرَّتَيْنِ يُخْبِرُكُمْ بِمَا مَضٰى وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ بَعْدَكُمْ فَكَانَ الرَّجُلُ يَهُوْدِيًّا فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ وَأَسْلَمَ فَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا أَمَارَاتٌ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ قَدْ أَوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْرُجَ فَلَا يَرْجِعُ حَتّٰى يُحَدِّثَهُ نَعْلَاهُ وَسَوْطُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي يو شرمښ راغلی او د شپانه د رمې څخه يې يو پسه پورته کړ، شپانه ور پسې ورغلی او پسه يې څيني ونيوی، دا بوهريره بيان دی چي بيا هغه شرمښ يوې غونډۍ ته وختی او هلته د اقعاء په دول کښينستی وه يې ويل : ما د خپل رزق اراده کړې وه چي الله ﷺ راکړې، ما پر هغه قبضه وکړه مگر تا زما څخه هغه په زور واخيست ، شپانه ورته وويل : قسم په خدای داسي عجيبه کار ما هيڅکله نه دی ليدلی کوم چي نن مي ليدلی دی چي شرمښ خبري کوي، شرمښ ورته وويل ددې څخه زيات عجيبه د هغه سړي حال دی چي په درختو کي دی ، د خرماوو هغه درختي چي دوو ډبرينو مځکو په منځ کي واقع دی (يعني مدينه طيبه) ، هغه سړی د تيرو خبرو خبر ورکوي او کومي پيښني چي ستاسو څخه وروسته کيدونکي دي هغه هم ښيي، د ابوهريره ﷺ بيان دی چي هغه شپانه يهودي وو، د شرمښ څخه د دا خبري په اوريدو سره هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پيښنه يې ورته بيان کړل او مسلمان سو، رسول الله ﷺ دا خبره تصديق کړه، او بيا يې وفرمايل : دا د قيامت تر مخه علامې دي هغه وخت نژدې دی چي سړی به د کور څخه ووځي کور ته به لا نه وي راغلی چي د هغه څپلی او د هغه د غمچيني تسمه هغه ته تولي خبري بيان کړي چي د هغه په نه شتون کي دده اهل کړي وي . شرح السنه.

**برکت به د کوم ځای څخه راتلی؟**

(۵۶۷۶): وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ

حضرت ابوالعلاء ﷺ د حضرت سمره بن جندب

قَالَ كُنَّا مَعَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَدَاوَلُ فِي قَصْعَةٍ مِنْ غَدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ يَقُومُ عَشَرَةٌ وَيَقْعُدُ عَشَرَةٌ قُلْنَا فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ قَالَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَعْجَبُ مَا كَانَتْ تُمَدُّ إِلَّا مِنْ هَاهُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى السَّمَاءِ. رواه الترمذي والدارمي.

ﷺ ښخه روایت کوي موږ خلکو به د يوې کاسې ښخه د سهار ښخه آن تر ماښام پورې نوبت په نوبت خوراك کوی لس کسه به ولاړېدل او لس کسه به کښېنستل، موږ د سمره ښخه پوښتنه وکړل د کاسې سره به په څه شي سره مرسته کیدل، (یعني په کاسه کي به د خوراك زیاتوب څنګه کیدی)، هغه وویل : تاسو پر څه شي تعجب کوئ په هغه کي به آسماني برکت ګډیدی او خوراك به زیاتیدی او په لاس سره یې اسمان ته اشاره وکړه ، ترمذي او دارمي.

## د بدر په غزا کي د قبولیت دعاء

(٥٦٧٧): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلَاثِمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ قَالَ اَللَّهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ اَللَّهُمَّ إِنَّهُمْ عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ اَللَّهُمَّ إِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَأَشْبِعْهُمْ فَفَتَحَ اللّٰهُ لَهُ فَانْقَلَبُوْا وَمَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدْ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوْ جَمَلَيْنِ وَاكْتَسَوْا وَشَبِعُوْا . رواه أبو داود.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ ښخه روایت دی چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ د درو سوو پنځلس (٣١٥) کسانو سره ووتی او دا دعاء یې وکړه اې الله ﷻ دا خلك پر پښو دي دوئ ته سپرلۍ ورکړې ، اې الله ﷻ دوئ لوڅ دي جامه ورکړې، اې الله ﷻ دوئ وږي دي په ماړه نس دودی ورکړې، نو الله تعالی مسلمانانو ته فتح ورکړه او هغوئ په داسي حال کي راستانه سول چي په هغوئ کي یو سړی هم داسي نه وو چي یو یا دوه اوښه به ورسره نه وه ، په جامو پټ او په نس ماړه هم سول . ابوداؤد.

## یو زیری او یو هدایت

(٥٦٧٨): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ مَنْصُوْرُوْنَ وَمُصِيْبُوْنَ وَمَفْتُوْحٌ لَكُمْ فَمَنْ أَدْرَكَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ وَلْيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَلْيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ . رواه أبو داود.

د حضرت ابن مسعود ﷺ ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسي سره به (د الله ﷻ له طرفه) مرسته وکړل سي او تاسي به غنیمتونه پیدا کړئ او تاسي ته به فتحه نصرت درکړل سي نو په تاسي کي چي څوك دغه حال تر لاسه کړي نو وه دي درېږي او امر باالمعروف او نهي عن المنکر دي کوي . ابوداؤد.

**په زهر لړلو غوښو شاهدي**

(۵۶۷۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ يَهُودِيَّةً مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ فقال رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ وَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا فَقَالَ لَهَا أَسَمَمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ فَقَالَتِ الْيَهُودِيَّةُ مَنْ أَخْبَرَكَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي لِلذِّرَاعِ قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اسْتَرَحْنَا مِنْهُ فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا وَتُوُفِّيَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ الَّذِينَ أَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَاحْتَجَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كَاهِلِهِ مِنْ أَجْلِ الَّذِي أَكَلَ مِنَ الشَّاةِ حَجَمَهُ أَبُو هِنْدٍ بِالْقَرْنِ وَالشَّفْرَةِ وَهُوَ مَوْلًى لِبَنِي بَيَاضَةَ مِنَ الْأَنْصَارِ. رواه ابوداؤد والدارمي.

د حضرت جابر ﷜ څخه روايت دی چي د اهل خيبر يوې يهودي ښځي د يو وريي په غوښه کي زهر ګډ کړي وه بيا يې د تحفې په توګه رسول الله ﷺ ته هغه غوښه راوړل، رسول الله ﷺ د هغې څخه ورون واخيست ، خپله يې هم وخوړل او صحابه کرامو هم ، (د خوراك په دوران کي) رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وويل لاسونه پورته کړئ (يعني مه يې خورئ)، بيا يې په هغه يهودۍ پسي څوك وليږی او را وه يې غوښتله او هغې ته يې وفرمايل : ايا تا په دغه (غوښه) کي زهر ګډ کړي دي ؟ هغې ورته وويل : تاسو ته چا وويل ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ما ته (د غوښو) دغه ورون وويل کوم چي (زما) په لاس کي دی ، هغې وويل : هو ما پکښي ګډ کړي دي، او په دې خيال مي پکښي اچولي وه که تاسو نبي ياست نو هيڅ تاوان به درته ونه رسوي او که نه ياست نو موږ به در څخه خلاص سو ، رسول الله ﷺ هغه يهودۍ معاف کړه او سزا يې ور نه کړل، او په صحابه کرامو کي چي کومو کسانو هغه غوښه خوړلې وه هغوئ مړه سوه، او د دغه غوښو خوړلو له جهته رسول الله ﷺ د خپلو اوږو په منځ کي (د ويني کښلو لپاره) ښکر ولګوی، او ابوهند ښکر و لګوی په ښکر او په چاړه سره او ابوهند د بني بياضه ازاد کړل سوی غلام وو. ابوداؤد او دارمي.

(۵۶۸۰): وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ أَنَّهُمْ سَارُوا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَأَطْنَبُوا السَّيْرَ حَتَّى كَانَتْ عَشِيَّةٌ فَجَاءَ فَارِسٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي طلعت طَلَعْتُ جَبَلَ كَذَا وَكَذَا فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ عَلَى بَكْرَةِ آبَائِهِمْ بِظُعُنِهِمْ وَنَعَمِهِمْ

د حضرت سهل بن حنظليه ﷜ څخه روايت دی چي د حنين په جنګ کي صحابه کرام د رسول الله ﷺ سره روان سول او اوږد سفر يې وکړ تر هغو چي شپه سول، يو سپور حاضر سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زه پر داسي او

اجتمعوا إِلَى حُنَيْنٍ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ تِلْكَ غَنِيمَةُ الْمُسْلِمِينَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَحْرُسُنَا اللَّيْلَةَ قَالَ أَنَسُ بْنُ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيُّ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ ارْكَبْ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَقَالَ اسْتَقْبِلْ هٰذَا الشِّعْبَ حَتّٰى تَكُونَ فِي أَعْلَاهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مُصَلَّاهُ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ هَلْ أَحْسَسْتُمْ فَارِسَكُمْ فقال رجل يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَحْسَسْنَاهُ فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَهُوَ يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ حَتّٰى إِذَا قَضٰى صَلَاتَهُ وَسَلَّمَ قَالَ أَبْشِرُوا فَقَدْ جَاءَكُمْ فَارِسُكُمْ فَجَعَلْنَا نَنْظُرُ إِلَى خِلَالِ الشَّجَرِ فِي الشِّعْبِ فَإِذَا هُوَ قَدْ جَاءَ حَتّٰى وَقَفَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي انْطَلَقْتُ حَتّٰى كُنْتُ فِي أَعْلَى هٰذَا الشِّعْبِ حَيْثُ أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ اطَّلَعْتُ الشِّعْبَيْنِ كِلَيْهِمَا فَلَمْ أَرَ أَحَدًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَزَلْتَ اللَّيْلَةَ قَالَ لَا إِلَّا مُصَلِّيًا أَوْ قَاضِيًا حَاجَةً قَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا عَلَيْكَ أَنْ لَا تَعْمَلَ بَعْدَهَا. رواه ابوداؤد.

داسي غره ختلي وم «د غره كيفيت يې ورته بيان كړ، ما وليدل چې د هوازن قبيله د خپل پلار پر اوښ راغلي ده «دا يو محاوره ده يعني د دې قبيلې خاوندانو په خپلو كې خبرې اترې كولې چې مراد ځيني ټوله قبيله ده»، د هغه قبيلې سره د هغوئ ښځې او اوښان هم وه او ذا ټول د حنين په لور روان سوي دي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ په مسكا سو او وه يې فرمايل: كه الله ته منظوره وي نو سبا به دا ټول شيان د مسلمانانو غنيمت وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: نن شپه به زموږ چوكيداري څوك كوي؟ انس بن ابي مرثد غنوي ؓ عرض وكړ اې دالله رسوله! دا خدمت به زه تر سره كړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ښه دی سپور سه، حضرت انس ؓ پر خپل آس سپور سو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دغه درې ته مخ كړه تر هغو چې د غره سر ته ورسېږې، كله چې سهار سو نو رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره تشريف يووړ. دوه ركعته لمونځ يې وكړ بيا يې وفرمايل ايا تاسو خپل سپور ليدلی دی يو سړي عرض وكړ چې نه مو دی ليدلی، ددې څخه وروسته اقامت وسو «لمونځ پيل سو» رسول الله ﷺ «په لمانځه كې» د درې خوا ته كتل كله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل: خوشحاله سئ ستاسو سپور را روان دی، موږ د درختو په منځ كې د غره د شيلې خوا ته وكتل چې سپور را روان وو، سپاره د رسول الله ﷺ مخكې د حاضريدو سره عرض وكړ چې زه ددې ځای څخه روان سوم او د غره سر ته ورسيدم كوم ځای ته چې تاسو د ورتلو حكم كړی وو، كله چې سهار سو نو پر دواړو درو باندې وختلم هلته مې هيڅوك ونه ليدل، رسول الله ﷺ هغه سپور ته

وفرمايل : ايا ته د شپې د آس څخه كښته سوى وې هغه وويل يوازې دلمانځه يا حاجت انساني لپاره كښته سوى وم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه چيرې ته ددې څخه وروسته يو عمل ونه كړې نو هم هيڅ پروا نه سته . ابوداؤد.

### په خرماوو كې د بركت معجزه

(٥٦٨١): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمَرَاتٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ فَضَمَّهُنَّ ثُمَّ دَعَا لِي فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ فَقَالَ خُذْهُنَّ فَاجْعَلْهُنَّ فِي مِزْوَدِكَ كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ فِيهِ يَدَكَ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذَلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ وَسْقٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ وَكَانَ لَا يُفَارِقُ حِقْوِي حَتَّى كَانَ يَوْمُ قُتِلَ عُثْمَانُ فَإِنَّهُ انْقَطَعَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دى چې ما رسول الله ﷺ ته لږ خرماوې راوړلې او عرض مې وكړ اې دالله رسوله د خداى ﷻ څخه په دې كې دبركت دعاء وغواړه، رسول الله ﷺ هغه خرماوې په خپل لاس مبارك كې واخيستې او بيا يې د بركت دعاء وكړه، بيا يې وفرمايل : دا يوسه او په خپل لوښي كې يې واچوه هر كله چې ته ددې څخه يو څه اخيستل غواړې نو په لوښي كې لاس ور دننه كړه او راكاږه يې مگر لوښي په خالي كولو سره مه څنډه، د ابوهريره ؓ بيان دى چې ما د هغه خرماوو څخه دومره دومره پيمانې د خداى ﷻ په لاره كې مصرف كړې مونږ به دغه خرماوې خوړلې او خلكو ته مو هم وركولې او دا لوښى به هيڅكله زما څخه بيل نه وو ، تر دې چې د حضرت عثمان ؓ د شهادت په ورځ هغه لوښى ضائع سو . ترمذي.

## دريم فصل

### د هجرت واقعه او د غار ثور معجزه

(٥٦٨٢): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَشَاوَرَتْ قُرَيْشٌ لَيْلَةً بِمَكَّةَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِذَا أَصْبَحَ فَأَثْبِتُوهُ بِالْوَثَاقِ يُرِيدُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلِ اقْتُلُوهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ أَخْرِجُوهُ فَأَطْلَعَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ذَلِكَ فَبَاتَ عَلِيٌّ عَلَى فِرَاشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى لَحِقَ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دى چې يو شپه قريشو په مكه كې مشوره وكړه، ځينو وويل چې په سهار كيدو سره هغه (يعني رسول الله ﷺ) په رسى سره ټينگ و تړئ، ځينو دا مشوره وركړه چې مړ يې كړئ او ځينو وويل جلا وطنه يې كړئ ، الله ﷻ خپل نبي د كفارو ددغه مشورې څخه خبر كړ ، هغه شپه د نبي كريم ﷺ پر بستره حضرت علي ؓ تيره كړه او نبي كريم

بِالْغَارِ وَبَاتَ الْمُشْرِكُونَ يَحْرُسُونَ عَلِيًّا يَحْسَبُونَهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَصْبَحُوا ثَارُوا عليه فَلَمَّا رَأَوْا عَلِيًّا رَدَّ اللّٰهُ مَكْرَهُمْ فَقَالُوا أَيْنَ صَاحِبُكَ هٰذَا قَالَ لَا أَدْرِي فَاقْتَصُّوا أَثَرَهُ فَلَمَّا بَلَغُوا الْجَبَلَ اختلط عَلَيْهِمْ فَصَعِدُوا الْجَبَلَ فَمَرُّوا بِالْغَارِ فَرَأَوْا عَلَى بَابِهِ نَسْجَ الْعَنْكَبُوتِ فَقَالُوا لَوْ دَخَلَ هَاهُنَا لَمْ يَكُنْ نَسْجُ الْعَنْكَبُوتِ عَلَى بَابِهِ فَمَكَثَ فِيهِ ثَلَاثَ لَيَالٍ. رواه احمد.

ﷺ د مكې څخه ووتی په غار ثور کې يې شپه تېره کړه، دلته کفارو ټوله شپه د حضرت علي ﷺ چوکيداري کول په دې گمان چې دا نبي ﷺ دی، هغوئ پر رسول الله ﷺ راغلل مګر د رسول الله ﷺ پر ځای يې حضرت علي ﷺ وليدی ، نو خدای ﷺ د هغوئ مکر او چم هم پر هغوئ واچوئ او هغوئ حيران پاته سول ، بيا هغوئ د حضرت علي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ستا دوست څه سو؟ حضرت علي ﷺ ورته وويل

نه يم خبر، ددې اوريدو سره کفارو د رسول الله ﷺ پر قدم باندې د لټولو لپاره روان سول جبل ثور ته چې ورسيدل نو پل ورته مشتبه سو ، بيا هغوئ پر غره سرېيره وختل او د غار ثور خولې ته ورسيدل د غار پر خوله يې د جولاګې (عنکبوت) جاله وليدله نو په خپلو کې يې وويل که هغه په دغه غار کې ننوتلی وي نو د جولاګې جاله به دلته نه وای ، رسول الله ﷺ په دغه غار کې درې شپې دننه وو . احمد.

## د خيبر د يهوديانو سره اړوند معجزه

(۵۶۸۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ فِيهَا سَمٌّ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْمَعُوا لِي مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنَ الْيَهُودِ فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْهُ فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَبُوكُمْ قَالُوا فُلَانٌ قَالَ كَذَبْتُمْ بَلْ أَبُوكُمْ فُلَانٌ فَقَالُوا صَدَقْتَ وَبَرِرْتَ قَالَ هَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ وَإِنْ كَذَبْنَاكَ عَرَفْتَ كَذِبَنَا كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا فَقَالَ لَهُمْ مَنْ أَهْلُ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې د خيبر د فتح څخه وروسته رسول الله ﷺ ته د پسه غوښه په تحفه کې ور کړل سول چې په هغه کې زهر ګډ سوي وه ، رسول الله ﷺ وويل چې په خيبر کې دننه څومره يهوديان دي هغوئ دې تول ما ته راوستل سي، کله چې ټول يهود جمع کړل سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستاسو څخه د يوې خبرې پوښتنه کوم د هغې جواب راکړئ، او ورسره دا هم درته وايم که تاسو غلط جواب راکړئ او ما د هغه رد وکړ نو ايا تاسو به زما د اطلاع تصديق وکړئ ؟ هغوئ وويل هو اې ابوالقاسم! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

النَّارِ فَقَالُوا نَكُوْنُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُوْنَنَا فِيهَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْسَئُوا فِيهَا وَاللّٰهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا ثُمَّ قَالَ لَهُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ قَالُوا نَعَمْ فَقَالَ هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هٰذِهِ الشَّاةِ سَمًّا فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذٰلِكَ فَقَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا نَسْتَرِيحُ مِنْكَ وَإِنْ كُنْتَ صَادِقًا لَمْ يَضُرَّكَ. رواه البخاري، متفق عليه.

ستاسو پلار څوك دى ؟ هغوئ ورته وويل فلانى سړى ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو درواغ وويل ستاسو پلار فلانى سړى دى هغوئ وويل هو تا رېښتيا وويل او ښه دي وويل، بيا هغوئ ته رسول الله ﷺ وفرمايل : كه زه ستاسو څخه د يوې خبرې پوښتنه وكړم نو تاسو به زما د اطلاع تصديق وكړئ ؟ هغوئ وويل هو، كه موږ درواغ وويل نو ته به زموږ درواغ معلوم كړئ، څرنگه چي زموږ د پلار په باره كي دي زموږ درواغ معلوم كړل نو رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمايل : دوزخي څوك دى؟ هغوئ وويل په دوزخ كي به لږ ورخي موږ يو او بيا تاسو به زموږ جانشين ياست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زيان كاره به اوسئ پكښې قسم په خداى موږ به هيڅكله په دوزخ كي ستاسو جانشين نه يو ، بيا ورته رسول الله ﷺ وفرمايل : كه زه ستاسو څخه د يوې خبرې پوښتنه وكړم نو ايا تاسو به زما د بيان تصديق وكړئ؟ هغوئ وويل هو ، اې ابوالقاسم ، نو رسول الله ﷺ پوښتنه څيني وكړه ايا تاسو په دغه غوښه كي زهر گډ كړي دي ؟ هغوئ وويل هو، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه په كوم خيال مو پكښې زهر اچولي وه؟ هغوئ وويل : زموږ دا خيال وو كه ته درواغجن يې نو موږ به در څخه خلاص سو او كه ته رېښتوني يې نو زهر ضرر در ونه رسوي . بخاري .

## تر قيامته پوري د ټولو واقعو خبر ورکولو معجزه

(٥٦٨٤): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أَخْطَبَ الانصاري قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوما الْفَجْرَ وَصَعِدَ على الْمِنْبَرِ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ فَنَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتَّى حَضَرَتِ الْعَصْرُ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَأَخْبَرَنَا بِمَا هُوَ كَائِنٌ الى يوم القيامة قال فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا. رواه مسلم.

د حضرت عمرو بن اخطب انصاري ﷺ څخه روايت دى چي يوه ورځ نبي كريم ﷺ د سهار لمونځ راكړ بيا منبر ته وختى او وعظ يې وكړ چي دا لړۍ د ماپښين د لمانځه تر وخته پوري جاري وه، بيا رسول الله ﷺ دمنبر څخه راكښته سو او د ماپښين لمونځ يې راكړ نو بيا يې منبر ته تشريف يووړ او بيان يې راته وكړ تر دې چي د مازديگر د لمانځه وخت سو بيا رسول الله ﷺ د منبر څخه راكښته سو او لمونځ يې راكړ او بيا يې منبر ته تشريف يووړ، تر دې چي لمر ولويدى ،

په دغه وعظ کي رسول الله ﷺ د هغه ټولو خبرو ذکر وکړ کومي چي تر قیامته پوري راتلونکي دي ، د عمرو بن اخطب ﷺ بیان دی چي په موږ کي (نن) تر ټولو زیات علم والا سړی هغه دی چي هغه خبري یې په یاد کړي وي . مسلم.

**د پیریانو د راتګ خبر د درختي په ذریعه**

(۵۶۸۵): وَعَنْ مَعْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَأَلْتُ مَسْرُوقًا مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُوكَ يَعْنِي عَبْدَ اللّٰهِ ابن مسعود أَنَّهُ قال آذَنَتْ بِهِمْ شَجَرَةٌ. متفق عليه.

د حضرت معن بن عبدالرحمن ﷺ څخه روایت دی چي ما د خپل پلار څخه دا اوریدلي دي چي ما د مسروق څخه پوښتنه وکړه چي نبي کریم ﷺ ته چا په هغه شپه د پیریانو خبر ورکړی وو کوم وخت چي هغوئ قرآن کریم ته غوږ نیولی وو مسروق وویل ما ته ستا پلار یعني عبدالله بن مسعود ﷺ بیان وکړ چي رسول الله ﷺ ته د پیریانو د راتلو خبر یوې درختي ورکړی وو. بخاري او مسلم .

**د جنګ څخه مخکي د کافرانو نومونه ښودل**

(۵۶۸۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَتَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ وَكُنْتُ رَجُلًا حَدِيدَ الْبَصَرِ فَرَأَيْتُهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَآهُ غَيْرِي فَجَعَلْتُ أَقُولُ لِعُمَرَ أَمَا تَرَاهُ فَجَعَلَ لَا يَرَاهُ قَالَ يَقُولُ عُمَرُ سَأَرَاهُ وَأَنَا مُسْتَلْقٍ عَلَى فِرَاشِي ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا عَنْ أَهْلِ بَدْرٍ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُرِينَا مَصَارِعَ أَهْلِ بَدْرٍ بِالْأَمْسِ يَقُولُ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ قَالَ عُمَرُ وَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا أَخْطَئُوا الْحُدُودَ الَّتِي حَدَّهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجُعِلُوا فِي بِئْرٍ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِمْ فَقَالَ يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ هَلْ وَجَدْتُمْ مَا

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي موږ د عمر بن خطاب ﷺ سره په مینځ د مکه او مدینه کي وو چي موږ د میاشتي د لیدو کوښښ وکړ زه په ټولو خلکو کي تیز نظره وم ، ما میاشت ولیدل او په موږ کي یو سړی هم داسي نه وو چي هغه میاشت لیدلي وای ، ما عمر بن خطاب ﷺ ته میاشت ور ښودله او ورته وه مي ویل : ایا تاسو میاشت نه وینئ مګر هغه ته په نظر رانغله هغه وویل کله چي زه پر خپله بستره پریوځم نو ضرور به یې ووینم ، ددې څخه وروسته عمر بن خطاب ﷺ د بدر پېښې بیانولې او وه یې فرمایل : رسول الله ﷺ د جنګ څخه یوه ورځ مخکي موږ ته هغه ټول ځایونه ښودلي وه په کومو ځایو کي چي به مشرکان قتلیدل، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : سبا به دلته انشاء الله

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ حَقًّا فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي اللّٰهُ حَقًّا فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا لَا أَرْوَاحَ فِيهَا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَرُدُّوا عَلَيَّ شَيْئًا. رواه مسلم.

فلانی سری مړ کيږي اوسبا به دلته انشاء الله د فلاني سړي مړی پروت وي، او سبا به انشاء الله پر دغه ځای فلانی مشرك مړ پروت وي، د حضرت عمر ﷺ بيان دی قسم په هغه ذات چي هغه رسول د خدای په حق سره راليږلی دی کوم ځايونه چي رسول الله ﷺ ښودلي وه د هغه ځخه د ذرې په اندازه هم تجاوز ونه سو، بيا هغه کافران په ځاه کي يو پر بل سربيره وغورځول سول، بيا رسول الله ﷺ هغه ځاه ته ورغلی او وه يې فرمايل: اې فلاني د فلاني زويه! اې فلانی د فلاني زويه! ايا تاسو هغه شئ حق او درست وليدی چي د هغه وعده خدای او د هغه رسول در سره کړې وه ، ما خو هغه شی حق او درست وليدی چي د هغه وعده خدای راسره کړې وه ، ددې اوريدو سره حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو د چا سره خبري کوئ ؟ دا خو داسي بدنونه دي چي روح پکښي نسته، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل څه چي زه وايم هغوئ يې ستاسو ځخه زيات اوري مگر په دوي کي د جواب ورکولو قدرت نسته. مسلم.

**يو پيشگوئي او د هغې صداقت**

(٥٦٨٧): وَعَنْ أُنَيْسَةَ بِنْتِ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ عَنْ أَبِيهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى زَيْدٍ يَعُودُهُ مِنْ مَرَضٍ كَانَ بِهِ قَالَ لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْ مَرَضِكَ بَأْسٌ وَلٰكِنْ كَيْفَ لَكَ إِذَا عُمِّرْتَ بَعْدِي فَعَمِيتَ قَالَ أَحْتَسِبُ وَأَصْبِرُ قَالَ إِذَنْ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالَ فَعَمِيَ بَعْدَ مَا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ رَدَّ اللّٰهُ بَصَرَهُ ثُمَّ مَاتَ.

حضرت بي بي انيسه لور د زيدبن ارقم (رض) د خپل پلار ځخه روايت کوي چي زيد بن ارقم ﷺ ناروغ سو ، رسول الله ﷺ د هغه پوښتني ته راغلی او وه يې فرمايل : ستا ناروغي خطرناكه نه ده مگر هغه وخت به ستا څه حال وي چي زما ځخه وروسته ستا عمر اوږد وي او ته ړوند سي، زيد بن ارقم ﷺ عرض وکړ زه به د خدای ﷺ ځخه د ثواب غوښتونکی يم او صبر به کوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل بيا خو به ته بې حسابه جنت ته ځې، د راوي بيان دی چي د نبي کريم ﷺ د وفات ځخه وروسته د زيد بن ارقم بينايي ختمه سوه او څه وخت وروسته بيا الله تعالی هغه ته بينايي ورکړه او د هغه وروسته هغه مړ سو . بيهقي.

**پر نبي ﷺ دروغ ويلو عذاب**

(٥٦٨٨): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَقَوَّلَ عَلَيَّ مَالَمْ أَقُلْ فَلْيَتَبَوَّأْ

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي ما ته يو داسي

مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ وَذٰلِكَ أَنَّهُ بَعَثَ رَجُلًا فَكَذَبَ عَلَيْهِ فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوُجِدَ مَيِّتًا وَقَدِ انْشَقَّ بَطْنُهُ وَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

خبره منسوبه کړي چې ما نه وي کړي نو هغه ته پکار ده چې خپل ځای په دوزخ کې تیار کړي او د رسول الله ﷺ دا فرمایل پر یو پیښه مبني دي چې رسول الله ﷺ یو سړی لیږلی وو هغه د رسول الله ﷺ د طرف څخه د دروغ خبره وکړل ، رسول الله ﷺ هغه ته ښیرا وکړل بیا هغه مړ ولیدل سو په داسې حال کې چې د هغه نس چاودلی وو او مځکې قبول کړی نه وو . بیهقي.

**د برکت معجزه**

(۵۶۸۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ رَجُلٌ يَسْتَطْعِمُهُ فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسْقِ شَعِيرٍ فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا حَتّٰى كَالَهُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ وَلَقَامَ لَكُمْ . رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته یو سړی راغلی او خوراك يې وغوښتی، رسول الله ﷺ ورته نیم وسق اوربشي ورکړې ، چې د هغه څخه به هغه د هغه ښځي او د هغه میلمنو همیشه خوراك کوی تر دې چې یوه ورځ هغه سړی اوربشي پیمانه کړې نو بیا هغه ژر ختمي سوې ، هغه سړی دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل که تا هغه نه وای پیمانه کړې نو تاسو خلکو به همیشه د هغه څخه خوړلای او هغه اوربشي به هم هغسې پر خپل حال وای . مسلم.

**مشتبه خوراک تر حلق کښته نه سو**

(۵۶۹۰): وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَرَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْقَبْرِ يُوصِي الْحَافِرَ يقول أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِي امْرَأَةٍ فاجاب ونحن معه فَجِيءَ بِالطَّعَامِ فَوَضَعَ يَدَهُ ثُمَّ وَضَعَ الْقَوْمُ فَأَكَلُوا فنظرنا الى آباؤنا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُوكُ لُقْمَةً فِي فَمِهِ

حضرت عاصم بن کلیب ؓ د خپل پلار څخه او هغه د یو انصاري سړي څخه روایت کوي چې موږ د رسول الله ﷺ سره د یو جنازې لمانځه ته ولاړو بیا ما ولیدل چې نبي کریم ﷺ د قبر سره ولاړ دی او قبر کښونکی ته وصیت کوي یعني دا چې د سر خوا ته قبر پراخ کړه، کله چې رسول الله ﷺ راوګرځیدی نو د ښځي د لوري یو سړی رسول الله ﷺ ته ددعوت ورکولو لپاره راغلی ، رسول الله ﷺ يې دعوت قبول کړ او موږ د رسول

ثُمَّ قَالَ أَجدُ لَحمَ شَاةٍ أُخذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا فَأَرْسَلَتْ الْمَرْأَةُ تقول يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَى النَقِيعِ وهو موضوع يُبَاعُ فِيْهِ الْغَنَمِ يَشْتَرِي لِي شَاةً فَلَمْ توجد فَأَرْسَلْتُ إِلَى جَارٍ لِي قَدْ اشْتَرَى شَاةً أَنْ يرسل بِهَا بِثَمَنِهَا فَلَمْ يُوجَدْ فَأَرْسَلْتُ إِلَى امْرَأَتِهِ فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ بِهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعِمِيهِ هذه الطعام الْأَسْرٰى .رواه ابوداؤد والبيهقي في دلائل النبوة.

الله ﷺ سره د خوراك لپاره ولاړو ، خوراك چې د رسول الله ﷺ مخته كېښودل سو نو لاس مبارك يې ور وړاندي كړ او نورو خلكو هم خوراك پيل كړ ، ناڅاپه په خوړلو خوړلو كي خلكو وكتل چې رسول الله ﷺ په خوله كي دننه گوله گرځوي راگرځوي او تيروي يې نه، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته دا د داسي پسه غوښه ښكاريږي چې د مالك د اجازې څخه پرته اخيستل سوي وي، د كور مالكي د رسول الله ﷺ په خدمت كي يو سړى وليږى او وه يې ويل اې دالله رسوله ! ما نقيع ته يو سړى د پسو اخيستلو لپاره ليږلى وو په نقيع كي به پسونه خرڅېدل مگر هلته يې نه كړه پيدا بيا ما خپل همسايه ته يو سړى وليږى چې يو پسه يې اخيستى وو چې دا راوليږه ما ته په قيمت سره يې مگر هغه همسايه هم پر خپل كور نه وو بيا ما دخپل همسايه ښځي ته سړى واستوى هغې هغه پسه ما ته راوليږى ، ددې اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خوراك بنديانو ته وركړئ . بيهقي.

## د ام معبد د پسه اړوند يو معجزه

(٥٦٩١): وَعَنْ حِزَامِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ حُبَيْشِ بْنِ خَالِدٍ وَهُوَ أَخُ أُمِّ مَعْبَدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أُخرِجَ مِنْ مَكَّةَ خَرَجَ مُهَاجِرًا إِلَى الْمَدِيْنَةِ هُوَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَمَوْلَى أَبِيْ بَكْرٍ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ وَدَلِيْلُهُمَا عَبْدُ اللّٰهِ اللَّيْثِيُّ مَرُّوْا عَلَى خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدٍ فَسَأَلُوْهَا لَحْمًا وَتَمْرًا لِيَشْتَرُوْا مِنْهَا فَلَمْ يُصِيْبُوْا عِنْدَهَا شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ وَكَانَ الْقَوْمُ مُرْمِلِيْنَ مُسْنِتِيْنَ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَاةٍ فِيْ كَسْرِ الْخَيْمَةِ فَقَالَ مَا هٰذِهِ الشَّاةُ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ قَالَتْ شَاةٌ خَلَّفَهَا الْجَهْدُ عَنِ الْغَنَمِ قَالَ هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ قَالَتْ هِيَ أَجْهَدُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ

حضرت حزام بن هشام ؓ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه هغه د نيكه څخه چې جيش ابن خالد وو او دى ورور وو د ام معبد روايت كوي چې كله رسول الله ﷺ د مكې څخه په هجرت مدينې ته روان سو نو ورسره ابوبكر ؓ او د ابوبكر ؓ ازاد سوى غلام عامر بن فهيره او عبدالله ليثي لار ښودونكي د دواړو وو ، د مدينې په لاره كي د ام معبد د دوو خيمو سره تېرېدل هغوئ د خيمو والا ښځه پوښتنه وكړه كه د هغوئ سره غوښه او خرماوي وي نو د هغوئ څخه به رانيول سي مگر د هغوئ سره هيڅ شى نه وو، دغه قوم لوږي او وچ كالى

أَتَأْذَنِينَ لِيْ أَنْ أَحْلُبَهَا قَالَتْ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ إِنْ رَأَيْتَ بِهَا حَلَبًا فَاحْلُبْهَا فَدَعَا بِهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ بِيَدِهِ ضَرْعَهَا وَسَمَّى اللهَ تَعَالَى وَدَعَا لَهَا فِيْ شَاتِهَا فَتَفَاجَتْ عَلَيْهِ وَدَرَّتْ وَاجْتَرَّتْ فَدَعَا بِإِنَاءٍ يُرْبِضُ الرَّهْطَ فَحَلَبَ فِيْهِ ثَجًّا حَتَّى عَلَاهُ الْبَهَاءُ ثُمَّ سَقَاهَا حَتَّى رَوِيَتْ وَسَقَى أَصْحَابَهُ حَتَّى رَوُوا ثُمَّ شَرِبَ آخِرُهُمْ ثُمَّ حَلَبَ فِيْهِ ثَانِيًا بَعْدَ بَدْءٍ حَتَّى مَلَأَ الْإِنَاءَ ثُمَّ غَادَرَهُ عِنْدَهَا وَبَايَعَهَا وَارْتَحَلُوْا عَنْهَا. رواه في شرح السنة وابن عبد البر في الإستيعاب وابن الجوزي في كتاب الوفاء وفي الحديث قصة.

وهلي وه ، ناڅاپه د رسول الله ﷺ نظر پر يو ميږه ولويدى چي د خيمې يو خوا ته ولاړه وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه اې ام معبد! دا ميږه څنګه ده؟ ام معبد وويل د ډيري كمزورۍ له كبله د رمې سره نه سي تللای، رسول الله ﷺ پوښتنه ښيني وكړه ايا دا شيدې كوي ؟ ام معبد وويل په كوم مصيبت كي چي دا اخته ده د هغې په وجه په دې كي شيدې چيري دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ايا ته اجازه كوې چي زه يې شيدې ولوشم؟ ام معبد وويل: زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي كه تاسو ته ددې په تيانو كي شيدې معلوميږي نو وه يې لوشئ،

رسول الله ﷺ د هغه پر تيانو لاس مبارك را تيرولو سره بسم الله وويل او د بركت دعاء يې وكړل نو د شيدو ورکولو لپاره ميږې خپل پښې خلاصي كړې او شخوند يې شروع كړ، رسول الله ﷺ يو لوى لوښى وغوښتى چي ډير خلك ماړه كړي او په هغه كي يې شيدې ولوشلې چي لوښي ډك سو او د هغه سربيره څګ راغلى ، ددې څخه وروسته يې هغه شيدې لومړۍ په ام معبد وښښلې چي ښه ماړه سول بيا يې په اصحابو باندي و چيښلې تر هغو چي ښه اوبه سول او تر ټولو اخر كي يې په خپله وښښلې، لږ وخت وروسته دوهم وار هغه بيا په هغه لوښي كي شيدې ولوشلې چي لوښى د شيدو څخه ډك سو نو بيا رسول الله ﷺ هغه شيدې ام معبد ته پريښودلې او بيعت يې ورسره وكړ او ښيني ولاړل. شرح السنه

# بَابُ الْكَرَامَات (د كراماتو بيان)

## لومړی فصل

### د دوو صحابه كرامو كرامت

(۵۶۹۲): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ وَعَبَّادَ بْنَ بِشْرٍ تَحَدَّثَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَاجَةٍ لَهُمَا حَتّٰى ذَهَبَ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ فِيْ لَيْلَةٍ شَدِيْدَةِ الظُّلْمَةِ ثُمَّ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقَلِبَانِ وَبِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا عُصَيَّةٌ فَأَضَاءَتْ عَصَى أَحَدِهِمَا لَهُمَا حَتّٰى مَشَيَا فِيْ ضَوْئِهَا حَتّٰى إِذَا افْتَرَقَتْ بِهِمَا الطَّرِيْقُ أَضَاءَتْ لِلْآخَرِ عَصَاهُ فَمَشٰى كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا فِيْ ضَوْءِ عَصَاهُ حَتّٰى بَلَغَ أَهْلَهُ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي اسید بن حضیر او عباد بن بشر د شپې تر ډېره وخته پوري د خپل یو حاجت په اړه د رسول الله ﷺ سره خبري کولې، تر هغو چي شپه ډېره تاریکه سوه بیا دواړه خپلو خپلو کورونو ته روان سول د دواړو په لاسونو کي کوچنۍ لکړي وې په هغه دواړو کي د یوه لکړه روښانه سوه او بیا دواړو ته لاره صفا معلومیدل ، بیا چي د دواړو لار جلا سوه نو د دویم لکړي هم رڼا شروع کړه او هر یو دخپلي لکړي په رڼا کي خپل خپل کور ته ورسیدی . بخاري.

### څه چي بې وویل هغه وسول

(۵۶۹۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِيْ أَبِيْ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ مَا أُرَانِيْ إِلَّا مَقْتُوْلًا فِيْ أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنِّيْ لَا أَتْرُكُ بَعْدِيْ أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّ عَلَيَّ دَيْنًا فَاقْضِ وَاسْتَوْصِ بِأَخَوَاتِكَ خَيْرًا فَأَصْبَحْنَا فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيْلٍ وَدَفَنْتُهُ مَعَ آخَرَ فِيْ قَبْرٍ. رواه البخاري.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي کله د احد غزا پیښه سول نو زما پلار یوه شپه زه را وغوښتلم اووه یې ویل : زما خیال دی چي د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي تر ټولو لومړنی مقتول (شهید) زه یم ، د رسول الله ﷺ څخه وروسته ته ما ته تر هر چا ګران یې پر ما چي کوم پور دی هغه ادا کړه او د خپلو خویندو سره نیک چلن کوه سبا چي جنګ شروع سو نو تر ټولو مخکي زما پلار شهید سو او ما هغه د یو بل سړي سره په قبر کي ښخ کړ . بخاري.

### په خوراک کي زیاتوب

(۵۶۹۴): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ أَنَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوْا أُنَاسًا فُقَرَاءَ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت عبد الرحمن بن ابوبکر ﷺ څخه روایت دی چي اصحاب صفه مفلس او فقیر خلك وه ،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ فَلْيَذْهَبْ بِثَالِثٍ ومن كان عنده طعام اربعة فليذهب بخامس أَوْ سَادِسٌ وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ جَاءَ بِثَلَاثَةٍ فَانْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشَرَةٍ وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَبِثَ حتى صُلِّيَتْ الْعِشَاءُ ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتَّى تَعَشَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ بَعْدَ مَا مَضَى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ قَالَتْ لَهُ امْرَأَتُهُ وَمَا حَبَسَكَ عَنْ أَضْيَافِكَ او قَالَ أَوَمَا عَشَّيْتِيهِمْ قَالَتْ أَبَوْا حَتَّى تَجِيءَ فغضبه وقال والله لااطعمه ابدا فحلفت المراة ان لا تطعمه وحلف الاضياف ان لايطعموه قال ابوبكر كان هذا من شيطان فدعا بالطعام فاكل و اكلوا فجعلوا لايرفعون لقمة الا ربت من اسفلها اكثر منها فَقَالَ لامْرَأَته يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ مَا هَذَا قَالَتْ وَقُرَّةِ عَيْنِي انها الْآنَ لَأَكْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ ذَلِكَ بثلاث مرارًا فَأَكَلُوا وَبَعَثَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذُكِرَ أَنَّهُ أَكَلَ مِنْهَا .متفق عليه وذكر حديث عبدالله بن مسعود كنا نسمع تسبيح الطعام في المعجزات.

يوه ورځ رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته وفرمايل : د كوم چا سره چي د دوو كسانو خوراك وي هغه دي دريم سرى د ځان سره بوځي او د چا سره چي د څلورو كسانو خوراك وي هغه دي پنځم بوځي او كه تر دې زيات وي شپږم دي بوځي ، نو ابوبكر ﵁ دري كسان بوتلل او رسول الله ﷺ لس كسان بوتلل ، په دغه شپه ابوبكر ﵁ د رسول الله ﷺ سره ډوډۍ وخوړل او د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر وو تر څو چي د ماخستن لمونځ وسو بيا د لمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغوئ كور ته راغلى او تر څو پوري چي رسول الله ﷺ د شپې ډوډۍ نه خوړل تر هغو پوري حاضر وو بيا څه شپه تيريدو څخه وروسته خپل كور ته راغلى د هغه ميعني ابوبكر ﵁) بي بي پوښتنه وكړه ته خپلو ميلمنو ته ولي نه راغلي ، ابوبكر ﵁ ورته وويل ايا تا تر اوسه پوري په دوئ ډوډۍ نه ده خوړلي، بي بي ورته وويل دوئ تر هغه وخته پوري د خوراك څخه انكار وكړ تر څو پوري چي ته رانه سې، ابوبكر ﵁ په قهر سره وويل قسم په خداى زه به دا ډوډۍ هيڅكله ونه خورم، د هغه ښځي هم قسم وخوړى چي هغه به هم دا ډوډۍ نه خوري او ميلمنو هم قسم وخوړى چي هغوئ به هم دا ډوډۍ نه خوري، ددې څخه وروسته ابوبكر ﵁ وويل زما غصه كيدل او قسم خوړل د شيطان د لوري څخه دي ، ددې ويلو سره هغه ډوډۍ وغوښتل او د تولو سره يې ډوډۍ وخوړل او ميلمنو هم وخوړل دوئ چي به كومه گوله دلوښي څخه را پورته كول نو د لوښي دومره ځاى به نه خالي كيدى څومره چي به د لاندي خوا څخه ډكيدى ، ابوبكر ﵁ خپلي ښځي ته وويل اې د بنو فراس خورا دا څه معامله ده ؟ هغې ورته وويل د خپلو سترگو د يخوالي قسم دا خوراك خو د مخكي څخه زيات سو دري چنده زيات، غرض دا چي تولو ډوډۍ وخوړل او

بيا هغه لوښی يې نبي كريم ﷺ ته ور ولېږی ، ويل كيږي چي د هغه لوښي څخه نبي كريم ﷺ هم وخوړل، بخاري او مسلم او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حديث چي موږ به د خوراك تسبيح اوريدل په المعجزات كي تيرسوی دی.

## دويم فصل

### د نجاشي پر قبر نور

| | |
|---|---|
| (٥٦٩٥): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَ النَّجَاشِيُّ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا يَزَالُ يُرَى عَلَى قَبْرِهِ نُورٌ. رواه ابوداؤد. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دیچي كله (د حبش پاچا) نجاشي مړ سو نو موږ په خپل منځ كي دا ډول خبري كولې چي د نجاشي پر قبر هميشه نور معلوميږي. ابوداؤد. |

### رسول الله ﷺ ته د غسل وركونكو د غيب څخه رهنمائي

| | |
|---|---|
| (٥٦٩٦): وَعَنْهَا قَالَتْ لَمَّا أَرَادُوْا غُسْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لَا نَدْرِيْ أَنُجَرِّدُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثِيَابِهِ كَمَا نُجَرِّدُ مَوْتَانَا أَمْ نَغْسِلُهُ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ فَلَمَّا اخْتَلَفُوْا أَلْقَى اللّٰهُ عَلَيْهِمُ النَّوْمَ حَتَّى مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَذَقْنُهُ فِيْ صَدْرِهِ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ مُكَلِّمٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ لَا يَدْرُوْنَ مَنْ هُوَ اغْسِلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ فَقَامُوْا فَغَسَلُوْهُ وَعَلَيْهِ قَمِيْصُهُ يَصُبُّوْنَ الْمَاءَ فَوْقَ الْقَمِيْصِ وَيَدْلُكُوْنَهُ بِالْقَمِيْصِ . رواه البيهقي في دلائل النبوة. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته چي رسول الله ﷺ ته د غسل وركولو اراده وسول نو خلكو وويل: ايا موږ رسول الله ﷺ هم هغسي څرګند كړو لكه څرنګه چي موږ خپل مړي څرګندوو او كه رسول الله ﷺ ته د كالو سره غسل وركړو، هر كله چي پر دې خبره اختلاف زيات سو نو الله تعالى پر دغه خلكو خوب راوستی تر دې چي هيڅ سړی هلته داسي نه وو چي د هغه زنه دي پر سينه نه وي بيا دغه خلكو ته يو ويونكي چي |

خلكو نه پېژندی د كور د يو كونج څخه وويل چي نبي كريم ﷺ ته د كالو سره غسل وركړئ ، ددې اوريدو سره هغه ټول خلك را پورته سول او د رسول الله ﷺ مبارك بدن ته يې غسل وركړ دغه وخت د رسول الله ﷺ پر بدن مبارك قميص وو چي پر هغه به يې اوبه توېولې او د قميص سره به يې بدن موږی. بيهقي.

### د سفينه رضی الله عنه كرامت

| | |
|---|---|
| (٥٦٩٧): وَعَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ أَنَّ سَفِيْنَةَ مَوْلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْطَأَ الْجَيْشَ بِأَرْضِ الرُّوْمِ أَوْ | د حضرت ابن منكدر رضی الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ ازاد سوي غلام سفينه |

أُسِرَ فَانْطَلَقَ هَارِبًا يَلْتَمِسُ الْجَيْشَ فَإِذَا هُوَ بِالْأَسَدِ فَقَالَ يَا أَبَا الْحَارِثِ أَنَا مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِنْ أَمْرِيْ كَيْتَ وَكَيْتَ فَأَقْبَلَ الْأَسَدُ لَهُ بِصَبْصَبَةٍ حَتَّى قَامَ إِلَى جَنْبِهِ كُلَّمَا سَمِعَ صَوْتًا أَهْوَى إِلَيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ يَمْشِيْ إِلَى جَنْبِهِ حَتَّى بَلَغَ الْجَيْشَ ثُمَّ رَجَعَ الْأَسَدُ . رواه في شرح السنة.

نامي په مخکه د روم کي د لښکر لار خطا کړه ، يا بندي کړل سو بيا چي هغه د کافرانو دلاس څخه خلاص سو د لښکر په لټه کي وتښتيدی ، نو ناڅاپه د يو زمری سره مخ سو هغه زمري ته وويل اې ابوحارث زه د رسول الله ﷺ ازاد کړل سوی غلام يم او ما ته دا پيښه سوې ده ، زمری په لکۍ ښورولو سره مخته سو او د هغه پر څنګ ودريدی ، زمری چي به يو خوفناکه اواز واوريدی نو هغه خوا ته به متوجه سو او د سفينه پر بغل به تلی تر دي چي سفينه خپل لښکر ته را ورسيدی او زمری بيرته ولاړی . شرح السنه.

## د قبر په ذريعه استسقاء

(٥٦٩٨): وَعَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ قَالَ قُحِطَ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ قَحْطًا شَدِيْدًا فَشَكَوْا إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَتْ انْظُرُوْا قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْعَلُوْا مِنْهُ كُوًى إِلَى السَّمَاءِ حَتَّى لَا يَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ سَقْفٌ فَفَعَلُوْا فَمُطِرُوْا مَطَرًا حَتَّى نَبَتَ الْعُشْبُ وَسَمِنَتِ الْإِبِلُ حَتَّى تَفَتَّقَتْ مِنَ الشَّحْمِ فَسُمِّيَ عَامَ الْفَتْقِ . رواه الدارمي.

د حضرت ابو الجوزا رضی الله عنه څخه روايت دی چي د مديني خلك په سخته وچ کالي اخته سول ، هغوئ د بي بي عائشې په خدمت کي شکايت وکړ ، هغې ورته وويل : تاسو د نبي کريم ﷺ مبارك قبر ته ورسئ او د قبر د حجرې په بام کي يو موری خلاصه کړئ چي د قبر او آسمان په منځ کي هيڅ پرده پاته نه سي ، هغه خلکو هم داسي وکړل نو ښه باران وسو تر دي چي واښه شنه سول او اوښان اوبه سول تر داسي حده چي د چاغوالي د سببه حيوانان وچاودل نو ددغه کال نوم فتق کښېښودل سو . دارمي.

## يوه معجزه او يو کرامت

(٥٦٩٩): وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ لَمَّا كَانَ أَيَّامُ الْحَرَّةِ لَمْ يُؤَذَّنْ فِيْ مَسْجِدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا وَلَمْ يُقَمْ وَلَمْ يَبْرَحْ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ الْمَسْجِدَ وَكَانَ لَا يَعْرِفُ وَقْتَ الصَّلَاةِ إِلَّا بِهَمْهَمَةٍ يَسْمَعُهَا مِنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت سعيد بن عبدالعزيز رضی الله عنه څخه روايت دی چي کله د حره پيښه رامنځته سوه (د حره پيښه د سختو پيښو څخه ده ، د حضرت معاويه زوی يزيد پر مديني لښکر کشي وکړه او مدينه يې تباه کړل ، حره د مديني څخه د باندي د مځکي يوه ټوټه ده دا لښکر ددغه خوا څخه

وَسَلَّمَ.رواه الدارمي.

راغلي وو) نو تر درو ورځو پورې په مسجد نبوي کې اذان ونه سو او نه تکبير وويل سو ، سعيد بن مسيب په دغه ورځو کې په مسجد کې د ننه وو او هلته پاته سو دباندي نه راوتی ، په دغه ورځو کې به سعيد بن مسيب دلمانځه وخت پوازي په هغه اواز سره پيژندی چي د رسول الله ﷺ د قبر مبارك څخه به راتلی . دارمي.

**د حضرت انس ﷺ کرامت**

(٥٧٠٠): وَعَنْ أَبِي خَلْدَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي الْعَالِيَةِ سَمِعَ أَنَسٌ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَدَمَهُ عَشْرَ سِنِينَ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لَهُ بُسْتَانٌ يَحْمِلُ فِي السَّنَةِ الْفَاكِهَةَ مَرَّتَيْنِ وَكَانَ فِيهَا رَيْحَانٌ كَانَ يَجِيءُ مِنْهُ رِيحُ الْمِسْكِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابوخلده ﷺ څخه روايت دی چي ما د ابوالعاليه څخه پوښتنه وکړه چي انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه حديثونه اوريدلي دي ، ابوالعاليه وويل هو انس ﷺ لس کاله د رسول الله ﷺ په خدمت کي تير کړي دي او نبي کريم ﷺ هغه ته دعاء کړې وه ، د انس ﷺ يو باغ وو چي هغه به په کال کي دوه واره ميوه کول او په هغه باغ کي ريحان وه چي د هغه د ګلانو څخه به د مشکو بوی تلی . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

## دريم فصل

**د حضرت سعيد ابن زيد ﷺ کرامت**

(٥٧٠١): عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ سَعِيدَ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ خَاصَمَتْهُ أَرْوَى بِنْتَ أُوَيْسٍ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ وادعت انه اخذ شيئا من ارضها فَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا كُنْتُ آخُذُ مِنْ أَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ لَا أَسْأَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هَذَا فَقَالَ

د حضرت عروه بن زبير ﷺ څخه روايت دی چي د سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل او اروی بنت اوس په منځ کي پر يو مځکه جګړه وسوه ، او اروی ، سعيد بن زيد مروان بن حکم ته بوتلی (چي دمديني حاکم وو) بي بي اروی دا دعوه وکړه چي سعيد بن زيد زما د مځکي څه برخه نيولې ده ، ددې دعوا اوريدو سره سعيد وويل ايا زه ددې مځکه يو برخه په زور اخيستلای سم ، هر کله چي ما د رسول الله ﷺ دا وعيد (سزا) اوريدلې ده ، مروان پوښتنه څيني وکړه تا د رسول الله ﷺ څخه څه اوريدلي دي ؟ سعيد

اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَعَمِّ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا قَالَ فَمَا مَاتَتْ حَتّٰى ذَهَبَ بَصَرُهَا و بينما هِيَ تَمْشِي فِي أَرْضِهَا إِذْ وَقَعَتْ فِي حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ. متفق عليه و في رواية لمسلم عن محمد بن زيد بن عبدالله بن عمر بمعناه وانه راها عمياء تلتمس الجدر تقول اصابتني دعوة سعيد وانها مرت على بئر في الدار التي خاصمته فيها فوقعت فيها فكانت قبرها.

وویل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي څوك چي د یو چا څخه یوه لویشت مځکه په زور واخلي نو د هغه مځکي اووه طبقي به د قیامت په ورځ د هغه په غاړه کي د طوق په دول پرتي وي، ددې اوریدو سره مروان وویل ، ددې دلیل څخه وروسته زه ستا څخه یو شاهد نه غوارم ، ددې اوریدو سره سعید وویل اې الله ﷻ که دا دروا غجنه وي نو دا ړنده کړې او په دغه مځکه کي ورته مرگ راولې چي د هغه دعوا کوي، د عروه بن زبیر بیان دی چي د مرگ څخه مخکي هغه ښځه ړنده سوه او یوه ورځ د دعوې په مځکه کي روانه وه چي په ژور غار کي ولویدل او مړه سوه ، بخاري او مسلم او د مسلم په یوه روایت کي دي چي محمد بن زید بن عبدالله بن عمر څخه ددې روایت هم منقول دی په هغه کي داسي دي چي محمد بن زید هغه ښځه ړنده ولیدل چي هغه به پر دیوال لاس اېښودو سره تلل او ویل به یې د سعید ښیرا پر ما اثر کړی دی ، بیا یوه ورځ هغه په هغه مځکه کي کور ته تلل چي پر هغه مځکه یې د سعید سره جنگ کړی وو چي په یو څاه یا ژور غار کي ولویدل او هغه یې قبر جوړ سو .

## د حضرت عمر ؓ کرامت

(۵۷۰۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بَعَثَ جَيْشًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا يُدْعٰى سَارِيَةُ فَبَيْنَمَا عُمَرُ يَخْطُبُ فَجَعَلَ يَصِيحُ يَا سَارِيَ الْجَبَلَ فَقَدِمَ رَسُولٌ مِنَ الْجَيْشِ فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَقِيْنَا عَدُوَّنَا فَهَزَمُوْنَا فَإِذَا بِصَائِحٍ يَصِيحُ يَا سَارِيَ الْجَبَلَ فَأَسْنَدْنَا ظُهُوْرَنَا إِلَى الْجَبَلِ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي حضرت عمر ؓ یو لښکر ولیږی او پر هغه یې یو سړی وټاکی چي نوم یې ساریه وو ، یوه ورځ حضرت عمر ؓ په مسجد کي د جمعې خطبه ویل چي ناڅاپه یې په لوړ اواز سره وویل اې ساریه ! دې خوا ته غر ونیسه ، ددې واقعې څخه څو ورځي وروسته د لښکر یو قاصد راغلی ، د حضرت عمر ؓ په خدمت کي حاضر سو عرض یې وکړ اې امیر المؤمنین ! زموږ دښمن پر موږ حمله وکړه او موږ ته یې ماته راکړه ، ناڅاپه موږ د یو اواز کونکي اواز واوریدی چي ویل یې اې ساریه ! د غره خوا ته ، نو موږ خپل شاوي غره ته تکیه کړلې نو بیا الله ﷻ دښمنانو ته ماته ورکړل . بیهقي.

د حضرت كعب احبار ﷺ كرامت

(۵۷۰۳): وَعَنْ نُبَيْهَةَ بْنِ وَهْبٍ أَنَّ كَعْبًا دَخَلَ عَلٰى عَائِشَةَ فَذَكَرُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَعْبٌ مَا مِنْ يَوْمٍ يَطْلَعُ إِلاَّ نَزَلَ سَبْعُوْنَ أَلْفًا مِّنَ الْمَلاَئِكَةِ حَتّٰى يَحُفُّوْا بِقَبْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْرِبُوْنَ بِأَجْنِحَتِهِمْ وَيُصَلُّوْنَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى إِذَا أَمْسَوْا عَرَجُوْا وَهَبَطَ مِثْلُهُمْ فَصَنَعُوْا مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا انْشَقَّتْ عَنْهُ الْأَرْضُ خَرَجَ فِيْ سَبْعِيْنَ أَلْفًا مِّنَ الْمَلاَئِكَةِ يَزُفُّوْنَهٗ. رواه الدارمي.

د حضرت نبيهه بن وهب ﷺ څخه روايت دى چي كعب ﷺ دبي بي عائشي په خدمت كي حاضر سو ، د هغې په مجلس كي د رسول الله ﷺ ذكر راغلى ، كعب ﷺ وويل هيڅ يوه ورځ داسي نه تيريږي چي په هغه كي لمر راخيژي مگر اويا زره ملائكي د آسمان څخه راكښته او د رسول الله ﷺ د قبر مبارك څخه چاپيره كيږي، او خپل وزرونه پر قبر مبارك د هر طرف څخه خپروي او پر رسول الله ﷺ درود شريف وايي، ترد ې چي مانبام سي نو دغه ملائكي آسمان ته وخيژي او دغومره ملائكي نوري راكښته سي او تر سهاره پوري همداسي كوي او دا لړى به تر هغه وخته پوري جاري وي چي (د قيامت په ورځ قبر وچوي او رسول الله ﷺ څيني راووځي او د اويا زره ملائكو په منځ كي به الله تعالى ته ورځي . دارمي.

# بَابُ هِجْرَةِ الرَّسُوْلِ اِلَى الْمَدِيْنَةِ وَوَفَاتُهٗ

## (د رسول الله ﷺ هجرت او وفات مبارك)

## لومړى فصل

كله چي د اهل مدينه نصيب وېښ سو

(۵۷۰۴): عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ فَجَعَلَا يُقْرِئَانِنَا الْقُرْآنَ ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ وَسَعْدٌ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِيْ عِشْرِيْنَ ثُمَّ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِيْنَةِ فَرِحُوْا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِهٖ حَتّٰى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په صحابه كرامو كي چي كوم خلك تر تولو لومړى (مديني ته دهجرت كولو څخه مخكي) موږ ته راغلل هغه مصعب بن عمير او ابن ام مكتوم وه، دوئ به موږ ته قرآن وايه ، ددوئ څخه وروسته عمار، بلال او سعد راغلل ، بيا حضرت عمر بن خطاب ﷺ د لس صحابه كرامو سره راغلل، د هغه څخه وروسته رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ حَتّٰى قَرَأْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى فِي سُوَرٍ مِثْلِهَا مِنَ الْمُفَصَّلِ. رواه البخاري.

الله ﷺ تشریف راوړ ، د مدینې اوسیدونکې چې د رسول الله ﷺ په راتلو څومره خوشحاله سوه دومره ما هیڅکله خوشحاله نه وه لیدلې تر دې چې ما د هلکانو او انجونو څخه دا واوریدل چې دادی رسول الله ﷺ تشریف راوړ ، د رسول الله ﷺ د راتلو څخه مخکې ما سورة سبح اسم ربك الاعلی او څو نور مفصل سورتونه زده کړي وه. بخاري.

**هغه راز چې پوازې ابوبکر صدیق ﷺ و پیژندی**

(۵۷۰۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فاختار ماعنده فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ قَالَ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا فَعَجِبْنَا لَهُ فَقَالَ النَّاسُ انْظُرُوا إِلَى هٰذَا الشَّيْخِ يُخْبِرُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَبْدٍ خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ وَهُوَ يَقُولُ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الْمُخَيَّرَ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ هُوَ أَعْلَمَنَا. متفق عليه.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ پر منبر کښېنستی ، ارشاد يې وفرمایه: الله تعالی خپل یو بنده ته دا اختیار ورکړی دی چې هغه خو دي یا دې دنیا نعمتونه چې خدای تعالی ورکوي یا څومره چې بنده خوښوي اختیار کړي یا د الله تعالی قربت دي اختیار کړي ، بنده دٓ الله تعالی قربت اختیار کړي . دې اوریدو سره حضرت ابوبکر ﷺ په ژړا سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زموږ مور او پلار دي پر تا قربان سي ، موږ خلك د حضرت ابوبکر ﷺ ددې خبرې په اوریدو سره په تعجب کې سو ، ځینې خلکو وویل دغه سپین ږیري ته وګورئ رسول الله ﷺ د یو بنده حال بیانوي چې خدای تعالی د دنیا د نعمتونو او آخرت په منځ کې اختیار ورکړی دی او دی دا وایي چې موږ او زموږ مور او پلار دي پر تاسو قربان سي ، (مګر وروسته معلومه سوه) چې کوم بنده ته اختیار ورکړل سوی وو هغه رسول الله ﷺ وو او ددې حقیقت څخه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ تر موږ زیات خبر وو. بخاري اومسلم.

**وداعي لمونځ او وداعي خطبه**

(۵۷۰۶): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِي سِنِينَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ وَإِنَّ مَوْعِدَكُمْ

د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د احد پر شهیدانو اته کاله وروسته لمونځ وکړ لکه رخصت اخیستونکی له ژوندو او مړو څخه، ددې څخه وروسته

الْحَوْضُ وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ وانا في مَقَامِي هَذَا واني قد اعطيت مفاتيح خزائن الارض وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بعدي وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمْ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوهَا فيها وَزَادَ بَعْضُهُمْ فَتَقْتَتِلُوْا فَتَهْلِكُوْا كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. متفق عليه.

رسول الله ﷺ منبر ته وختی اووه یې فرمایل : زه ستاسو په مخکې پیشوا یم او زه پر تاسو شاهد یم او ستاسو سره زما د ملاقات مقام حوض کوثر دی ، او اوس پر دې ځای ولاړ زه حوض کوثر وینم او البته ما ته د مخکې د خزانو کیلیانې راکړل سوې دي ، او زه ددې ځخه نه بیریږم چې تاسو ټول به زما ځخه وروسته مشرکان سئ بلکه ددې ځخه بیریږم چې تاسو به د دنیا په لور رغبت کوئ او په دنیا کې به اخته سئ او ځینې راویانو په دغه روایت کې دا الفاظ زیات بیان کړي دي چې بیا به تاسو په خپل منځ کې قتل او مقاتلې کوئ او هلاك به سئ ، لکه څرنگه چې ستاسو ځخه مخکې خلك هلاك سوي دي . بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ د ژوندې اخيري لمحې

(۵۷۰۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللَّهِ عَلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي وَأَنَّ اللَّهَ جَمَعَ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَبِيَدِهِ السِّوَاكُ وَأَنَا مُسْنِدَةٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ آخُذُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ فَتَنَاوَلْتُهُ فَأَمَرَّهُ وَبَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فِيهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ ثُمَّ نَصَبَ يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې (رض) ځخه روایت دی چې دخدای ﷺ دنعمتونو ځخه چې زما لپاره خاص سوي دي تر ټولو لوی نعمت دادی چې رسول الله ﷺ زما په کور زما نمبر په ورځ وفات سو ، او رسول الله ﷺ زما د سینې او غاړې په منځ کې وفات سو ، او د الله تعالی یو خاص نعمت پر ما دا وسو چې خدای تعالی د رسول الله ﷺ د وفات پر وخت زما او د رسول الله ﷺ لعاب (ناړې) یو ځای کړې ، (چې هغه داسې پېښه سوه چې عبدالرحمن بن ابي بکر هغې ته راغلی دغه وخت د هغه په لاس کې مسواك وو او رسول الله ﷺ زما د سینې سره څنگ وهلی وو ، ما ولیدل چې رسول الله ﷺ د عبدالرحمن یا مسواك په لور گوري ما ته معلومه سوه چې د رسول الله ﷺ مسواك ډیر خوښ وو ما ورته عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا ستاسو لپاره د عبدالرحمن ځخه مسواك واخلم، رسول الله ﷺ د سر مبارك په اشارې سره ظاهره کړه چې هو، نو ما د عبدالرحمن ځخه مسواك واخیستی او رسول الله ﷺ ته مې ورکړ ،

رسول الله ﷺ ته د هغه مسواك ژوول مشكل سول خكه چي هغه سخت وو نو ما ورته عرض وكړ ايا زه دا مسواك نرم كړم ؟ رسول الله ﷺ اجازه راكړه نو ما هغه مسواك په خوله سره نرم كړ ، بيا رسول الله ﷺ په خپلو غاښونو مبارکو وگرځوى او دغسي زما ناري د رسول الله ﷺ د ناوړ مبارکو سره د وفات پر وخت يو ځاى سوې او د رسول الله ﷺ مخكي د اوبو يو لوښى ايښودل سوى وو ، رسول الله ﷺ به د هغه اوبو څخه په لاس كي را اخيستې او پر مخ مبارك به يې گرځولې او فرمايل به يې لااله الاالله ، بېشكه د مرگ پر وخت سختي ده، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ لاس مبارك پورته كړ او دا يې و فرمايل ما د رفيق اعلى سره يو ځاى كړئ، رسول الله ﷺ دا فرمايل تر دې چي روح مبارك يې قبض كړل سو او لاسونه مبارك يې كښته ولويدل . بخاري .

## انبياؤ ته د مرگ څخه مخكي اختيار

(۵۷۰۸): وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ نَبِيٍّ يَمْرَضُ إِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَكَانَ فِي شَكْوَاهُ الَّذِي قُبِضَ أَخَذَتْهُ بُحَّةٌ شَدِيدَةٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمت عليهم مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ فَعَلِمْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي هر نبي ته د مرگ پر وخت د دنيا او آخرت په منځ كي اختيار وركول كيږي ، او د رسول الله ﷺ د وفات په وخت كي سخت توخى كېدى ما په دې حالت كي د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي اې الله ! ما په هغه خلكو كي شامل كړې چي پر هغوئ تا خپل انعام كړى دى يعني په نبيانو: صديقانو، شهيدانو او صالحانو كي، ددغه آواز اوريدو سره ما معلومه كړه چي رسول الله ﷺ د آخرت سفر ته اختيار وركړ . بخاري او مسلم.

## د بي بي فاطمې پريشاني

(۵۷۰۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ الكرب فَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام وَا كَرْبَ أَبَاهُ فَقَالَ لَهَا لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ يَا أَبَتَاهُ مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام يَا أَنَسُ أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي كله د رسول الله ﷺ دناروغۍ سختي دې حد ته ورسيدل چي د مرض سختي به سخت خفگان پر راوستى نو بي بي فاطمې وويل : آه زما باباجان، څومره سختي او تكليف دى ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : د نن ورځي څخه وروسته ستا پر پلار هيڅ سختي او تكليف نسته، بيا چي رسول الله ﷺ وفات سو نو

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ. رواه البخاري.

بي بي فاطمې وويل باباجانه تاسو د خداى ﷺ دعوت قبول کړ او خپل پروردګار ته ولاړې، باباجانه! اې هغه شخصيته ! چې د هغه ځاى جنت الفردوس دى، باباجانه! مونږ ستاسو د وفات خبر جبرائيل عليه السلام ته رسوو ، بيا چې رسول الله ﷺ دفن کړل سو نو بي بي فاطمې وويل : اې انس ! تاسو دا څنګه زغمل چې پر رسول الله ﷺ مو خاوري اچولې ؟ . بخاري.

## دويم فصل

### مدينه په غم کي ډوبه سوه

(۵۷۱۰): عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ لَعِبَتِ الْحَبَشَةُ بِحِرَابِهِمْ فَرَحًا لِقُدُوْمِهٖ . رواه أبو داود وفي رواية الدارمي قَالَ مَا رَأَيْتُ يَوْمًا قَطُّ كَانَ أَحْسَنَ وَلاَ أَضْوَأَ مِنْ يَوْمٍ دَخَلَ عَلَيْنَا فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ أَقْبَحَ وَلاَ أَظْلَمَ مِنْ يَوْمٍ مَاتَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيْ قَالَ لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِيْ دَخَلَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ وَمَا نَفَضْنَا أَيْدِيَنَا عَنِ التُّرَابِ وَإِنَّا لَفِيْ دَفْنِهٖ حَتّٰى أَنْكَرْنَا قُلُوْبَنَا.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى کله چې رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړ نو حبيشانو د نيزو لوبه ښودل له وجهي د خوشحالى په راتللو دده، ابوداؤد، او د دارمي په روايت کي دا الفاظ دي چې انس ﷺ وويل : ما هيڅ يو ورځ د هغه ورځي څخه زيات حسينه اوروښانه نه ده ليدلې په کومه ورځ چې رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړى وو، او د هغه ورځي څخه زياته بده او تياره ورځ مي نه ده ليدلې په کومه ورځ چې رسول الله ﷺ وفات سو، او د ترمذي په روايت کي دا الفاظ دي چې انس ﷺ وويل هر کله چې هغه ورځ راغلل په کومه ورځ چې رسول الله ﷺ مديني منورې ته تشريف راوړ نو د رسول الله ﷺ په تشريف راوړلو سره هر شى روښانه سو ، بيا چې هغه ورځ راغلل چې رسول الله ﷺ وفات سو نو پر ټولو شيانو تاريکي خپره سول، او د رسول الله ﷺ د دفن کيدو څخه وروسته مونږ لا دخاورو څخه لاسونه نه وه څنډلي چې مونږ خپل زړونه نا اشنا وليدل.

### د رسول الله ﷺ د تدفين په اړه اختلاف

(۵۷۱۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهٖ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چې کله رسول الله ﷺ وفات سو نو د رسول الله ﷺ د

سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مَا نَسِيتُهُ قَالَ مَا قَبَضَ اللّٰهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ فِرَاشِهِ. رواه الترمذي.

دفن کیدو په ځای کې اختلاف واقع سو، ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل په دې اړه ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي الله تعالی د یو نبي روح قبض کوي کوم ځای چې هغه دفن کیدل خوښوي، په دې وجه رسول الله ﷺ د خپلې بسترې پر ځای باید دفن سي. ترمذي.

## دریم فصل

### د وفات څخه مخکې نبي کریم ﷺ ته د هغه ځای و ښودل سو

(۵۷۱۲): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ قالت عائشة فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي غُشِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى قُلْتُ إِذًا لَا يَخْتَارُنَا وَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ وهو صحيح في قوله انه لن يقبض نبي قط حتى يرى مقعده من الجنة ثم يخير قَالَتْ عائشة فَكَانَ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلُهُ اللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى. رواه البخاري و مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د روغتیا په حالت کې وفرمایل: د یو نبي روح تر هغه وخته پورې نه قبض کیږي تر څو پورې چې په جنت کې خپل ځای ورته ونه ښودل سي، هر کله چې هغه خپل ځای په جنت کې ووینې هغه ته به اختیار ورکړل سي، بي بي عائشه فرمایي: کله چې رسول الله ﷺ ته مرګ راغلی نو سر مبارك یې زما پر ورانه پروت وو چې رسول الله ﷺ بې هوشه سو، بیا په هوش کې سو سترګې مبارکې یې پورته کړلې بام ته یې وکتل او وه یې فرمایل: اللهم الرفیق الاعلی، اې الله زه رفیق اعلی خوښوم، ما وویل دوئ به موږ نه اختیاروي، بي بي عائشه وایي د رسول الله ﷺ الفاظ اوریدو سره ما ته د رسول الله ﷺ هغه خبره راياد سوه کومه چې یې د روغتیا په حالت کې موږ ته بیان کړې وه یعنې دا چې د یو نبي روح تر هغه وخته پورې نه قبض کیږي تر څو پورې په جنت کې هغه ته خپل ځای ونه ښودل سي او بیا هغه ته اختیار ورکول کیږي که په دنیا کې ژوند کوي یا عالم آخرت ته ځي، بي بي عائشه فرمایي: د وفات پر وخت د رسول الله ﷺ آخري کلام دا الفاظ وه «اللهم الرفیق الاعلی». بخاري او مسلم.

### د زهرو اثر

(۵۷۱۳): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ يَا عَائِشَةُ مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ وَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ. رواه البخاري.

رسول الله ﷺ به د خپل ناروغۍ په وخت کي فرمايل : اې عائشې ! زه همېشه د هغه طعام تکليف محسوسوم چي ما په خيبر کي خوړلی وو (يعني د زهرو غوښه) اوس هغه وخت دی چي د هغه زهرو د اثر څخه زما د شا رګ پرې کرې معلومېږي . بخاري .

**په مرض الموت کي يو واقعه**

(٥٧١٤): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا حُضِرَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ فَقَالَ عُمَرُ قد غَلَبَ عليه الْوَجَعُ وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ حَسْبُكُمْ كِتَابُ اللَّهِ فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ وَاخْتَصَمُوا فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ مَا قَالَ عُمَرُ فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغَطَ وَالاخْتِلَافَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا عَنِّي قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذَلِكَ الْكِتَابَ لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ. وفي رواية سليمان ابن ابي مسلم الاحول قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ ثم بكى حتى بل دمعه الحصى قلت يا ابن عباس وما اليوم الخميس قال اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ فَقَالَ ائْتُونِي بكتف أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا فَتَنَازَعُوا وَلَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوا مَا شَأْنُهُ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي کله د رسول الله ﷺ د وفات وخت را نژدې سو هغه وخت په کور کي ډېر خلك وه چي په هغوئ کي حضرت عمر بن خطاب ﷺ هم وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل : راسئ چي ستاسو لپاره يو تحرير وليکم، چي ددې څخه وروسته تاسو ګمراه نه سئ ، حضرت عمر ﷺ خلکو ته وويل پر رسول الله ﷺ د مرض غلبه او شدت دی او ستاسو سره قرآن موجود دی د خدای کتاب ستاسو لپاره کافي دی، کوم خلك چي هغه وخت په کور کي موجود وه په هغوئ کي د رايي اختلاف سو ، ځينو وويل د ليکلو سامان رسول الله ﷺ ته نژدې راوړئ چي رسول الله ﷺ ستاسو لپاره ليکنه وکړي، او ځينو هغه الفاظ وويل کوم چي حضرت عمر ﷺ فرمايلي وه، آخر چي خلکو ډېر شور جوړ کړ او ا ختلاف زيات سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زما څخه ولاړ سئ، د عبيدالله راوي بيان دی چي ابن عباس ﷺ وويل مصيبت او پوره مصيبت هغه حالت وو چي د رسول الله ﷺ او هغه تحرير په منځ کي حائل سو کله چي رسول الله ﷺ ليکل غوښتل او دا حالت په خپلو

أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ فَذَهَبُوا يَرُدُّونَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُونِي ذَرُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ فَأَمَرَهُمْ بِثَلَاثٍ فَقَالَ أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ وَسَكَتَ عَنْ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَهَا فَنَسِيتُهَا قال سفيان هذا من قول سليمان. متفق عليه

كي د اختلاف او شور ځه پيدا سو ، د سليمان بن ابومسلم احول په روايت كي دا الفاظ دي چي ابن عباس ﷺ وويل : د پنجشنبې په ورځ آه او د پنجشنبې ورځ څه ده ؟ ددې ويلو سره ابن عباس ﷺ په ژړا سو او دومره يې وژړل چي د هغه اوښكو هغه باجرې چي هلته پروت وو لوند كړ، ما وويل اې ابن عباس ! د پنجشنبې ورځ څه شي ده ؟ ابن عباس ﷺ وويل : د رسول الله ﷺ ناروغي چي په دغه ورځ شدت اختيار كړ ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته د ورانه هډوكي راوړئ چي زه ستاسو لپاره يو تحرير وليكم چي بيا تاسو هيڅكله گمراه نه سئ ، په خلكو كي اختلاف سو او د نبي كريم ﷺ په حضور كي اختلاف مناسب نه وو، ځيني صحابه كرامو وويل د رسول الله ﷺ څه حال دى چي دنيا ترك كوي ، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړئ چي د هغوئ څه خوښه ده ، نو ځيني صحابه كرامو د رسول الله ﷺ څخه پوښتني كول پيل كړل، رسول الله ﷺ وفرمايل ما پرېږدئ، ما پرېږدئ په دغه حالت كي په كوم كي چي زه يم ښكه چي زما دا حالت تر هغه غوره دى كوم ته چي تاسو ما بلئ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د درو خبرو حكم وكړ : يو خو دا چي مشركان د جزيره عرب څخه وباسئ، دويم دا چي د قاصدانو احترام كوئ، او د هغوئ سره احسان كوئ، لكه څرنگه چي ما ورسره احسان كوي، او دريمه خبره ابن عباس ﷺ ونه ښودل يا داسي يې وفرمايل : چي هغه زما څخه هيره سوه ، د سفيان بيان دى چي آخري قول د سليمان راوي دى. بخاري او مسلم.

### د وحي د منقطع كېدو غم

(۵۷۱۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُورُهَا فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهَا بَكَتْ فَقَالَا لَهَا مَا يُبْكِيكِ اما تعلمين ان مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اني لا أَبْكِي أَنِّي لا أَكُونَ أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدْ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته يوه ورځ حضرت ابوبكر ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وويل : راځه چي ام ايمن ته ورسو، او د هغې سره ملاقات وكړو لكه څرنگه چي رسول الله ﷺ به د هغې سره ملاقات كوى، كله چي موږ درې سره هغې ته ورسيدو نو هغه په ژړا سوه ، حضرت ابوبكر او حضرت عمر رضي الله عنهما وويل اې ام ايمن ولې ژاړې؟ تا ته

فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا. رواه مسلم.

معلومه نه ده چي خداى تعالى سره د رسول الله ﷺ لپاره څه شي دي هغه د غوره څخه غوره دي، ام ايمن وويل: زه پر دې نه ژارم چي ما ته ددې علم نسته چي د خداى تعالى سره د رسول الله ﷺ لپاره خير او خير دى بلكه پر دې ژارم چي د آسماني وحي لړۍ قطع سول، د ام ايمن دغه الفاظو د حضرت ابوبكر او حضرت عمر رضي الله عنهما زړونه دومره نرم كړل چي هغوئ هم ورسره په ژړا سول. مسلم.(ام ايمن د رسول الله ﷺ آزاده سوې مينځه او د اسامه بن زيد ﷺ مور وه).

## د مسجد نبوي پر منبر اخيري خطبه

(٥٧١٦): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ عَاصِبًا رَأْسَهُ بِخِرْقَةٍ حَتّٰى أَهْوٰى نَحْوَ الْمِنْبَرِ فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ وَاتَّبَعْنَاهُ قَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنِّيْ لَأَنْظُرُ إِلَى الْحَوْضِ مِنْ مُقَامِيْ هٰذَا ثُمَّ قَالَ إِنَّ عَبْدًا عُرِضَتْ عَلَيْهِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا فَاخْتَارَ الْاٰخِرَةَ قَالَ فَلَمْ يَفْطِنْ لَهَا أَحَدٌ غَيْرَ أَبِيْ بَكْرٍ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ فَبَكٰى ثُمَّ قَالَ بَلْ نَفْدِيْكَ بِاٰبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا وَأَنْفُسِنَا وَأَمْوَالِنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ هَبَطَ فَمَا قَامَ عَلَيْهِ حَتَّى السَّاعَةَ. رواه الدارمي.

د حضرت بوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په خپل هغه ناروغي كي چي په هغه كي وفات سو د كور څخه دباندي تشريف راوړ، دغه وخت موږ په مسجد كي وو، او سر مبارك يې په جامه كي ترلى وو، رسول الله ﷺ مسجد ته د داخليدو سره منبر ته راغلى بيا پر منبر كېښنستى، رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك كي زما ساه ده زه پر دغه منبر ناست حوض كوثر وينم، بيا يې وفرمايل: د خداى ﷺ يو بنده چي هغه ته دنيا او د دنيا زينت وراندي كړل سو مگر هغه آخرت اختيار كړ، د ابوسعيد بيان دى د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په مطلب د حضرت ابوبكر صديق ﷺ څخه ماسوا بل څوك پوه نه سول، د هغه د سترگو څخه اوښكي جاري سوې، بيا په ژړا سو، بيا يې عرض وكړ بلكه موږ پر تاسو خپل پلرونه، خپل ميندې، خپل مالونه او خپل ځانونه اې د الله رسوله! قربانوو، ابوسعيد ﷺ وايي ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د منبر څخه راكښته سو او بيا رسول الله ﷺ تر دې وخته پورې پر منبر ونه دريدى. دارمي.

## بي بي فاطمې ته د وفات پيشگوئي

(٥٧١٧): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ قَالَ نُعِيَتْ إِلَيَّ نَفْسِيْ فَبَكَتْ قَالَ لَا تَبْكِيْ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي كله سورة (اذا جاء نصر الله) نازل سو، نو رسول الله ﷺ بي بي فاطمه راوغوښتل ورته وه يې فرمايل:

فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ فَضَحِكْتُ فَرَآهَا بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ يَا فَاطِمَةُ رَأَيْنَاكِ بَكَيْتِ ثُمَّ ضَحِكْتِ قَالَتْ إِنَّهُ أَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ قَدْ نُعِيَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ فَبَكَيْتُ فَقَالَ لِيْ لَا تَبْكِيْ فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ فَضَحِكْتُ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ وَجَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَالْإِيْمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ. رواه الدارمي.

ما ته د مرگ خبر راکړل سوی دی ، ددې اوریدو سره بي بي فاطمه په ژړا سوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې فاطمې! مه ژاړه، زما په اهل بیتو کي به ته تر ټولو مخکي زما سره یو ځای کیږې ، ددې اوریدو سره بي بي فاطمه په خندا سوه ، کله چي یې بي بي فاطمه په خندا ولیدل نو د نبي کریم ﷺ ځینو بیبیانو د هغې څخه پوښتنه وکړه چي اې فاطمې! اول مو ته په ژړا ولیدلې او بیا په خندا ددې سبب څه دی؟ بي بي فاطمې ورته وویل رسول الله ﷺ زه خبره کړې وم چي ما ته د خپل مرگ خبر راکړل سوی دی ، ددې اوریدو سره زه په ژړا سوم ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل مه ژاړه زما په اهل بیتو کي به تر ټولو مخکي ته زما سره یو ځای کیږې، ددې اوریدو سره زه په خندا سوم، او رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله ﷻ مرسته راورسیدل مکه فتحه سوه، د یمن خلک راغلل چي ډیر نرم زړونه یې وي، او د هغوئ ایمان هم یمني دی . او دهغوئ علم او حکمت هم یمني دی. دارمي.

## د حضرت ابوبکر صدیق ؓ د خلافت په اړه وصیت

(٥٧١٨): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ وَا رَأْسَاهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكِ لَوْ كَانَ وَأَنَا حَيٌّ فَأَسْتَغْفِرَ لَكِ وَأَدْعُوَ لَكِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ وَا ثُكْلِيَاهُ وَاللهِ إِنِّي لَأَظُنُّكَ تُحِبُّ مَوْتِي فَلَوْ كَانَ ذَاكَ لَظَلِلْتَ آخِرَ يَوْمِكَ مُعَرِّسًا بِبَعْضِ أَزْوَاجِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَنَا وَا رَأْسَاهُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَوْ أَرَدْتُ أَنْ أُرْسِلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَابْنِهِ وَأَعْهَدَ أَنْ يَقُوْلَ الْقَائِلُوْنَ أَوْ يَتَمَنَّى الْمُتَمَنُّوْنَ ثُمَّ قُلْتُ يَأْبَى اللهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْمِنُوْنَ أَوْ يَدْفَعُ اللهُ وَيَأْبَى الْمُؤْمِنُوْنَ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي یوه ورځ هغې د رسول الله ﷺ په حضور کي د سخت درد په حالت کي وویل آه زما سر درد کوي، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : که مرگ واقع سو او زه ژوندی وم نو ستا لپاره به د بخښني دعاء کوم او تا ته به دعاء کوم، بي بي عائشې عرض وکړ آه مصیبت او هلاکت دی ، په خدای دې مې قسم وي زما خیال دا دی تاسو غواړئ چي زه مړه سم که داسي وسول نو تاسو به د هغه ورځي په آخر کي د خپلي یوې بلې بي بي سره شپه تیره کړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل : اې عائشې! زما د سردرد او زما د مرگ په ذکر کي بوخته سه ، رسول الله ﷺ فرمایي ددې الفاظو

څخه زما مطلب داوو چي ما قصد كړى وو يا ما ددې خبرې اراده كړې وه چي يو څوك سرى واستوم ابوبكر او د هغه زوى را وغواړم او د هغه لپاره (ابوبكر ﷺ لپاره) د خلافت وصيت وكړم، لپاره ددې چي بيا وينا ونه كړي وينا كونكى، يا تمنا ونه كړي تمنا كونكى، بيا ما په خپل زړه كي وويل چي خداى تعالى منعه كوي او مؤمنان دفع كوي يا خداى ﷻ دفعه كوي او مؤمنان منعه كوي. بخاري.

## د مرض الموت پيل كيدل

(٥٧١٩): وَعَنْهَا قَالَتْ رَجَعَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مِنْ جَنَازَةٍ مِنَ الْبَقِيْعِ فَوَجَدَنِيْ وَأَنَا أَجِدُ صُدَاعًا وَأَنَا أَقُوْلُ وَارَأْسَاهُ قَالَ بَلْ أَنَا يَا عَائِشَةُ وَارَأْسَاهُ قَالَ وَمَا ضَرَّكِ لَوْ مُتِّ قَبْلِيْ فَغَسَّلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ وَصَلَّيْتُ عَلَيْكِ وَدَفَنْتُكِ قُلْتُ لَكَأَنِّيْ بِكَ وَاللهِ لَوْ فَعَلْتَ ذٰلِكَ لَرَجَعْتَ إِلَى بَيْتِيْ فَعَرَّسْتَ فِيْهِ بِبَعْضِ نِسَائِكَ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ بُدِيءَ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ. رواه الدارمي.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي يوه ورځ د بقيع په هديره كي د يوې جنازې دفن كولو څخه وروسته رسول الله ﷺ ما ته تشريف راوړ، او زه يې په داسي حال كي وليدم چي زما سر خوږېدى او ما ويل: آه زما د سردرد، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عائشې! بلكه زما سر درد كوي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: او په دې كي ستا تاوان څه دى؟ كه ته زما څخه مخكي مړه سوې نو زه به غسل دركړم، ستا جنازه به وكړم او تا به دفن كړم، ما وويل: په خداى ﷻ مي دي قسم وي كه تاسو داسي وكړل نو خپل كور ته به راستنيدو سره به د خپلي بلي يوې بي بي سره شپه تيره كړې، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ په مسكا سو، او د هغه وخت څخه د رسول الله ﷺ د هغه ناروغۍ لړۍ پيل سوه چي په هغه كي وفات سو. دارمي.

## د حضرت خضر ﷺ تعزيت

(٥٧٢٠): وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ قُرَيْشٍ دَخَلَ عَلَى أَبِيْهِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ فَقَالَ أَلَا أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَلٰى حَدِّثْنَا عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا مَرِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيْلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِيْ إِلَيْكَ تَكْرِيْمًا لَكَ وَتَشْرِيْفًا لَكَ خَاصَّةً لَكَ يَسْأَلُكَ

حضرت جعفر بن محمد ﷺ د خپل پلار څخه روايت كوي چي يو قريشي سړى زما پلار علي بن حسين ته راغلى او علي بن حسين هغه ته وويل: ايا ستا مخكي د رسول الله ﷺ حديث بيان كړم، هغه سړي وويل موږ ته د ابوالقاسم ﷺ حديث بيان كړئ، علي بن حسين ﷺ ورته وويل رسول الله ﷺ چي كله ناروغ سو نو جبرائيل عليه السلام يې په خدمت كي حاضر

عَمَّا هُوَ أَعْلَمُ بِهِ مِنْكَ يَقُوْلُ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَ أَجِدُنِيْ يَا جِبْرِيْلُ مَغْمُوْمًا وَأَجِدُنِيْ يَا جِبْرِيْلُ مَكْرُوْبًا ثُمَّ جَاءَهُ الْيَوْمَ الثَّانِيْ فَقَالَ لَهُ ذٰلِكَ فَرَدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا رَدَّ أَوَّلَ يَوْمٍ ثُمَّ جَاءَهُ الْيَوْمَ الثَّالِثَ فَقَالَ لَهُ كَمَا قَالَ أَوَّلَ يَوْمٍ وَرَدَّ عَلَيْهِ كَمَا رَدَّ عَلَيْهِ وَجَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ يُقَالُ لَهُ إِسْمَاعِيْلُ عَلَى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ كُلُّ مَلَكٍ عَلَى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيْهِ فَسَأَلَهُ عَنْهُ ثُمَّ قَالَ جِبْرِيْلُ هٰذَا مَلَكُ الْمَوْتِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْكَ مَا اسْتَأْذَنَ عَلَى آدَمِيٍّ قَبْلَكَ وَلَا يَسْتَأْذِنُ عَلَى آدَمِيٍّ بَعْدَكَ فَقَالَ ائْذَنْ لَهُ فَأَذِنَ لَهُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِيْ إِلَيْكَ فَإِنْ أَمَرْتَنِيْ أَنْ أَقْبِضَ رُوْحَكَ قَبَضْتُ وَإِنْ أَمَرْتَنِيْ أَنْ أَتْرُكَهُ تَرَكْتُهُ فَقَالَ وَتَفْعَلُ يَا مَلَكَ الْمَوْتِ قَالَ نَعَمْ بِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأُمِرْتُ أَنْ أُطِيْعَكَ قَالَ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ جِبْرِيْلُ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ قَدِ اشْتَاقَ إِلَى لِقَائِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَلَكِ الْمَوْتِ امْضِ لِمَا أُمِرْتَ بِهِ فَقَبَضَ رُوْحَهُ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَاءَتِ التَّعْزِيَةُ سَمِعُوْا صَوْتًا مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ إِنَّ فِي اللهِ عَزَاءً مِنْ كُلِّ مُصِيْبَةٍ وَخَلَفًا مِنْ كُلِّ هَالِكٍ وَدَرَكًا مِنْ كُلِّ فَائِتٍ فَبِاللهِ فَاتَّقُوْا وَإِيَّاهُ فَارْجُوْا فَإِنَّمَا الْمُصَابُ مَنْ حُرِمَ الثَّوَابَ فَقَالَ عَلِيٌّ أَتَدْرُوْنَ مَنْ هٰذَا هُوَ الْخَضِرُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

سو ورته وه يې ويل اې محمد! خداى تعالى زه تا ته په خاصه توګه د تعظيم او تكريم لپاره رالیږلی يم او هغه ستا څخه ددې خبرې پوښتنه کوي چې ستا څخه زيات په پوهیږي يعني خداى تعالى ستا څخه پوښتنه کوي چې ستا څه حال دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې جبرائيل! زه خپل خان رنجيده او غمګين وينم، او اې جبرائيل! زه خپل خان مضطرب او پریشانه وينم ، په دويمه ورځ بيا جبرائيل عليه السلام رسول الله ﷺ ته راغلى او هغه الفاظ يې وويل کوم چې يې په لومړۍ ورځ ويلي وه او رسول الله ﷺ ورته هغه جواب ورکړ کوم چې يې ورته په لومړۍ ورځ ورکړي وه ، په دريمه ورځ بيا جبرائيل عليه السلام راغلى او هغه پوښتنه يې وکړه چې په لومړنۍ ورځ يې کړې وه او رسول الله ﷺ هم هغه جواب ورکړ کوم چې يې په لومړنۍ ورځ ورکړى وو، او د جبرائيل عليه السلام سره يوه ملائکه بله هم وه چې نوم يې اسماعيل وو او د زرو داسې ملائکو سرداره وه چې په هغو کې هره ملائکه د يو لك ملائکو سرداره وه، اسماعيل ملائکې د حاضرۍ اجازه وغوښتل، رسول الله ﷺ د جبرائيل عليه السلام څخه د هغې د نوم پوښتنه وکړه او بيا يې ورته د حاضرۍ اجازه ورکړه ، ددې څخه وروسته جبرائيل عليه السلام وويل دا ملائکه دمرګ حاضره ده د حاضرۍ اجازه غواړي او د نن څخه مخکې نه دغه ملائکې د چا څخه اجازه غوښتې

ده او نه به ددې څخه وروسته د چا څخه اجازه وغواړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل را وه يې غواړه ، نو جبرائيل علیه السلام هغه ملائکه راوغوښتل هغه حاضره سوه سلام يې وکړ او بیا يې عرض وکړ اې محمد ﷺ ! خدای تعالی زه ستاسو په خدمت کې رالیږلې یم که تاسو حکم کوئ نو زه به ستاسو روح قبض کړم او که منع کوئ نو روح به ستاسو په بدن کې پریږدم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا ته به داسې وکړې؟ ، دمرگ ملائکې ورته عرض وکړ هو، ما ته همداسې حکم راکړل سوی دی چې څه تاسو فرمایاست زه به د هغه اطاعت کوم، دراوي بیان دی چې نبي کریم ﷺ جبرائيل علیه السلام ته وکتل نو جبرائيل علیه السلام ورته عرض وکړ اې محمد ! خدای تعالی ستاسو د ملاقات مشتاق دی ، نبي کریم ﷺ د مرگ ملائکې ته حکم ورکړ د کومې خبرې چې تا ته حکم سوی دی هغه په عمل کې راوله، نو د مرگ ملائکې د رسول الله ﷺ روح مبارك قبض کړی ، کله چې رسول الله ﷺ وفات سو ، او یو سړی د تعزیت لپاره راغلی نو د سرای د یوه کونج څخه یو آواز واوریدل سو چې کورني يې مخاطب کړل ورته يې وویل اې د پیغمبر اهل بیتو! پر تاسو دې سلامتیا وي د خدای مهرباني دې وي او دخدای ﷻ برکتونه دې پر تاسو نازل وي ، دخدای په کتاب کې، د خدای په دین کې د هر مصیبت د تسکین او تسلی سامان موجود دی، او خدای تعالی د هر هلاکیدونکي شي بدله ورکونکی او د هر فوت کیدونکي شي تدارك کونکی دی، هر کله چې صورت حال دادی نو د خدای ﷻ په مرسته سره تقوا اختیار کړئ او د هغه څخه امید ساتئ ، څکه چې هیڅ مصیبت وهلی د ثواب څخه محرومه سوی نه دی ، ددې خطاب اوریدو سره حضرت علي ﷺ وویل تاسو ته معلومه ده چې دا تسکین ورکونکی سړی څوك دی ، دا حضرت خضر علیه السلام دی . بیهقي.

## باب ميراث النَّبي ﷺ
## «د نبي كريم ﷺ د ميراث بيان»

### لومــړی فصل

**رسول الله ﷺ هيڅ مال وصيت نه دی کړی**

(۵۷۲۱): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا شَاةً وَلَا بَعِيرًا وَلَا أَوْصَى بِشَيْءٍ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د خپل وفات څخه وروسته نه يو دينار پرينبودی نه درهم، نه يې پسه پرينبودی نه اوښ او نه يې د يو شي وصيت کړی دی. مسلم.

**رسول الله ﷺ ميراث نه دی پرې ايښی**

(۵۷۲۲): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَخِي جُوَيْرِيَةَ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ مَوْتِهِ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا أَمَةً وَلَا شَيْئًا إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً. رواه البخاري.

د حضرت عمرو بن حارث ﷺ څخه روايت دی چې د جويرې ورور دی چې رسول الله ﷺ د خپل وفات په وخت نه يو دينار پرينبودی نه درهم، نه يې غلام پرينبودی نه مينځه او نه بل يو شی خو يو سپينه غاتره او خپله وسله او مځکه چې په خپل ژوند کې يې صدقه کړې وه. بخاري.

**د رسول الله ﷺ ترکه د وارثانو حق نه دی**

(۵۷۲۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمَئُونَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ وفرمايل : زما دمرګ څخه وروسته به زما وارثان دينار نه ويشي ، د بيبيانو مصارف او دعامل دا جرت څخه وروسته چې پرېږدم هغه صدقه ده. بخاري او مسلم.

**د نبيانو په ترکه ميراث نه سته**

(۵۷۲۴): وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ. متفق عليه.

د حضرت ابوبکر ﷺ څخه روايت دیٔ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ دمال وارث نه وي موږ چې څه پرېږدو هغه صدقه ده. بخاري او مسلم.

**د امت مرحومه د نبي او د امت غير مرحومه د نبي د وفات په مينځ کې فرق**

(۵۷۲۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دیٔ چې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى چي په بندگانو كي پر كوم قوم د خپلي مهرباني اراده كوي نو دهغوئ نبي د هغه قوم څخه مخكي وفات كړي او بيا هغه نبي د هغه قوم امام وګرځوي، او هر كله چي الله تعالى د يو قوم د هلاكولو اراده وكړي نو د هغه نبي په ژوند او شتون كي هغه قوم په عذاب كي اخته كړي ، هغه نبي هغه قوم په عذاب كي نيولىويني او خوشحاليږي او خپلي سترګي يخوي ، ځكه چي هغوئ دې دروا غجن او دده د امر نافرماني به يې كوله . مسلم.

**يوه پشګوئي**

(٥٧٢٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ فِي يَدِهِ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَلَا يَرَانِي ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِي أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ مَعَهُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي. رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په قبضه كي د محمد ﷺ روح دى پر تاسو به يوه ورځ داسي راسي چي تاسو به ما ونه وينئ ، بيا به تاسو ته زما ليدل تر اهل ،مال او هر شي چي درسره وي تر هغه عزيز او محبوب وي . مسلم.

# بَابُ مَنَاقِب قُرَيْش وَ ذِكْر الْقَبَائِل

## (د قریشو مناقبو او فضائل بیان)

## لومړی فصل

### د قریشو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۷۲۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هَذَا الشَّأْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ. متفق عليه. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلك د قریشو تابع دي یعني مسلمان د مسلمانانو قریشو تابع او کافران د کافرانو قریشو تابع دي. بخاري او مسلم. |

### قریش سرداران دي

| | |
|---|---|
| (۵۷۲۸): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلك د خیر او شر په دوارو حالتونو کي د قریشو تابع دي. مسلم. |

### د قریشو خلافت

| | |
|---|---|
| (۵۷۲۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ هَذَا الْأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ. متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: همیشه دا امر (یعني دین یا امر خلافت) به په قریشو کي وي تر څو پوري چي په |

دوئ کي دوه کسان هم پاته وي. بخاري او مسلم.

### د قریشو استحقاق

| | |
|---|---|
| (۵۷۳۰): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ فِي قُرَيْشٍ لَا يُعَادِيهِمْ أَحَدٌ إِلَّا كَبَّهُ اللّٰهُ عَلَى وَجْهِهِ مَا أَقَامُوا الدِّينَ. رواه البخاري. | د حضرت معاویه ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي دا (یعني خلافت یا دین) به همیشه په قریشو کي وي تر څو پوري چي د قریشو خلك دین قائم ساتي |

څوك چي د دوئ سره عداوت او دښمني کوي خدای ﷻ به هغه پرمخی راوغورځوي. بخاري.

## د قریشو د دوولس خلفاؤ ذکر

(۵۷۳۱): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَزَالُ الْإِسْلَامُ عَزِيزًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ، وفي رواية لايزال امر الناس ماضيا ما وليهم اثنى عشر رجلا كلهم من قريش وفي رواية لايزال الدين قائما حتى تقوم الساعة او يكون عليهم اثنا عشر خليفة كلهم من قريش. متفق عليه.

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ اوریدلي دي چي اسلام به تر دوولس خلیفه ګانو پوري قوي او عزیز وي او دا تول خلفاء به د قریشو څخه وي، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خلکو دا کار به برابر جاري وي تر څو پوري چي دوولس کسان به حکمراني کوي او دا تول به د قریشو د کورني څخه وي، او په یوه روایت کي داسي دي چي نبئ کریم ﷺ وفرمایل: تر قیامته پوري به دین قائم او مستقیم وي او پر خلکو به دوولس خلیفه ګان وي چي تول به د قریشو څخه وي. بخاري او مسلم.

## د عربو قبائل

(۵۷۳۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارُ غَفَرَ اللّٰهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللّٰهُ وَعُصَيَّةُ عَصَتْ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قبیله غفار خدای ﷺ وبخښل، قبیله اسلم یې سلامت وساتل او قبیله عصیه د خدای او د هغه د رسول نافرماني وکره. بخاري او مسلم.

## د یو څو قبائلو فضیلت

(۵۷۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشٌ وَالْأَنْصَارُ وَجُهَيْنَةُ وَمُزَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ وَأَشْجَعُ مَوَالِيَّ لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى دُونَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قریش، انصار جهینه، مزینه، اسلم، غفار، اشجع زما دوستان دي او د هغوئ مرستیال د خدای ﷺ او د هغه د رسول څخه پرته بل څوک نسته. بخاري او مسلم.

## د دوو قبیلو ذکر

(۵۷۳۴): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمُ وَغِفَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ خَيْرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَبَنِي عَامِرٍ وَالْحَلِيفَيْنِ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ. متفق عليه.

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اسلم، غفار، مزینه او جهینه د قبائل بنو تمیم او بنو عامر څخه غوره دي اود دواړو یعني بنو اسد او عطفان څخه هم غوره دي. بخاري او مسلم.

د بنوتميم تعريف

| | |
|---|---|
| (۵۷۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا زِلْتُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ مُنْذُ ثَلَاثٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِيهِمْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِي عَلَى الدَّجَّالِ قَالَ وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ صَدَقَاتُ قَوْمِنَا وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ أَعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي زه بنو تميم د هغه وخت څخه همېشه محبوب گنم د کوم وخت څخه چي ما د هغوئ د درو خويونو ذکر د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دی، رسول الله ﷺ فرمايلي وه بني تميم به زما د امت څخه پر دجال تر ټولو زيات سخت وي ، د ابوهريره ﷺ بيان دی چي يو وار د قبيله بنو تميم صدقي راغللې ، د هغه په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا زموږ |

د قوم صدقي دي، ابوهريره ﷺ وايي د بي بي عائشې سره د بنوتميم يوه مينځه وه ، رسول الله ﷺ بي بي عائشې ته وفرمايل چي دا آزاده کړه دا د حضرت اسماعيل ﷺ د اولاد څخه ده . بخاري او مسلم

## دويم فصل

قريش مه ذليل کوئ

| | |
|---|---|
| (۵۷۳۶): عَنْ سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُرِدْ هَوَانَ قُرَيْشٍ أَهَانَهُ اللّٰهُ. رواه الترمذي. | د حضرت سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :څوك چي د قريشو د ذلت او خوارئ غوښتونکی وي خدای ﷺ به هغه ذليل او خوار کړي . ترمذي. |

د قريشو لپاره دعاء

| | |
|---|---|
| (۵۷۳۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ أَذَقْتَ أَوَّلَ قُرَيْشٍ نَكَالًا فَأَذِقْ آخِرَهُمْ نَوَالًا. رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اي الله ! تا په اول کي پر قريشو عذاب وڅکی (يعني د بدر او احزاب |

په جګړو کي) اوس د خپل بخښي او ورکړي خوند په وڅکې. ترمذي.

دوې يمني قبيلې

| | |
|---|---|
| (۵۷۳۸): وَعَنْ أَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ وَالْأَشْعَرِيُّونَ لَا يَفِرُّونَ فِي الْقِتَالِ وَلَا يَغُلُّونَ هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابو عامر اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قبيله اسد او قبيله اشعري ډيري ښه قبيلي دي ، دا دواړي قبيلې د جنگ د ميدان څخه نه تښتي او د غنيمت په مال |

کي خیانت نه کوي، هغوئ زما ښخه دي او زه د هغوئ ښخه یم . ترمذي.

**ازد د الله ﷻ لښکر دي**

(۵۷۳۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْأَزْدُ أَزْدُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ وَ يُرِيدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوهُمْ وَيَأْبَى اللّٰهُ إِلَّا أَنْ يَرْفَعَهُمْ وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَقُولُ الرَّجُلُ يَا لَيْتَ أَبِي كَانَ أَزْدِيًّا يَا لَيْتَ أُمِّي كَانَتْ أَزْدِيَّةً. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قبیله ازد په مځکه کي د خدای ﷻ زمریان او د خدای ﷻ لښکر دي، خلك د هغوئ ذلیل او خوار کول غواړي مگر خدای ﷻ د هغوئ د خواهش خلاف د هغوئ درجه لوړوي ، او یوه زمانه به پر خلکو داسي راسي چي سړی به دا وایي کاش چي زما پلار او مور د قبیله ازد ښخه وای، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی .

**د درو قبیلو ښخه ناراضي**

(۵۷۴۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ ثَقِيفًا وَبَنِي حَنِيفَةَ وَبَنِي أُمَيَّةَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمران بن حصین ﷺ ښخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په داسي حالت کي وفات سو چي دري قبیلې یې خوښي نه وې (او هغه دري قبیلې دادی قبیله ثقیف، قبیله بنو حنیفه، او قبیله بنو امیه) . ترمذي.

**د بنو ثقیف د دوو کسانو په اړه پیشگوئي**

(۵۷۴۱): وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ قَالَ عبدالله ابن عصمة يُقَالُ الْكَذَّابُ الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ وَالْمُبِيرُ الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ وقال هشام بْنِ حَسَّانَ أَحْصَوْا مَا قَتَلَ الْحَجَّاجُ صَبْرًا فَبَلَغَ مِائَةَ أَلْفٍ وَعِشْرِينَ أَلْفًا. رواه الترمذي و روى مسلم في الصحيح حين قتل الحجاج عبدالله ابن الزبير قالت اسماء ان رسول الله صلى الله عليه وسلم حدثنا ان في ثقيف كذابا و مبيرا فاما الكذاب فرايناه واما المبير فلا اخالك الا اياه و سيجئ تمام الحديث في الفصل الثالث.

د حضرت ابن عمر ﷺ ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ثقیف په قبیله کي به د انتها درجې یو درواغجن وي او یو سړی به هلاکونکی وي ، د عبدالله بن عصمه راوي بیان دی چي په حدیث کي د کوم درواغجن ذکر دی ددې ښخه مراد مختار بن ابي عبید دی، او هلاکونکی حجاج بن یوسف دی ، او هشام بن حسان وایي حجاج بن یوسف چي زموږ ښومره خلك بندیان کړي او قتل کړي دي د هغوئ شمیر خلکو شمیرلی دی چي یو لك شل زره دی، ترمذي ، د مسلم په صحیح

روایت کي ویل سوي دي چي کله حجاج حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ شهید کړ نو د هغه مور بي بي اسماء (بنت ابوبکر) وویل مورِ ته رسول الله ﷺ فرمایلي وه چي په قبیله ثقیف کي به یو ډیر لوی دروغجن پیداکیږي او یو ډیر لوی هلاکونکی ، نو لوی دروغجن خو موږ ولیدی (یعني مختار) اوس پاته سو مفسد او هلاکونکی نو گمان نه کوم پر تا مگر د هغه (یعني حجاج هلاکونکی دی)، دا پوره حدیث په دریم فصل کي دی .

### د قبیله ثقیف لپاره دعاء

(۵۷۲۲): وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَحْرَقَتْنَا نِبَالُ ثَقِيفٍ فَادْعُ اللّٰهَ عَلَيْهِمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي خلکو وویل: اې دالله رسوله د ثقیف غشو موږ وسوځلو ،نو د خدای ﷺ څخه د هغوئ لپاره ښیرا وکړه، رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله ! د ثقیف قبیلي ته هدایت وکړې . ترمذي.

### د حمیر قبیله لپاره دعاء

(۵۷۲۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مِينَاءَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ أَحْسِبُهُ مِنْ قَيْسٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ الْعَنْ حِمْيَرًا فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ حِمْيَرًا أَفْوَاهُهُمْ سَلَامٌ وَأَيْدِيهِمْ طَعَامٌ وَهُمْ أَهْلُ أَمْنٍ وَإِيمَانٍ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَيُرْوَى عَنْ مِينَاءَ هٰذَا أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ. رواه الترمذي.

حضرت عبدالرزاق ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د میناء څخه او هغه د ابوهریره ﷺ څخه روایت کوي چي موږ د نبي کریم ﷺ سره ناست وو چي یو سړی زما په خیال کي د قبیله قیس څخه وو حاضر سو او وه یې ویل: اې دالله رسوله ! پر قبیله حمیر باندي لعنت وکړئ (یعني ښیرا ورته وکړئ) ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ مخ مبارک خیني واروی، هغه بیا د بل طرف څخه راغلی نبي کریم ﷺ مخ خیني وگرځوی بیا د بل طرف څخه ورته راغلی نو د ښېرا څخه یې اعراض وکړئ او وه یې فرمایل : خدای ﷺ دي پر حمیر رحمت نازل کړي د هغوئ خولې سلام دي (یعني ډیر سلام کوي) او د هغوئ په لاسونو کي خوراک دي (یعني ډیر خوراک ورکونکي دي) او هغوئ د امن او ایمان خاوندان دي ، ترمذي . او ویلي یې دي چي دا حدیث غریب دی چي د عبدالرزاق څخه پرته بل چا نه دی روایت کړی او دی له میناء څخه روایت کوي منکر احادیث .

## قبیله دوس

(۵۷۴۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ أَنْتَ قَالَ قُلْتُ مِنْ دَوْسٍ قَالَ مَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي دَوْسٍ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي ته د کومي قبیلې څخه یې؟ ما وویل د قبیله دوس څخه. رسول الله ﷺ وفرمایل: زما دا خیال نه وو چي په دوس کي به داسي یو سړی وي چي په هغه کي به خیر وي، ترمذي.

## د عربو سره دښمني مه کوئ

(۵۷۴۵): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبْغِضْنِي فَتُفَارِقَ دِينَكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ أُبْغِضُكَ وَبِكَ هَدَانَا اللّٰهُ قَالَ تُبْغِضُ الْعَرَبَ فَتُبْغِضُنِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت سلمان ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل: ته زما سره بغض مه ساته کنه نو ددین څخه به بیل سې، ما وویل: اې دالله رسوله ! زه به څنګه ستاسو سره بغض ساتم، حال دا چي ستاسو په ذریعه خدای تعالی موږ ته سیده لار ښودلې ده، رسول الله ﷺ وفرمایل: که ته د عربو سره بغض ساتې نو لکه زما سره چي بغض ساتې. ترمذي.

## د عربو سره خیانت

(۵۷۴۶): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَشَّ الْعَرَبَ لَمْ يَدْخُلْ فِي شَفَاعَتِي وَلَمْ تَنَلْهُ مَوَدَّتِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث حصين بن عمر وليس هو عند اهل الحديث بذات القوى.

د حضرت ثمان بن عفان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د عربو سره خیانت وکړي هغه به زما په شفاعت کي داخل نه سي او نه به زما د دوستۍ شرف ورته تر لاسه سي. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

## یو پشګوئي

(۵۷۴۷): وَعَنْ أُمِّ الْحُرَيْرِ مولاة طلحة بن مالك قَالَتْ سَمِعْتُ مَوْلَايَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ هَلَاكُ الْعَرَبِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوطلحه د ازاد کړل سوي مینځې ام حریر څخه روایت دی چي ما د خپل بادار (ابوطلحه بن مالك) څخه دا اوریدلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت د نژدېوالي د نښو څخه یوه نښه د عربو هلاکیدل دي. ترمذي.

**خلافت او امارت قریشو ته بنایي**

(۵۷۴۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُلْكُ فِي قُرَيْشٍ وَالْقَضَاءُ فِي الْأَنْصَارِ وَالْأَذَانُ فِي الْحَبَشَةِ وَالْأَمَانَةُ فِي الْأَزْدِ يَعْنِي الْيَمَنَ وفي رواية موقوفا. رواه الترمذي وقال هذا اصح.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلافت او حکومت په قریشو کي دی او قضاء په انصارو کي او آذان په قوم حبشه کي او امانت داري په ازد کي ده. او دا حدیث موقوف هم روایت سوی دی، ترمذي ویلي دي دا موقوف والی ډیر صحیح دي.

## دریم فصل

**د قریشو په باره کي پیشگوئي**

(۵۷۴۹): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُطِيعٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا الْيَوْمِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم.

حضرت عبدالله بن مطیع ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه د مکې د فتح په ورځ واوریدل چي دنن څخه وروسته به هیڅ قریشي په بندي کي نه وژل کیږي تر ورځي د قیامت پوري. مسلم.

**د حجاج په مخکي د بي بي اسماء حق ویل**

(۵۷۵۰): وَعَنْ أَبِي نَوْفَلٍ معاوية بن مسلم قال رَأَيْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى عَقَبَةِ الْمَدِينَةِ قَالَ فَجَعَلَتْ قُرَيْشٌ تَمُرُّ عَلَيْهِ وَالنَّاسُ حَتَّى مَرَّ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ أَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللّٰهِ إِنْ كُنْتَ مَا عَلِمْتُ صَوَّامًا قَوَّامًا وَصُولًا لِلرَّحِمِ أَمَا وَاللّٰهِ لَأُمَّةٌ أَنْتَ أَشَرُّهَا لَأُمَّةٌ سوء وفي رواية لامة خير ثُمَّ نَفَذَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ فَبَلَغَ الْحَجَّاجَ مَوْقِفُ عَبْدِ اللّٰهِ وَقَوْلُهُ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَأُنْزِلَ

د حضرت ابونوفل معاویه بن مسلم ﷺ څخه روایت دی چي ما د عبدالله بن زبیر ﷺ مړی د مدینې پر غونډۍ ولیدی، قریش ددغه مړي سره تیریدل تر دې چي عبدالله بن عمر ﷺ د مړي نژدې ودریدی وه یې ویل: السلام علیك اې ابوخبیب (د عبدالله بن زبیر ﷺ کنیت دی) السلام علیك اې ابوخبیب، السلام علیك اې ابوخبیب، خبر سه! قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې، خبرسه قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې، خبرسه! قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې، (دکار څخه مراد خلافت دی). خبر سه! قسم په خدای ما ته معلومه وه چي ته

عَنْ جذعه فَأُلقِيَ فِي قُبُورِ الْيَهُود ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُمِّهِ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ فَأَبَتْ أَنْ تَأْتِيَهُ فَأَعَادَ عَلَيْهَا الرَّسُولَ لَتَأْتِيَنِّي أَوْ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكِ مَنْ يَسْحَبُكِ بِقُرُونِكِ قَالَ فَأَبَتْ وَقَالَتْ وَاللّٰهِ لَا آتِيكَ حَتّٰى تَبْعَثَ إِلَيَّ مَنْ يَسْحَبُنِي بِقُرُونِي قَالَ فَقَالَ أَرُونِي سِبْتَيَّ فَأَخَذَ نَعْلَيْهِ ثُمَّ انْطَلَقَ يَتَوَذَّفُ حَتّٰى دَخَلَ عَلَيْهَا فَقَالَ كَيْفَ رَأَيْتِنِي صَنَعْتُ بِعَدُوِّ اللّٰهِ قَالَتْ رَأَيْتُكَ أَفْسَدْتَ عَلَيْهِ دُنْيَاهُ وَأَفْسَدَ عَلَيْكَ آخِرَتَكَ بَلَغَنِي أَنَّكَ تَقُولُ لَهُ يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ أَنَا وَاللّٰهِ ذَاتُ النِّطَاقَيْنِ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكُنْتُ أَرْفَعُ بِهِ طَعَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَعَامَ أَبِي بَكْرٍ مِنَ الدَّوَابِّ وَأَمَّا الْآخَرُ فَنِطَاقُ الْمَرْأَةِ الَّتِي لَا تَسْتَغْنِي عَنْهُ أَمَا إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا أَنَّ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابًا وَمُبِيرًا فَأَمَّا الْكَذَّابُ فَرَأَيْنَاهُ وَأَمَّا الْمُبِيرُ فَلَا إِخَالُكَ إِلَّا إِيَّاهُ قَالَ فَقَامَ عَنْهَا وَلَمْ يُرَاجِعْهَا. رواه مسلم.

زيات روژې نيونكى وې ډير شب بيدار وې او د قريبانو سره ډير احسان او ښه چلن كونكى وې، قسم په خداى هغه ډله چې د هغوئ خيال او په اعتقاد كي ته خراب يې البته يو خراب ډله ده،. او. په يوه روايت كي دا الفاظ دي كومه ډله چې پر تا خراب خيال كوي څه ښه ډله ده ، «د تعريض او طعن په ډول چې ستا په ډول نيك سړي باندي دا ډله بد وايي» ، ددې څخه وروسته عبدالله بن عمر ﷺ ولاړ ، بيا دا خبر چې حجاج بن يوسف ته ورسيدى چې عبدالله بن عمر ﷺ د مړي سره ولاړ وو او داسي داسي يې ويلي دي ، نو هغه مړى يې د لرگي څخه راكښته كړ او د يهودو په هديره كي يې وغورځوى ، بيا حجاج سړى وليږى او د عبدالله بن زبير مور بي بۍ اسماء بنت ابوبكر يې وغوښتل ، هغې د راتلو څخه انكار وكړ، حجاج بيا سړى ور وليږى، او حكم يې وكړ چې سمدستي حاضره سه كنه نو داسي سړى به در واستوم چې تا به د سر ورېښتانو څخه نيولې راولي، د راوي بيان دى چې اسماء بنت ابوبكر بيا انكار وكړا و وه يې ويل : قسم په خداى چې هيڅكله به در نه سم، كه څه هم ته هغه سړى راوليږې چې ما تر سر نيولې راكشوي، ددې اوريدو سره حجاج وويل : زما څپلى راوړه ، بيا هغه څپلى په پښو كړې او په كبر سره روان سو، تر دې چي اسماء بنت ابوبكر ته راغلل او ورته وه يې ويل : تا زه د خداى د دښمن «يعني ابن زبير ﷺ» سره په چلن كولو كي څنگه وليدم؟ بي بي اسماء ورته وفرمايل : ما وليدل چي تا دده دنيا تباه او برباد كړه او هغه ستا آخرت تباه كړ، زه خبره سوې يم چي تا ده ته د ذات النطاقين زوى ويل، قسم په خداى هغه دوه كمر بنده والا ښځه زه يم ، زما يو كمر بند خو هغه وو چي په هغه سره ما د رسول الله ﷺ او د ابوبكر ﷺ خوراك تړلو سره زړوى چي دحيوانانو څخه خوندي وي او زما دويم كمر بند هغه وو چي د هغه څخه هيڅ يوه ښځه بې پروا كيدلاى نه سي .. خبر سه ! رسول الله ﷺ

حدیث بیان کړی دی چي د ثقیف په قبیله کي به یو لوی درواغجن او یو لوی مفسد او لوی وینه بیونکي وي ، هغه لوی درواغجن خو موږ ولیدی اوس پاته سو هغه فاسد او قاتل نو زما خیال دی چي هغه هم ته یې، د ابونقل راوي بیان دی د بي بي اسماء ددغه الفاظو اوریدو سره حجاج پورته ولاړ سو او هغې ته یې هیڅ جواب ور نه کړ . مسلم.

**د حضرت عبدالله ابن عمر د خلافت څخه انکار**

(۵۷۵۱): وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَتَاهُ رَجُلَانِ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَا إِنَّ النَّاسَ صَنَعُوا وَأَنْتَ ابْنُ عُمَرَ وَصَاحِبُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَخْرُجَ فَقَالَ يَمْنَعُنِي أَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ دَمَ أَخِي قَالَا أَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَقَالَ ابن عمر قد قَاتَلْنَا حَتّٰى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ وَكَانَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا حَتّٰى تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّيْنُ لِغَيْرِ اللّٰهِ. رواه البخاري.

د حضرت نافع ؓ څخه روایت دی چي د عبدالله بن زبیر ؓ د فتنې په ورځو کي دوه خلك عبدالله بن عمر ؓ ته راغلل ورته وه یې ویل خلکو چي څه وکړل هغه ته وینې او ته د حضرت عمر ؓ زوی او د رسول الله ﷺ صحابي یې بیا کوم امر مانع دی چي ته هم ووځې ، ددې اوریدو سره ورته عبدالله بن عمر ؓ وویل : الله ﷻ د یو مسلمان ورور وینه بیول زما لپاره حرام ګرځولي دي ، هغوئ ورته وویل ایا خدای ﷻ داسي نه دي فرمایلي : «وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة»، «د خلکو سره جنګ کوئ تر دې چي فتنه ختمه سي»، عبدالله بن عمر ؓ ورته وویل موږ د هغه خلکو سره قتل وکړ تر دې چي فتنه ختمه سوه ، او خالص دین الهي پاته سو او تاسو اوس دا غواړئ چي زه جنګ وکړم چي فتنه خپره سي او ددین الهي پر ځای د غیر الله دین قائم سي . بخاري.

**قبیله دوس ته دعاء**

(۵۷۵۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو الدوسي إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ دَوْسًا قَدْ هَلَكَتْ عَصَتْ وَأَبَتْ فَادْعُ اللّٰهَ عَلَيْهِمْ فظن الناس انه يدعوا عليهم فَقَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي طفیل بن عمر دوسي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي د دوس قبیله هلاکه سوه نافرماني یې وکړه د اطاعت څخه یې انکار وکړ تاسو د دوئ لپاره ښیرا وکړئ، نو د خلکو ګمان سو چي رسول الله ﷺ به هغوئ ته ښیرا وکړي ، مګر رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! د دوس قبیلې ته سیده لار وښیې، هغوئ د مدینې په لور راولې . بخاري او مسلم.

د عربو سره مينه

(۵۷۵۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ لِأَنِّيْ عَرَبِيٌّ وَالْقُرْآنُ عَرَبِيٌّ وَكَلَامُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د درو خبرو په سبب د عربو سره مينه کوئ: يو خو دا چي زه په عربو کي يم، دويم دا چي قرآن کريم په عربي ژبه کي دی او دريم دا چي د جنتيانو ژبه عربي ده. بيهقي.

# بَابُ مَنَاقِبِ الصَّحَابَه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن

## (د صحابه کرامو د مناقبو بيان)

## لومړی فصل

اصحابو ته بد مه واياست

(۵۷۵۴): عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما صحابه کرامو ته بد مه واياست څکه که په تاسو کي څوك د غره برابر سره زر خرځ کړي نو د صحابي د يومد يا نيم مد برابر هم ثواب نه سي تر لاسه کولای (مد يو پيمانه ده چي د سير په اندازه اوربشي پکښي راځي). بخاري او مسلم.

د صحابه کرامو وجود د امت لپاره د امن باعث وو

(۵۷۵۵): وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَفَعَ يَعْنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ وكان كثيرا مما يرفع راسه الى السماء فَقَالَ النُّجُومُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ فَإِذَا ذَهَبَتِ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ وَأَنَا أَمَنَةٌ لِأَصْحَابِي فَإِذَا ذَهَبْتُ أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ. رواه مسلم.

حضرت ابوبرده ﷺ د خپل پلار ابوموسی ﷺ څخه نقل کوي چي رسول الله ﷺ خپل سر مبارك د آسمان خوا ته پورته کړ او رسول الله ﷺ به سر مبارك د اسمان طرف ته ډېر پورته کوی او وه یې فرمايل: ستوري د آسمان لپاره د امن سبب وي کله چي دا ستوري ولاړ سي نو د آسمان لپاره به هغه شي راسي چي د هغه وعده سوې ده او زه د خپل اصحابو لپاره د امن سبب يم چي زه ولاړ

سم نو زما پر اصحابو باندي به هغه شی نازل سي چي د هغه وعده سوې ده (خپل منځي اختلاف) او زما اصحاب زما د امت لپاره د امن سبب دي او هر کله چي زما اصحاب ولاړ سي نو زما پر امت به هغه څه نازل سي چي د هغه وعده سوې ده (یعني بدعت او فساد). مسلم.

**د صحابه کرامو برکت**

(۵۷۵۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيَقُولُونَ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ. متفق عليه وفي رواية لمسلم قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يُبْعَثُ مِنْهُمُ الْبَعْثُ فَيَقُولُونَ انْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ فِيكُمْ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّانِي فَيَقُولُونَ هَلْ فِيهِمْ مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّالِثُ فَيُقَالُ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ مَنْ رَأَى مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَكُونُ الْبَعْثُ الرَّابِعُ فَيُقَالُ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ أَحَدًا رَأَى مَنْ رَأَى أَحَدًا رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُ.

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یوه زمانه به داسي راسي چي د خلکو یو ډله به جهاد کوي، خلك به په خپل منځ کي پوښتني کوي ایا په موږ کي داسي څوك هم سته چي د رسول الله ﷺ په صحبت کي پاته سوی وي، خلك به وايي هو سته نو د هغه خلکو لپاره به ښار او قلعه فتح کړل سي، بیا به پر خلکو یوه داسي زمانه راسي چي هغوئ به جهاد کوي او په خپلو کي به یو بل څخه پوښتني کوي ایا په تاسو کي یو تابعي سته، خلك به وايي هو سته نو خلك به ښارونه او قلعي فتح کړي، بیا به پر خلکو یوه داسي زمانه راسي چي د خلکو یو ډله به غزا کوي او په خپل منځ کي به پوښتنه کوي ایا په تاسو کي یو تبع تابعي سته، خلك به وايي هو سته نو د هغوئ لپاره به ښارونه او قلعي فتح کړل سي. بخاري او مسلم او د مسلم په یوه روایت کي داسي دي چي پر خلکو به یوه داسي زمانه راسي چي په هغه زمانه کي به خلکو ته یو لبسکر ولیږل سي او لښکریان به یو د بل څخه پوښتنه کوي وګورئ چي په موږ کي یو داسي څوك سته چي د رسول الله ﷺ صحابي وي، یو سړی به داسي پیدا کړي او د هغه د برکته به یې فتح نصیب سي، بیا به

دوهم لنبكر وليږل سي او لښكر والا به وايي ايا په دوئ كي يو داسي څوك سته چي هغه د رسول الله ﷺ يو صحابي ليدلى وي نو يو سړى به پيدا كړي چي د هغه د بركته به فتحه حاصله كړي، بيا به دريم لښكر وليږل سي او وه به ويل سي وګورئ ايا په دوئ كي يو داسي څوك سته چي هغه يو صحابي ليدلى وي ، بيا به څلورم لښكر وليږل سي او وه به ويل سي وګورئ چي په دوئ كي يو داسي څوك سته چي هغه د يو صحابي ليدونكى ليدلى وي نو يو سړى به پيدا كړي او د هغه په سبب به فتح ور په برخه سي .

(٥٧٥٧): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ إِنَّ بَعْدَكُمْ قَوْمًا يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ وَيَنْذُرُونَ وَلَا يَفُونَ وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ، وفي رواية و يحلفون ولا يستحلفون. متفق عليه وفي رواية لمسلم عن ابي هريرة ثم يخلف قوم يحبون السمانة.

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت غوره زما د قرن خلك دي (قرن يو دور دى يعني يوه زمانه ده ، څينو څلوبښت كاله، څينو پنځوس كاله، څينو اتيا كاله او څينو سل كاله ټاكلي دي) ، بيا هغه خلك غوره دي كوم چي د هغوئ سره متصل دي بيا هغه خلك غوره دي چي د هغوئ سره متصل دي بيا ددې قرن څخه وروسته د خلكو يو داسي ډله به پيداسي چي شاهدي به وايي خو د دوئ څخه به څوك د شاهدۍ طلب نه كوي او خيانت به كوي امينان كيدلای به نسي او داسي خلك به وي چي نذر به مني او وفا به نه كوي په هغوئ كي به چاغوالى پيداسي، او په يوه روايت كي داسي الفاظ دي چي بيا به داسي خلك پيداسي چي پرته د قسم وركولو به قسمونه خوري ، بخاري او مسلم ، او د مسلم په يوه روايت كي چي د ابوهريره ﷺ څخه روايت دى دا الفاظ دي چي ددغه خلكو څخه وروسته به يو داسي ډله پيداسي چي چاغوالى به خوښوي .

## دويم فصل

### د صحابه كرامو عزت او تكريم لازم دى

(٥٧٥٨): عَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْرِمُوْا أَصْحَابِي فَإِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَظْهَرُ الْكَذِبُ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيَحْلِفُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ وَيَشْهَدُ وَلَا

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د صحابه كرامو تعظيم (عزت) كوئ، څكه چي هغوئ ستاسو غوره خلك دي، بيا هغه خلك غوره دي چي هغوئ ته نژدې دي او بيا هغه خلك غوره دي چي هغوئ ته نژدې دي،

يُسْتَشْهَدُ أَلاَ مَنْ سَرَّهُ بُحْبُوحَةُ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ فان الشيطان مع الفذ وهو من الاثنين ابعد ولا يخلو رجل بامراة فَإِنَّ الشَّيْطَانَ ثَالِثُهُمْ وَمَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَهُوَ مُؤْمِنٌ.رواه النسائي واسناده صحيح ورجاله رجال الصحيح الا ابراهيم ابن الحسن الختعمي فانه لَم يخرج عنه الشيخان وهو ثقة ثبت.

ددي ځخه وروسته به درواغ ښکاره سي تر دي چي يو سړی به قسم خوري او د هغه ځخه به د قسم خوړلو غوښتنه نه وي ، او شاهدي به ورکوي او د شاهدي خواهش به څيني نه کيږي ، خبردار سئ! په تاسو کي چي څوك په جنت کي بالکل په منځ کي د اوسيدو خواهش لري هغه ته پکار ده چي هغه جماعت لازم ونيسي ځکه چي شيطان د هغه سړي سره وي چي د ډلي ځخه بيل او يوازي وي او شيطان د دو خلکو ځخه هم چي متحد وي ليري اوسي ، او سړی دي د پردۍ ښځي سره په يوازيوالي کي نه اوسيږي، ځکه چي د هغوئ سره دريم شيطان وي، او څوك چي په خپل نيکۍ سره خوشحاله سو او په بدۍ سره غمګين سو نو هغه مؤمن دی. ، نسائي .

**د صحابه کرامو او تابعينو فضيلت**

(٥٧٥٩): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي أَوْ رَأَى مَنْ رَآنِي. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه مسلمان چي هغه زه ليدلی يم ، يا هغه سړی يې وليدی چي هغه زه ليدلی يم نو اور به يې نه مس کوي . ترمذي.

**د صحابه کرامو فضيلت**

(٥٧٦٠): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ وَمَنْ آذَى اللَّهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خدای ﷻ ځخه وبيريږئ او بيا دخدای ﷻ ځخه وبيريږئ ، زماد اصحابو په اړه د خدای ﷻ ځخه وبيريږئ او زما د اصحابو په اړه د خدای ﷻ ځخه وبيريږئ ، زما ځخه وروسته تاسو هغوئ د بد او رد ښنه مه جوړوئ څوك چي د هغوئ سره مينه ساتي زما د ميني په سبب هغوئ محبوب ساتئ او څوك چي د هغوئ سره دښمني کوي نو زما سره د دښمنی په سبب د هغوئ سره دښمني ساتي ، او چا چي هغوئ ته تکليف ورسوئ هغه ما ته تکليف ورسوئ ، او چا چي ما ته تکليف ورسوئ هغه خدای ﷻ ته تکليف ورسوئ او چا چي خدای ﷻ ته تکليف ورسوی خدای ﷻ به هغه ډير ژر ونيسي . ترمذي.

**د صحابه کرامو او امت مثال**

(٥٧٦١): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أَصْحَابِيْ فِيْ أُمَّتِيْ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ لَا يَصْلُحُ الطَّعَامُ إِلَّا بِالْمِلْحِ قَالَ الْحَسَنُ فَقَدْ ذَهَبَ مِلْحُنَا فَكَيْفَ نَصْلُحُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما اصحاب زما په امت کي داسي مثال لري لکه مالگه په کتغ کي ، خوراك تر هغه پوري خوند نه کوي تر څو پوري چي مالگه پکښي وانه چول سي ، ددغه حديث اوريدو سره حسن وفرمايل زموږ مالگه ولاړل بيا به خپل خوراك موږ څنگه خوندور جوړ کړو . شرح السنه.

**د صحابي خلک جنت ته بيول**

(٥٧٦٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي يَمُوتُ بِأَرْضٍ إِلَّا بُعِثَ قَائِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب ، وذكر حديث ابن مسعود لا يبلغني احد في باب حفظ اللسان.

حضرت عبدالله بن بريده ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په اصحابو کي چي څوك پر کومه مځکه مړ سي نو د هغه ځاى څخه به په داسي حال کي پورته کيږي چي هغه به د هغه مځکي خلك د جنت خوا ته بيايي او د قيامت په ورځ به د خلکو لپاره نور وي. ترمذي.

## دريم فصل

**صحابه کرامو ته بد ويل د لعنت سبب دی**

(٥٧٦٣): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَسُبُّونَ أَصْحَابِي فَقُولُوا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى شَرِّكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي تاسو هغه خلك ووينئ چي زما اصحابو ته بد وايي نو تاسو ورته ووایاست چي ستاسو پر دغه شرير کار دي د خداى ﷻ لعنت وي . ترمذي.

**د صحابه کرامو اقتداء د هدايت ذريعه ده**

(٥٧٦٤): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ سَأَلْتُ رَبِّيْ عَنِ اخْتِلَافِ أَصْحَابِيْ مِنْ بَعْدِيْ فَأَوْحٰى إِلَيَّ يَا

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : ما دخپل پروردگار څخه د خپل وفات

مُحَمَّدُ إِنَّ أَصْحَابَكَ عِنْدِيْ بِمَنْزِلَةِ النُّجُوْمِ فِي السَّمَاءِ بَعْضُهَا أَقْوٰى مِنْ بَعْضٍ وَلِكُلٍّ نُوْرٌ فَمَنْ أَخَذَ بِشَيْءٍ مِمَّا هُمْ عَلَيْهِ مِنَ اخْتِلَافِهِمْ فَهُوَ عِنْدِيْ عَلٰى هُدًى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابِيْ كَالنُّجُوْمِ فَبِأَيِّهِمْ اقْتَدَيْتُمْ اهْتَدَيْتُمْ. رواه رزين.

وروسته د صحابه كرامو د اختلاف په اره پوښتنه وكړه ، نو خداى تعالى زه د وحي په ذريعه خبر كرم چي اې محمد ﷺ ستا اصحاب زما په نزد داسي دي لكه په آسمان كي ستوري ، ځيني په هغو كي د ځينو څخه قوي دي مگر پر هر حال ټول روښانه دي چا چي د هغوئ د اختلاف څخه څه واخيستل زما په نزد هغه پر هدايت دى ، دحضرت عمر ﷺ بيان دى چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي زما اصحابه په مثال د ستورو دي په هغوئ كي چي د چا پيروي كوئ هدايت به تر لاسه كړئ . رزين.

## بَابُ مَنَاقِبِ اَبِيْ بَكْرٍ ﷺ (د حضرت ابوبكر ﷺ مناقب)

### لومړى فصل

#### د ابوبكر صديق ﷺ مقام

(٥٧٦٥): عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبَا بَكْرٍ وعند البخاري اباكر وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ وَلٰكِنْ أُخُوَّةُ الْإِسْلَامِ وَمَوَدَّتُهُ لَا تَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ خوخة الا خوخة ابي بكر، وفي رواية لوكنت متخذا خليلا غير ربي لاتخذت اباكر خليلا. متفق عليه.

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بېشكه ډېر احسان كونكى د خلكو زما سره په صحبت خپل كي او په مال خپل كي ابوبكر دى او په نزد د بخاري ابابكر دى، كه ما يو څوك خپل خليل نيولاى نو ابوبكر ﷺ به مي نيولى واى مگر وروروليي د اسلام ده او دوستي د اسلام ده او په مسجد نبوي كي دي د هيڅا كلكين پاته نه سي مگر د ابوبكر ﷺ د كور كلكين، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي كه ما د خداى ﷻ څخه پرته بل څوك خليل جوړولاى نو ابوبكر ﷺ به مي جوړ كړى واى . بخاري او مسلم.

## ابوبکر صديق ﷺ غوره صحابي دی

(۵۷۶۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا وَلٰكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي وَقَدِ اتَّخَذَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيْلًا. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که ما يو څوك خپل خاص دوست جوړولای نو ابوبکر ﷺ به مي جوړ کړی وای مگر ابوبکر ﷺ زما ورور او زما صحابي دی او البته ستاسو دوست (يعني رسول الله ﷺ) خدای ﷺ خپل خليل جوړ کړی دی. مسلم.

## د خلافت وصيت

(۵۷۶۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ ادْعِي لِي أَبَا بَكْرٍ أَبَاكِ وَأَخَاكِ حَتّٰى أَكْتُبَ كِتَابًا فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَمَنّٰى مُتَمَنٍّ وَيَقُوْلُ قَائِلٌ أَنَا أَوْلٰى وَيَأْبَى اللّٰهُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ إِلَّا أَبَا بَكْرٍ. رواه مسلم وفي کتاب الحميدي انا اولى بدل انا ولا.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته د خپل مرض الموت په زمانه کي وفرمايل: زما د لوري خپل پلار ابوبکر او خپل ورور راوغواړه، چي زه يو تحرير وليکم څکه چي زما سره دا انديښنه ده چي يو څوك آرزو ونه کړي (يعني د خلافت) او زما سره دا بيره ده چي يو ويونکی دا ونه وايي چي زه د خلافت وړ يم، او الله ﷺ او مؤمنان به د ابوبکر ﷺ د خلافت څخه ماسوا بل څوك خلافت ته پرې نه ږدئ، مسلم او د حميدي په کتاب کي د انااولی پر ځای انا ولا راغلي دي.

(۵۷۶۸): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ فكلمته في شئ فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ قَالَتْ يارسول الله أَرَأَيْتَ إِنْ جِئْتُ وَلَمْ أَجِدْكَ كَأَنَّهَا تَقُوْلُ الْمَوْتَ قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ لَمْ تَجِدِيْنِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ. متفق عليه.

د حضرت جبير بن مطعم ﷺ څخه روايت دي چي يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او پر يو شي يې خبري ورسره وکړې، رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل: بيا يو وخت راسه، هغه ښځي وويل: اي دالله رسوله ! دا راته وفرماياست که زه راسم او ته مي پيدا نه کړلې لکه چي ددې ښځي د رسول الله ﷺ وفات مقصد وو نو زه بيا څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که زه نه وم نو ابوبکر ﷺ ته ولاړه سه. بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ محبوب کس ابوبکر صديق ﷺ وو

(۵۷۶۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عمر بن عاص ﷺ څخه روايت دی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السُّلَاسِلِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ قُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ قَالَ أَبُوهَا قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ عُمَرُ فَعَدَّ رِجَالًا فَسَكَتُّ مَخَافَةَ أَنْ يَجْعَلَنِي فِي آخِرِهِمْ. متفق عليه.

چي رسول الله ﷺ زه د يو لښكر امير وټاكلم و ذات السلاسل ته يې وليږلم، بيا چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو ما وويل چي اې دالله رسوله ! ستاسو زياته مينه د چا سره ده ؟ وه يې فرمايل : د بي بي عائشې سره، بيا ما پوښتنه وكړه او په نارينوو كي مو زياته مينه د چا سره ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د بي بي عائشې د پلار (حضرت ابوبكر صديق ﷺ) سره، ما وويل: بيا د چا سره ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د عمر ﷺ سره، عمروبن عاص ﷺ وايي همداسي رسول الله ﷺ يو څو كسان وشميرل ، بيا زه په دې خيال پټه خوله سوم چي داسي نه وي زما نوم بالكل په پاى كي راسي . بخاري او مسلم.

**د ابوبكر صديق ﷺ د فضيلت شاهدي د حضرت علي ﷺ په ژبه**

(۵۷۷۰): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَنَفِيَّةِ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ بَعْدَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ عُمَرُ وَخَشِيتُ أَنْ يَقُولَ عُثْمَانُ قُلْتُ ثُمَّ أَنْتَ قَالَ مَا أَنَا إِلَّا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ. متفق عليه.

د حضرت محمد بن حنفيه ﷺ څخه روايت دى چي ما د خپل پلار (حضرت علي ﷺ) څخه پوښتنه وكړه چي د نبي كريم ﷺ څخه وروسته كوم سړى تر ټولو غوره دى ، هغه وفرمايل : ابوبكر ﷺ، ما بيا پوښتنه وكړه د ابوبكر ﷺ څخه وروسته كوم سړى غوره دى ؟ هغه وفرمايل : عمر ﷺ، بيا ما له دې كبله پوښتنه ونه كړل چي هغه د حضرت عثمان ﷺ نوم وانه خلي، بلكه ما د سوال طرز بدل كړ او دا پوښتنه مي وكړه چي بيا تاسو غوره ياست؟ نو هغه راته وفرمايل زه خو د مسلمانانو څخه يو فرد يم. بخاري او مسلم.

**د ابوبكر صديق ﷺ فضيلت ټولو صحابه كرامو ته تسليم وو**

(۵۷۷۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَعْدِلُ بِأَبِي بَكْرٍ أَحَدًا ثُمَّ عُمَرَ ثُمَّ عُثْمَانَ ثُمَّ نَتْرُكُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ. رواه البخاري وفي رواية لابي داؤد قال كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ أَفْضَلُ أُمَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي موږ به د نبي كريم ﷺ په زمانه كي هيڅوك دابوبكر ﷺ برابر نه ګڼئ، (يعني تر هغه غوره) او د هغه څخه وروسته عمر ﷺ، او بيا عثمان ﷺ او د عثمان ﷺ څخه وروسته به صحابه كرام موږ پر خپل حال پرېښودل، او د هغوئ په منځ كي به مو چا ته فضيلت نه وركوى، بخاري ، او د ابوداؤد په

وَسَلَّمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ.

روایت کي دا الفاظ دي چي د رسول الله ﷺ په ژوند کي به موږ دا ویل چي د رسول الله ﷺ په امت کي د نبي کریم ﷺ څخه وروسته ابوبکر ؓ غوره دی، بیا عمر ؓ بیا عثمان ؓ. الله ﷻ دي د دوئ ټولو څخه راضي سي.

## دویم فصل

### د ابوبکر صدیق ؓ فضیلت

(۵۷۷۲): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِيهِ اللّٰهُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللّٰهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي زموږ سره یو احسان کړی دی موږ یې بدله ورکړې ده پرته د ابوبکر ؓ څخه چي هغه زموږ سره داسي نیکي او بخښنه کړې ده چي د هغه بدله به د قیامت په ورځ هغه ته الله ﷻ ورکوي، او د یو سړي مال ما ته دومره ګټه نه ده راکړې لکه څومره چي د ابوبکر ؓ مال ما ته ګټه را رسولې ده که ما یو څوک خپل خلیل جوړولای نو ابوبکر ؓ به مي خپل خلیل جوړ کړی وای، یاد لرئ ستاسو دوست د خدای خلیل دی. ترمذي

### ابوبکر ؓ د صحابه کرامو سردار دی

(۵۷۷۳): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمر ؓ څخه روایت دی چي ابوبکر ؓ زموږ سردار دی او زموږ غوره دی او په موږ کي رسول الله ﷺ ته زیات محبوب دی. ترمذي.

### د رسول الله ﷺ د غار ملګری

(۵۷۷۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ أَنْتَ صَاحِبِي فِي الْغَارِ وَصَاحِبِي عَلَى الْحَوْضِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ ابوبکر ؓ ته وفرمایل: ته زما د غار ملګری یې او پر حوض کوثر باندي به زما ملګری یې. ترمذي

**د ابوبكر صديق ﷺ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۷۷۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْبَغِي لِقَوْمٍ فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کومه ډله کي چي حضرت ابوبکر صديق ﷺ موجود وي مناسب نه |

دي چي د هغه څخه پرته بل سړی امام جوړ سي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

**ابوبکر ﷺ سبقت ويوړی**

| | |
|---|---|
| (۵۷۷۶): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَصَدَّقَ وَوَافَقَ ذَلِكَ عِنْدِي مَالًا فَقُلْتُ الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا قَالَ فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ قُلْتُ مِثْلَهُ وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ قَالَ أَبْقَيْتُ لَهُمْ اللهَ وَرَسُولَهُ قُلْتُ وَاللهِ لَا أَسْبِقُهُ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا. رواه الترمذي وابوداؤد. | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته د خدای ﷺ په لار کي د صدقې او خيرات کولو حکم راکړ، په حسن اتفاق سره هغه وخت زما سره ډير مال وو، ما په خپل زړه کي وويل که تر ابوبکر ﷺ مخته والی زما لپاره يو ورځ ممکن وای نو نن به ممکن وي، او زه به د ډير مال ورکولو سره مخته والی تر لاسه کړم، نو زه د نيم مال راوړلو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، رسول الله ﷺ |

زما څخه پوښتنه وکړه د کورني لپاره دي څومره مال پرېښود ، ما عرض وکړ: نيم مال، بيا ابوبکر ﷺ څه چي د هغه سره وه ټول يې راوړل، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه اې ابوبکره کورني ته دي څه پرې ايښي دي؟ هغه عرض وکړ د هغوئ لپاره مي خدای او د هغه رسول پرې ايښي دي، ما په زړه کي وويل چي زه به پر ابوبکر ﷺ هيڅکله مخته والی تر لاسه نه کړم. ترمذي او ابوداؤد.

**د عتيق د نامه سبب**

| | |
|---|---|
| (۵۷۷۷): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَنْتَ عَتِيقُ اللهِ مِنَ النَّارِ فَيَوْمَئِذٍ سُمِّيَ عَتِيقًا. رواه الترمذي. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي يوه ورځ ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : ته د |

دوزخ د اور څخه الله ﷺ آزاد کړي (انت عتيق من النار) نو د هغه ورځي څخه د ابوبکر ﷺ نوم عتيق سو . ترمذي.

**د قبر شق کيدل**

| | |
|---|---|
| (۵۷۷۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسو |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ آتِي أَهْلَ الْبَقِيعِ فَيُحْشَرُونَ مَعِي ثُمَّ أَنْتَظِرُ أَهْلَ مَكَّةَ حَتَّى أُحْشَرَ بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ. رواه الترمذي.

الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تر تولو مخکي زما قبر چوي او تر تولو مخکي به زه قبر څخه راپورته سم ، بیا دابوبکر ﷺ قبر او بیا دعمر ﷺ ، بیا به زه د بقیع په هدیره کي ښخ سوو ته راسم او هغوئ به زما سره راپورته سي او جمع به کړل سي ، بیابه زه د مکي والاوو انتظار کوم تر دې چي د حرم مکه او حرم مدینه په منځ کي به زه دهغوئ سره یو ځای سم. ترمذي.

**جنت ته داخلیدل**

(٥٧٧٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَرَانِي بَابَ الْجَنَّةِ الَّذِي تَدْخُلُ مِنْهُ أُمَّتِي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ مَعَكَ حَتَّى أَنْظُرَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یوه ورځ جبرائیل ﷺ ما ته راغلی او زما لاس یې په خپل لاس کي واخیستی «دا واقعه د معراج ده» او ما ته یې د جنت هغه دروازه وښودل چي پر هغه به زما امت په جنت کي داخلیږي، ابوبکر ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! کاش چي زه هم ستاسو سره وای چي هغه دروازه مي لیدلی وای، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې ابوبکر! خبردار سه! زما په امت کي به تر تولو لومړنی سړی ته یې چي په جنت کي به داخلیږي . ابوداؤد.

## دریم فصل

**د ابوبکر صدیق ﷺ دوه عملونه**

(٥٧٨٠): عَنْ عُمَرَ ذُكِرَ عِنْدَهُ أَبُو بَكْرٍ فَبَكَى وَقَالَ وَدِدْتُ أَنَّ عَمَلِي كُلَّهُ مِثْلُ عَمَلِهِ يَوْمًا وَاحِدًا مِنْ أَيَّامِهِ وَلَيْلَةً وَاحِدَةً مِنْ لَيَالِيهِ أَمَّا لَيْلَتُهُ فَلَيْلَةٌ سَارَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْغَارِ فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهِ قَالَ وَاللّٰهِ لَا تَدْخُلُهُ حَتَّى أَدْخُلَ قَبْلَكَ فَإِنْ كَانَ فِيهِ شَيْءٌ أَصَابَنِي دُونَكَ فَدَخَلَ فَكَسَحَهُ وَوَجَدَنِي جَانِبِهِ ثُقْبًا فَشَقَّ إِزَارَهُ وَسَدَّهَا بِهِ وَبَقِيَ

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ د هغه په مخکي د ابوبکر ﷺ ذکر وسو، نو دی په ژړا سو او وه یې ویل زما خوښه ده چي زما تول عمل د ابوبکر د یوې ورځي د ورځو په شان سي او په شان د یوې شپې سي له شپو دده څخه، د هغه د یوې شپې عمل خو دادی چي هغه د رسول الله ﷺ سره د هجرت په شپه روان سو غار ثور ته ورسیدی او رسول الله ﷺ ته یې عرض وکړ قسم

مِنْهَا اثْنَانِ فَأَلْقَمَهُمَا رِجْلَيْهِ ثُمَّ قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُدْخُلْ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَضَعَ رَأْسَهُ فِيْ حِجْرِهِ وَنَامَ فَلُدِغَ أَبُوْبَكْرٍ فِيْ رِجْلِهِ مِنَ الْجُحْرِ وَلَمْ يَتَحَرَّكْ مَخَافَةَ أَنْ يَنْتَبِهَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَقَطَتْ دُمُوْعُهُ عَلَى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ قَالَ لُدِغْتُ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ فَتَفَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَهَبَ مَا يَجِدُهُ ثُمَّ انْتَقَضَ عَلَيْهِ وَكَانَ سَبَبَ مَوْتِهِ وَأَمَّا يَوْمُهُ فَلَمَّا قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْتَدَّتِ الْعَرَبُ وَقَالُوْا لَا نُؤَدِّيْ زَكَاةً فَقَالَ لَوْ مَنَعُوْنِيْ عِقَالًا لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَأَلَّفِ النَّاسَ وَارْفُقْ بِهِمْ فَقَالَ لِيْ أَجَبَّارٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَخَوَّارٌ فِي الْإِسْلَامِ إِنَّهُ قَدِ انْقَطَعَ الْوَحْيُ وَتَمَّ الدِّيْنُ أَيَنْقُصُ وَأَنَا حَيٌّ. رواه رزين.

په خدای (تاسو به تر هغه وخته پوري په غار کي قدم نه ایږدئ) تر څو پوري چي زه په هغه کي داخل نه سم او وه ګورم چي په دې کي خو به یو مضر شی نه وي که یو داسي شی وي نو چي د هغه ضرر ما ته ورسیږي او تاسو خوندي پاته سئ، نو ابوبکر ؓ په غار کي ننوتی او هغه یې جارو کړ ، بیا ابوبکر ؓ په غار کي دننه یو سوری ولیدی یو خو یې په خپل لونګ څیرلو سره بند کړی او په دوو سوریانو کي یې خپل پوندي داخلي کړې او د هغه وروسته یې رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي تشریف راوړئ، رسول الله ﷺ غار ته دننه راغلی او د ابوبکر ؓ په غیږ کي یې خپل سرمبارك کښېښود او بیده سو، په دغه حالت کي د سوري دننه ابوبکر ؓ پر پښه (مار) و چیچی، مګر هغه هم هغسي ناست وو او له دې کبله یې حرکت ونه کړ چي د رسول الله ﷺ سترګي مبارکي ونه لغړیږي، مګر د زیات درد له کبله د هغه پر سترګو اوښکي راغلې چي د رسول الله ﷺ پر مخ مبارك پریوتې، د رسول الله ﷺ سترګي مبارکي ولغړیدې او پوښتنه یې وکړه اې ابوبکره ! څه وسوه؟ هغه عرض وکړ زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي زه (مار) وچیچلم، رسول الله ﷺ د خپلي خولې مبارکي ناړي د هغه پر پښه په زخم پوري کړې او د هغه تکلیف ختم سو ، ددې پېښي څخه وروسته ډېر وخت وروسته د مار زهرو بیا اثر وکړ او هم دغه زهر د هغه د مرګ سبب جوړ سو، د حضرت ابوبکر صدیق ؓ د یوې ورځي عمل دادی کله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو د عربو خلك مرتد سول (یعني ددین څخه واوښتل) او هغوئ اعلان وکړ چي موږ زکوة نه ورکوو ، ابوبکر ؓ وفرمایل : که خلك ما ته د اوښ د رسی راکولو څخه هم انکار وکړي نو زه به د هغوئ سره جهاد کوم ، ما ورته وویل (حضرت عمر ؓ فرمایي) اې د رسول الله ﷺ خلیفه ! د خلکو سره الفت او موافقت کوئ او دنرمی څخه کار واخلئ، نو ابوبکر ؓ راته وفرمایل : اې عمر ! د جاهلیت په ورځو کي خو ته ډېر سخت مزاجه وې

ایا په اسلام کي د داخلیدو سره دومره نرم سوې، د وحي لړۍ بنده سوه او دین پوره سوی دی ایا دین به کمیږي او زه به ژوندی یم . رزین.

## باب مناقب عمر ﷛ (د عمر ﷛ د مناقبو بیان)

## لومړی فصل

### حضرت عمر ﷛ محدث وو

(۵۷۸۱): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الْأُمَمِ مُحَدَّثُونَ فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو څخه مخکني امتونو کي محدثون وه (یعني الهام به ورته کیدی) که زما په امت کي یو څوک محدث وي نو هغه به عمر وي . بخاري او مسلم.

### د عمر ﷛ څخه د شیطان ویره

(۵۷۸۲): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نِسَاءٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ قُمْنَ يَبْتَدِرْنَ الْحِجَابَ فدخل عمر وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ فَقَالَ عُمَرُ أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فقال النبي صلى الله عليه وسلم عَجِبْتُ مِنْ هٰؤُلَاءِ اللَّاتِي كُنَّ عِنْدِي فَلَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ قَالَ عُمَرُ يَا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ أَتَهَبْنَنِي وَلَا تَهَبْنَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ نَعَمْ أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ فقال رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايه يا ابن الخطاب وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا إِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷛ څخه روایت دی چي عمر بن خطاب ﷛ د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرۍ اجازه وغوښتل، دغه وخت د رسول الله ﷺ سره د قریشو ځیني ښځي (یعني بیبیاني مبارکي) ناستي وې ، په زوره زوره یې خبري کولې او زیاته غوښتنه یې کول، کله چي حضرت عمر ﷛ اجازه وغوښتل نو هغوئ پورته سوې او د پردې په لور وځغاستې ، عمر ﷛ چي دننه راغلی نو رسول الله ﷺ خندل نو حضرت عمر ﷛ وویل خدای ﷻ دي ستا غابښونه په خندا ولري اې د الله رسوله، نبي کریم ﷺ وویل ددغه ښځو پر حالت ما ته تعجب راځي (زما سره ناستي وې شور یې کوی) او چي کله یې ستا آواز واوریدی نو پردې ته ولاړې، عمر ﷛ هغه بیبیاني مخاطب کړې ورته وه یې ویل اې د خپل

متفق عليه وقال الحميدي زاد البرقاني بعد قوله يا رسول الله ما اضحك.

خان دښمنانو ببيبانو! زما څخه بيريږئ او د رسول الله ﷺ څخه نه بيريږئ، هغوئ ورته وويل هو (ستا څخه ځکه بيريږو چي) ته سخت طبيعته يې او سخت ويونکى يې ، رسول الله ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وفرمايل : اي دخطاب زويه! بله خبره كوه (دوئ پريږده) په هغه ذات دې مې قسم وي چې د چا په لاس كي زما ساه ده كله چي ته پر يوه لاره ځې نو شيطان در ته مخته نه راځي بلكه پر كومه لاره چي ته ځې هغه پريږدي او پر بله لار روان سي . بخاري او مسلم ، او حميدي وويل چي برقاني د يارسول الله څخه وروسته ما اضحك الفاظ زيات كري دي .

## په جنت كې د حضرت عمر ﷺ محل

(٥٧٨٣): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِالرُّمَيْصَاءِ امْرَأَةِ أَبِي طَلْحَةَ وَسَمِعْتُ خَشَفَةً فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالَ هٰذَا بِلَالٌ وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ فَقُلْتُ لِمَنْ هٰذَا فَقَالَ لِعُمَرَ فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ عُمَرُ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَعَلَيْكَ أَغَارُ. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه چي جنت ته ولاړم (يعني د معراج په شپه) نو ناڅاپه زما ملاقات د ابوطلحه د ښځي رميصاء سره وسو او ما د قدمونو آواز واوريدى ، ما پوښتنه وكړه دا دچا د قدمونو آواز دى، جبرائيل عليه السلام راته وويل دا دبلال ﷺ د قدمونو آواز دى، بيا ما يوه مانۍ وليدل چې په غولي كې يې يوه پيغله ښځه ناسته وه، ما پوښتنه وكړه دا د چا محل دى، هغوئ راته وويل دا دعمر ابن خطاب ﷺ محل دى، ما غوښتل چي دننه ورسم محل وګورم مګر بيا (اي عمره!) ستا غيرت را ته ياد سو ، عمر ﷺ عرض وكړ اي دالله رسوله ! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان سي ايا زه به ستاسو پر داخليدو غيرت كوم. بخاري او مسلم.

## د دين فهم

(٥٧٨٤): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا مَا دُونَ ذٰلِكَ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو وخت زه بيده وم وينم چي خلك زما مخته راوستل سي او ما ته وښودل سي ، دغه ټولو خلكو قيمصونه اغوستي وه په هغوئ كي د ځينو قيمصونه دومره وه چي سينو ته رسيدل او د ځينو تر دي لاندي، بيا زما مخته

اللّٰهِ قَالَ الدِّينَ. متفق عليه.

عمر بن خطاب ﷺ راوستل سو چي هغه دومره اوږد قميص اغوستی وو چي پر مځکه راکشېدی ، خلکو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ددغه خوب تعبير څه شي دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :دين، (يعني د حضرت عمر ﷺ دين کامل دی) .
بخاري او مسلم.

**د حضرت عمر ﷺ علم**

(۵۷۸۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ فَشَرِبْتُ حَتّٰى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِي ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الْعِلْمَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ده ويې فرمايل: يو وخت زه بيده وم چي په خوب کي ما ته د شيدو پياله راوړل سوه ، ما شيدې وڅښلې ، ما د هغه شيدو د موړ والي حالت وليدی چي د هغه اثر زما د نوکانو څخه څرګنديدی، ما د شيدو څخه پاته سوي شيدې عمر بن خطاب ﷺ ته ورکړې ، خلکو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ددې خوب تعبير څه شي دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : علم ، (د علم څخه مراد علم دين دی . بخاري او مسلم

**د رسول الله ﷺ يو خوب**

(۵۷۸۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ وَاللّٰهُ يَغْفِرُ لَهُ ضَعْفَهُ ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَأَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ حَتّٰى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ، وفي رواية بن عمر قال ثُمَّ أَخَذَهَا ابن الخطاب من يد ابي بكر فَاسْتَحَالَتْ فِي يَدِهِ غَرْبًا فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِي فَرِيَّهُ حَتّٰى روى الناس وضَرَبوا بِعَطَنٍ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چي فرمايل يې: زه يو وخت بيده وم چي ما خپل ځان د يو څاه سره وليدی چي پر هغه سلواغه پرته وه ، ما د هغه سلواغې څخه څومره چي خدای ﷺ ته منظوره وه اوبه راوکښلې ، بيا ابن ابي قحافه ﷺ سلواغه واخيستل او د څاه څخه يې يوه يا دوې سلواغې اوبه راوکښلې ، د ابن ابي قحافه ﷺ په اوبو راکښلو کي کمزوري وه، خدای ﷺ به د ابوبکر ﷺ کمزوري معاف کړي، بيا هغه سلواغه (لويه سلواغه) جوړه سوه او عمر بن خطاب ﷺ واخيستل ، او ما هيڅ پهلوان په خلکو کي داسې نه دی ليدلی چي د عمر ﷺ په ډول هغه سلواغه راوکاږي تر هغو چي خلکو د اوبو اخوړونه جوړ کړل او د ابن عمر ﷺ په يو روايت کي دا الفاظ دي چي بيا

هغه سلواغه د ابوبکر ﷺ د لاس څخه عمر ﷺ واخیستل، سلواغه چي د هغه لاس ته ورسیدل نو لویه سلواغه ځیني جوړه سوه ، ما هیڅ پهلوان سړی داسي نه دی لیدلی چي د عمر ﷺ په دول کار کوي تر دې چي هغه خلك په اوبو ماړه سول او د اوبو اخوروته یې جوړ کړل. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

### د عمر ﷺ حق وینه

(۵۷۸۷): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِه. رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد وعن ابي ذر قال ان الله وضع الحق على لسان عمر يقول به.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ د عمر ﷺ پر ژبه او زړه حق جاري کړی دی، ترمذي ، او د ابوداؤد په روایت کي چي د ابوذر ﷺ څخه روایت دی دا

الفاظ دي چي الله تعالی حق د عمر ﷺ پر ژبه جاري کړی دی نو هغه حق خبره کوي.

### د عمر ﷺ پر ژبه سکینت

(۵۷۸۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كُنَّا نُبْعِدُ اَنَّ السَّكِيْنَةَ تَنْطِقُ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي موږ خلکو دا خبره (د عقل څخه) لیري نه بلل چي سکینت د عمر ﷺ پر ژبه دی یعني هغه چي کومه خبره کوي د هغه سره سکون او اطمینان تر لاسه کیږي. بیهقي.

### د عمر ﷺ لپاره دعاء

(۵۷۸۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِاَبِي جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ اَوْ بِعُمَرَ ابن الخطاب فَاَصْبَحَ فَغَدَا عُمَرُ عَلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَسْلَمَ ثم صلى في المسجد ظاهرا. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دغه دعاء وکړه چي اې الله ! دابوجهل بن هشام په ذریعه یا د عمر بن خطاب ﷺ په ذریعه د اسلام عزت او عظمت نصیب کړې، ددې دعاء څخه وروسته سبا ته حضرت

عمر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او اسلام یې قبول کړې، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ به په ښکاره په مسجد کي لمونځ کوی. احمد او ترمذي.

### د حضرت عمر ﷺ فضیلت

(۵۷۹۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ لِاَبِي بَكْرٍ يَا خَيْرَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللّٰهِ فَقَالَ اَبُو بَكْرٍ اَمَا اِنَّكَ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورخ عمر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه وروسته ابوبکر ﷺ

إِنْ قُلْتَ ذَاكَ فَلَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

ته په غوره سړي ويلو سره مخاطب کړ ، ابوبکر ﷺ ورته ووېل اي عمرا تا زه په دې خطاب سره مخاطب کړې يم نو زه تا خبروم چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې لمر پر هيڅ داسي سړي نه راخيژي چې د عمر ﷺ څخه غوره وي. ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د حضرت عمر ﷺ منقبت**

(۵۷۹۱): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : كه زما څخه وروسته يو نبي وای نو هغه به عمر ﷺ وای . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**شيطان د عمر ﷺ څخه ببريږي**

(۵۷۹۲): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ جَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللّٰهُ سَالِمًا أَنْ أَضْرِبَ بَيْنَ يَدَيْكَ بِالدُّفِّ وَأَتَغَنَّى فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِي وَإِلَّا فَلَا فَجَعَلَتْ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَأَلْقَتِ الدُّفَّ تَحْتَ اسْتِهَا ثُمَّ قَعَدَتْ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا عُمَرُ إِنِّي كُنْتُ جَالِسًا وَهِيَ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ فَلَمَّا دَخَلْتَ أَنْتَ يَا عُمَرُ أَلْقَتِ الدُّفَّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب صحيح.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو غزا ته تشريف وړی وو كله چې راوګرځېدی نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي يوه توره (حبشي) انجلۍ حاضره سوه او عرض يې وکړ اي دالله رسوله ! ما دا نذر منلی وو چې كله تاسو د غزا څخه کامياب را سئ نو زه به ستا په مخکي دريا وهم او سندره به وايم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كه تا نذر منلی وي نو دريه ووهه او كه دې نذر منلی نه وي نو مه يې وهه نو هغه انجلۍ دريه وهل شروع کړل ابوبکر ﷺ راغلی او هغې دريه وهل ، بيا حضرت علي ﷺ راغلی او هغې دريه وهل ، بيا عثمان ﷺ راغلی او هغې دريه وهل ، بيا عمر ﷺ راغلی نو هغه انجلۍ دريه وهل پرېښودل او تر خپلو کوناتو لاندي يې كېښېښودل او پر هغه سريېره كېښېنستل، ددې ليدو سره نبي كريم ﷺ وفرمايل اي عمرا ببشكه شيطان هم ستا څخه ببريږي، زه ناست وم او دې

ا نجلی دریه وهل ، ابوبکر ﷺ راغلی او دې دریه وهل بیا علي ﷺ راغلی او دې دریه وهل بیا عثمان ﷺ راغلی او دا په دریه وهلو کې بوخته وه بیا چې ته راغلې نو ستا په لیدو سره یې دریه د خان څخه بیله کړه ، ترمذي ویلي دي د احدیث حسن غریب صحیح دی.

(۵۷۹۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فَسَمِعْنَا لَغَطًا وَصَوْتَ صِبْيَانٍ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَبَشِيَّةٌ تَزْفِنُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهَا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ تَعَالَيْ فَانْظُرِي فَجِئْتُ فَوَضَعْتُ لَحْيَيَّ عَلَى مَنْكِبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهَا مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى رَأْسِهِ فَقَالَ لِي أَمَا شَبِعْتِ أَمَا شَبِعْتِ قَالَتْ فَجَعَلْتُ أَقُولُ لَا لِأَنْظُرَ مَنْزِلَتِي عِنْدَهُ إِذْ طَلَعَ عُمَرُ قَالَتْ فَارْفَضَّ النَّاسُ عَنْهَا قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى شَيَاطِينِ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ قَدْ فَرُّوا مِنْ عُمَرَ قَالَتْ فَرَجَعْتُ.
رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ناست وو ، بیا موږ سخت اوازونه او د کوچنیانو شور واوریدی، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو دباندې یې تشریف یووړ، وه یې لیدل چې یو حبشي ښځه رقص کوي او کوچنیان د هغې شاوخوا دي، ددې لیدو سره نبي کریم ﷺ وفرمایل : اې عائشې! دېخوا راسه ! ته هم وګوره، نو زه ورغلم او د رسول الله ﷺ شا ته ودریدم او زنه مې د رسول الله ﷺ پر اوږه مبارك کېښېښودل، او ما د رسول الله ﷺ د اوږې او سر مبارك په منځ کې هغه حبشي ښځې ته کتل لږ وخت وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل ایا تر اوسه پورې دې زړه نه دی موړ سوی لا تر اوسه دې زړه نه دی موړ سوی او ما ورته هر وار دا وویل چې اوس لا نه، او ددې څخه زما مقصد دا وو چې زه دا معلومه کړم چې د رسول الله ﷺ په زړه کې زما څه مرتبه ده ، (یعني زما سره یې څومره مینه ده) ناڅاپه حضرت عمر ﷺ راغلی ، کوم خلك چې ولاړ وه د هغه ښځې تماشه یې کول آخوا دېخوا وپاشل سول، رسول الله ﷺ وفرمایل : زه وینم چې د انسانانو او پیریانانو شیطانان هم د عمر ﷺ د بیرې څخه تېښتي، د بي بي عائشې (رض) بیان دی چې ددې څخه وروسته زه هم ولاړمه، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح غریب دی.

## دریم فصل

### د حضرت عمر ﷺ موافقات

(۵۷۹۴): عَنْ أَنَسٍ وَابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ قَالَ وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَوِ اتَّخَذْنَا

د حضرت انس او ابن عمر (رضي الله عنهم) څخه روایت دی چې عمر ﷺ وویل : زه په درو کارو

مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَنَزَلَتْ وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ يدخل على نسائك الْبَرُّ وَالْفَاجِر فلو امر تهن يحتجبن فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ فَقُلْتُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ كذالك، وفي رواية لابن عُمَرَ قال قال عمر وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ وَفِي الْحِجَابِ وَفِي أُسَارَى بَدْرٍ. متفق عليه

كي د خپل پروردګار سره موافق سوی یم: يو وار ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ که مقام ابراهيم موږ دلمانځه کولو ځای و ټاکو نو غوره به وي، زما ددې مشورې سره سم دا آيت نازل سو: «واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى»، يعني مقام ابراهيم تاسو د لمانځه ځای وټاکئ، بيا يو وار ما دا عرض وکړ چې اې دالله رسوله! ستاسو دبيبيانو مخته هر ډول ښه او بد خلک راځي که تاسو خپلو بيبيانو ته د پردې کولو حکم ورکړئ نو غوره به وي، زما پر دې مشوره د پردې په اره آيت نازل سو، بيا يو وار د رسول الله ﷺ بيبياني د عسلو په قصه کي راجمع سوې نو ما ورته وويل: اې بيبيانو! که رسول الله ﷺ تاسو ته طلاق درکړي نو اميد دی چې الله ﷻ ستاسو څخه غوره بيبياني ورکړي، (حضرت عمر ؓ فرمايي) زما ددې قول سره سم د خدای ﷻ د طرف څخه داسې آيت نازل سو، او د ابن عمر ؓ په روايت کي دا الفاظ دي چې ابن عمر ؓ وويل چې حضرت عمر ؓ وفرمايل: د خپل پروردګار سره په درو شيانو کي موافق سوی یم: يو د مقام ابراهيم په باره کي، دويم د پردې په باره کي او دريم د بدر د بنديانو په باره کي. بخاري او مسلم.

**هغه څلور خبرې چې د هغو په وجه حضرت عمر ؓ ته فضيلت حاصل سو**

(٥٧٩٥): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ فَضَلَ النَّاسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ بِأَرْبَعٍ بِذِكْرِ الْأَسْرَى يَوْمَ بَدْرٍ أَمَرَ بِقَتْلِهِمْ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ وَبِذِكْرِهِ الْحِجَابَ أَمَرَ نِسَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ فَقَالَتْ لَهُ زَيْنَبُ وَإِنَّكَ عَلَيْنَا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ فِي بُيُوتِنَا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ وَبِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دی چې عمر بن خطاب ؓ ته پر نورو خلکو د څلورو خاصو خبرو په سبب فضيلت ورکړل سوی دی: (۱): يو خو د جنګ بدر د بنديانو په اره کي ددې مشوره ورکولو په سبب چې هغوئ دي قتل کړل سي نو د هغه سره سم خدای تعالی دا آيت نازل کړل: «لو لا كتب من الله سبق لمسكم فيما اخذتم عذاب عظيم»، (که لوح محفوظ یاعلم الهي کي دا خبره ټاکل سوې نه وای نو تاسو ته به پر فديه اخيستو باندي لوی عذاب رسيدلی وای)، (۲):

| | |
|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ أَيِّدِ الْإِسْلَامَ بِعُمَرَ وَبِرَأْيِهِ فِي أَبِي بَكْرٍ كَانَ أَوَّلَ النَّاسِ بَايَعَهُ. رواه احمد. | او دويم د پرې د مشورې په سبب ، يعني عمر ﷺ د رسول الله ﷺ بيبيانو ته د پردې کولو مشوره |

ورکړل، د رسول الله ﷺ کوروالا بي بي زينب ددې اوريدو سره وويل اې ابن خطاب ؛ ته په پرده کې د پاته کيدو حکم کوې حال دا چې زموږ په کورونو کې وحي نازليږي، پر دې خبره الله تعالى دا آيت نازل کړ : «واذا سالتموهن متاعا فاسئلوهن من وراء حجاب» ، «هر کله چې د رسول الله ﷺ د بيبيانو څخه څه غواړئ نو د پردې تر شا يې غواړئ» (٣) : او دريم عمر ﷺ ته د هغه دعاء په سبب فضيلت تر لاسه دی چې رسول الله ﷺ د هغه په حق کې داسې کړې وه چې اې الله ! اسلام ته د عمر ﷺ په ذريعه قوت ورسوې ، (۴): او څلورم د هغه اجتهاد په سبب چې عمر ﷺ د ابوبکر ﷺ د خلافت په باره کې کړی وو او تر ټولو مخکې يې د ابوبکر ﷺ پر خلافت بيعت کړی وو. احمد.

**په جنت کې مرتبه**

| | |
|---|---|
| (٥٧٩٦): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ الرَّجُلُ أَرْفَعُ أُمَّتِي دَرَجَةً فِي الْجَنَّةِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ وَاللَّهِ مَا كُنَّا نُرَى ذَلِكَ الرَّجُلَ إِلَّا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ. رواه ابن ماجه. | د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی زما په امت کې په جنت کې د لوړې مرتبې والا دی ، د ابو سعيد ﷺ بيان دی چې زموږ په رايه کې هغه سړی چې د هغه ذکر رسول الله ﷺ فرمايلی وو عمر بن خطاب |

ﷺ وو ، تر څو چې هغه وفات سو او زموږ پر ده خيال وو . ابن ماجه .

**په نيکيو کې هڅه کونکی**

| | |
|---|---|
| (٥٧٩٧): وَعَنْ أَسْلَمَ قَالَ سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ بَعْضَ شَأْنِهِ يَعْنِي عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا قَطُّ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حِينِ قُبِضَ كَانَ أَجَدَّ وَأَجْوَدَ حَتَّى انْتَهَى مِنْ عُمَرَ . رواه البخاري. | د حضرت اسلم ﷺ څخه روايت دی چې ابن عمر ﷺ د حضرت عمر ﷺ يو څه حالات زما څخه و پوښتل، ما عرض وکړ د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته ما هيڅوك د عمر ﷺ څخه زيات په نيك کار کې کوښښ کونکی او د نيك |

کار کونکی نه دی ليدلی تر دې چې عمر ﷺ آخري عمر ته ورسيدی . بخاري.

**د دين او ملت غم**

| | |
|---|---|
| (٥٧٩٨): وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ جَعَلَ يَأْلَمُ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ولا كل ذلك لَقَدْ صَحِبْتَ رَسُولَ | د حضرت مسور بن مخرمه ﷺ څخه روايت دی چې کله حضرت عمر ﷺ په نېزه زخمي کړل سو نو ده فرياد وکړ، ابن عباس ﷺ د ډاډ او تسکين |

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ صَحِبْتَ أَبَا بَكْرٍ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ صَحِبْتَ المسلمين فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُمْ وَلَئِنْ فَارَقْتَهُمْ لَتُفَارِقَنَّهُمْ وَهُمْ عَنْكَ رَاضُونَ قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِضَاهُ فَإِنَّمَا ذَالِكَ مَنٌّ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى مَنَّ بِهِ عَلَيَّ وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ أَبِي بَكْرٍ وَرِضَاهُ فَإِنَّمَا ذَاكَ مَنٌّ مِنَ اللّٰهِ جَلَّ ذِكْرُهُ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ وَأَمَّا مَا تَرَى مِنْ جَزَعِي فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَأَجْلِ أَصْحَابِكَ وَاللّٰهِ لَوْ أَنَّ لِي طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ. رواه البخاري.

لپاره ورته وويل : اې امير المؤمنين! فرياد كول ستاسو د شان سره نه ښايي، تاسو د رسول الله ﷺ په صحبت كې پاته سوې ياست او ستاسو ملګرتيا ډيره ښه پاته سوې ده ، بيا چې رسول الله ﷺ ستاسو څخه رخصت سو نو رسول الله ﷺ در څخه خوشحاله او راضي وو، بيا تاسو د ابوبكر ﷺ په صحبت كې پاته سواست او هغه سره هم ستاسو ملګرتيا ډيره پاته سوه بيا چې در څخه بيل سو نو هغه هم درڅخه خوشحاله او راضي وو، بيا د خپل خلافت په ورځو كې تاسو د مسلمانانو په صحبت كې واست او هغوئ سره مو هم صحبت ښه پاته سو اوس كه تاسو د مسلمانانو څخه بيل كيږئ نو مسلمانان ستاسو څخه خوشحاله او راضي دي، ددې اوريدو سره

حضرت عمر ﷺ وويل تا چې د رسول الله ﷺ د صحبت كوم ذكر كړى دى او د رسول الله ﷺ د خوشحاله او راضي رخصتيدو نو دا د خداى ﷻ يو احسان دى چې خداى ﷻ پر ما كړى دى ، بيا تا دابوبكر د صحبت او رضا ذكر وكړ نو هغه هم پر ما د خداى ﷻ احسان دى ، او اوس چې ته ما د فرياد په حالت كې وينې نو هغه ستا او ستا د دوستانو په سبب دى، (يعني دا بيره ده چې زما څخه وروسته تاسو په فتنه كې اخته نه سئ)، په خداى ﷻ دې مې قسم وي كه زما سره د مځكې برابر هم سره زر وي نو د عذاب الهي په بدله كې به مې هغه قربان كړي واى ددې څخه مخكې چې زه هغه عذاب ووينم . بخاري.

# بَابُ مَنَاقِب اَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

## د حضرت ابوبكر او عمر رضي الله عنهما مناقب

## لومړی فصل

(۵۷۹۹): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُول اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً إِذْ اَعْيٰى فَرَكِبَهَا فَقَالَتْ إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهٰذَا إِنَّمَا خُلِقْنَا لِحِرَاثَةِ الْاَرْضِ فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللّٰهِ بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ وَقَالَ وَبَيْنَمَا رَجُلٌ فِي غَنَمٍ له إِذْ عَدَا الذِّئْبُ عَلَى شَاة مِنْهَا فاخذها فادركها صاحبها فَاسْتَنْقَذَهَا فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللّٰهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو وخت يو سړي غوا روانه کړې وه، ناګاه هغه ستړی سو نو پر هغه غوا سپور سو، غوا ورته وويل موږ ددې کار (يعني سپرلی) لپاره نه يو پيدا کړل سوي بلکه د مځکي د قلبه کولو لپاره پيدا کړل سوي يو، خلکو پر دې خبره د تعجب اظهار وکړ او وه يې ويل سبحان الله غوا هم خبري کوي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : زه پر دې خبره (د غوا پر خبرو کولو) ايمان راوړم، او ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ هم ايمان راوړي حال دا چي هغه وخت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هلته موجود نه وه ، د ابوهريره ﷺ بيان دی چي نبي کريم ﷺ وويل يو وخت يو سړي د خپلو پسو په رمه کي وو چي يو شرموښ پر يو پسه حمله وکړه او وه يې تښتول، بيا د پسو خاوند هلته ور ورسيدی او د شرموښ څخه يې پسه خلاص کړی ، هغه شرموښ شپانه ته وويل دغه پسه به د سبع په ورځ (يوم السبع) هر کله چي انسانان ختم سي او حيوانان پاته سي څوك به ساتونکی وي، چي په هغه ورځ به زما څخه پرته د پسو لپاره بل راعي نه وي ، ددې پېښې اوريدو سره خلکو وويل : سبحان الله شرموښ هم خبري کوي، نبي کريم ﷺ ددې اوريدو سره وفرمايل : ما، ابوبکر او عمر پر دې ايمان راوړی دی او دغه وخت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما موجود نه وه. بخاري او مسلم.

**د ګام قدم ملګري**

(۵۸۰۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي قَوْمٍ فَدَعَوْا اللّٰهَ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَقَدْ وُضِعَ عَلَى

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي زه دخلکو په منځ کي وم چي خلکو د عمر ﷺ لپاره

بَرِيرِهِ إِذَا رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي قَدْ وَضَعَ مِرْفَقَهُ عَلَى مَنْكِبِي يَقُولُ رَحِمَكَ اللّٰهُ انِي لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللّٰهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ لِأَنِّي كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُنْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَفَعَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَانْطَلَقْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَإِنْ كُنْتُ لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللّٰهُ مَعَهُمَا فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ. متفق عليه.

د خير دعاء وكړل (يعني د هغه پر وفات) دغه وخت دعمر ؓ بدن دغسل وركولو لپاره پر تخته اينبودل سوى وو، زه ولاړ وم چي يو سړى زما وروسته راغلى او خپل څنګل يې زما پر اوږه كښېښودى او وه يې ويل: اې عمر ؓ ! خداى دي پر تا رحم وكړي زه اميد لرم چي الله تعالى به تا ستاسو دواړو دوستانو (رسول اللهﷺ او ابوبكر ؓ) ته ورسوي، ځكه چي ما د رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي زه وم او ابوبكر او عمر، زه ولاړم ابوبكر او عمر زه داخل سوم، ابوبكر او عمر زه ووتلم ابوبكر او عمر (يعني رسول اللهﷺ به په خپل هر كار كي هغوئ د خان سره ګډول)، ما چي وروسته وكتل نو هغه ويونكى علي ابن اطالب ؓ وو. بخاري او مسلم

## دويم فصل

### په جنت عليين كي لوړ مقام

(٥٨٠١): عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ عِلِّيِّينَ كَمَا تَرَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ فِي أُفُقِ السَّمَاءِ وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ مِنْهُمْ وَأَنْعَمَا. رواه في شرح السنة، و روى نحوه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه.

د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: په جنت كي دننه به جنتيان عليين داسي ويني لكه څرنګه چي تاسو د آسمان پر غاره ځلانده ستوري وينئ، او ابوبكر او عمر د عليين والاوو څخه دي بلكه هغوئ تر دې درجې هم زيات وي. شرح السنه

### د جنتيانو سرداران

(٥٨٠٢): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ. رواه الترمذي وابن ماجه عن علي.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: په جنت كي دننه مخكني او وروستني څومره خلك چي وي د هغه ټولو سرداران به ابوبكر او عمر وي، پرته د نبيانو او رسولانو څخه چي د هغوئ سرداران به نه وي. ترمذي.

(٥٨٠٣): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت حذيفه ؓ څخه روايت دئ چي رسول

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَا أَدْرِي مَا بَقَائِي فِيكُمْ فَاقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي أَبُوبَكْرٍ وَعُمَرَ. رواه الترمذي. | الله ﷺ وفرمایل: ما ته نه ده معلومه چي تر څو پوري به ستاسو په منځ کي یم زما څخه وروسته تاسو د ابوبکر او عمر پیروي کوئ. ترمذي. |

**یو بل خصوصیت**

| | |
|---|---|
| (٥٨٠٤): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ لَمْ يَرْفَعْ أَحَدٌ رَأْسَهُ غَيْرَ أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانَا يَتَبَسَّمَانِ إِلَيْهِ وَيَتَبَسَّمُ إِلَيْهِمَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ مسجد ته تشریف راوړ نو پرته د ابوبکر ؓ او عمر ؓ څخه به بل چا سر نه سو پورته کولای ، دوئ دواړو چي به رسول الله ﷺ ته |

کتل نو مسکا کیدل به او نبي کریم ﷺ به د دوئ طرف په کتلو سره مسکا کیدی. ترمذي.

**د قیامت په ورځ**

| | |
|---|---|
| (٥٨٠٥): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ وَدَخَلَ الْمَسْجِدَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِهِ وَالْآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ وَهُوَ آخِذٌ بِأَيْدِيهِمَا وَقَالَ هٰكَذَا نُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ د حجرې مبارکي څخه راووتی او مسجد ته یې داسي تشریف یووړ چي ابوبکر ؓ او عمر ؓ یو نفر یې راسته طرف ته وو او بل چپه طرف ته ، او رسول الله ﷺ د دواړو لاسونه په |

خپلو لاسونو مبارکو کي نیولي وه او وه یې فرمایل: د قیامت په ورځ به موږ همداسي د قبرونو څخه را پورته کیږو ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

**خصوصي حیثیت او اهمیت**

| | |
|---|---|
| (٥٨٠٦): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ هٰذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ. رواه الترمذي مرسلا. | د حضرت عبدالله بن حنطب ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د ابوبکر ؓ اوعمر ؓ په لیدو سره وفرمایل: دا دواړه «د مسلمانانو لپاره» په منزله د غوږو او سترګو دي. ترمذي. |

**د نبي وزیران**

| | |
|---|---|
| (٥٨٠٧): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا لَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَمَّا وَزِيرَايَ | د حضرت ابوسعید خدري ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یو نبي داسي نه دی تیر سوی چي د هغه دوه وزیران د آسمان او دوه وزیران په مځکه کي نه وي ، زما دوه |

مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ فَجِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ وَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. رواه الترمذي.

وزیران د آسمان جبرائیل او میکائیل علیهما السلام دي او د ځمکې دوه وزیران مې ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ دي. ترمذي.

د خلافت نبوت دور

(۵۸۰۸): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ فَوُزِنْتَ أَنْتَ وَأَبُو بَكْرٍ فَرَجَحْتَ أَنْتَ وَوُزِنَ عُمَرُ وَأَبُو بَكْرٍ فَرَجَحَ أَبُو بَكْرٍ وَوُزِنَ عُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَحَ عُمَرُ ثُمَّ رُفِعَ الْمِيزَانُ فَاستاءلها رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي فَسَاءَهُ ذَلِكَ فَقَالَ خِلَافَةُ نُبُوَّةٍ ثُمَّ يُؤْتِي اللّٰهُ الْمُلْكَ مَنْ يَشَاءُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روایت دی چې یو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چې ما په خوب کې ولیدل چې یو ترازو د آسمان څخه راکښته سوی دی په هغه کې تاسو او ابوبکر وتلل سواست نو ستاسو وزن زیات سو ، بیا عمر او عثمان ووتل سول نو د عمر وزن زیات سو بیا ترازو پورته کړل سو ، ددې خوب اوریدو سره رسول الله ﷺ غمګین سو ، بیا یې وفرمایل تا چې څه لیدلي دي دا خلافت نبوت دی یعني تر حضرت عمر ﷺ پوري خلافت نبوت دی ددې څخه وروسته چې الله ﷺ چا ته وغواړي حکومت به ورکړي. ترمذي.

## دریم فصل

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رض) د جنتي کېدو زیری

(۵۸۰۹): عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ عُمَرُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو ته به یو سړی د جنتیانو څخه رابنکاره سي ، نو ابوبکر ﷺ رابنکاره سو ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو ته به یو بل د جنتیانو څخه رابنکاره سي نو عمر ﷺ رابنکاره سو. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

د ابوبکر او عمر (رض) نیکی

(۵۸۱۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا رَأْسُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجْرِي فِي لَيْلَةٍ ضَاحِيَةٍ إِذْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې د سپوږمۍ په یوه شپه کې چې د رسول الله ﷺ سر

قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ يَكُوْنُ لِأَحَدٍ مِّنَ الْحَسَنَاتِ عَدَدَ نُجُوْمِ السَّمَاءِ ؟ قَالَ نَعَمْ عُمَرُ .قُلْتُ فَأَيْنَ حَسَنَاتُ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ إِنَّمَا جَمِيْعُ حَسَنَاتِ عُمَرَ كَحَسَنَةٍ وَّاحِدَةٍ مِنْ حَسَنَاتِ أَبِيْ بَكْرٍ . رواه رزين.

مبارك زما په غيږ كې وو ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا د چا دومره نيكي هم سته څومره چې د آسمان ستوري دي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : هو د عمر ؓ ، بيا ما پوښتنه وكړه او دابوبكر د نيكيو څه حال دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د عمر ؓ د ټول عمر نيكي د ابوبكر ؓ د يوې نيكي برابر ده .رزين.

## باب مناقب عثمان ﷺ (د عثمان ؓ د مناقبو بيان)

## لومړی فصل

(۵۸۱۱): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِيْ بَيْتِه كاشفا عَنْ فَخِذَيْهِ اَوْ سَاقَيْهِ فَاسْتَاْذَنَ اَبُوْبَكْرٍ فَاَذِنَ لَهُ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ عُمَرُ فَاَذِنَ لَهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ عُثْمَانُ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَوّٰى ثِيَابَهُ فَلَمَّا خَرَجَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَخَلَ اَبُوْ بَكْرٍ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِه ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِه ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ وَسَوَّيْتَ ثِيَابَكَ فَقَالَ اَلَا اَسْتَحِيْ مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحِيْ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ، وفي رواية قَالَ اِنَّ عُثْمَانَ رَجُلٌ حَيِيٌّ وَاِنِّيْ خَشِيْتُ اِنْ اَذِنْتُ لَهُ عَلٰى تِلْكَ الْحَالِ اَنْ لَا يَبْلُغَ اِلَيَّ فِيْ حَاجَتِه. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په خپل كور كې څنګ وهلی وو ورنونه يا پنډۍ يې لوڅې كړې وې او ابوبكر ؓ د راتلو اجازه وغوښتل ، رسول الله ﷺ هغه ته اجازه وركړل او رسول الله ﷺ په هغه حالت كې وو، بيا عمر ؓ اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ هغه هم راوغوښتی او رسول الله ﷺ هم هغسې وو ، بيا عثمان ؓ اجازه وغوښتل رسول الله ﷺ كښېنستی او جامې يې سمې كړې، بيا چې دا خلك ولاړل نو بي بي عائشې پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! ابوبكر ؓ راغلی نو تاسو حركت ونه كړ او پروا دې ونه كړل بيا عمر ؓ راغلی تاسو څه حركت ونه كړ او پروا دې ونه كړل ، بيا چې عثمان ؓ راغلی نو ته كښېنستلې جامې دې سمې كړې، رسول الله ﷺ وفرمايل ايا زه د هغه سړي څخه حيا ونه كړم چې د هغه څخه ملائكې هم حيا كوي، او په يوه روايت كې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : عثمان ؓ حياناك سړی دی زما سره دا خيال پيدا سو كه زه په دې حالت كې هغه راوغواړم نو هغه د حيا او شرم څخه و نه ګرزي او كوم كار ته چې هغه راتلی هغه به ونه ويلای سي . مسلم

## حضرت عثمان ﷺ د رسول الله ﷺ رفيق جنت دى

(۵۸۱۲): وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيقٌ وَرَفِيقِي يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ عُثْمَانُ. رواه الترمذي ورواه ابن ماجه عن ابي هريرة وقال الترمذي هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَهُوَ مُنْقَطِعٌ. رواه الترمذي.

د حضرت طلحه بن عبيدالله ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هرنبي يو ملګرى وي او زما ملګرى (په جنت کي) عثمان ﷺ دى، ترمذي ، ابن ماجه د ابوهريره ﷺ څخه روايت کړى او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى ددې اسناد قوي نه دي اودا منقطع دى. ترمذي.

## د الله ﷺ په لار کي مالي قرباني

(۵۸۱۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ خَبَّابٍ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالرحمن بن خباب ﷺ څخه روايت دى چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم کله چي رسول الله ﷺ د جيش عسرت د مرستي لپاره خلکو ته جذبه ورکول ، د رسول الله ﷺ جذبه ناکو الفاظو اوريدو سره حضرت عثمان ﷺ ولاړ سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! سل اوښان چي څلونه او کتي ورسره وي پرْ ما دي د الله ﷺ په لار کي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د لښکر د سامان برابرولو لپاره خلکو ته بلنه ورکول ، حضرت عثمان ﷺ ولاړ سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! دوه سوه اوښان سره د څلونو او کتو د خداى ﷺ په لار کي ورکوم، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خلک د سامان راوړلو لپاره وهڅول حضرت عثمان ﷺ ولاړ سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! درې سوه اوښان د څلونو او کتو سره د خداى ﷺ په لار کي ورکوم، بيا ما وليدل چي رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو او فرمايل يې اوس به عثمان ﷺ ته هغه شى تاوان نه رسوي چي ددې څخه وروسته يې کوي اوس به عثمان ﷺ ته عمل هيڅ تاوان ونه رسوي چي ددې وروسته يې کوي ، او هيڅ بدي به هغه ته ضرر نه رسوي . ترمذي.

## د عثمان ﷺ قرباني

(۵۸۱۴): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَاءَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفِ دِينَارٍ فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَنَثَرَهَا فِيْ حَجْرِهِ فرايت النبي صلى الله عليه وسلم يقبلها في حجره وَهُوَ يَقُولُ مَا ضَرَّ ابْنُ عَفَّانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ. رواه احمد.

د حضرت عبدالرحمن بن سمره ﷺ څخه روايت دی چي حضرت عثمان ﷺ د جيش عسره د تياری په زمانه کي زر ديناره د خپل قميص په لستوڼي کي راوړل او هغه يې د رسول الله ﷺ په غيږ مبارکه کي کښېښودل. ما وليدل چي رسول الله ﷺ هغه دينار په خپل غيږ کي اړول را اړول او کتل يې او وه يې فرمايل دنن څخه وروسته چي عثمان ﷺ څه عمل کوي هغه به ورته تاوان نه رسوي ، دوه واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل. احمد.

## د حضرت عثمان ﷺ فضيلت

(۵۸۱۵): وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَيْعَةِ الرِّضْوَانِ كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَسُولَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ فَبَايَعَ النَّاسَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عُثْمَانَ فِي حَاجَةِ اللّٰهِ وَحَاجَةِ رَسُولِهِ فَضَرَبَ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى فَكَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُثْمَانَ خَيْرًا مِنْ أَيْدِيهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی کله چي رسول الله ﷺ د بيعت رضوان حکم وکړ نو هغه وخت حضرت عثمان ﷺ د رسول الله ﷺ د قاصد په حيثيت مکې ته تللی وو ، خلکو د رسول الله ﷺ په لاس بيعت وکړ ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : عثمان ﷺ د خدای ﷻ او رسول ﷺ په کار پسي تللی دی بيا يې خپل يو لاس پر بل لاس ووهی (يعني د حضرت عثمان ﷺ د طرفه يې بيعت وکړ) نو د رسول الله ﷺ لاس مبارك د عثمان ﷺ لپاره د هغوئ دلاسونو څخه غوره وو چي هغوئ په خپلو لاسونو سره د ځان لپاره بيعت کړی وو . ترمذي.

## باغيانو ته خطاب

(۵۸۱۶): وَعَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ الدَّارَ حِينَ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللّٰهِ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ رُومَةَ فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي بِئْرَ رُومَةَ

د حضرت ثمامه بن حزن قشيري ﷺ څخه روايت دی چي زه د حضرت عثمان ﷺ په کور کي هغه وخت حاضر سوم چي باغيانو د هغه محاصره کړې وه ، حضرت عثمان ﷺ ښکاره سو او هغه خلکو ته چي دده وژل يې غوښتل وويل زه د خدای او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو څخه

فَيَجْعَلَ دَلْوَهُ مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أَشْرَبَ منها حَتَّى أَشْرَبَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ فَقَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَشْتَرِي بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ فَيَزِيدَهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ له مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أُصَلِّيَ فِيهَا رَكْعَتَيْنِ قَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ أَنْشُدُكُمْ اللَّهَ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنِّي جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِي قَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ أَنْشُدُكُمْ اللَّهَ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى ثَبِيرِ مَكَّةَ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا فَتَحَرَّكَ الْجَبَلُ حَتَّى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالْحَضِيضِ فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ قَالَ اسْكُنْ ثَبِيرُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ قَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ شَهِدُوا وَ رَبِّ الْكَعْبَةِ أَنِّي شَهِيدٌ ثَلَاثًا. رواه الترمذي والنسائي والدار قطني.

دا پوښتنه کوم تاسو ته به دا خبره خو معلومه وي کله چي رسول الله ﷺ په هجرت مديني ته تشريف راوړی هغه وخت په مدينه کي د رومه د څاه څخه پرته د خوږو اوبو بل څاه نه وو ، رسول الله ﷺ هغه وخت وفرمايل څوك سته چي د رومي څاه رانيسي او خپل سلواغه د مسلمانانو د سلواغو سره په څاه کي واچوي ، او د هغه په ثواب کي به رانيونکی ته جنت ورکول کيږي، ما دا څاه په خپل خالص او اصلي مال سره رانيوی او نن تاسو ددغه څاه د اوبو څښنلو څخه ما منع کوئ تر دې چي زه د درياب اوبه څښنم، خلکو ووېل :هو، اې الله ﷻ ! موږ په دې خبر يو بيا يې وفرمايل: زه تاسو ته دخدای او اسلام واسطه درکولو سره پوښتنه کوم چي تاسو ته دا معلومه ده چي د مديني مسجد د لمونځ کونکو د زياتوب په سبب تنگ سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : داسي څوك سته چي د فلاني سړي د اولاد مځکه رانيسي او هغه په مسجد کي گډه کړي او مسجد پراخ کړي ، د هغه د ثواب په بدله کي به تر دې ښه مځکه ورکول سي په جنت کي ، ما هغه مځکه په خپل خالص مال سره رانيول ، او نن تاسو ما په دغه مسجد کي ددوو رکعته لمونځ کولو څخه منع کوئ، خلکو ويل هو، اې الله ! موږ ددې څخه خبر يو، بيا حضرت عثمان ﷺ وفرمايل : زه ستاسو څخه د خدای ﷻ او اسلام په حق پوښتنه کوم ايا تاسو ددې څخه خبر ياست؟ چي د ما جيش عسره سامان په خپل مال سره برابر کړ، خلکو وويل هو، اې الله ! موږ په دې خبر يو، بيا حضرت عثمان ﷺ وويل : زه تاسو ته دخدای او اسلام واسطه درکوم او دا پوښتنه در څخه کوم ايا تاسو ددې څخه خبر ياست چي رسول الله ﷺ د مکي پر ثبير غونډۍ ولاړ وو او حضرت ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ هم ورسره وه ، غره د رسول الله ﷺ د وجود مبارك پر ځان باندي ليدو سره د خوښي

ښخه حرکت پیل کړ، تر دې چې د هغه ډبرې پر مخکه لوېدلې ، رسول الله ﷺ غر په لغته وواهه او وه یې فرمایل : اې ثبیر! کرار سه حرکت مه کوه پر تا یو نبي ، یو صدیق او دوه شهیدان دي، خلکو وویل : اې الله ! دا صحیح ده، حضرت عثمان ﷺ وویل الله اکبر، خلکو رېښتوني شاهدي ورکړه اود کعبې په پروردګار دي مې قسم وي چې زه شهید یم ، درې واره یې دا الفاظ وفرمایل . ترمذي، نسائي او دار قطني.

## د حق وینې پیشګوئي

(۵۸۱۷): وَعَنْ مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ الْفِتَنَ فَقَرَّبَهَا فَمَرَّ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ فِي ثَوْبٍ فَقَالَ هَذَا يَوْمَئِذٍ عَلَى الْهُدَى فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ قَالَ فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهِ بِوَجْهِهِ فَقُلْتُ هَذَا قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت مرة بن کعب ﷺ ښخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ ښخه د فتنو په ذکر کولو کې اورېدلي دي او هغه یې ډېرې نژدې وښودلې، په دې کې وخت یو سړی چې په جامه کې نغښتی وو د هغه په لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه سړی به په هغه ورځو کې پر سیده لار وي ، دمره بن کعب ﷺ بیان دی چې د رسول الله ﷺ د الفاظو اورېدو سره زه ولاړ سوم او هغه پسې ولاړم نو هغه حضرت عثمان ﷺ وو، بیا ما د حضرت عثمان ﷺ مخ رسول الله ﷺ ته کړ او پوښتنه مې وکړه ایا دا سړی به پر سیده لار وي ، رسول الله ﷺ وفرمایل:هو، ترمذي او ابن مجه ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دی.

## د خلافت پیشګوئي

(۵۸۱۸): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عُثْمَانُ إِنَّهُ لَعَلَّ اللَّهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي في الحديث قصة طويلة.

د حضرت عائشې (رض) ښخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوه ورځ حضرت عثمان ﷺ ته وفرمایل : کیدای سي الله ﷺ تا ته یو قمیص در واغوندي، (یعني د خلافت خلعت به در کړي)بیا که خلك ستا ښخه غوښتنه کوي چې قمیص وکاږه نو ته د هغوئ پر خواهش دا قمیص مه کاږه . (یعني خلافت مه پرېږده). ترمذي او ابن ماجه.

## مظلومانه شهادت

(۵۸۱۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ. ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً فَقَالَ يُقْتَلُ فِيهَا هَذَا مَظْلُومًا لِعُثْمَانَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب اسنادا.

د حضرت ابن عمر ﷺ ښخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د فتنې په ذکر کولو کې وفرمایل : په دغه فتنه کې به دا سړی په داسې حال قتل کړل سي چې مظلوم به

وي، ددې ويلو سره رسول الله ﷺ حضرت عثمان ﷺ ته اشاره وکړل، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دی او د اسناد له خوا غريب دی.

د صبر او استقامت څرګندونه

(٥٨٢٠): وَعَنْ اَبِيْ سَهْلَةَ قَالَ قَالَ لِيْ عُثْمَانُ يَوْمَ الدَّارِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَهِدَ اِلَيَّ عَهْدًا وَاَنَا صَابِرٌ عَلَيْهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابوسهله ﷺ څخه روايت دی چې ما ته حضرت عثمان ﷺ په يوم الدار (هغه ورځ په کومه ورځ چې شهيد کړل سو) وويل، رسول الله ﷺ ما ته وصيت کړی وو (چې خلافت مه پرېږده) او زه پر هغه وصيت په صبر سره قائم يم. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

## دريم فصل

مخالفينو ته مسکت جواب

(٥٨٢١): عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَوْهَبٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ مِصْرَ يُرِيْدُ حَجَّ الْبَيْتِ فَرَاٰى قَوْمًا جُلُوسًا فَقَالَ مَنْ هَؤُلَاءِ الْقَوْمُ قَالُوا هَؤُلَاءِ قُرَيْشٌ قَالَ فَمَنِ الشَّيْخُ فِيهِمْ قَالُوا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ يَا ابْنَ عُمَرَ اِنِّي سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ فَحَدِّثْنِي هَلْ تَعْلَمُ اَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ اُحُدٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ هل تَعْلَمُ اَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ وَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَعْلَمُ اَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ اللّٰهُ اَكْبَرُ قَالَ ابْنُ عُمَرَ تَعَالَ اُبَيِّنْ لَكَ اَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ اُحُدٍ فَاَشْهَدُ اَنَّ اللّٰهَ عَفَا عَنْهُ وَغَفَرَ لَهُ وَاَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ فَاِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ رقية بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ مَرِيضَةً فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لَكَ اَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ وَاَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ اَحَدٌ اَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ

د حضرت عثمان بن عبدالله بن موهب ﷺ څخه روايت دی چې يو مصری سړی د حج په اراده راغلی، هغه يو ځای يو ډله ناسته وليدل، پوښتنه يې وکړه دا کوم خلك دي، خلکو ورته وويل دا قريش دي، هغه پوښتنه وکړه د دوئ مشر څوك دی؟ خلکو ورته وويل عبدالله بن عمر ﷺ، هغه سړی عبدالله بن عمر ﷺ ته متوجه سو ورته وه يې ويل: اې ابن عمرا زه ستا څخه د يو شي پوښتنه کوم ته د هغه جواب راکړه، ايا تا ته معلومه ده چې حضرت عثمان ﷺ د احد په جنګ کې تښتيدلی وو؟ ابن عمر ﷺ وويل هو داسې سوی وه، بيا هغه سړي پوښتنه وکړه: ايا تا ته معلومه ده چې عثمان ﷺ د بدر د غزا څخه غائب وو او د بدر په جنګ کې نه وو شريك سوی، ابن عمر ﷺ ورته وويل هو دبدر په جنګ کې هغه موجود نه وو، بيا هغه سړي پوښتنه وکړه تا ته

عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ قَالَ هَذِهِ لِعُثْمَانَ ثم قَالَ ابْنُ عُمَرَ اذْهَبْ بِهَا الْآنَ مَعَكَ. رواه البخاري.

معلومه ده چي حضرت عثمان ﷺ په بيعت رضوان كي هم نه وو شريك سوى او پر دې موقع غائب وو، ابن عمر ﷺ ورته وويل : هو هغه په بيعت كي هم شامل نه وو، هغه سړی چي د ابن عمر ﷺ څخه ددرو سره خبرو تصديق واوريدى نو الله اكبر يې وويل ، بيا ابن عمر ﷺ هغه ته وويل : اوس درته زه حقيقت حال بيانوم: د احد په ورځ د حضرت عثمان ﷺ د تيښتي په اړه دا درته وايم چي الله تعالى د هغه دا قصور معاف كړ لكه په قرآن كريم كي دا آيت شريف دی: ( ان الذين تولومنكم يوم التقى الجمعان.... سورة آل عمران ) ، او د بدر په ورځ د حضرت عثمان ﷺ د غائب كيدو واقعه داده چي بي بي رقيه د رسول الله ﷺ لور مباركه او د حضرت عثمان ﷺ ښځه په هغه زمانه كي ناروغه وه، رسول الله ﷺ د هغې د خيال ساتلو لپاره په مدينه كي پريښود او فرمايلي يې وه چي عثمان ﷺ ته په بدر كي د حاضريدونكو څخه د يو سړي ثواب تر لاسه كيږي او د غنيمت دمال څخه به هم د يو سړي برخه وركول كيږي، پاته سو په بيعت رضوان كي د عثمان ﷺ غائب كيدل ، نو د هغه وجه داوه كه په مكه كي د عثمان ﷺ څخه زيات هر باعزت سړی وای نو رسول الله ﷺ به هغه مكې ته ليږلی وای چي د رسول الله ﷺ د لوري دمكې د كفارو سره خبري اتري وكړي ، عثمان ﷺ د رسول الله ﷺ په حكم سره مكې ته ولاړی او د هغه په نه شتون كي د بيعت رضوان پيښه رامنځته سوه، او د بيعت رضوان په وخت كي رسول الله ﷺ خپل راسته لاس پورته كړ اوه يې ويل دا د حضرت عثمان ﷺ لاس دی بيا پر هغه لاس يې بل لاس راتير كړ او وه يې فرمايل دا دعثمان ﷺ بيعت دی، ددې څخه وروسته ابن عمر ﷺ وويل :ته زما بيان هغه سړي ته اوس ور ورسوه . بخاري.

## د عثمان ﷺ ثابت قدمي

(٥٨٢٢): وَعَنْ أَبِيْ سَهْلَةَ مَوْلَى عُثْمَانَ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسِرُّ إِلَى عُثْمَانَ وَلَوْنُ عُثْمَانَ يَتَغَيَّرُ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الدَّارِ قُلْنَا أَلَا نُقَاتِلُ ؟ قَالَ لَا إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهِدَ إِلَيَّ أَمْرًا فَأَنَا صَابِرٌ نَفْسِيْ عَلَيْهِ.

د حضرت عثمان ﷺ د ازاد كړل سوي غلام ابوسهله ﷺ څخه روايت دی چي (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د حضرت عثمان ﷺ سره پټي خبري كولې او د خبرو اوريدو سره د حضرت عثمان ﷺ د مخ رنگ متغير كيدی، بيا چي هغه ورځ راغلل چي حضرت عثمان ﷺ په خپل كور كي خلكو

محاصره کړ نو موږ عثمان ﷺ ته وويل ايا موږ ددې خلکو سره وجنګيږو نو حضرت عثمان ﷺ وويل:يا ، ځکه چې رسول الله ﷺ ما ته وصيت کړی دی او زه پر هغه صابر او شاکر يم . بيهقي.

**د امير اطاعت**

(۵۸۲۳): وَعَنْ أَبِيْ حَبِيْبَةَ أَنَّهُ دَخَلَ الدَّارَ وَعُثْمَانُ مَحْصُوْرٌ فِيْهَا وَأَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَسْتَأْذِنُ عُثْمَانَ فِيْ الْكَلَامِ فَأَذِنَ لَهُ فَقَامَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ فِتْنَةً وَاخْتِلَافًا أَوْ قَالَ اخْتِلَافًا وَفِتْنَةً فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنْ لَنَا يَارَسُوْلَ اللهِ أَوْ مَا تَأْمُرُنَا بِهِ قَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَمِيْرِ وَأَصْحَابِهِ وَهُوَ يُشِيْرُ إِلَى عُثْمَانَ بِذٰلِكَ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت ابو حبيبه ﷺ څخه روايت دی چې زه د حضرت عثمان ﷺ په سرای کې داخل سوم ، کله چې خلکو دهغه محاصره کړې وه او حضرت عثمان ﷺ بند کړل سوی وو ، ما واوريدل چې ابوهريره ﷺ حضرت عثمان ﷺ څخه د څه ويلو اجازه غوارې ، حضرت عثمان ﷺ اجازه ورکړل ، ابوهريره ﷺ ولاړ سو اول يې د خدای حمد او ثناء وويل بيا يې وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې زما څخه وروسته به تاسو په فتنو او په خپلو کې په جګړو اخته سئ ، ددې اوريدو سره يو سړي وويل اې دالله رسوله ! دغه وخت به موږ د چا پيروي کوو ، يا دا چې په هغه زمانه کې موږ ته د څه کولو حکم راکوئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د امير او د هغه د دوستانو اطاعت پر تاسو لازم دی ، د امير لفظ ويلو سره رسول الله ﷺ حضرت عثمان ﷺ ته اشاره وکړ . بيهقي.

# باب مناقب هولاء الثلاثه رضي الله عنهم

## (د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم مناقب)

## لومړی فصل

**يو نبي، يو صديق او دوه شهيدان**

(۵۸۲۴): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَعِدَ أُحُدًا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ فضربه برجله فَقَالَ اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيْقٌ وَشَهِيْدَانِ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې يوه ورځ نبي کريم ﷺ ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د احد پر غره وختل ، د احد غره حرکت پيل کړ، رسول الله ﷺ غر په پښه ووهی او وه يې فرمايل اې احد! کرار سه پر تا يو نبي ، يو صديق او دوه شهيدان ولاړ دي . بخاري.

د جنت زیری

(۵۸۲۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ فَجَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ فَبَشَّرْتُهُ بِمَا قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ فَقَالَ لِي افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ فَإِذَا عُثْمَانُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ. متفق عليه.

د حضرت ابوموسی اشعري ﷛ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره د مدیني په یو باغ کي وم ، یو سړی راغلی او د هغه باغ د دروازې خلاصولو طلب یې وکړ، رسول الله ﷺ وفرمایل: دروازه خلاصه کړئ او راتلونکي سړي ته د جنت زیری ورکړئ ، ما دروازه خلاصه کړه وه مي ليدل چي هغه ابوبکر ﷛ وو، څرنگه چي رسول الله ﷺ فرمایلي وه ما هغه ته د جنت زیری ورکړ، پر دي خبره ابوبکر ﷛ د خدای ﷻ حمد او ثناء او شکر ادا کړ، بیا یو بل سړی راغلی او د دروازې خلاصولو طلب یې وکړ ، رسول الله ﷺ وفرمایل : دروازه ور خلاصه کړئ او راتلونکي ته دجنت زیری ورکړئ، ما چي دروازه خلاصه کړه نو عمر ﷛ مي ولیدی هغه مي د رسول الله ﷺ د زیري څخه خبر کړ هغه د خدای ﷻ حمد ،ثناء او شکر ادا کړ ، بیا یو بل سړي د دروازې خلاصولو طلب وکړ، رسول الله ﷺ وفرمایل: دروازه ور خلاصه کړه او د جنت زیری ورکړه او د بلا او مصیبت څخه یې خبر کړه چي ده ته به ورسیږي ، ما دروازه ور خلاصه کړه نو هغه حضرت عثمان ﷛ وو، ما هغه د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه خبر کړ ، هغه د خدای حمد ،ثناء او شکر ادا کړ،بیا یې وویل: د الله ﷻ څخه پر هغه مصیبتونو مرسته غواړم. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

د اصحاب ثلاثه ذکر

(۵۸۲۶): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ رضي الله عنهم. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي موږ به د رسول الله ﷺ په ژوند کي دا ویل: ابوبکر ،عمر او عثمان ، الله ﷻ دي ددوئ ټولو څخه راضي سيّ. ترمذي.

## دريم فصل

د خلافت ترتيب

| | |
|---|---|
| (۵۸۲۷): عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ صَالِحٌ كَانَ أَبَا بَكْرٍ نِيطَ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنِيطَ عُمَرُ بِأَبِي بَكْرٍ وَنِيطَ عُثْمَانُ بِعُمَرَ قَالَ جَابِرٌ فَلَمَّا قُمْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا أَمَّا الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّا نوط بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ فَهُمْ وُلَاةُ الْأَمْرِ الَّذِي بَعَثَ اللّٰهُ بِهِ نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نن شپه يو صالح سړی ما ته په خوب کي وښودل سو، ګويا ابوبکر ﷺ پر رسول الله ﷺ متصل کړل سو او عمر ﷺ د ابوبکر ﷺ سره متصل کړل سوي دي او عثمان ﷺ د حضرت عمر ﷺ سره متصل کړل سوي دی، دجابر ﷺ بيان دی چي موږ د رسول الله ﷺ څخه ولاړ سو او روان سو، نو موږ دا رايه قائمه کړه چي د صالح سړي څخه رسول الله ﷺ مراد دی او متصل کېدل يو په بل پسې نو د دوئ څخه مراد خلافت دی، چي پر |

هغه الله تعالی رسول الله ﷺ ماموره کړی دی. ابوداؤد.

## بَابُ مناقب عَلي ابْن اَبِي طالب ﷺ

(دحضرت علي ﷺ مناقب)

## لومړی فصل

علي ﷺ او هارون ﷺ

| | |
|---|---|
| (۵۸۲۸): عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي. متفق عليه. | د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دحضرت علي ﷺ په اړه وفرمايل: ته زما لپاره داسي يې لکه څرنګه چي د موسی ﷺ لپاره هارون ﷺ وو، البته دومره |

فرق دی چي زما څخه وروسته به هيڅوک نبي نه وي، بخاري.

د علي ﷺ سره مينه د ايمان علامه ده

| | |
|---|---|
| (۵۸۲۹): وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ | د حضرت رزين حبيش ﷺ څخه روايت دی چي |

وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ إِنَّهُ لَعَهْدُ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ أَنْ لَا يُحِبُّنِي إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضَنِي إِلَّا مُنَافِقٌ. رواه مسلم.

حضرت علي ﷺ ويلي دي په هغه ذات دي مي قسم وي چي داني يې شنې كړې او ذي روح يې پيدا كړل چي نبىٔ كريم ﷺ ما ته حكم راكړ او وصيت يې وكړ چي زما سره به هغه سړى محبت كوي (يعني حضرت علي ﷺ سره) چي مؤمن وي او زما سره به هغه سړى بغض او عداوت ساتي كوم چي منافق وي . مسلم

## د خيبر فتح

(۵۸۳۰): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالُوا هُوَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ قَالَ فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَيْنَيْهِ فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا قَالَ انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللّٰهِ فِيهِ فَوَاللّٰهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللّٰهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ. متفق عليه وذكر حديث البراء قال لعلي انت مني وانا منك في باب بلوغ الصغير.

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ وفرمايل : زه به دا بيرغ يو داسي سړي ته وركوم چي د هغه په لاس به الله تعالى د خيبر قلعه فتح كړي، او هغه سړى د الله ﷺ او رسول ﷺ سره مينه لري، او الله ﷺ او د هغه رسول ﷺ هم د هغه سره مينه لري، كله چي سبا سو نو ټول خلك په دې اميد د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوه چي بيرغ به په هغوئ كي يو چا ته وركړل سي ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه : علي بن ابي طالب ﷺ چيري دى؟ خلكو عرض وكړ اې دالله رسوله ! هغه دى د هغه خو سترګي خوږيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: يو څوك يې راولئ ، نو هغه راوستل سو ، رسول الله ﷺ د هغه پر سترګو د خپلي خولې مباركي نارې وموږلې، او هغه بنه سوې داسي لكه بالكل چي خوږ سوي نه وي، بيا يې بيرغ وركړ ، حضرت علي ﷺ عرض وكړ اې دالله رسوله ! زه به دهغه خلكو سره تر هغه وخته پوري جنګيږم تر څو پوري چي زموږ په ډول (مسلمانان) سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ولاړ سه او د خپلي فطري نرمۍ څخه كار واخله، هر كله چي د جنګ ميدان ته ورسيږې نو اول دښمنانو ته دعوت وركړه او هغوئ ته وښيه چي د اسلام قبلولو څخه وروسته د اسلام د مخه پر هغوئ د خداى ﷺ حق دى ، په

خدای ﷺ دي مي قسم وي که ستا د تحريك او تبليغ په وجه الله تعالى د يوه سړي هم هدايت په برخه کړي نو دا به ستا لپاره دسرو اوښانو څخه هم ډير غوره وي، بخاري او مسلم او دحضرت براء ﷺ حديث چي حضرت علي ﷺ ته يې وفرمايل : ته زما څخه يې او زه ستا څخه يم په باب د بلوغ الصغير کي ذکر دی.

## دويم فصل

### دکمال قرب او تعلق اظهار

| | |
|---|---|
| (۵۸۳۱): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ ارقم اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ عَلِيًّا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ. رواه الترمذي. | د حضرت عمران بن ارقم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : علي ﷺ زما څخه دی او زه د علي ﷺ څخه يم او علي ﷺ د هر مؤمن دوست او مرستيال دی. ترمذي. |
| (۵۸۳۲): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ. رواه احمد والترمذي. | د حضرت زيدبن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چي زه دوست يم ، علي ﷺ هم د هغه دوست دی ، احمد او ترمذي. |
| (۵۸۳۳): وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيٌّ مِنِّي وَأَنَا مِنْ عَلِيٍّ وَلَا يُؤَدِّي عَنِّي إِلَّا أَنَا أَوْ عَلِيٌّ. رواه الترمذي و رواه احمد عن ابي جنادة. | د حضرت حبشي بن جناده ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : علي ﷺ زما څخه دی او زه د علي څخه يم او زما د جانب څخه دي څوك وعده نه کوي خو زه په خپله يا زما د لوري علي ﷺ. ترمذي او احمد. |
| (۵۸۳۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ آخَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ عَلِيٌّ تَدْمَعُ عَيْنَاهُ فَقَالَ آخَيْتَ بَيْنَ أَصْحَابِكَ وَلَمْ تُؤَاخِ بَيْنِي وَبَيْنَ أَحَدٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په منځ کي ورور ولي قائمه کړې وه ، بيا حضرت علي ﷺ راغلی په داسي حال کي چي د سترګو څخه يې اوښکي رواني وې، او رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ چي تاسو د صحابه کرامو په منځ کي اخوت (ورورګلوي) قائمه کړل مګر زه مو د چا ورور نه يم جوړ کړی، رسول الله ﷺ |

ورته وفرمايل : په دنيا او آخرت دواړو کي ته زما ورور يې. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

**حضرت علي ﷺ د الله ﷺ محبوب بنده دی**

(۵۸۳۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَيْرٌ فَقَالَ اللّٰهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي هٰذَا الطَّيْرَ فَجَاءَ عَلِيٌّ فَأَكَلَ مَعَهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په مخکي يو (پوخ) مرغه پروت و، رسول الله ﷺ دغه دعاء وکړل اې الله ﷺ ما ته هغه سړی راوليږې چي تا ته په خپل مخلوق کي ډير خوږ وي چي زما سره دغه مرغه وخوري، ددې دعاء څخه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حضرت علي ﷺ حاضر سو او د رسول الله ﷺ سره يې دمرغه غوښه وخوړل. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د ورکړې او بخښني خاصه معامله**

(۵۸۳۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي کله به ما د رسول الله ﷺ څخه يو شی غوښتی نو ما ته به يې راکوی او که به زه پټه خوله وم نو خپله به يې راکوی ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د علم او حکمت دروازه**

(۵۸۳۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا. رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وقال رَوَى بَعْضُهُمْ هٰذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَرِيكٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ وَلَا نَعْرِفُ هٰذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَحَدٍ مِنَ الثِّقَاتِ غَيْرَ شَرِيكٍ.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د حکمت کور يم او علي ﷺ د حکمت د کور دروازه ده، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی او ويلي يې دي چي ځينو دا دشريك څخه روايت کړی دی او د صنابحي ذکر يې ونه کړ او موږ د شريك څخه پرته دا حديث د يو ثقه سړي څخه نه پيژنو .

**خاص فضيلت**

(۵۸۳۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا يَوْمَ الطَّائِفِ فَانْتَجَاهُ فَقَالَ النَّاسُ لَقَدْ طَالَ نَجْوَاهُ مَعَ ابْنِ عَمِّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا انْتَجَيْتُهُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ انْتَجَاهُ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د طائف په ورځ حضرت علي ﷺ راوغوښتی او د هغه سره يې په غوږ کي خبري وکړې ، (دغه خبرو ډير وخت واخيستی) نو خلکو وويل : رسول الله ﷺ د خپل اکا زوی سره تر ډيره وخته

پوري خبري وکړي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ورسره د راز خبري نه دي کړي بلکه الله تعالى ورسره د راز خبري کړي دي. ترمذي.

**خصوصي فضيلت**

(٥٨٣٩): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا عَلِيُّ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُجْنِبَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرِي وَغَيْرَكَ قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ فَقُلْتُ لِضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ مَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ قَالَ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يَسْتَطْرِقُهُ جُنُبًا غَيْرِي وَغَيْرَكَ. رواه الترمذي وقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ حضرت علي ﷺ ته وفرمايل : زما او ستا څخه پرته هيڅ چا ته جائز نه ده چي هغه په جنابت کي مسجد ته دننه راسي، علی بن منذر وايي ما د ضرار بن صرد څخه پوښتنه وکړه ددې حديث څه مطلب دی؟ هغه وويل : دا معنا يې ده چي زما او ستا څخه پرته هيچا ته د جنابت په حالت کي په دغه مسجد کي دننه تيريدل جائز نه دي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د خدای ﷻ محبوب رسول**

(٥٨٤٠): وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ بَعَثَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا فِيهِمْ عَلِيٌّ قَالَتْ فَسَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَقُولُ اللّٰهُمَّ لَا تُمِتْنِي حَتَّى تُرِيَنِي عَلِيًّا. رواه الترمذي.

د حضرت ام عطيه (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو ځای ته لښکر وليږی چي حضرت علي ﷺ هم په هغه کي وو، د بي بي ام عطيه بيان دی چي د علي ﷺ د تلو څخه وروسته ما رسول الله ﷺ وليدی چي لاسونه يې پورته کړي وه ويل يې چي اې الله ! ما ته تر هغه وخته پوري مرگ مه راولې تر څو پوري چي علي ﷺ ونه وينم. ترمذي.

## دريم فصل

**د علي ﷺ سره بغض کونکی منافق دی**

(٥٨٤١): عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ وَلَا يَبْغَضُهُ مُؤْمِنٌ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب اسنادا.

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د علي ﷺ سره منافق محبت نه لري او د علي ﷺ سره مؤمن بغض او دښمني نه لري ، احمد او ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دی او د اسناد له مخه غريب دی.

**علي ﷺ ته بد ویل رسول الله ﷺ ته بد ویل دي**

| | |
|---|---|
| ﴿۵۸۴۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّ عَلِيًّا فَقَدْ سَبَّنِي. رواه احمد. | د حضرت ام سلمه (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي علي ﷺ ته بد وویل نو هغه ما ته بد وویل . احمد. |

**یو مثال او یو پشګوئي**

| | |
|---|---|
| ﴿۵۸۴۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيكَ مَثَلٌ مِنْ عِيسَى أَبْغَضَتْهُ الْيَهُودُ حَتَّى بَهَتُوا أُمَّهُ وَأَحَبَّتْهُ النَّصَارَى حَتَّى أَنْزَلُوهُ بِالْمَنْزِلَةِ الَّتِي لَيْسَ بِهِ ثُمَّ قَالَ يَهْلِكُ فِيَّ رَجُلَانِ مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يُقَرِّظُنِي بِمَا لَيْسَ فِيَّ وَمُبْغِضٌ يَحْمِلُهُ شَنَآنِي عَلَى أَنْ يَبْهَتَنِي. رواه احمد. | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : په تا کي د حضرت موسی ﷺ سره یو مشابهت دی، یهودیانو هغه بد وګڼل تر دې چي د هغه پر مور بي بي د زنا تهمت ولګوی او نصاراوو دومره محبوب او خوښ وګرځوی چي هغه یې هغه درجې ته ورسوی چي د هغه لپاره ثابته نه ده ، (یعني د خدای زوی |

)، ددې څخه وروسته نبي کریم ﷺ وفرمایل : زما (یعني د علي) په معامله کي به دوه کسان هلاک سي ، یو خو هغه ډله چي زما سره ډېره مینه لري چي زما ښېګڼه ښیي کومي چي په ما کي نه وي، دویم هغه چي زما دښمن وي او زما سره له دې کبله دښمني کوي چي هغه پر ما تهمت وتړي. احمد.

**د غدیر خم واقعه**

| | |
|---|---|
| ﴿۵۸۴۴﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَ بِغَدِيرِ خُمٍّ أَخَذَ بِيَدِ عَلِيٍّ فَقَالَ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ قَالُوا بَلَى قَالَ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ قَالُوا بَلَى فَقَالَ اللهم مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ اللّٰهُمَّ وَالِ مَنْ وَالَاهُ وَعَادِ مَنْ عَادَاهُ فَلَقِيَهُ عُمَرُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَقَالَ هَنِيئًا يَا ابْنَ أَبِي طَالِبٍ أَصْبَحْتَ وَأَمْسَيْتَ مَوْلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ. رواه احمد. | د حضرت براء عازب او زید بن ارقم (رضي الله عنهما) څخه روایت دی چي کله رسول الله ﷺ په غدیر خم نامي ځای کي تم سو نو د علي ﷺ لاس یې په خپل مبارک لاس کي واخیست او ورته وه یې فرمایل : ایا تاسو خلکو ته معلومه نه ده چي دمؤمنانو په نزد زه (محمد ﷺ) د هغوئ د ځانونو څخه زیات عزیز او غوره یم، خلکو عرض وکړ هو، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا تاسو ته معلومه نه ده چي زه د هر مؤمن په نزد د هغه د ځان څخه زیات غوره او محبوب یم، خلکو وویل |

هو، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! د چا چي زه دوست یم علی د هغه دوست دی ، اې الله دوستي وکړې له هغه سره چي دوستي کوي له علي ﷺ سره او دښمني وکړې له هغه سره چي

دښمني کوي له ده سره، ددې واقعې څخه وروسته حضرت علي ﷺ د حضرت عمر ﷺ سره ملاقات وکړ، حضرت عمر ﷺ ورته وویل اې دابوطالب زویه! ته سهار او مابنام هر وخت خوشحاله اوسه د هر مؤمن سړي او هرې مؤمنې ښځې دوست او محبوب يې. احمد.

## د بي بي فاطمې نکاح

(۵۸۴۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ خَطَبَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَاطِمَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا صَغِيرَةٌ فَخَطَبَهَا عَلِيٌّ فَزَوَّجَهَا مِنْهُ. رواه النسائي.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د بي بي فاطمې لپاره خپل پيغام ولیږی (یعني دواده) ددې پيغام په جواب کې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: فاطمه اوس کوچنۍ ده، بيا علي ﷺ خپل پيغام وږ وليږی او رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې او حضرت علي ﷺ نکاح سره وکړل. نسائي.

## په مسجد کې د حضرت علي ﷺ دروازه

(۵۸۴۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِسَدِّ الْأَبْوَابِ إِلَّا بَابَ عَلِيٍّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې (په مسجد نبوي) کې رسول الله ﷺ د ټولو خلکو دروازې بندې کړې مګر د علي ﷺ د کور دروازه يې د مسجد خوا ته پرېښودل. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

## د قربت خاص مقام

(۵۸۴۷): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَتْ لِي مَنْزِلَةٌ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ تَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْخَلَائِقِ فَكُنْتُ آتِيهِ كُلَّ سَحَرٍ فَأَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ فَإِنْ تَنَحْنَحَ انْصَرَفْتُ إِلَى أَهْلِي وَإِلَّا دَخَلْتُ عَلَيْهِ. رواه النسائي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په نظر کې زما مرتبه دومره وه چې په مخلوق کې دومره مرتبه د هيچا نه وه، زه به سهار وختي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضریدم او ويل به مې السلام عليکم يانبي الله! که نبيّ کريم ﷺ به د سلام په جواب کې غاړې تازه کړې نو زه به خپل کور ته وګرځېدم او که رسول الله ﷺ به غاړې تازه نه کړې نو زه به کور ته دننه ورغلم. نسايي.

## هغه دعاء چې مستجابه سوه

(۵۸۴۸): وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ شَاكِيًا فَمَرَّ بِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې زه ناروغه وم او ويل مې اې خدايه! که زما دمرګ وخت

أَجَلِي قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِي وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَعْنِي وَإِنْ كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ فَأَعَادَ عَلَيْهِ قَالَ فَضَرَبَهُ بِرِجْلِه فَقَالَ اللّٰهُمَّ عَافِه أَوْ اشْفِه شك الراوي قال فَمَا اشْتَكَيْتُ وَجَعِي بَعْدُ. رواه الترمذي وقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

راغلی وي نو په مرگ راکولو سره راحت راکړې او که اوس لا دمرگ وخت نه وي راغلی نو زما په ژوند کي پراخي راولې او که دا ناروغي امتحان وي نو ما ته صبر راکړې. رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل : تا څنگه ويلي دي بيا روايه، ما د دعاء الفاظ بيا تکرار کړل، رسول الله ﷺ په پښې وهلو سره وفرمايل : اې الله ! ده ته عافيت ورکړې يا شفاء ورکړې ، راوي ته شك دى چي رسول الله ﷺ کوم الفاظ وفرمايل ، د علي ﷺ بيان دى ددې دعاء څخه وروسته بيا ما ته دا شکايت يا ناروغي هيڅکله پيښه نه سول . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دى.

# باب مناقب العشرة رضي الله عنهم

## (د اصحاب عشره مبشره د مناقبو بيان)

## لومړی فصل

### د حضرت عمر ﷺ په نزد د خلافت مستحقين

(۵۸۴۹): عَنْ عُمَرَ قَالَ مَاأَحَدٌ أَحَقُّ بِهٰذَا الْأَمْرِ مِنْ هٰؤُلَاءِ النَّفَرِالَّذِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ فَسَمّٰى عَلِيًّا وَعُثْمَانَ وَالزُّبَيْرَ وَطَلْحَةَ وَسَعْدًا وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ. رواه البخاري.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دى چي هغه وويل : ددې امر (يعني خلافت) د هغه خلکو څخه زيات مستحق څوك نسته د چا څخه چي رسول الله ﷺ د وفات تر وخت پوري راضي او خوشحاله وو ، ددې څخه وروسته حضرت عمر ﷺ دا نومونه واخيستل علي، عثمان، زبير، طلحه، سعد، عبدالرحمن. بخاري.

### د طلحه ﷺ قرباني

(۵۸۵۰): وَعَنْ قَيْسِ ابْنِ أَبِيْ حَازِمٍ قَالَ رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ وَقٰى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ . رواه البخاري.

د حضرت قيس بن ابي حازم ﷺ څخه روايت دى چي ما د طلحه لاس شل وليدى ، هغه په لاس سره د أحد د غزا په ورځ رسول الله ﷺ د کفارو د حملو څخه ساتئ . بخاري.

## د حضرت زبير ﷺ فضيلت

| | |
|---|---|
| (۵۸۵۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ يَوْمَ الْأَحْزَابِ قَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ. رواه البخاري. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احزاب په ورځ وفرمايل: د دښمن خبر به ما ته څوك راوړي؟ زبير ﷺ وويل زه به يې راوړم ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هر نبي يو حواري وي او زما حواري زبير دی. بخاري او مسلم. |

## د زبير ﷺ مقام

| | |
|---|---|
| (۵۸۵۲): وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِينِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَيَأْتِينِي بِخَبَرِهِمْ فَانْطَلَقْتُ فَلَمَّا رَجَعْتُ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ فَقَالَ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي. متفق عليه. | د حضرت زبير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك به بني قريظو ته ورسي اود هغوئ خبر ما ته راوړي ، دذې اوريدو سره زه (زبير) روان سوم، بيا چي راغلم نو رسول الله ﷺ وفرمايل زما مور او پلار دي درباندي قربان وي. بخاري. |

## د حضرت سعد ﷺ فضيلت

| | |
|---|---|
| (۵۸۵۳): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ يَا سَعْدُ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي. متفق عليه. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي ما د سعد بن مالك څخه پرته د هيچا لپاره د نبي کريم ﷺ د خپل مور او پلار جمع کول نه دي اوريدلي، د احد په ورځ ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل اې |

سعد! غشي وله زما مور او پلار دي پر تا قربان وي. بخاري او مسلم.

## د الله ﷺ په لار کي تر ټولو مخکي حضرت سعد ﷺ غشي وويشتی

| | |
|---|---|
| (۵۸۵۴): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ إِنِّي لَأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. متفق عليه. | د حضرت سعد بي ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چي زه په عربو کي لومړنی سړی يم چي د |

خدای تعالي په لار کي مي غشي ويشتلي دي . بخاري او مسلم.

## د سعد ﷺ وفاداري

| | |
|---|---|
| (۵۸۵۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَهِرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْدَمَهُ الْمَدِينَةَ لَيْلَةً فَقَالَ لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا يَحْرُسُنِي إِذْ سَمِعْنَا صَوْتَ سِلَاحٍ فَقَالَ | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي يووار رسول الله ﷺ ته د يوې غزا څخه مديني ته په راتلو سره (د دښمن دبيري څخه) يوه شپه |

مَنْ هٰذَا قَالَ اَنَا سَعْدٌ قَالَ مَا جَاءَ بِكَ قَالَ وَقَعَ فِي نَفْسِي خَوْفٌ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَامَ. متفق عليه.

ويښ وو نو وه يې فرمايل : کاش چې يو صالح سړی وای چې زما چوکيداري يې کړې وای، ناڅاپه مونږ د وسلې آواز واوريدی ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څوك دی؟ آواز راغلی چې زه سعد يم، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څنګه راغلې؟ سعيد وويل : زما په زړه کې د رسول الله ﷺ لپاره بيره پيدا سوه او زه ستاسو د چوکيدارۍ لپاره راغلی يم، نو رسول الله ﷺ د سعد لپاره دعاء وکړه او بيا بيده سو، بخاري او مسلم.

**حضرت ابوعبيده ؓ ته د امين الامت خطاب**

(۵۸۵۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. متفق عليه.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر امت يو امانت دار وي او ددې امت امانت دار ابوعبيده بن الجراح دی. بخاري او مسلم

**د حضرت ابوعبيده بن الجراح ؓ فضيلت**

(۵۸۵۷): وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَسُئِلَتْ مَنْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْلِفًا لَوِ اسْتَخْلَفَهُ قَالَتْ أَبُو بَكْرٍ فَقِيلَ ثُمَّ مَنْ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ عُمَرُ قِيلَ مَنْ بَعْدَ عُمَرَ قَالَتْ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رواه مسلم.

د حضرت ابن ابي مليکه ؓ څخه روايت دی ما واورېدل چې د بي بي عائشې څخه پوښتنه وسول که رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې خليفه جوړولای نو څوك به يې خليفه کړی وای؟ دې وويل چې ابوبکر ؓ، بيا پوښتنه وسول د ابوبکر ؓ څخه وروسته څوك به يې خليفه جوړ کړی وای؟ بي بي عائشې وويل عمر ؓ ، بيا پوښتنه وسول د عمر ؓ څخه وروسته ؟ بي بي عايشې وويل ابوعبيده بن الجراح. مسلم.

**د حراء پر غره باندې يو نبي، يو صديق او پنځه شهيدان**

(۵۸۵۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى حِرَاءٍ هُوَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ وَعَلِيٌّ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ فَتَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهْدَأْ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ. وزاد بعضهم وسعد بن ابي وقاص و لم يذكر عليا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ابوبکر، عمر، عثمان، علي، طلحه او زبير رضي الله عنهم د حراء پر غره ولاړ وه چې د هغه يوه دبره چې تول پر ولاړ وه په حرکت کې راغلل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ودرېږه پر تا باندې څوك نسته مګر يو نبي دی ، صديق دی

او شهید دی، او په ځینو روایاتو کښې دا الفاظ زیات لیکلي دي او سعد بن ابي وقاص دی او د علي ﷺ ذکر یې نه دی کړی. مسلم.

## دویم فصل

### عشره مبشره ته د جنت زیرې

(۵۸۵۹): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ وَسَعْد بن ابي وقاص فِي الْجَنَّةِ وَسَعِيد بن زيد فِي الْجَنَّةِ وَاَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي ورواه ابن ماجة عن سعيد بن زيد.

د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ابوبکر ﷺ په جنت کې دی، عمر ﷺ په جنت کې دی، عثمان ﷺ په جنت کې دی، علي ﷺ په جنت کې دی، طلحه ﷺ په جنت کې دی، زبیر ﷺ په جنت کې دی، عبدالرحمن بن عوف ﷺ په جنت کې دی، سعد بن ابي وقاص ﷺ په جنت کې دی، سعید بن زید ﷺ په جنت کې دی، ابوعبیده بن الجراح ﷺ په جنت کې دی. (یعني دا ټول لس جنتیان دي دغه لسو صحابه کرامو ته عشره مبشره ویل کیږي). ترمذي.

### د یو څو صحابه کرامو خاص حیثیتونه

(۵۸۶۰): وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَرْحَمُ اُمَّتِي بِاُمَّتِي اَبُو بَكْرٍ وَاَشَدُّهُمْ فِي اَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ وَاَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ وَاَفْرَضُهُمْ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَاَقْرَؤُهُمْ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَاَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ اَلَا وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ اَمِين وَاَمِينُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح و روي عن معمر عن قتادة مرسلا وفيه واقضاهم علي.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما په امت کې ابوبکر ﷺ زما پر امت تر ټولو زیات مهربانه دی او عمر ﷺ د خدای په کارونو کې تر ټولو زیات سخت دی، او رښتونی او حیاداره عثمان ﷺ دی، او د فرائضو زیات علم لرونکی زید بن ثابت ﷺ دی، او تر ټولو لوی قاري ابي بن کعب ﷺ دی او په حرام او حلال زیات پوهیدونکی معاذ بن جبل ﷺ دی او په هر امت کې یو امین وي او ددې امت امین ابوعبیده بن الجراح دی. احمد او ترمذي، ترمذي ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی او د معمر څخه د قتاده په ذریعه دا حدیث مرسل روایت سوی دی چې پکښې دا واقضاهم علي، جمله زیاته ذکر سوې ده.

د حضرت طلحه ﷺ لپاره د جنت زیری

| | |
|---|---|
| (۵۸۶۱): وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ فَنَهَضَ إِلَى صَخْرَةٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَقَعَدَ طَلْحَةُ تَحْتَهُ حَتّٰى اسْتَوٰى عَلَى الصَّخْرَةِ فَسَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَوْجَبَ طَلْحَةُ. رواه الترمذي. | د حضرت زبیر ﷺ څخه روایت دی چي د احد په ورځ د رسول الله ﷺ پر بدن دوې زغري وې ، رسول الله ﷺ پر یو لوی کاڼي ختی مگر و نه ختلای سو ، نو طلحه کښېنستی او رسول الله ﷺ پر هغه سربېره وختی او کاڼي ته وختی، بیا ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي طلحه واجب |

کړ، یعني طلحه د ځان لپاره جنت واجب کړ. ترمذي.

د حضرت طلحه ﷺ فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۸۶۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلٰى رَجُلٍ يَمْشِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ وَقَدْ قَضٰى نَحْبَهُ فَلْيَنْظُرْ إِلٰى هٰذَا . وفي رواية مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلٰى شَهِيْدٍ يَمْشِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ إِلٰى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ .رواه الترمذي. | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ طلحه بن عبیدالله ﷺ ته وکتل او وه يې فرمایل: څوک چي دا غواړي چي یو داسي سړي ته وګوري چي پر مځکه ګرځي مګر په حقیقت کي هغه خپل حاجت پوره کړی وي نو هغه دي دغه سړي ته وګوري ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي څوک چي داسي شهید لیدل غواړي |

چي پر مځکه ګرځي نو طلحه بن عبیدالله ته دي وګوري. ترمذي.

د حضرت طلحه او حضرت زبیر (رض) فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۸۶۳): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعت أُذُنِي مِنْ فِي رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي زما غوږونو د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ اورېدلي دي چي طلحه او زبیر په جنت کي زما همسایګان دي. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی. |

د سعد ﷺ لپاره دعاء

| | |
|---|---|
| (۵۸۶۴): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِيْ يَوْمَ أُحُدٍ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ رَمْيَتَهُ وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ . رواه في شرح السنة. | د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د احد په ورځ د سعد بن ابي وقاص ﷺ په حق کي وفرمایل اې الله ! دده نښنه ویشتل قوي او ټینګ کړې او دده دعاء قبوله کړې. شرح السنه. |

﴿۵۸۶۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ. رواه الترمذي.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دعاء وکړل اې الله ! کله چي سعد در څخه دعاء وغواړي نو دده دعاء قبوله کړې . ترمذي.

**د سعد ﷜ فضيلت**

﴿۵۸۶۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا جَمَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَاهُ وَأُمَّهُ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي وَقَالَ لَهُ ارْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ. رواه الترمذي.

د حضرت علي ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پرته د سعد بن ابي وقاص ﷜ څخه خپل مور او پلار پر بل هيچا نه دي جمع کړي ، د احد په ورځ يې هغه ته وفرمايل : غشي چلوه زما مور او پلار دي پر تا قربان وي، او د سعد ﷜ لپاره رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل اې قوي زلميه ! غشي وله . ترمذي.

﴿۵۸۶۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلَ سَعْدٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا خَالِي فَلْيُرِنِي امْرُؤٌ خَالَهُ. رواه الترمذي وقال كَانَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من بني زهرة فلذالك قال النبي صلى الله عليه وسلم هٰذَا خَالِي. وَفِي الْمصابيح فليكرم من بدل فَلْيُرِنِي. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷜ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي سعدبن ابي وقاص ﷜ حاضر سو، نبي کريم ﷺ وفرمايل : دا زما ماما دی نو پکار ده چي يو څوك خپل داسي ماما ما ته وښيي، د ترمذي بيان دی چي حضرت سعد ﷜ د قبيله بن زهره څخه وو چي د قريشو يو ښاخ دی او د نبي کريم ﷺ مور بي بي دغه قبيلې څخه وه ددې تعلق پر بنسټ نبي کريم ﷺ سعد ته خپل ماما وويل او په مصابيح کي د فليرني پر ځای فليکرمن راغلی دی . ترمذي.

## دريم فصل

**په اسلام کي تر ټولو اول غشی حضرت سعد ﷜ ويشتی**

﴿۵۸۶۸﴾: عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ إِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَرَأَيْتُنَا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا

د حضرت قيس بن ابي حازم ﷜ څخه روايت دی چي ما د سعد بن ابي وقاص ﷜ څخه اوريدلي دي چي زه په عربو کي لومړنی سړی يم چي د خدای په لار کي مي غشي ويشتلي دي، او مونږ د رسول الله ﷺ سره جهاد کوی او زمونږ سره به

الْحُبْلَة وَ وَرَقُ السَّمُرِ وَاِنْ كَانَ اَحَدُنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ مَالَهُ خِلْطٌ ثُمَّ اَصْبَحَتْ بَنُو اَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الْاِسْلَامِ لَقَدْ خِبْتُ اِذًا وَضَلَّ عَمَلِي وَكَانُوْا وَ شَوْابِهِ اِلَى عُمَرَ وَقَالُوْا لَا يُحْسِنُ يُصَلِّيْ. متفق عليه

خوراك نه وو، مگر د کیکر پاڼې به مو خوړلې او په موږ کې خلکو قضاء حاجت به داسې کوی لکه پسه چې پوچې کوي او ددې څینې اجزاء به د څینو سره نه مخلوط کیدل، بیا د قبیله بنواسد خلکو به د اسلام په خبرو ما ته بد رد ویل، او زه هغه وخت سخت ناامیده سوم او زما ټول اعمال ورك سول چې بنو اسد عمر ﷺ ته ورغلل دا شکایت یې ورته وکړ چې سعد ﷺ په ښه ډول لمونځ نه کوي. بخاري او مسلم.

## د حضرت سعد ﷺ افتخار

(۵۸۶۹): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ رَاَيْتُنِيْ وَاَنَا ثَالِثُ الْاِسْلَامِ وَمَا اَسْلَمَ اَحَدٌ اِلَّا فِي الْيَوْمِ الَّذِي اَسْلَمْتُ فِيهِ وَلَقَدْ مَكَثْتُ سَبْعَةَ اَيَّامٍ وَاِنِّي لَثُلُثُ الْاِسْلَامِ. رواه البخاري.

د حضرت سعد ﷺ څخه روایت دی چې زه د خپل ځان څخه په ښه ډول خبر یم ، زه دریم سړی یم چې په اسلام کې داخل سوی یم ، بل هیڅا اسلام نه وو راوړی مگر په هغه ورځ په کومه ورځ چې ما اسلام قبول کړی وو، (یعني زما د اسلام راوړلو څخه اووه ورځې وروسته نور خلك مسلمانان سوي دي او اووه ورځې مې په داسې حال کې تیرې کړې چې د مسلمانانو د شمیر دریمه برخه وم. بخاري.

## د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ فضیلت

(۵۸۷۰): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ لِنِسَائِهِ اِنَّ اَمْرَكُنَّ مِمَّا يُهِمُّنِي مِنْ بَعْدِي وَلَنْ يَصْبِرَ عَلَيْكُنَّ اِلَّا الصَّابِرُوْنَ الْمُتَصَدِّقُوْنَ قَالَتْ عَائِشَةُ يَعْنِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ ثُمَّ قَالَتْ عَائِشَةُ لِاَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ سَقَى اللّٰهُ اَبَاكَ مِنْ سَلْسَبِيْلِ الْجَنَّةِ وَكَانَ ابْنُ عَوْفٍ قَدْ تَصَدَّقَ عَلَى اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِحَدِيْقَةٍ بِيْعَتْ بِاَرْبَعِيْنَ اَلْفًا. رواه الترمذي.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو ته وفرمایل : ستاسو کار له هغه قسمه دی چې زما سره یې غم را سره دی یعني زما څخه وروسته به ستاسو گزاره څنگه وي؟ او صبر به ونه کړی پر تاسې مگر صابرین او صدیقین ، بي بي عائشه وایي د صابر او صدیق څخه مراد د رسول الله ﷺ په نزد هغه خلك دي چې صدقه او خیرات کونکي دي ، ددې څخه وروسته بي بي عائشې ابوسلمه بن عبدالرحمن ته وویل خدای دې ستا پلار د جنت په سلسبیل اوبه کړي ، عبدالرحمن بن عوف د بیبیانو مبارکو د مصارفو لپاره یو باغ ورکړی وو چې په څلوېښت زره درهمه باندې خرڅ کړل سوی وو . ترمذي.

**اې الله ! عبدالرحمن بن عوف ﷺ د جنت په وياله اوبه کړې**

| | |
|---|---|
| (۵۸۷۱): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِأَزْوَاجِهِ إِنَّ الَّذِي يَحْنُو عَلَيْكُنَّ بَعْدِي هُوَ الصَّادِقُ الْبَارُّ اللّٰهُمَّ اسْقِ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ. رواه احمد. | د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي خپلو بيبيانو ته يې فرمايل: کوم سړی چي زما څخه وروسته تاسو ته په لېو مال درکړي هغه صادق |

الايمان دی، اې الله ﷺ ! د جنت په سلسبيل عبدالرحمن بن عوف اوبه کړې . احمد.

**د حضرت ابوعبيده ﷺ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۸۷۲): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالوا يا رسول الله ابعث الينا رَجُلًا أَمِينًا فقال لابعثن اليكم رجلا حَقَّ أَمِينٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهَا الناس قال فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ ابن الجراح.رواه البخاري. | د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چي د نجران خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! موږ ته يو امانت دار سړی راوليږئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه تاسو ته يو حاکم درليږم چي امين به وي او |

ددې ړ به وي چي هغه ته امانت دار وويل سي ، ددې اوريدو سره خلکو دامارت انتظار کوی چي چا ته به ورکول کيږي ، وايي چي رسول الله ﷺ ابو عبيده بن جراح ﷺ ور ولېږی . بخاري.

**د امارت او خلافت په باره کي يو سوال او د هغه جواب**

| | |
|---|---|
| (۵۸۷۳): وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ يُؤَمَّرُ بَعْدَكَ قَالَ إِنْ تُؤَمِّرُوا أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تَجِدُوهُ أَمِينًا زَاهِدًا فِي الدُّنْيَا رَاغِبًا فِي الْآخِرَةِ وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تَجِدُوهُ قَوِيًّا أَمِينًا لَا يَخَافُ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَلَا أُرَاكُمْ فَاعِلِينَ تَجِدُوهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا يَأْخُذُ بِكُمُ الطَّرِيقَ الْمُسْتَقِيمَ. رواه احمد. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته عرض وسو اې دالله رسوله ! ستاسو څخه وروسته موږ څوك خپل امير جوړ کړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که تاسو ابوبکر ﷺ خپل امير جوړ کړئ نو هغه به د دنيا څخه بې پروا او د آخرت راغب وي او که تاسو عمر ﷺ خپل امير جوړ کړئ نو هغه به قوي او امانتدار وي ، د الله ﷺ په احکامو کي هغه د هيچا څخه نه ويريږي |

، او که تاسو علي ﷺ خپل امير جوړ کړئ او زما خيال دی چي تاسو به هغه امير جوړ نه کړئ نو تاسو به هغه سيده لار ښونکی او هدايت يافته وويني او هغه به تاسو پر سيده لار بوځي . احمد.

**د څلورو خليفه ګانو فضائل**

| | |
|---|---|
| (۵۸۷۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ أَبَا بَكْرٍ زَوَّجَنِيَ ابْنَتَهُ وَحَمَلَنِي إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ وَصَحِبَنِي فِي الْغَارِ وَأَعْتَقَ بِلَالًا مِنْ مَالِهِ رَحِمَ اللّٰهُ عُمَرَ يَقُولُ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا تَرَكَهُ الْحَقُّ وَمَا لَهُ صَدِيقٌ رَحِمَ اللّٰهُ عُثْمَانَ تَسْتَحْيِيهِ الْمَلَائِكَةُ رَحِمَ اللّٰهُ عَلِيًّا اللّٰهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ حَيْثُ دَارَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

ﷺ وفرمايل : خدای تعالی دي پر ابوبکر ﷺ رحم وکړي هغه خپله لور ما ته په نکاح راکړه ، زه يې د هجرت کور ته بوتلم او په غار کي يې ملګرتيا را سره وکړه او په خپل مال سره يې بلال آزاد کړ او خدای تعالی دي پر عمر رحم وکړي چي حقه خبره کوي که څه هم هغه ترخه وي، حق ويل هغه دي حال ته ورسوی چي د هغه هيڅوك دوست نسته، او الله ﷻ دي پر عثمان رحم وکړي چي ملائکي هم حيا ځيني کوي او ا لله تعالی دي پر علي رحم وکړي ، اي الله ! حق ته د علي سره ګردش ورکړې يعني چيري چي علي وي هلته حق وي . ترمذي

## باب مناقب اهل البيت النبي ﷺ

**(د نبي کريم ﷺ د اهل بيتو د مناقبو بيان)**

### لومړی فصل

**ايت مباهله او اهل بيت**

(۵۸۷۵): عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا وَفَاطِمَةَ وَحَسَنًا وَحُسَيْنًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي. رواه مسلم.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چي کله دا آيت نازل سو (فقل تعالوا ندعُ ابنائنا وابناءكم.....)، (يعني راځئ چي موږ خپل زامن او ستاسو زامن راوبلو ) نو رسول الله ﷺ علي، فاطمه، حسن او حسين راوستل او وه يې فرمايل اي الله ! دا زما اهل بيت دی. مسلم.

**په قران کريم کي د اهل بيتو مصداق**

(۵۸۷۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةً وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ فَجَاءَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ جَاءَ الْحُسَيْنُ فَدَخَلَ مَعَهُ ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَدْخَلَهَا ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ سهار وختي يو تور وربښتو لړونکی کمبل اچولی دباندي تشريف راوړ چي په خدمت کي يې حسن بن علي حاضر سو ، رسول الله ﷺ هغه په کمبل کي دننه کېښنوی ، بيا حسين راغی هغه يې هم په

الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا. رواه مسلم.

کمبل کي دننه کنبېنوی ، بیا فاطمه راغلل هغه یې هم په کمبل کي دننه کنبېنول ، بیا علي ﷺ راغلی هغه یې هم په کمبل کي داخل کړ او.دا آیت یې تلاوت کړ : (انما یرید الله لیذهب عنکم .....)، (اي اهل بیتو! الله تعالی غواړي چي ستاسو څخه د گناهونو ناپاکي لیرې کړي او تاسو پاك او صاف کړي) مسلم.

## ابراهیم بن محمد رسول الله ﷺ

(٥٨٧٧): وَعَنِ الْبَرَاءَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ. رواه البخاري.

د حضرت براء ﷺ څخه روایت دی چي کله د رسول الله ﷺ زوی ابراهیم وفات سو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي د هغه لپاره تی ورکونکې ده . بخاري.

## د بي بي فاطمې فضیلت

(٥٨٧٨): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنَّا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهُ فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ تخفي مِشْيَتُهَا من مَشْيِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلما رآها قال مَرْحَبًا بِابْنَتِي ثُمَّ أَجْلَسَهَا ثُمَّ سارها فَبَكَتْ بكاء شديدا فلما رای حزنها سارها لَمْ تَبْكِينَ ثُمَّ أَسَرَّ إِلَيْهَا حَدِيثًا فَضَحِكَتْ فَقُلْتُ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ فَرَحًا أَقْرَبَ مِنْ حُزْنٍ فَسَأَلْتُهَا عَمَّا قَالَ فَقَالَتْ مَا كُنْتُ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهَا فَقَالَتْ أَسَرَّ إِلَيَّ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُنِي الْقُرْآنَ كُلَّ سَنَةٍ مَرَّةً وَإِنَّهُ عَارَضَنِي الْعَامَ مَرَّتَيْنِ وَلَا أُرَاهُ إِلَّا حَضَرَ أَجَلِي وَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِ بَيْتِي لَحَاقًا بِي فَبَكَيْتُ فَقَالَ أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَوْ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ . وفي رواية فَسَارَّنِي أَنَّهُ يُقْبَضُ فِي وَجَعِهِ فَبَكَيْتُ ثُمَّ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ أَهْلِ بَيْتِهِ أَتْبَعُهُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناستي وو چي بي بي فاطمه راغلل ، د هغې کړني او د تگ هیئت بیخي د رسول الله ﷺ سره مشابه وو ، رسول الله ﷺ چي بي بي فاطمه ولیدل نو وه یې فرمایل اي زما لورې! په خوشحالي راسې، ددې څخه وروسته یې دخان سره کنبېنول ، بیا یې په کرار کرار ورسره خبري وکړې، نوبي بي فاطمه په چغو چغو په ژړا سوه ، رسول الله ﷺ چي هغه غمجنه ولیدل نو بیا یې کرار ورسره څه خبري وکړې نو هغه په خندا سوه، بیا چي رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه ولاړی نو ما د بي بي فاطمې څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ ستا سره څه خبري وکړې ، بي بي فاطمې وویل زه د رسول الله ﷺ راز ښکاره کول نه خوښوم، (بي بي عائشه وایي) هر کله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو ما بي بي فاطمې ته وویل زه تا ته د حق واسطه او قسم درکوم چي

فَضَحِكْتُ. متفق عليه.

زما پر تا دی (يعني ستا مور يم) ته ما د هغه راز ښخه خبره کړه کوم چي رسول الله ﷺ پر تا څرګند کړی وو، بي بي فاطمې وويل : اوس په هغه راز څرګندولو کي څه حرج نسته، واقعه دا وه چي رسول الله ﷺ په لومړي وار ما ته دا فرمايلي وه چي جبرائيل عليه السلام به ټول کال زما سره يو وار د قرآن پاك تکرار کوی ، سږ کال يې راسره دوه واره تکرار وکړ ، زما خيال دی چي زما د مرګ وخت رانژدې سوی دی ، نو اې فاطمې ! ته دخدای څخه وبيرېږه او صبر اختيار کړه، ځکه چي زه ستا لپاره غوره مخکي تلونکی يم، ددې اوريدو سره زه په ژړا سوم ، بيا چي رسول الله ﷺ وليدل چي زه ډيره غمجنه سوم نو دويم وار يې راسره خبري وکړې او دا وار يې دا وفرمايل اې فاطمې ! ايا ته په دې خبره راضي نه يې چي ته د جنت د ټولو ښځو سرداره جوړه کړل سې يا ته د ټولو مؤمنانو د ښځو سرداره کړل سې ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په لومړي وار يې ما ته دا الفاظ وفرمايل چي رسول الله ﷺ به په دغه ناروغۍ کي وفات سي ، ددې اوريدو سره زه په ژړا سوم، بيا رسول الله ﷺ راته وفرمايل چي په اهل بيتو کي به تر ټولو مخکي ته زما سره يو ځای کيږې نو زه خوشحاله سوم او په خندا سوم . بخاري او مسلم .

**چا چي فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم**

(۵۸۷۹): وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي. وفي رواية يريبني ما ارابها ويؤذيني ما اذاها. متفق عليه.

د حضرت مسور بن مخرمه ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : فاطمه زما د بدن يوه ټوټه ده چا چي دا غضب ناکه کړه نو هغه زه غضب ناکه کړم ، او په يوه روايت کي دا سي دي چي کوم شی فاطمه پريشانه کوي هغه شی ما پريشانه کوي او کوم شی چي فاطمې ته تکليف ورکوي هغه ما ته تکليف راکوي . بخاري او مسلم .

**د هغه عذاب څخه و بيرېږئ چي د اهل بيتو د حقوقو د کوتاهۍ په سبب وي**

(۵۸۸۰): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللّٰهِ فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ

د حضرت زيد بن ارقم ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو ورځ زموږ په منځ کي ودريدی او د مقام خم د چينې يا اوبو سره چي دمکې او مدينې په منځ کي واقع ده خطبه ويونکی، لومړی يې د خدای ﷻ حمد او ثناء بيان کړل بيا يې خلکو ته نصيحت وکړ او ثواب او عذاب يې ورته ياد کړل ، ددې څخه وروسته يې وفرمايل :

| | |
|---|---|
| فَخُذُوا بِكِتَابِ اللّٰهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهٖ فَحَثَّ عَلٰى كِتَابِ اللّٰهِ وَرَغَّبَ فِيْهِ ثُمَّ قَالَ وَأَهْلُ بَيْتِيْ أُذَكِّرُكُمُ اللّٰهَ فِيْ أَهْلِ بَيْتِيْ، أُذَكِّرُكُمُ اللّٰهَ فِيْ أَهْلِ بَيْتِيْ ، وفي رواية كتاب الله هو حبل الله من اتبعه كان على الهدى ومن تركه كان على الضلالة.رواه مسلم. | د حمد او ثناء څخه وروسته اې خلكو ! خبردار سئ ! چي زه ستاسو په ډول يو انسان يم او هغه وخت نژدې دى چي زما د پروردگار راليږل سوې ملائكه راسي او زه به د خداى تعالى حكم قبول كړم ، زه ستاسو په منځ كي دوه درانه شيان |

پرېښودونكى يم : هغه كي لومړنى شي د خداى كتاب دى چي په هغه كي هدايت دى تاسو د خداى كتاب ټينګ ونيسئ عمل په وكړئ او منګولې پرې ښخې كړئ ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د قرآن مجيد په لور خلكو ته ډېر رغبت پيداكړ او د هغه د ټينګ نيولو او عمل كولو لپاره يې خلك په جوش كي راوستل ، بيا يې فرمايل : دويم شى زما اهل بيت دى زه تاسو د خداى څخه بېروم او خداى درته يادوم چي تاسو زما اهل بيت هېر نه كړئ زه درته بيا يادوم چي زما د هل بيتو حق هېر نه كړئ ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د خداى ﷻ كتاب د خداى ﷻ رسى ده څوك چي د خداى د كتاب اطاعت كوي هغه به پر سمه لار وي او څوك چي يې پرېږدي ګمراه به سي . مسلم .

**د حضرت جعفر ؓ لقب**

| | |
|---|---|
| (۵۸۸۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ عَلٰى ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ. رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دى چي هغه به عبدالله بن جعفر بن ابي طالب ته سلام كوى نو داسي به يې كوى (السلام عليك ياابن ذي |

الجناحين) .يعني د دوو وزرو والا زويه! پر تا دي سلام وي، ذوالجناحين د جعفر ؓ لقب وو. بخاري.

**د حضرت حسن ؓ لپاره دعاء**

| | |
|---|---|
| (۵۸۸۲): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ عَلٰى عَاتِقِهٖ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ. متفق عليه. | د حضرت براء ؓ څخه روايت دى چي ما نبي كريم ﷺ وليدى چي حسن بن علي ؓ يې پر اوږه مباركه وو او دا يې فرمايل اې الله ! زه دده سره مينه كوم ته هم ورسره مينه وكړې . بخاري او مسلم. |

**د حضرت حسن ؓ سره تعلق**

| | |
|---|---|
| (۵۸۸۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ طَائِفَةٍ مِنْ | د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دى چي زه د رسول الله ﷺ سره د ورځي په يو برخه كي دباندي ووتلم چي د بي بي فاطمې خيمې ته ورسيدو نو |

النَّهَارِ حَتّٰى أَتٰى خِبَاءَ فَاطِمَةَ فَقَالَ أَثَمَّ لُكَعُ أَثَمَّ لُكَعُ يَعْنِي حَسَنًا فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ يَسْعٰى حَتّٰى اعْتَنَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ. متفق عليه.

وه يې فرمايل : ايا دلته هلك سته ؟ ايا دلته هلك سته؟ يعني حسن ، ډېر وخت نه وو تېر سوى چي حضرت حسن په منډه راغلى او د رسول الله ﷺ سره ور غاړه سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! زه دده سره مينه کوم ته هم ورسره مينه وکړه او هغه سړي سره هم مينه وکړه څوك چي دده سره مينه کوي . بخاري او مسلم .

## د امام حسن فضیلت

(۵۸۸۴): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ إِلٰى جَنْبِهِ وَهُوَ يُقْبِلُ عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَعَلَيْهِ أُخْرٰى وَيَقُوْلُ إِنَّ ابْنِي هٰذَا سَيِّدٌ وَلَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوبکره څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ په هغه حال کي پر منبر وليد ی چي حسن بن علي يې په بغل کي وو ، رسول الله ﷺ به کله خلکو ته متوجه کيدی او کله به حسن ته او فرمايل به يې زما دا زوی (لمسی) سردار دی او کيدای سي الله تعالى دده په ذريعه د مسلمانانو ددوو لويو ډلو اختلاف ختم کړي . بخاري .

## حسن او حسين زما ددنيا دوه ګلونه دي

(۵۸۸۵): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ الْمُحْرِمِ قَالَ شُعْبَةُ أَحْسِبُهُ يَقْتُلُ الذُّبَابَ فَقَالَ أَهْلُ الْعِرَاقِ يَسْأَلُوْنَ عَنِ الذُّبَابِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ بِنْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمَا رَيْحَانَايَ مِنَ الدُّنْيَا. رواه البخاري.

د حضرت عبدالرحمن بن ابو نعم څخه روايت دی چي اوريدلي مي دي د حضرت عبدالله بن عمر څخه يو عراقي سړي پوښتنه وکړه شعبه وايي چي ګمان کوم مُحْرِم (د حج احرام ترونکي) مچ ووژني نو ددې څه حکم دی؟ عبدالله بن عمر وويل دعراق خلك زما څخه د مچ وژلو حکم پوښتني حال دا چي هغوئ د رسول الله ﷺ د لور زوی وژلی دی او د هغوئ په حق کي رسول الله ﷺ فرمايلي وه چي دا دواړه (يعني حسن او حسين) زما د دنيا دوه ګلونه دي . بخاري .

## د رسول الله ﷺ د سره د حسنينو مشابهت

(۵۸۸۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ

د حضرت انس څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ سره تر حسن بن علي زيات مشابه بل څوك نه

وَقَالَ فِي الْحُسَيْنِ أَيْضًا كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري.

وو، او دحسين ﷺ په اره يې هم دا وويل چې هغه هم د رسول الله ﷺ سره زيات مشابه وو. بخاري.

**ابن عباس ﷺ ته دعاء**

(۵۸۸۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَمَّنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَدْرِهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ. وفي رواية علمه الكتاب. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ زه د خپل سينې سره جخت کړم او وه يې فرمايل: اې الله! ده ته حکمت ورکړې او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې اې الله ﷺ ده ته د کتاب (قرآن کريم) علم ورکړې. بخاري.

(۵۸۸۸): وَعَنْهُ قَالَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوْءًا فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ مَنْ وَضَعَ هٰذَا فَأُخْبِرَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د قضاء حاجت لپاره دننه ننوتى، ما د اوداسه لپاره اوبه ورته کېښېښودلې رسول الله ﷺ چې دباندې تشريف راوړ (او لوښې يې د اوبو څخه ډک وليدى نو پوښتنه يې وکړه) دا اوبه چا ايښې دي؟ رسول الله ﷺ ته وښودل سول چې ابن عباس ﷺ ايښې دي، نو رسول الله ﷺ زما په حق کې دعاء وکړل چې اې الله! ده ته ددين پوهه ورکړې. بخاري او مسلم.

**اسامه بن زيد او حسن ته دعاء**

(۵۸۸۹): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ فَيَقُولُ اللّٰهُمَّ أَحِبَّهُمَا فَإِنِّي أُحِبُّهُمَا. وفي رواية قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُنِي فَيُقْعِدُنِي عَلَى فخذه وَيُقْعِدُ الْحَسَنَ عَلَى فخذه الْأُخْرَى ثُمَّ يَضُمُّهُمَا ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ ارْحَمْهُمَا فَإِنِّي أَرْحَمُهُمَا. رواه البخاري.

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به هغه (يعني اسامه) او حسين ﷺ په خپل غيږ کې اخيستل يا به يې دخان سره کېښېنول او فرمايل به يې اې الله! زه د دوئ دواړو سره مينه کوم ته ورسره هم مينه وکړې، او په يوه روايت کې داسي دي چې رسول الله ﷺ به زه پر خپل يوه ورانه کېښېنولم او پر دويم به يې حسن بن علي کېښېنوى بيا به يې دواړه را جوخت کړه او فرمايل به يې اې الله پر دوئ دواړو رحمت وکړې ځکه چې زه د دوئ سره مهرباني کوم. بخاري.

**اسامه بن زيد ﷺ د لښکر امير جوړول**

(۵۸۹۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چې

عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمَارَتِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كنتم تَطْعَنُون فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللّٰهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ. متفق عليه وفي رواية لمسلم نحوه وفي اخره اوصيكم فانه من صالحيكم.

رسول الله ﷺ یو لښکر ولیږی او د هغه سردار یې اسامه بن زید ﷺ وټاکې، خینو خلکو پر دې اعتراض وکړ ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : که تاسو داسامه بن زید ﷺ پر سرداری اعتراض کوئ نو دنن ځخه مخکې تاسو ده ده پر پلار د زید بن حارثه ﷺ پر سرداری هم اعتراض کړی دی او قسم په خدای هغه دامارت او سرداری ور وو، او دده پلار ما ته د ډیرو خلکو ځخه عزیز وو، او اسامه هم د هغه د پلار دمرګ ځخه وروسته ما ته د ډیرو خلکو ځخه زیات عزیز دی . بخاري او مسلم او د مسلم په یوه روایت کې دا الفاظ زیات دي چې زه تاسو ته وصیت کوم چې د اسامه سره هم ښېګڼه کوئ ځکه چې دی ستاسو ځخه نیله سړی دی.

**د زید بن محمد ویلو ځخه منع**

(۵۸۹۱): وَعَنْهُ قَالَ انَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ. متفق عليه وذكر حديث البراء قال لعلي انت مني في باب بلوغ الصغير وحضانته.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ځخه روایت دی چې زید بن حارث د رسول الله ﷺ ازاد کړي غلام ته به موږ زید بن محمد ویل تر دې چې د قرآن کریم دا آیت نازل سو (ادعوهم لاباهم)، (یعني د خپلو پلرونو په نامه یې بولئ) ، بخاري او مسلم او د براء ﷺ حدیث : قال لعلي انت مني، په باب بلوغ الصغیر کې بیان سوی دی .

## دویم فصل

(۵۸۹۲): عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ يَوْمَ عَرَفَةَ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا كِتَابَ اللّٰهِ وَعِتْرَتِي أَهْلَ بَيْتِي. رواه الترمذي:

د حضرت جابر ﷺ ځخه روایت دی چې ما په حجة الوداع کې د عرفات په ورځ رسول الله ﷺ په داسې حال کې ولیدی چې پر قصوا نامې اوښې باندې سپور وو او خطبه یې ویل : ما ځینې واوریدل چې دا یې فرمایل : اې خلکو! ما ستاسو په منځ کې هغه شی پرې ایښی دی که

تاسو يې ټينګ ونيسئ نو هيڅکله به ګمراه نه سئ او هغه د خداى كتاب او عترت زما چې اهل بيت دي ..ترمذي.

د رسول الله ﷺ وصيت

(۵۸۹۳): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ مَا إِنْ تَمَسَّكْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدِي أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الْآخَرِ كِتَابُ اللّٰهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ فَانْظُرُوا كَيْفَ تَخْلُفُونِي فِيهِمَا. رواه الترمذي.

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته دوه شيان پريږدم كه تاسو يې ټينګ ونيسئ او په هغه عمل كونكي پاته سئ نو زما څخه وروسته به هيڅکله ګمراه نه سئ او هغه دوه شيان دادي چې په هغه كي يو د بل څخه لوى دى يعني دخداى كتاب د يوې رسى په دول چې د آسمان څخه تر مځكي پوري راغلى دى او دويم شى زما د اهل بيتو څخه زما عترت دى او دخداى كتاب او زما عترت به د قيامت تر ورځي پوري د يو بل څخه هيڅکله بيل نه سي تر دې چې پر حوض كوثر به راسي اوس تاسو ګورئ چې زما څخه وروسته تاسو دواړه شيانو سره څه چلن كوئ. ترمذي.

د اهل بيت دښمن د رسول الله ﷺ دښمن دى

(۵۸۹۴): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ وَفَاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ أَنَا حَرْبٌ لِمَنْ حَارَبَهُمْ وَسِلْمٌ لِمَنْ سَالَمَهُمْ.رواه الترمذي.

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه زوايت دى چې رسول الله ﷺ د علي، فاطمې، حسن او حسين په اره وفرمايل: زه جنګ يم د هغه چا لپاره چې د دوئ سره جنګ كوي او زه صلح يم د هغه چا لپاره چې د دوئ سره صلح كوي . ترمذي .

د حضرت علي او فاطمې فضيلت

(۵۸۹۵): وَعَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ عَمَّتِي عَلَى عَائِشَةَ فَسَئَلْتُ أَيُّ النَّاسِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ فَاطِمَةُ فَقِيلَ مِنَ الرِّجَالِ قَالَتْ زَوْجُهَا. رواه الترمذي.

د حضرت جميع بن عمير ﷺ څخه روايت دى چې زه د خپلي عمه سره د بي بي عائشې په خدمت كي حاضر سوم ، ما پوښتنه وكړه د رسول الله ﷺ تر ټولو زيات محبت د چا سره وو ؟ بي بي عائشې راته وفرمايل : د بي بي فاطمې سره،بي بي عائشې (رض) ته وويل سول او په خلكو كي د چا سره؟ بي بي عائشې (رض) وفرمايل د هغې د خاوند (حضرت علي ﷺ) سره . ترمذي.

**چا چي زما اکا ته تکلیف ورکړی هغه ما ته تکلیف راکړی**

(۵۸۹۶): وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيْعَةَ اَنَّ الْعَبَّاسَ دَخَلَ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالَ مَا أَغْضَبَكَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ إِذَا تَلَاقَوْا بَيْنَهُمْ تَلَاقَوْا بِوُجُوْهٍ مُبْشَرَةٍ وَإِذَا لَقُوْنَا لَقُوْنَا بِغَيْرِ ذٰلِكَ قَالَ فَغَضِبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الْإِيْمَانُ حَتّٰى يُحِبَّكُمْ لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ آذٰى عَمِّي فَقَدْ آذَانِي فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيْهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالمطلب بن ربیعه ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم چي عباس ﷺ په غصه کي راغلی، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي ته څه شي په غصه کړی یې؟ عباس ﷺ وویل اې دالله رسوله ! زموږ (یعني دبنوهاشم) او قریشو په منځ کي څه فرق دی هر کله چي هغوئ په خپلو کي یو ځای کیږي نو په ورین تندي او په خوشحالي د یو بل سره یو ځای کیږي خو کله چي موږ ورسره یو ځای کیږو نو هغوئ راسره نه یو ځای کیږي ، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ غضبناك سو تر دې چي د ډیري غصې څخه یې مخ مبارك سور سو، بیا یې وفرمایل : په هغه ذات دې مي قسم وي د چا په لاس کي چي د محمد ﷺ ساه ده د چا په زړه کي چي ایمان وي هغه به تا دخدای او د هغه د رسول ﷺ د رضا حاصلولو لپاره دوست ګڼي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل اې خلکو! څوك چي زما اکا ته تکلیف رسوي هغه ګویا ما ته تکلیف رسوي څکه چي اکا د پلار په ډول دی . ترمذي.

**د حضرت عباس ﷺ فضیلت**

(۵۸۹۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَبَّاسُ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : عباس ﷺ زما څخه دی او زه د عباس ﷺ څخه یم . ترمذي.

**د عباس ﷺ او کورنۍ لپاره دعاء**

(۵۸۹۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ إِذَا كَانَ غَدَاةَ الْاِثْنَيْنِ فَأْتِنِي أَنْتَ وَوَلَدُكَ حَتّٰى أَدْعُوَ لَكَ بِدَعْوَةٍ يَنْفَعُكَ اللّٰهُ بِهَا وَوَلَدَكَ فَغَدَا وَغَدَوْنَا مَعَهُ وَأَلْبَسَنَا كِسَاءً ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً لَا

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ عباس ﷺ ته وفرمایل : د دوشنبې په ورځ سهار وختي ته د خپل اولاد سره ما ته راسه چي ستاسو لپاره دعاء وغواړم چي تا او ستا اولاد ته الله ﷺ په هغه سره ګټه ورسوي ، بیا ددوشنبې په ورځ سهار وختي هغوئ راغلل، او

| | |
|---|---|
| تُغَادِرُ ذَنْبًا اَللّٰهُمَّ احْفَظْهُ فِي وَلَدِهِ. رواه الترمذي وزاد رزين واجعل الخلافة باقية في عقبه وقال الترمذي هذا حديث غريب. | رسول الله ﷺ پر موږ ټول خادر مبارك واچوی بیا یې وفرمایل اې الله ! عباس او دده اولاد وبخښې ، ظاهر او باطن دوارو حالتو کې دوئ پاك کړې |

او ددې دوارو (عباس او ابن عباس) هیڅ ګناه مه پرېږدې ، اې الله ! عباس دده په اولاد کې قائم او محفوظ لرې ، ترمذي او د رزین په روایت کې دا الفاظ زیات دي چې رسول الله ﷺ په دعاء کې دا هم وفرمایل : چې خلافت او امیري دده په اولاد کې باقي ولرې . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

**د ابن عباس ﷺ فضیلت**

| | |
|---|---|
| (٥٨٩٩): وَعَنْهُ أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَرَّتَيْنِ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ. رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې ما دوه واره جبرائیل علیه السلام ولیدی او رسول الله ﷺ دوه واره زما لپاره دعاء کړې ده، ترمذي. |

**د ابن عباس ﷺ لپاره دعاوې**

| | |
|---|---|
| (٥٩٠٠): وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ دَعَا لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْتِيَنِي اللّٰهُ الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ. رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ زما لپاره دعاء وکړل چې الله تعالی ما ته دوه واره حکمت راکړې ، ترمذي. |

**د حضرت جعفر ﷺ کنیت**

| | |
|---|---|
| (٥٩٠١): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ جَعْفَرٌ يُحِبُّ الْمَسَاكِينَ وَيَجْلِسُ إِلَيْهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ وَيُحَدِّثُونَهُ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَنِّيهِ بِأَبِي الْمَسَاكِينِ. رواه الترمذي. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې جعفر ﷺ به د مسکینانو سره ډیره مینه کول د هغوئ سره به کېښېنستی او مسکینانو به د هغه سره او هغه به دمسکینانو سره خبرې کولې ، پر دې |

بنیاد رسول الله ﷺ دده کنیت ابوالمساکین ایښی وو ، ترمذي.

**د حضرت جعفر ﷺ فضیلت**

| | |
|---|---|
| (٥٩٠٢): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ما جعفر ﷺ په جنت کې د ملائکو سره په الوتلو ولیدی ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی. |

## د جنت د ځوانانو سردار

| | |
|---|---|
| (۵۹۰۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي. | د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حسن او حسین د جنت د ځوانانو سرداران دي. ترمذي. |

## د دنیا دوه ګلونه

| | |
|---|---|
| (۵۹۰۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَايَ مِنَ الدُّنْيَا.رواه الترمذي . وقد سبق في الفصل الاول. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حسن او حسین زما ددنیا دوه ګلونه دي. ترمذي. |

## د حسین ﷺ سره مینه

| | |
|---|---|
| (۵۹۰۵): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ طَرَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي بَعْضِ الْحَاجَةِ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى شَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ حَاجَتِي قُلْتُ مَا هٰذَا الَّذِي أَنْتَ مُشْتَمِلٌ عَلَيْهِ فَكَشَفَهُ فَإِذَا حَسَنٌ وَحُسَيْنٌ عَلَى وَرِكَيْهِ فَقَالَ هٰذَانِ ابْنَايَ وَابْنَا ابْنَتِيَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا. رواه الترمذي. | د حضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دی چي زه د یو ضرورت لپاره د شپې د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، نبي کریم ﷺ د کور څخه په داسي حال کي راووتی چي یو شی یې د ځان سره پټ نیولی وو چي په هغه زه ناخبر وم چي هغه څه شي دي، کله چي رسول الله ﷺ ته ما خپل ضرورت عرض کړ او د خپل حاجت څخه فارغ سوم نو ما پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! دا تاسو څه شي راخیستی دی ؟ رسول الله ﷺ هغه |

شی څرګند کړ نو حسن او حسین وه چي د رسول الله ﷺ په دواړو اړخونو کي وه (او څادر یې پر اچولی وو) او وه یې فرمایل: دا زما زامن دي او زما د لور زامن دي ، اې الله ! زه د دوئ سره مینه کوم ته ورسره هم مینه وکړې او څوک چي د دوئ سره مینه کوي ته د هغه سره هم مینه وکړې. ترمذي.

## د حسین ﷺ شهادت او د ام سلمه خوب

| | |
|---|---|
| (۵۹۰۶): وَعَنْ سَلْمَى قَالَتْ دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ وَهِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي فِي الْمَنَامِ وَعَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ التُّرَابُ فَقُلْتُ مَا لَكَ يَا رَسُولَ | د حضرت سلمی (رض) څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ کوروالا ام سلمه ته راغلم چي هغې ژړل ، ما پوښتنه وکړل اې بي بي ولي ژاړې؟ هغې وویل : ما رسول الله ﷺ په خوب کي په داسي حال کي ولیدی چي پر سر او ږیره مبارکه |

اللّٰهِ قَالَ شَهِدْتُ قَتْلَ الْحُسَيْنِ آنِفًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

یې دوري پرتې وې ، ما پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! څه وسو ل؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل :

زه اوس د حسين ؓ د قتل د ځای څخه راغلم ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

### د حسنينو سره مينه

(۵۹۰۷): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ اَهْلِ بَيْتِكَ اَحَبُّ اِلَيْكَ قَالَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ وَكَانَ يَقُوْلُ لِفَاطِمَةَ ادْعِي لِيَ ابْنَيَّ فَيَشُمُّهُمَا وَيَضُمُّهُمَا اِلَيْهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت أنس ؓ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې په اهل بيتو کې ستاسو څوك زيات خوښ دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : حسن او حسين، رسول الله ﷺ به بي بي فاطمې ته فرمايل : زما دواړه زامن راوله، بيا به رسول الله ﷺ د حسن او حسين دواړو بدن بوېوی او د ځان سره به يې پيوست کړل . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

(۵۹۰۸): وَعَنْ بُرَيْدَةَ يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُنَا اِذْ جَاءَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَيْهِمَا قَمِيصَانِ اَحْمَرَانِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمِنْبَرِ فَحَمَلَهُمَا وَوَضَعَهُمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ صَدَقَ اللّٰهُ اِنَّمَا اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ نَظَرْتُ اِلَى هٰذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَلَمْ اَصْبِرْ حَتّٰى قَطَعْتُ حَدِيْثِي وَرَفَعْتُهُمَا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي.

د حضرت بريده ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته خطبه فرمايل چې ناڅاپه حسن او حسين راغلل چې سره قميصونه يې اغوستي وه چې په تگ کې به غوځارېدل ، ددې ليدو سره رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو دواړه ماشومان يې په غيږ کې واخيستل بيا يې خپل مخته دواړه کښېنول او وه يې فرمايل : الله تعالى رښتيا فرمايلي دي چې ستاسو مال او اولاد فتنه ده، ما دواړه ماشومان وليدل چې راځي او غوځارېدل نو ماصبر ونه کړلای سو تر دې چې ما خپله خبره قطع کړه او دا دواړه ماشومان مې راپورته کړل . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي .

(۵۹۰۹): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسَيْنٌ مِنِّي وَاَنَا مِنْ حُسَيْنٍ اَحَبَّ اللّٰهُ مَنْ اَحَبَّ حُسَيْنًا حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْاَسْبَاطِ. رواه الترمذي.

د حضرت يعلي بن مره ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : حسين زما څخه دی او زه د حسين څخه يم ، څوك چې د حسين سره مينه کوي خدای دي دهغه سره مينه وکړي او حسين زما يو اولاد دی . ترمذي.

## د حسنینو د رسول ﷺ سره مشابهت

| | |
|---|---|
| (۵۹۱۰): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ الْحَسَنُ أَشْبَهُ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ الصَّدْرِ إِلَى الرَّأْسِ وَالْحُسَيْنُ أَشْبَهُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنْ ذٰلِكَ. رواه الترمذي. | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي حسن ﷺ د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه دی د سر څخه تر سینې پوري ، او حسین ﷺ د رسول الله ﷺ سره تر سینې لاندي زیات مشابه دی . ترمذي. |

## د بي بي فاطمې او حسنینو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۱۱): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قُلْت لِأُمِّي دَعِينِي آتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُصَلِّيَ مَعَهُ الْمَغْرِبَ وَأَسْأَلُهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي وَلَك فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْمَغْرِبَ فَصَلَّى حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ ثُمَّ انْفَتَلَ فَتَبِعْتُهُ فَسَمِعَ صَوْتِي فَقَالَ مَنْ هٰذَا حُذَيْفَةُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَا حَاجَتُكَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ وَلِأُمِّكَ قَالَ إِنَّ هٰذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الْأَرْضَ قَطُّ قَبْلَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيَّ وَيُبَشِّرَنِي بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت حذیفه ﷺ څخه روایت دی چي ما خپل مور ته وویل چي اجازه راکړه چي دماښام لمونځ د رسول الله ﷺ سره وکړم او رسول الله ﷺ ته خواست وکړم چي زما او ستا لپاره دبخښني دعاء وغواړي، نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم د ماښام لمونځ مي د رسو ل الله ﷺ سره وکړ بیا رسول الله ﷺ نفلونه وکړل ، د هغه څخه وروسته یې دماخستن لمونځ وکړ بیا چي رسول الله ﷺ د نمانځه څخه فارغ سو او تلی نو زه هم وریسي ورغلم ، رسول الله ﷺ چي زما د پښو اواز واوریدی نو پوښتنه یې وکړه څوک یې ؟ ایا ته حذیفه یې ؟ ما عرض وکړ هو، رسول الله ﷺ |

وفرمایل ولي څه کار دي دی ؟ خدای دي تا او ستا مور و بخښي ، (یعني د کوم مقصد لپاره چي راغلی وم هغه بي ویلو پوره سو)، گوره دا یوه ملائکه ده (رسول الله ﷺ وفرمایل) چي ددغه شپې څخه مخکي هیڅکله مځکي ته نه وه راکښته سوې ، دغه ملائکي خپل پروردگار څخه ما ته د حاضریدو او سلام کولو اجازه غوښتې وه نو اجازه ورکړل سوه ، دغه ملائکي ما ته زیری راکړی دی چي فاطمه د جنت د ښځو سرداره ده او حسن او حسین د زلمیانو جنتیانو سرداران دي . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی .

## ښه سپرلی او ښه سپور

| | |
|---|---|
| (۵۹۱۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَامِلَ الْحُسَيْنِ بْنِ | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ حسن بن علي ﷺ پر خپل اوږه مبارکه اخیستی |

عَلِيٌّ عَلَى عَاتِقِه فَقَالَ رَجُلٌ نِعْمَ الْمَرْكَبُ رَكِبْتَ يَا غُلَامُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنِعْمَ الرَّاكِبُ هُوَ. رواه الترمذي.

وو، يو سړي وويل : هلکه ته پر ښه سپرلۍ باندې سپور يې ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل او دا هم ښه سپور دی . ترمذي.

**د حضرت اسامه ﷺ فضيلت**

(٥٩١٣): وَعَنْ عُمَرَ أَنَّهُ فَرَضَ لِأُسَامَةَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ وَفَرَضَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيهِ لِمَ فَضَّلْتَ أُسَامَةَ عَلَيَّ فَوَاللّٰهِ مَا سَبَقَنِي إِلَى مَشْهَدٍ قَالَ لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيكَ وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكَ فَآثَرْتُ حُبَّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حُبِّي. رواه الترمذي.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چې هغه د اسامه بن زيد ﷺ لپاره (د بيت المال څخه) درې نيم زره درهمه تنخواه وټاکل ، او عبدالله بن عمر ﷺ (يعني خپل زوی) لپاره يې درې زره درهمه تنخواه وټاکل، عبدالله بن عمر ﷺ خپل پلار ته وويل تاسو اسامه ته پر ما ولې ترجيح ورکړل ، قسم په خدای هغه په هيڅ يو غزا کې زما څخه مخکې سوی نه دی ، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل ما د اسامه تنخواه له دې کبله زياته وټاکل چې د رسول الله ﷺ دده د پلار سره ستا تر پلار زيات محبت وو، او بيا خپله اسامه سره د رسول الله ﷺ ستا څخه زياته مينه وه په دې وجه ما د رسول الله ﷺ محبوب ته پر خپل محبوب ترجيح ورکړل . ترمذي.

**د حضرت زيد ﷺ د رسول الله ﷺ د پرېښودو څخه انکار**

(٥٩١٤): وَعَنْ جَبَلَةَ بْنِ حَارِثَةَ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ابْعَثْ مَعِي أَخِي زَيْدًا قَالَ هُوَ ذَا قَالَ فَإِنِ انْطَلَقَ مَعَكَ لَمْ أَمْنَعْهُ قَالَ زَيْدٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ أَحَدًا قَالَ فَرَأَيْتُ رَأْيَ أَخِي أَفْضَلَ مِنْ رَأْيِي. رواه الترمذي.

د حضرت جبله بن حارثه ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما سره زما ورور زيد وليږئ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زيد موجود دی که دی ستا سره تلل غواړي نو زه يې نه منع کوم ، زيد عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه ستاسو څخه پرته بل هيڅوك نه خوښوم ، دجبله بن حارثه بيان دی چې ما په دې اره د خپل ورور (يعني زيد) رايه دخپل رايه څخه غوره وليدل (يعني چې هغه زموږ سره اوسيدل خوښ نه کړل او د رسول الله ﷺ خدمت کول يې خوښ کړل) . ترمذي.

د حضرت اسامه ﷜ سره شفقت او محبت

(۵۹۱۵): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَبَطْتُ وَهَبَطَ النَّاسُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَصْمَتَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَيْهِ عَلَيَّ وَيَرْفَعُهُمَا فَأَعْرِفُ أَنَّهُ يَدْعُو لِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت اسامه بن زید ﷜ څخه روایت دی چې کله رسول الله ﷺ ډیر کمزوری سو نو زه او نور خلك مدینې ته راغلو او زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم خو هغه پټه خوله وو، (یعني خبري یې نه سوای کولای) رسول الله ﷺ چې زه ولیدم نو خپل دواړه مبارك لاسونه یې پر ما اېښودل بیا یې هغه پورته کو ل ، زه پوه سوم چې رسول الله ﷺ زما لپاره دعاء فرمایې. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

(۵۹۱۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَعْنِي حَتّٰى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَفْعَلُ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيهِ فَإِنِّي أُحِبُّهُ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د اسامه ﷜ پزه پاکول غوښتل، ما عرض وکړ تاسو یې پرېږدئ دا کار به زه وکړم، رسول الله ﷺ وفرمایل اې عائشې ! ته داسامه سره محبت کوه ځکه چې زه ورسره محبت کوم. ترمذي.

(۵۹۱۷): وَعَنْ أُسَامَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا إِذْ جَاءَ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ فَقَالَا لِأُسَامَةَ اسْتَأْذِنْ لَنَا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ فَقَالَ أَتَدْرِي مَا جَاءَ بِهِمَا قُلْتُ لَا قَالَ لَكِنِّي أَدْرِي ائْذَنْ لَهُمَا فَدَخَلَا فَقَالَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ أَيُّ أَهْلِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ فَقَالَا مَا جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ أَهْلِكَ قَالَ أَحَبُّ أَهْلِي إِلَيَّ مَنْ قَدْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْهِ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ قَالَا ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ قَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ جَعَلْتَ عَمَّكَ آخِرَهُمْ قَالَ لِأَنَّ عَلِيًّا قَدْ سَبَقَكَ

د حضرت اسامه ﷜ څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ پر دروازه ناست وم ، علي او عباس رضي الله عنهما راغلل او د رسول الله ﷺ په خدمت کې یې اجازه غوښتل هغوئ ما اسامه ته وویل ته زموږ لپاره د رسول الله ﷺ څخه اجازه وغواړه، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! علي او عباس اجازه غواړي ، رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل اې اسامه ! تا ته معلومه ده چې دا دواړه ما ته ولې راغلي دي ، ما عرض وکړ ما ته نه ده معلومه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : مگر ما ته معلومه ده ، ښه دی دوئ راوغواړه نو دواړه دننه راغلل او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! موږ

بِالْهِجْرَةِ. رواه الترمذي.

ستاسو په خدمت کي د پوښتني کولو لپاره راغلي يو چي تاسو ته په خپل اهل کي څوك تر ټولو زيات عزيز دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : فاطمه بنت محمد ﷺ پر ما تر ټولو گرانه ده ، علي او عباس رضي الله عنهما عرض وکړ موږ ستا د کورنۍ په اړه پوښتنه نه کوو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زما د اهل بيتو څخه ما ته تر ټولو هغه سړى زيات محبوب دى چي خداى ﷻ خپل فضل او انعام پر کړى دى او ما هم پر هغه انعام او احسان کړى دى او هغه اسامه بن زيد ؓ دى، علي او عباس رضي الله عنهما عرض وکړ: داسامه څخه وروسته ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا علي بن ابوطالب ؓ ، عباس ؓ عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو خپل اکا په اهل بيتو کي په اخر کي وساتى ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ببشکه علي ؓ په هجرت کي ستا څخه مخته والى وړى دى . ترمذي.

## دریم فصل

(۵۹۱۸): عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْعَصْرَ ثُمَّ خَرَجَ يَمْشِي ومعه عَلِيٌّ فَرَأَى الْحَسَنَ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ فَحَمَلَهُ عَلَى عَاتِقه وَقَالَ بِأَبِي شَبِيهٌ بِالنَّبِيِّ لَيس شَبِيهٌ بِعَلِيٍّ وَعَلِيٌّ يَضْحَكُ. رواه البخاري.

د حضرت عقبه بن حارث ؓ څخه روايت دى چي ابوبکر صديق ؓ د مازديگر لمونځ وکړ بيا گرځيدو ته ووتى، حضرت علي ؓ هم ورسره وو، حضرت ابوبکر ؓ حضرت حسن ؓ د ماشومانو سره په لوبو کولو وليدى نو هغه يې پورته کړ او پر خپله اوږه يې کښينوى اووه يې ويل : په خپل پلار دي مي قسم وي دى د نبي کريم ﷺ سره زيات مشابه دى د علي ؓ سره مشابه نه دى ، حضرت علي ؓ دا واوريدل او خندل يې . بخاري .

**د شهيد اعظم سر مبارك او د ابن زياد استهزاء**

(۵۹۱۹): وَعَنْ أَنسٍ قَالَ أُتِيَ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ زِيَاد بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ عَلَيْهِ السَّلَام فَجُعِلَ فِي طَسْت فَجَعَلَ يَنْكُتُ وَقَالَ فِي حُسْنه شَيْئًا قَالَ أَنسٌ فقلت والله انه كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مَخضُوبًا بِالْوَسْمَة. رواه البخاري وفي رواية الترمذي قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ زِيَاد فَجِيءَ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ فَجَعَلَ يَضْرِبُ بِقَضِيب فِي أَنفه وَيَقُولُ مَا

د حضرت انس ؓ څخه روايت دى چي د عبيد الله بن زياد مخته د حضرت حسين ؓ سر مبارك راوړل سو او په تالۍ کي کښېښودل سو، عبيدالله سر مبارك ته په لرگي سره حرکت ورکولو سره ويل دده په حسن (ښائست) کي څه خبره ده، د انس ؓ بيان دى ما هغه ته وويل : قسم په خداى په اهل بيتو کي حسين ؓ د رسول

رَأَيْتُ مِثْلَ هٰذَا حُسْنًا فَقُلْتُ أَمَا إِنَّهُ كَانَ مِنْ أَشْبَهِهِمْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وقال هذا حديث صحيح حسن غريب.

الله ﷺ سره زیات مشابه وو ، دغه وخت د حضرت حسین ؓ سر مبارك په وسمه رنگ کړل سوی وو، بخاري او د ترمذي په روایت کي دا الفاظ

دي چي زه د ابن زیاد سره ناست وم چي د حسین ؓ سر مبارك راوړل سو ، ابن زیاد به د حسین ؓ په پزه کي لرگی راتیروی او دا به یې ویل حسین ؓ د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه وو، ترمذي ویلي دي دا حدیث صحیح حسن غریب دی.

**د حضرت حسین ؓ په اړه یو خوب او یو پیشگوئي**

(۵۹۲۰): وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ رَأَيْتُ حُلْمًا مُنْكَرًا اللَّيْلَةَ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَتْ إِنَّهُ شَدِيْدٌ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَتْ رَأَيْتُ كَأَنَّ قِطْعَةً مِّنْ جَسَدِكَ قُطِعَتْ وَوُضِعَتْ فِيْ حَجْرِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتِ خَيْرًا تَلِدُ فَاطِمَةُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ غُلَامًا يَكُوْنُ فِيْ حَجْرِكِ فَوَلَدَتْ فَاطِمَةُ الْحُسَيْنَ وَكَانَ فِيْ حَجْرِيْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ يَوْمًا عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ فِيْ حَجْرِهِ ثُمَّ كَانَتْ مِنِّي الْتِفَاتَةٌ فَإِذَا عَيْنَا رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُهْرِيْقَانِ الدُّمُوْعَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَالَكَ قَالَ أَتَانِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ أُمَّتِيْ سَتَقْتُلُ ابْنِيْ هٰذَا فَقُلْتُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ وَأَتَانِيْ بِتُرْبَةٍ مِّنْ تُرْبَتِهِ حَمْرَاءَ.

د حضرت ام الفضل بنت الحارث (رض) څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ اې د الله رسول ! ما نن ډیر خراب خوب لیدلی دی، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څه رنگه دی ؟ هغې وویل هغه ډیر بد خوب دی، رسول الله ﷺ وفرمایل څه شي دی؟ هغې وویل ما ولیدل چي ستاسو د بدن مبارك څخه یوه ټوټه پرې کړل سوې ده او زما په غیږ کي اېښودل سوې ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تا ښه خوب لیدلی دی انشاء الله د فاطمې به زوی پیدا سي چي ستا په غیږ کي به کښېښودل سي ، نو دبي بي فاطمې زوی پیداسو او زما په غیږ کي کښېښودل سو لکه څرنگه چي رسول الله ﷺ فرمایلي وه ، بیا زه یوه ورځ د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوم او حسین ؓ مي رسول الله ﷺ ته په غیږ کي ورکړ بیا ما بلي خوا ته وکتل ناڅاپه ما ولیدل چي د رسول الله ﷺ د سترگو څخه اوښکي رواني دي، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي څه خبره ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : اوس جبرائیل علیه السلام ما ته راغلی وو خبر یې کړلم چي ډېر ژر به ستا امت دا زوی قتل کړي، ما عرض وکړ دا زوی، رسول الله ﷺ

ولرمايل هو، او ما ته يې د هغه ځاى خاوره هم راوړې وه په كوم ځاى كي چي به قتل كيږي او هغه سره خاوره وه . بيهقي.

**د حسين ﷺ شهادت او د ابن عباس ﷺ خوب**

(۵۹۲۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَرَى النَّائِمُ ذَاتَ يَوْمٍ بِنِصْفِ النَّهَارِ أَشْعَثَ أَغْبَرَ بِيَدِهٖ قَارُوْرَةٌ فِيْهَا دَمٌ فَقُلْتُ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَا هٰذَا قَالَ هٰذَا دَمُ الْحُسَيْنِ وَأَصْحَابِهٖ وَلَمْ أَزَلْ أَلْتَقِطُهُ مُنْذُ الْيَوْمِ فَأَحْصِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتَ فَأَجِدُ قُتِلَ ذٰلِكَ الْوَقْتَ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة وأحمد الأخير.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي ما يوه ورځ رسول الله ﷺ په خوب كي په داسي حال كي وليدى چي دغرمې وخت وو او رسول الله ﷺ پريشان حاله په گرد لړلي يوه شيشه يې په لاس كي اخيستې وه چي د وينو څخه ډكه وه ، ما عرض وكړ زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي دا څه شي دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دا دحسين او د هغه د ملګرو وينه ده چي تر نن ورځې پوري مي را ټولولې،ابن عباس ﷺ وايي په خوب كي چي رسول الله ﷺ هغه وخت راته ښودلي وو ما هغه ياد ساتلى وو نو امام حسين ﷺ هم هغه وخت شهيد كړل سو . بيهقي او احمد.

**اهل بيت محبوب لرئ**

(۵۹۲۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِبُّوا اللّٰهَ لِمَا يَغْذُوْكُمْ مِنْ نِعَمِهٖ وَأَحِبُّوْنِيْ بِحُبِّ اللّٰهِ وَأَحِبُّوْا أَهْلَ بَيْتِيْ لِحُبِّيْ.رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د خداى ﷺ سره محبت كوئ ځكه چي هغه غذا او ډېر نعمتونه دركوي او زما سره ځكه محبت كوئ چي تاسو د خداى ﷺ سره محبت كوئ او زما اهل بيت زما د محبت په وجه محبوب گڼئ . ترمذي.

**په اهل بيت او د نوح ﷺ په كښتۍ كي مماثلت**

(۵۹۲۳): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ آخِذٌ بِبَابِ الْكَعْبَةِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَلَا إِنَّ مَثَلَ أَهْلِ بَيْتِيْ فِيْكُمْ مَثَلُ سَفِيْنَةِ نُوْحٍ مَنْ رَكِبَهَا نَجَا وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا هَلَكَ . رواه أحمد.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دى په داسي حال كي چي ده د كعبې دروازه نيولې وه دا بيان يې وكړ چي ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي چي خبردار سئ ! زما اهل بيت ستاسو لپاره د نوح ﷺ د كښتۍ په ډول دي ځوك چي په كښتۍ كي سپور سو نو هغه خلاصون تر لاسه كړ او ځوك چي په كښتۍ كي د سپريدو څخه پاته سو هغه هلاك سو . احمد.

# باب مناقب ازواج النبي ﷺ

«د نبي ﷺ د مبارکو بيبيانو مناقب»

## لومړی فصل

د بي بي خديجة الکبری فضيلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۴): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ بنت خويلد. متفق عليه وفي رواية قال ابو کريب واشار وکيع الى السماء والارض. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : مريم بنت عمران د ټول امت په ښځو کي غوره وه، او ددې امت په ښځو کي بي بي خديجة بنت خويلد په ټولو کي غوره ده ، |

بخاري ، او مسلم او په يوه روايت کي ابو کريب وايي چي وکيع آسمان او مځکي ته اشاره وکړه .

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى جِبْرِيلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ أَوْ طَعَامٌ أَوْ شَرَابٌ فَإِذَا هِيَ أَتَتْكَ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا وَمِنِّي وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي جبرائيل ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلی او وه يې ويل : اې دالله رسوله ! بي بي خديجه را روانه ده «يعني غار حرا ته» د هغې سره لوښی دی چي په هغه کي خوراك دی کله چي هغه تاسو ته راسي نو تاسو هغې ته د هغې د پروردګار د لوري او زما د لوري سلام ورسوئ، او دا زيري ورکړئ |

چي د هغې لپاره په جنت کي د ملغلرو يو محل دی چي په هغه کي نه شور سته او نه غم. بخاري او مسلم

د بي بي خديجې خاص فضيلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۶): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَمَا رَأَيْتُهَا وَلَكِنْ كَانَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيجَةَ فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي الدُّنْيَا امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيجَةُ فَيَقُولُ إِنَّهَا كَانَتْ | د حضرت عائشي «رض» څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ په بيبيانو کي ما د يوې بي بي سره هم دومره سيالي نه ده کړې لکه د بي بي خديجې سره حال دا چي هغه ما ليدلې هم نه وه مگر رسول الله ﷺ به هغه ډيره يادول، او کله چي به رسول الله ﷺ يو پسه ذبح کړی نو د هغه غوښه |

وَكَانَتْ وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ. متفق عليه.

به يې توتې توتې کړه او د بي بي خديجې ملګرو ته به يې ليږل ، ما به رسول الله ﷺ ته ځيني وخت ويل ستاسو په خيال کې د خديجې څخه پرته په دنيا کې بله ښځه نسته، رسول الله ﷺ به ددې په جواب کې فرمايل : خديجه داسې وه او خديجه داسې وه او د هغې څخه زما اولاد دی (يعني دهغې تعريف به يې کوی) . بخاري او مسلم.

## د بي بي عائشې فضيلت

(٥٩٢٧): وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ إِنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ قالت وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ تَرَى مَا لَا أَرَى. متفق عليه.

د حضرت ابوسلمه ﷺ څخه روايت دی چې د بي بي عائشې (رض)بيان دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ ما ته وفرمايل : اې عائشې ! دا جبرائيل ﷺ دی تا ته سلام وايي ، بي بي عائشه وايي ما وويل وعليه السلام ورحمة الله ، بي بي عائشه وايي رسول الله ﷺ هغه ليدی کوم چې ما نه ليدی. بخاري او مسلم.

## بي بي عائشه په خوب ليدل

(٥٩٢٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُكِ فِي الْمَنَامِ ثلث ليال يَجِيءُ بِكِ الْمَلَكُ فِي سَرَقَةٍ مِنْ حَرِيرٍ فَقَالَ لِي هَذِهِ امْرَأَتُكَ فَكَشَفْتُ عَنْ وَجْهِكِ الثَّوْبَ فَإِذَا أَنْتِ هِيَ فَقُلْتُ إِنْ يَكُ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِه. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ ما ته وفرمايل : ما درې شپې پر له پسې په خوب کې وليدل چې ته به ملائکې د ريښم په يوې توتې کې راوړلې او ما ته به يې ويل دا ستا ښځه ده ما به ستا دمخ څخه پلو ليرې کړ او بعينه ته به مې ليدلې، بيا به ما په خپل زړه کې ويل که دا خوب د خدای ﷻ د لوري وي نو خدای ﷻ به يې پوره کړي. بخاري او مسلم.

## د بي بي عائشې امتيازي فضيلت

(٥٩٢٩): وَعَنْ عَائِشَةَ انَّ النَّاسَ كَانُوا يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ يَبْتَغُونَ بِذَالِكَ مَرْضَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَتْ انَّ نِسَاءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ حِزْبَيْنِ فَحِزْبٌ فِيهِ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ وَصَفِيَّةُ وَسَوْدَةُ وَالْحِزْبُ الْآخَرُ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې خلکو به رسول الله ﷺ ته د تحفو راوړلو لپاره د هغه ورځې انتظار کوی په کومه ورځ چې به رسول الله ﷺ د عائشې سره وو، او ددې څخه د هغوئ مقصد صرف د رسول الله ﷺ رضا وه، بي بي عائشه وايي د رسول الله ﷺ د بيبيانو دوې

فَكَلَّمَ حزبُ أُمِّ سَلَمَةَ فَقُلْنَ لَهَا كَلِّمِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَلِّمُ النَّاسَ فَيَقُولُ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُهْدِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيُهْدِهِ إِلَيْهِ حَيْثُ كَانَ فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ لَهَا لَا تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ فَإِنَّ الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِي وَأَنَا فِي ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَالَتْ أَتُوبُ إِلَى اللهِ مِنْ أَذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ ثُمَّ إِنَّهُنَّ دَعَوْنَ فَاطِمَةَ فَأَرْسَلْنَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ يَا بُنَيَّةُ أَلَا تُحِبِّينَ مَا أُحِبُّ قَالَتْ بَلَى قَالَ فَأَحِبِّي هٰذِهِ. متفق عليه وذكر حديث انس فضل عائشة على النساء في باب بدء الخلق برواية ابي موسى.

ډلي وې ، په یوه ډله کې بي بي عائشه، بي بي حفصه، بي بي صفیه، او بي بي سوده وه او په دویمه ډله کې بي بي ام سلمه او نورې بیبیانې وې، یو وار د بي بي ام سلمه ډلې ام سلمه ته وویل چې هغه رسول الله ﷺ ته دا ووایې چې رسول الله ﷺ دې خلکو ته دا ووایې چې څوك رسول الله ﷺ ته تحفه را استوي نو را استوئ دې يې كه څه هم رسول الله ﷺ هغه وخت د هرې بي بي سره وي، نو ام سلمه د رسول الله ﷺ سره په دې باره کې خبرې وکړې رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تاسو ما ته د عائشې په اړه تکلیف مه راکوئ ځکه چې دعائشې څخه پرته ما ته د هیڅ یوبلې بي بي په جامو (بستر وغیره) کې وحي نه راځي ددې اوریدو سره ام سلمه وویل توبه کاوم خدای ﷺ ته له خفګان ستا څخه اې د الله رسوله، بیا دام سلمه ډلې بي بي فاطمه راوغوښتل او د هغې په ذریعه یې خپل دغه خواهش رسول الله ﷺ ته ورسوی، په دې په باره کې بي بي فاطمې د رسول الله ﷺ سره خبرې وکړې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې لورې! ایا ته د هغې سره محبت نه کوې د چا سره چې زه محبت کوم، فاطمې وویل : هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ته دعائشې سره مینه کوه ، بخاري او مسلم، او د حضرت انس ﷺ حدیث (فضل عائشة على النساء) په باب بداء الخلق کې په روایت د ابوموسی تیر سوی دی.

## دویم فصل

### د دنیا څلور غوره ښځې

(۵۹۳۰): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَسْبُكَ مِنْ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د ټولې دنیا د ښځو څخه د دغه څلورو ښځو فضائل ستاسو لپاره کافي دي : بي بي مريم بنت عمران، بي بي خديجه بنت خويلد ، بي بي فاطمه بنت محمد ﷺ او بي بي آسيه د فرعون ښځه . ترمذي.

## د بي بي عائشي فضيلت

(۵۹۳۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ جِبْرِيلَ جَاءَ بِصُورَتِهَا فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي جبرائيل عليه السلام د هغې په شكل او صورت كي يو شی په شنو رېښمو كي نغښتی رسول الله ﷺ ته راوړ او وه يې ويل دا په دنيا او آخرت كي ستا ښځه ده . ترمذي.

## د بي بي صفيې فخر

(۵۹۳۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ بَلَغَ صَفِيَّةَ أَنَّ حَفْصَةَ قَالَتْ بِنْتُ يَهُودِيٍّ فَبَكَتْ فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ تَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكِ فَقَالَتْ قَالَتْ لِي حَفْصَةُ إِنِّي بِنْتُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكِ لَابْنَةُ نَبِيٍّ وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ فَفِيمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ ثُمَّ قَالَ اتَّقِي اللّٰهَ يَا حَفْصَةُ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي بي بي صفيې ته دا خبره ورسيدل چي بي بي حفصې ويلي دي چي صفيه د يهودي لور ده، ددې اوريدو سره هغه په ژړا سوه، په دغه وخت كي رسول الله ﷺ تشريف راوړ پوښتنه يې وكړه چي ولي ژاړې؟ بي بي صفيې ورته وويل ما ته حفصې د يهودي لور ويلې دې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته د نبي لور يې او ستا اكا هم نبي وو، او اوس ته د يو نبي ښځه يې بيا حفصه پر كومه خبره پر تا فخر كوي . ددې وروسته رسول الله ﷺ حفصې ته وفرمايل : اې حفصې ! د خدای ﷻ څخه وبيرېږه . ترمذي او نسائي .

## د بي بي مريم عليها السلام ذكر

(۵۹۳۳): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فَاطِمَةَ عَامَ الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا فَبَكَتْ ثُمَّ حَدَّثَهَا فَضَحِكَتْ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا عَنْ بُكَائِهَا وَضَحِكِهَا قَالَتْ أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَمُوتُ فَبَكَيْتُ ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ بِنْتَ عِمْرَانَ فَضَحِكْتُ. رواه الترمذي.

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي د مكې د فتحې په كال رسول الله ﷺ بي بي فاطمه راوغوښتل او كرار يې د هغه سره خبري وكړې چي د هغه په اوريدو سره هغه په ژړا سوه، بيا يې دويم وار د هغې سره خبري وكړې نو هغې وخندل، بيا چي رسول الله ﷺ وفات سو نو ما د هغې د ژړا او خندا سبب وپوښتی، نو بي بي فاطمې وويل رسول الله ﷺ زه خبره كړې وم چي رسول الله ﷺ به وفات كيږي د هغه په اوريدو سره زه په ژړا سوم ، بيا رسول الله ﷺ زه خبره كړم چي زه به د جنت د ټولو ښځو سرداره يم پرته د مريم بنت عمران څخه نو ما وخندل . ترمذي.

## دریم فصل

### د بي بي عائشې (رض) فضیلت

(۵۹۳۴): عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چي هر کله به مونږ اصحاب د رسول الله ﷺ پر یو خبره مشتبه سول یا دیو حدیث مطلب به مو په پوهه کي نه راغلی نو مونږ به د بي بي عائشې څخه پوښتنه کول نو د هغه خبري پوره علم به مونږ څښتني تر لاسه کړی ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح غریب دی.

### د بي بي عائشې فصاحت

(۵۹۳۵): وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت موسی بن طلحه ﷺ څخه روایت دی چي ما دبي بي عائشې څخه زیات فصیح هیڅوك نه دی لیدلی ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح غریب دی.

# بَاب جَامع الْمناقب

## (د څینو مشهور صحابه کرامو مناقب)

## لومړی فصل

### د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فضیلت

(۵۹۳۶): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدِي سَرَقَةً مِنْ حَرِيرٍ لَا أَهْوِي بِهَا إِلَى مَكَانٍ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ بِي إِلَيْهِ فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخَاكَ رَجُلٌ صَالِحٌ أَوْ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَجُلٌ صَالِحٌ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي ما په خوب کي ولیدل چي په لاس کي مي د ریښمني جامې يوه ټوټه ده او زه چي په جنت کي کومي خوا ته د تلو اراده کوم هغه ټوټه ما هلته الوځوي او هلته مي رسوي، ما دا خوب خپل خور بي بي حفصې ته ووایه او هغې نبي کریم ﷺ ته بیان کړ، د خوب اوریدو سره رسول الله ﷺ

ارشاد وفرمايه چي ستا ورور صالح سړی دی . يا داسي يې وفرمايل چي عبدالله صالح سړی دی . بخاري او مسلم.

### د حضرت عبدالله بن مسعود رض فضيلت

(٥٩٣٧): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ إِنَّ أَشْبَهَ النَّاسِ دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَابْنُ أُمِّ عَبْدٍ مِنْ حِينِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ إِلَيْهِ لَا نَدْرِي مَا يَصْنَعُ فِي أَهْلِهِ إِذَا خَلَا. رواه البخاري.

د حضرت حذيفه رض څخه روايت دی چي په حالت طريقه او خوی كي تر موږ تولو عبدالله بن مسعود رض د رسول الله ﷺ زيات مشابه وو، كله چي هغه د كور څخه راووځي بيا تر هغه وخته پورې چي هغه كور ته ځي او د كور دننه حال يې موږ ته معلوم نه دی چي هغه په يوازيوالي كي څه كوي . بخاري .

(٥٩٣٨): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَمَكُثْنَا حِينًا مَا نُرَى إِلَّا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا نَرَى مِنْ دُخُولِهِ وَدُخُولِ أُمِّهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه.

د حضرت ابوموسى اشعري رض څخه روايت دی چي زه او زما ورور د يمن څخه مديني ته راغلو او تر يو وخته مو په مدينه كي قيام وكړ ، موږ همېشه دا خيال كوی چي عبدالله بن مسعود رض د رسول الله ﷺ د اهل بيتو څخه يو كس دی، ځكه چي موږ به عبدالله ابن مسعود رض او د هغه مور بي بي اكثر د نبي كريم ﷺ كره تلونكي راتلونكي ليدل . بخاري او مسلم .

### څلور قاريان

(٥٩٣٩): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَقْرِئُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمرو رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د څلورو كسانو څخه قرآن كريم زده كوئ يعني عبدالله بن مسعود ، سالم مولى ابوحذيفه ، ابی بن كعب او معاذ بن جبل رضي الله عنهم څخه . بخاري او مسلم .

### د ابن مسعود، عمار او حذيفه (رض) فضيلت

(٥٩٤٠): وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَدِمْتُ الشَّامَ فَصَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قُلْتُ اللّٰهُمَّ يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَأَتَيْتُ قَوْمًا فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ فَإِذَا شَيْخٌ قَدْ جَاءَ حَتَّى جَلَسَ إِلَى جَنْبِي قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا أَبُو الدَّرْدَاءِ

د حضرت علقمه رض څخه روايت دی چي زه د شام هيواد ته راغلم ما دوه ركعته لمونځ وكړ او دعاء مي وكړه چي اې الله ﷺ ما ته يو صالح ملګری راكړې، بيا زه يو ډلي ته ورسيدم او ورسره

فَقُلْتُ إِنِّي دَعَوْتُ اللّٰهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَكَ لِي قَالَ مَنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ قَالَ أَوَلَيْسَ عِنْدَكُمْ ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادِ وَالْمِطْهَرَةِ وَفِيكُمُ الَّذِي أَجَارَهُ اللّٰهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي عَمَّارًا وَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ سِرِّ الَّذِي لَا يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ يَعْنِي حُذَيْفَةَ. رواه البخاري.

کښېنستم ، ناڅاپه يو سپينږيرى سړى راغلى او زما په خوا کې کښېنستى، ما د خلکو څخه پوښتنه وکړه دا څوك دى ؟ خلکو راته وويل : ابودرداء دى، ما هغه ته وويل ما د خداى تعالى څخه سوال کړى وو چې ما ته يو صالح ملګرى راکړي نو خداى تعالى ته ما ته برابر کړلې ، ابودرداء ﷛ زما څخه پوښتنه وکړه ته څوك يې ؟ ما ورته وويل زه د کوفې اوسيدونکى يم ، ابودرداء ﷛ وويل ايا ستاسو سره ابن ام عبد (يعني عبدالله بن مسعود ﷛) نسته چې د رسول الله ﷺ څپلې، بالښت او د اوداسه لوښى يې د خان سره ساتل، او ايا ستاسو سره هغه سړى نسته چې خداى تعالى هغه ته د نبي په ژبه د شيطان څخه پناه ورکړې ده (يعني عمار ﷛)، او ايا په تاسو کې هغه سړى نسته چې د رسول الله ﷺ رازونه پيژندونکي دى چې د هغه څخه پرته د هغه بل څوك خبر نه دى يعني حذيفه ﷛. بخاري.

**د ام سلمه او بلال ﷛ فضيلت**

﴿۵۹۴۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ ثُمَّ سَمِعْتُ خَشْخَشَةً أَمَامِي فَإِذَا بِلَالٌ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته جنت وښودل سو ما هلته د ابوطلحه ﷛ ښځه وليدل او خپل تر مخه مې د پښو آواز واوريدى چې هغه بلال ﷛ وو . مسلم.

﴿۵۹۴۲﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ نَفَرٍ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطْرُدْ هٰؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا قَالَ وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَقَعَ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ. رواه مسلم.

د حضرت سعد ﷛ څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ سره موږ شپږ کسان وو ، مشرکانو نبي کريم ﷺ ته وويل ته دا خلك د خپل مجلس څخه ولاړ کړه چې دوئ پر موږ زړه ور نسي، سعد ﷛ وايي زه په هغه صحبت کې وم ، ابن مسعود ﷛ د قبيله هذيله يو سړى وو او بلال ﷛ وو او دوه خلك نور وه چې د هغوئ نوم ما وانه خيست، د کفارو د دغه غوښتني سره د رسول الله ﷺ په زړه کي يوه خبره پيدا سوه يعني هغه خبره کومه چې

خدای ﷻ وغوښتل ، رسول الله ﷺ په خپل زړه کي فکر وکړ او غور یې وکړ چي سمدستي دا آیت نازل سو «ولا تطرد الذین یدعون ربهم ......» (او هغه د خپل مجلس څخه مه ولاړوه چي سهار او ماښام د خدای ﷻ د رضا تر لاسه کولو لپاره خپل پروردگار یادوي). مسلم.

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۳): وَعَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُعطيت مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ. متفق علیه. | د حضرت ابوموسی ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل : اې ابوموسی ! تا ته د داؤد ؑ خوش آوازي درکړل سوې ده . بخاري او مسلم. |

## د څلورو حافظانو ذکر

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَةٌ أُبَيُّ بن كعب وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُو زَيْدٍ قِيلَ لِأَنَسٍ مَنْ أَبُو زَيْدٍ قَالَ أَحَدُ عُمُومَتِي. متفق علیه. | د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي څلورو کسانو قرآن کریم جمع کړ یعني ابی بن کعب، معاذبن جبل ، زیدبن ثابت او ا بوزید رضي الله عنهم، د انس ؓ څخه |

پوښتنه وسول چي ابوزید ؓ څوك دی ؟ هغه ورته وویل زما یو اکا دی . بخاري او مسلم .

## د مصعب بن عمیر ؓ فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۲۵): وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِي وَجْهَ اللّٰه تعالى فوقع أَجْرُنَا عَلَى اللّٰهِ فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ نَجِدْ شَيْئًا ما يكفن فيه إِلَّا نَمِرَةً كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ فَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ فقال النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ غطوا بها رَأْسَهُ وَجعلوا عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا. متفق علیه. | د حضرت خباب بن ارت ؓ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره د خدای ﷻ د رضا تر لاسه کولو لپاره هجرت کړی وو نو زموږ اجر پر خدای ﷻ ثابت او قائم سو ، بیا ځیني خلك په موږ کي داسي دي چي تر دنیا تېر سول او د دنیاوي اجر څخه هیڅ په لاس ورنه غلل لکه مصعب بن عمیر چي د احد د غزا په ورځ شهید سو او د هغه لپاره پرته د تور کمبل څخه د کفن لپاره بله هیڅ جامه پیدا نه سوه او هغه کمبل هم داسي وه چي موږ سر ور پټوی نو پښې به یې |

ښکاره سوې او که به مو پښې ور پټولې نو سر به یې ښکاره سو ، ددې لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : سر په کمبل ور پټ کړئ او پر پښو واښه ور واچوئ، او ځیني په موږ کي هغه دي چي د هغوئ میوه پخه سوه او هغوئ هغه میوه خوري . بخاري او مسلم .

## د سعد بن معاذ ﷺ فضيلت

(۵۹۴۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اهْتَزَّ الْعَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، وفي رواية اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چي د سعد ﷺ پرمرگ عرش الهي حركت وكړ، او په يوه روايت كي دي چي د سعد بن معاذ ﷺ له مرگه د رحمان عرش و شرقېدی . بخاري او مسلم

(۵۹۴۷): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ أُهْدِيَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ حَرِيرٍ فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَمَسُّونَهَا وَيَعْجَبُونَ مِنْ لِينِهَا فَقَالَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ لِينِ هٰذِهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الجنة خَيْرٌ مِنْهَا وَ أَلْيَنُ. متفق عليه

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي د ريښمينو جامو يوه جوړه د تحفې په توگه راوليږل سوه، د رسول الله ﷺ صحابه كرامو به هغه جامه مس كول او د هغه پر نرمۍ به حيران وه، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ددې پر نرمۍ حيرانيږئ په جنت كي دسعد بن معاذ ﷺ دسمالونه تر دې غوره او دير زيات نرم دي . بخاري او مسلم

## د حضرت انس ﷺ په حق كي دعاء

(۵۹۴۸): وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ ادْعُ اللّٰهَ لَهُ قَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ قَالَ أَنَسٌ فَوَاللّٰهِ إِنَّ مَالِي لَكَثِيرٌ وَإِنَّ وَلَدِي وَوَلَدَ وَلَدِي لَيَتَعَادُّونَ عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ. متفق عليه.

د حضرت ام سليم (رض) څخه روايت دى چي هغې عرض وكړ اې داالله رسوله! انس ﷺ ستاسو خادم دى دده لپاره د خداى ﷺ څخه دعاء وغواړئ، رسول الله ﷺ دغه دعاء وكړل اې الله ! د انس مال زيات كړې، دده اولاد زيات كړې او څه چي ده ته وركوې په هغه كي بركت واچوې، دانس ﷺ بيان دى چي قسم په خداى زما مال دير دى او زما اولاد او د اولاد اولاد نن په شمير سلو ته نژدې دي . بخاري او مسلم.

## د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ فضيلت

(۵۹۴۹): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِأَحَدٍ يَمْشِي عَلَى وجه الْأَرْضِ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ. متفق عليه.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دى چي ما هيڅكله د يو سړي په اړه د رسول الله ﷺ څخه دا نه دي اوريدلي چي هغه پر مځكه گرځي او جنتي وي، مگر د عبدالله بن سلام ﷺ په اړه . بخاري او مسلم.

د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ خوب او هغه ته د جنت زيری

(۵۹۵۰): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ فَدَخَلَ رَجُلٌ عَلَى وَجْهِهِ أَثَرُ الْخُشُوعِ فَقَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ تَجَوَّزَ فِيهِمَا ثُمَّ خَرَجَ وَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّكَ حِينَ دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ قَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ وَاللَّهِ مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَا لَا يَعْلَمُ وَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ كَأَنِّي فِي رَوْضَةٍ ذَكَرَ مِنْ سَعَتِهَا وَخُضْرَتِهَا وَسْطَهَا عَمُودٌ مِنْ حَدِيدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ فِي أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيلَ لِي ارْقَ قُلْتُ لَا أَسْتَطِيعُ فَأَتَانِي مِنْصَفٌ فَرَفَعَ ثِيَابِي مِنْ خَلْفِي فَرَقِيتُ حَتَّى كُنْتُ فِي أَعْلَاهَا فَأَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقِيلَ لَهُ اسْتَمْسِكْ فَاسْتَيْقَظْتُ وَإِنَّهَا لَفِي يَدِي فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ الْإِسْلَامُ وَذَلِكَ الْعَمُودُ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ عُرْوَةُ الْوُثْقَى فَأَنْتَ عَلَى الْإِسْلَامِ حَتَّى تَمُوتَ وَذَاكَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ. متفق عليه.

د حضرت قيس بن عباد ﷺ څخه روايت دی چې زه د مدينې په مسجد کې ناست وم چې يو سړی راغلی چې د هغه په مخ کې د عاجزۍ علامه وه، خلکو وويل دا سړی جنتي دی، بيا هغه سړي دوه رکعته کوتاه لمونځ وکړ بيا دمسجد څخه ولاړ ، زه په هغه سړي پسې ولاړم هغه ته مې وويل کله چې تاسو په مسجد کې داخل سواست نو خلکو وويل چې دا سړی جنتي دی، هغه سړي وويل په خدای دې مې قسم وي هيچا ته دا خبره مناسبه نه ده چې هغه خبره وکړي په کومې چې خبر نه وي، زه تا ته اوس ددې واقعه بيانوم، ما د رسول الله ﷺ په زمانه کې يو خوب ليدلی وو هغه خوب ما رسول الله ﷺ ته بيان کړ ، خوب دا وو چې زه په يو باغچه کې يم هغه سړي د هغه باغچې پراخي او تازګي بيان کړه او بيا يې وويل د باغچې په مينځ کې د اوسپنې يوه ستن ده چې د هغې يو سر په مځکه دی او دويم سر يې په آسمان کې دی، او د هغه ستن سربيره يوه حلقه ده ، ما ته وويل سول چې پر دې ستن وخيژه ، ما ورته وويل زه د ختلو توان نه لرم ، بيا يو خادم ما ته راغلی چې هغه زما جامې د وروسته څخه پورته کړې او زه پر ستن وختلم تر دې چې هغه حلقه ما په لاس کې واخيستل بيا يې ما ته وويل دا ټينګه ونيسه ، بيا زما سترګې ولغړېدې په داسې حال کې چې هغه حلقه زما په لاس کې وه ، ما نبي کريم ﷺ ته خوب بيان کړ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : هغه باغچه اسلام دی او هغه ستن د اسلام ستنّ ده ، او ددې تعبير دادی چې ته به تر مرګه پورې پر اسلام ثابت قدم اوسې ، او هغه سړی چې د هغه ذکر په دې حديث کې دی عبدالله بن سلام ﷺ دی. بخاري او مسلم .(د ستن څخه مراد د خونې ميل يا پايه ده ).

## حضرت ثابت بن قيس ﷺ ته د جنت زيرى

(۵۹۵۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيْبَ الْأَنْصَارِ فَلَمَّا نَزَلَتْ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ جَلَسَ ثَابِتٌ فِي بَيْتِهِ وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ مَا شَأْنُ ثَابِتٍ أَيَشْتَكِيْ فَأَتَاهُ سَعْدٌ فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ثَابِتٌ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَذَكَرَ ذٰلِكَ سَعْدٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي ثابت بن قيس ﷺ بن شماس د انصارو خطيب وو، کله چي دا آيت نازل سو (ياايهاالذين آمنوا لاترفعوا.....)، (اې مؤمنانو! خپل آوازونه د نبي کريم ﷺ پر آواز مه پورته کوئ.....الخ) نو ثابت بن قيس ﷺ خپل په کور کي کښېنستی او د رسول الله ﷺ په خدمت کي تلل راتلل یې بند کړل، نبي کريم ﷺ د سعد بن معاذ ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ثابت په څه حال کي دی ايا هغه ناروغ دی؟ سعد ﷺ ثابت ﷺ ته ورغلی او هغه ته یې د رسول الله ﷺ ارشاد بيان کړ، ثابت ﷺ وويل دا آيت نازل سوی دی او تا ته معلومه ده چي زما آواز ستاسو د ټولو د آواز څخه لوړ دی په دې وجه زه دوږخي يم، سعد ﷺ ددې ذکر نبي کريم ﷺ ته وکړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: بلکه هغه جنتي دی. مسلم.

## د حضرت سلمان فارسي ﷺ فضيلت

(۵۹۵۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَزَلَتْ سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ فلما نزلت وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ قَالُوا مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَفِيْنَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ قال فوَضَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيْمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هٰؤُلَاءِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي موږ د نبي کريم ﷺ سره حاضر وو چي سورة جمعه نازل سو او هر کله چي په دغه سورة کي دا آيت نازل سو (وآخرين منهم لما يلحقوا بهم)؛ (يعني ددې ډلي څخه چي خدای ورته پيغمبر راليږلی دی ځيني خلك دي چي اوس لا د اصحابو د ډلي سره نه دي يوځای سوي)، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! هغه کوم خلك دي؟ ابوهريره ﷺ وايي په دغه وخت کي سلمان فارسي ﷺ هم په موږ کي موجود وو، رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك پر سلمان فارسي ﷺ کښېښود او وه یې فرمايل: که ايمان په ثريا کي وای نو رانيولی به وای هغه سړو له دغه کسانو څخه. بخاري او مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ لپاره دعاء

| | |
|---|---|
| (۵۹۵۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هٰذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِمِ الْمُؤْمِنِينَ . رواه مسلم. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اي الله ﷺ خپل دا کوچنی بنده خپل محبوب وګرځوئ (یعني ابوهریره) او اي الله ! دده مور د مسلمانانو |

محبوبه جوړه کړي او مسلمانان د هغې محبوب جوړ کړي . مسلم.

د کمزور او لاچارو حوصله افزايي

| | |
|---|---|
| (۵۹۵۴): وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ فِي نَفَرٍ فَقَالُوا مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللّٰهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللّٰهِ مَأْخَذَهَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتَقُولُونَ هٰذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ فَأَتَاهُمْ فَقَالَ يَا إِخْوَتَاهُ أَغْضَبْتُكُمْ قَالُوا لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكَ يَا أَخِي. رواه مسلم | د حضرت عائذ بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي ابوسفیان د امیر معاویه پلار (د کفر په حالت کې) د سلمان، صهیب او بلال سره تیر سو چي د صحابه کرامو په ډله کي ناست وو، د هغه ډلي خلکو وویل د خدای تورو د خدای ددښمن غاړه لا نه ده وهلې، ددې اوریدو سره ابوبکر ﷺ وویل تاسو ددغه قریشي مشر او سردار په باره کي دا خبره کوئ ؟ ددې څخه وروسته ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د پیښني |

څخه یې خبر کړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اي ابوبکر! کیدای سي تا هغوئ ناراض کړی وي، قسم په خدای ﷺ که تا هغوئ په غضب کړي وي نو په تحقیق سره په غضب کړی به دي وي رب خپل ، د دې په اوریدو سره ابوبکر ﷺ دوئ ته راغلی او ورته وه یې ویل اي زما ورونو! ایا ما تاسو په غضب کړي یاست ؟ هغوئ وویل :یا ، موږ نه یو خفه زموږ وروره خدای دي تا وبخښي . مسلم.

د انصارو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۵۵): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ. متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ایمان نښه د انصارو سره مینه کول دي او د نفاق نښه د انصارو سره بغض او دښمني کول دي . بخاري او مسلم. |

د انصارو سره مینه کونکي د الله ﷻ محبوب دي

| | |
|---|---|
| (۵۹۵۶): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِلْأَنْصَارِ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا | د حضرت براء ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د انصارو سره به |

مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ فَمَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللَّهُ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللَّهُ. متفق عليه.

پوره مؤمن محبت کوي او د انصارو سره به منافق بغض او دښمني کوي ، څوک چي د انصارو سره محبت کوي خدای به هغه محبوب کړي او څوک چي د انصارو سره دښمني کوي خدای به هغه خپل دښمن وګرځوي . بخاري او مسلم .

**د ځینو انصارو پر شکایت د رسول الله ﷺ اثري جواب**

(٥٩٥٧): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ قَالُوا حِينَ أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ فَطَفِقَ يُعْطِي رِجَالًا مِنْ قُرَيْشٍ الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَحُدِّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَقَالَتِهِمْ فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ وَلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ أَحَدًا غَيْرَهُمْ فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ فقال فُقَهَاؤُهُمْ أَمَّا ذَوُو آرَائِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا وَأَمَّا أُنَاسٌ مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ قَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُ الْأَنْصَارَ وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَرْجِعُونَ إِلَى رِحَالِكُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ رَضِينَا. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د انصارو ځينو خلکو هغه وخت شکايت وکړ کله چي الله ﷺ خپل رسول ﷺ ته د هوازن قبيلي څخه غنيمت ورکړ نو رسول الله ﷺ د هغه مال څخه څو قريشو ته سل سل اوښان ورکول شروع کړل ، ددې ليدو سره د انصارو يو څو کسانو وويل الله ﷺ دې د رسول الله ﷺ مغفرت نصيبت کړي چي قريشو ته يې ورکوي مال غنيمت او موږ ته يې نه راکوي حال دا چي زموږ د تورو څخه د قريشوويني څاڅي، د نصاراوو ددغه شکايت خبر رسول الله ﷺ ته ورسيدی نو انصار يې د څرمني په يوه خيمه کي راجمع کړل او د دوئ سره يې بل څوک راونه غوښتل، هر کله چي ټول انصار راغلل نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل : څه خبره ده چي ستاسو د لوري ما ته رارسيدلې ده ، د انصارو د ډلي عقلمندو خلکو وويل: اي دالله رسوله ! په موږ کي هوښيارانو هيڅ نه دي ويلي، البته ځينو کم عمره دا وويل چي ا لله تعالی دي رسول الله ﷺ وبخښي چي قريشو ته يې ورکوي او انصار پريږدي او زموږ د تورو څخه د قريشو ويني څاڅي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : بېشکه زه ددې مال څخه هغه خلکو ته ورکوم چي زمانه يې نژدې ده اسلام ته (نوي مسلمانان دي) چي د اسلام سره يې مينه پيدا

سي او پر اسلام قائم پاته سي ، ایا تاسو پردې خبره راضي نه یاست چي نور خلك خیمو او څاپونو ته مال یوسي او تاسو خپلو کورونو ته په داسي حال کي ولاړ سئ چي رسول الله ﷺ ستاسو سره وي ، انصارو وویل: هو ، اې دالله رسوله ! موږ په دې راضي يو . بخاري او مسلم .

## د انصارو فضیلت

(۵۹۵۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَ سَلَكَتُ الانصار وَادِيًا او شعبا لسلكت وادي الانصار وَشِعْبَهَا الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ إِنَّكُمْ سَتَرون بَعْدِي أَثَرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ. رواه البخاري

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که هجرت نه وای نو زه به د انصارو څخه یو سړی وای که خلك پر یوه لاره روان سي او انصار پر بله لار یا په دره کي نو زه به د انصارو پر لار ځم ، انصار په مثل د شعار دي او نور خلك په مثل د دثار دي ، اې انصارو ! تاسو به زما څخه وروسته ترجیح او تو پیر وینئ هغه وخت تاسو صبر کوئ تر دې چي تاسو زما سره پر حوض کوثر یو ځای سئ . بخاري

(شعار: لاندي جامه، او دثار پورته جامې ته ویل کیږي) .

## د انصارو سره تعلق او قرب

(۵۹۵۹): وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتْ الْأَنْصَارُ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَنَزَلَ الْوَحْيُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ كلا اني عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُه هَاجَرْتُ إِلَى اللّٰهِ وَإِلَيْكُمْ فَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ قَالُوا وَاللّٰهِ مَا قُلْنَا إِلَّا ضِنًّا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ قَالَ فَإِنَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي د مکې د فتح په ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره وو ، رسول الله ﷺ دا حکم جاري کړ چي کوم سړی د ابوسفیان کور ته ولاړ سي هغه په امن کي دی او کوم سړي چي وسله وغورځوي هغه هم په امن کي دی ، ددې اوریدو سره انصارو په خپل منځ کي ویل پر دې سړي (یعني رسول الله ﷺ) باندي رحم او مهرباني غالبه سوې ده چي د خپل قوم او ښار سره داسي چلن کوي نو پر دې اعتراض وحي نازله سوه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا تاسو دا ویلي دي چي دا سړی د خپل قوم او ښار سره د رحم او مهرباني چلن کوي تاسي داسي مه وایاست بیشکه زه د خدای بنده او د هغه رسول یم ما د خدای ﷺ لپاره ستاسو طرف ته

هجرت کړې دی زما ژوند ستاسو د ژوند سره دی او زما مرګ ستاسو دمرګ سره دی ، ددې اوریدو سره انصارو عرض وکړ په خدای دې مو قسم وي موږ د االفاظ د الله او رسول سره د بخل په وجه ویلي وه (یعني چې نبي ﷺ د مدینې منورې استوګنه ترک نه کړي) ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : خدای او د هغه رسول ستاسو رښتیا ویني تصدیق کوي . او ستاسو عذر قبلوي . مسلم .

**د انصارو فضیلت**

(٥٩٦٠): وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ يعني الانصار. متفق عليه.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انصارو ماشومان او ښځې ولیدل چې د یو واده څخه را روان وه ، نبي کریم ﷺ پر یو ځای ودریدی او وه یې فرمایل : اې الله ﷻ ته شاهد یې ، اې ماشومانو او اې ښځو تاسو په ټولو خلکو کې ما ته زیات محبوب یاست ، اې الله ته شاهد یې ، اې ماشومانو او اې ښځو تاسو په ټولو خلکو کې ما ته زیات محبوب یاست ، مراد یې انصار وه . بخاري او مسلم .

(٥٩٦١): وَعَنْهُ قَالَ مَرَّ أَبُو بَكْرٍ وَالْعَبَّاسُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا بِمَجْلِسٍ مِنْ مَجَالِسِ الْأَنْصَارِ وَهُمْ يَبْكُونَ فَقَالَا مَا يُبْكِيكُمْ فَقَالُوا ذَكَرْنَا مَجْلِسَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَّا فَدَخَلَ احدهما عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ عَصَبَ عَلَى رَأْسِهِ حَاشِيَةَ بُرْدٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ وَلَمْ يَصْعَدْهُ بَعْدَ ذَلِكَ الْيَوْمِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أُوصِيكُمْ بِالْأَنْصَارِ فَإِنَّهُمْ كَرِشِي وَعَيْبَتِي وَقَدْ قَضَوْا الَّذِي عَلَيْهِمْ وَبَقِيَ الَّذِي لَهُمْ فَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَتَجَاوَزُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ. رواه البخاري

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې ابوبکر او عباس د انصارو د یو مجلس سره تېر سول چې هلته انصار ناست وه ژړل یې، هغوئ پوښتنه وکړل ولې ژاړئ؟ د انصارو ډلې ویل: موږ ته د رسول الله ﷺ مجلس را یاد سو ، ددې اوریدو سره یو نفر د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او رسول الله ﷺ یې ددې خبرو څخه خبر کړ ، نو نبي کریم ﷺ د کور څخه دباندې راووتی ، هغه وخت نبي کریم ﷺ پر تندې مبارك پټۍ تړلې وه او پر منبر کښېنستی، ددې څخه وروسته پر منبر ناسته د رسول الله ﷺ په برخه نه سول ، لومړی رسول الله ﷺ د خدای ﷻ حمد او ثناء بیان کړه بیا یې وفرمایل : اې خلکو ! زه تاسو ته وصیت کوم چې د انصارو سره ښه چلن کوئ هغوئ زما رازدار دي او یخدان زما دي ، او پر انصارو چې کوم حق وو هغه یې ادا کړ او د هغوئ حق باقي پاته دی نو تاسو د هغوئ د نیك سړي نیکي قبلوئ او د بد سړي بدي معاف کوئ . بخاري .

(۵۹۶۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ حَتّٰى جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ النَّاسَ يَكْثُرُونَ وَيَقِلُّ الْأَنْصَارُ حَتّٰى يَكُونُوا فِي النَّاسِ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ فَمَنْ وَلِيَ مِنْكُمْ شَيْئًا يَضُرُّ فِيهِ قَوْمًا وَيَنْفَعُ فِيهِ آخَرِينَ فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَلْيَتَجَاوَزْ عَنْ مُسِيئِهِمْ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خپل وفات په ناروغی کي د کور څخه دباندي تشریف راوړ پر منبر کښېنستی دخدای ﷻ حمد او ثناء یې ووېل بیا یې وفرمایل :امابعد! د خلکو شمیر به زیاتیږي او د انصارو شمیر به کم سي تر دې چي په نورو خلکو کي به د انصارو شمیر دومره لږ پاته سي لکه څرنګه چي په خوراك کي مالګه وي، نو اې مهاجرو! څوك چي په تاسو کي د یوشي حاکم سي چي ضرر پکښي رسوای سي یو قوم ته (یعني چي هغه قوم بدي کوي) او نفع رسوای سي پکښي نورو ته (یعني ښه خلکو ته فائده رسوي) نو هغه حاکم دي د انصارو نیکي قبوله کړي او د هغوئ د بدکارو د بدی څخه دي تېر سي . بخاري

## د انصارو او د هغوئ د اولادو په اړه دعاء

(۵۹۶۳): وَعَنْ زَيْدِبْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ ولابناء ابناء الانصار. رواه مسلم.

د حضرت زید بن ارقم ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! انصارو ته بخښنه وکړې او زامنو د انصارو ته بخښنه وکړې او زامنو د زامنو د انصارو ته بخښنه وکړې . مسلم.

## د انصارو غوره قبائل

(۵۹۶۴): وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ خَزْرَجٍ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ. متفق عليه.

د حضرت ابو اسید ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د انصارو غوره کورونه بنو نجار دي بیا بنو عبدالاشهل بیا بنو حارث بن خزرج بیا بنو ساعده او د انصارو په هر کور کي خیر او نیکي ده . بخاري او مسلم.

## د حاطب بن ابي بلتعه واقعه

(۵۹۶۵): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ وفي رواية وابامرثد بدل المقداد، فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتّٰى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً وَمَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ

د حضرت علي ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما، زبیر او مقداد او په یوه روایت کي د مقداد پر ځای دابومرثد نوم راغلی دی، حکم راکړ چي تاسو روضه خاخ ته ولاړ سئ ، هلته یوه

مِنْهَا فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى الرَّوْضَةِ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى أُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا هَذَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ بمكة فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عن ديني وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قَدْ صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ دَعْنِي يارسول الله أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وجبت لكم الجنة. وفي رواية قد غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ. متفق عليه.

ښځه ده چې د هغې سره يو کاغذ دی هغه کاغذ خيني راوړئ ، نو موږ په تيزي سره پر آسونو هلته ورسيدو تر دې چې روضې ته ورسيدو او هغه ښځه مو هلته پيدا کړه موږ ورته ووېل کاغذ راوکاږه ، هغه ښځې ووېل زما سره هيڅ کاغذ نسته ، موږ ورته ووېل يا به کاغذ را کاږې او يا به کالي کاږې، په آخر کې هغې کاغذ خپل کوڅۍ څخه راوکښی ، موږ هغه نبي کريم ﷺ ته راوړ په هغه کې يې ليکلي وه د حاطب بن بلتعه د لورې د مکې د مشرکينو په نامه چې خبرول يې په ځينو کارونو د رسول الله ﷺ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې حاطب ، دا څه خبره ده ؟ حاطب عرض وکړ اې دالله رسوله ، زما په اړه د تلوار څخه کار مه اخلئ زه يو داسي سړی يم چې د قريشو سره اخته سوی يم (يعني د هغوئ دوست يم) مګر زه په هغوئ کې شامل نه يم او کوم خلك چې په مهاجرينو کې ستا سره دي ، مکې والاوو سره د هغوئ خپلوی دي او د مکې مشرك ددغه خپلوی د لحاظ څخه د هغوئ د ځان او مال ساتنه کوي ،. (حاطب وايي) نو ما وغوښتل چې زما نسبي خپلوي د قريشو سره نسته په دې وجه زه به داسي يو کار وکړم چې هغوئ په ما خوشحاله سي او هغوئ زما د خپلوانو ساتنه وکړي کوم چې په مکه کې دي ،

ما دا کار ددې لپاره نه دی کړی چې زه کافر يا منافق يم يا داسلام څخه اوښتی يم، او نه دا کار ما ددې لپاره کړی دی چې د اسلام راوړلو څخه وروسته په کفر خوشحاله او راضي يم، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : حاطب رښتيا ووېل، حضرت عمر ﷺ ووېل : اې دالله رسوله ، ما ته

اجازه راکړئ چې زه ددې منافق سر پرې کړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: حاطب د بدر په غزا کې شريك سوی دی او تاسو په حقيقت حال پوه سئ کيدای سي خدای تعالی د بدر والاوو رحمت او مغفرت په نصيب کړی وي، ځکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (اې دبدر غازيانو) تاسو چې څه غوارئ کوئ ستاسو لپاره جنت واجب سوی دی، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې ما تاسو وبخښلاست، ددې څخه وروسته دا آيت نازل سو: (ياايها الذين آمنوا لا تتخذوا عدوي .....)، (اې مؤمنانو! زما او خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ يعني د کافرانو سره د زړه تعلق مه ساتئ). بخاري او مسلم.

**دهل بدر مقام**

(۵۹۶۶): وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ قَالَ مِنْ أَفْضَلِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا قَالَ وَكَذٰلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ. رواه البخاري.

د حضرت رفاعه بن رافع ﷺ څخه روايت دی چې جبرائيل ﷺ نبئ کريم ﷺ ته راغلی او پوښتنه يې وکړه چې تاسو د بدر په غزا کې ګډون کونکو ته څه درجه ورکوئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: موږ دوئ په مسلمانانو کې تر ټولو غوره او افضل ګڼو يا بله داسي ښه خبره يې د اهل بدر په باره کې وکړه، جبرائيل ﷺ ورته وويل: د بدر په غزا کې چې کومي ملائکي حاضري سوي دي موږ هم هغوئ داسي ګڼو. بخاري.

(۵۹۶۷): وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا يَدْخُلَ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ احد شهد بدرا والحديبية قلت يارسول الله اليس قد قال الله تعالى وان منكم الاواردها، قال فلم تسمعيه يقول ثم ننجي الذين اتقوا، وفي رواية لايدخل النار ان شاء الله مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِينَ بَايَعُوا تَحْتَهَا. رواه مسلم

د حضرت حفصه (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه اميد لرم چې هيڅ يو سړی به په هغه خلکو کې د دوږخ په اور کې داخل نه سي کوم چې په بدر او حديبيه کې ګډون کړی وي، ما وويل اې دالله رسوله! ايا الله تعالی دا نه دي فرمايلي: (ان منکم الا واردها)، (په تاسو کې هيڅوك داسي نسته چې پر دوږخ به نه تيرېږي)، رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تا دا نه دي اوريدلي چې الله تعالی دا هم فرمايلي دي: (ثم ننجي الذين اتقوا)، (موږ به هغه خلکو ته د دوږخ څخه نجات ورکړو چې پرهيزګاري يې اختيار کړي وي)، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي که خدای تعالی غوښتل نود اصحاب شجره (کومو چې تر درختي لاندي بيعت کړی وو) څخه به يو هم د دوږخ په اور کې نه داخليږي. مسلم.

### د اهل حدیبیه فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۶۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ الفا واربع مائة قال لَنَا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتُمْ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ. متفق عليه. | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د حدیبیه په ورځ زموږ شمیر یو زر او څلور سوه وو ، زموږ په اره رسول الله ﷺ دا وفرمایل : نن ورځ تاسو د مځکي غوره خلك یاست . بخاري او مسلم . |

### د اصحاب بدر مرتبه

| | |
|---|---|
| (۵۹۶۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَصْعَدُ الثَّنِيَّةَ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ صَعِدَهَا خَيْلُنَا خَيْلُ بَنِي الْخَزْرَجِ ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُلُّكُمْ مَغْفُورٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَأَتَيْنَاهُ فَقُلْنَا تَعَالَ يَسْتَغْفِرْ لَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ أَجِدَ ضَالَّتِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي صَاحِبُكُمْ .رواه مسلم، وذكر حديث انس قال لابي بن كعب ان الله امرني ان اقرا عليك في باب بعد فضائل القرآن. | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (یعني دحدیبیه په سفر کي) څوك سته چي ثنیة المرار ته وخیژي د هغه گناه به داسي لیري کړل سي لکه څرنگه چي د بني اسرائیلو گناه لیري کړل سوې وه، نو تر ټولو مخکي پر دې غونډۍ زموږ آسونه وختل یعني د مدینې د قبیله خزرج آسونه ، ددې څخه وروسته ټول خلك راغلل ، رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو ټول بخښلي یاست، خو خاوند ددغه سور اوښ ، موږ هغه سړي ته ورغلو چي د هغه سور اوښ وو او هغه ته مو هم وویل زموږ سره راځه چي ستا لپاره هم رسول الله ﷺ بخښنه وغواړي هغه وویل : |

زه خپل ورك سوی شی پیدا کوم دا ما ته ستاسو د دوست د بخښني څخه غوره دی . مسلم، د انس ﷺ حدیث د فضائل قرآن څخه وروسته په باب کي بیان سوی دی په کوم کي چي رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته وفرمایل چي زه د الله ﷻ په حکم تا ته تلاوت اورول غواړم .

## دویم فصل

### د شیخینو او ابن مسعود ﷺ فضیلت

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۰): عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَاهْتَدُوا بِهَدْيِ عَمَّارٍ | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما څخه وروسته تاسو زما په اصحابو کي دابوبکر ﷺ او عمر ﷺ پیروي کوئ او د عمار ﷺ سیرت او کړني اختیار کړئ |

وَتَمَسَّكُوا بِعَهْدِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ، وفي رواية حذيفة ماحدثكم ابن مسعود فصدقوه بدل وتمسكوا بعهد ابن ام عبد. رواه الترمذي.

او دام عبد د زوی (ابن مسعود ﷺ) عهد او قول ټینګ ونیسئ ، او په یوه روایت کي چي د حذیفه ﷺ څخه نقل دی دا الفاظ دي چي ابن مسعوذ ﷺ تاسو ته کومه خبره یا حدیث بیان کړي د هغه تصدیق کوئ په بدل کي د وتمسکوا بعهد ابن ام عبد. ترمذي.

**د عبدالله بن مسعود ﷺ فضیلت**

(۵۹۷۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا مِنْ غَيْرِ مَشْوَرَةٍ لَأَمَّرْتُ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ. رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که ما د مشورې څخه پرته یو څوک امیر کولای نو ما به ستاسو امیر د ام عبد زوی (عبدالله بن مسعود ﷺ) کړی وای. ترمذي او ابن ماجه.

**د یو څو صحابه کرامو فضائل**

(۵۹۷۲): وَعَنْ خَيْثَمَةَ بْنِ أَبِي سَبْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَسَأَلْتُ اللّٰهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَ لِي أَبَا هُرَيْرَةَ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ إِنِّي سَأَلْتُ اللّٰهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَوُفِّقْتَ لِي فَقَالَ لِي مِمَّنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ جِئْتُ أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ وَأَطْلُبُهُ فَقَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ مُجَابُ الدَّعْوَةِ وَابْنُ مَسْعُودٍ صَاحِبُ طَهُورِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَعْلَيْهِ وَحُذَيْفَةُ صَاحِبُ سِرِّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَمَّارٌ الَّذِي أَجَارَهُ اللّٰهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صلى الله عليه وسلم وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ يعني الانجيل والقرآن . رواه الترمذي.

د حضرت خیثمه بن ابي سبره ﷺ څخه روایت دی چي زه مدینې ته راغلم او د الله ﷻ څخه مي دعاء وغوښتل چي ما ته یو صالح ملګری راکړي، نو دابوهریره ﷺ صحبت راته حاصل سو او زه د هغه سره کېښېنستلم، او ورته مي وویل ما د خدای تعالیٰ څخه دعاء غوښتې وه چي ما ته یو صالح ملګری راکړي نو خدای تعالیٰ ستا ملګرتیا را په برخه کړه، ابوهریره ﷺ را څخه پوښتنه وکړه ته د کوم ځای اوسیدونکی یې؟ ما ورته وویل زه د کوفې څخه راغلی یم د نیکی په لټه کي یم (یعني علم)، ابوهریره ﷺ وویل ایا په تاسو کي سعد بن مالك ﷺ نسته چي مستجاب الدعوات دی او ایا په تاسو کي عبدالله بن مسعود ﷺ نسته چي د رسول الله ﷺ د اوداسه اوبه او څپلي مبارکي به یې د ځان سره ساتلې ، او ایا په تاسو کي حذیفه نسته چي د رسول الله ﷺ هم راز وو او ایا په تاسو کي عمار ﷺ نسته چي هغه ته خدای

تعالى د خپل نبي د ژبې په ذريعه د شيطان څخه پناه ورکړې ده . او ايا په تاسو کې سلمان چې د دوو کتابونو خاوند دی مراد يې انجيل او قرآن وو. ترمذي.

**د يو څو صحابه کرامو فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو بَكْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ابوبکر ﷺ ښه سړی دی ، عمر ﷺ ښه سړی دی، ابوعبيده بن الجراح ﷺ ښه سړی دی، اسيد بن حضير ﷺ ښه سړی دی ، ثابت بن قيس بن شماس ﷺ ښه سړی دی، معاذ بن جبل ﷺ ښه سړی دی ، معاذ بن عمرو بن الجموح ﷺ ښه سړی دی ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی . |

**جنت مشتاق دی**

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ عَلِيٍّ وَعَمَّارٍ وَسَلْمَانَ. رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : جنت درو کسانو ته په انتظار کې دی، علی، عمار او سلمان رضي الله عنهم . ترمذي. |

**د حضرت عمار ﷺ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۵): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ اسْتَأْذَنَ عَمَّارٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ مَرْحَبًا بِالطَّيِّبِ الْمُطَيَّبِ. رواه الترمذي. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې عمار ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د حاضرئ اجازه وغوښتل ، نبي کريم ﷺ وفرمايل ده ته اجازه ورکړئ او پاك سوئ سړي ته زيری ورکړئ . ترمذي. |

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خُيِّرَ عَمَّارٌ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَرْشَدَهُمَا. رواه الترمذي. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : عمار ته چې کله په دوو کارونو کې د يو د اختيارولو ويل سوي دي نو هغه هميشه سخت او مشکل کار اختيار کړی دی . ترمذي. |

**د سعد بن معاذ ﷺ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا حُمِلَتْ جَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ قَالَ الْمُنَافِقُونَ مَا أَخَفَّ جَنَازَتَهُ | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې کله د سعد بن معاذ ﷺ جنازه پورته کړل سوه نو منافقانو وويل |

| | |
|---|---|
| وَذٰلِكَ لِحُكْمِه فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ. رواه الترمذي. | دده جنازه خومره سپكه ده ، او د سپكيدو وجه هغه حكم دى چي سعد د بني قريظه په اره وركړى وو ، رسول الله ﷺ ته چي ددې خبر ورسيدى نو وه |

يې فرمايل : د سعد ﷺ جنازه ځكه سپكه معلوميدل چي ملائكو پورته كړې وه . ترمذي.

**د حضرت ابوذر ﷺ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۹۷۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ أَصْدَقَ مِنْ أَبِي ذَرٍّ. رواه الترمذي. | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي شين آسمان هيڅكله پر داسي سړي سايه نه ده كړې او نه غبارلرونكي مځكي داسي سړى پورته كړى دى چي د ابوذر ﷺ څخه زيات رښتوني وي . ترمذي. |
| (۵۹۷۹): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ مِنْ ذِي لَهْجَةٍ أَصْدَقَ وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِي ذَرٍّ شِبْه عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يعني في الزهد. رواه الترمذي. | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نه آسمان سايه وكړه او نه مځكي پورته كړ داسي سړى چي د ابوذر ﷺ څخه زيات په ژبه رښتوني او وفاكونكى وي . |

چي په زهد كي د عيسى ﷺ سره زيات مشابه دى. ترمذي.

**څلور علمي صحابه كرام**

| | |
|---|---|
| (۵۹۸۰): وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ قَالَ الْتَمِسُوا الْعِلْمَ عِنْدَ أَرْبَعَةٍ عِنْدَ عُوَيْمِرٍ أَبِي الدَّرْدَاءِ وَعِنْدَ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ وَعِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَعِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ الَّذِي كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ فاني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ إِنَّهُ عَاشِرُ عَشَرَةٍ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي. | د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دى چي كله د هغه مرگ نژدې سو نو هغه وويل : علم د څلورو كسانو څخه تر لاسه كړئ يعني د عويمر څخه چي د هغه كنيت ابودرداء ﷺ دى ، د سلمان ﷺ څخه او د ابن مسعود ﷺ څخه او د عبدالله بن سلام ﷺ څخه كوم چي مځكي يهودي وو بيا يې اسلام قبول كړ او ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي هغه لسم سړى دى د هغه خلكو څخه چي جنت ته به ځي . ترمذي. |

**د حذيفه او ابن مسعود (رض) فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۵۹۸۱): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰه | د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دى چي صحابه |

لَوِ اسْتَخْلَفْتَ قَالَ إِنْ أَسْتَخْلِفْ عَلَيْكُمْ فَعَصَيْتُمُوهُ عُذِّبْتُمْ وَلَكِنْ مَا حَدَّثَكُمْ حُذَيْفَةُ فَصَدِّقُوهُ وَمَا أَقْرَأَكُمْ عَبْدُ اللَّهِ فَاقْرَءُوهُ. رواه الترمذي.

کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! که تاسو خپل په وراندې خليفه تاکلی وای نو غوره به وای ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که زه پر تاسو يو خوك خليفه وټاکم او تاسو يې نافرماني وکړئ نو تاسو ته به عذاب درکړل سي مګر په دې اړه دا خبره ياد ساتئ چې حذيفه ﷺ تاسو ته څه وايي يا حديث بيان کړي کړي نو هغه رښتونی ګڼئ او عبد الله ﷺ چې څه درته وايي هغه واياست . ترمذي.

**د حضرت محمد بن مسلمه ﷺ فضيلت**

(۵۹۸۲): وَعَنْهُ قَالَ مَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ تُدْرِكُهُ الْفِتْنَةُ إِلَّا أَنَا أَخَافُهَا عَلَيْهِ إِلَّا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَضُرُّكَ الْفِتْنَةُ. رواه ابوداؤد وسكت عنه و اقره عبدالعظيم .

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چې هر کله خلك په فتنه کې ولوېږي نو هيڅوك به د هغه د اثر څخه خوندي نه سي پرته د محمد بن سلمه ﷺ څخه چې د هغه په اړه ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې تا ته به فتنه ضرر نه رسوي . ابوداؤد او سکوت يې کړی دی ځيني او عبد العظيم ثابت کړی دی .

**حضرت عبدالله بن زبير ﷺ**

(۵۹۸۳): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِ الزُّبَيْرِ مِصْبَاحًا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا أُرَى أَسْمَاءَ إِلَّا قَدْ نُفِسَتْ فَلَا تُسَمُّوهُ حَتَّى أُسَمِّيَهُ فَسَمَّاهُ عَبْدَ اللَّهِ وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د زبير ﷺ په کور کې څراغ بل وليدی نو وه يې فرمايل : اې عائشې ! زما په خيال د بي بي اسماء زوی پيدا سوی دی تاسو خلك د هغه نوم مه ايږدئ تر څو پوري چې زه يې نه کښيږدم، نو د هغه ماشوم نوم رسول الله ﷺ عبدالله کښېښود او خرما يې په خوله کې وژوول او په خپل لاس مبارك يې د هغه په تالو پوري وموږل . ترمذي.

**حضرت معاويه ﷺ**

(۵۹۸۴): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالرحمن بن ابي عميره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د معاويه ﷺ لپاره دا دعاء کړې ده اې الله ! دی سيده لار ښودونکی او سيده لار پيداکونکی جوړ کړې او خلك دده په ذريعه هدايت تر لاسه کونکي کړې . ترمذي.

## حضرت عمروبن العاص ﷺ

(۵۹۸۵): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمَ النَّاسُ وَآمَنَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وليس اسناده بالقوي.

د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : نورو خلکو اسلام راوړ مگر عمروبن العاص ﷺ ایمان راوړ. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی او اسناد یې قوي نه دي.

## د حضرت جابر ﷺ د پلار فضیلت

(۵۹۸۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَقِيَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا جَابِرُ مَا لِي أَرَاكَ مُنْكَسِرًا قُلْتُ اسْتُشْهِدَ أَبِي قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ عِيَالًا وَدَيْنًا قَالَ أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللّٰهُ بِهِ أَبَاكَ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَا كَلَّمَ اللّٰهُ أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا قَالَ يَا عَبْدِي تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِكَ قَالَ يَا رَبِّ تُحْيِينِي فَأُقْتَلَ فِيكَ ثَانِيَةً قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّهُ قَدْ سَبَقَ مِنِّي أَنَّهُمْ لَا يُرْجَعُونَ فنزلت: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا الْآيَةَ.رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه ورځ زما سره یو ځای سو او وه یې فرمایل : اې جابره ! څه خبره ده چي زه تا خفه او غمجن وینم ، ما عرض وکړ : زما پلار شهید سوی دی او هغه ډېر اولاد او پور پرې ایښی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تا ته دا زیری در نه کړم چي الله تعالیٰ ستا د پلار په اړه څه معامله کړې ده ، ما عرض وکړ هو، اې د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ چي تر ننه پوري د چا سره کلام کړی دی نو د پردې تر شا یې کړی دی مگر ستا پلار الله تعالیٰ را ژوندی کړ او د هغه سره یې مخامخ خبري وکړې او ورته یې وفرمایل : اې زما بنده ! زما څخه وغواړه زه به یې درکړم ، نو ستا پلار وویل اې زما پروردگاره ! ما بیا ژوندی کړه چي زه ستا په لار کي شهید سم ، الله تعالیٰ ورته وفرمایل : زما دا حکم نافذ سوی دی چي د مرگ څخه وروسته هیڅوک دویم وار دنیا ته نه ځي ، ددې څخه وروسته دا آیت نازل سو : (لاتحسبن الذین قتلوا في سبیل الله ....) ، (کوم خلك چي د الله ﷺ په لار کي قتل سوي دي هغه مړه مه گڼئ بلکه هغوئ د خپل پروردگار سره ژوندي دي ، رزق ورکول کیږي او د خدای تعالیٰ په نعمتونو خوشحاله دي) ، ترمذي.

## حضرت جابر ﷺ

(۵۹۸۷): وَعَنْهُ قَالَ اسْتَغْفَرَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زما لپاره پنځه ویشت واره د بخښني دعاء کړې ده . ترمذي.

**حضرت براء بن مالك ﷺ**

| | |
|---|---|
| (٥٩٨٨): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ مِنْ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ذِي طِمْرَيْنِ لَا يُؤْبَهُ لَهُ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ مِنْهُمُ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ. رواه الترمذي والبيهقي في دلائل النبوة. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډېر تاربه تار سري په دوړو لړلي خاوند د دوو زړو جامو او هغوئ ته توجه نه کیږي که هغوئ دخدای ﷺ په اعتماد قسم وخوري |

نو خدای ﷺ د هغوئ قسم رشتیا کوي په هغوئ کي یو کس براء بن مالك ﷺ دی. ترمذي اوبیهقي.

**اهل بيت او انصار**

| | |
|---|---|
| (٥٩٨٩): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ عَيْبَتِيَ الَّتِي آوِي إِلَيْهَا أَهْلُ بَيْتِي وَإِنَّ كَرِشِيَ الْأَنْصَارُ فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن. | د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خبردار سئ! زما هغه باطني دوستان چي زه رجوع ورته کومه زما اهل بیت دی او زما د زړه دوستان انصار دي، نو تاسو د انصارو د خطا کارو بدی معاف کوئ او |

د هغوئ د نیکو کارو نیکي قبلوئ. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب حسن دی.

**د انصارو فضيلت**

| | |
|---|---|
| (٥٩٩٠): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبْغَضُ الْأَنْصَارَ احد يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي پر خدای ﷺ او د آخرت پر ورځ ایمان لري نو هغه د انصارو سره بغض او عداوت نه ساتي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دی. |

**د ابوطلحه ﷺ د قوم فضيلت**

| | |
|---|---|
| (٥٩٩١): وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرِئْ قَوْمَكَ السَّلَامَ فَإِنَّهُمْ مَا عَلِمْتُ أَعِفَّةٌ صُبُرٌ. رواه الترمذي. | حضرت انس ﷺ د ابوطلحه ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل: ته خپل قوم ته زما سلام ورسوه ببشکه دوئ زما په علم کي |

خان ساتونکي او صابران دي. ترمذي.

**د اهل بدر فضيلت**

| | |
|---|---|
| (٥٩٩٢): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ النبي | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د حاطب |

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْكُو حَاطِبًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ. رواه مسلم.

يو غلام د نبئ كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د حاطب شكايت يې وكړ او وه يې ويل چي حاطب به خامخا په دوزخ كي داخليږي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته درواغ وايي هغه به دوزخ ته نه ځي ځكه چي هغه په بدر او حديبي كي ګډون كړى دى . مسلم .

**سلمان فارسي ﷺ او اهل فارس**

(۵۹۹۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تلا هذه الاية وان تتولوا يستبدل قوما غيركم ثم لايكونوا امثالكم قالوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرَ اللّٰهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوا بِنَا ثُمَّ لَايَكُونُوا أَمْثَالَنَا فَضَرَبَ على فخذ سَلْمَانَ الفارسي ثم قَالَ هَذَا وَقومه وَلَوْ كَانَ الدين عند الثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ الفرس. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ : «وان تتولوا يستبدل....» : «كه تاسو پر محمد ﷺ باندي د ايمان راوړلو څخه مخ واړوئ نو الله تعالى به ستاسو پر ځاى بل قوم پيداكړي او هغه قوم به ستاسو په ډول نه وي»، نو صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله ! هغه كوم خلك دي چي خداى ﷺ يې ذكر كړى دى كه موږ نافرماني وكړو نو هغوئ به زموږ پر ځاى وټاكل سي او هغوئ به زموږ په ډول نه وي ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ د سلمان فارسي ﷺ پر ورانه لاس ووهى او بيا يې وفرمايل دا سړى او دده قوم ، كه دين پر ثريا «يعني آسمان» هم وي نو د فارس ډيرو خلكو به د هغه ځاى څخه حاصل كړى واى . ترمذي .

**پر عجميانو باندي باور**

(۵۹۹۴): وَعَنْهُ قَالَ ذُكِرَتْ الْأَعَاجِمُ عِنْدَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنَا بِهِمْ أَوْ بِبَعْضِهِمْ أَوْثَقُ مِنِّي بِكُمْ أَوْ بِبَعْضِكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د عجميانو ذكر وكړل سو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه پر دوئ يا پر ځينو د دوئ زيات اعتماد كونكى يم له ما څخه پر تاسي يا پر ځينو ستاسي . ترمذي .

## دريم فصل

د رسول الله ﷺ نجباء او رقباء

(۵۹۹۵): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ كُلَّ نَبِيٍّ سَبْعَةَ نُجَبَاءَ وَ رُقَبَاءَ وَأُعْطِيتُ أَنَا أَرْبَعَةَ عَشَرَ قُلْنَا مَنْ هُمْ قَالَ أَنَا وَابْنَايَ وَجَعْفَرُ وَحَمْزَةُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَبِلَالٌ وَسَلْمَانُ وَعَمَّارٌ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ وابوذر وَالْمِقْدَادُ. رواه الترمذي.

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر نبي اووه خاص خلك وي چي د هغه غوره ساتونكى وي ، او ما ته څوارلس كسان راكرل سوي دي ، دحضرت علي ؓ څخه پوښتنه وسول چي هغه كوم خلك دي ؟ حضرت علي ؓ وويل: زه علي، زما دواړه زامن، جعفر، حمزه ،ابوبكر، عمر، مصعب بن عمير، بلال ، سلمان، عمار، عبدالله ابن مسعود، ابوذر، او مقداد رضي الله عنهم اجمعين. ترمذي.

حضرت عمار بن ياسر ؓ

(۵۹۹۶): وَ عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ كَلَامٌ فَأَغْلَظْتُ لَهُ فِي الْقَوْلِ فَانْطَلَقَ عَمَّارٌ يَشْكُونِي إِلَى رسول اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ خَالِدٌ وَهُوَ يَشْكُوهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَعَلَ يُغْلِظُ لَهُ وَلَا يَزِيدُهُ إِلَّا غِلْظَةً وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاكِتٌ لَا يَتَكَلَّمُ فَبَكَى عَمَّارٌ وَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلَا تَرَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ قَالَ مَنْ عَادَى عَمَّارًا عَادَاهُ اللّٰهُ وَمَنْ أَبْغَضَ عَمَّارًا أَبْغَضَهُ اللّٰهُ قَالَ خَالِدٌ فَخَرَجْتُ فَمَا كَانَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ رِضَا عَمَّارٍ فَلَقِيتُهُ بِمَا رَضِيَ فَرَضِيَ. رواه احمد.

د حضرت خالد بن وليد ؓ څخه روايت دى چي زما او د عمار بن ياسر ؓ په منځ كي پر يو معامله خبري اتري كيدلې چي ما د عمار ؓ سره سختي خبري وكړې ، عمار ؓ رسول الله ﷺ ته زما شكايت وكړ ، هغه نبي كريم ﷺ ته شكايت كوى چي خالد ؓ هم راغلى چي ده هم د عمار څخه شكايت كوى ، د راوي بيان دى چي د شكايت اوريدو سره خالد ؓ ته غصه ورغلل او عمار ؓ ته يې بد رد وويل ، د خالد ؓ سختي پر مخ زياتيدل او رسول الله ﷺ پته خوله ناست وو، يو حرف يې هم پر ژبه مباركه نه وايه، ددې حالت ليدو سره عمار ؓ په ژړا سو او عرض يې وكړ اې دالله رسوله! تاسو نه وينئ ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ خپل سر مبارك را پورته كړ او وه يې فرمايل: څوك چي د عمار ؓ سره دښمني كوي خداى ﷻ به هغه دښمن گڼي او څوك چي د عمار ؓ سره بغض كوي خداى به د هغه سره بغض كوي ، دخالد ؓ بيان دى ددې ارشاد اوريدو

سره زه دباندي راووتلم او اوس هيڅ شی زما په نظر کي ددې ښخه غوره نه وو چي ښنگه کيدای سوه هم هغسي زه عمار راضي کړم ، نو زه د عمار ﷺ سره داسي راغلم چي هغه زما ښخه خوشحاله سو او هغه ما راضي کړ . احمد.

**حضرت خالد (سيف الله) ﷺ**

| | |
|---|---|
| (۵۹۹۷): وَعَنْ اَبِيْ عُبَيْدَةَ اَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خَالِدٌ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَنِعْمَ فَتَى الْعَشِيرَةِ. رواهما احمد. | د حضرت ابوعبيده ﷺ ښخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ ښخه اوريدلي دي چي خالد ﷺ د خدای ﷺ د تورو ښخه يوه توره ده او د خپلي قبيلې غوره زلمی دی . احمد. |

**حضرت علي، ابوذر، مقداد او سلمان (رض)**

| | |
|---|---|
| (۵۹۹۸): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللهَ اَمَرَنِي بِحُبِّ اَرْبَعَةٍ وَاَخْبَرَنِي اَنَّهُ يُحِبُّهُمْ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ سَمِّهِمْ لَنَا قَالَ عَلِيٌّ مِنْهُمْ يَقُوْلُ ذٰلِكَ ثَلَاثًا وَاَبُو ذَرٍّ وَالْمِقْدَادُ وَسَلْمَانُ اَمَرَنِي بِحُبِّهِمْ وَاَخْبَرَنِي اَنَّهُ يُحِبُّهُمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب. | د حضرت بريده ﷺ ښخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷺ ما ته د څلورو کسانو سره د محبت حکم کړی دی او دا يې راته ښودلي دي چي هغوئ هم ورسره مينه کوي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! د هغوئ نومونه راوښيه، رسول الله ﷺ ورته فرمايل : په هغوئ کي څو يو علي ﷺ دی ، د االفاظ |

رسول الله ﷺ درې واره وفرمايل ، بيا يې وفرمايل : او ابوذر او مقداد او سلمان رضي الله عنهم دي، الله ﷺ ما ته حکم کړی دی چي زه د هغوئ سره مينه کوم او دا يې راته ښودلي دي چي الله ﷺ هم د هغوئ سره مينه کوي . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی .

**حضرت ابوبکر صديق او بلال (رض)**

| | |
|---|---|
| (۵۹۹۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يَقُوْلُ اَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا وَاَعْتَقَ سَيِّدَنَا يَعْنِي بِلَالًا. رواه البخاري. | د حضرت جابر ﷺ ښخه روايت دی چي حضرت عمر ﷺ به فرمايل : ابوبکر ﷺ زمونږ سردار دی او |

ابوبکر ﷺ زمونږ سردار (يعني بلال ﷺ) آزاد کړی دی . بخاري . (حضرت بلال ﷺ د ابوبکر صديق ﷺ مريی وو) .

**حضرت بلال ﷺ**

| | |
|---|---|
| (۶۰۰۰): وَعَنْ قَيْسِ ابن ابي حازم اَنَّ بِلَالًا قَالَ لِاَبِي بَكْرٍ اِنْ كُنْتَ اِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِنَفْسِكَ | د حضرت قيس بن ابي حازم ﷺ ښخه روايت دی چي بلال ﷺ ابوبکر ﷺ ته وويل که تا زه د خپل ځان لپاره |

فَأَمْسِكِي وَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِلّٰهِ فَدَعْنِي وَعَمَلَ اللّٰهِ . رواه البخاري.

رانيولى يم نو ما د خان سره وساته او كه دي د خداى ﷺ لپاره رانيولى يم نو ما پر خپل حال پريږده او ما پريږده چي د خداى تعالى لپاره عمل وكړم . بخاري .

## حضرت ابوطلحه ﷺ

(۶۰۰۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي مَجْهُودٌ فَأَرْسَلَ إِلَى بعض نسائه فَقَالَتْ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِي إِلَّا مَاءٌ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُخْرَى فَقَالَتْ مِثْلَ ذَلِكَ و قُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذَلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُضِيفُهُ يَرْحَمُهُ اللّٰهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يقال له ابوطلحة فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى رَحْلِهِ فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ قَالَتْ لَا إِلَّا قُوتُ صِبْيَانِي قَالَ فَعَلِّلِيهِمْ بِشَيْءٍ وَنَوِّمِيهِمْ فَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَأَرِيهِ أَنَّا نَأْكُلُ فَإِذَا أَهْوَى بِيَدِهِ لِيَأْكُلَ فَقُومِي إِلَى السِّرَاجِ كَيْ تُصْلِحِيهِ فَأَطْفِئِيهِ فَفَعَلَتْ فَقَعَدُوا وَأَكَلَ الضَّيْفُ وَبَاتَا طَاوِيَيْنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا الى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَجِبَ اللّٰهُ أَوْ ضَحِكَ اللّٰهُ مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانَةَ وفي رواية مِثْلُهُ و لم يسم اباطلحة وفي اخرها فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چيَ يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت كي عرض وكړ چي زه په لوږي او تكليف كي اخته يم ، رسول الله ﷺ خپل يو بي بي ته يو څوك وليږى ، هغې جواب راوليږى چي په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو يې په حق پيغمبر راليږلي ياست زما سره د اوبو څخه پرته نور هيڅ نسته ، بيا يې بلي بي بي ته وليږى هغې هم دغه جواب وركړ، تر دي چي ټولو بيبيانو هم دغه جواب وركړ ، بيا رسول الله ﷺ حاضرين مخاطب كړل او ورته وه يې فرمايل : څوك چي په ده دودى وخوري الله تعالى به خپل رحمت پر نازل كړي ، ددې اوريدو سره په انصارو كي يو سړي ولاړ سو چي د هغه نوم ابو طلحه وو ، هغه عرض وكړ اي دالله رسوله ! زه به دى ميلمه كړم نو هغه سړى يې خپل كور ته بوتلى او خپل ښځي ته يې وويل ستا سره د خوراك يو شى سته ؟ هغې ورته وويل په اندازه دماشومانو د خوراك يو شى سته ، ابوطلحه ورته وويل ماشومان په يو بهانه بيده كړه او كوم وخت چي زموږ ميلمه په كور كي داخل سي نو پر هغه دا ظاهره كړه چي موږ هم د هغه سره خوراك خورو او كوم وخت چي ميلمه لاس د خوراك لپاره كښته كړي نو ته ولاړه سه او دا ظاهره كړه چي ډراغ سموم مگر ډراغ مړ كړه چي تياره سي نو هغې همداسي وكړل او دوئ كښېنستل ، ميلمه خوراك وخوړى او ښځه او خاوند دواړه تږوله شپه

وړې پاته سول ، بیا چې سهار سو نو ابوطلحه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د فلاني سړي او فلانی ښځې پر کار الله تعالی تعجب وکړ یا خدای ﷺ وخندل، او په یوه روایت کې ددې ډول واقعه ده مگر په هغه کې د ابوطلحه نوم نسته او د یوه روایت په آخر کې دا الفاظ دي چې بیا الله تعالی دا آیت نازل کړ : «و یؤثرون علی انفسهم ....» او هغه خلك چې نورو خلکو ته پر ځان ترجیح ورکوي اگر که خپله اړ او وږي دي . بخاري و مسلم .

**حضرت خالد بن ولید ؓ**

﴿۶۰۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَزَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا فَجَعَلَ النَّاسُ يَمُرُّونَ فَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَأَقُولُ فُلَانٌ فَيَقُولُ نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ هٰذَا وَيَقُولُ مَنْ هٰذَا فَأَقُولُ فُلَانٌ فَيَقُولُ بِئْسَ عَبْدُ اللّٰهِ هٰذَا حَتّٰى مَرَّ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ هٰذَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره پر یو ځای تم سوو چې خلك آخوا دېخوا تېرېدل او رسول الله ﷺ به پوښتنه کول چې دا څوك دي ؟ د ابوهریره ؓ بیان دی چې ما به د رسول الله ﷺ د سوال په جواب کې ویل چې فلانی سړی دی او د هغه نوم اوریدو سره به رسول الله ﷺ فرمایل : د خدای تعالی دا بنده ښه دی او نبي کریم ﷺ به ویل دا څوك دی نو ما به ویل چې فلانی دی نو ویل به یې د خدای تعالی دا بنده بد دی تر دې چې خالد بن ولید ؓ تېر سو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې ابوهریره دا څوك دی ؟ ما عرض وکړ : خالد بن ولید ؓ دی ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ډېر ښه بنده د خدای ﷺ دی خالد بن ولید ؓ د خدای تعالی د تورو څخه یوه توره ده . ترمذي .

**د انصارو سره شفقت**

﴿۶۰۰۳﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَتِ الْأَنْصَارُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ لِكُلِّ نَبِيٍّ أَتْبَاعٌ وَإِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاكَ فَادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَ أَتْبَاعَنَا مِنَّا فَدَعَا بِهِ. رواه البخاري.

د حضرت زید بن ارقم ؓ څخه روایت دی چې انصارو عرض وکړ اې د الله رسوله ! د هر نبي پیروان وي او موږ ستاسو پیروي کړې ده، د خدای ﷺ څخه سوال وکړه چې الله تعالی زموږ تابع هم زموږ څخه جوړ کړي ، نو نبي کریم ﷺ داسې سوال وکړی . بخاري .

**د انصارو فضیلت**

﴿۶۰۰۴﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ أَكْثَرَ شَهِيدًا أَعَزَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ

د حضرت قتاده ؓ څخه روایت دی چې موږ په عربو کې د هیڅ قبیلې او قوم په اړه دا علم نه لرو

وَقَالَ أَنَسٌ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ أُحُدٍ سَبْعُونَ وَيَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ سَبْعُونَ وَيَوْمَ الْيَمَامَةِ على عهد ابي بكر سَبْعُونَ. رواه البخاري.

چي د هغوئ شهيدان د انصارو څخه زيات وي او د قيامت په ورځ به د انصارو څخه زيات عزتناكه وي، دانس ﷜ بيان دى چي د احد په غزا كي د دوئ څخه اويا شهيدان سول او په بيرمعونه كي اويا شهيدان سول او د يمامه په جګړه كي اويا شهيدان سول چي دابوبكر ﷜ په زمانه كي سوي وو . بخاري.

## اهل بدر

(۶۰۰۵): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ كَانَ عَطَاءُ الْبَدْرِيِّينَ خَمْسَةَ آلَاف خَمْسَةَ آلَاف وَقَالَ عُمَرُ لَأُفَضِّلَنَّهُمْ عَلَى مَنْ بَعْدَهُمْ.رواه البخاري.

د حضرت قيس بن ابي حازم ﷜ څخه روايت دى چي كومو خلكو په جنګ بدر كي ګډون كرى وو هغوئ ته به د بيت المال څخه پنځه پنځه زره درهمه وركول كېدل او حضرت علي ﷜ وويل چي په بدركي ګډون كونكو ته به پر نورو تولو ترجيح وركوم تر دي وروسته . بخاري.

# بَابُ تَسْمِيَةُ مَنْ سُمِّي مِنْ أَهْلِ الْبَدْرِ فِي الْجَامِعِ الْبُخَارِي

## (په جنګ بدر كي د ګډون كونكو نومونه چي په الجامع البخاري كي ليكل سوي دي)

(۶۰۰۶): (۱) النَّبِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَاشِمِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (۲) عَبْدُ اللهِ بْنُ عُثْمَانَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ الْقُرَشِيُّ (۳) عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الْعَدَوِيُّ (۴) عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقُرَشِيُّ خَلَّفَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَتِهِ رقية وَضَرَبَ لَهُ بِسَهْمِهِ (۵) عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ الْهَاشِمِيُّ (۶) إِيَاسُ بْنُ بُكَيْرٍ (۷) بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ الصديق (۸) حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِيُّ (۹) حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ حَلِيفٌ لِقُرَيْشٍ (۱۰) أَبُو حُذَيْفَةَ بْنُ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ الْقُرَشِيُّ (۱۱) حَارِثَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ قُتِلَ يَوْمَ بدر وَهُوَ حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ كَانَ فِي النَّظَّارَةِ (۱۲)

(۱) نبي كريم حضرت محمد ﷺ بن عبدالله هاشمي ﷺ (۲) عبدالله دعثمان زوى چي د هغه كنيت ابوبكر صديق ﷜ دى او قرشي دى، (۳) عمر بن خطاب عدوي ﷜ (۴) عثمان بن عفان قرشي چي رسول الله ﷺ د خپل لور بي بي رقيې سره پرې ايښى وو چي د هغه ښځه ناروغه وه او د هغه لپاره د بدر په غزا كي رسول الله ﷺ برخه ټاكلې وه (۵) علي بن ابي طالب هاشمي (۶) اياس بن بكير (۷) بلال بن رباح د ابوبكر صديق ﷜ آزاد كړل سوى غلام (۸) حمزه بن عبدالمطلب هاشمي (۹) حاطب بن ابي بلتعه د قريشو دوست (۱۰) ابوحذيفه بن عتبه بن

خُبَيْبُ بْنُ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيُّ (١٣) خُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ (١٤) رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيُّ (١٥) رِفَاعَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ أَبُو لُبَابَةَ الْأَنْصَارِيُّ (١٦) الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ الْقُرَشِيُّ (١٧) زَيْدُ بْنُ سَهْلٍ أَبُو طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيُّ (١٨) أَبُو زَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ (١٩) سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ الزُّهْرِيُّ (٢٠) سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ الْقُرَشِيُّ (٢١) سَعِيدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ الْقُرَشِيُّ (٢٢) سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ الْأَنْصَارِيُّ (٢٣) ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيُّ (٢٤) وَأَخُوهُ (٢٥) عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْهُذَلِيُّ (٢٦) عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ الزُّهْرِيُّ (٢٧) عُبَيْدَةُ بْنُ الْحَارِثِ الْقُرَشِيُّ (٢٨) عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ الْأَنْصَارِيُّ (٢٩) عَمْرُو بْنُ عَوْفٍ حَلِيفُ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ (٣٠) عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيُّ (٣١) عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ الْعَنَزِيُّ (٣٢) عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ (٣٣) عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيُّ (٣٤) عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيُّ (٣٥) قُدَامَةُ بْنُ مَظْعُونٍ (٣٦) قَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ الْأَنْصَارِيُّ (٣٧) مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ (٣٨) مُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَاءَ (٣٩) وَأَخُوهُ (٤٠) مَالِكُ بْنُ رَبِيعَةَ (٤١) أَبُو أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ (٤٢) مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ (٤٣) مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ (٤٤) مَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيُّ (٤٥) مِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو الْكِنْدِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ (٤٦) هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْأَنْصَارِيُّ. رضي الله عنهم اجمعين.

ربیعه قرشي (۱۱) حارثه بن ربیعه انصاري چې د بدر په غزا کي شهید سو او اصلي نوم يې هارثه بن سراقه دی په دې جنګ کي شریک سوی نه وو بلکه ددښمنانو دحال پر نګرانۍ مامور وو . (۱۲) خبیب بن عدي انصاري (۱۳) خنیس بن حذافه سهمي (۱۴) رفاعه بن رافع انصاري (۱۵) رفاعه بن عبدالمنذر ابولبابه انصاري (۱۶) زبیر بن العوام قرشي (۱۷) زید بن سهل ابوطلحه انصاري (۱۸) ابو زید انصاري (۱۹) سعد بن مالك زهري (۲۰) سعد بن خوله قرشي (۲۱) سعید بن زید بن عمروبن نفیل قرشي (۲۲) سهل بن حنیف انصاري (۲۳) ظهیر بن رافع انصاري (۲۴) د ظهیر بن رافع ورور (۲۵) عبدالله بن مسعود هدلي (۲۶) عبدالرحمن بن عوف زهري (۲۷) عبیده بن حارث قرشي (۲۸) عباده بن صامت انصاري (۲۹) عمرو بن عوف د بنو عامر لوی حلیف (۳۰) عقبه بن عمزو انصاري (۳۱) عامر بن ربیعه عنزي (۳۲) عاصم بن ثابت انصاري (۳۳) عویم بن ساعده انصاري (۳۴) عتبان بن مالك انصاري (۳۵) قدامه بن مظعون (۳۶) قتاده بن نعمان انصاري (۳۷) معاذ بن عمرو بن الجموح (۳۸) معوذ بن عفراء (۳۹) د معوذ بن عفراء ورور (۴۰) مالك بن ربیعه (۴۱) ابو اسید انصاري (۴۲) مسطح بن اثاثه بن عباده بن عبدالمطلب بن عبد مناف (۴۳) مرارة بن ربیع انصاري (۴۴) معن بن عدي انصاري ، (۴۵) مقداد بن عمرو کندي د بنو زهره دوست (۴۶) هلال بن امیه انصاري . رضي الله عنهم اجمعین .

# بَابُ ذِكْرِ الْيَمَنِ وَالشَّامِ وَذِكْرِ اَوَيْسِ الْقَرْنِيِ

(د یمن ، شام او اویس قرني بیان)

## لومړی فصل

### د حضرت اويس قرني عليه الرحمة فضيلت

(٦٠٠٧): عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ اُمٍّ لَهُ قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَا اللّٰهَ فَأَذْهَبَهُ عَنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّينَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ، وفي رواية قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِينَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَمُرُوْهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:- د یمن څخه به یو سړی تاسو ته راسي د هغه نوم به اویس وي هغه به په یمن کي د خپل مور څخه پرته څوک نه پرېږدي (یعني د مور څخه پرته بل څوک قریب به یې نه وي) د هغه په بدن کي سپینوالی وو هغه دخدای ﷻ څخه دعاء وغوښتل او هغه سپین والی ځیني ولاړی خو د یو دینار یا درهم په اندازه پاته سو څوک چي په تاسو کي د هغه سره ملاقات وکړي نو د هغه څخه دي د خان لپاره بخښنه وغواړي . او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي عمر بن خطاب رضي الله عنه وویل ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په تابعینو کي به یو غوره سړی وي چي اویس به یادیږي د هغه به یوه مور وي او د هغه پر بدن به سپینوالی وي تاسو د هغه څخه د خان لپاره د مغفرت دعاء وغواړئ . مسلم.

### د اهل یمن فضیلت

(٦٠٠٨): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَصْحَابِ الْإِبِلِ وَالسَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي ابوموسی اشعري رضي الله عنه او د هغه قوم چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تاسو ته د یمن خلك راغلي دی چي د هغوئ زړه ډیر نوي او نرم دي ، ایمان دیمن دی او حکومت هم یمني دی او فخر او کبر کول په اوښانو والا کي دی او قراري او سکون په خاوندانو د پسو کي دی . بخاري او مسلم .

## د كفر سرچشمه د مشرق خخه ده

(۶۰۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسُ الْكُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَهْلِ الْخَيْلِ وَالْإِبِلِ وَالْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كفر سر د مشرق په طرف كي دى، فخر او تكبر كول د آسانو او اوښانو په خاوندانو كي دى او په چغو وهونكو خاوندانو د خېمو كي دى او آرام او سكون په خاوندانو د پسو كي دى. بخاري او مسلم.

## د فتنو ځاى مشرق دى

(۶۰۱۰): وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الانصاري عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ هَا هُنَا جَاءَتِ الْفِتَنُ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْجَفَاءُ وَغِلَظُ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ عِنْدَ أُصُولِ أَذْنَابِ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ فِي رَبِيعَةَ وَمُضَرَ. متفق عليه

د حضرت ابومسعود انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددغه ځاى څخه فتني راغلي دي، د مشرق طرف ته يې اشاره وكړه، او جفا كاري او سخت دلي په چغو وهونكو خاوندانو د خېمو كي دي چي د اوښانو او غواوود لكيو په بېخونو پسي لګيدلي دي او دا خلك د قبيله ربيعه او مضر دي. بخاري او مسلم.

## سخت زړه توب او بد زباني په مشرق والاوو كي ده

(۶۰۱۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِلَظُ الْقُلُوبِ وَالْجَفَاءُ فِي الْمَشْرِقِ وَالْإِيمَانُ فِي أَهْلِ الْحِجَازِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سنګدلي او جفاء په مشرق والاوو كي ده او ايمان په حجاز والاوو كي. مسلم.

## د شام او يمن فضيلت

(۶۰۱۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَفِي نَجْدِنَا قَالَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَفِي نَجْدِنَا فَأَظُنُّهُ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ هُنَاكَ الزَّلَازِلُ وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اي الله ﷻ! زموږ لپاره زموږ په شام كي بركت واچوې او اي الله ﷻ زموږ لپاره زموږ په يمن كي بركت پيدا كړې، صحابه كرامو عرض وكړ اي د الله رسوله! او زموږ په نجد كي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: اي الله ﷻ! زموږ لپاره زموږ په شام كي بركت واچوې او اي الله ﷻ زموږ لپاره زموږ په يمن كي بركت واچوې، صحابه كرامو بيا عرض وكړ اي د الله رسوله! او زموږ په

نجد کي ؟ د راوي بيان دی چي زما خيال دی چي په دريم وار د صحابه کرامو په جواب کي رسول ﷺ دا وفرمايل چي هلته به زلزلې او فتنې وي او د هغه ځای څخه به د شيطان ښکر څرګندېږي. بخاري

## دويم فصل

### د اهل يمن لپاره دعاء

| | |
|---|---|
| (۶۰۱۳): عَنْ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ قِبَلَ الْيَمَنِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا. رواه الترمذي. | حضرت انس رضي الله عنه د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ يمن ته وکتل او وه يې فرمايل : اې الله ! د دوئ زړونه زموږ په لور متوجه کړې او زموږ په صاع او زموږ په مد کي زموږ لپاره برکت راکړې . ترمذي |

### اهل شام ته خوشبختي

| | |
|---|---|
| (۶۰۱۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُوبَى لِلشَّامِ فَقُلْنَا لِأَيِّ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الرَّحْمٰنِ بَاسِطَةٌ أَجْنِحَتَهَا عَلَيْهَا. رواه احمد والترمذي. | د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د شام اوسيدونکو لپاره خوشحالي ده دی ، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو دا څنګه ووېل ؟ رسول الله ﷺ |

وفرمايل : څکه چي د خدای ملائکو پر شام خپل وزرونه خپاره کړي دي . احمد او ترمذي

### د حضر موت ذکر

| | |
|---|---|
| (۶۰۱۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ نَحْوِ حَضْرَمَوْتَ أَوْ مِنْ حَضْرَمَوْتَ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ تَحْشُرُ النَّاسَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ. رواه الترمذي. | د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير ژر د حضر موت د لوري به يو اور راووځي او دا اور به خلك جمع کړي، موږ عرض وکړ اې دالله |

رسوله ! تاسو موږ ته څه حکم راکوئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو شام ته ولاړ سئ . ترمذي

### د شام فضيلت

| | |
|---|---|
| (۶۰۱۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهَا سَتَكُونُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ فَخِيَارُ النَّاسِ إِلَى مُهَاجَرِ إِبْرَاهِيمَ وَفِي رِوَايَةٍ فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ أَلْزَمُهُمْ | د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د هجرت څخه وروسته به يو هجرت وي (يعني د شام په لور) نو غوره کس به هغه وي چي د ابراهيم عليه السلام د هجرت ځای ته هجرت وکړي او |

مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيمَ وَيَبْقٰى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا تَلْفِظُهُمْ أَرْضُوْهُمْ تَقْذِرُهُمْ نَفْسُ اللهِ تَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيْرِ تَبِيْتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوْا وَتَقِيْلُ مَعَهُمْ إِذَا قَالُوْا . رواه أبو داود.

په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د مځکې په خلکو کې غوره کس هغه دی چې د ابراهیم ﷺ د هجرت ځای اختیار کړي او هغه لازم ونیسي ، په مځکه کې به بدترین خلك هغه وي چې مځکه به یې د ځان څخه دباندې وباسي ، خدای به هغه خلك بد ګڼي او د خپل رحمت څخه به یې لیرې ساتي او اور به یې د بیزوګانو او خنزیرانو سره جمع کړي او هغه اور به د هغوئ سره شپه تیروي یعنې په کوم ځای کې چې پر هغوئ شپه راسي هغه اور به ورسره اوسي او کوم ځای چې پر هغوئ د غرمې ارام راسي اور به هم هلته ورسره وي . ابوداؤد.

### د شام، یمن او عراق ذکر

(۶۰۱۷): وَعَنِ ابْنِ حَوَالَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيَصِيرُ الْأَمْرُ أَنْ تَكُوْنُوْا جُنُوْدًا مُجَنَّدَةً جُنْدٌ بِالشَّامِ وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ قَالَ ابْنُ حَوَالَةَ خِرْ لِي يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذٰلِكَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِالشَّامِ فَإِنَّهَا خِيرَةُ اللّٰهِ مِنْ أَرْضِهِ يَجْتَبِي إِلَيْهَا خِيرَتَهُ مِنْ عِبَادِهِ فَأَمَّا إِنْ أَبَيْتُمْ فَعَلَيْكُمْ بِيَمَنِكُمْ وَاسْقُوْا مِنْ غُدُرِكُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ تَوَكَّلَ لِي بِالشَّامِ وَأَهْلِهِ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابن حواله ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیر ژر به داسي سي چې تاسو به د یو جمع کړي لښکر په ډول سئ ، یو لښکر په شام کې، بل لښکر په یمن کې او بل لښکر په عراق کې ، ابن حواله عرض وکړ اې دالله رسوله ! که زه هغه وخت ووینم نو زه کوم لښکر اختیار کړم ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ته شام اختیار کړه ځکه چې شام د الله تعالی غوره مځکه ده او په آخره زمانه کې به الله تعالی په دغه مځکې کې خپل غوره او نیك بندګان جمع کړي بیا که ته د شام څخه انکار کوې نو یمن اختیار کړه او تاسو له خپلو حوضونو څخه چینبل کوئ ځکه چې الله تعالی زما په وجه د شام او شام اوسیدونکو کفیل سوی دی . احمد او ابوداؤد.

## دریم فصل

### پر اهل شام باندې د لعنت ویلو څخه انکار

(۶۰۱۸): عَنْ شُرَيْحِ ابْنِ عُبَيْدٍ قَالَ ذُكِرَ أَهْلُ الشَّامِ عِنْدَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقِيلَ الْعَنْهُمْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ لَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت شریح ابن عبید ﷺ څخه روایت دئ چې د حضرت علي ﷺ په وړاندې د شام د خلکو ذکر وسو او وه یې ویل اې امیر

| | |
|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَبْدَالُ يَكُونُونَ بِالشَّامِ وَهُمْ أَرْبَعُونَ رَجُلًا كُلَّمَا مَاتَ رَجُلٌ أَبْدَلَ اللّٰهُ مَكَانَهُ رَجُلًا يُسْقَى بِهِمُ الْغَيْثُ وَيُنْتَصَرُ بِهِمْ عَلَى الْأَعْدَاءِ وَيُصْرَفُ عَنْ أَهْلِ الشَّامِ بِهِمُ الْعَذَابُ. رواه احمد. | المؤمنین ! پر شام والاوو لعنت وکړئ، حضرت علي ﷺ وفرمایل : زه پر شام والاوو لعنت نه کوم ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي ابدال په شام کي دي او |

هغه څلوېښت کسان دي په هغوئ کي چي څوك مړ سي نو الله ﷻ د هغه پر ځای بل وټاکي د هغوئ د وجود د برکته باران کیږي او د هغوئ په برکت سره پر دښمنانو بری حاصلیږي او د هغوئ په برکت د شامیانو څخه عذاب دفع کیږي، احمد.

### د دمشق ذکر

| | |
|---|---|
| (۶۰۱۹): وَعَنْ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الشَّامُ فَإِذَا خُيِّرْتُمُ الْمَنَازِلَ فِيهَا فَعَلَيْكُمْ بِمَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ فَإِنَّهَا مَعْقِلُ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الْمَلَاحِمِ وَفُسْطَاطُهَا مِنْهَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا الْغُوطَةُ. رواه احمد | د صحابه کرامو څخه د یو صحابي څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیر ژر به شام فتح سي ، تاسو ته چي ددغه ښارونو د کورونو اختیار درکړل سي نو تاسو د دمشق ښار اختیار کړئ ځکه چي دمشق د مسلمانانو لپاره د جنګونو څخه د پناه ځای دی او د مشق د شام |

یو جامع ښار دی ، او د د مشق د مځکو څخه یوه علاقه ده چي هغې ته غوطه ویل کیږي . روایت کړی دی ددې دواړو احمد.

### خلافت په مدینه او ملوکیت په شام کي

| | |
|---|---|
| (۶۰۲۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخِلَافَةُ بِالْمَدِينَةِ وَالْمُلْكُ بِالشَّامِ. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خلافت به په مدینه کي وي او پاچاهي به په شام کي وي . بیهقي. |

### د شام فضیلت

| | |
|---|---|
| (۶۰۲۱): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ عَمُودًا مِنْ نُورٍ خَرَجَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِي سَاطِعًا حَتَّى اسْتَقَرَّ بِالشَّامِ . رواهما البیهقي في دلائل النبوة. | د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما د نور یوه پایه ولیدل چي زما تر سر لاندي ووتل روښانه وه تر هغو چي قرار یې ونیوی په شام کي . بیهقي. |

### د دمشق فضیلت

| | |
|---|---|
| (۶۰۲۲): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى | د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روایت دئ چي رسول |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ. رواه ابوداؤد.

الله ﷺ وفرمايل : (د دجال سره) د جنگ په ورخ د مسلمانانو د جمع کيدو ځاى غوطه دى چي د هغې ښار يو جانب ته دى چي دمشق ورته ويل كيږي او دمشق د شام د ښارونو ځخه غوره ښار دى . ابوداؤد .

**يو عجمي پاچا**

(۶۰۲۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ سَيَأْتِي مَلِكٌ مِنْ مُلُوكِ الْعَجَمِ فيظهر عَلَى الْمَدَائِنِ كُلِّهَا إِلَّا دِمَشْقَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالرحمن بن سليمان ﷺ ځخه روايت دى چي ويلي دي ده : ډير ژر به د عجمي پاچاهانو ځخه يو پاچا راسي چي پرته د دمشق ځخه پر نورو ټولو ښارونو به غلبه تر لاسه کړي . ابوداؤد.

## بَابُ ثَوَابُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

## (دامت محمديه د ثواب بيان)

## لومړى فصل

**پر دغه امت خاص الهي فضل**

(۶۰۲۴): عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا أَجَلُكُمْ فِي أَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الْأُمَمِ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ وَإِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا فَقَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ النَّصَارَى مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ عَلَى قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ أَلَا فَأَنْتُمُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ

د حضرت ابن عمر ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د نورو امتونو د عمرونو په مقابله کي ستاسو عمرونه دومره دي لکه ځومره چي د ټولي ورځي په مقابله کي د مازديگر ځخه تر لمر دوبېدو پوري دى او ستاسو او د يهودو او نصاراوو مثال داسي دى لکه يو سړى د کار لپاره مزدوران ونيسي او داسي ورته ووايي په تاسو کي څوک داسي سته چي تر نيمي ورځي پوري زما کار وکړي يو يو قيراط به ورکړم، نو يهوديانو تر غرمې پوري کار وکړ په يو يو قيراط بيا هغه سړي وويل څوک سته چي زما کار د غرمې ځخه تر مازديگر پوري وکړي زه به هر سړي ته يو يو قيراط ورکړم نو نصاراوو د

أَلَا لَكُمُ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ فَغَضِبَتْ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى فَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلًا وَأَقَلُّ عَطَاءً قَالَ اللهُ هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا قَالُوا لَا قَالَ فَإِنَّهُ فَضْلِي أُعْطِيهِ مَنْ شِئْتُ. رواه البخاري.

غرمې څخه د مازدیگر تر لمانځه پورې په یوه یوه قیراط کار وکړ ، بیا هغه سړي وویل څوک سته چې د مازدیگر د لمانځه څخه تر لمر دوبېدو پورې زما کار وکړي په دوه قیراطه، خبر سئ تاسو هغه کسان یاست کوم چې د مازدیگر څخه تر لمر دوبېدو پورې په دوه دوه قیراطه کار کړی دی خبر سئ ! ستاسو اجر دوچنده دی ، (ددې په لیدو سره چې تاسو ته دوه چنده ثواب حاصل سو او تاسو عمل هم لږ کړی دی) نو یهود او نصاری په غضب سول ، هغوئ وویل موږ په عمل کې زیات یو او په ثواب کې کم یو ، الله تعالی ورته دا جواب ورکړ : ایا ما پر تاسو ظلم کړی دی یا ستاسو په حق کې مې څه کمي کړې ده ؟ یعني ما چې ستاسو سره د څه شي وعده کړې وه تر هغه مې لږ درکړل ؟ یهودو او نصاراوو ویل :یا، هیڅ کمي دې نه ده کړې نو الله تعالی ورته وفرمایل : بیا دا زما فضل او احسان دی چا ته چې غوارم زیات ورکوم . بخاري.

**د وروسته زماني مسلمانانو فضیلت**

(۶۰۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُونُونَ بَعْدِي يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ. رواه مسلم

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما په امت کې زما سره زیات مینه کونکي هغه خلك دي چې زما د وفات څخه وروسته به پیدا سي او ددې خواهش به کوي چې کاش زه یې لیدلی وای نو خپل اهل او عیال به یې پر ما قربان کړی وای . مسلم.

**دا امت به د الله ﷺ پر دین باندې د قائم اوسېدونکو څخه هیڅکله نه خالي کیږي**

(۶۰۲۶): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ. متفق عليه، و ذكر حديث انس ان من عبادالله في كتاب القصاص.

د حضرت معاویه ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي زما په امت کې به یو ډله همېشه پر حکم الهي قائم وي، دغه ډلې ته به هغه څوك تاوان نه سي رسولای څوك چې د هغوئ سپکاوی کوي او نه به ورته هغه سړي تاوان رسولای کوم چې د هغوئ مخالفت کوي تر دې چې د الله تعالی حکم به راسي او هغوئ به پر خپل دغه حال وي . بخاري او مسلم او دانس ﷺ حدیث ان من عبادالله ، په کتاب القصاص کې ذکر سوی دی .

## دويم فصل

**د امت محمدي مثال**

| | |
|---|---|
| (٦٠٢٧): عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ. رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت حال د باران په ډول دی چي د هغه په اره دا نه سي ويل کيدلای چي ددې اول به ښه وي يا آخر به ښه وي. ترمذي. |

## دريم فصل

**د امت محمدي حال**

| | |
|---|---|
| (٦٠٢٨): عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْشِرُوْا وَ أَبْشِرُوْا إِنَّمَا مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْغَيْثِ لاَ يُدْرَى آخِرُهُ خَيْرٌ أَمْ أَوَّلُهُ أَوْ كَحَدِيْقَةٍ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا ثُمَّ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا لَعَلَّ آخِرَهَا فَوْجًا أَنْ يَكُوْنَ أَعْرَضَهَا عَرْضًا وَأَعْمَقَهَا عُمْقًا وَأَحْسَنَهَا حُسْنًا كَيْفَ تَهْلِكُ أُمَّةٌ أَنَا أَوَّلُهَا وَالْمَهْدِيُّ وَسَطُهَا وَالْمَسِيْحُ آخِرُهَا وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ فَيْجٌ أَعْوَجُ لَيْسُوْا مِنِّيْ وَلاَ أَنَا مِنْهُمْ. رواه رزين. | حضرت جعفر ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خوشحاله سئ او خوشحاله سئ زما د امت حال د باران په ډول دی چي د هغه په اره دانه سي ويل کيدلای چي ددې په آخيرني کي به خير وي او که په اول کي، يا زما د امت مثال د باغ په ډول دی چي د هغه يو کال فوج وخوړل بيا په کال بل فوج وخوړل کيدای سي چي په آخر کي يو فوج راسي چي په پلنوالي او ژوروالي به زيات وي (يعني شمېر به يې زيات |

وي) او په ښائست به ښائسته وي (يعني اخلاق به يې ښه وي)، هغه امت څنګه هلاکيدلای سي چي د هغو اول زه (محمد ﷺ) يم او د هغه په منځ کي به مهدي وي او د هغو په اخر کي مسيح وي، مګر ددغه زمان په منځ کي يو ډله به کږه وږه (ګمراه) وي هغه ډله به زما پر طريقه نه وي او نه به زه د هغوئ څخه يم. رزين.

**د تابعينو فضيلت**

| | |
|---|---|
| (٦٠٢٩): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله |

الْخَلْقِ أَعْجَبُ إِلَيْكُمْ إِيْمَانًا ؟ قَالُوْا الْمَلَائِكَةُ قَالَ وَمَالَهُمْ لاَ يُؤْمِنُوْنَ وَهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالُوْا فَالنَّبِيُّوْنَ قَالَ وَمَا لَهُمْ لاَيُؤْمِنُوْنَ وَالْوَحْيِ يَنْزِلُ عَلَيْهِمْ قَالُوْا فَنَحْنُ قَالَ وَمَالَكُمْ لاَ تُؤْمِنُوْنَ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ. قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْجَبَ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِيْمَانًا لَقَوْمٌ يَكُوْنُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ يَجِدُوْنَ صُحُفًا فِيْهَا كِتَابٌ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِيْهَا.

ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه چې د ایمان په اعتبار تاسو په مخلوق کې څوك خوښوئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ د ملائکو ایمان، رسول الله ﷺ وفرمایل : ملائکې به ولې ایمان نه راوړي چې هغوئ د خپل پروردګار سره اوسيږي، صحابه کرامو عرض وکړ د پیغمبرانو ایمان، ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: پیغمبران به ولې ایمان نه راوړي حال دا چې پر دوئ وحي نازليږي، صحابه کرامو عرض وکړ نو زموږ ایمان، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تاسو به ولې ایمان نه راوړی څکه چې زه ستاسو په منځ کې موجود یم ، د راوي بیان دی ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : زما په نزد د ایمان د ښېګوالي په اعتبار هغه خلك تر ټولو ښه ښکاريږي چې زما څخه وروسته به پیدا سي هغوئ به په صحيفو کې د خدای کتاب تر لاسه کړي او پر هغه احکامو به هغوئ ایمان راوړي . بیهقي.

## د یو ولې به اړه پیشګوئي

(٦٠٣٠): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَنْ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُوْنَ أَهْلَ الْفِتَنِ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت عبدالرحمن بن علاء حضرمي ﷺ څخه روایت دی چې ما ته دا حدیث هغه سړي بیان کړي چې هغه د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې ددې امت په آخر کې به یو قوم وي د هغوئ د اعمالو ثواب به ددې امت د لومړنیو خلکو د ثواب په دولروي دا قوم به خلکو ته دنیکو کارونو حکم ورکوي د بدوکارونو څخه به یې منع کوي او د فتنه خپرونکو خلکو سره به جنګیږي . بیهقي.

## د هغه امتیانو فضیلت چې نادیده به ایمان راوړي

(٦٠٣١): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طُوْبٰى لِمَنْ رَآنِيْ وَطُوْبٰى سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ لَمْ يَرَنِيْ وَآمَنَ بِيْ. رواه احمد.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه چا ته زیری دی چې هغه زه ولیدم او پر ما یې ایمان راوړ او هغه چا ته اووه واره زیری دی چې نادیده یې پر ما ایمان راوړ . احمد.

**د رسالت د زمانې وروسته د امتيانو فضيلت**

(۶۰۳۲): وَعَنْ أَبِي مُحَيْرِيزٍ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي جُمُعَةَ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا جَيِّدًا تَغَدَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَدٌ خَيْرٌ مِنَّا أَسْلَمْنَا مَعَكَ وَجَاهَدْنَا مَعَكَ قَالَ نَعَمْ قَوْمٌ يَكُونُونَ مِنْ بَعْدِكُمْ يُؤْمِنُونَ بِي وَلَمْ يَرَوْنِي. رواه احمد والدارمي، وروى رزين عن ابي عبيدة من قوله قال يا رسول الله احدخير منا الى اخره.

د حضرت ابو محيريز ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ صحابي ابوجمعه ﷺ ته وويل چي ما ته يو حديث بيان کړه کوم چي تا د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وي ، هغه راته وويل : ښه دی زه به تا ته يو عمده حديث بيان کړم، يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره د سهار ډوډی وخوړل ، زموږ سره ابوعبيده بن الجراح ﷺ هم وو ، ابوعبيده ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا تر موږ هم يو څوک غوره سته چي موږ پر تاسو ايمان راوړی دی موږ ستاسو په ملګرتيا کي جهاد کړی دی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو ، ستاسو څخه هم غوره خلک سته او هغه هغه خلک دي چي ستاسو څخه به وروسته پيدا کيږي او پر ما به نادیده ايمان راوړي . احمد او دارمي، او روايت کړی دی رزين د ابو عبيده څخه ددغه قول (قال يا رسول الله ..... الخ) .

**د ارباب حديث فضيلت**

(۶۰۳۳): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَدَ أَهْلُ الشَّامِ فَلَا خَيْرَ فِيكُمْ وَلَا يَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي مَنْصُورِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ قَالَ ابْنُ الْمَدِينِيِّ هُمْ أَصْحَابُ الْحَدِيثِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

حضرت معاويه بن قرة بن قرة ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د شام اوسيدونکي به تباه او برباد سي نو بيا به په تاسو کي نيکي نه وي او زما په امت کي به همېشه يو ډله غالب وي ، دغه ډلي ته به هغه خلک هيڅ تاوان نه سي رسولای چي د هغوی سپکاوی کوي، تر دې چي قيامت سي ، د ابن مديني بيان دی چي ددې ډلي څخه اصحاب حديث مراد دي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

**هې أمت ته خطا او نسيان معاف ده**

(۶۰۳۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ . رواه ابن ماجه والبيهقي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالیٰ زما د امت خطا او هيره معاف کړې ده او هغه کار هم چي په زوره په وکړل سي . ابن ماجه او بيهقي.

**ددې امت انتهائي فضيلت**

(٦٠٣٥): وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ، قَالَ أَنْتُمْ تُتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللّٰهِ تعالى. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن.

حضرت بهز بن حكيم ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې هغه د رسول الله ﷺ څخه دخدای تعالی ددې ارشاد: (كنتم خير امة اخرجت للناس)، (تاسو غوره امت یاست چې د خلکو لپاره ظاهر کړل سوي یاست) په اره دا اوریدلي دي چې تاسو به اویا امتونه پوره کوئ، تاسو د خدای ﷻ په نظر کې تر ټولو امتونو غوره او د قدر وړ یاست.، ترمذي، ابن ماجه، او دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن دی.

## قَالَ مُؤَلِّفُ الْكِتَابِ رَحِمَهُ اللّٰهُ

شَكَرَ اللّٰهُ سَعْيَهُ وَ أَتَمَّ عَلَيْهِ نِعْمَتَهُ قَدْ وَقَعَ الْفَرَاغُ مِنْ جَمْعِ الْأَحَادِيْثِ النَّبَوِيَّةِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ آخِرَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ رَمَضَانَ عِنْدَ رُؤْيَةِ هِلَالِ شَوَّالٍ سَنَةَ سَبْعٍ وَّ ثَلَاثِيْنَ وَ سَبْعَمِائَةٍ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ مُحَمَّدٍ وَّ آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ.

ژباړه: قبوله دې کړي خدای ﷻ سعیه دده او پوره دې کړي ور باندې نعمت خپل چې راغلی فراغت د جمع کولو د نبوي حدیثو په آخر د ورځي د جمعې د روژې میاشت په وخت د لیدلو د میاشتې د شوال په کال اووه سوه اوو دېرش (۷۳۷) کې، په حمد د خدای ﷻ سره او په نېك توفیق دده سره او ثناء ده خدای ﷻ لره چې رب د عالمینو دی او درود او سلام دې وي پر رسول د خدای ﷻ محمد ﷺ باندې او پر آل او اصحابو دده ټولو باندې.